# ایمان پلورونکي

دریم ټوک



لیکوال
عنایت الله

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم ټوک

# ایمان پلورونکي

## د سلطان صلاح الدین "ایوبي" د زمانې رښتینې کیسې

( د ښځو او ایمان جنګونه )

لیکوال : عنایت الله "التمش"

ژباړن : عبدالواسع "صابر"

(c) ketabton.com: The Digital Library

و قاتلوهم حتی لاتکون فتنة و یکون الدین لله
فان انتهوا فلا عدوان الا علی الظالمین ۱۹۳ آیت ،

ژباړه: ای مومنانو تاسو له دې کفارو سره هغه
وخت ته جنګیږئ چې ترڅو پورې فتنه هم پاتې نشي
او ټول دین د الله تعالی لپاره وګرځېږي .

بسم الله الرحمن الرحيم


## دکتاب پیژندنه

د کتاب پښتو نوم : ایمان پلورونکي
د کتاب اردونوم : داستان ایمان فروشون کی [سلطان صلاح
ایوبی کے دور حقیقی کهانیان عورت اور ایمان کی معرکه ارائیان ] .
لیکوال : عنایت الله " التمش "
ژباړن : عبدالواسع " صابر "
خپرووونکې : د پیغام خپرندوی مرکز
د چاپ نیټه : ۱۴۲۸ هجری قمری کال
د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه
د چاپ واک : د پیغام خپرندوی مرکز سره خوندي دی
اوسنی پته : دهکی منورشاه قصه خوانی بازار پېښور
قندهار ارګ بازار صداقت کتابخانه
ننګرهار جلال آباد ښار د مخابراتو چوک
عبدالمجید مومند کتابخانه ............
ټیلفون : ۲۵۶۳۸۵۳ - ۰۹۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام دفاع به تر څو کوی !؟

کله چې مسلمانانو د شوبک او کرک ټینګی او کلکې کلا ګانی ونیولی او د ریمانډ لښکر ته یې سخته او هیرانوونکی ماتې ورکړه نو د۱۱۷۳ میلادی کال په آخري ورځو کې د بیت المقدس په ښار کې د صلیبي واکمنانواو چارواکو شرارخیزه عمومي غونډه او کانفرانس راوبلل شو ترڅو پدی دوارو ماتو باندی پوره غور وشی او د راتلونکی لپاره پلان جوړ کړی، هغوی په دری مختلفو محاذونو کې جنګیدل ، یو عسکری او پوځی ډګر وو چې تل یې پکی ماتې خوړلی، دویم د تش په نامه مسلمانو چارواکو او غدارانو پیدا کول او دریم د عامو خلکو په منځ کې د خرابې او غلطې عقیدې او بد اخلاقی رواجول وو .

صلیبیانو په عسکری او پوځي ډګر کې د مسلمانانو له لاسه همیشه ماتې خوړلې خو په دره نورو ډګرونو کې کامیاب او بریالی وه خکه چې هم یې تش په نامه مسلمانان د ځان ملګری او بلویان کړی او د هغوی څخه یې غداران او ایمان پلورونکي جوړ کړی وه او هم یې په عامو خلکو کې د عقیدی خرابوالی او بد اخلاقی منځ ته راوړله چې دا کار په قلاره او سست روان وه او پایلی یې چاته زر نه څرګندیدی .

پدی غونډه کې د عکری لوی پادری چې د صلیب اعظم د محافظ او ساتونکی په نامه سره یادیده ناست وه چې زیات نائټان هم ورسره وه .

[ د نائټ معنا میړنی ، جنګیدونکی او باتور ده، دا رتبه او درجه هغه چاته ورکول کیده چې په جګړه کې به یې ډېره لویه میړانه او توره ښودله، او هم به یې د ایسبنی دامې جامې ورکولې چې د سر څخه تر پښو پورې به وی. او دا به د پاچا په لاس ورکول کیدل ] .

دیروشلم ګایی، ریجنالډ، فلپ اګستس او د جاسوسی اداری مشر شرمن هم په دی غونډه کې برخه اخیستی وه، تر ټولو د مخه فلپ اګستس د عکری لوی پادری ته بلنه ورکړه چې د غونډې مشری په غاړه واخلی او لومړنی وکړی ، د عکری لوی پادری وویل : زه شرمیږم چې تاسی ته ګورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې تاسې ټولو په صلیب باندې قسم خوړلی وه چې تر مرګ پورې به جګړه روانه وي او تیښته به نه کوو، تاسې خو د خپل ځان څخه د کم او کمزوري پوخ په وړاندې دوه ځلې شرموونکې ماتې وخوړه، که ستاسې دا حال وي نو زه باور لرم چې نور الدین زنګي او صلاح الدین "ایوبي"به نه یوازې ټول فلسطین ونیسي بلکې په ټوله اروپا کې به عیسایت ختم کړي، کلیساوې به هم په جوماتونو بدلې او صلیب به ډېر ژر له منځه ولاړ شي.

فلپ اګستس وویل: داسې به نه کیږي مقدس پلاره ! مونږ د همدې لپاره راټول شوي یو چې د ماتې په علتونو غور وکړو ، په راتلوونکې کې به هغه ته متوجې اوسو. تاسې دومره ژر ناهیلي کیږئ مه !

مونږ د مسلمانانو په منځ کې د بې اتفاقې، بد اخلاقې، د شرابو او ازادو ښځو تخم کرلی دی او د هغې پایلې اوس ورځ په ورځ راڅرګندیږي، مونږ څو ځلې په قاهره کې حالات کړکیچن او خراب کړل . هلته مو هم سرغړونې او بغاوت ته لاره برابره کړې ، مونږ د هرې لارې او طریقې څخه کار اخلو.

که تاسې مسلمانان هر څومره ایمان پلورونکي کړئ بیا هم هغوی مسلمانان دي په هغوی باور نشته، هغوی تر یو وخت پورې غداري کوي خو چې سترګې یې خلاصې شي بیا ستاسې سره دوکه او چل کوي.

ولې د نور الدین زنګي او صلاح الدین ایوبي لس لس کسان ستاسې په سلو سلو کسانو قوي او زورور دي ؟ د هغوی کم پوځ او لښکر ستاسې قوي او ځواکمن لښکر ځغلوي، د دې علت دا دی چې په هغو کې دیني جذبه ، ټینګ ایمان او دیني احساس ژوندې دې ترڅو چې تاسې هم د هغوی پشان په ځان کې مذهبي جوش او جذبه پیدا نکړئ تر هغې په مسلمانانو نشئ بریالي کیدای.

لوی پادري د خبرو څخه وروسته ولاړ ، چارواکو سره په سلامشورو پیل وکړ او مهمې پریکړې یې وکړې، هغوی وویل : باید ځوابي برید ونشي بلکې نور الدین زنګي او صلاح الدین ایوبي نور هم تشویق شي چې وړاندې راشي او بیا دلته محاصره او ختم شي، باید فرانسویان، یو نانیان او بازنطنیان دې ته چمتو شي چې په مصر باندې د اوبو له لارې حمله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي ، د شمالي مصر سيمې ونيسي او هلته ټينګ او کلک مرکز او اډه جوړه کړي تر څو د هغې په وسيله د مصر او فلسطين دواړو په وړاندې دفاع وکړای شي .

په اسلامي هيوادونو کې اخلاقي فساد او د عقيدې خرابوالې نور هم تند کړئ او د مسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي واچوی، د مسلمانانو د ښارونو څخه انجوني وتښتوی او هغه د ورانکاری لپاره استعمال کړی او هم د عيسايت لپاره دعوت او تبليغ پيل کړي .

د صليبي چاراواکو شوری دا پورته پريکړې وکړې .

سلطان نور الدين زنګي چې کله کرک ونيولو نو په شا او خوا سيمو کې يې خپل او د صلاح الدين ايوبي کماندويان وګمارل چې د دښمن څارنه وکړي او د اړتيا په وخت کې د هغوی سره مقابله او جګړه هم ، هغه د صلاح الدين ايوبي د جاسوسانو څخه چې په عکره، فلسطين او نورو ځايونو کې وه هم پوره معلومات او احوال اخيستلو، هغه د کرک څخه صلاح الدين ايوبي ته احوال واستولو چې صليبيان غواړي دا ځل د وچې او اوبو له لارې په مصر باندې حمله وکړي، تاسې بايد هغې ته پوره متوجې او ويښ اوسئ ، د سوډان پولو او سرحداتو ته هم پام وګرځوی داسې نه چې له هغه لوري درته زيان ورسيږي. تاسې بايد په قاهره کې حالات منظم کړی او بيا دې لوري ته راشئ چې زه خپلې سيمې ته ولاړ شم ، هلته هم حالات روغ او سم ندي. تاسې بايد لوی او غټ منجنيقونه اولرې ويشتونکې ليندۍ جوړې کړي او هم د پوځ د زياتوالي کوښښ وکړی ځکه چې مونږ غواړو اوس د مسلمانانو لومړنۍ قبله بيت المقدس آزاد کړو.

***

کله چې شوبک او کرک ونيول شول نو عيسايان د هغو سيمو څخه ووتل او د فلسطين مختلفو سيمو ته ولاړل چې زيات پکې عکرې ته راغلل، د علي بن سفيان درې روزل شوي کسان د عمران، رضا او رحيم په نامه هم د عيسايانو په جامه او شکل کې عکرې ته ننوتل، هغوی د ځان لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسب ځای په لټون کې شول ترڅو په مهمو ځايونو کې ځان ننباسي او د هغه ځای څخه پټ رازونه تر لاسه کړي ، عمران د دوی سر ګروپ وه .

هغه لوی کليسا ته ولاړ او د لوی پادري په وړاندی يې د صلاح الدين "ايوبي"او مسلمانانو غيبت او بد رد بيان کړل او بيا يې وويل چې زما کور او هر څه مسلمانانو تباه کړل او زه يوازی ورڅخه راخلاص شوم ، اوس غواړم د کليسا خدمت وکړم او کله چې پوځ حمله کوي د هغوی سره ملګری شم او خپل انتقام له مسلمانانو څخه واخلم، هغه لوی پادري په ځان باوري او په کليسا کې يې ځای ورکړ.

عمران د لوی پادري دومره خدمت کولو چې د هغه پری پوره باور راغی او هغه يې خپل باوري سړی وټاکلو هغه به د پادري څخه مذهبي تعليم هم زده کولو.

هلته زيات چارواکی راتلل او ده به ورڅخه لږی ، ډيری زياتی خبری هم اوريدلی چې دا هم ورته لوی کار وه .

بل ملګری يې رحيم د يو سوداګر او تجار په کور کې چې عسکری چاروا کی ورته راتلل ځان ځای کړ ترڅو د دی لاری راز لاس ته راوړي، هغه سوداګر، د هغه ميرمنی او پيغلی لور ايلس ته داسې کيسه کړی وه چې دی د ډير ځمکی د خاوند زوی او داسی کور يې درلود چې پنځه شپږ نجونو په کې دننه او د هغو پلارونو او ورونو بيرون خدمت کولو او په تبيله کې يې د اعلی نسل څو اسونه ولاړ وو او په حجره کې تل ميلمانه وو چې کله به ورته دسترخوان خپور شو نو په هغه باندی به د خوراک او څښاک هر ډول ځيزونه پراته وو او هر وخت به دروازی ته اړ خلک راتلل او د هغوی اړتيا به پوره کيده او زما د ايلس په شان ښکلی دوه خوندی وی چې مسلمانانو هغوی د ځانونو سره بوتللی او مور او پلار يې راته ووژل او الله تعالی داسی ورځ راباندی راوستله چې اوس دا دی مزدوری کوم .

ايلس چې د سوداګر يوازينی پيغله لور وه نو د رحيم چې د شکل او صورت نه ښکلی ځوان وو د هغه درد يې په خپل زړه کې محسوس کړ نو کله چې رحيم هنګوره بيرون ووتلو نو هغه يې په لاره کې ودرولو او د هغه د غم لری کولو لپاره يې څو خوږی خبری ورسره وکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دري څلور ورځې وروسته يې خپل دريم ملګرى رضا الجاوه وليدلو پوښتنه يې ورڅخه وکړه هغه ورته وويل د کار په لټه کې يم څرنګه چې رضا تجربه کار اس سپور وو او د اسونو پالنې او روزنې کې يې ښه مهارت درلوده نو رحيم هنګوره هغه سوداګر ته راوستلو او د هغه پيژاندګلوی د فرانسس په نامه چې د کرک اوسيدونکی دی وکړه او د مهارت په اړه يې ورته معلومات ورکړل بيا سوداګر د لوی چارواکی په واسط ورته دنده پيدا کړه .

د ورځو په تيريدو ايلس له رحيم هنګوره سره د مينې او محبت څرګندونه کولو خو رحيم هنګوره په ژبه د هغې د مينې ځواب نه ورکولو او په زړه کې يې دا فيصله وکړه چې د خپل فرض ادا کولو وروسته به هغه د ځان سره قاهرې ته رسوی اود اسلام سپيڅلې دين په دايره کې د داخليدو وروسته به د هغې سره واده کوی خو داوړو ته دا معلومه نه وو چې د پوځ يو لوی منصبدار ايلس څاری .

رحيم هنګوره او رضا د يکشنبې په ورځ کليسا ته تلل او هلته يې د عمران سره ليدل کتل کول .

رحيم هنګوره عمران ته وويل : د سوداګر لور ايلس له ما سره د مينې څرګندونه کوی .

عمران وويل : ته هم د هغې د مينې ځواب په ښه طريقه سره ورکوه خو پام کوه چې د هغې په مينه کې ډوب نه شې !

رحيم هنګوره باندې خپلې ځوانې اغيزه وکړه ، يوه ورځ ايلس ورته وويل : زما او ستا واده به په هغه صورت کې کيږي چې د عکره څخه وتښتو ځکه پوځې لوی منصبدار زما د خپلولو کوښښ پيل کړی او پلار مې هم په دې راضې دی خو ما ته يې تر اوسه څه نه دی ويلی .

عمران د پادري دومره اعتماد تر لاسه کړی وو چې د هغه همرازه شوی وو پادري په خپل فارغ وخت کې د مسيحيت درس هم ورکولو او د درس په منځ کې به يې ورته ويل په مونږ لازم دی چې د ځمکې له مخې د اسلام نوم او نښان ختم کړو ، ددې مقصد لپاره چې هره وسيله کاميابه وی هغه بايد استعمال شي ، دا ضروری نه ده چې مسلمانان ووژل شي بلکې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسیحیت په دایره کې د شاملیدو کوښښ وکړی شی او که هغوی عیسویت قبول نه کړ نو د هغو له زړه نه اسلام وباسی او ددی اسانه طریقه دا ده چې د هغوی په مینځ کې د بدی تخم وکرئ او په دی لاری کې خپلی خویندی او لوڼی استعمال کړی ، د هغوی په ذریعه مسلمانی نجونی بدو لارو ته راواړوی ، د ځوانانو او هغوی حکمرانانو کردار تباه او اخلاق یې فاسد کړئ .

عمران چې د پادری داسی خبری اوریدلی نو د ډاډ څرګندونه یې کول هلته به پوځی منصبداران تلل راتلل لکه څرنګه چې په هغه ورځو کې په دوه ډګرونو کې صلبیانو ماتې خوړلی وه نو له دی امله په عکره کې د هر چا په خوله کې یوه خبره وو چې ځوابی حمله به کله کیږی ؟

عمران هلته د قیمتی رازونو په حاصلو کې کامیاب وو ، هغه دا معلومه کړی وه چې په صلیبی حکمرانانو کې اتفاق او اتحاد نشته هغوی هر یو په خپلو هیوادونو کې بادشاهان وو خو څرنګه چې ټول د یو دین پیروان وو نو له دی امله یې په صلیب باندی لاسونه کیښودل چې د اسلام د سپیڅلی دین ریښی به وباسی خو په هغوی کې داسی هم وو چې په پټه یې د مسلمانانو سره د صلحی معاهده کړی وه او د صلیبیانو سره یې د جګړی لپاره تیاری هم کاوه چې په هغوی کې د یادونی وړ سیرزممینوئل وه چې د جګړی په میدان کې یې د سلطان نورالدین زنګی سره صلح کړی او بندیان یې ازاد کړی وو اوس سیرزممینوئل د نورو حکمرانانو د راپاڅولو زیار ویسته چې ټول په سلطان نورالدین زنګی باندی یرغل وکړی او دا یرغل به یو په صلاح الدین ایوبی او بل په نورالدین زنګی وی .

عمران پادری ته دا و نه وویل چې کوم قوم خپلی نجونی د خپلو موخو لپاره استعمالوی نو هغوی به په یو بل هیڅکله اعتماد ونشی کړای .

عمران د سلطان صلاح الدین ایوبی لپاره دا خبره په ذهن کې کینوله چې که د مسلمانانو په صف کې غداران نه وای نو صلیبیانو ته یې غاښ ماتونکی ماتې ورکوله او اروپا یې هم نیوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



غداری د مسلمانانو لویه کمزوري وه د عکری پادري اوصلیبي واکمنان د مسلمانانو له کمزوری نه ډیر خوښ وو .

عمران ته د کوچنیو مسلمانانو ریاستونو د حکمرانانو نومونه ښه معلوم وو چې د پردې تر شا یې د صلیبیانو سره دوستي درلوده او صلیبیانو د هغوی لپاره د اروپا یې دولتونو په زړه پوری شراړونه او نجونی ورلیږلی .

رضا هم په خپل کارونو کې مشغول وو خو رحیم هنګوری د خپل لاری څخه اوښتی او د ایلس میني هغه ړوند کړی وو. څو ورځی وروسته ایلس ورته وویل : د هغی واده د یو داسی پوځی منصبدار سره کیدونکی دی چې بوډا دی ، هغی خپلی مور ته ویلی وه چې هغه دی ته تیاره نه ده خو پلار یې نه منله ځکه هغه پوځی منصبدارانو څخه دولت تر لاسه کولو .

څرنګه چې د صلیبیانو په غونډه او کانفرانس کې پریکړه شوی وه چې باید دا ځل د وچی او اوبو له لاری په مصر او خصوصاً په اسکندریې حمله وشي او هغه ځای خپل مرکز جوړ کړی ، نو صلیبی چارواکو د دی لپاره په بیړه کار او فعالیت کاوه، هغوی مختلفو اروپایی هیوادونو ته استازی واستول چې هغوی ته کښتی ورکړی ترڅو په هغې باندی د اسکندریې سیمه ونیسی .

فرانسی، بلجیم، برطانیا، یونان، هسپانیا او خپله د فلسطین د صلیبیانو بحری ځواک په نوی حمله کې د ګډون لپاره د اسکندریې په لوری حرکت وکړ، د دی سره په خوا کې هغوی د ریجنالډ په مشری د وچی پوځ هم جوړ کړ چې د وچی له لاری حمله وکړی او مصری خاوره تر خپل کنټرول لاندی راولی.

یو ځل په کلیسا کې ډیر پوځی چارواکی راغونډ شول او د لوی پادری سره په سالون کې کیناستل چې عمران هم د دوی خدمت کولو، پادری جان ګنټر(عمران ) ته وویل: تاسي لږ وخت د باندی ولاړ شئ مونږ یو څو ضروري خبری لرو، عمران د باندی ولاړ او د بلی خونی څخه یې خبرو ته غوږ ونیوه. هغوی پخپلو کې سره خبری پیل کړی چې د هغې څخه معلومه شوه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسکندریې باندې د بحرې ځواک برسیره د وچې له لارې هم برید کوي او دا برید به فیصله کوونکې وي .

عمران د پلان غټ غټ ټکي واوریدل او زړه یې ناکراره شو. هغه غوښتل سمدستي قاهرې ته ولاړ شي او سلطان صلاح الدین ایوبي خبر کړي چې لوی قوت را روان دی خو د رضا او رحیم په خاطر پاتې شو، هغه رضا ته ورغی او د هغه ښځه یې د نوې حالاتو په باب وپوښتل هغه ورته وویل چې داسې انګازه ده چې دا ځل د اوبو له لارې هم په مصر حمله کیږي .

* * *

عمران وویل : ای رضا ! نور دلته زمونږ لپاره اړتیا نشته باید سمدستي ولاړ شو، د سفر لپاره درې اسونو او یو اوښ ته اړتیا ده د هغوی د پیدا کولو کوښښ کول ضروري دي .

رضا وویل ډیره ښه ده ! سمد لاسه پاڅیدو او د رحیم هنګورې پسې ولاړ.

مخکې شپه د رحیم هنګورې بادار میلمستیا کړې وه چې په هغې کې ډېر پوځي افسران وه، کله چې خوراک او څښاک خلاصه شو او د نڅا او موسیقۍ وخت راغی نو د ایلس ژنې (نامزاد) د هغې ښځه وغوښتل چې د ده سره یو ځای نڅا وکړي خو د ایلس له هغه ښځه کرکه راتلله نو انکار یې وکړ او د بل ځوان آفسر سره یې په ګډا پیل وکړ.

د ایلس خاوند ته پدې غصه ورغله او د هغې پلار ته یې شکایت وکړ، پلار یې ایلس ورتله چې ته ولې د خپل نامزاد سره ګډا نه کوې ؟

هغې غوڅ ځواب ورکړ چې زه د دې سړي ښځه کرکه لرم او د ده سره په هیڅ صورت واده هم نکوم ، هغه د سالون ښځه ووتله او د رحیم هنګورې خونې ته ورغله .

پلار او خاوند یې د هغې پسې شول او د رحیم هنګورې په خونه کې یې پیدا کړه، پلار یې ایلس د ځان سره کورته بوتلله او خاوند یې رحیم هنګورې ته وویل نور د دې کور ښځه ووځه کنه بندي کوم دې یا دې وژنم ، رحیم هنګورې هم غوڅ ځواب ورکړ وې ویل: چې څه دې د لاسه کیږي وې کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور خاوند راغی او رحیم هنګوری ته یې وویل نور ته زما نوکر نه یې په مخه دې ښه شه !

رحیم د خپل بادار د کور څخه ووت ، د دې پر ځای چې خپل مشر عمران یا خپل ملګری رضا ته څه ووایی په پټه یې د ایلس سره وکتل او د تیښتې لاره یې جوړه کړه .

ایلس هغه ته وویل: ته د ښار څخه د باندې ووځه زه به د خپل پلار آس را واخلم او بیا به هلته درشم وروسته به دواړه ځو.

رحیم پخپل سر یوازې د ښار څخه ووت پرته لدې چې له خپل امیر څخه اجازه واخلی ، ماښام ایلس د خپل پلار آس راخلاص کړ او د ښار څخه ووتله، بیا دواړه په یو آس باندې سپاره شول او ښه لرې ولاړل ترڅو چې ستړي شول نو د شپې تیرولو لپاره هلته پریوتل هغوی فکر کولو چې د خطر له سیمې څخه نور وتلی دی .

ایلس رحیم ته وویل: تا د بیت المقدس لاره لیدلی ده؟

هغه ورته وویل: ولی؟

ایلس وویل : هلته به ځو او بیا به سره واده کوو!

رحیم ورته وویل: نه ! قاهری ته ځو او هلته سره واده کوو.

ایلس وویل : د مسلمانانو سیمی او ښار ته ځي چې دواړه ووژنی ! زه هلته په هیڅ صورت نه ځم !

ایلس د مسلمانانو څخه زیاته کرکه کوله خو هغه نه پوهیده چې رحیم مسلمان دی ځکه هغه خپل نوم بدل کړی وه او ایلی مور یې په ځان اېښی وه .

رحیم ورته وویل: ایلس ! زه مسلمان یم او خپل ټاټوبی ته دی ځان سره بیایم .

کله چې ایلس پوه شوه چې هغه مسلمان دی او قاهری ته ځی نو ځان یې غلی کړ او دواړه پریوتل، کله چې رحیم هنګوری ویده شو ایلس راپورته شوه او په آس باندې سپره شوه او بیرته د ښار په لوری روانه شوه ، په لار کې ځارونکو کسانو ولیدله او هغو ته یې خپله قصه وکړه نو دوه تنه د هغوی څخه د ایلس پلار او خاوند د خبرلو پسی لاړل او نور اتلس تنه د رحیم پسی ورغلل ، رحیم چې سهار راپورته شو ګوری چې نه اس شته او نه ایلس !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پوه شوه چې خبره خرابه شوه نو د قاهرې پر ځای د کرک په لوري وخوځیده په لار روان وو چې د ګزمې عسکرو راونیوه او بیرته یې لاس تړلې ښار ته راووست .

پدې وخت کې رضا په لاره کې ولاړ وُ، هغه رحیم هنګورې لاس تړلې ولیده نو ډېر خواشینی او ورخطا شو خو رحیم هنګورې په سترګو کې پوه کړ چې ما څوک ندي ښودلي .

رضا سمدستي عمران ته ورغی چې رحیم هنګورې نیول شوی او باید راخلاص شي، عمران هغه منع کړ خو رضا ونه منله .

د شپې رضا د رحیم هنګورې پسې ورغی ، د ډیرې پلټنې وروسته یې پیدا کړه خو ګورې چې د استخباراتو کسانو نیولې او وهي یې او د نورو ملګرو د ښودلو غوښتنه ورڅخه کوي خو هغه یو ځواب ورکوي چې زه نور ملګرې نه لرم ، د تحقیق په ډله کې ایلس هم وه او هغې هم ددې د هڅولو کوښښ کاوه ترڅو چې خپل ملګرې وښائي ، رضا کوټې ته د کړکۍ له لارې واوښت او له شا یې د استخباراتو په کسانو حمله وکړه چې په لومړي ځل کې یې هغوی ووژل ، ایلس په منډه شوه او د نورو پیردارانوخبر ولو کوښښ یې کولو ، رحیم هنګورې ورمنډه کړه او د استخباراتو د وژل شوو کسانو کومه توره یې چې اخیستې وه په هغه یې ایلس ووژله د هغه په چغو نور پیرداران خبر شول ، د هغوی په رارسیدلو دواړو منډې کړې چې د پیره کوونکو لخوا څخه رحیم هنګورې په غشي وویشتل او زخمي شو ، رضا په ډیر تلوار په خپل اس باندې واچولو او اس ته یې پونده ورکړه ، د مختلفو لارو نه په تیریدو یې یو کور دروازه وټکوله یو ځوان دروازه خلاصه کړه او کور ته ننوت کله یې چې د اس څخه رحیم هنګورې کښته کولو د زنکدن اخري سلګۍ یې وې ، په کور کې درې تنه نارینه او دوه ښځې وې د رحیم هنګورې د قصې اوریدلو وروسته ټولو په ګډه هغه د کور په یوه برخې کې خاورو ته وسپارلو بیا د هغه ځای څخه کلیسا ته په رسیدو یې عمران خبر کړ دواړو فیصله وکړه چې له ښار څخه ووځي نو عمران چې د جان ګنتر په نامه مشهور او د پادرې خاص خادم وو ټولو پیژندلو تبیلی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ ترڅو اسونه راخلاص کړي خو هغه وليدل چې هلته پهره دار ولاړ دي ورڅخه يې پوښتنه وکړه څه اړتيا پيښه شوي ؟ هغه ورته وويل نن يو مسلمان جاسوس نيولی شوی وو هغه څو تنه د استخباراتو غړي او يوه نجلي ووژل او وتښتيده نو ټولو پوځ او پوليسو ته هدايات شوي چې په حساسو ځايونو نظر وساتي نو عمران په خبرو خبرو کې خنجر راوويست او د هغه په زړه باندي يې وار ورکړ چې څو شيبې وروسته يې روح په بدن کې نه وو. په اسونو يې زينونه واچول او پرې سپاره شول ، د ښار څخه ووتل خو په لوی لاره ګزمې کوونکو ودرول او د مشعلونو په رڼا کې ورنږدې شول يو پيره کوونکي نور ته وويل : ددوی په جامو خو ويني دي له دې خبرې سره عمران اس ته پونده ورکړه خو رضا يې ونيولو هغه په لوړ اواز وويل : ودريږه الله تعالی دې حافظ او ناصر شه !

عمران د شپې او ورځې سفر وکړ ترڅو چې د مسلمانانو سرحدي پوځي سيمې ته يې ځان ورسولو ، قوماندان ته يې لنډه کيسه وکړه او هغه ورته بل اس ورکړ او دوه ملګري يې هم ورسره کړل ، د کرک لاره يې ونيوله او سلطان نور الدين زنګی ته يې ځان ورساوه هغه ته يې خپله ، د رضا او رحيم هنګوري کيسه وکړه ، سلطان نور الدين زنګی پاڅيده او هغه يې د خپلې سينې سره ولګولو او په تندي باندي يې ښکل کړ بيا يې خپله توره د پوښه راوويستله او بيرته يې په پوښ کې واچوله او هغه يې مچی کړ بيا يې عمران ته وکړه ورته يې وويل : نن چې د ستورو په څير صليبيان د مسلمانانو په سرونو باندي ګرځي يو مسلمان ورور بل مسلمان ورور ته ددې څخه ښه ډالۍ نشي ورکولای .

دې توری د لويو لويو جابرو صليبيانو ويني څښلي دي ، دې توری په ډيرو قلعه ګانو د اسلام بيرغ رپولی دی او دا توره د اسلام د سپيڅلي دين ساتونکي ده .

ای عمرانه ! کومه کارنامه چې تا کړي زه د هغه په بدله کې تاسی ته دولت ، ماڼۍ او بې شميره سپرلۍ درکولی شم خو دا درته نه درکوم ځکه دې شيانو مسلمانان ړانده کړي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمران د سلطان نور الدین زنګی په وړاندې په ګونډو کیناست او د هغه له لاسونو نه یې توره واخیستله په سترګو یې ښکل کړه او د ملا نه یې وتړله او په ژبه یې څه و نه ویل خو د سترګو څخه اوښکی لکه سیلاب روانی شوی .

سلطان نور الدین زنګی وویل : خپل حیثیت وپیژنه ! یو مخلص جاسوس دښمن ته ښه ماتې ورکولی شي خو غدار خپل قوم د ذلت په کنده کې اچوی تا چې کوم خبر راوړی هغه د دښمن د ماتې خبردی انشاء الله صلیبیان به د مسلمانانو ساحل ته په رارسیدو خپلې بیړۍ بیرته و نشی لیدلی .

عمران وویل : که ستاسی اجازه وی نو زه به قاهرې ته روان شم .

سلطان نور الدین زنګی وویل : ډیره ښه ده ! ځه الله دی مل شه ! خو زه تا ته د اعلی نسل سپرلی درکوم او که ضرورت شو نو په لارې کې چې کومی پوستی دی هلته خپله سپرلی بدلوی شی !

عمرانه ! دا د پیغام د لیکلو وخت نه دی ! صلاح الدین ته ووایه ما تاسی ته کرک سپارلو او دمشق تللم ځکه هره ورځ راته خبر راځی چې په سیمی کې د صلیبیانو تخریبی لاسوهنی زیاتی شوی دی او زمونږ واړه واړه حکمرانان د هغو په لاسونو کې لوبیږی خو دی نوی خبر زه تم کیدو ته مجبور کړم ، کله چې پنځه کاله وړاندې د روم په بحیره کې د صلیبیانو کښتی ستاسی په محاصره کې راغلی او هغه مو ډوبی کړی ، اوس به هغوی په احتیاط وړاندې راځی نوله دی امله یې د اسکندریی شمالی ساحل انتخاب کړی دی او که ته په بحر کې د مخامخ جګړی فیصله وکړی نو دا به ستا لویه غلطی وی ځکه ستا سره دومره بیړی نشته ، د هغوی کښتی لویی دی چې په هره کښتی کې بی شمیره څپی وهونکی کښتی هم دی او د هغو د څپو وهلو لپاره یی غلامان هم ساتلی دی چې ته ددی څخه بی.برخی یې او ستاسی څپه وهونکی او کښتیوانان سپاهیان دی چې په اوبو او وچی دواړو کې جګړه نشی کولای ، صلیبیان ساحل ته راپریږدی او بیا پری یرغل وکړی د اور ګولو له امله به ښار اور اخلی نو ددی انتظام هم وکړی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دښمن په هغه شکل یرغل وکړي لکه چې عمران وویل نو زه به د دښمن په خوا کې وم چې دا به د هغوی چپ لور وی او ته ښی لوری سنبال کړه ، ستا دنده به دا وی چې د صلیبانو یو کښتی بیرته لاړه نشی هغوی ټولو ته اور واچوه او که ستاسی سره ناخاپی بحری یرغل کوونکی وی نو ته بیا ښه پوهیږې چې د هغوی نه کوم کار واخلی خو ددی ویلو ضرورت به نه وی چې د سوډان لوری ته هم پاملرنه کوه سرحدی پوستی خالی نه کړی !

زه پدی پوهیږم چې تاسی سره پوځ کم دی زه به د کمی پوره کولو هڅه او کوښښ کوم تر ټولو لویه اړتیا د راز ده د راز ساتلو په خاطر می دا پیغام ونه لیکلو انشاء الله د فتحی په صورت کې زه کرک پوځ ته حواله کوم او د مشق ته ځم !

او دا هم د یادونی وړ بولم چې د رحیم او رضا د کورنۍ کفالت انتظام د بیت المال څخه وکړه .

عمران نیغ په نیغه قاهری ته ولاړ او هلته علی بن سفیان ته ورغی، هغه هم ډیر ژر سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورساوه او ټول حالات یې ورته په تفصیل سره بیان کړل .

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل پوځ د سالارانو په مشوره په دری برخو وویشلو ، یوه برخه یې د سوډان پولی او سرحد ته واستوله ترځو هلته د دښمن مخه ونیسی، دویمه برخه یې د کیمیاوی موادو او منجنیقونو سره د شپی په تیاره کې اسکندریی ته واستوله او دریمه برخه یې پخپل لاس کې ونیوله .

هغوی د اسکندریی د ښار ساحلی برخه له ټولو خلکو څخه تشه کړه او هلته یې پوځونه د عامو خلکو په جامه کې ځای پر ځای کړل، د مدیترانی په ساحل کې یې خپل زیات پوځ هم په مورچلو کې کیناوه، د ښار په بامونو یې مور چلی جوړې کړی - خپلی کښتی یې د ساحل څخه لری خوندی ځای ته بوتللی ترځو صلیبیان په ډاډه زړه دی سمندری بندر ته راشی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلطان نور الدین زنګی د سینا په دښته کې ټولی هغه لاری ونیولی چې د صلیبیانو لښکرې پرې راتللی، هغوی هلته په ژورو او کندو کې خپل کسان ځای پر ځای کړل .

د مارچ په میاشت کې د پنځه هیوادونو برطانیا، بلجیم، فرانسی، هسپانیا او د فلسطین د صلیبیانو بحری ځواکونه د اسکندریی په لوری په حرکت شول، هغوی یو نیم سل لویی او کوچنی کښتی را روانی کړی وی. چې کله ساحل ته رانژدی شول نو یوه کښتۍ رامخکی شوه ترڅو حالات معلوم کړی، ځکه هلته هیڅوک هم نه ښکاریدل .

په ساحل کې د کب نیوونکو یوه کوچنی کښتی ګرځیدله، صلیبیانو د هغوی ځخه وپوښتل چې مصری بحری قوه چیری ولاړه ده، هغه ورته وویل : د دی ځای ځخه د دوه ورځو په اندازه لری ده .

صلیبی آفسر ډیر زیات خوشحاله شو چې د مسلمانانو بحری قوه ډیره لری پرته ده، اصلاً کب نیوونکی د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوس او څارونکی وه چې هغوی ته یې دوکه ورکړه، وروسته بله د کب نیوونکو کښتی د صلیبیانو د بحری قوی منځ ته ولاړه او عمومی قوماندان امیر البحر ته یې وویل چې د اسکندریی په ښار کې ډیر کم پوځ اوسیږی او نور هیڅ نشته ، د مصر بحری ځواک هم ډیر لری پروت دی، تاسې بی غمه او ډاډه خپلی کښتی غاړی ته رانژدی کړی او پوځیان ورځخه ښکته کړی .

دا کب نیوونکی هم د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوس وو چې هغوی ته یې غلط راپور ورکړ.

ماښام تیاره صلیبی کښتی غاړی ته رانژدی شوی، ټولی سره یو ځای ودریدی او پوځیان ورځخه ښکته شول کله چې لومړی ټولي د اسکندریی کلا ته ننوتل نو په هغوی د بامونو او کوځو ځخه د غشو باران پیل شو، پدی ټولی کې دوه زره کسان وه چې ټول مړه یا زخمیان شول .

د دی سره جوخت په ساحل باندی د اور غورځونکو موادو غورځول پیل شول او نژدی ډیر واښه هم راټول شوی وه هغی هم اور واخیست چې پدی توګه ټول ساحل سپینه رڼا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صلیبي کښتیو باندې د اور اچوونکو غشو باران پیل شو، په تیاره کې مصري بحري قوه هم راورسیده او صلیبي قوه یې محاصره کړه.
د هرې خوا څخه صلیبي ځواکونه تر حملې او برید لاندې راغلل چې نیمه بحري قوه یې تباه او برباد شوه، څومره پوځیان چې په ساحل او غاړه پلې شوي وه هغوی یو هم بیرته کښتیو ته ونه رسیدل څه مړه او پاتې ټول بندیان ونیول شول.
پدې جګړه کې د سلطان صلاح الدین ایوبي د بحري قوې مشر امیرالبحر سعد بن سعد په شهادت ورسیده.
سلطان صلاح الدین ایوبي خپل د پوځ دریمه برخه چې د ده تر لاس لاندې وه هغې ته حکم وکړ چې د سینا دښتې ته ولاړ شي او د ریجنالډ د لښکر سره جګړه پیل کړي.

***

ریجنالډ د خپل زیات لښکر سره د سینا د دښتې له لارې مصر ته روان وه، هغه خپل لښکر په درې برخو ویشلی وه چې لومړی لښکر د هغه څخه مخکې روان وه، خپله هغه په منځ کې اوسیده او تر شا یې هم بل لښکر راتلو، چې د اړتیا په وخت کې یې یو د بل سره مرسته کوله، هغوی په ډېره بیړه او چټکتیا حرکت کاوه خو په لاره کې ورته سلطان نور الدین زنګي کمین نیولی وه، کله چې د کمین ځای ته ورسیدل کوم چې هلته چینې وې نو د ریجنالډ خپل اړوند پوځ هلته واړول، مخکیني لښکر وړاندې تللی وه او شاتني یو څه وروسته پاتې وه.
د شپې پرې یو دم برید وشو، کماندویانو لومړی د هغوی اوښان او آسونه خوشې کړل او بیا یې د غشو باران پرې پیل کړ، وروسته یې د تورو، برچو او نیزو څخه کار واخیست، تر سهار پورې یې د صلیبي لښکر څخه توبې وویستې، ریجنالډ د شپې خپل وروستي لښکر ته وتښتیده او هغه یې هم را روان کړ ترڅو د منځني لښکر سره مرسته وکړي خو په لاره کې پرې د سلطان نور الدین زنګي لښکر برید وکړ او هغه یې همالته راګیر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځني او شاتني لښکر دواړه په خپلو خپلو ځايونو کې محاصره او تر سختی حملی لاندی راغلل، ريجنالډ خپل يو استازی مخکنی لښکر ته واستاوه چې د دوی مرستی ته راشي، کله چې هغوی بيرته راوګرځيدل په همدی وخت کې د سلطان صلاح الدين ايوبی کماندويان راورسيدل او د هغوی کماندويانو پری بريد وکړ، دوی دلته راګير شول يعنی دری واړه برخی په دری جلا جلا ځايونو کې محاصره شوی چې د دوه پوځونو څخه سلطان نور الدين زنګی غازيان او د مخکنی پوځ څخه د صلاح الدين ايوبی غازيان راتاو شول داسی يې وځپل چې نور صليبيان يې هير کړل .

په څلورمه ورځ د سلطان نور الدين زنګی غازيانو د ريجنالډ په خيمه حمله وکړه او هغه يې ژوندی ونيوه چې د دی څخه وروسته پاتی کسانو وسله وغورځوله او د صليبيانو په مکملی ماتې سره دا جګړه هم پای ته ورسيده .

ريجنالډ د نورالدين زنګی مخی ته راوستل شو او هغه ورته خپل شرايط وويل، صليبي واکمن ټول شرايط ومنل خو چې کله د بيت المقدس د پريښودلو ورته وويل شول نو هغه رويل دا هيڅ ممکن نه دی ، تر ماښام پوری سلطان صلاح الدين ايوبی هم راورسيده .

د ريجنالډ سره ډيره ښه وضع وکړای شوه نو د سلطان صلاح الدين ايوبی په ليدلو يې وويل : تاسی عظيم شخصيت ياست چې داسی انسانان مو روزلی دی .

سلطان صلاح الدين ايوبی ورته وويل: داسې ووايه چې اسلام سپيڅلی دين دی ، او د هغه عظيم دين پيروان په حق لاره روان دی .

ريجنالډ خپل سر ټيټ واچولو او ويی ويل : دا خو يو ښکاره حقيقت دی .

سلطان نور الدين زنګی صلاح الدين ايوبی ته وويل : ريجنالډ وايی چې زموږ سمندری قوه نده را رسيدلی ؟ تاسې د دی خواب ورکولای شی زه خو دلته وم .

سلطان صلاح الدين ايوبی وويل : هو! ستاسې سمندری قوه په ډېر ښه شان او شوکت سره راغله ، څه ورڅخه د سمندر تل ته ښکته شول او څه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبو په سر لامبو وهي، څومره کسان چې ورځخه په وچه بنکته شول د هغوی مونږ ډېر تود هر کلی وکړ او په ډېر عزت مو خاورو ته وسپارل .
پدې خبرو د ريجنالډ رنګ بدل او سترګې يې بوتې بوتې راووتلی او خوله يې وازه پاتې شوه. هغه دا تصور هم نشو کولای چې دا خبره دی رښتيا وي چې د پنځو هيوادونو ګډ سمندري ځواک دې تباه او برباد شوی وی .
ريجنالډ ويل : که دا خبره رښتيا وي نو بيا د دې علت او لامل څه دی؟
صلاح الدين ايوبي ځواب ورکړ: د دې ځواب به هغه وخت درکړم چې کله ستاسې اخري سپاهی د فلسطين څخه ووځي!
سلطان نور الدين زنګي وويل: دا ستاسې وروستی ماتې نده ځکه چې تاسې د دې سيمې څخه لاس نه اخلی او پخپله يوه خبره هم ولاړ نه ياست .
ريجنالډ وويل : زه به خپله ټوله سيمه تاسې ته خوشی کړم خو ما ازاد کړی، بيا ستاسی سره جګړه هم نه کوم ځکه چې ستاسی ايمانی جذبه ډيره اوچته ده .
سلطان نور الدين وويل : تاسې خپل ټول زور او قوت وازمويلو، سمندری قوه مو پکار واچوله، د وچې له لاری مو حمله وکړه او نوره وارنکاري مو په کار اچولی ده، زمونږ په قوم کې مو ايمان پلورونکی پيدا کړيدی نور ستاسی په واک کې څه نه دی پاتی !
ريجنالډ وويل: مونږ د نړۍ د زياتو برخو څخه اسلام ويستلی دی، اندلس ستاسې وه خو اوس د چا پلاس کې دی ؟
سوډان ولی ستاسې دښمن شو ؟
د دې ټولو سيمو ساتوونکی مونږ په وړيا واخيستل. ستاسې مسلمان وروڼه زمونږ غلامان او بنده ګان دي، هغوی ستاسې لپاره نه بلکې زمونږ لپاره کار کوي، په هغوی کې اسلام نشته يوازې نوم يې د مسلمان دی .
تاسې دواړه به ترڅو پوری ژوندی ياستی ؟
د اسلام دفاع به ترڅو پوری کوی؟
زه تاسې دواړو ته سلام کوم چې تاسې د خپل دين رينښتني ساتوونکی او مخلصين ياستی ! خو ستاسې په قوم کې ايمان پلورونکی زيات دی، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې خپل قوم د عیش، عشرت او زر پالنی ښخه وساتلو نو تاسې بریالی یاستی. خو دا کار تاسې نشی کولای مونږ ستاسې ډېر واکمنان او چارواکی پخپل جال کې رانښلولی او په ډیره ارزانه بیع مو اخیستی دی.

پدی جګړه کې د ریجنالډ ښخه برسیره ډېر صلیبي بندیان مسلمانانو ته پلاس ورغلل، سلطان نور الدین زنګی ریجنالډ او نور بندیان له ځان سره کرک ته بوتلل او سلطان صلاح الدین ایوبی د قاهری په لوری وخوځیده.

د دی جګړی ښخه وروسته په شمالی سیمو کې سخته زلزله وشوه چې ځو کلی پکی وران او ویجاړ شول - سلطان نور الدین زنګی خپله هغو سیمو ته ولاړ تر ځو د هغوی سره مرسته او کومک وکړی، هغه د خلکو په غم او کړاو کې شریک وه، ټوله ورځ او شپه به یې کار کاوه خپل ځان او خپل خوراک څښاک ته یې هیڅ پام نه وو. د حسن بن صبا فدایانو هغه ته په خوراک څښاک کې دا سې زهر ورکړل چې ځو ورځی وروسته یې اثر پیدا کړ، د هغه ستونی خراب شو او بلاخره د می په میاشت ۱۱۷۴ م کال کې وفات شو.

سلطان نور الدین زنګی پداسی حالت کې وفات شو چې هیڅ وصیت یې ونشو کړای او نه یې ځوک د ځان ښخه وروسته د پوځ د مشری لپاره ونومولو بلکی همداسی له نړۍ ښخه رخصت شو.

د سلطان نور الدین زنګی تر وفات وروسته دمشق، حلب او موصل خپله ازادی اعلان کړه او دری واړه خپلواک او ازاد ریاستونه وګرځیدل، چاپلوسو، ایمان پلورونکو او غوړه مالانو د سلطان نور الدین پر ځای د هغه زوی الملک الصالح چې یو لس کلن وه د پلار په ګدۍ کیناوه ترڅو د هغه تر نامه لاندی خپلی ناوړی چاری مخ په وړاندی بوځی.

سلطان صلاح الدین ایوبی پدی پوهیده چې ددی ځوکۍ، مقام او قدرت وږی تږی او بی ایمانه امیران به اسلامی امت کوم لوری ته بوځی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام پاینښت په خام تار پورې ځوړند وه

کله چې د مې په میاشت ۱۱۷۴ میلادي کال د عالم اسلام لوی مجاهد او غازي سلطان نور الدین زنګي وفات شو نو د هر خلک خوشحاله شول ، نه یوازې دا چې صلیبیان بلکې تش په نامه مسلمان امیران، والیان، اربابان او نوابان هم خوشحاله شول ځکه د هغوی لاره خلاصه شوه او څه یې چې زړه غوښتل هغه بې کولای شول، د دې څخه مخکې سلطان نور الدین زنګي هغوی پابند کړي وه او د صلیبیانو سره یې جهاد او مقابلې ته هڅول هغوی سره لدې چې الله جل جلاله یې یو، رسول یې یو، قرآن یې یو، امت یې یو او دښمن یې یو ځو بیا هم په زړونو کې سره جلا جلا او پخپلو کې سره دښمنان وه په هر څه کې به یې خپلې ګټې لټولې .

په هغه وخت کې د سردارۍ، نوابۍ، اربابۍ دوره وه، ځینې کوچنې او ځینې لوی وه، کوچنیانو به لویو ته مالیات او پوخ ورکولو.

ځینې پدوی کې داسې هم وه چې په پټه به یې د اسلام د قسم خوړلو دښمنانو صلیبیانو سره لاره او دوستی لرله او هغوی به ورته شراب ، ښایسته نجونې او مالي مرسته ورکوله او د دې په بدل کې به دوی د مسلمانانو، غازیانو او مجاهدینو جاسوسي کوله .

د دوی دین او غیرت بس خپلې څوکۍ وې، که دا په هره توګه ساتل کیده دوی له هماغې لارې څخه کار اخیستلو، د هغوی سره د ملت د خلکو غم، د میرمنو او پیغلو د عزت او ناموس څه پروا نه وه.

کله چې سلطان نور الدین زنګي وفات شو ټولو والیانو، امیرانو او سردارانو خپلواکي اعلان کړه ځکه صلیبیانو همدا غوښتل چې هغوی بیل شي او بیا ټول یو ځل هضم کړي ، همدا وجه وه چې هر یوه سره یې جلا جلا اړیکې نیول ، هر یو ته یې جلا جلا کومک ورکولو او هر یو یې دې ته هڅولو چې د بل حکم او اطاعت ونه مني ځکه چې دوی په ټولو کې پوه ، هوښیار او تجربه لرونکي وه او په دې پوهیدل که هغو سره یو شي نو خیر مو نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی نوو ازادو کې مهم کسان دری څلور وه چې یو د حرن والی گمشتگین، بل د موصل والی سیف الدین، دریم د حلب والی شمس الدین او څلورم د دمشق پاچا الملک الصالح وه چې غدارو امیرانو د سلطان نور الدین زنگی په گدی باندی کینولی وه، الملک الصالح یوولس کلن هلک وه خو دوی ورڅخه د خپلی خوښی کار اخیستلو .

هغوی پدی خوشحاله وه چې اوس به هر یو جلا جلا پاچائی کوي او د خپلی سیمی خپلواک پاچا به وي خو د دی څخه ناخبره وه چې دوی به د ونی د لښتو په شان هر یو جلا جلا مات شی ، د سلطان نور الدین زنگی په مړینه د هغه مجاهده میرمن رضیع ، سلطان صلاح الدین ایوبی او د اسلامی امت زړه سوونکی خلک ډیر خفه او اندیښمن وه څکه هغوی پدی پوهیدل چې د دی څخه وروسته به څه کیږي ؟

د سلطان نور الدین یو مخلص سالار او قوماندان مصطفی ترک د هغه د مړینی څخه وروسته له دمشق څخه د کور په پلمه روان شو او څان یې قاهری ته ورساوه. هغه پدی پوهیده چې د نور الدین زنگی څخه وروسته یوازی سلطان صلاح الدین ایوبی دی چې د اسلامی امت پت ، عزت او حیثیت ساتلی شي نو څکه هلته ورغی ترڅو د هغه سره د نوی حالاتو په هکله خبری وکړی .

مصطفی ترک سلطان صلاح الدین ایوبی ته وویل : که تاسې همداسی غلی کیناستی او څه مو و نه کړل نو په راتلوونکی کې به اسلامی تاریخ تا د یو غدار په حیث وپیژنی چې هغه هر څه پخپلو سترگو لیدل خو د خپلی څوکۍ او مقام لپاره یې یو گام هم پورته نکړ.

صلیبیان اوس غواړی د بیت المقدس څخه وروسته حرمین هم تر خپل کنترول لاندی راولی څکه د هغوی لاره خلاصه شوه او د سترگو اغزی یې هم لری شو.

اوس د ټول اسلامی امت سترگی ستاسې په لور اوښتی باید زر تر زره گام پورته کړی، وخت ضایع کول ډېر زیات زیان لري ، بیا به ټول ارمان او افسوس کوی خو لاس ته به څه نه درځی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی د هغه ځخه د شام د سیمو ، خلکو او پوځ په هکله پوښتنې وکړې، هغه ورته وویل چې خلک د پخوا پشان اسلامي جذبه او احساس لري، پوځ هم تر اوسه پورې په هماغه جذبه او احساس ولاړ دی خو که وخت پکې تیر شو بیا به هغوی بل شانته شي - هغوی تر اوسه پورې خپل اصلي دښمنان پیژني او د هغوی ځخه کرکه کوي یوازې امیران او سرداران د خرابی په لوری روان دی .

* * *

د دې ځخه وروسته د سلطان نور الدین زنګي کونډې میرمن رضیع سلطان صلاح الدین ایوبی ته پیغام راواستولو ترڅو هغه دې ته تشویق کړي چې د اسلامي امت د عزت او حیثیت ساتلو لپاره راوړاندې شي او د غدارو امیرانو له پنجو ځخه اسلامي امت وژغوري هغې سلطان صلاح الدین ایوبی ته دارنګه لیکلي وه:

د اسلام د سپیځلي دین د لارې سربښندونکي وروره !

السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته !

الله جل جلاله دې وکړې چې روغ او خوشحاله اوسې .

ښاغلیه وروره ! اوس د اسلام آبرو او حیثیت ستا پلاس کې دی، زماکوچنی زوی هغوی پاچا کړیدی، خلک زمادرناوی کوي چې دا د نوي پاچا مور ده او ما بختوره بولي خو زه د ویني اوښکې تویوم، هغوی زما زوی زما ځخه بیل کړ، ګمشتګین او سیف الدین هغه پخپله ولکه کې راوستی دی، هغوی ټولو خپلواکي اعلان کړیده، که هغوی پخپلو کې سره یو او متحد وای نو زه به دومره اندیښمنه نه کیدم خو هغوی پخپلو کې سره هم یو د بل وینو ته ناست دي، د یو بل سره د مرستی او کومک پر ځای د یو بل د راپرزولو کوښښ کوي ،اوس د بی شمیره شهیدانو وینی بابیزه او ضایع کیږي، صلیبیانو چې په لومړی قبله ولکه کړې اوس به د مکی مکرمی او مدینی منوری د نیولو پلانونه نیسي، زما زوی ته اوس هغوی شراب او حشیش ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماګرانه وروره! زر تر زره شام ته راشه، د دمشق خلک ستا هر کلی کوي، زما استازی ته په خوله ځواب ورکړه چې ته څه کول غواړی ؟

ستا کونډه خور میرمن رضیع

سلطان صلاح الدین ایوبی استازی ته په خوله وویل چې میرمن خاتون ته زما سلام څخه وروسته ووایه چې زه حتما ګام پورته کوم خو هر کار په فکر او سوچ سره کیږي .

سلطان صلاح الدین ایوبی د شام ټولو امیرانو ته د یووالی، وحدت او د صلیبیانو سره د جګړې په هکله پیغام واستولو ترڅو د هغوی نظر څرګند شي او د راتلوونکی لپاره د ملامتی څخه هم خلاص شي خو هغوی ټولو د دی پیغام منفی ځواب ورکړ، ځینو خو لا ټوکی او مسخری هم پری وکړی.

په دمشق کې چې کله لیک الملک الصالح ته ورانډی شو هغه نورو امیرانو ته ورکړ ترڅو هغه ولولی، امیرانو چې لا مخکی د سلطان صلاح الدین ایوبی مخالف وه الملک الصالح ته یې وویل چې اوس یو کوچنی امیر ستاسې په وړاندی دومره سپین سترګی کوي او تاسې ته د جهاد او یووالی خبری کوي ، دا ستاسې صلاحیت دی چې د جهاد اواز پورته کړی .

صلاح الدین ایوبی ته احوال واستوی چې د شام کومکی پوځونه سمدستی بیرته راواستوی او په راتلونکی کې د دمشق د فرمان او حکم لاندی خپل ژوند تیر کړی .

کله چې د سلطان صلاح الدین ایوبی استازی د شام څخه د پیغام منفی ځوابونه راوړل نو هغه سمدستی خپل خاص سلا کار او د جاسوسی اداری مشر علی بن سفیان د سل سرتیرو سره د حالاتو د معلومولو لپاره د سوداګرو په شکل شام ته واستولو ترڅو د هغه ځای حالات پخپلو سترګو ووینی او د راتلوونکی لپاره پلان جوړ کړی .

علی بن سفیان سل کسان غوره سرتیری جاسوسان له ځان سره ملګری کړل او د سودا ګرو په شکل په اوښانو او آسونو باندی سپاره او د دمشق په لوری وخوځیدل، هغوی وخت نه ضایع کولو ځکه چې حالات ښه نه وو - هغه ته لاره کې ډېر کم وخت تیراوه او نور پرله پسی یې سفر کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شپه په داسې ځای کې د اسونو څخه ښکته شول چې هر لوری ته شین کښت او هر لوري ته غونډۍ غونډۍ وی لکه څرنګه چې دوی سوداګر نه بلکې پوځیان وی نو د هغو په حرکت ، ناسته پاسته کې هم دسپلین وو .
علی بن سفیان دری دری تنه سرتیری څلورو لورو ته تر دوه دری میلو پوری واستول ترڅو چیرته دښمن نه وی او په ډاډه زړه ارام وکړی .
ښی لوری ته چې کوم سرتیری تللی وو هغوی د یو غونډۍ لاندی شین چمن ولیده چې ځای پر ځای په کې د خورما ونې ولاړې وی هلته څو مشعلونو رڼا کوله د هغو په رڼا کې شپږ تنه نارینه او څلور تنه ښکلې نجونی تر سترګو کیدلی چې د هغوی په منځ کې اور بل وو چې په هغه باندی یې غوښه کباب کوله او په پیالو کې یې څه څښل ممکن چې شراب به وو په څنګ کې یې څو اسونه او اوښان ولاړ وو چې د هغو ترڅنګ ډیر سامان او ټک پوک پروت وو .
د شپې په چوپتیا کې د هغو د خبرو ، خندا او بې حیاحرکتونو څخه څرګندیده چې دوی مسلمانان نه دی .
سرتیری بیرته راغلل او علی بن سفیان ته یې خپل لیدلی حال بیان کړ نو علی بن سفیان هغه لوری ته روان شو کله چې غونډۍ ته پورته شو وې لیدل چې د غونډۍ یوی ډډې ته ددوی ترڅنګ دوه تنه چې خپل سر او مخ یې پټ کړی وو هغه کسانو او نجونو ته کتل او بیا یې وویل : دوی عیسائیان دی ځکه توری یې سمې دی او عام مسافر هم نه دی !
یو وویل : مونږ اته تنه دوی نیولی شو .
بل وویل : هغوی به د خوب په حالت کې ووژنو- نجونی ، سامانونه او سپرلی به یې له ځانونو سر بوځو .
دواړه د خپلو ملګرو پسې روان شول خو علی بن سفیان خپل پړاو ته راغی ، څو تنه یې له ځان سره واخیستل او بیرته هغه لوری ته ولاړ کله چې غونډۍ ته ورسیده ګوری چې غلو دوه تنه وژلی او څلور تنه یې د دوه نورو سره په جګړی بوخت دی او څلورو یې د نجونو په اسونو د سپرولو کوښښ کاوه چې مسلمانو سرتیرو پری حمله وکړه او نهه واړه یې ووژل بیا یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلی راوړانده شوه او د مرګ د خولی نه یې د خلاصون په سبب د علی بن سفیان څخه مننه وکړ.

بلی نجلی پوښتنه وکړه چې د کوم ځای څخه راغلی او کوم ځای ته راوان یاست ؟

علی بن سفیان وویل : له کوم ځای څخه چې تاسی راغلی یاست له هغه ځای مونږ هم راغلی یو او کوم ځای ته چې تاسی ځی مونږ هم هلته روان یاستو ! زمونږ کار مختلف دی خو منزل مو یو دی .

هغه نجونو یو تر بله وکتل او حیرانی شوی ، بیا یې علی بن سفیان ته په ځیر ځیر کتل !

علی بن سفیان وویل : تاسی ولیدل چې په کوم مهارت ډاکوان ووژل شوه ایا کوم عادی کاروان داسی کولای شی ؟

ایا دا د روزل شو سرتیریو کړنه ده ؟

بلی نجلی وویل : تاسی مسلمان پوځیان یاست ؟

علی بن سفیان ځواب ورکړ : مو نږ صلیبی پوځیان یاستو .

نجلی وویل : تاسی مونږ ته صلیب ښودلی شی ؟

علی بن سفیان ټولو ته وکتل او بیا یې وویل : تاسی مونږ ته خپل صلیب ښودلی شی ؟ نه ! هیڅکله یې نشی ښودلی ځکه د کوم کار پسی چې روان یاست هلته صلیب د ځان سره ساتلی نشی .

رښتیا ما ستاسی څخه د نوم پوښتنه ونه کړه او خپل نوم می هم درته ونښوده .

علی بن سفیان ځواب ورکړ : یوازی دومره درته وایم چې مونږ د یو منزل مسافر یو او هم دا راته معلومه نه ده چې له مونږ نه به کوم یو خپل وطن ته بیرته ځی ؟

نو ای همسفرو! لکه څرنګه چې یسوع میسح مونږ ستاسی د مرستی لپاره راولیږلو دا یې نښه ده چې تاسی په سمه لاره یاست او بریالی به شی - د سلطان نورالدین زنګی مړینه د دی حقیقت نښه ده چې په دنیا به د صلیبیانو حکومت وی د مسلمانانو کوم حکمران چې پاتی دی هغه به هم زمونږ په جال کی‌ږو نښلی زه تاسی ته دا نصیحت کوم چې ثابت قدمه پاتی شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای نجونو ! ستاسی کار تر ټولو خطرناک او مشکل دی ، ستاسی قربانی یسوع میسح هیڅ وخت نه هیروی مونږ نارینه په مرگ باندی د دنیا د مشکلاتو څخه خلاصیږو او تاسی د خپلی ابرو په قربانی باندی .

علی بن سفیان د خپل فن استاد وو او په ژبه کې یې داسی جادو وو چې ټول یې حیران کړل او په خپلو ژبو یې اقرار وکړ چې دوی روزل شوی صلبیی تخریب کاران دی .

یوی نجلی وویل : زمونږ مشر ووژل شو او مونږ رانده پاتی شو !

علی بن سفیان ورته تسلی ورکړه وی ویل : زه ستاسی هر ډول مرسته کولای شم تاسی خپل مقصد راته ووایی .

یو سړی د څو سالارانو نومونه وښودل او بیا یې وویل : دا نجونی هغو ته د ډالی په توگه ورلندی کول او بیا ددوی لارښوونه ده چې صلیبیان هغوی دښمنان نه گڼی .

علی بن سفیان وویل : ستاسی او زمونږ مقصد یو دی ! مونږ ته راسپارلی شوی دنده دا ده چې کوم مسلمان چارواکی د صلیب د دښمنی څخه لاس نه اخلی د هغوی وژل حتمی دی .

سهار د علی بن سفیان په مشری دا کاروان دمشق ته روانه شوه چې ورسره صلیبیان هم او په سپرلیو کې د ډاکوانو اسونه هم زیات شوی وو .

علی بن سفیان صلیبیانو ته وویل : تاسی زما کسان ښه نه پیژنی نو له هغوی سره خبری اتری مه کوی څکه پدوی باندی کله ناکله د دین جذبه غالبیږی ؟

بله ورځ دا کاروان دمشق ته دا خل شو د علی بن سفیان په هدایت کاروان د سرای په ځای په یو میدان کې خیمی ووهلی او خلک د هر لوری وربانذی راټول شول ترڅو مال دوکانو ته له رسیدو وړاندی واخلی .

علی بن سفیان خپلو ملگرو ته وویل چې د مال په خرڅلاوکې له تلوار څخه کار مه اخلی او څو تنه ښار ته لاړ شی خلکو سره خبری اتری وکړی چې د نوی حالاتو په هکله هغوی څه نظر لري او هم صلیبیان د سترگو لاندی ساتی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کسان چې بیرته راغلل خپلو قوماندانو ته یې وویل : د زیاتو خلکو دا نظر دی چې اوس پرته له سلطان صلاح الدین ایوبی څخه بل څوک دا حالات نشي سمبالولای، زموږ امیران او سرداران د صلیبیانو ګوډاګیان شوي دي ، که هغوی ته واک پاتي شي نو د اسلامي امت دی الله مل شي .

علی بن سفیان د یو سالار توفیق الجواد کور ته ورغی هغه یې تود هر کلی وکړو بیا یې ورته د خوراک او څښاک په دسترخوان باندی وویل : قاهری ته ډیر د خپګان خبرونه راغلی او زه د هغه د تصدیق کولو لپاره راغلی یم .

توفیق الجواد وویل : ټول رښتیا دی .

زما ګرانه وروره ! تاسی به ورته کورنی جګړه وایی خو د صلیبیانو د مخنیوی لپاره باید سلطان صلاح الدین ایوبی لومړی په دمشق یرغل وکړی .

علی بن سفیان وویل : که د قاهری څخه پوځ راشی نو ددی ځای پوځ به ورسره مقابله و نه کړی ؟

توفیق الجواد وویل : تاسی د یرغل کوونکو په څیر مه راځی بلکی سلطان صلاح الدین ایوبی دی دا ښکاره کړی چې د خلیفه د تعظیم لپاره یې څه ټولګی له ځان سره راوستلی که د چاروکو نیت ښه وو نو هر کلی به یې وکړی او که نه خپل عکس العمل به څرګند کړی تر کومه چې پوځ دی نو زه په ډاډ سره وایم چې دا پوځ ستاسی مقابله نه کوی بلکه ستاسی ملګرتیا به کوی ، یوازی امیران او د هغوی ځانګړی ساتوونکی د خپلو ګټو په خاطر د سلطان صلاح الدین ایوبی سره مخالف دي او د هغوی شمیر ډیر کم دی خو دا په ذهن کې وساته څومره وخت چې ضایع کوی دومره د پوځیانو د جذبی د وژلو کوښښ کیږی ..

علی بن سفیان وویل : د خلکو جذبی ته چې زه ګورم نو رب العلمین به کامیابی راکړی .

توفیق الجواد وویل : قوم دومره زر نه بی حسه کیږی ! د کوم قوم چې زامن شهیدان شوی وی هغوی هیڅکله دښمن نه معاف کوی خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمرانانو سره داسی پلان دی چې قوم او پوځ په کې ووژني ، اوس د قوم او پوځ تر منځ د نقاق تخم کرل کيږي ؟

علی بن سفيان وويل : زه د شهيد سلطان نورالدين زنګی د ميرمنی ليدل غواړم ! هغی سلطان صلاح الدين ايوبی ته پيغام راليږلي چې د مسلمانانو د ابرو او عزت د ساتلو پخاطر يو بل قدم هم پورته کړی .

ايا دا امکان لری چې هغه دلته راوغوښتل شی ؟

توفيق الجواد وويل : ولی نه !

توفيق الجواد خپله خادمه راوغوښتله ورته يې وويل : د خليفه مور ته ورشه د سلام څخه وروسته ورته پټ ووايه له قاهری نه ستاسی د ليدلو لپاره څوک راغلی !

کوم وخت چې علی بن سفيان له توفيق الجواد سره ناست وو د هغه ملګری څه ځاروي د بازار څخه اخيستی او بيا د حلالی وروسته يې څه کباب کړی او خوړل يې او خپل منځ کې يې ټوکې ټکالی کولی .

صليبيان هم ورسره ناست وو . هغوی د شرابو صراحی راوړی پيالی يې ډکی او بيا ټولو ته وړاندی کړی خو هيچا ورځنی وانخيستلی نو صليبيان حيران شول .

يوی نجلی بلی ته وويل : ما ته شک پيدا شو چې دوی به مسلمانان وی نو ته خپل فن ښکاره کړه چې دوی څوک دی ؟

نجلی د لوی خيمی څخه بيرون ولاړه او په قدم وهلو يې شروع وکړه په دی کې يو سرتيری د خيمی څخه راووت او نجلی ورته وويل : په ناسته ناسته می زړه تنګ شو، دا دوه کسان ډير بد خلک دی د کوم کار لپاره چې راغلی يم په هغه لاره کې قدم نه پورته کوی ، يوازی د بدن څخه د نفسانی اړتيا د پوره کولو هڅه کوی نو زما ستا څخه دا هيله ده چې زما خيمی ته راشی ترڅو زما ابرو خوندی پاتی شی .

بيا دواړه خپلی خيمی ته ولاړل دواړه سره کيناستل يو بل ته په کتلو شول نو نجلی وويل : ستاسی په څير ښکلی ځوان زما حفاظت کولی شی ، بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې کوچنۍ صراحي راواخيسته او دوه پيالي يې ډکي کړی يوه يې هغه ته وړاندی کړه ورته يې وويل وڅښه !
سرتيری وويل : زه خو مسلمان يم !
نجلی وويل : که دومره کلک مسلمان يې نو د صليب لپاره د مسلمانانو خلاف جاسوسي ولی کوی ؟
سرتيری وويل : ډير شي ما ته راکول کيږی .
نجلی پاڅيده د بلی خيمی څخه يې يوه پياله راوړه چې په هغه کې شربت وو ورته وی ويل دا وڅښه !
سرتيری وويل : پدی کې دی څومره حشيش اچولی دی !
نجلی حيرانه شوه خو ځان يې سمبال کړ ويې ويل : ډير نه خو دومره چې ته بی خوده شي .
سرتيری وويل : ولی ؟
نجلی وويل : زه په تا قبضه کول غواړم ! که زما خبره بده ونه ګڼی ته خپله توره راوخله زما زړه پری څيری کړه تا ته به بيا ښه معلوم شي .
ما تاسی ته شراب وړاندی کړل خو ما شراب ونه څښل ځکه زه مسلمانه يم او دوی په زور له ځان سره راوستلی يم د پناه ځای می هم نشته !
سرتيری وويل : ته ددوی لاسه ته څرنګه ورغلی ؟
نجلی وويل : زه د يروشلم اوسيدونکی يم زه په هغه وخت کې د دولسو کالونو وم چې پلار می د صليبيانو په استخباراتی اداری باندی خرڅه کړم او دوی د دی لپاره وروزلم .
بيا يې د سرتيری لاسونه ونيول او په زړه يې کيښودل ورته يې وويل : ته هم مسلمان يې راځه وتښتو کوم ځای ته چې ته غواړی زه درسره ځم .
د علی بن سفيان د اداری غړی هوښيار انسان وو خو نجلی تر تاثر لاندی راغی ورته وی ويل : که ته د زړه له کومی په خپلو کړو پښمانه يې نو زه تا ته داډ درکوم چې په مونږ کې يو هم د صليبيانو جاسوس نه شته ، مونږ ټول د مصر د پوځ د استخباراتی اداری غړی يو ستا حفاظت به کوو او زه خپل قوماندان ته وايم چې تا د هغوی څخه جلا کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلی وویل : تم شبه زه ګورم چې زما ملګرې ویده ده او که نه ؟

د علي بن سفیان د توفیق الجواد په کور کې د شهید نور الدین زنګي میرمنې انتظار کولو چې میرمن رضیع راغله نو تور پړونې یې په ځان راچاپیر کړې ؤ او د علي بن سفیان په لیدلو یې د سترګو څخه اوښکې رواني شوې، هغې وویل: په اسلامي امت باندې اوس داسې وخت راغلی چې مسلمان خور او ورور هم سره په پټه او غلا ګوري .

بیا علي بن سفیان د هغې څخه وپوښتل : د نوې حالاتو په هکله ستاسې د ژبې څخه څه اوریدل غواړم !

میرمن خاتون وویل : علي وروره! زه هغه انسان ته چې په زوې ولې باندې یې شرمیږم چې د چارواکو لاس پوځې جوړ شوې دې قومي غیرت یې د صلیبیانو په قدمونو واچولو، دا به تا ته معلومه نه وې چې شهید نور الدین زنګي د صلیبیانو بادشاه رینالډ د بې شمیره پوځیانو سره نیولې وو هغه به ویل که ژوند را سره یارې وکړه دوې به په هغه څه بدل کړم چې د صلیبیانو ملا پرې ماته شي ! خو افسوس چې زما زوې هغوې پریښودل - کله چې ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې د هغوې په بدل کې مسلمانان د هغوې له پنجو څخه خلاص کړه نو هغه ویل : مونږ په بندیانو څه کوو نور جګړه ختمه شوه .

ما ورته وویل: ته بیا د خپل پلار قبر ته لاړ نشې که زه ژوندې وم او ته مړ شوې نو په هغه هدیره کې به دې خاور ته و نه سپارم چې ستا پلار په کې خښ دې ځکه دا د هغه شهیدانو هدیره ده چې ده صلیبیانو په لاسونو تر خاورو لاندې پراته دې .

ما د هغه چارواکو سره لیدل کتل وکړل چې په خپلو لاسونو زما زوې لوبوې ، هغوې زما ډیر احترام کوې خو زما خبره نه مني ، صلیبیانو خپل حکمران او بندیان خلاص کړل دا د هغوې عمل وو چې د مسلمانانو په مخ یې څپیړه ورکړه زه په دې حیرانه یم چې په قاهره کې ناست کسان څه کوې او هغه ولې دلته نه راځي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

علی وروره ! سلطان صلاح الدین ایوبی ته ووایه : ستا خور د غم په تغر ناسته ده او تر هغه به توری جامی اغوندی ترڅو ته دمشق ته رانشی او دی ایمان پلورونکو ته ونه وښایی چې دا خاوره یوازی د مسلمانانو ده! زما وصیت دا دی چې ما په دی تورو جامو کې خښنه کړی او د قیامت په ورځ به د الله تعالی او خپل خاوند په وړاندی په سپین کفن کې راپورته نشم.

وخت مه ضایع کوئ، هر څومره چې تاسې وخت تیروی هومره حالات خرابیږي، تاسې ویره مه کوئ د دمشق او شام خلک به ستاسې هر کلی کوی ، پوځ به ستاسې سره یو ځای کیږي ، یوازی څو کسه غداران به مخالفت کوي چې د هغوی پروا کول ندی پکار، هغوی به په خپلو کورونو کې انشاء الله میرمنی ، لورګانی او خویندی ووژنی ، که اړتیاوی تاسې زما زوی ووژنی او دا هیر کړی چې دا د سلطان نورالدین زنګی شهید او رضیع خاتون زوی دی خو اسلامی امت د هغوی د شر څخه خلاص کړی .

سلطان صلاح الدین ایوبی ورور ته می ووایه چې د الله تعالی په خاطر زر تر زره شام ته ځان راورسوه کنه بیا به د قیامت په ورځ د مسلمانانو لاس او ستا ګریوان وی .

***

صلیبی نجلی خو د علی بن سفیان د استخباراتی اداری د غړی نه معلوم کړل چې ټول سرتیری مخلص مسلمانان دی نو خپلو ملګرو ته یې وویل زر تر زره کوښښ کول پکار دی چې ددی ځای څخه ووځو ، یو تن د سرای په لته پسی ولیږل شو ځکه چې دوی دی سیمی ته نوی راغلی وه نو هر څه ورته نا اشنا وو او شپه هم تیاره وه نو ګرځیدو راګرځیدو کې یو تن ورته پر مخ ورغی چې په سر باندی یې څادر اچولی وو هغه ته یې وویل : ما ته سرای راوښایی ؟

هغه ورته وویل : سرایونه خو د ښار بل لور ته دی تاسی اوس د سفر څخه راغلی یې یوازی یاست اوکه نور ملګری هم درسره شته ؟

صلیبی وویل : مونږ د سوداګرو د قافلی سره راغلی یو خو مونږ سره نجونی دی او هغوی په خیمی کې ارام نشی کولای .

(c) kitabton.com: The Digital Library



سړی وویل : دا ښه کار دی خو تاسي باید د ماښام څخه وړاندی دا کار کړی وای ، زه ستاسی مرسته کوم له دی امله چې تاسی په ښار کې مسافر یاست او بیا و نه وایی چې په دمشق کې نجونی په میدان کې شپه تیروی .

هغوی دواړه د کاروان په لور روان شول کله چې ورننوتل نو صلیبی وویل ته دلته تم شه مونږ راځو بیا د خیمی په منځ کې ورک شو او خپلو ملګرو ته ورغی هغوی ټول ویښ وو یوازی هغه سرتیری ویده وه چې دوی ته یي راز ویلی وه صلیبی خپلو ملګرو ته وویل: تلوار وکړی خپل هر څه پریږدی مونږ به ځانونه چارواکو ته ورسوو دوی به سهار ونیسی .

کله چې مخکې ژمنه شوی ځای ته ورسیدل هغه سړی نه وو خو د اوښانو تر شا ورته خلک راپورته شول او محاصره یې کړل بیا یې ورڅخه پوښتنه وکړه کوم ځای ته مو د تللو اراده کړی وه ؟

خو نجلی ورته دروغ وویل .

علی بن سفیان وویل : هغه کس کوم وو چې د سرای په لټه پسی تللی وو

یو صلیبی وویل : زه وم !

علی بن سفیان وویل : د چا نه چې تاسی د سرای پوښتنه کوله هغه زه وم ، د الله جل جلاله فضل وو چې زه د توفیق الجواد د کور څخه بیرته د خپلو خیمو په لور را روان وم په سر باندی می څادر اچولی وو او تیاره وه او تاسی ونه پیژندلم نور د تیښتې کوښښ و نه کړی .

غوږ شی ! ستاسی روزنه ښه نه ده شوی ایا جاسوس داسی په لارو او کوڅو کې ګرځی راګرځی ؟

ایا جاسوس د پیژنګلوی څخه پرته خبری اتری کوی ؟

یو صلیبی وویل : ایا تاسی زمونږ د پوهی او هوښیاری مهارت ستاینه نه کوی چې مونږ د یو تن څخه ستاسی اصلیت معلوم کړ دا د قسمت لوبه ده چې تاسی بریالی شوی او مونږ ناکام .

علی بن سفیان وویل : تاسی ما ته هغه انسان راوښایی چې تاسی تری راز اخیستی دی ؟

صلیبی نجلی وویل : هغه په خیمی کې ویده دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



علی بن سفیان نیمه شپه د خیمو د پرانستلو امر وکړ او د شپږو خیمو په منځ کې یې صلیبیان وتړل او په اوښانو یې بار کړل . سهار د لمر راختلو سره کاروان بیرته د قاهرې په لوري وخوځیده ، د دمشق له سیمې نه چې کله ووتلل هغوی خیمې پرانستلې ، صلیبي نجونې یې په اوښانو او نارینه یې په اسونو سپاره کړل .

صلیبیانو د خپل خلاصون لپاره یې ټول سپین او سره زر ورانډې کړل کوم چې د چارواکو د خپلولو لپاره راوړې وو .

ورته وویل شول چې ستاسې ورانډې کولو ته اړتیا نه پیښیږي دا ټول دولت د غنیمت په ډول زمونږ دی .

* * *

کله چې سلطان نور الدین زنګی وفات شو صلیبیانو یـوه عمومي غونډه جوړه کړه چې په راتلوونکي حالاتو غـور وکړي، د هغوی د سترګو اغزی او د لارې خنډ سلطان نور الدین زنګی لرې شوی وه او یـوازې سلطان صلاح الدین ایوبي پاتې وه، هغوی پریکړه وکړه چې باید سمدستي پر مختګ پیل شي د شام زیاتې سیمې یا ونیول شي او یا د هغوی سره داسې تړونونه وشي چې زموږ په ګټه وي. په همدې اساس د صلیبیانو یو جګړه مار واکمن سیزر د حلب په لوري راوخوځیده، کله چې حلب ته رانژدې شو نو د هغه ځای والي شمس الدین ته یې احوال ولیږه چې حلب مونږ ته وسپاره یا دا چې زموږ په شرایطو تړون راسره وکړه .

شمس الدین د دې په خاطر چې نور والیان ورځخه حلب ونه نیسي نو د صلیبیانو سره یې د هغوی په شرایطو سوله وکړه او بیا صلیبیانو خپل پوځ په هماغه سیمه کې د ارام کولو لپاره پریښوده .

یوې کامیابۍ صلیبیان دومره زړه ورکړل او دا یې درک کړه چې مسلمان حکمرانان د یو بل د مرستې په ځای دښمنان دي نو پرته د جنګ څخه د هغوی د وژلو د پلان جوړولو په فکر کې شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قاهره کې سلطان صلاح الدین ایوبی د هر ناکراره وه او هر وخت به یې د علی بن سفیان لاره څارله ترڅو د حالاتو څخه خبر شي ، بلاخره علی بن سفیان قاهری ته راورسیده او ټول حالات یې هغه ته بیان کړل .

د توفیق الجواد او رضیع خاتون پیغامونه یې ورته وویل او د عامو خلکو نظریات یې هم ورته څرګند کړل چې ټول دا غواړی چې سمدستی باید ګام پورته شی او وخت ضایع نشی .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ټول چارواکی او سالاران راوغوښتل او هغوی ته یې حالات په تفصیل سره بیان کړل بیا یې ورته وویل چې مونږ باید څو کارونه وکړو:

لومړی دا چې خپلواکی اعلان کړو ترڅو د نورو د حکم څخه خلاص شو.

ټولو چارواکو په یوه خوله دا خبره ومنله، د دی څخه وروسته مصر یو خپلواک او ازاد حکومت اعلان شو چې مشر او سلطان یې صلاح الدین ایوبی و.

د دی څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي د سوډان پولو ته توجه وکړه او هلته یې جدی ګامونه پورته کړل، بیا یې داخلی چارو ته پاملرنه وکړه او هغه یې سمبال کړل .

وروسته یې علی بن سفیان او خپل دوه باوری سلا کاران راوغوښتل د څه خبرو اترو وروسته یې دواړو سلا کارانو ته د مصر واګی او علی بن سفیان ته یې د جاسوسی اداری چاری وسپارلی ، حسن بن عبدالله د علی بن سفیان مرستیال یې له ځان سره ملګری کړ.

سلطان صلاح الدین ایوبی د ځان سره اوه سوه تکړه، باتوره او جنګیدونکی سپاره سرتیری واخیستل او د شپی یو یو، دوه دوه له ښار څخه ووتل چې په لاره کې بیا سره یو ځای شول .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ټول ساتوونکی په خپل کور باندی ولاړ پریښودل چې چاته شک پیدا نشي چې هغه چیری تللی دی. هغه د اوو سوو کسانو سره د شپی سفر کاوه او د ورځی پټیدل .

پداسې حال کې دمشق ته ورسیدل چې هیڅوک هم پری خبر نه وه. هغوی د دمشق دیوالونو ته نژدی شول او بیا یې خپل اوه سوه کسان خپاره کړل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوال پیرکوونکو چې ولیدل نو خپل قوماندان ته یې خبر ورکړ، هغه راغی او پوښتنه یې وکړه تاسې څوک یاستئ او دلته د څه لپاره راغلی یی.

سلطان صلاح الدین ایوبی ورته وویل: الملک الصالح ته ووایه چې صلاح الدین ایوبی راغلی او ستا سره د ښار څخه د باندی لیدل غواړي کنه نو بیا به ارمان کوی.

سمدستی الملک الصالح ته احوال ورکړل شو چې سلطان صلاح الدین ایوبی راغلی او پوځ هم ورسره دی.

امیرانو او الملک الصالح سمدستی پوځ ته خبر ورکړ چې خانونه تیاری کړی او د کلا څخه د باندی سلطان سلطان صلاح الدین ایوبی محاصره او ژوندی یې ونیسی کله چې پوځ ته خبر ورکړل شو هغوی د تللو څخه انکار وکړ.

پدی وخت کې د ښار خلک خبر شول، میرمن رضیع سمدستی د ښځو تنظیم ته خبر ورکړ هغوی ټولې لارو کوڅو ته راووتی. د ښار خلک د لوی دروازی په وړاندی راټول شول او ناری یې پیل کړی: ای زمونږ خلاصونکیه! هرکله راشی ... هرکله راشی ... صلاح الدین ایوبی دی ژوندی وی.

الملک الصالح د امیرانو سره سلا مشوره وکړه هغوی خپلو ساتوونکو ته حکم وکړ چې د کلا څخه ووځی او د سلطان صلاح الدین ایوبی سره وجنګیږي، کله چې ساتوونکی د کلا دروازی ته راغلل نو خلکو هغوی راګیر کړل، نژدی وه چې کورنی جګړه پیل شي خو د ښار قاضی کمال الدین دروازی ته راغی خو هغه چې حالات ولیدل سمدستی دربار ته ورغی او الملک الصالح ته یې وویل: حالات ډېر خراب دی، ټول خلک راپاڅیدلی دی او د سلطان صلاح الدین ایوبی په پلوی باندی شعارونه ورکوي که غلط ګام پورته شی نو بیا به کورنی جګړه پیل شی چې د هغې څخه به وروسته د صلیبیانو نژدی لښکر راشی بیا به نه تاسی وی او نه به مو دا امیران.

د ښار او پوځی کلا کلیانی ماته وسپاری زه دا مسئله حل کوم! کله چې قاضی کمال الدین د کلا او ښار کلیانی واخیستی نیغ دروازی ته ولاړ او د ښار لویه دروازه یې خلاصه کړه، د ښار خلک یو دم د باندی ووتل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدين ايوبي تود هر کلي يې وکړ، قاضي کمال الدين هغه ته د کلا کليانې وړاندي کړي .

سلطان صلاح الدين ايوبي د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ښار ته راننوت چې د هر لوري پري ګلان شيندل کيدل، هغه د خپل پلار کورته ولاړ، هلته يې لږ شانته آرام وکړ او بيا يې د پوځ سالاران او قوماندانان راوغوښتل .

د هغوی سره يې د حالاتو په هکله خبري وکړي. هغه ته احوال راغی چې الملک الصالح سره د خپلو وزيرانو، اميرانو او نورو چارواکو له دمشق څخه تښتيدلي ، هغه خپلو کسانو ته حکم وکړ چې د دی ټولو کورونه زر تر زره تالاشي کړي او څه شيان چې د اړتيا څخه زيات وی بيت المال ته يې وسپاري ، د هغوی د کورونو څخه دوه دري سوه نجوني، بې شميره د شرابو چاټې ، زيات سره او سپين زر راووتل .

نجوني ټولي خوشي شوی بيا وروسته د نجونو تنظيم ته وظيفه وسپارل شوه چې د دی نجونو سر پرستي او تربيت په غاړه واخلي .

***

پدی ازادی شوو او خوشي شوو نجونو کې چې د اميرانو له کورونو څخه را ووتلي وی يوه پکی سحر نوميده هغه پس له ازادی څخه د يو چا په کور کې پټه شوه چې وروسته د نجونو تنظيم هغه راپيدا کړه او د خان سره يې ملګري کړه، هغه د يو مسلمان لور وه چې په کوچنيوالی کې صليبيانو تښتولي او د ورانکاری لپاره يې تر روزني لاندی نيولی وه ، وروسته يې د يو مسلمان امير حرم ته ور ليږلی وه ترڅو د دی په وسيله د هغه څخه ايمان وپلوري .

سحر وروسته پدی پوهه شوه چې هغه د يو مسلمان لور ده او د هغې په رګونو کې د مسلمان وينه چليږي خو مخکې هغه وينه د شرابو په وسيله ناپاکه شوی وه. اوس چې د مسلمانو مجاهدو نجونو سره يو ځای شوه هغه فطری اسلام يې بيا راتازه شو او اسلامی جذبه يې را ژوندی شوه.

هغې خپلو همزولو او د تنظيم نجونو ته وويل چې دلته په يو سرای کې څه فدايان او څه صليبيان شته او هلته د شپې راځي او د نڅا او شرابو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلسونه جوړوی، زه به د هغوی معلومات واخلم او که مناسبه وي د هغوی په خلاف به عملیات وکړو.

سحر هماغه سرای ته ولاړه چې لاندی په تاکاوی کې څو فدایان او صلیبي جاسوسان اوسیدل، هلته یوه بله سندر غاړی او نڅا کوونکی هم اوسیده چې کله سحر ورغله نو هغوی ورته ډېر خوشحاله شول ځکه هغه د دوی پخوانی ملګری وه خو دا څو ورځی چې ورکه وه د هغوی پری شک پیدا شوی و، هغې څو ورځی تیری کړی او د هغوی اعتبار او باور یې لاس ته راوړ.

وروسته فدایانو د سرای ښځینو ته وویل چې مونږ ته نوی نجونی راوله مونږ نور د دوی ښځه بد راغلل چې هره ورځ همدا دوه راته لاندی باندی کیږی.

سحر سمدستی وویل دا کار ماته پریږدی زه به ستاسې د خوښې مال راولم - اصلاً سحر غوښتل پدی چل د خپل تنظیم نجونی راولی او د خپلو مسلمانو خویندو انتقام او غچ واخلی. هغه د سرای ښځه د باندی ولاړه او دوه شپې وروسته یې شپږ نوری نجونی راوستی چې په حجاب کې پټې وی ځکه چې سلطان صلاح الدین ایوبی حکم کړی وه چې په ښار کې به بی حجابه ښځې نه ګرځي، کله چې هغوی حجابونه لری کړل نو شپږ واړه دومره ښکلی او ښایسته وی چې پخوانی دوه سندر غاړی ورته ګرد هم نه وی.

د سحر پخوانی ملګری چې کله دوی ولیدی نو په زړه کې یې رخه، کرکه او کینه پیدا شوه چې دا خو زما ځښه ځای نیسی نو د هغوی په خلاف یې خپله کرکه ښکنده کړه او دا یې وویل چې دوی خو داسې نه معلومیږي چې نڅا کوونکی او سندر غاړی دی ، زه د سرای ښځینو ته وایم چې دوی بیرته وشړی زه پدوی شک لرم. پدی وخت کې سحر او پخوانی سندر غاړی دواړه په یوه خونه کې ناستی وی نو سحر ناڅاپی خپل خنجر راوویستو او خپله ملګری یې پری په زړه کې ووهله بیا یې د کټ لاندی واچوله دروازه یې ورپسی بنده کړه .

ماښام چې کله فدایان او صلیبي جاسوسان راغلل او نوی نجونی یې ولیدی نو د تولو خولی وازی پاتی شوی. وروسته د شرابو او حشیشو پیالی ویشل او ځښل پیل شول. نجونو په خپل لاس تولو ته شراب ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې خونه کې یو د سرای ښځینتن او شپږ نور کسان وه، کله چې شراب هغوی وڅښل نو نجونې د هر یو فدای شاته تاو شوی او ډېر په چټکتیا سره یې د هغوی په زړونو کې خپل خنجرونه ښخ کړل.

سحر د سرای ښځینتن راګیر کړ او په هغه یې خپل زړه ښه یخ کړ، وروسته تر عملیاتو هغوی د سرای د شاتنی دروازې څخه ووتلې او خپلو ځایونو ته ولاړې.

رضیع خاتون د سلطان نور الدین زنګی په وخت کې د نجونو تنظیم جوړ کړی ؤ او هغوی ته یې دینی او جهادی روزنه ورکوله د همدی نجونو د کوښښ په پای کې سلطان صلاح الدین ایوبی دمشق ته راغی او ټولو خلکو یې تود هر کلی وکړ.

* * *
* *
*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مارانو د کلا وژونکي

کله چې سلطان نور الدين زنګي شهید شو او د هغه پر ځای امیرانو او درباري غوړمالانو د هغه یولس کلن زوی الملک الصالح د بادشاهی په ګدۍ کینولو نو د هغی ځخه وروسته د صلیبیانو سره د هغوی خوږې اړیکي پیل شوی ، پدی وخت کې د زنګی کونډې رضیع سلطان صلاح الدين ایوبی دمشق ته راوبللو ترڅو اسلامي سلطنت او اسلامی امت له ګډوډۍ ځخه وژغوری .

سلطان صلاح الدين ایوبی له اوه سوه سپرو سره دمشق ته راغی خو د هغه ځخه مخکې په مختلفو شکلونو دری ځلور سوه مجاهدین هم ښار ته داخل شوی وه ترڅو د هغه ځای حالات وګوري او د هغې سره سم ګام پورته کړي. کله چې سلطان صلاح الدين ایوبی دمشق ته راتللو نو علی بن سفیان یې په قاهره کې پریښوده او حسن بن عبدالله د هغه مرستیال یې له ځان سره دمشق ته راوست. حسن بن عبدالله خپل ټول کسان په مختلفو ځیرو او شکلونو د دمشق ښار ته ننویستل او هلته یې ځای پر ځای کړل .

کله چې د کلا د پوځ ډیره برخه د توفیق الجواد په مشری سلطان صلاح الدين ایوبی ته تسلیم شوه نو الملک الصالح او نورو امیرانو د دمشق ځخه د تیښتي پلان جوړ او ټول د شپی وتښتیدل ، ځومره خپل کسان چې هغوی خبرولی شول هغه یې خبر کړل او ټولو د حلب لاره ونیوله چې د پوځ یو ځه برخه هم ورسره وه.

حسن بن عبدالله خپل کسان د دی تښتیدونکو سره ملګری کړل تر ځو په راتلوونکی کې د هغه ځای حالات هم وځاری .

د حسن بن عبدالله په کسانو کې عبدا لماجدبن محمد حجازی یو تکړه ځلمی وه چې ښایسته او ښکلی ځیره یې لرله. هغه ډېر پوه، هوښیار او ذهین وه. هر ډول عسکری تمرینونه یې سرته رسولی وه. هغه هم د تښتیدونکو په ډله کې شامل شو او خپل اس یې د حلب په لاره روان کړ او د ورځی تر وروستی برخی پوری یې سفر وکړ او کله چې ستړی شو نو یو کمر ته یې ځان نژدې کړ چې هلته اوبه او شین چمن وه هغه خپل آس ودرولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپله د کمر خواته کیناسته خو دوه آسونه یې ولیدل چې ولاړ دي. لږ لرې یو سړی او یوه پیغله ښځه هم ناست وه خو هغوی لا دی نه وو لیدلی.

د عبدالماجدبن محمد حجازي اس وشنیده نو هغه سړي دی لوری ته وکتل ګوری چې یو تکړه ځوان هلته ناست دی. هغه عبدالماجد حجازی ته اشاره وکړه چې ورشي نو هغه نژدی ورغی، حجازی د ځیری او جامو تر لیدلو وروسته پوه شو چې کوم غټ او مهم چارواکی دی نو ځان یې ناګاره ونیوه، سړی ورځخه وپوښتل ته څوک یې او چیری ځی؟

عبدالماجد حجازی وویل: لومړی تاسی خپل ځان معرفی کړی بیا به زه درته خپل ځان وښایم.

هغه سړي وویل: زه د دمشق اوسیدونکی یم، څلور میرمنی لرم چې دا می کشره میرمن ده، نوری راځخه پاتی شوی خو دا یوه مې له ځان سره راروانه کړه، زه د الملک الصالح سلا کار او مشاور یم او د هغه زیات ساتونکی زماکسان دی . زه د هغه په دربار کې مخور او منلی شوی سړی یم خو تاسې هم راته ځان وښایی.

عبدالماجد حجازی ورته وویل: زه د سلطان صلاح الدین ایوبی د پوځ عسکر یم خو زمامینه او محبت د الملک الصالح سره دی کله چې هغه له دمشق ځخه ووتلو نو زه هم ورپسی را روان شوم .

هغه سړي د عبدالماجد حجازی ځخه وپوښتل چې په لاره او دمشق کې څه حال وو؟

عبدالماجد حجازی د دی لپاره چې هغه وډار کړی نو وی وویل: د سلطان صلاح الدین ایوبی کماندویان د حلب په لوري را روان دي او هر څوک چې په لاره کې ونیسی د هغه ځخه هر څه اخلي تر ښځو او میرمنو پوری هم .

هغوی ورخطاء شول او عبدالماجد حجازی ته یې وویل : که تاسي زما سره د ساتونکی او باډی ګارډ په توګه وظیفه سرته ورسوی نو ستاسی شرایط به څه وی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالماجد حجازي ووېل که تاسي ما خپل ساتونکی او باډی ګارډ ټاکی نو هیله لرم چې تاسي ته به د پوځی مشاور ضرورت پیښ نشي د کړو او وړو په نتیجه کې هغه تاسي بیا خپله وټاکی .

عبدالماجد حجازي د درباري سره چې ډیر سپین او سره زر یې په خپل سامان کې پټ کړي وو ملګری شو څرنګه چې لمر پریوت نو هغه ورته د شپې تیرولو مشوره ورکړه او هغوی ومنله ، سهار د حلب په لوري روان شول د څو شپو ورځو سفر څخه وروسته چې کله هغوی حلب ته ورسیدل نو الملک الصالح خپل ملګری ته تود هرکلی ووایه او د خپلی ماڼی ترڅنګ یي ورته یو کور هم وسپارلو.

عبدالماجد حجازي د دی سړی خاص او ځانګړی ساتونکی شو او په کور کې ورسره اوسیده.

د عبدالماجد حجازي بادار د لومړی ورځی څخه دومره بوخت وه چې سهار به د کور څخه ووتلو نو د شپې ډېر ناوخته راتللو، د بادار میرمنی د عبدالماجد حجازي سره ناسته ولاړه پیل کړه او په زړه کې یې ورسره مینه او محبت هم پیدا شو.

یوه ورځ عبدالماجد حجازي ووېل : ستا د خاوند نوری درې ښځی څرنګه وی ؟

یوه ورځ به تا هم همداسی د نورو پشان پریږدی او نوی به راولی دا د اوسنی زمانی مشغله ده .

یوه ورځ ښځی عبدالماجد حجازي کینولو او ورته وی ووېل: یوه خبره به درته وکړم خو خپل بادار ته به دی نه وایې!

عبدالماجد حجازي ووېل : که زما په فطرت کې دوکه او چل وای نو ما هغه په اسانی سره وژلی او ستاسی مال او دولت می تر لاسه کولائی شو خو زه نارینه یم او ښځی ته دوکه ورکول د نارینه شان نه بولم .

ښځی ووېل : زه دا راز په زړه کې پټ ساتلې نشم ته ماته ډېر ګران یې او زه د خپل خاوند نه نفرت کوم څو ځله می د ځان وژلو اراده وکړه خو د لوی عذاب څخه ویریږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حجازي ورته وويل: زه هم يو راز ستا د کړو وړو په ليدلو چې الله تعالى ښځه ويريږي او تل په عبادت بوخته يې درته وايم نه درښځه وعده غواړم چې زما راز پټ وساته ځکه ددي راز په ويلو نه ته ژوندى پاتى کيدي شى او نه ستا خاوند په خپل ځاى ....

زه د اسلام د سپيڅلى دين علمبردار سلطان صلاح الدين ايوبى د استخباراتو ادارى غړى يم چې هغه دداسي انسانانو دښمن دى چې نارينه مخالف جنس ښځه د خپل حرم کې يوازى او يوازى د تفريح لپاره ساتى .

نجلى عبدالماجد حجازى په خپلو لاسونو کلک ونيو او ښکل يې کړو او وى ويل : ستادا راز به هيڅکله افشا نه کړم ځکه ما د اسلام مقدس دين د سرلوړى په خاطر د هغه غورځنګ سره چې د نورالدين زنګى شهيد په وخت کې جوړ او سرپرستى يې د هغه ميرمنى رضيع کوله اړيکى لرلى .

زما پلار نه غوښتل چې زه ددى تحريک غړى شم هغه لالچى او حريص انسان وو ځکه هغه د صليب او هلال تر منځ کوم توپير نه کولو هغه د مال او دولت لاس ته راوړل غوښتل نو زه يې په داسى انسان خرڅه کړم چې هغه په خپل حرم کې بنده کړم نو زه د اسلام د سپيڅلى دين د خدمت نه بلکې د صليبيانو لپاره خدمت کوونکى وګرځيدم که زما خاوند عادى انسان واى نو ورځنى بغاوت به مى کړى وى خو هغه سره دولت او طاقت دواړه شته د تيښتى په کولو د بد نامى سره مې مرګ هم دى او زه داسى مرګ نه غواړم چې ما ته خلک بد ووايى خپل اخرت هم خراب کړم او د دعاګانو ښځه محرومه پاتى شم .

زما خاوند د اسلامى شريعت نه په ښکاره سرغړونه کوى ځکه الله جل جلاله د يو نارينه لپاره دوه درى او څلور ميرمنو اجازت ورکړى هغه د عدل او انصاف په صورت کې او که نه نو يوه ميرمن بس ده .

څرنګه چې زه د نورو ميرمنو ښځه ځوانه او ښکلى وم نو ما ځان سره لوبوى .

زما بدن اوس د روحانيت ښځه خالى دى زه د داسى انسان سره په دى دنيا اووسيدلى يم چې پرته د شرابو ، نڅا د نورالدين زنګى او صلاح الدين ايوبى د وژلو پلان نه پرته نور څه ورسره نه وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالماجد حجازي ووېل : ستاسي سره روحاني ځواک دی ځکه ما خپل د زړه درته پرانستلو زه د نجونو د ځواني او ښکلا څخه نه متاثر کيږ م.

زه په دې هم پوهيږم چې د هغه ورځي څخه د اسلام زوال شروع شوی چې مسلمانانو د حرم دروازې پرانستلې او په هغه کې يې ښکلې نجونې بنديانې کړې او د نورو په مرستي يې د اقتدار د مضبوطولو کوښښ وکړ .

نجلی ووېل : زمونږ کور ته هم صليبي نجونې راتللې او په ګډه به يې شراب څښل ما او نورو مېرمنو پرته له ژړا هيڅ نشو کولای ؟

عبدالماجد حجازي ووېل : ايا ته د خپل خاوند څخه راز اخيستلې شې ؟

نجلی ووېل : ولي نه ! کله چې زه د صراحي څخه د شرابو پياله ورته ډکه کړم او د هغه سر خپلې سنيې ته رانږدې کړم څه چې ورته ووايم هغه سم ځواب راکوي .

خو ته څه معلومول غواړې ؟

عبدالماجد حجازي ووېل : الملک الصالح يولس کلن دی په خپل ښه او بد نه پوهيږي ، چارواکي يې په لاس کې لوبوي هغوي غواړي اسلامي امت تقسيم شي که بالفرض داسي وشي نو دا وړې وړې ټوکړې به صليبيان په اسانه ډول هضم کړي .

وايي کوم قوم چې خپل ملک ټوټې ټوټې کړي هغوي ژوندي نشي پاتې کيدلی ، زمونږ چاروکي د صليبيانو څخه مرستي غواړي او هغوي يې ضرور ورکوي ترڅو د هغه په بدل کې يې محکوم کړي ، زه دا معلومول غواړم چې د خليفه په دربار کې څه پلان جوړيږي او د هغه پلان د تطبيق لپاره صليبيان هغوي ته مرستي ورکوي ځکه ددې خبرې رسول مسلمانانو ته ډير ضروري دي ترڅو په بې خبرۍ کې پرې يرغل ونه کړي .

نجلی ووېل : ايا سلطان صلاح الدين ايوبي به په دې حکمرانانو يرغل وکړي

عبدالماجد حجازي ووېل : که اړتيا پيښه شي ولې نه !

سلطان صلاح الدين ايوبي بادشاه نه دی د الله تعالی سپاهي دی هغه وايي د ملک او قوم د تباهي نه د ساتلو مسئوليت د پوځ په غاړه دی که دا خطر د بيروني دښمن له خوا وي يا د غدارانو او خپل سرو واکمنانو له لاسه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مسلمانان د بې دینانو څخه ډېر بد دي کوم چې کافران خپل دوستان ګڼي او په خپل فرش باندې یې کینوي .

نجلۍ په ژړا شوه وې ویل : دا ولې مسلمانان په خپلو کې سره په جګړې یا د نور له خوا ورباندې تیرې کیږي . یهودان ، عیسایان ، مجوسیان ، بدمتان ، هندوان ، ملحدان او نور کافران خپلو کې سره نه جګړه کوي او نه د هغوی په خاورې او ناموس تیرې کیږي .

عبدالماجد حجازی وویل : له دې امله چې دوی د الله د کتاب فرقان حمید او د هغه د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د لاربنوونو څخه سرغړونه کړې او کوي یې .

نجلۍ وویل : الله تعالی دې مونږ ټولو ته په قران کریم او نبوی سنتو باندې د عمل توفیق راکړي .

عبدالماجد حجازی وویل : اوس ستا کار دا دی چې د خپل خاوند څخه راز واخلې چې دلته د مسلمانانو په خلاف کوم کوم پلان تیاریږي .

نجلۍ وویل : زه به انشاء الله د راز حاصلولو کوښښ کوم او دا الله جل جلاله څخه غواړم چې کله ته دمشق ته روانیږې زه او راز درسره دواړه یوځای وو .

د حلب څخه یو پلاوی تریپولی ته ولاړ دی ترڅود ریماند څخه پوځي مرسته وغواړي، همدا رنګه یې د فدایانو د مشر شیخ سنان څخه غوښتلي دي چې سلطان صلاح الدین ایوبی د وژلو په بدل کې به ډېر مال ورکړي . شیخ سنان خپل تجربه کار کسان لیږلي دي .... پوځي ځواک هم پیا وړی کوي ترڅو د پسرلي په موسم کې په دمشق برید وکړي او سلطان صلاح الدین ایوبی ته ماتې ورکړي هره شپه به ښځي له خاوند څخه راز اخیستلو او عبدالماجد حجازی ته به یې ورکولو او هغه به په زړه کې محفوظ ساتلو .

یوه ورځ بادار عبدالماجد حجازی خان ته راوبللو او په قهر سره یې ورته وویل : زمانوکرانو ماته ویلي دي چې عبدالماجد حجازی ستا د میرمن سره ډېره ناسته ولاړه لري او هغه غولوي. زه پوهیږم چې ته تر ما خوان یې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما میرمن به تا خوښوي، خو ګوره زه دې بیا ژوندی نه پریږدم ، پس لدې به زماد میرمنی سره ناسته پاسته نه کوی .

عبدالماجد حجازی خو د یو مقصد او هدف لپاره دا ځای غوره کړی وو نو وی وویل : تاسی په ما باندی هسی بد ګمان یاست دا چې زه ستاسی دواړو په اخلاص خدمت کوم او تاسی هم زما سره د مینی او محبت څرګندونه کوی نو دوی له ما سره حسد کوی .

بادار شپږ نور ساتونکی او باډی ګارډان راوستل چې یو یې پکی قوماندان وټاکلو هغه ته یې حکم وکړ چې عبدالماجد حجازی به د کور دروازی ته نږدی هم نه پریږدی او په ښځی به هم څارنه کوی .

حجازی د کور څخه بند شو او د باندی یې خپله وظیفه اجراء کوله .

یوه شپه د کور میرمن راووتله او په پیره کوونکی یې سترګی راوباسلی، هغه ته یې وویل : پیره داسې کیږي لکه دا ته یې چې کوی، ورشه قوماندان دی راویښ کړه چې د کور مالکه دی غواړی .

قوماندان چې راغی نو هغه ته هم په غصه شو چې دا دی څه ډول پیره کوونکی راوستی په خبره نه پوهیږی ، پدی وخت کې عبدالماجد حجازی هم د خیمی څخه راووت نو ښځی ورته وویل : ته لکه چې هغه پخوانی ساتونکی یې لاړه شه دوه آسونه یو ځان او بل زما لپار راوله ، زه د څه کار پسی وځم .

حجازی ورته وویل: بادار به څه وایی؟

میرمنی ورته وویل: زه چې څه وایم هغه وکړه څه وایی او څه نه وایی ددی خبرو د ویلو حق مونږ تاسی ته نه درکوو .

عبدالماجد حجازی ولاړ او د طبیلی څخه یې آسونه راوستل او بیا دواړه پخپلو آسونو سپاره شول، پدی وخت کې قوماندان پټ د خپل بادار کوټی ته ورغی، ګوری چې بادار یې په کټ کې پر مخ پروت دی او خنجر یې په سینه کې ننوتی دی. هغه سمدستی د کوټی څخه راووت او اواز یې وکړ چې درڅخه ولاړ نشی، هغوی بادار وژلی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکي په وسلې پسې ولاړل نو عبدالماجد حجازي او ميرمنې خپل آسونه په منډه کړل، خو چې هغوی وسله را اخيستله دواړه له دروازې څخه ووتل ساتوونکو پرې د غشو باران پيل کړ.

عبدالماجد حجازي تکړه سپور وو هغه خپل آس يوې او بلې خوا ته کولو ترڅو غشي پرې ونه نښلي خو ښځه نابلده وه ولګيده.

هغې په منډه کې عبدالماجد حجازي ته وويل: غوږ ونيسه چې اصل خبره درته وکړم.

عبدالماجد حجازي غوښتل په خبرو وخت تير نشي او د خطر له سيمې څخه ځان وباسي خو ښځه سخته لګېدلې وه، هغې د عبدالماجد حجازي آس راګير کړ او هغه ته يې وويل: ودريږه زه زخمي شوې يم.

عبدالماجد حجازي هغه سمدستي له آسپ څخه راښکته کړه غوښتل يې غشي ورڅخه وباسي خو هغې وويل: لومړی خبرې واوره بيا به ګورو! خبره دا ده چې الملک الصالح پوځ تياروي او په پسرلي کې حمله کوي، ټول اميران له ځان سره ملګري کوي. ريمانډ ورسره ژمنه کړې چې د هغه پوځ به د قاهرې او دمشق لاره بندوي او سلطان صلاح الدين ايوبي ته به مرسته نه راځي. بله دا چې شيخ سنان خپل فدايان دمشق ته استولي ترڅو سلطان صلاح الدين ايوبي ووژني.

نجلۍ دا خبرې وکړې او بيا عبدالماجد حجازي هغه پخپل آسپ باندې واچوله او د دمشق په لوري روان شول. په لاره کې د زياتو وينو د بهيدلو له امله شهيده شوه.

عبدالماجد حجازي د هغې مړې له ځان سره دمشق ته ورساوه او هلته يې رضيع خاتون ته وسپارلو او هغوی په پوره عسکري مراسمو د هغې مړې خښ کړ.

عبدالماجد حجازي حسن بن عبدالله ته د ښځې راوړل شوی راپور او ټول حالات بيان کړل ترڅو د هغې په رڼا کې راتلوونکې پلانونه جوړ کړي. سلطان صلاح الدين ايوبي خپل سالاران، نايب سالاران، حسن بن عبدالله او سلا کاران راوغوښتل او د هغوی سره يې سلا مشوره پيل کړه تر څو د نوي راپور سره سم راتلوونکې تګ لاره وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: هغوی غواړی د پسرلی په موسم کې په مونږ ستر عملیات وکړي او ریمانډ زموږ لاره بنده او هغوی ته پوره پوځی کومک هم ورکوي. مونږ باید د پسرلی څخه مخکی داسې عملیات وکړو چې د هغوی ټول پلانونه شنډ شی.

له نن څخه باید تاسې ټول پوځ د یخنی او واوری سره اشنا کړی، هر پوځی باید د شپې یوازی په پرتوګ کې وي او نور شی به نه اغوندی، ټول پوځیان باید د شپې په اوبو کې ښکته او پورته شي، یوی او بلی خواته وګرځي تر څو اوبه او یخنی مونږ ته بیا خنډ نشي ځکه د حلب واکمنان او صلیبیان پدی پوهیږي چې زموږ پوځیان زیات د ګرمو سیمو دي او په یخنی کې هیڅ هم نشی کولای. تاسې هغوی داسې تربیه کړی چې په هر ډول حالاتو کې کار وکړای شی.

سلطان سمدستی قاهری ته احوال واستاوه چې هلته زیات کسان په پوځ کې شامل کړي او د یخی سیمی د حالاتو سره سم ورته روزنه ورکړی، دا ټول کارونه په نومبر ۱۱۷۴ میلادی کال کې پیل شول.

په حلب کې صلیبی سلا کارانو خپلو دوستانو ته وویل چې تاسې د جګړی په خوا کې ورانکاری پروګرامونه هم پیل کړی او خپل پوځیان داسې پوه کړی چې په هیڅ صورت د جګړی څخه مخ وانه ړوی، تاسی هم د دین، مذهب او ښځوڅخه کار واخلی.

شیخ سنان خپلو خاصو ملګرو ته وویل: زما سر تاسی ټیټ کړی، څو ځلی په سلطان صلاح الدین ایوبی حملی وشوی خو هغه مړ نشو بلکې زموږ کسان پکې ولاړل، دا پنځه کاله کیږي چې هغه ژوندی ګرځي او تاسې پری نه کامیابیږی، دا ځل زه نه غواړم چې څوک راته ووایی چې فدایان ناکام شول.

د وژونکو ډلی مشر ورته وویل: ته بی غمه اوسه دا ځلی به ژوندی نه پاتی کیږي. مونږ به داسې لاری چاری لټوو چې حتما پکی راګیر او له منځه ولاړ شي.

د قاهری څخه د الملک العادل کومکی ټولګی رارسیدل هم پیل شول ځکه سلطان صلاح الدین ایوبی هغه ته لیکلی وه چې ټول کسان یو ځای مه رالیږه چې خبره رسوا نشي. لږ لږ کسان د ډلو په شکل کې رالیږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصر هر ګروپ به چې راورسیده نو سلطان صلاح الدین ایوبي به هغوی ته د یخنی او اوبو تمرین ورکولو تر څو د واوری په موسم کې هر ډول شرایطو ته چمتو اوسی .

* * *

د دمشق په اطراف کې یوه لویه کلا چې کنډواله شوی وه او خلکو د هغې په هکله ډېری کیسی کولی. چا به ویل چې دا اسکندر جوړی کړی ، چا ویل چې دا دارا پالوان جوړه کړی او نورو به نور څه ویل خو دا کلا اوس اوس د مارانو د کلا په نامه مشهوره شوی او د خلکو فکر دا وو چې دلته پیریان او بد روحونه اوسیږي .

هیچا هم هلته زړه نه کولو چې ورنژدی شي ځکه د مارانو او پیریانو څخه ډاریدل د شیخ سنان یوه نهه کسیزه ډله د شپی راغله او پدی کلا کې یې واړول، خپل ټول سامان یې هم د شپی کلا ته ورسولو تر څو هیچاته معلومات ونشي چې دلته څوک اوسیږي. د دی ډلی او ګروپ مشر په وژلو او قتلولو کې پوره پوه او تجربه لرله. هغوی چې څومره حملی په سلطان صلاح الدین ایوبي باندی کړی وی هغه ټولی ناکامی او خپل کسان یې پکی له منځه تللی وه، دا ځل دوی غوښتل داسې لاره غوره کړي چې ناکامي پکی نه وي.

د دمشق په ښار کې د فدایي ډلی کسانو اوازه خپره کړه چې د مارانو په کلا کې یو ولی او پیر پیدا شویدی چې کله ناڅاپي راښکاره او کله بیا ورک شي، هلته یوه ښایسته نجلۍ هم کله کله لیدل کیږي .

دا ولي او پیر د خلکو مرادونه او هیلی پوره کوي. اوازه ډېره ګرمه او ډېرو خلکو اوریدلی هم وه خو هیڅوک هلته نژدی نه ورتللو ځکه چې هر سړی ډاریده. کله چې هلته څوک ورنغلل نو خپله پیر او ولی د باندی راووت او په لارو کوڅو کې ګرځیده.

هغه څو ځلی د دمشق د ښار پوځی کلا ته هم ننوتی وه او هلته یې معلومات اخیستی وه چې د سلطان ساتونکی په کومه ځای کې اوسیږي، په کومه لاره وځي او چیری چیری ګرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یې د سلطان صلاح الدین ایوبی د یو ساتونکی مخې ته خان برابر کړ. پیر سپینه چپنه، ښکلې لنګۍ، غټې تسبې او لوی امساء پلاس کې نیولې او هغه ته مخامخ ودریده. هغه ته یې په غور غور وکتل او بیا یې ورته وویل: دا ته یې؟

ساتونکی حیران شو چې دا څوک دی خو سړی د شک کولو نه وو نو هغه ورته وویل: تاسې زه وپیژندلم؟

پیر ورته وویل: هو زه تا پیژنم خو ته خپل خان نه پیژنې!

بیا یې د هغه په سترګو کې وکتل او د لاس ورغوی یې ښه لاندې باندې کړ وروسته یې هغه ته وویل: پلار او نیکه دی څه کار کولو.

ساتونکی ورته وویل: زه کوچنی وم چې پلار مې مړ شوی او د نیکه څخه خو زه هیڅ خبر نه یم!

پیر سر وښورولو او افسوس یې وکړ. د خان سره یې وویل: زه څه وکړم چې تاسې له خان څخه خبر نه یاستې نور روان شو.

د ساتونکی په زړه کې اندیښنه پیدا او هغه ورپسې شو. عذر او زارۍ یې ورته وکړې چې زه په څه نه پوهیږم.

پیر ورته وویل: که ته غواړې چې معلومات پلاس راوړې نو د مارانو کلا ته راشه هلته به هر څه درته څرګند شي.

سبا شپه ساتونکی د ماښام څخه وروسته د مارانو کلا ته ورغی او په دروازه کې یې اواز وکړ: زه راغلی یم! زه راغلی یم!

لږ ځنډ وروسته یو مشال په لاس سړی راښکاره شو او د هغه څخه یې وپوښتل آیا تاسې حضرت راغوښتې یاستې؟

هغه وویل هو! هغه مخکې شو او ساتونکی ورپسې روان شو د کنډوالو څخه تیر او لاندې ولاړ. هلته یوې داسې کوټې ته ننوت چې قالینې پکې پرتې او تکیه ګانې لګیدلې وې. پیر هلته ناست او سترګې یې پټې کړې وې. په پټو سترګو یې ساتونکی ته اشاره وکړه چې کینې.

پیر لاسونه وپرکول نو یوه ډېره حسینه او ښایسته نجلۍ راغله چې د شربت صراحي ورسره وه. هغې په پیالو کې شربت واچاوه او بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکی ته ورکړ. هغه یو ځل نجلۍ ته او بل ځل شربت ته کتل نجلۍ ورته په مسکا وه.

هغه شربت وڅښلو، دا هغه شربت وو چې حسن بن صبا جوړ کړی او د همدی شربت په وسیله هغه په خلکو کې داسې حالت رامنځ ته کولو چې په وچه د ښته کې به یې جنت لیدلو

ساتونکي چې کله شربت وڅښلو نو پیر د ځان سره په خپ اواز وویل: دا د سلیمان تخت او تاج دی! دا د سلیمان تخت او تاج دی! نجلۍ د ساتونکی شاته کیناسته او د هغه سترګو ته یې یوه شیشه ونیوله. نجلۍ هم د پیر خبری په خپ خپ اواز تکرارولی.

ساتونکی په شیشه کې رڼا ګانی ولیدی. بیا یې تخت او تاج ولیده. وروسته یې هلته یوه ماڼۍ او قصر هم ولیده چې ډېر ښکلی او ښایسته وه.

پیر بیا وویل: دا ستا د پلار او نیکه تخت او تاج دی!

دا ستا د پلار او نیکه تخت او تاج دی!

همدا خبری نجلۍ هم تکرارولی تر دی چې ساتونکی هم همدا خبری پیل کړی.

پیر له کوټې ووت. لږ خند وروسته ساتونکی په خود او هوش راغی ګوری چې د ښکلی نجلۍ په غیږ کې پروت دی.

ساتوونکې وپوښتل: حضرت څه شو؟

نجلۍ ورته وویل: هغه غایب شو، دا نده معلومه چې بیا کله راځي، ځکه چې داسې حالات د هغه کرامت دی او کله کله ورته پیدا کیږي. ساتونکی ډېر خفه او ناقلاره شو ځکه چې کار نیمګړی پاتی شو، نجلۍ هغه ته پداسی سترګو کتل کله چې د هغه سره یې ډېره زیاته مینه او محبت وي.

هغه ورته عذر او زاری وکړی چې تاسې د حضرت څخه وغواړی چې ماته اصل راز ووایي.

نجلۍ ورته وویل: تاسې سبا شپه دلته راشي زه به هغه ته عذر او زاری وکړم ګوندی چې درباندی مهربانه شي او خپل راز درکړی.

سبا ماښام په تیاره کې بیا ساتونکی راغی او د نجلۍ سره یې ولیدل، هغې بیا شربت ورکړ او شاته ورته کیناسته، پیر بیا په خپ اواز وویل: دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د پلار نیکه تخت دی چې اوس بل څوک پری ناست دی، هغه غاصب او ظالم دی، هغه پرته د وژلو څخه په بل چل نه لری کیږي، نجلی هم همدا خبری تکرارولی او د ساتونکی سترګو ته یې شیشه نیولی وه. هغه هم همدا خبری پیل کړی او هغه پرونی تخت او تاج ورته یو ځل بیا ښکاره شو. ساتونکی په همدی نیشه کې ډوب وه چې پیر بیا ورک شو ، هغه چې کله رابیدار شو پیر نه وو نو بیا هغه د نجلۍ په دیدن کې غرق شو. هغې بیا ورته وویل : ته باید شپږ اوه شپې همداسي راشي تر څو ټول راز درته څرګند شي خو هیڅ‌ګا ته به هم نه وائی چې بیا درته زیان رسیږی .

ساتونکی د خپلی رسمی وظیفی څخه رخصت واخیست او د مارانو په کلا کې دیره شو تر دی چې د هغه زړه او ذهن پدی قانع شو چې زه شهزاده یم، زماد پلار او نیکه تخت او تاج صلاح الدین ایوبی نیولی او په هغې ناست دی نو د هغه ختمول او وژل پکار دی ترڅو خپل تخت او تاج پلاس راوړم. ساتونکی پوره د هیپنو تیزم تر اثر لاندی راغلی وو.

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل سالاران او سلا کاران راغوښتی وه، د هغوی سره یې خبری اتری وکړی او بیا یې هغوی رخصت کړل .

سلطان صلاح الدین ایوبی لاهماغسی ولاړ وو چې هماغه ساتونکی کوټې ته راننوت او توره یې را وویستله او بیا یې وویل : ته زماد پلار نیکه وژونکی یې، ته زماد قسمت قاتل یې، ته زماد تخت او تاج غاصب یې، زر هر څه خوشی کړه او بیا یې په سلطان صلاح الدین ایوبی باندی د توری ګذار وکړ. سلطان صلاح الدین ایوبی خو په جګړو کې عمر تیر کړی وه د هغه وار یې خطا کړ. هغه بیا توره پورته کړه نو سلطان صلاح الدین ایوبی د ساتوونکو قوماندان ته اواز وکړ او د دویم وار څخه یې خان وساتلو چې یو دم دری څلور ساتونکی راغلل خو حمله کوونکی ټولو ته توره ښوروله او یو یې هم نژدی نه را پریښودلو. تر دی چې هغوی ټول تری را چاپیر او هغه یې راټینګ کړ. هغه پرله پسی همدا چیغی وهلی: ته زما د پلار نیکه قاتل یې! ته زماد تخت او تاج غاصب یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی سمدستی حسن بن عبدالله راوغوښته او ورته وی ویل : د دی پلټنه وکړی چی ولی دی ساتونکی داسی کار وکړ ؟

حسن بن عبدالله طبیب راوبله ورته یې وویل : ددی ساتوونکی حالت ولی داسی بدل شوی ؟

طبیب د ناروغ له لیدو وروسته حسن بن عبدالله ته وویل ده ته نیشه کوونکی شربت ورکړل شوی او په ده باندی هیپنو تیزم شویدی. داسی ګمان کوم چی ده ته د حسن بن سبا جوړ شوی شربت ورکړل شوی.

طبیب بیا هغه ته داسی دارو ورکړل چی هغه ښه ډېر خوب وکړی او د نیشی اثر ورځخه لری شي ، دوه ورځی وروسته هغه رابیدار شو نو داسی معلومیده لکه چی د خوب ځخه راویښ شوی وي. د هغه ځخه پوښتنی وشوی هغه ته هیڅ هم یاد نه وه . دومره ورته یاد وه چی د مارانو په کلا کی هغه یو پیر او یوه نجلۍ لیدلی وه خو نور یې د هیڅ هم په یاد نه وه. هغه ته وویل شول چی تا په خپل مشر سلطان صلاح الدین ایوبی باندی حمله کړی، هغه چیغی کړی تاسی ټول دروغ وایی زه په خپل محبوب باندی د ګلانو وار نشم کولای او تاسی راته وایې چې تا د توری ګذار کړی .

حسن بن عبدالله د مختلفو خلکو ځخه معلومات وکړ او دی پایلی ته ورسیده چی دا کار فدایانو کړیدی ، هغوی دا ساتونکی روزلی او د ده په ذهن کی یي دا خبره د نیشی په حالت کی اچولی چی ستا د پلار او نیکه قاتل سلطان صلاح الدین ایوبی دی نو هغه د پوځ دوه ګروپونه له ځان سره ملګری کړل او د مارانو په کلا یې حمله وکړه، هلته یې پیر، ښکلی نجلی او اووه نور کسان ونیول چی وروسته ټولو اقرار وکړ چی مونږ د شیخ سنان فدایان یو او هغه مونږ ته دا وظیفه سپارلی وه چی دا ځل درځخه سلطان صلاح الدین ایوبی مړ غواړم. مونږ چی مخکی ځومره حملی کړی وی هغه ناکامی شوی وی نو دا ځل مونږ د هغه ساتونکی دی ته چمتو او تیار کړ چی هغه سلطان صلاح الدین ایوبی وو[illegible] او خبره پټه پاتی شی .

* * *

**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د صلیب ترسیوري لاندي

د وژلو دا ډول طریقه د سلطان صلاح الدین ایوبی د سلا کارانو او چارواکو لپاره ډېره حیرانوونکی وه ځکه چې د هغه د ساتونکو څخه د یو دماغ او زړه داسې تر خپل اثر لاندی راولی چې هغه وژلو ته تیار او چمتو شي. هغوی ټول ډېر په قهر او غصه وه چې کوم کسانو دا پلان او پروګرام جوړ کړی هغوی ته باید سزا ورکړی شي ځکه پدی کې دری ډلی شاملی وی. کار د فدایانو څخه اخیستل کیده . مشوره ورته تش په نامه مسلمانو آمیرانو ورکولې او پلان د صلیبیانو وه .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل سالاران، سلا کاران او چارواکی غونډې ته راوبلل. هغوی ټولو دا فکر کاوه چې هغه به د وژلو د دسیسي په هکله څه ویل غواړی خو د هغه په خوله هیڅ دا خبره رانغله او نه یې په شکل او څیره کې څه داسې تاثر موجود وو چې ګوندی پر ماباندی برید او حمله شویده .

سلطان صلاح الدین ایوبی ټولو ته وویل: تاسې باید فیصلې او پریکړې په احساساتو، جذباتو او ولولو سره ونکړې بلکې ټول حقایق په نظر کې ساتی بیا پریکړی وکړی . د انسان مرګ د الله تعالی په واک او قدرت کې دی، کله چې هغه وغواړی پرته له کوم ځنډ څخه هغه عملی کوی او که ونه غواړی چې دا ټول مخلوقات سره یو ځای شي هم څه نشی کولای .

مسلمان د اسلام د سپیڅلی دین سپاهی او ساتونکی دی که هغه ته د جګړې په میدان کې مرګ راغلی او که د دښمن په دسیسه کې ووژل شو په دواړو صورتونو کې هغه شهید دی .

واکمنان او حکمرانان یوازی خپل خانونه ساتی خو مجاهد او غازی د ملتونو او قومونو د ناموس، عزت ، حیا، وطن او خاوری ساتونکی وی . هغوی د ځان په هکله هیڅ فکر او اندیښنه نلری ځکه هغه خپل ځان همدی لاری ته وقف کړی وی چې بیا د هر چا له لاسه وژل کیږي هغه ته یو شانته ده .

سلطان حسن بن عبدالله ته چې د جاسوسی اداری مشر او قوماندان وه وویل : د دمشق په ښا او خوا کې چې څومره کنډوالی او پخوانی خاپونه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ټول رنګ او د خاورو سره برابر کړي او تل هغه تر څارنې او نظارت لاندې وساتي .

دويمه دا چې ټولو خطيبانو او د جوماتونو امامانو ته خبر ورکړي چې عامو مسلمانانو ته د قران او حديث په رڼا کې دا څرګنده کړي چې په کايناتو کې يوازې الله تعالى په علم غيب پوهيږي او د بل هيچا سره هم دا توان او قوت نشته ، مرادونه پوره کوونکى يوازې الله تعالى دى، توهمات او وهمونه په اسلام کې ځاى نلري او د انسان عقيده د همدې سره خرابيږي چې بيا هيڅ عمل صالح هم ګټه نه رسوى بلکې زيان او تاوان هم لري.

عسکري او نظامى ځواکونه هم پدې پوه کړي لکه څرنګه چې تاسې خپل بدنونه د دښمنانو او کفارو د تورو، غشو او نورو وسلو څخه ساتي. په همدې توګه خپل زړه او ذهن د هغوى د غلطو او ورانکارو عقايدو او فکرونو څخه هم وساتي. تاسې خپل دين، خپل وطن او خپل عزت په سترګو او نظر کې وساتي او د هغې د ساتلو په هکله هر ډول قرباني ته چمتو اوسي .

کله چې په ځوانانو او پيغلو کې ديني او ملي مسئوليت احساس او جذبه راپيدا شي نو بيا په هغه باندې د هيچا زهر اثر نکوى او د هيچا د پروپاګند تر اثر لاندې نه راځي .

په شام کې د سلطان صلاح الدين ايوبى د قسم خوړلو دښمنانو درې ځلور مرکزونه وه چې د هماغه ځاى څخه دوى د صليبيانو په مرسته او کومک سره د هغه په خلاف کارونه کول او دى ته يې لاره هواروله چې بلاخره دا ټول ځايونه صليبيانو ته پلاس ورشي او صليبيانو همدا غوښتل چې کله هغوى کمزوري شي نو په ټولو يو ځل لاس راتاو کړي او هر څه به خپل کړي، هلته حمات ، حمص، حلب او موصل ډېر مشهور وه چې ټول د دمشق ختيځ ته پراته وه .

* * *

په هغه وخت کې چا د ژمي جګړه نکوله ځکه چې د هغې لپاره هيچا هم تياري او چمتوالى نه درلوده، د شام آميرانو خپل خپل پوځونه پخپلو کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګانو کې اچولی او هلته یې د راتلوونکی پسرلی لپاره تیاری نیولو، د هغوی سره دریماند سلا کاران او روزونکی ملګری وه چې هغوی ورته ټول کارونه برابرول څکه الملک الصالح او د هغه امیرانو د صلیبیانو سره تړون او معاهده کړی وه چې هغوی ته به هر ډول مرستی او کومک ورکوي او سلطان صلاح الدین ایوبی د حملی او برید په صورت کې به خپل پوځونه هم استعمالوي. صلیبیانو دا چارواکی دی ته متوجې کړل چې ترڅو د جګړی وخت راځي تاسې د امامانو او نورو مذهبی مشرانو څخه د سلطان صلاح الدین ایوبی په خلاف کار واخلی او هغه داسې بد نام کړی چې عام خلک یې وژلو ته تیار شي هغه بی دینه او د نوی مذهب پیدا کوونکی معرفي کړی ترڅو خلک ورڅخه واوړي. څرنګه چې هغوی فکر کاوه په ژمی کې جګړه نه کیږي نو هغوی په تیاری او تبلیغاتو باندی بوخت او مصروف شول.

سلطان صلاح الدین ایوبی دی ته مجبور شو چې د بیت المقدس په لاره کې څومره خنډونه پراته دی هغه لومړی له منځه یوسی څکه هغه د نور الدین زنګی په وخت کې خپل ټول توان او ځواک د صلیبیانو په خلاف استعمالولو او دواړو په ګډه د هغ ... په خلاف پلانونه او جنګی پروګرامونه جوړول خو د هغه تر وفات وروسته آمیرانو غوښتل خانونه ازاد او مستقل کړی او پدی توګه صلیبیانو ته وخت ورکړی چې هغوی بیت المقدس تر خپلی اداری لاندی وساتی. هغوی ټولو داسې فکر کاوه چې زموږ اصلی دښمن سلطان صلاح الدین ایوبی دی او صلیبیان مو دوستان دي حال دا چې وروسته بیا ټولو ته دا ثابته شوه چې اصلاً صلیبیان د ټولو دښمنان وه خو د خپلې ګټی په خاطر یې یو د بل سره جنګول.

هغوی به کله د یو تر شا ودریدل او کله د ... او هر یو به یې خوړند ( Suspension) ساتلو چې تل دوی ته احتیاج او اړ وی، داسې هیڅ کار یې نه کولو چې نور خلک دی په پښو ودریږي بلکې ټول یې کمزوری ساتل ترڅو هغوی پری خپله باداری وکړی. مسلمان آمیران پدی خوشحاله وه چې نوم د هغوی وه او واک یې د بل چا په لاس کې ښکته پورته کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی د بیت المقدس د ازادی لپاره د دی خنډونو د له منځه وړلو لپاره خپل پوځ او لښکر ته ډول ډول اړینه روزنه او تربیه ورکوله تر څو په هر ډول حالاتو کې کار وکړای شي. هغه خپل تر لاس لاندی پوځ ته د ژمی په واورو کې هم د جګړی روزنه او تربیت ورکړ تر څو د دښمن د غفلت او بی پروایی څخه ګټه واخلي.

الملک الصالح ریمانډ ته مخکی له مخکی ښه پریمانه مال او دولت ورکړی وو تر څو هغه ورسره پوځی او جاسوسی همکاری او کومک وکړی او د اړتیا په وخت کې ورسره د خپل پوځ پوسیله هم ملاتړ وکړي.

ریمانډ خپل څو پوځی آفسران او سلا کاران حلب ته واستول ترڅو په پوځی او جاسوسی ادارو کې د هغوی کارونه منظم کړي.

صلیبیانو په حلب کې د ټولو مخالفینو څخه یوه ګډه قوه جوړه کړه چې په هغې کې الملک الصالح، سیف الدین، عزالدین او ګمشتګین شامل وه.

* **

سلطان صلاح الدین ایوبی په دمشق کې د شپې لخوا په یخنۍ او سړو کې ټول پوځ ته پرته د کمیس څخه روزنه ورکوله او هغوی یې په یخو اوبو او سړه هوا کې هری خواته ځغلول، همدا رنګه یې هغوی ته روحی او باطنی روزنه او تربیت هم ورکولو تر څو د صلیبیانو د زهر جنو تبلیغاتو تر اثر لاندی رانشي. حلب ته صلیبیانو خپل جاسوسان هم رالیږلی وه او هغوی ته یې مهم کارونه سپارلی وه. شیخ سنان هم خپل څه فدایان د دی لپاره را استولی وه چې دا اړتیا په وخت کې د هغې څخه ګټه واخلي.

کله چې حلب ته د سلطان صلاح الدین ایوبی د شپې لخوا او په یخنۍ کې د روزنی او تربیت خبر ورسیده نو هغوی دا یو عادی کار وبللو ځکه د هغوی یقین وو چې په ژمی کې یو هم د جګړی توان نلری او په پسرلی کې به مونږ پری مخکې کیږو او هغه به د دمشق څخه وباسو.

سلطان صلاح الدین ایوبی په ټولو ښارونو کې خپل پلویان ګمارلی وه چې هر ډول خبر هغه ته واستوی تر څو د هغې په رڼا کې خپل پلانونه جوړ او تیار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حلب کې د هغوی مرکزی کسان اوسیدل چې د نورو ټولو برخو څخه یې معلومات اخیستلو او بیا به یې دمشق ته استولو، په حلب کې چې کوم کس دا ټول کارونه پر مخ بیول هغهٔ د یو عالم او فاضل شخصیت په شکل کې اوسیده چې ټولو خلکو یې عزت او احترام کاوه ، د دی لپاره چې هغه خپل کار ښه وکړای شي نو سلطان صلاح الدین ایوبی ته به یې ډېر زیات بد رد ویل نو ځکه امیرانو او نورو چارواکو هم د هغه عزت او درناوی کاوه.

د الملک الصالح په دربار کې پیره کوونکی او باډی ګارډان د سلطان صلاح الدین ایوبی پلویان ټاکلی شوی وه چې هغوی ځانونه د الملک الصالح پلوی او فادار بلل .

دوه جاسوسان چې په دربار کې د ساتوونکو په حیث ټاکلی شوی وه د لوی هال په خوله کې به د وسلی سره ولاړ وه چیرته چې به میلمانه کیناستل او مهم کانفرانسونه او غونډې به هلته کیدلی، دوی د ټولو خبرو او مشورو څخه خبریدل ځکه چې د دروازی پیره کوونکی وه پدوی کې د یو نوم خلت وو.

صلیبیانو هم خپل جاسوسان د نجونو په شکل دی دربار ته لیږلی وه تر څو هغوی څو کارونه وکړی یو دا چې په مسلمانانو کې عیاشي او فحاشي خپره کړی ، بله دا چې د سلطان صلاح الدین ایوبی پلویان اې جاسوسان معلوم کړی ، دریمه دا چې د امیرانو تر منځ بی اتفاقی او اختلاف پیدا کړی چې سره یو ځای نشي .

هر یوی نجلۍ به خپل خپل ورسپارل شوی امیر ته همدا ویل چې بس ته تر ټولو مستحق یې او ته باید نور هیڅ ونه منی، ستا سره صلیبیان خوا خوږی لری .

ریمانډ د خپلی جاسوسی اداری یو تکړه افسر ونډ سر حلب ته د دی لپاره واستولو چې هلته جاسوسي اداره فعاله او هم د سلطان صلاح الدین ایوبی د جاسوسانو لاری بندی او هغوی فلج کړی کله چې هغه حلب ته راغی نو د هغه سره یوه نوی نڅا کوونکی او سندر غاړی هم راغلی وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلت سمدستي د دی سړی په هکله معلومات وکړ چې دا د جاسوسي اداري مهم غړی او استاذ دی. هغه خپل ملګری هم خبر کړل چې نوی سړی ډېر خطر ناک دی باید د هغه په ټولو کارونو نظر وساتو.

نوی نڅا کوونکي چې ورسره راغلې وه هغه یو وخت د خلت په کلي کې اوسیده ، عادي مسلمانه نجلۍ وه او د خلت سره د کوچنیوالي څخه بلده او اشنا وه خو وروسته هغه یې پلار خرڅه کړه او صلیبیانو ورڅخه نڅا کوونکي او سندر غاړې جوړه کړه- خلت هغه په لومړیو ورځو کې ښه ونه پیژندله خو وروسته ورته معلومه شوه چې دا هماغه نجلۍ ده چې نوم یې حمیرا وو.

څرنګه چې د خلت او حمیرا تر منځ مینه او محبت پیدا شوی وو نو کله چې حمیرا په پټه توګه د هغې پلار په صلیبیانو وپلورله نو خلت ورپسې ډېر لټون وکړ خو هغه د صلیبیانو سیمې ته رسیدلی او هلته د جاسوسي اداري کسانو تر روزنې او تربیت لاندې نیولې وه .

خلت په دمشق کې ځان په پوځ کې داخل کړ او بیا وروسته د اسد الدین شیرکوه سره مصر ته ولاړ ، کله چې سلطان صلاح الدین ایوبي هلته لومړی وزیر شو نو خلت هم ورسره وه . هغه ډېر ذهین، زړور او میړنی غازی وه، هغه ته وروسته د پنځوس کسانو قومانده ورکړل شوه او بیا وروسته د هغه د ښه کار په لیدو سره جاسوسي او اطلاعاتي اداري ته راوستل شو تر څو د هغه څخه کار واخلي ، کله چې د مصر او سوډان تر منځ د صلیبیانو په اشارو اختلاف پیدا شو نو خلت او د هغه اوسنی ملګری ته وظیفه وسپارل شوه چې د سوډان په سرحداتو او پولو کې ګزمه وکړي او په شکمنو کسانو نظر وساتي، هغوی په اطرافي جامو کې په اوښانو یوی او بلې خواته ګرځیدل. یو ځل یې یو کاروان ولیده چې آسونه او بار اوښان پکې وه او د عسکري پوستو څخه لرې لرې تلل، د خلت پر هغوی شک راغی سمدلاسه ورسره ملګری شو چې مونږ هم وړاندې ځو، په لاره کې هغوی پدې ډاډه شول چې دا کسان شکمن دي باید کومې پوستې ته خبر ورکړي چې د وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالاشي کړی او خپل شک پری وباسي، پدی کاروان کې یو بوډا سړی او څو نجونی هم وی چې هغوی ټول په اطرافی جامو کې وی.

کله چې د شپې کاروان واړول نو خلت د خپل ملګری سره لری کیناسته او دا سلا یې کوله چې څه ډول خپلو امینتی پوستو ته خبر ورکړو چې دا کاروان تالاشی کړی او شک پری لری کړي. هغوی دواړه لګیاوه چې دوه نجونی راغلی او هغوی ته یې وویل: مونږ دواړه مسلمانی نجونی او دی خلکو په زور راتښتولی یو، که تاسې هم مسلمانان وی نو مونږ د دوی څخه خلاصی کړی.

هغوی دواړو پری باور وکړ او وعده یې ورسره وکړه چې تاسې بی غمه اوسی مونږ مو خلاصوو.

پدی وخت کې یوی نجلی د خوراک شیان دوی ته ورکړل او یو ډول خوندور شربت یې پری وڅښلو، لږ څنډ وروسته هغوی دواړه پر کاله او ویده شول.

نجونو بوډا ته خبر ورکړ چې دواړه مو نیشه کړل، هغوی بارونه په اوښانو واچول او سمدستی ټول کاروان حرکت وکړ.

سبا د غرمی څخه وروسته خلت او د هغه ملګری رابیدار شوی لیدل چې د غونډیو په منځ کې په شګو پراته دی، نه سامان شته نه یې اوښان او نه د کاروان درک لګیږي، هغوی یوی غونډی ته وختل هر لوری ته یې وکتل د هیچا درک هم نه وو.

دواړه ډېر پیښمانه شول چې مونږ څه ډول وغولول شو، دا خبره یې همداسې په زړه کې وساتله او هیچاته یې حل ونه ویلو خو په زړه کې یې غوټه پاتی وه.

* **

کله چې په حلب کې دوی دواړه د الملک الصالح په دربار کې باډی ګارډان او د دروازی پیره کوونکی وټاکل شول نو هغوی خپل کار پیل کړ، مهم معلوماتونه یې اخیستل او په حلب کې یې خپل مشر ملګری ته ورکول.

یوه شپه مهمه میلمستیا وه څکه چې د ریمانډ څو عسکری افسران او سلا کاران حلب ته راغلی وه، د هغوی په ویاړ الملک الصالح یوه لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلمستیا او غونډه جوړه کړه چې ټول چارواکي او مهم کسان یې پکی رابللي وه. ونډسر ته دا وظیفه سپارل شوې وه چې دلته په دربار کې څومره کسان کار کوي د هغوی پلټنه او تحقیق وکړي داسې نه چې د سلطان صلاح الدین ایوبي پلویان او جاسوسان په کې رانغوتي وي.

مابښام ونډسر هال ته را روان وو چې په خلت او د هغه په ملګرۍ یې سترګې ولګیدې. هغه د خلت څخه وپوښتل ستاسې څومره وخت دلته کیږي او له کوم ځای څخه راغلي یاستې؟

خلت ځواب ورکړ چې مونږ له دمشق څخه د الملک الصالح سره یو ځای راغلي یو له هماغه وخته دلته کار کوو.

ونډسر وویل ستاسې خواخوږي د الملک الصالح سره څه وخت پیدا شوې؟

هغوی وویل: هغه زمونږ سلطان او پادشاه دی مونږ هر یو د هغه وفادار او خوا خوږي یو.

ونډسر وویل: تاسې د قاهرې څخه څه وخت دلته راغلي او له څه وخته دلته جاسوسي کوي؟

خلت حیران شو چې دا څه وایي هغه ورته وویل مونږ له قاهرې او جاسوسي سره څه کار دی! دا ته څه وایې ورځه خپل کار دې کوه.

ونډسر هغوی ته وویل: تاسې پوهیږي زه څوک یم؟

زماپسې راځئ. دواړه یې له ځان سره ملګری او خپل دفتر ته یې بوتلل.

دواړه یې خانته مخامخ کینول او بیا یې یوې نجلۍ ته اواز وکړ چې د هغې سره حمیرا هم راغله.

ونډسر هغې ته وویل: دا پیژنې؟

هغې خلت ته په غور سره وکتل بیا یې وویل: هو! تاسې کله بیا د خوب څخه رابیدار شوې؟

خلت خپل ملګري ته په حیرانتیا سره وکتل چې دا څه وایې؟

د هغوی دا خبره بالکل له یاده وتلې وه.

بیا نو ونډسر ورته وویل: زه د کاروان بوډا وم او دا هماغه نجلۍ ده چې تاسې ته یې نیشه کوونکې شربت درکړې وو، مونږ تاسې ښه وپیژندلې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاسوسان یاستی حکه مو تاسې نیشه کړی او کاروان مو درځخه خلاص کړ، په هغه کاروان کې پیسې او وسلې وې چې سوډان ته مو رسولې .
اوس ستاسې هر څه رسوا شول نو دی ته اړتیا نشته چې انکار وکړی.
دلته هم تاسې د جاسوسی لپاره راغلی یاستی خو زه یوه خبره درته کوم چې هغه ومنی نو خلاص به شی کنه بیا به ارمان کوی او څه به پلاس نه درځی
تاسی زمونږ سره ملګری شی او یوازی دومره وکړی چې دلته ستاسې څومره کسان دي هغه په ګوتو راکړی بله دا چې زمونږ کسانو ته هلته خبر ورکوی چې هغوی ونه نیول شي. نو زه به مو خلاص کړم او هر څه به درته پریمانه پریمانه درکول کیږي نور مو خوښه .
خلت هغه ته وویل مونږ مسلمانان او د الملک الصالح خوا خوږي او پلویان یو .
وندسر وویل : تاسی ته به معلومه شی چې زه ستاسی سره څه کوم ؟
که ستاسی دا خیال وی په یو وار به مو سر له تنی څخه پری کړم نو ستاسی دا هیله به پوره نشی زه مو هغه تنور ته اچوم چې ایره کیږی نه .
ایا زه ستاسی په باب په شک کې یم چې تاسی جاسوسان یاستی ؟
په تاسی کې دومره عقل نشته چې ما تیرباسی که په تاسی کې دومره عقل وایی نو د نجونو په لاسونوبه درځخه بی عقله نه جوړیدل او د هغه ښکلو او خوانو په جال کې به نه لویدلی .
خلت وویل مونږ دواړه د استخباراتی اداری غړی یو خو دا دروغ دی چې زه او زما ملګری د نجونو د خوانی او ښکلا په جال کې راګیر شوی وو زما یوه کمزوری ده چې څو کاله وړاندی یوه ځلس کلنه پیغله زمونږ د کلی څخه په یو انسان خرڅه شوه ما د هغی د عفت او عصمت ساتلو زیات کوښښ وکړو خو هغوی څو تنه وو د هغو له یو تن څخه می توره واخیستله او په هغه می وار وکړ هغه زخمی شو خو نور را باندی راټول شول زه یې دومره ووهلم چې بی هوښه شوم خو مړ نشوم ځکه زمونږ ټاټوبی وو ژوند یې په خطر کې ولیدلو او هم یې مقصد نشو تر لاسه کولای .
نو زه یې د بی هوښی په حالت کې کور ته بوتللم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونډسر وویل: ته د کوم ځای یې ؟

خلت وویل : زه د دمشق او زما ملګری د بغداد دی نو که په تاسی کې دا همت وی نو راوړندی شی او له مونږ نه توری واخلی ؟

نجلی په خندا ، وویل: زه تا په توره نه وژنم ای ځوانه !

خلت وویل: ما تاسی ته وویل چې ما هغه پیغله خلاصه نه شوه کړای خو د هغی د یاد اغزی زما په زړه کې ننوتلی دی او په هغه شپه چې مونږ دواړو ته دی نجونو وویل چې مونږ دوی راتښتولی یو نو زما سترګو ته هغه مظلومه نجلی راغله چې ما ونه شول کړای د ځناورو څخه یې خلاصه کړم ما د دی په څیر هغه ولیدله او زما په زړه کې چې کوم اغزی وو هغه زما په عقل باندی پرده اچولی وه .

د سندر غاړی رنګ ژیړ شو او په کټ کیناستله .

خلت وویل: ستاسی هیڅ وړاندیز ما ګمراه کولای نشی .

څرنګه چې خلت او ملګری یې د مصر په دښتو کې همدی ونډسر او نجلۍ دوکه کړی وه نو اوس هغوی پدی فکر کې شول چې یو ځل دوی مونږ ته دوکه راکړی او ځان یې راڅخه خلاص کړی، اوس باید ورځنی خامخا انتقام واخلو، مونږ خو هسی هم راګیر شو چې بیا مو په زوږولو زوږولو وژنی ښه دا ده چې همدا اوس دا دواړه ووژنو، که کامیاب شو ښه کنه مرګ خو هسی هم راپسی دی .

د خلت او ملګري سره یې په ملا بند کې برچی وی، ونډسر راپورته شو چې د هغوی څخه توری او برچی واخلی خو خلت د سترګو په رپ کې خپله برچه راوویستله او د ونډسر په ستونی یې کینښودله، بل ملګری یې دروازه بنده کړه او بیا صلیبی نجلی راګیره کړه او خپله برچه یې د هغی په ستونی کینښودله او دواړه یې دیوال ته ودرول ، حمیرا هم ولاړه وه .

خلت خپل ملګری ته وویل: صلیبیان د مارانو پشان دي ، دوی باید همدلته ووژل شی او ځان ورڅخه وژغورو نو په یو ځل دواړو په ونډسر او صلیبی نجلۍ باندی خپلی برچی ورننوستلی او پر مخ یې راوغورځول بیا یې برچی ورته په زړه کې ننویستی او دواړه یې مړه کړل هغوی په سندر

(c) ketabton.com: The Digital Library


غاړي باندی لاس پورته کولو چې هغی وویل : خلت زه ستا حمیرا هم او دا دی هغه نښه ... هغوی دری واړو په ګډه مړی د کټونو لاندی واچول بیاد باندی ولاړل او د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د دربار څخه ووتل ، د خپل مشر کور ته یې ځان ورسولو او هغه ته یې ټوله کیسه بیان کړه هغه سمدستی دری واړه په یو غلی ځای کې پټ کړل او نور کسان یې وګمارل چې حالات وڅاری .

غونډه جوړه شوه خو ونډسر، صلیبی نجلۍ او نوی سندر غاړی حمیرا نه ښکاریده ، تر ډېره وخته هغوی ته څنډ وشو چې راپیدا نشول نو یو چاته وظیفه ورکړل شوه چې هغوی راخبر کړي چې ټول تاسې ته ناست دي. ونډسر ډېر مهم سړی وو او ټولو د هغه درناوی کاوه. لټوونکي چې کله د ونډسر دفتر او خونی ته ورغی ګوری چې په کوټه کې وینی پرتی دي خو څوک نشته، هغه د کټونو لاندی وکتل، هلته د ونډسر او صلیبی نجلی مړی پراته وو نو صلیبی سلا کارانو او آفسرانو ته یې خبر ورکړ هغوی په منډه راغلل، د ونډ سر په زړه کې برچه ښښتی او مړ شوی وه هر یو د بل څخه پوښتنه کوله دا به چا کړی وی دا به چا کړی وی ....

یوی او بلی خواته لټون پیل شو، چا وویل : دا د سلطان صلاح الدین ایوبی کار دی، چا ویل دا د فدایانو کار دی، چا ویل چې بله څه خبره به وی . کله چې د دروازی پیره کوونکی راوغوښتل شول د هغوی درک نه وو نو د ټولو باور راغی چې دا کار همدی دواړو کړیدی. وروسته څرګنده شوه چې نوی سندر غاړی هم نشته ټول حیران وه چې په دربار کې څه ډول دا کار په دومره پټه توګه وشو.

صلیبي جنرال سمدستی حکم وکړ چې د ټول ښار دروازی دی بندی شي، او د ښار ټول کورونه دی له یو سر څخه ولټول شي ځکه چې وژونکی له ښار څخه ندی وتلی او همدلته موجود دی .

تش په نامه مسلمانو چارواکو لاسونه په نامه کیښودل او ویی ویل: همداسی به وشی .

پدی چارواکو کې د حمات د کلا سردار جوردیک هم وه هغه وویل: هیڅوک نشی کولای د ښار ټول کورونه تالاشي کړي ! ځکه د ښار خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان او شریف خلک دی ، هلته با حیا او عزت مندی میرمنی اوسیږي، تاسې یوازی هغه کور تالاشي کړی چې پوره شک مو پری راشي.

صلیبي جنرال وویل: مونږ د چا د حیا او عزت څه پروا لرو؟ وندسر زموږ دېر قیمتی انسان وه د هغه قاتل باید په هر صورت ونیول شي، مونږ د قوم څه پروا لرو!!

جوردیک وویل: تاسی چې زموږ د خلکو پروا نلری نو مونږ ستاسی د یو آفسر څه پروا لرو!

دا خاوره زموږ ده! دلته به زموږ د اصولو سره سم کار او چارې په مخ روانی وی نه دا چې تاسی هر څه د خپلې خوښې لپاره کوی ؟

صلیبي جنرال وویل: دلته مونږ هسی نه یو راغلی، تاسې زموږ د حکم پابند یاستی، هر څه چې مونږ وایو هغه به منی، دلته تاسې مونږ د همدی لپاره راغوښتی یو چې ستاسې کارونه برابر کړو! داسې چې زموږ کسان وژل کیږي بیا مونږ حوصله نلرو.

جوردیک څه وویل غوښتل خو الملک الصالح خوله خلاصه کړه او جوردیک ته یې وویل: دا زموږ دوستان دی ! زموږ د کومک لپاره راغلی ! که د دوی مرسته نه وی نو مونږ یوه ورځ هم نشو پاتی کیدی، ته باید د میلمنو او دربار په آدابو پوه شی .

جوردیک وویل: میلمه باید د کور دعوه ونکړی، میلمه خپل ځای لری، دوی نشی کولای د یو سړی د مرګ په خاطر ټول ښار تالاشی کړی، که داسې وشول د ټول ښار خلک به ستا مخالف شی حال دا چې مونږ دی ښاری خلکو ته اړتیا لرو.

الملک الصالح چاته اشاره وکړه چې جوردیک له دربار څخه د باندی وباسی .

صلیبي جنرال وویل : داسې معلومیږي چې دا سړی د سلطان صلاح الدین ایوبی پلوی دی څکه داسې تیزی خبری کوی خو اوس مونږ اړ یو او هغه نشو خفه کولای تاسې هغه اوس دلاسه کړی بیا به ورسره ګورو.

جوردیک بیا دربار ته راوغوښتل شو او هغه یې دلاسه کړ چې خیر ستا په خوښه به کار وکړو خو د قاتل لټون ضروری دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوردیک وویل: دا سمه ده خو د ټولو خلکو لټون غلط دی .

خلت د خپلو ملګرو سره په پټ ځای کې اوسیده، دری څلور ورځی وروسته د یو مړی او جنازی په پلمه هغوی د ښار څخه هدیری ته په بدل شکل کې ووتل او بیا د هماغه ځای څخه په اسونو سپاره شول او مخ په دمشق روان شول .

* **

دری څلور ورځی ورسته جوردیک د خپلی کلا حمات په لوری روان شو خپل باډی ګارډان او ساتونکی ورسره وه، په لاره کې غونډۍ او کمرو نه وه چې کله جوردیک د هغه ځای څخه تیریده نو دوه غشی راغلل او د آس په سرولګیدل ، دوه نور بیا راغلل او د آسپ په شا ونښتل، آس کاواکه شو ، جوردیک سمدستی ورڅخه ټوپ کړ او د کمر شاته پټ شو، ساتونکي یوی او بلی خواته خپاره شول ترڅو غشی ویشتونکی پیدا کړی خو هیڅ درک معلوم نشو.

پدی وخت کې جوردیک له کمر څخه په پورته کیدلو کې دری نقاب اچوونکی ولیدل نو خپلو کسانو ته یې وویل چې هغوی محاصره کړی ، د هغه باډی ګارډان هغوی په اسونو سپاره ونیول چې د یو سره نه غشی او نه هم لینده وه .

جوردیک وویل: غشی او لیندی مو څه کړل ؟

یو نقاب اچونکی وویل : مونږ سره یوازی توری دی !

جوردیک په ډیر تحمل سره وویل : ستاسی څلور واړه غشی خطا شول او تاسی ونیول شوی بیا هم دروغ وایی .

یو په حیرانی سره وویل : مونږ مسافر یو په خپله لاره روان وو چې ستاسی کسانو ونیولو او وایی چې تاسی زمونږ مشر په غشو وویشته !

جوردیک په خندا شو او نقاب اچونکی ته یې وویل : زه تاسی خپل دښمنان نه ګنم او که داسی وایی نو اوس به ستاسی سرونه له تنو څخه جدا وای خو دومره راته ووایی چې تاسی زما د مرګ پسی چا رالیږلی یاست ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه نقاب چونکو د الله تعالی په ذات قسم وخوړلوچې مونږ د هیڅ نه خبر نه یو او دریم چپ وو .

جوردیک وویل: خپل ځانونه په عذاب کې مه اچوی ، مرګ ته دعوت مه ورکوی او زما د پوښتنی د ځواب په راکولو سره سم تاسی ازادم

نقاب اچونکی بیا هم ځواب ور نه کړ .

جوردیک خپل کسانو ته وویل : توری ورځخه واخلی او ددوی نقابونه لری کړی .

دوه نقاب اچونکو خپل نقابونه لری کړل توری یې د پوښه راوویستلی دریم نقاب اچونکې ددوی تر شا شو د هغه سره توره نه وه .

جوردیک په خندا شو وی ویل: ایا تاسی د دومره کسانو سره مقابله کولای شی په داسی حال کې چې د دریم سره توره نشته خو زه یوه موقع نوره هم درکوم او خپلو کسانو ته نه وایم چې تاسی ووژنی ؟

یو نقاب اچونکی وویل : بیا هم تاسی ته وایو چې مونږ غشی په لاس کې هم نه دی اخیستلی .

د ساتونکو قوماندان ددوی تر شا ولاړ وو راوړاندی شو او په ډیر تلوار یې د یو ځخه نقاب لری کړ نو د نقاب په لری کیدلو سره ټول حیران شول چې یوه ښکلی نجلی یې ولیدله .

جوردیک وویل : دا زما خوا ته راولی .

دواړو نقاب اچونکو په تلوار ټوپ کړل او د ساتونکو په سینو باندی یې توری کیښودلی وی ویل ترځو چې زموږ خبره مو پوره نه وی اوریدلی دی ته لاس نشی وروړی .

جوردیک خپل کسانو ته د وروسته کیدلو اشاره وکړه بیا یې نقاب اچونکو ته وویل : تاسی ما ته څه خبره کول غوړای ؟

خبره ښکاره او معلومه ده چې تاسی اجرتی قاتلان یاست او دا نجلی تاسی ته په انعام کې درکړای شوی ده

نقاب اچونکی وویل : دا دواړه خبری له سره غلطی دی او حقیقت دا دی چې د یو صلیبی منصبدار او یوی صلیبی جاسوسی نجلی وژل کوم جرم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی دا زمونږ بد قسمتی ده چې په لاری کې تاسی ونیولو خو په دی ډیر خوښ یو چې خپل ایمانی مسئولیت مو ادا کړ دا نجلی مسلمانه ده ،مظلومه ده او هغه مونږ د صلیبیانو د منګلو څخه ژغورلی ده او دمشق ته یې له ځان سره بیایو .

جوردیک وویل : ایا ونډسر او صلیبی نجلی تاسی وژلی دی ؟

نقاب اچونکی وویل : هو مونږ دواړو !

جوردیک وویل : ایا تاسی زه له دی امله په غشو نښنه کړم چې د سلطان صلاح الدین ایوبی دښمن یم .

یو نقاب اچونکی وویل : مونږ تاسی ښه پیژنو ستاسی نوم جوردیک او د حمات د قلعه حکمران یې او د سلطان صلاح الدین ایوبی دښمن خو ستا وژلو ته ضررورت نشته ځکه الله تعالی زمونږ سره دی او د هغه په مرسته به ډیر زر انشاء الله تاسی مونږ ته په ګونډو شی او بیا به د بند شپی ورځی مونږ سره تیروی !

سلطان صلاح الدین ایوبی حسن بن سبا او شیخ سنان نه دی ، هغه خلک میدان ته د جګړی لپاره رابلی د ونډسر او صلیبی نجلی وژل زمونږ شخصی کار وو فعل او د حالاتو غوښتنه وه ، دا د سلطان صلاح الدین ایوبی حکم نه دی - بیا یې اس ته وکتل چې وراندی مړ پروت وو دوه غشی یې په تندی او دوه په اړخ باندی لږیدلی وو جوردیک ته یې مخ کړ وی ویل ، مونږ یو ته غشی او لینده راکړی او په تاسی کې تکړه سپور دی په اس باندی پښه واړوی څرنګه یې چې زغلولی شی وه دی زغلوی ښی او کیڼ لور ته دی هم شی مونږ یې په غشی ولو که په لومړی وار زخمی یا مړ نه شو نو بیا زمونږ سرونه د تن څخه جدا کړی دا زمونږ عمل نه دی .

جوردیک وویل : تاسی د پوځ کسان یاست ؟

نقاب اچونکی وویل : تا خپل اصلیت هیر کړی ! ایا ته د اسلام د سپیڅلی دین سرښندونکی نه وی ؟ د قلعه واکمنی ستا دماغ خراب کړ اود لوړی رتبی د حاصلو په خاطر دی له صلیبیانو سره دوستی شروع کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دومره انسان نه یې چې ستاسې وژولو ضرورت ته اړتیا وی د خپلې لوی سزا لپاره نور څو شپې ورځی به انشاء الله ژوند یې ته به وژل کیږې خو د صلیبیانو په لاس .

لومړی نقاب اچونکی وویل : دی نجلی ته ښه وګوره دا هغه سندر غاړی وه چې تاسی او صلیبیانو د هغی له اواز څخه د شرابو په نشه کې خوند اخیستلو او پدی نه شرمیدلئ چې دا ستا سی مسلمانه خور ده !

نجلی وویل : زه یوه مسلمانه وم چې د صلیبیانو په محفلونو کې ونڅول شوم او زما د بدن سره لوبی وکړای شوی .

تا سی دومره بی غیرته یاست چې د خپلو لورګانو او خویندو بی عزتی او بی عصمتی تر اوسه هم راوینښ نه کړی .

ای جوردیکه ! ما د صلیبیانو چارواکو سره اته کاله تیر کړل خو اوس تاسی دلته رابللی او خپل دوستان یې ګنی .

جوردیک چپ وو او د هغه کسان حیران وه چې دومره زړه ورسردار دا خبری څرنګه زغمی .... هغه په سوچ کې پریووت او په یاد یې شوه چې د ریمانډ د پوځی استازی سره یې په دی مسئله خبری اتری ترخې شوی چې د ټولو مسلمانانو کورونه دی و لټولی شی نو د ځان سره یې وویل کیدای شی چې غشی ویشتونکې هم د صلیبیانو کسان وی بیا یې په نرمه نقاب اچونکی ته وویل : زه تاسی له ځان سره خپلی قلعه ته بیایم .

نقاب اچونکی وویل : ښه نه ده چې دا فیصله دلته وشی څکه بیا به تاسی ته د ښار څخه د مړو راویستلو تکلیف وی .

جوردیک وویل : تاسی په ما اعتماد وکړی او خپل توری له ځانونو سره وساتی ستاسی تګ به هلته د درنو میلمنو په څیر وی .

* * *

هغوی د غرنی سیمی څخه په وتلو وه چې د اسونو ترپا یې واوریدله چې په تلوار سره د حلب په لور روان و او د هغوی غشی او لیندی ښکاره معلومیدلی ټولو خپلو اسونو ته پونده ورکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقاب اچونکی وویل : زه فکر کوم دا هغه کسان دي چې ستاسې د وژلو کوښښ يې کولو که پرماباور کوی نو ماته غشی او لينده راکړی انشاء الله چې يو قدم به هم وړاندی لاړ نشي .

جوردیک خپل یو کس ته وویل : غشی او لینده ورکړه نقاب اچونکی لږ څنډ وروسته یو په نښنه کړ او په یو وار سره يې د اس څخه راوغورځولو بیا یي خپل اس د هغه بل ملګری ته وروړسولو او په توره يې لاس ور پریکړ اس بی واکه شو او هغه په ځمکه را پریوت نو ساتونکو ونیولو ورته يې وویل که ژوند غواړی نو ووايه چې چا رالیږلی یاست ؟

هغوی وویل : مونږ دواړو ته د ریماند پوځی استازی د دوه مسلمانو چاروکو په موجوديت کې وویل چې د جمعی په ورځ سهار وختی جوردیک روانیږی د ماښام څخه مخکې به هلته رسیږی تاسی به د یو کمر تر شا ورباندی د غشو ګذوارونه کوی او هغه به ووژنی بیا به حلب ته راشی ستاسی د هیلی پورته انعام به درکړای شی خو زمونږ نښه خطاء شوه .

بیا ټول د حمات په لور روان شول ، جوردیک د خلت څخه پوښتنه وکړه د دومره ځارنی سره تاسی څرنګه د ښار څخه راووتلئ .

خلت وویل : خپل ملګری مو د حال څخه خبر کړل د ټولو په مشوره مو یو بت ته کفن ورکړو د نوی زیږیدونکی ماشوم په قد بیا د کور څخه د هدیری په لور چې د ښار څخه بیرون وه د جنازی تر شا راووتلو زمونږ یو ملګری چې په پوځ کې منصبدار دی اسونو راته برابر کړل .

هغه مو خاورو ته وسپارلو مونږ په اسونو سپاره د خپل ټاټوبی لاره مو ونیوله چې په لاره کې مو ستاسی سره لیدل وشول .

خپلی قلعه ته نیمه شپه ورسیدل او د معززو میلمنو په څیر يې ځای په ځای کړل .

سهار د لمانځه څخه وروسته جوردیک خلت ته وویل : ما خپل دوست وګنه اودا راته ووایه چې سلطان صلاح الدین ایوبی څه کوی ؟

تا ته به دا معلومه وی چې هغه ولی د الملک الصالح ځارنه ونه کړه ؟

خلت وویل : که ما ته معلوم هم وی نه غواړم چې تاسی ته يې ووایم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



جورديک وویل : د سلطان صلاح الدين ايوبی سره زما شخصي دښمنی وه او هغه هم زما غلطی وه ما ته ددی احساس دښمنانو راکړ، ما د صليبيانو نيت ښه معلوم کړ له يو لوری زما قوم او پوځ استعمالوی او د بل لوری زما د وژلو کوښښ کوی .

ما ته د سلطان نورالدين زنگی شهيد خبره ياده شوله هغوی وويل : دا جگړه د هلال او صليب ده دا د کوم عيسائی بادشاه او مسلمان واکمن په خلاف نه ده .

سلطان صلاح الدين ايوبی به ويل : تر کوم وخت پوری چې يو مسلمان هم ژوندی وی صليبيان به د هغوی د وژلو کوښښ کوئ بی دينه هيڅکله د مسلمان دوست نشی کيدلای که هغوی ته د دوستی لاس وراوږد کړی نو زهر درکوی .

خلت وويل : زه يو عام سرتيری يم او ددی جرات کول ما ته نه دی پکار چې د يو واکمن اراده څه ده ؟ خو د يو مسلمان په حيثيت دا حق ځان ته ورکوم چې کوم مسلمان بی لاری شی هغه ته سمه لاره وښايم .

جورديک وويل : زه تا ته ليکلی پيغام نشم درکولای خو زما له خوا ورته ووايه چې د حمات قلعه خپله وبولی او هر وخت چې ارتياوی د هغې څخه گټه اخيستلای شي او که په دښمن باندی يرغل کوی نو د حمات په لاری راشه زه ستاسی تود هر کلی کوم او د پخوانی دوستی حق به اداء کوم .

بله ورځ جورديک ، خلت د هغه ملگرې او حميرا د ډالۍ سره ښه په عزت دمشق ته رخصت کړل .

* * *

خلت په دمشق کې سلطان صلاح الدين ايوبی ته د حلب او حمات ټول راپورونه او د جورديک پيغام ورکړ، پدی سره هغه ډير خوشحاله شو خو په زړه کې يې شک وو داسې نه چې مونږ ته دوکه راکړی پداسې خلکو باور کول هم اسانه کار نه دی څکه چا چې د صليبيانو په کاسه خوراک او څښاک کړی وي بيا د هغو څخه د وطن، ملت او دين د خدمت کولو اميد او هيله ساتل هسی خيال دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ځخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ټول مهم پوځي چارواکي او سالاران راوغوښتل او هغوی ته يې خپل جنګي پلان وړاندې کړ چې باید مونږ ګام په ګام مخکې ولاړ شو، لومړی باید حمات او بیا حمص تر لاسه کړو او د دې دواړو ځایونو څخه د خپل مرکز او قرار ګاه په توګه کار اخلو ځکه چې ریمانډ هم د حملې او برید اراده لري نو باید د هغه مقابلې ته هم چمتو اوسو. هغه خپل کماندویان د ریمانډ په لارو کې خپاره کړل تر څو د هغه مخه ونیسي او هم د هغه خبر راوړي.

خپل پوځ يې چې د یخ او واورې په مقابل کې روږلي وو په څو ګروپونو تقسیم کړ او بیا يې ټولو چارواکو ته اړینې لارښوونې وکړې.

د دسمبر د شپږم او اوم په منځنۍ شپه کې د سلطان صلاح الدین ایوبی لومړۍ ډله ( مقدمه الجیش ) د دمشق ځخه د شپې په تیاره کې حرکت وکړ ، د هغې ځخه مخکې په اطرافي جامو کې ډېر کسان استول شوي وه چې د لارې په هکله معلومات لاس ته راوړي او که څه خبره کیږي نو باید شاته احوال ورکړي.

د لومړنۍ پوځ څخه وروسته ټول لښکر حرکت وکړ او د حمات په لوري وخوځیدل، کله چې حمات ته ورسیدل نو جوردیک ورته مخې ته راغی او کلا يې ورته تسلیم کړه. سلطان صلاح الدین ایوبی هلته خپل څه کسان ځای پر ځای او سامان يې خوندي وساتلو. هغه د جوردیک پوځ هم د ځان سره یو ځای او په ټول لښکر کې يې تقسیم کړ وروسته د حمص په لوري وخوځیدل.

ځرنګه چې هوا ډېره سړه وه نو هیچا هم فکر نه کاوه چې دا وخت به حمله کیږي ، هر څوک په خپل خپل ځای کې ناست وه.

کله چې مسلمانان حمص ته ورسیدل نو هیڅوک هم پرې خبر نه وه، هغوی کلا محاصره کړه او د اور غورځوونکي غونډارو غورځول يې پیل کړل چې د کلا په منځ کې يې اور ولګیده.

سهار په کلا باندې سپین بیرغ پورته شو او کلا تسلیم شوه، ځرنګه چې هغوی مقابله کړې وه نو د کلا پوځ او چارواکي بل ځای ته واستول شول ځکه چې پر هغوی باور نشو کیدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی د حلب د پوځی کلا په لوری وخوځیده چې د ښار څخه دوه دری میله لری پرته وه، هلته هم دوی پداسې حال کې ورسیدل چې هیڅوک پری خبر نشول او کلا محاصره شوه ، د کلا دروازی په اور اچوونکو مواد باندی وویشتل شوی او بیا آور ور واچول شو.

همدا رنګه په کلا باندی آور غورځوونکی غونډاری وویشتل شول چې د دی سره د کلا پوځیانو وسله پر ځمکه کیښودله او تسلیم شول، دوي هم سمتدستی دمشق ته ورسول شول ځکه چې پر دوی باور نه کیده . د حلب د کلا څخه د حلب ښار ته احوال رسیدلی وه چې سلطان صلاح الدین ایوبی حمات ، حمص او د حلب کلاګانی ونیولی او د ښار په لوری را روان دی .

هغوی سمدستی ریمانډ ته احوال ورکړ چې سلطان صلاح الدین ایوبی د حلب د ښار په لوری را روان دی تاسې د خپل پوځ سره زموږ مرستی ته راشی .

د حلب چاړواکو څه پوځ د ښار په کلا کې او څه بیرون په ژورو کې ځای پر ځای کړ ترڅو د سلطان صلاح الدین ایوبی مخه ونیسی .

سلطان صلاح الدین ایوبی فکر کاوه چې د حلب ښار به خبر نه وي خو کله چې د هغه پوځ حرکت وکړ نو استخبارتی غړو سلطان صلاح الدین ایوبی ته خبر ورکړ چې په لاره کې صلیبی پوځیان په لوړو ژورو کندو کې ځای پر ځای شوی ، نو هغه حکم وکړ چې لښکر دی ځای پر ځای تم شي. ترڅو د راتلوونکی لپاره نوی پلان جوړ شي .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل کماندویان راوغوښتل او هغوی یې ته وویل چې تاسې به د شپې په حلبی پوځ داسی حمله کوی چې خیمی یې وسوځی ، آسان او اوښان یې ختم شی او کله چې بی نظمه شي نو بیا پری ناڅاپی بریدونه وکړی .

مسلمانوکماندویانو د شپی په حلبی پوځ باندی داسې ناڅاپی حمله وکړه چې د هغوی ټول نظم یې ګډ وډ کړ او هر لوری ته تیت پرک شول بیا یې په بی نظمی کې پری یرغل وکړ او هغوی یې تر ښاره پوری وځغلول .

سلطان صلاح الدین ایوبی ښار محاصره کړ خو د ښار لخوا څخه زیات مقاومت کیده. د ښار څخه به پوځیان راوتل او په مسلمان پوځ یې حملی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی. وروسته معلومه شوه چې صلیبیانو او حلبي چارواکو خلکو ته ویلي وه چې سلطان صلاح الدین ایوبي بې لارې شوی او د نوي دین بنسټ یې ایښودلی دی چې ورسره خلک ټول مرتدان دي نو ددې مرتدانو په وړاندې ودریږۍ بري به مو په برخه وي.

په همدې وخت کې سلطان صلاح الدین ایوبي ته خبر راورسیده چې د ریمانډ لښکر د حلب لورې ته را روان دی، هغه سمدستي کماندویانو ته وظیفه ورکړه چې د ریمانډ لاره ونیسي، هغوی د ریمانډ د پوځ شا لورې ته راتاو شول.

ریمانډ ښه بې غمه مخ په حلب را روان وه چې کله د غونډیو او کمرونو منځ ته راننوت نو د غشو باران پرې پیل شو. هغه سمدستي شاته ولاړ او په یو میدان کې یې واړول، د تریپولي نه ورته خو ورځې هیڅ احوال رانغی نو څه کسان یې واستول، هغوی احوال راوړ چې په لاره کې د سلطان ایوبي پوځ پروت دی.

اصلاً د ریمانډ مطلب د مسلمانانو پخپلو کې سره اچول وه او یوازې خپل لښکر یې الملک الصالح او نورو ته ور څرګند کړی چې زه خو ستاسې د کومک لپاره راغلم، هغه مقصد یې هم پوره شو.

ریمانډ څو ورځې وروسته په بله لاره تریپولي ته ولاړ او بیا یې د هغه ځای څخه حلب ته دا پیغام واستولو چې زموږ اوستاسې پوځي تړون ختم شو ځکه چې ما د حلب د محاصرې د خلاصون ژمنه کړې وه او هغه ژمنه ما پوره کړه او سلطان صلاح الدین ایوبي مې ستاسي څخه لرې کړ، زماسلا کاران او نور پوځي آفسران بیرته تریپولي ته راواستوی.

کله چې حلب ته دا پیغام ورسیده هغوی ډېر خفه او ورخطاء شول چې دوی خو زموږ څخه ډېر مال هم واخیست او هیڅ ډول مرسته یې راسره ونکړه. جګړه خو موږ خپله وکړه نو بیا دا دومره مال او دولت د څه لپاره موږ هغوی ته ورکړ.

د دې څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي د الرستان د غرونو په لړۍ کې واړول، پدې وخت کې یوه نهه کسیزه ډله د باطني او سبائي فدایانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلب ته راغلی وه چې د دینی مذهبی مشرانو په خیر او شان د سلطان صلاح الدین ایوبی سره وګوري او کله چې وخت مناسب پیدا کړی نو هغه ووژنی .

دا تولی پیښی د جنوری په میاشت (۱۱۷۵) میلادی کال کې شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کله چې خدای ځمکې ته راښکته شو

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د مصر څخه شام ته ولاړ او هلته د صلیبي پلانونو په خلاف بوخت شو نو صلیبیانو په مصر او قاهره کې ورانکاری پیل کړه ترڅو سلطان صلاح الدین ایوبی د هغوی په خلاف وخت د جګړې او جنګ پیدا نکړي او په همدې جنجالونو کې یې ټول ځواک ختم شي.

مخکې مو وویل چې سلطان صلاح الدین ایوبی د ۱۱۷۴- ۱۱۷۵ میلادی کلنو په منځ کې چې هوا سړه او یخه وه په شام کې د صلیبیانو او د هغوی د لاس پوڅو او ګوډاګیانو په خلاف خپل تصفیوی عملیات پیل کړل چې په پای کې د حمات، حمص او حلب کلا ګانې ونیولې شوې او د ریمانډ لښکر چې راورسیده مجبور ؤ چې په شا ولاړ شي ، د جنوری د میاشتې په ورځو کې هغه د الرستان په غرنۍ لړۍ کې واړول او د راتلوونکې لپاره یې پلانونه جوړول .

څرنګه چې په مصر کې د سلطان صلاح الدین ایوبی ورور ملک العادل آمیر وو نو صلیبیانو غوښتل مصر په مکمل ډول د هغه له لاسه وباسي او هلته د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي. په همدې خاطر یې هلته خپلو ورانکارو ګروپونو ته بیا حکم وکړ چې خپل فعالیتونه زیات او د سلطان صلاح الدین ایوبی په سالارانو او چارواکو کې خپل ګوډا ګیان پیدا کړي ترڅو د هغوی له لارې مصر تر خپل واک لاندې راولي .

صلیبیانو د مصر په خلاف د سوډان او حبشې څخه هم کار اخیستلو، د حبشې خلک ډېر غریب وه نو هغوی په کم خرڅ کولای شول ښه زیات کسان خپل پلویان کړي، همدا رنګه په سوډان کې هغوی زیات پوځیان او ورانکاری روزلې وه تر څو په راتلوونکې وخت کې ورڅخه کار واخلي .

سوډانیانو دوه ځلې د سلطان صلاح الدین ایوبی سره ټکر کړی وو خو دواړه ځلې ناکام شول ، دا ځل یې غوښتل د مصر د کوم سالار او سوډانی لښکر څخه کار واخلي او په پټه توګه قاهره خپله کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سلطان صلاح الدین ایوبی په پوځ کې یو سالار چې د سرحدونو او پولو د ساتلو مسئول او قوماندان وه د هغه پلار مصری خو مور یې سوډانی وه. هغه غوښتل چې مصر د سوډان تر لاس لاندی راشي ، صلیبیان د ده د دی ذهن او فکر څخه خبر شول نو سمدستی یې د هغه سره اړیکی ونیولی او د ده اراده یې په هوډ او قصد باندی بدله کړه او دا یې ورته وویل چې مونږ ستا سره هر ډول مرستی ته چمتو یو او که دا کار کامیاب شو نو ته به د مصر د نیمایی برخی بادشاه او واکمن شی .

وروسته لدی د نوموړی قوماندان سره د هغوی اړیکی ټینکی او پاخه شول ، هغه ته په تحفه کې د سرو زرو سکی، وسلی او یوه ښایسته او حسینه پیغله ورکړل شوه. هغه ته دا مسئولیت وسپارل شو چې د مصر په پوځ او اداری چارواکو کې خپل پلویان پیدا کړی تر څو په راتلوونکی کې د همدوی څخه ګټه واخلي.

نوموړی سالار القند نومیده چې د سلطان صلاح الدین ایوبی باوری سړی وه، مخکې چې کله سوډانیانو په مصر حمله کړی وه القند په هغې کې ښه نوم پیدا کړی او خپل مصری سرحدات یې داسې خوندی کړی وه چې مرغی ورڅخه هم نشوه تیریدای. په همدی خاطر سلطان صلاح الدین ایوبی او ملک العادل په هغه باندی باور کاوه، علی بن سفیان هم هغه پیژندلو چې شکمن سړی ندی ځکه په څرګنده د هغه څخه هیڅ داسې کوم کار نه څرګندیده چې د چا پری شک راشي خو هر څه په پټه روان وه.

***

د قاهری او سوډان په منځ کې په نیل سیند باندی اوس یو لوی بند جوړ شویدی چې داسوان په نامه سره یادیږي. دا ځای پخوا غرونه، غونډی او کمرونه وه چې لوړی او ژوری یې لرلی. پدی غرونو کې د مصر فرعونیانو بتان د ډبرو څخه تراشلی وه ان تر دی چې د غرونو لوړې او څوکې یې داسی جوړی کړی وی چې بت ورڅخه جوړ شوی وو. پدی غرونو کې د فرعونیانو د وخت لوی او مشهور بت ابوسمبل هم وو چې په مصر کې تر ټولو لوی او غټ دیوتا وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعونیانو پدی غرونو کې ځانته غارونه، تونلونه او سمڅې جوړی کړی وی چې په هغې کې به زرګونو کسان ځایدل، د همدی غرونواړخ او څنګ ته د نیل دریاب بهیدلو چې د سوډان څخه به کښتۍ په نیل کې راتلی او د همدی تنګی څخه به مصر ته ننوتلی.

سلطان صلاح الدین ایوبی د پولو او سرحداتو د ساتنی لپاره پوستی جوړ کړی وی او هلته به تل پوځیان اوسیدل چې دا پوځیان به شپږ شپږ میاشتی وروسته بدلیدل ، د دی ټولو سرحدی ځواکونو مشر سالار القند وو. کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د شام په لوری تللو نو د هغه دی خبری ته پام نشو چې سرحدی پوځیان بدل کړی او نوی کسان هلته واستوی .

ملک العادل د القند څخه وپوښتل چې ایا د کسانو بدلولو ته اړتیا شته ؟

هغه ورته ووېل: هیڅ اړتیا نشته کار ښه په مخ روان دی،دا کسان ښه بلد شویدی نو ملک العادل هم ډاډه شو.

څرنګه چې صلیبیانو د القند سره پلان جوړ کړی وو چې هغه به د خپل سوډانی او حبشی پوځ په کومک سره مصر او قاهره نیسی ، کله چې د هغوی ټول کارونه او پلانونه بشپړ شول او د حملی وخت راغی نو دی اړتیاوه چې اوس د کومی لاری سوډانی حبشی پوځ مصر ته داخل کړی ترڅو په قاهره باندی ناڅاپي برید او هغه ونیسی .

هغوی همدا یوه لاره لرله چې د جنوبیه وچه او د نیل دریاب وه چې په کښتیو کې کسان راولی. په وچه او ساحل دواړو لاری باندی پوځیان پراته او تل تر ځارنی لاندی وه. په وچه هر ځای کې پوستی وی ، د ساحل په غاړه هم پوستی وی او هم تل ګزمه او پیره کیدله ترڅو په کښتیو کې څوک مصر ته پټ داخل نشی .

صلیبیانو د دی ځای د خپلولو لپاره دوه ورانکاری ډلی هلته ولیږلی چې یوه ډله د سوداګرو په شکل او بله د موسیقی د هنرمندانو په شکل کې وه، د دواړو سره ښکلی او ښایسته روزل شوی نجونی وی .

د موسیقی د هنرمندانو په ډله کې یې څو نڅا کوونکی او دوه سندر غاړی په مزدوری راوستی وی چې هغوی په مختلفو کلو او پوستو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځخه کار واخلي ، سوداګرو اصلي روزل شوی صلیبي نجونی له ځان سره ملګری کړی وی.

هغوی د فرعونیانو د غونډیو او غرونو سره نژدی په یوه شین ځای کې واړول چې ښکلی شین چمن او شنی ونی یې لرلی، هلته هغوی خیمی ودرولی او په چمن کې یې فرشونه خپاره کړل، هغوی به هلته د سهار له مخې کبان او ماهیان نیول بیا یې په مختلفو ډولونو پخول او خوړل یې ، د دوی سره نژدی یوه پوځی پوسته وه چې د ساحل ساتنه او ګزمه یې کوله .

یو ځلی دوه پوځیان په خپلو آسونو د نیل غاړی ته راغلل چې ساحل وڅاری ګوری چې څلور ښکلی او ښایسته نجونی په اوبو کې لامبی، هغوی دواړه وویریدل چې دا پیریان یا بد روحونه دي چې دلته لامبی کنه پدی بیابان او ریښنه کې پیغلی نجونی څخه کوي ؟ هغوی چې بل لوری ته وکتل نو څو نارینه په چمن کې ناست وه او خبری یې کولی ، دوی نور هم ورخطا شول خو د هغو څخه یو سړی ورته اواز وکړ چې تاسې مه ویریږی مونږ د قاهری سوداګران یو خپل مالونه مو پلورلی اوس دلته د څه وخت لپاره دسیال کولو په خاطر راغلی یو.

دواړه پېره کوونکی پوځیان هلته ورغلل او سوداګرو ورته غوړه مالی او درناوی وکړ بیا یې د مصری پوځیانو ستاینی پیل کړی او ډېر صفتونه یې ورته وکړل چې پدی سره پوځیان پوره ډاډه شول، څلور نجونر چې په اوبو کې لمبل هغوی هم راغلی او لږ شاته کیناستی خو دواړو پوځیانو ته یې د سترګو په کنجونو کې کتل، پوځیان چې د ډیر وخت راهیسی پدی بیابانونو کې ګرځیدلی وه د دوی په لیدلو ډېر خوشحاله شول. څکه د هغوی ورسره ښه ساعت تیر شو، وروسته یو سړی تازه ماهیان راوړل او هغه نجونو زر زریاخه کړل او ټولو په ګډه وخوړل په پوځیانو باندی یې خاص او خوندور شربت هم وڅښلو.

د دی څخه وروسته دوه نجونو د پوځیانو سره پټی پټی خبری پیل کړی او لږ لږ له نورو څخه جدا شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر يوى خپل پوځى ملګرى ته وويل: پدى ډله کې چې کوم بوډا سړى دى هغه زماخاوند دى، زه نه غواړم د هغه سره واوسيږم، که ته ماته پناه راکولاى شي او ما ساتلى شي نو زه هغه وژنم او ستاسې سره واده کوم .

پوځى وويل : ستا په خبر ښکلى ته به څوک پناه نه ورکوى .

نجلى وويل : دلته مونږ څو شپې يو زه به د وخت په ميندلو خپل بوډا خاوند ووژنم او ستا خوا ته به درشم خو ته چې کله ګزمې ته راځى نو زما سره ضرور له نورو پټ ګوره .

دواړه پوځيان نجونو پخپل جال کې ونښلول او د وظيفى څخه يې بى پروا کړل، هغوى به هره شپه راتلل او د خپلو ملګرو نجونو سره به يې د غونډيو په يو کونج کې پټ کتل او هلته به سره ناست وه، ګزمه او پهره پاتې شوه .

بلى خواته د موسيقى هنرمندانو د وچى په لاره باندى واړول ، هلته ځاى پر ځاى پوستى وى هغوى به د پوځيانو خوا ته ورتلل ، خبرى اترى به يې ورسره کولى او د خبرو په ترڅ کې به يې ورته وويل : مونږ فنکاران او هنرمندان يو، تاسې ته به د خپل فن او هنر څرګندونه وکړو.

څرنګه چې پدى وچو دښتو کې هغوى پرته د ګيدړو څخه د بل شي اوازونه نه وه اوريدلى دا ورته لوى شى ښکاره شو چې لږ وخت يې په خوښى سره تير شى .

د شپې به هغوى راتلل او د پوستو څخه د باندى په ميدان کې به يې خپله سازنده ګى کوله او تر نيمو شپو پورى به لګيا وه. ټول پوځيان به د هغوى په شا او خوا راټول او خپله وظيفه يې شاته غورځولى وه. کله چې دواړه ګروپونه سوداګر ، فنکاران او هنرمندان پوه شول چې اوس هغوى د پوستو کسان او د ګزمو کسان په خپل جال کې راوستى نو خبر يې ورکړ چې سوډانى او حبشى پوځيان دى د وسلو او سامان سره را روان شي او د شپې په هغه وخت کې دى پداسى حالت کې راځي چې کله ساز ښه ګرم وي څوک به ورته متوجې نه وي او خپل کار به وړاندى بيايي .

په همدى ترتيب په نيل کې هم دوه درى کښتى هره شپه راتللى او د غونډيو او غرونو په منځ کې خالى کيدى او بيرته تللى. هغه کسان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځمه او پېره يې کوله هغوی د دوارو ورانکارو ګروپونو لخوا د ښاغلو په حال کې ښتي وه .

* * *

يو ځل قوماندان چې د ډېر عمر خاوند وه د يو نجلۍ ځخه چې په ټولو کې ښکلې وه د شپې تيرولو غوښتنه وکړه .

نو ډمه چې تل يې په خوله خندا وه ورسره خيمې ته ولاړه او يو لوری ته کيناستله .

قوماندان وويل : ما هيڅ کله شراب نه دي څښلي خو تاسی د شرابو ډمې وويل : زما پلار هم هيڅکله شراب نه دي څښلي ويلی فکر کوم ته نوم ولی واخيسته ما خو تاسی ته د شرابو څښل نه دي ويلی فکر کوم ته غواړی چې ما سره شراب دي او لاړه شم تاسی ته يې راوړم او درباندی وی څښم قوماندان په خندا وويل : وايی چې د شرابو څخه پرته ښځه او ښځه پرته د شرابو بی مزی وی ، ما خو تر اوسه د شرابو ذايقه نه ده څښلی او زما غږ د پردۍ ښځې سره نا اشنا دی .

ډمې وويل : زه ستاسی څخه سره او سپين زر نه غواړم زما يوه خبره ومنی زه ستاسی سره ټوله شپه تيروم ... او هغه دا چې په ګناه کې دومره خوند نشته څومره خوند چې د نجلۍ په ناسته کې دی .

ښايی زما خبره به تا ته عجيبه وی او ته به زما خبره هم نه منی خو په دی باندی غور وکړه ستا خيره وايی چې تا نن شپه د لومړی ځل لپاره د لوی ګناه اراده کړی ده ځکه په دی دومره يخنی کې ستاسی په وچولی د خولو سيلاب راوان دی .

قوماندان وويل : ته رښتيا وايی مونږ ته يې چې کله پوځی روزنه راکوله نو په هغه کې يې را ته د ګناهونو څخه د ځان ساتلو طريقه هم راښودلی وه . د بدني او جنګی تربيت سره روحانی او اخلاقی تربيت هم شامل وو نو له دی امله د سلطان صلاح الدين ايوبی يو سرتيری د لسو صليبيانو سره مقابله کولی شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډمی وویل : خو دیوی‌کمزوری نجلی په وړاندی دی د دومره روحانی او اخلاقی روزنی سره سره سلاح وغورځوله .

قوماندان اندیښمن شو بی اختیار یې د خولی ښځه ووتل : زما دا هیڅ امید نه وو چې ته به دلته دا ډول خبری اتری کوی ، ما دا فکر کاوو چې ته به په خپلو نازونو او اداګانو ما لیونی کوی ، ستا په شونډو هغه خندا څه شوله چې زه یې مجبور کړم ترڅو ستا د مشر نه تا په سوال وغواړم او ددی په بدل کې د طبیلی ښځه غوره اسونه ورکړم .

ډمی وویل : خپله توره ، خپل غشی او لینده ، خپله خنجر ... دی ولی ورنکړل ؟

قوماندان وویل : هیڅکه نه ! سرتیری خپله سلاح چاته نه ورکوی .

هغه پورته شو په خیمی کې یې په قدمونو وهلو پیل وکړ بیا یې په غصه وویل : د یوی ډمی د خولی ښځه داسی خبری کول زما نه خوښیږی !

ایا ته په دی کوښښ کې یې چې زه ستا بدن ته لاس درنه وړم !

ډمی وویل : هو ! زه ستا ښځه خپل بدن ساتم !

قوماندان وویل : ایا ته خپل بدن پاک ګنې ؟

ډمی وویل : هیڅکه نه ! زه خپل بدن ناپاک ګڼم نو له دی امله ستاسی د بدن ناپاکی نه غواړم !

قوماندان په دی خبره باندی پوه نشو او ډمی ته یې وکتل

ډمی وویل : هیڅ یوه لور د خپل پلار د جسم نا پاکولو کوښښ نه کوی :

قوماندان په سوړ اوسیلی سره وویل : زه بوډا یم او ته ځوانه ! بیا په خپل ځای کیناست سره یې ټیټ کړ، ډمه پورته شوه او د هغه په غاړه کې یې خپل لاسونه ورواچول وی ویل : دومره مایوسه کیږه مه ! زه هیڅرته نه تښتم زه تا ته دوکه هم نه درکوم ، که ته یوازی د نارینه په شکل کې خوښ یې نو زه یو ډمه فاحشه یم او ځان سره به وایم چې یو نارینه سره می لاره پیدا شوه چې په هغه باندی د الله تعالی لعنت شوی دی .

زه تا د پلار په شکل کې ګورم ، زما خبره واوره بیا دی چې څه زړه غواړی هغه وکړه زما په خوله به همغه مصنوعی خندا وی او جسم به هم !

ایا ستا لور شته ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



! هو ! یوه لور می ده

قوماندان وویل : هو ! یوه لور می ده !

ډمی وویل : د هغی عمر څومره دی ؟

قوماندان وویل : دولس کاله !

ډمی وویل : که ته مړ شی او ستا میرمن د غریبۍ له امله ستا لور په چا خرڅه کړي او بیا زما په شان شی نو ستا روح به په ډې دښتو او غرونو کې چغی نه وهی ؟

قوماندان په رڼو سترګو ورته وکتل او په تندی یې خولی روانی شوی او څاڅکی ، څاڅکی په ځمکی باندی وپروتی .

ډمی وویل : داسی تصور وکړه چې ته مړ شوی یې او ستا لور د یو ګناهګار انسان سره په خیمی کې ناسته او هغه ورته وایی شراب راوړه چې د شرابو څخه پرته د ښځی سره خبری اتری کول بی مزی وی .

قوماندان وویل : ددی ځای څخه ووځه فاحشی ، بدکاری .....!!

ډمی سور اوسلی وکړ وی ویل : که زما پلار ژوندی وای نو ستاسی سره به یې په خیمی کې په لیدلو سره لومړی زه او بیا ته وژلی وای .

قوماندان پورته شو او په قدم وهلو یې پیل وکړ .

ډمی د هغه د ذهنی کیفیت او غصی په پام کې نه نیولو سره وویل : زه د بوډاتوب له امله ستا څخه کرکه نه کوم ما ستا څخه د ډیر عمر انسانانو سره هم شپې تیری کړی دی ....

خو خبره دومره ده چې ستاسی خیره او صورت کټ مټ زما د پلار پشان وه ، ستاسی خیمی ته په راننوتلو لور شوم او څه چې می وویل زما په خیال او خاطر کې هم نه راتلل .

قوماندان هغی ته وکتل په داسی حال کې چې غصه یې سره شوی وه .

ډمی بیا وویل : زه د لس کالو وم چې زما پلار مړ شو ، هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی له راتګ څخه وړاندی په پوځ کې سپاهی وو هغه ما سره ډیر مینه کوله زما مور ځوانه وه او په بی وزلۍ کې یې شپې او ورځی تیرولی زه یې یو کس ته وسپارلم او را ته یې وویل : دا ستا تره دی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ولاړه شه ستا د پلار لیدلو لپاره بیایی دواړه مور او لور په ژړا ژړا سره بیل کړو .

هغه انسان ما ته د ژوندانهٔ هر ډول اسانتیاوی برابر کړی خو زما څخه یې ډمه او سندرغاړی جوړه کړه کله چې زه ځوانه شوم نوما ته د خپل قیمت اندازه وشوه ، هغه قیمت زما جذبات مړه کړل او زه ښکلی تیره شوم خو ستا په لیدلو زما احساسات یو ځل بیا راژوندی شول .

په ژړا ژړا کې یې وویل : داسی را ته معلومیږی چې زما د پلار روح په دی خیمی کې دی .

قوماندان وویل : که ته په رښتیا ډمه یې نو په دی دښتو کې څه کوی ایا هلته داسی انسان نشته چې ستا د قدر وکړی ؟

نجلی وویل : زه په مزدوری ورسره راغلی یم زه دا خلک نه پیژنم او د هغو نجونو له خوا هم ما ته یوازی دومره ویل شوی چې سرحدی پولی ته لاړه شه هلته پوځیان پراته دی او هغوی د خپل هنر په وسیله خوشحاله کړه .

ما دا دنده له دی امله قبوله کړه چې د مسلمانانو د پولې ساتوونکي مجاهدین هم له نږدی څخه وګورم !

دا حقیقت در ته روښانه کول غواړم چې زه یوه دوکه یم د خان لپاره او د نورو لپاره هم !!

بیا ډمه د قوماندان په وړاندی په ګونډو کیناستله او په خپل لاسونو یې د هغه لاس ونیولو د سترګو سره یې ومښولو بیا یې ښکل او قوماندان خپل بل لاس د هغی په سر باندی کیښوده ورته یې وویل : ستا نوم څه دی ؟

ډمی وویل : ما ته خپل بادار برق وایی خو پلار به راته زهره ویله .

قوماندان د مینی او شفقت په ژبه وویل : اوس خپلی خیمی ته ولاړه شه !

زهره وویل : ته ویده شه بیا به زه لاړه شم .

***

شپه تیره شوی وه خو د هنرمندانو دوه تنه په خپلو خیمو کې ویښ وو یو بل ته یې وویل : زمونږ طریقه صحیح نه ده مونږ دی نجونو ته یوازی دا

ویلی دی چې د پوځیانو زړه خوشحاله کړی خو اړین
مقصد مو هم ورته واضح کړی وی .

بل وویل : بنایی دا ډمی د سرو او سپینو په مقابل کې زمونږ راز هغو ته ووایی .

بل وویل : ستاسی خبره سمه ده دی خو کوم هدف ته مو چې راوستلی هغوی یې په ښه طریقه سرته رسوی .

* * *

قوماندان په خپلی خیمی کې په ډاډ سره ویده شو ځکه چې زهرا د ګناه ځنی وساته او په سینه کې یې د پلارولی احساس را ژوندی کړ .

زهرا هم په خپله خیمی کې ویده شوه چې بیا سهار مهال یې دا کلمات په خواږه اواز تر غوږ و شول : الله اکبر الله اکبر ، الله اکبر الله اکبر - اشهدان لا اله الاالله ، اشهدان لا اله الاالله - اشهدان محمدا رسول الله ، اشهدان محمدا رسول الله - حی علی الصلوه حی الصلوه ، حی الفلاح حی الفلاح - الصلوه خیر من النوم، الصلوه خیر من النوم - الله اکبر الله اکبر- لا اله الاالله

- زهرا راویښه شوه او په خپل ځای کیناسته .

په دی کې یو کس راغی ورته یې وویل : ځان تیار کړه ، د خیمی څخه بیرون اوښان ولاړ وو ، کله چې هغوی د خیمی څخه راووتل نو قوماندان د هغه ځای په لور را روان وو کوم چې ټولو په ګډه هلته لمونځ کولو زهرا په مخ ورغله په ژړا ژړا یې ورته وویل : زما په سر لاس کیږده .

قوماندان د هغه په سر باندی لاس کیښود او زهرا یې بل لاس ونیوه او ښکل یې کړ او بیا ورځنی خپلو ملګرو ته لاړه او هلته په اوښانو سپاره او د سیند په لور راون شول بیا هغه ځای ته ورسیدل کوم ځای چې سوداګرو او څلور نجونو خیمی وهلی وی .

په ډیر لږ وخت کې څلور زره حبشی او سوډانی پوځیان او ځنګلی جګړه مار خلک د فرعونیانو غارونو ته سره د پریمانه وسلو راغلل .

* * *

کله چې پوځیان پوره شول نو القند ته یو صلیبی افسر ورغی او ورته ویې ویل : اوس د دی وخت راغلی چې تاسې هلته ولاړ شی او خلکو ته ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګند کړي. هغوی مونږ پدې پلمه راوستي چې تاسې ته هلته خپل خدائ درښیو، مونږ ټول ترتیبات نیولي یوازي ستا تلل اړین دي .

القند هماغه غارونو ته ولاړ. هلته صلیبیانو د ابوسمبل د بت په شا او خوا کې د روښنایي داسې شیشې لګولي وې چې د لرې څخه به په بت پریوتی او هغه به روښانه ښکاریده.

د روښنایي د راتللو لاره او درک نه معلومیده، هغوی به په یوه دره کې اور بل کړ او هغې ته مخامخ به یې لویه شیشه یا جلا لرونکې فلزي تخته کینښودله چې رڼا به یې منعکسوله. هغه رڼا به د شیشي پوسیله په بت پریوتله او هغه به روښانه ښکاریده لکه چې بت خپله رڼا کوي. بله دا چې کله به په بت رڼا ولګیده نو هغه به داسې معلومیده چې سترګې ښوروي، خوله خلاصوي او بندوي او کله کله ښوریږي .

کله چې القند راغی نو هغه ته د پادشاهانو جامې او تاج ور په سر شو او د بت شاته یې کینولو، کله چې لومړی روښنایي راغله او په بت ولګیده نو د شا لخوا اواز وشو: دا ستاسې لوی خدای دی، ټول حبشیان او سوډانیان په سجده پریوتل. بیا چې راپورته شول نو بت سترګی غړولی، خوله یې خلاصوله او بندوله او ښوریده او دا اواز ورڅخه راتللو: زه ستاسې لوی خدای یم، زه ستاسې د لیدلو لپاره راغلی یم .

تاسې به زماد دښمنانو سره جګړه کوی او هیڅوک به شاته نه راځي، هر چا چې د جګړې څخه تیښته وکړه هغه به د ډېرې پشان شي ، زه د یو نارینه او یوی ښځي قرباني غواړم، زه تاسې ته د انسان په شکل کې نژدې درځم او هلته به تاسې ما وګوری .

د دې څخه وروسته رڼا بنده او تپه تیاره شوه. لږ ځنډ وروسته بیا په هماغه لوری رڼا راښکاره او د بت څخه یو سړی را روان شو چې د پادشاه جامې او تاج یې پر سر وو.

د هغه تر شا څلور ساتونکی چې برچې ورسره وې مخ په لاندې را روان شول، پدې وخت کې څلور نجوني هم راڅرګندې شوې چې د ښاپیریو پشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې وزرونه ښورول هغوی راوړاندی او بیا ورکی شوی ، وروسته اعلان وشو چې دا ستاسې خدای دی چې د انسان په شکل کې تاسې ته ځان درڅرګندوی .

پادشاه همداسی په رڼا کې را روان وه ترڅو چې د تولو په وړاندی په یوه غونډی باندی ودریده ، هغه ټولو وپیژانده ځکه څیره یې ښه ښکاریده، ټولو ورته سجده وکړه ، وروسته هغه وویل: زه ستاسې خدای یم او په تاسې باندی یو امتحان کوم هغه دا چې کوم کسان چې زه درته په ګوته کوم د هغوی د وژلو کوښښ وکړی ، تاسې ته به بیا هر څه درکول کیږی .

دا ټول پلان صلیبیانو جوړ کړی وه ځکه هغوی پدی کارونو کې پوره مهارت درلوده.

سوډانی پوځیانو وویل :: اوس باید قربانی وشي نو د یوی پوستی مسلمان قوماندان او ډمه ونیول شول او سوډانی حبشی مذهبی مشرانو ته د قربانی لپاره وسپارل شول بیا هغوی تر دری څلور ورځو پوری وساتل چې پاک شي، ښه خوراک او څښاک یې ورکول .

د پوستو عمومی قوماندان القند پدی پوه وو چې دا د مسلمانانو په خلاف د صلیبیانو پلان او پروګرام دی او سوډانیان او حبشیان په لاره قربانی کیږی .

مسلمان قوماندان او سندر غاړی به هغوی هره ورځ د نیل غاړی ته د غسل لپاره وړل او هلته به یې غسل ورکولو ، په څلورمه ورځ قوماندان او زهرا چې کله په ډولی کې کینول شول نو هغه څلور تنو ونیوله او د هری ورځی په څیر یې د بی شمیره خلکو په منځ کې چې لاس په نامه ولاړ وو روانه شوه پداسی حال کې چې دوه مذهبی مشرانو ورڅخه وړاندی د غرونو په لمن کې د نیل غاړی ته ورسول شوو یو مذهبی مشر خپلو کسانو ته امر وکړ له دی ځای څخه لری لاړ شی بیا یې وویل : تاسی خپلی جامی وباسی او ولامبی .

مذهبی مشرانو په ملابند پوری توری تړلی وی ولاړ وو او د اسمان په لور یې کتل هر یو د ځان سره څه کلمات ویل چې قوماندان د زمری په څیر په یوه ورټوپ کړ توره یې ورڅخه واخیستله او په زړه کې ورمنډله ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل خپلو کسانو ته اواز وکړ چې قوماندان وروړسیدلو د هغه غږ یې بند کړ او زهرا ته یې وویل توره پورته کړه او خپله میړانه ښکاره کړه ، پدې وخت کې هغه څلور تنه راورسیدل ، هغوی سره خنجرونه وو قوماندان دری واړه او زهرا یو تن د مقابلې وروسته ووژل او د خپلې پوستی په لور روان شول ، په لاره کې یې دوه تنه خپل پیره کوونکی چې په اسونو باندی یې ګزمه کوله ولیدل پر هغوی یې غږ وکړ ، هغوی د خپل مشر اواز وپیژندلو او ځانونه یې وروړسولو ، قوماندان وویل : اسونه مونږ ته راکړئ مونږ قاهری ته ځو زر تر زر تاسو پوستی ته لاړ شی که چا زمونږ پوښتنه وکړه ورته ووایی چې مونږ نه دی لیدلی .

په قاهره کې ملک العادل علی بن سفیان ته وویل چې القند څو ورځی کیږي چې نشته ! داسې نه چې ورانکارانو تښتولی وی یا دا چې د هغوی سره یو ځای شوی نه وي، علی بن سفیان لټون پیل کړ خو هیچاته هم معلومه نه ده چې هغه چیری تللی ، بلاخره علی بن سفیان د القند کورته ورغی د ساتوونکو او نوکرانو څخه یې پوښتنی وکړی .

په ښځو نوکرانو کې یوه د پاخه عمر وه چې زوی او خاوند دواړه یې شهیدان شوی وه، هغې علی بن سفیان ته وویل: د ډیری مودی څخه دلته شکمن کسان تلل راتلل ، او دا کشره میرمن یې هم د مصر نده بلکې د بل ملک ښکاري، هغه ته ډېری وسلی ، سره او سپین زر راغلی دی .

علی بن سفیان د القند کور محاصره کړ ، کشره میرمن یې ونیوله او د هغه څخه یې پوښتنی پیل کړی هغې اقرار وکړ چې دلته صلیبیان راځی او ستاسی په خلاف د بغاوت لپاره شپی او ورځی خلک روزی چې په دی سلسله کې یې ډېری وسلی ، سره او سپین زر راوړی او په کور کې دی .

د علی بن سفیان په هدایت د استخباراتو د اداری غړو کور ولټاوه چې ډېره زیاته وسله، د سرو او سپینو زرو سکی او مالونه پلاس ورغلل .

قوماندان او زهرا د پرله پسی سفر څخه وروسته د شپی ځانونه قاهری ته راورسول د علی بن سفیان د کور د دروازی په مخ کې ودریدل او د اسونو څخه راښکته شوه دروازه یې وټکوله ډیر زر بیا دروازه خلاصه شوه هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې ميلمستون ته بوتلل ، علي بن سفيان ته خبر ورکړل شو هغه راغی او دوی ته يې تود هرکلی ووايه بيا هغوی ورته ټوله کيسه وکړه ، د قصې له اوريدلو وروسته دواړه د الملک العادل د کور په لور روان شول ، هلته په رسيدلو سره يې هغه د خوب څخه راويښ کړ ورته يې وويل چې څلور زره حبشي سوډانی پوځ د سالار القند په مشرۍ کې زمونږ پوستو سره نږدې غرونو کې خيمې وهلې دی .

ملک العادل سمدستي سپاره او پياده تيار کړل، تر ټولو لومړی يې کماندويان واستول چې هغه سيمه محاصره کړي ترڅو څوک شاته يا مخکې ولاړ نشي بيا د سلطان صلاح الدين ايوبي د جګړې په طريقه يې لومړی سپاره ښي او کيڼ لوری ته او خپله په منځ کې روان وو چې ډير سرتيری يې تر شا وو .

سهار يو تن وليدل سوډانی چې مذهبي مشران او څلور حبشيان د سيند په غاړه مړه پراته دی، په همدی وخت کې القند ته چې په هغه مهال د مشاورينو سره ناست وو خبر ورکړای شو او دا هم ورته وويل شول کومه ښځه او سړی قرباني کيدل هغه هم بې درکه او نشته .

القند وويل : هغه قرباني کيدونکی څوک وو ؟

ورته وويل شول چې هغه د غره لاندی سيمې د پوستې قوماندان او ښځه د صليبيانو په ډلې کې راغلې وه .

القند وويل : ولاړ شي وګوری چې هغه په پوسته کې شته او که نه ؟ که نه وی نو هغه به ضرور قاهری ته تللی وی نو مونږ ته په کار دی چې وخت ضايع نه کړو .که نه دلته به ووژل شو .

بيا يې يو تن راوغوښت ورته يې وويل : له ځان سره څو اعتمادی کسان واخله د حبشيانو او د هغه مذهبي مشرانو مړی په سيند کې لاهو کړه پام کوه چې هيڅوک د رڅخه خبر نشي که نه دا لښکر به د قاهری پر ځای بيرته خرطوم ته لاړ شي .

بيا يې سمدستي اعلان وکړ چې د سيند په غاړه قرباني وشوه اوس خدائی حکم دی چې زما په دښمنانو يرغل وکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبشیان د پوځی دسپلین لاندی د سیند په غاړه غاړه د قاهری په لور روان شول په شپه کې د ارام کولو لپاره تم شول چې د الملک العادل سرتیرو غلچکی یرغل پری وکړ او بیر ته خپل پړاو ته ولاړل .

سهار په میدان بی شمیره مړی او زخمیان پراته وه نو القند خپل قوماندانان راوغوښتل ورته یې وویل دا ډول یرغل د سلطان صلاح الدین ایوبی له سرتیرو پرته بل څوک نشی کولای نو اوس وړاندی هم تللی نشو او په دی دښتی کې مقابله هم نشو کولای .

نو ښه به دا وی چې د غرونو او غونډیو په لوری بیرته ولاړ شو او هلته یې مقابله وکړو څکه د قاهری خلک یوازی نه بلکی هغوی زمونږ د مقابلی لپاره پوځ هم راولیږلو ...

ملک العادل ته د استخباراتو یو غړی خبر ورکړ چې د القند ملگری په غرونو او غونډیو کې د مقابلی اراده لری ...

نو ملک العادل له وړاندی څخه خپل سرتیری په هغو لوړو ژورو کې ځای پر ځای کړل .

یو صلیبی مشاور وویل : ایا مونږ د هغه پوځ سره مخامخ مقابله او جگړه نشو کولای .

القند وویل : که تاسی مخامخ مقابله کولای شوه نو نن به په مصر باندی د صلیبیانو حکمرانی وه ، زه اوس ددی پوځ لوی قوماندان یم اوپه دی زه ښه پوهیږم چې له دوی څنی څرنگه کار واخلم !

* * *

کله چې د القند سوډانی حبشی لښکر غونډیو ته ورسیدو نو د غشو باران پری پیل شو او د شا لخوا پری ملک العادل د سپرو او پیاده پوځ پواسطه برید وکړ او د دوه لورو څخه راگیر شول ، تر سهار پوری سخته جگړه وشوه ، سهار وختی د القند مړی پداسی حال کې پیدا شو چې خپله توره یې په زړه کې ننباسلی او ځان وژنه یې کړی وه .

د سوډانی حبشی لښکر ټول کسان یا ژوندی ونیول شول او یا مړه شول هیڅ یو هم ورڅخه خلاص نشو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک العادل د هماغه ځای ځخه یو استازی سلطان صلاح الدین ایوبی ته د فتحی د مبارکی سره شام ته واستولو.

په پلټنو کې د القند د کور څخه یو مهر تر لاسه شوه چې په هغې یې لیکلی وه (القند د مصر واکمن).

القند د صلیبیانو په دوکه کې راغی او بلاخره د هغوی په لاره او ملګرتیا کې له دنیا څخه مرتد او نامراده ولاړ او خپل ځان یې پخپله ووژلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دا ډيوه وينه غواړي

په مارچ ۱۱۷۵ م کال سلطان صلاح الدين ايوبی د الرستان د غرونو په لړۍ کې د خپل پوځ سره پروت و، هغه مخکې حلب محاصره کړی وو خو د خلکو د مقاومت او د ريمانډ د لښکر د راتلو په سبب محاصره ختمه شوه هغه بيا غوښتل د ايمان پلوړونکو او صليبي ګوډاګيانو مرکز حلب بيا کلا بند او تر خپل کنترول لاندې راولی خو د مصر څخه ورته خبر راغی او هلته يې د القند د بغاوت او حملی په هکله خبر ورکړ.

سلطان صلاح الدين ايوبی خپل ورور ته خبر ورکړی و چې د پوره پلټنې وروسته سخته ځوابی يرغل وکړی او چې د هری رتبی سړی پدی کې مسئول او شريک وګڼل شو هغه ته جزا ورکړی. هغه په الرستان کې انديښمن پروت و. ځکه چې هغه ته د مصر څخه څه احوال نه وه راغلی چې هلته څه پيښ شوی او څه ډول حالات صليبيانو او سوډانيانو رامنځ ته کړی.

د اسلام د عظمت ساتونکی سلطان صلاح الدين ايوبی د هر لوی څخه مشکلاتو او کړاونو راګير کړی وو ځکه چې د څو تش په نامه مسلمانو اميرانو پوځ د هغه په خلاف يو ځای شوی او صليبي خطر هم موجود و. د دی ټولو په وړاندی هغه يوازی د لږ پوځ سره پروت او د هغوی ټول پلانونه يې شنډ کړی وو، هغه داسې پلان وچلولو چې په ژمی او يخنۍ کې يې ټول حيران کړل او دوه مهمی کلا ګانی يې خپلی کړلی او د ريمانډ لښکر يې پسی وځغلولو خو سره لدی هم دا وخت هغه انديښمن وو ځکه د مصر حالاتو په فکر کې اچولی و. د هغه سره پوځ ډېر کم وه هغه پدی ويره کې وه که هغوی ټول يو ځای حمله وکړي نو دي به دفاع هم ونشی کړای، هغه د قاهری څخه کومک غوښتی وه خو هلته حالات ډېر خطر ناک وه او د کومک امکان نه وو، ټول دښمنان د هغه څخه ويريدل ځکه چې هغه په لږ پوځ داسې کارونه کول چې ټول به ورته ګوته په غاښ شول، ريمانډ هم هغه پخپل ځای کينولو او د تر يپولی په غم کې شو، هيڅ يو هم نه پوهيده چې د سلطان صلاح الدين ايوبی راتلوونکی ګام به څه وي ځکه نو هغوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library


اندیښنه کې پراته وه - سلطان صلاح الدین ایوبی پدی ویره کې و که په قاهره کې حالات ګډوډ شي نو په خپله به هلته ورځی چې پدی صورت کې په شام کې حالات بالکل خرابیدای شي او بیا د هغه سمبالول ګران دي، هغه د خپلو سالارانو او سلا کارانو سره په همدی خبری کولی چې خبر ورکړل شو د قاهری څخه استازی راغلی، سلطان صلاح الدین ایوبی د خیمی څخه ورخطا په منډه راووت او د استازی مخی ته ودریده او پوښتنه یې وکړه خیریت خو به وی ؟

استازی وویل: محترم سلطان! د خوشحالی خبر می راوړیدی ! بیا یې د القند د پیښی په هکله پوره معلومات ورکړ.

سلطان صلاح الدین ایوبی سمدستی دو رکعته لمونځ او د الله تعالی شکر یې اداء کړ، بیا یې استازی ته خوراک او څښاک ورکړ او لوی پیغام یې خپل ورور ملک العادل ته ولیکلو او دا یې ورته ولیکل چې نوی کسان زیات په پوځ کې ونیسي چې ډېر هوښیار او ځیرک اوسی ځکه چې القند ایمان پلورونکی شي نو بیا په ما او تا هم باور نشته، علی بن سفیان ته ووایه چې شپه او ورځ سره یوه کړی او د ورانکارو مخه ونیسي .

سلطان صلاح الدین ایوبی د استازی څخه وپوښتل چې پدی جګړه کې مونږ ته څومره زیان اوښتی دی هغه ورته وویل: دری سوه شهیدان او پنځه سوه زخمیان دی، د دښمن دولس سوه ژوندی چې په هغې کې صلیبیان او سوډانی مشران هم نیول شویدی .

استازی وپوښتل: د بندیانو سره څه وکړو؟

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: صلیبیان او سوډانی سلا کاران او ورانکاری ټول په بند کې واچوی او د نورو بندیانو څخه د فرعونی غارونو او کنډوالو په ورانولو کې کار واخلی او هغه ټول ځایونه پری خراب کړی، خو د بندیانو سره تل انسانی سلوک کوی او د وسی څخه زیات کار ورڅخه مه اخلی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: باید مونږ تر هغې پوری چې د قاهری څخه کومک نه وی راغلی کوم پرمختګ ونکړو بلکې خپله دفاع وساتو، ځکه چې له یو لوری یخنی ده او له بل لوری پوځ هم کم دی که زمونږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلاف یو یو جنګیدای نو بیا مونږ هر یو ختمولای شو خو اوس هغوی سره ملګری شوی او صلیبیان هم ورسره تر شا ولاړ دي پدی توګه مونږ پخپلو کې سره جنګوی تر څو ښه کمزوری شو او بیا ټوله سیمه هغوی ته پلاس ورشی.

تاسې د اندلس او هسپانیا تاریخ وګوری چې طارق بن زیاد په څومره قربانی سره هغه لاندی کړ، هغه د دی ځخه بی غمه وه چې زما خاوره کومه یوه ده، هغه خپلی کښتی د همدی لپاره وسوځولی چې خلک د تښتې ځخه بی غمه شي او همدا خپل هدف او مقصد وګڼی خو وروسته چې کوم نسل راغی هغوی ته دا څوکی او منصبونه مفت پلاس ورغلل نو هغوی ځانونه آمیران او باشاهان وبلل او په عیش او عشرت باندی آخته شول چې د هغه په پای کې اندلس صلیبیانو ته پاتی شو. کومو غازیانو او مجاهدینو چې د اندلس د ساتنی لپاره وینی ورکړی وی هغوی بیا ملامت وبلل شول.

د اسلام ډیوه وینه غواړی، دا په تیلو، شرابو، عیش او عشرت باندی نه روښانه کیږي بلکې دی ته د وینی اړتیا ده، تر هغې به د اسلام ډیوه بله وی چې هغه ته وینه اچول کیږی خو چې وینه ورکول بند شی نو د اسلام د سپیڅلی دین ډیوه به ګل او مړه شي، د اسلام پخوانیو غازیانو او مجاهدینو چې کومی ډیوی پخپلو وینو روښانه کړی وی هغه اوس د شرابو ځخه ډکی شوی نو ځکه یو پر بل پسی مړې کیږی، د دی ډیوی روښانه ساتل د هر مسلمان وظیفه او مسئولیت دی، د دی ډیوی په مړه کولو کې د کفارو ځخه د ایمان پلورونکو برخه ډېره ده ځکه د هغوی د عملونو په سبب خلک له اسلام ځخه بی زاره کیږي او د هغوی د عیش او عشرت په سبب مسلمانان له خپل دین ځخه لری ساتل کیږي، که هغوی بیدار وي او خپل مسئولیت وپیژني نو بیا هیڅ وخت کفار نشی کولای اسلام ته زیان ورسوی.

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبی د حسن بن عبدالله سره د خیمی ځخه د باندی ګرځیده او د هغه ځخه یې وپوښتل: حسنه! د شمس الدین او شاه بخت ځخه هیڅ احوال نه راځي؟ حسن بن عبدالله ورته وویل: هغوی په پوره کامیابی سره خپل کار کوي که څه پیښ شول نو ضرور به احوال راکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمس الدین او شاه بخت دواړه سکه وروڼه وه چې د هندوستان څخه د سلطان نور الدین زنګی په وخت کې شام ته راغلی وه، هغوی دواړه تکړه مجاهدین وه، د هندوستان څخه په همدی خاطر را مهاجر شوی وه چې هلته حالات مسلمانانو ته برابر نه وه، هغوی چې کله دمشق ته راغلل نو سلطان نور الدین زنګی هغوی په خپل پوځ کې ونیول ، د لږ وخت څخه وروسته یې هغوی دواړو ته د سالاری رتبی ورکړی ځکه چې هغوی مخلص مؤمنان وه ، سلطان نور الدین زنګی چې کله د حرن د کلا په آمیر ګمشتګین باندی شکمن شو نو دواړه وروڼه یې هلته واستول ځکه هغه کلا د ده د حکومت برخه وه. د هماغه وخت څخه د حرن د کلا پوځ د همدی دوه سالارانو په واک کې وو.

کله چې سلطان نور الدین زنګی وفات شو او د شام آمیرانو هر یو ځانته ازادی اعلان کړه نو دا دواړه هم په حرن کې پاتی شول او د ګمشتګین سالاران او سلا کاران وګرځیدل. څه وخت چې ګمشتګین د صلیبیانو سره دوستی وکړه او هغوی ته یې په خپل دربار کې ځای ورکړ دا دواړه وروڼه د هغه سره پدی مخالف شول نو د سلطان صلاح الدین ایوبی پلوی او ملګرتیا یې پیل کړه ځکه هغوی پدی پوهیدل چې د دی خلکو سره اړیکی ساتل خپل وطن او دین خرڅول دي .

دواړو وروڼو له ځان سره نور کسان هم پیدا کړل چې د دوی سره په دفتر او پوځ کې موجود وه، هغوی ټولو د سلطان صلاح الدین ایوبی په پلوی کار کولو.

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی په الرستان کې وه نو حسن بن عبدالله یو نوی جاسوس د انطانون په نامه د حرن کلا ته واستاوه تر څو د هغه ځای څخه د خبرونو په رارسولو کې مرسته او کومک وکړی .

انطانون چې کله حرن ته ورسیده نو ځان یې د بیت المقدس اوسیدونکی مسلمان معرفی کړ، هغه ډیره ښه خیره، لوړ قد او غښتلی اندامونه درلودل کله چې ګمشتګین ته ور وپیژندل شو نو هغه ورته کیسه وکړه چې زه د بیت المقدس اوسیدونکی یم، هلته عیسایانو زما دوه خویندی په زور وتښتولی او زه ورڅخه دی لوری ته راوتښتیدلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګمشتګین د هغه څخه امتحان واخیست نو هغه ډېر تکړه سپور او ښه غشي ویشتونکی وه نو په خپلو خاصو ساتونکو کې یې شامل کړ، ځکه چې هم یې صورت ښه وه او هم په خوله دومره چالاکه وه چې په یو وار لیدو سره یې د خلکو زړه لاس ته راوړلوهغه روزل شوی جاسوس وه .

هغه غوښتل د حرن د کلا څخه ټول راز راوباسي. کله چې هغه ساتونکی او باډی ګارډ وټاکل شو نو هغه ته وویل شول چې اته ورځی به د ټول قصر او مانۍ ساتنه او کنترول کوی .

انطانون په لومړی ورځ قصر ته ننوت او د ټولو ځایونو په لیدلو یې پیل وکړ تر څو هر څه ورته څرګند شي کله چې ګرځیده نو د حرم یوه ښکلی ځوانه نجلۍ ورته مخی ته راغله، هغې ورڅخه وپوښتل: ته د څه لپاره ګرځی حال دا چې پرته د خاصو کسانو دلته چاته د ګرځیدلو حق نشته؟

انطانون ورته وویل : زه نوی ساتونکی ټاکل شوی یم او ځان ته ټول شیان معلوموم چې بیا راڅخه کومه غلطی ونشی ځکه زه د دی ټولو مسئولیت په غاړه لرم .

نجلۍ ورته وویل : دلته ستا ګرځیدل زما نه خوښیږي، بیا به دلته نه راځی .

انطانون وویل : دا زما مسئولیت دی که د دی ځای څخه کومه یوه د حرم نجلۍ ورکه شوه نو بیا به زما خور پکی راولی .

نجلۍ وویل : د دی څخه معلومیږي چې ستا سره دی د خپلی خور غم دی زموږ غم درسره نشته !

انطانون سوړ اوسیلی وویست او ویی ویل : کاشکی ما د خپلی خور ساتنه کړای وی !

نجلۍ وپوښتل : ولی په خور دی څه شوی ؟

انطانون وویل : زمادوه خویندی وی او دواړه را څخه په بیت المقدس کې صلیبیانو وتښتولی او زه یې هم بندی کړم خو ما ځان راخلاص کړ، زه د خپلو خورګانو د انتقام اخیستلو لپاره دلته راغلم او د سلطان صلاح الدین ایوبی په پوځ کې مې ځان شامل کړ ځکه چې د بیت المقدس اوسیدونکی هغه خپل خلاصوونکی او امام مهدی بولی .

(c) kitabton.com: The Digital Library



نجلې وویل: ته خو غلط ځای ته راغلی یې، تا چې کوم مقصد له ځان سره راوړی، هغه دلته نه پوره کیږي، د کومو کسانو له لاسه چې ته راتښتیدلی یې دلته هماغه کسان واکمن دي، دا د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ نه بلکې د هغه د دښمنانو او د صلیبي ګوډاګیانو پوځ دی.

دلته ډېری داسې نجونی شته چې ستا د خور پشان صلیبیانو تښتولی او بیا یې روزلی او اوس پدی حرمونو کې اوسیږی، سلطان صلاح الدین ایوبی په دمشق کې دی.

انطانون په حیرانتیا سره هغې ته کتل او بیا یې وپوښتل: ایا دا د مسلمانانو پوځ ندی؟ ایا دلته واکمنان مسلمانان ندی؟ ایا دا د صلیبیانو دوستان دی؟

نجلۍ ورته ټول شیان وویل: دا نجلۍ فاطمه نومیده چې د دمشق اوسیدونکی وه، د هغې سره دا شوق او جذبه وه چې د صلیبیانو څخه د خپلو مسلمانو خویندو انتقام او غچ واخلی خو پلار یې هغه داسې ځای کې ورکړه چې هر څه یې ګډوډ شول، هغې غوښتل د سلطان صلاح الدین ایوبی په پوځ کې خدمت وکړي خو هغه بلاخره د ګمشتګین کورته راورسیده.

څرنګه چې ګمشتګین د هغې پشان لس، پنځلس نوری ځوانی نجونی په حرم کې لرلی نو د دی ورڅخه نفرت پیدا شو ځکه هغه پدی پوهیده چې د دی امیرانو په زړونو کې د چا محبت او مینه نشته یوازې ځو ورځی تیروی چې بله راشي بیا هغې ته متوجه کیږي او چې څه کلونه پری تیر شي نو بیا یې همداسی له کوره شړي.

نو ځکه فاطمی د انطانون سره خپل امیدونه وتړل چې کیدای شي دا ځوان چې د صلیبیانو دښمن دی زماد مینی مرکز وګرځي او راتلونکی ژوند مو شریک شی.

فاطمی انطانون ته وویل چې پس لدی به د حرم په باغچه کې سره ګورو. هر ماښام ناوخته به انطانون هغې باغچې ته راتلو او د فاطمی سره به هلته کیناستو بلاخره دواړه یو په بل کې جذب شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انطانون ته د همداسې يوې نجلۍ اړتيا وه چې د هغه ښځه د دربار او حرم راز واخلي نو ځکه يې د دې سره اړيکې پيدا کړل خو دا اړيکې په مينه او محبت هم بدل شول.

انطانون د ژبې جادو لرلو هغه يې داسې راګيره کړه چې د دربار او حرم ټول راز يې ورته ويل.

انطانون د سالار شمس الدين او سالار شاه بخت سره هم اړيکې ونيول او هغوی يې پدې خبر کړل چې د حرم نجلۍ فاطمه هغه خپله کړې او ټول رازونه ورته وايي خو سالارانو هغه متوجې کړ چې د هغې سره د کتلو ځخه ځان وساتي.

يوه شپه ګمشتګين د صليبي سلا کارانو او نوی صليبي ميلمنو لپاره لويه ميلمستيا کړې وه تر څو د سلطان صلاح الدين ايوبي په خلاف د پلان په هکله سره خبرې وکړې پدې شپه فاطمې ښه ځان جوړ کړې وو او هر چاته به ور وړاندې کيده ترڅو د راز خبره ورڅخه واخلي. هغه په همدې شپه د انطانون سره په باغچه کې د ليدلو وعده هم ايښې وه چې هلته به سره ګوري او ټول حالات به ورته بيانوي.

ميلمستيا ډېره ګرمه وه او ډېر صليبيان هلته راغلي وه چې لوړ پوړي چارواکي پکې هم شامل وه.

په ميلمستيا کې ګمشتګين خپلو ټولو کسانو ته ويلي وه چې تاسې به نن شپه صليبيان ښه خوشحاله ساتې چې د هغوی ځخه کار واخلو، کله چې د انطانون د راتلو وخت شو نو فاطمې غوښتل هلته ورشي خو يو صليبي هغه په خبرو کې بوخته کړه، هغې نه چيرته تلای شوه او نه يې صليبي همداسې خوشې کولای شو، صليبي هغه له لاسه ونيوله او روانه يې کړه. هماغې باغچې ته يې بوتله چيرې چې انطانون راتللو.

انطانون د خپلې وعدې سره سم په ديوال باندې باغچې ته را واوښت خو لاندې پېره کوونکي ولاړ وه هغوی راونيوه. ځرنګه چې دا شپه مهمه او خطرناکه وه نو ځکه هغه د يو شکمن په حيث ونيول او سمدستي سالار شمس الدين ته خبر ورکړل شو چې په باغچه کې يو شکمن سړی نيول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شویدی . سالار شمس الدین هلته ورغی ګوری چې انطانون نیولی شوی، سالار پری ډېر په قهر شو چې تاسې پداسې حالت کې څرنګه د حرم باغچې ته د راتګ کوښښ کولو، هغه پېره کوونکو ته وویل : دا شکمن سړی د قصر فلانی برخی ته ورسوی زه درځم، هغه خپلو کسانو ته سمدستی وظیفه ورکړه چې انطانون خلاص کړی او پېره کوونکی ووژنی د سالار کسانو په لاره کې هغه دوه پیره کوونکی بې هوشه کړل او انطانون یې د سالار کورته ورساوه .

هلته فاطمه د صلیبي سره په باغچه کې ناسته وه، صلیبي به بیا بیا هغې ته لاسونه وراچول خو فاطمی ورڅخه ځان یوی او بلی خواته کولو، آخر فاطمی هغه ته وویل: ته پوهیږې چې زه څوک یم؟ که زماخاوند کمشتګین خبر شي چې هغه په باغچه کې ده نو په ژوندونی به دی پوستکی وباسي!

صلیبي په کړس کړس وخندل او فاطمی ته یې وویل: لیونۍ، نن شپه مونږ ته هغه اجازه راکړې چې څه کوی تاسې ته اجازه ده او هیڅ منع نشته، ته پوهیږې مونږ څوک یو ؟

ستا خاوند زمونږ په مقابل کې هیڅ هم نشی کولای، هغه زمونږ په زور ځان ته څه وایی کنه یوه ورځ یې هم سلطان صلاح الدین ایوبی ژوندی نه پریږدي.

فاطمه پدی پوه شوه چې خاوند یې د دی د عزت او ناموس سودا د صلیبیانو سره کړیده نو خپل دینی غیرت یې په جوش راغی ، صلیبی چې په شرابو مست و په لغته داسی ووهلو چې پړ مخ پریوتو، بیا یې د ګلانو یو ګلدان چې هلته نژدی ایښی وه راپورته کړ او د صلیبي په سر یې راوغورځاوه، بیا یې پورته کړ او سر یې پری دوه ځای کړ، چې ښه پوه شوه چې هغه سوړ شو نو د میلمستیا په لوری په منډه ولاړه، ټول میلمانه د یو بل څخه ناخبره په شرابو مست وه، فاطمی سالار شمس الدین لټولو خو هغه نه وه ځکه چې هغه د انطانون په پیښه کې بوخت وو. هغه زر شاه بخت ته ورغله چې مشر سالار چیری دی ؟

فاطمه ورخطا وه نو شاه بخت ورڅخه وپوښتل خیر خو دی ؟

هغې ورته ټوله کیسه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه بخت سمدستی د هغې سره روان شو او مشر سالار شمس الدین ته ورغلل هغه ته یې هم کیسه وکړه .

مشر سالار شمس الدین هغه هم خپل کورته واستوله او سمدستی یې دوه آسونه تیار کړل ، میلمانه چې کله رخصتیدل هغوی دواړه یې هم په اسونو سپاره کړل اود الرستان په لوری یې واستول .

انطانون ته یې ټول حالات هم وویل چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته یې بیان کړی .

فاطمه او انطانون نیغ سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورغلل او ټوله کیسه یې ورته بیان کړه.

سلطان صلاح الدین ایوبی هغه په کماندویانو کې داخل کړ او فاطمه یې دمشق ته د رضیع خاتون لوري ته ولیږله .

سبا سهار د صلیبي مړې په باغچه کې پیدا شو، صلیبیانو ځمکه او اسمان په سر واخیست چې څرنګه زموږ یو آفسر وژل شویدی. وروسته معلومه شوه چې د حرم یوه نجلۍ او یو ساتونکی هم ورک دی او دوه کسان پیره کوونکی هم مړه شویدی .

صلیبیانو په ګمشتګین زور واچولو چې سلطان صلاح الدین ایوبی ستاسې داسې کسان مړه کوي باید زر تر زره په هغه حمله وشی .

دا خبره پټه پاتی نشوه او حلب ته هم د هغې احوال ورسیده.

الملک الصالح سمدستی ګمشتګین او سیف الدین ته پیغامونه واستول چې په هغې کې قیمتی ډالۍ او دوه دوه نجونی هم وي .

کله چې استازې حرن ته راغی نو ګمشتګین ویده و، سالار شمس الدین پیغام ولوستلو او دواړه نجونی یې ولیدلی .

نجونی یې په یوه خونه کې او استازی یې په بله خونه کې کینول.

د نجونو څخه دواړو وروښو وپوښتل چې تاسې دلته د څه لپاره راغلی یاستی ؟

هغوی وژړل او بیا یې مشر سالار شمس الدین ته وویل: مونږ دواړه د بیت المقدس مسلمانی نجونی یو، صلیبیانو په ماشومتوب کې د یو کاروان څخه وتښتولو او ترڅو کلنو پوری یې مونږ ته روزنه راکړه، وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د جاسوسۍ او ورانکارۍ لپاره حلب ته راواستولو، مخکې زموږ ضمیر او وجدان مړ وه او اسلام زموږ د زړونو څخه وتلی وو خو کله چې حلب ته راغلو نو بیا په مونږ کې اسلام رابیدار شو ځکه چې هلته مو خپل مسلمان ورونه ولیدل خو مسلمانانو زموږ سره داسې ناوړه کارونه وکړل چې یو ځل بیا زموږ د زړونو څخه اسلام په وتلو شو، هغه آمیرانو ته مونږ وویل چې مونږ ستاسې لوڼه یو او صلیبیانو مونږ تښتولی یو، اوس تاسې باید زموږ سره هغه څه ونکړی چې صلیبیانو زموږ سره کول، خو هغوی زموږ خبری وانه وریدی او دا ځل یې د تحفی په توګه دلته راولیږلو. مونږ اوس تاسو ته هم دا وایو چې مونږ ستاسې لورګانی یو، زموږ عزت ساتل ستاسې وظیفه ده، مونږ سره د صلیبیانو په شان ناوړه کار مه کوی بلکې مونږ ته د لوڼو په سترګه وګوری .

سالار شمس الدین او سالار شاه بخت پدی خبره ډېر خفه شول .

پدی وخت کې د حرن ایمان پلورونکي قاضی ابوالفضل راغی، د سالارانو څخه یې وپوښتل چې د حلب څخه پیغامونه او تحفی راغلی دی، هغوی وویل: هو!

قاضی وویل زه تحفی لیدل غواړم. سالارانو ورته کیسه وکړه چې هغه دوه مسلمانی نجونی دی چې صلیبیانو د یو کاروان څخه تښتولی او مظلومی دی .

کله چې دواړه قاضی ولیدی نو له خولی یې ووتل څومره ښکلی دی ....

نو وی ویل : دوی له ما سره پریږدی چې لاړی شی .

سالار شمس الدین خو لا له مخکی څخه جذباتی او احساساتی وه، د قاضی دا خبره ورباندی بده ولګیده او هغه ته یې وویل : د قوم په نظر کې ستاسی مقام د ګمشتګین څخه هم پورته دی او ستاسی په لاس کې د عدل او انصاف تله ده .

قاضی ابوالفضل وخندل او وی ویل : ته پوځی یې په دی خبرو نه پوهیږی ، د چا په لاس کې چې د الله تعالی قانون و او په هغه به یې عدل او انصاف کولو نو هغه به د خپل بادشاه څخه نه ویریدل یوازی او یوازی د الله جل جلاله څخه به ویریده او واکمن به هم د هغه له ویری له چا سره بی انصافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوله اوس بادشاه هغه څوک قاضي ټاکي چې د هغه په هدایاتو فیصلې وکړي او د هغه بدو ته ښه ووایي او خپل الله تعالی په ځای د هغه خوښې تر لاسه کړي .

نو زه د الله تعالی قاضي نه بلکې د ګمشتګین قاضي یم .

سالار شاه بخت وویل: د ایمان پلورونکي بادشاه قاضي هم ایمان پلورونکي وي او ستاسي په څېر قاضیانو او منصفانو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم امت دې ځای ته راو رسولو چې زمونږ بادشاه ، واکمنان او امیران د خپلو خویندو او لورګانو په عزت او عصمت لوبې کوي نو ای ابوالفضله ! دا ستا مسلماني خویندي دي چې ته یې اوس له ځان سره بیایي .

قاضي ابوالفضل بیا په کرس کرس وخندل او وي ویل : د هند د مسلمانانو زړونه مړه دي تاسي له هغه ځای څخه ولي را غلي یاست ؟

سالار شمس الدین وویل : واوره ! زه ستا عزت یوازې ددې لپاره کوم چې ته اوس قاضي یې او که نه ددې نه وړاندې زما د لاس لاندې یو قوماندان وې خو په غوړه مالې باندې دې دا مقام حاصل کړ زه ستا د ضمیر بیدارولو لپاره دومره وایم چې مونږ د هند څخه راغلي یو شپږ سوه کاله وړاندې محمدبن قاسم په نامه یو ځوان د یوې مسلمانې پیغلې په چغه د خپل ټاټوبي څخه پر هند یرغل وکړ ته یو پوځي یې په دې ښه پوهیږې چې هند د محمدبن قاسم له مرکز څخه څومره لرې دی او هغه پرته د مرستې څرنګه جنګ وکړ .

هغه په داسې مشکلاتو کې بریالیتوب تر لاسه کړ چې د ماتې امکانات ډېر وو هغه یوازې فتح حاصله نه کړه بلکه د هند د خلکو په زړونو یې قبضه وکړه او په تیاره کې یې د اسلام سپیڅلې دین رڼا خوره کړه بیا هغه هیواد د هغه بادشاهانو په لاس شو چې د مجاهدینو په کاروان کې نه وو او هغوی ته هغه ټاټوبي وړیا په لاس ورغی نو هغوی هغه کړو وړه پیل کړل چې نن دلته کیږي او بیا هغه بې دینان په مسلمانانو بر لاسي شوه لکه څرنګه چې دلته صلیبیان ورځ په ورځ غالبیږي نو مونږ دواړه وړونه په ځمکې باندې د لااله اله الله محمدرسول الله د کلمې د لوړولو په خاطر د هغه ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مسلمانانو په نمايندګی راغلی يو او پريکړی شوو اړيکو د بيا ټينګولو لپاره دلته راغلی يو کله چې د سلطان نورالدين زنګی سره مو وليدل را ته يې وويل: ای ورونو ! هند ته مونږ څرنګه لاړ شو په دی خاوره کې بی شميره غداران دی چې سنګر ته په تللو بغاوت کوی چې ددی ګټه صليبيانو ته رسيږی او زه په دی ډير افسوس کوم چې هند کې د مسلمانانو کړه وړه د هندانو په څير او دلته د صليبيانو په څير شوی دی .

نو سلطان نورالدين زنګی زمونږ څخه وغوښتل چې د هغه په پوځ کې شامل شو او د حالاتو د ښه کيدو سره بيا قدم پورته کړو خو کله چې ګمشتګين ، سيف الدين ، عزالدين .... د صليبيانو سره په پټه اړيکی ونيول نو سلطان نورالدين زنګی مونږ د ګمشتګين پوځ کې ددی مقصد لپاره راوليږلو چې د هغه کړه وړه د نظر لاندی وساتو.

قاضی ابوالفضل وويل : تاسی دواړه جاسوسان ياست .

سالار شمس الدين وويل : زما په خبره باندی ځان پوه کړه ته ګوری چې زمونږ مسلمان اميران د مجاهد شخص په خلاف جګړه کوی چې اسلامی امت د صليبيانو د بدو پلانونو څخه ساتی کوم استازی چې نن پيغام راوړی چې ته هغی واوری .... او زمونږ سره ملګری شی ګمشتګين په دی قايل کولی شو چې د غدارانو سره د اتحاد کولو په ځای د سلطان صلاح ايوبی سره ملګری شی او که نه داسی ماتی به وخوری چې ټول عمر به په بند کې وی .

قاضی ابوالفضل وخندل او وی ويل : ددی څخه وړاندی چې تاسی زه بنديان کړم دواړه نجونی له ما سره کړی .

سالار شمس الدين وويل : مونږ مسلمانان يو دا بی غيرتی نشو زغملای چې مسلمانی نجونی تاسې ته تسليم کړو.

قاضی ابوالفضل پاڅيدو او هغه لوری ته روان شو کوم لوری ته چې نجونی وی سالار شاه بخت هغه له متو څخه ونيوه خو هغه ټيل وهلو نو سالار شمس الدين په هغه باندی داسی وار وکړ چې په څمکه باندی راوليدلو بيا يې پښه د هغه په ستونی باندی کيښوده او زور يې پری ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بی حسه شو او ساعت وروسته یې ولیده چې مړ شوی دی د دوارو ورونو د هغه د وژولو اراده نه وه خو هغه مړ شو

د دی څخه وروسته یې سمدستی خپل دوه کسان د څلورو آسونو سره برابر کړل او دواړه نجونی یې د الرستان په لوری سره د ځینو ضروری خبرو ولیږلی.

وروسته گمشتگین راغی، هغه چې کله استازی ولیده هغه ورته پیغام هم ورکړ او هم یې ورته وویل چې دوه نجونی می راوستی وی خو هغه اوس نشته.

گمشتگین د جاسوسی په پلمه هغه دواړه سالاران بندیان کړل د حلب پیغام دا وو چې صلیبیان مونږ ته دوکه راکوي او خپل کار راڅخه اخلی مونږ دری واړه باید سره یو ځای شو او سلطان صلاح الدین ایوبی محاصره کړو بیا کیدای شي صلیبیان د شا لخوا په هغه حمله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چې سلطان ایوبي اندیښمن شو

هغه وخت چې سالار شمس الدین او سالار شاه بخت د دوه نجونو په نیښته او د قاضي ابو الفضل په وژنه تورن او بندیان شول په هماغه وخت کې د حلب یو استازی موصل ته هم ولاړ چې هلته سیف الدین ته پیغام ورسوي. د هغه سره هم دوه نجونې او قیمتي ډالۍ وې.

سیف الدین غوښتل د خپل ورور عز الدین په مرسته ډېر ځایونه تر خپلې ولکې لاندې راولي او خپله واکمني پراخه کړي ځکه نو هغه ځان ازاد او خپلواک بللو خو الملک الصالح د حلب واکمن تر ټولو ځان حقدار او سلطان باله او هغوی یې د ځان تابع، په مخکنۍ جګړه کې هغوی خپلې درې کلا ګانې حمات، حمص او د حلب کلا له لاسه ورکړي وې او یوازې ښار ورته پاتې وه.

الملک الصالح سیف الدین ته یو استازی سره د ډالۍ، نجونو او لیک ولیږلو په هغه کې دا پیغام لیکلی وه چې مونږ او تاسې باید سره یو ځای شو او د سلطان صلاح الدین ایوبي په خلاف وجنګیږو، کیدای شي بیا زمونږ سره صلیبیان هم مرسته وکړي خو که یوازې وو نو هغوی هم دوکه راکوي لکه څرنګه چې په مخکنۍ جنګ کې ریمانډ راسره وکړه، که په دې خبره مو اتفاق وی نو په الرستان کې واوره ویلی کیږي او چکړې جوړیږي نو باید مونږ سلطان صلاح الدین ایوبي محاصره او ماتې ورکړو تاسې باید سمدستي خپل پوځ تیار او د یوی قوماندې لاندې یې کړی.

سیف الدین ته چې کله پیغام ورسیده هغه خپل ورور عز الدین، دوه سالاران او د موصل د مرکزي جامع مسجد خطیب ابن المخدوم راوغوښت او سلا مشوره یې سره پیل کړه.

سیف الدین هغوی ته د حلب پیغام او حالات په مخکې کیښودل او بیا یې وویل: زه غواړم د هغوی سره یو ځای شم خو زمونږ پوځ باید جلا وی تر څو ځینې سیمې ونیسي او هغه د موصل په حکومت کې داخل کړي ستاسې پدې هکله څه نظر دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو سالار وویل: ستا فیصله او پریکړه بالکل سمه ده، ستا ارادی لوړې دی چې هیڅوک هم نشي ور رسیدای .

بل سالار وویل: سلطان صلاح الدین ایوبی صلیبیانو او سوډانیانو ته ماتی ورکولای شي خو مونږ ته یې نشي راکولای ، تاسې خپل پوځ د هغوی سره یو ځای خو جلا وجنګوی چې زمونږ فتوحات جلا وي .

سیف الدین خپل ورور عزالدین ته وویل : ستاسې نظر څه دی ځکه چې زما ټول امید ستاسې پوری تړلی دی .

عز الدین وویل: دوه سالارانو د جوش او جذبی خبری وکړی خو زه پدی لاره کې مشکلات او کړاوونه هم ګورم، زمونږ د داسې چا سره شخړه ده چې هغه تر مونږ ډېر هوښیار او چالاک دي، او د هغه پوځ زمونږ د پوځ څخه ډېر تکړه او تجربه لرونکی او د جذبی خاوند دی .

سیف الدین وویل : جګړه یوازی په جذباتو او احساساتو نه کیږي .

عز الدین وویل: مونږ باید دا ځل ډېر هوښیار اوسو- تاسې نیم پوځ پخپل لاس کې او نیم ماته وسپاری زه به تر ټولو آخری برید کوم .

بیا سیف الدین خطیب ته وویل: تاسی د قرآن مجید څخه فال راوباسی چې ایا پدی جګړه کې زه بریالی کیږم او که نا کامیږم.

خطیب ورته وویل : پرته لدی څخه چې زه فال وګورم یوه خبره درته کوم هغه دا چې تاسې به پدی جګړه کې ماتی خوری. او که په وخت مو تیښته ونه کړه نو د مرګ خطر مو هم شته نو زما هیله دا ده چې نه خپله لاړ او نه خپل ورور د پوځ سره ولیږې .

په ټولو چوپتیا خپره شو د سیف الدین رنګ بدل شو.

سیف الدین وپوښتل : تاسی د الله تعالی کتاب نه دی پرانستلی نو زه څرنګه دا ومنم چې تاسی څه وویل هغه صحیح دی ؟

خطیب وویل : تاسې چې مخکی جګړی کولی د الله جل جلاله په خاطر وی اوس ستاسې جګړی د نفس او صلیبی پروګرامونو د عملی کولو لپاره نو تاسې ښکاره د قرآن د حکم سره مخالفت کوی او د قرآن مجید پریکړه همدا ده چې تاسې به رسوا کیدونکی ماتی خوری .

(c) Kitabton.com: The Digital Library



عز الدین وویل: زمونږ د زړه او جذبې د ماتولو کوښښ مه کوه مونږ سره هغه څه شته چې جګړه پرې ګټل کیږي ، لاړ شه د مسجد امامت سنبال کړه نه د حکومت په معلاماتو او پوځي چارو باندې نه پوهیږې !

خطیب وویل : که تاسې دین له سیاست څخه بیل کړو نو نه به زه ستاسې ملګرتیا وکړم .

او تاسې صحیح وویل چې زه په جنګي چارو باندې نه پوهیږم خو په دې ضرور پوهیږم چې جنګ یوازې په وسله او سپرلي نه ګټل کیږي او په عسکري قابلیت باندې هم نه ګټل کیږي په کوم باندې چې تاسې ناز کوې .

یو څیز بل هم دی چې ستاسې کامیابي په ناکامي بدلوي !

ټول څک او حیران د هغه لور ته په کتلو شول نو خطیب وویل : د کوم قوم واکمن چې غوړمالاتو خوښونکي شي نو خپل قوم د ځان سره ډوبه وي ځکه هغه حکومتي چارې د غوړمالاتو او د غلامي ذهنیت لرونکي ته ورسپارې نو هغه ازاد او خپلواک قوم وړي ، برینډ او غلام رعیت ورځني جوړیږي .

کوم حکمران چې د پوځ واګې غوړمالاتوسالارانو ته وسپارې نو د هغوی مقصد د خپل هیواد د سرحداتو ساتنه نه بلکې د حکمران د خوشحاله ساتلو فکر وي او زه ستا په دربار کې ګورم چې هر سالار ستا د ارادې او فیصلې ستاینه کوي او له خطرونو څیني مو نه خبر وي او تاسې ته مشوره نه درکوي چې صلیبیانو محاصره کړې یاست .

د اقصی په مسجد باندې د کافرانو قبضه ده نو په دې حالاتو کې غوره دا ده چې تاسې ګمشتګین او د حلب مشران .... سلطان صلاح الدین ایوبي ته ورشئ .

سالارنو تاسې ته دا هم نه دي ویلي چې سلطان صلاح الدین ایوبي د الرستان ټول غرونه نیولي او تاسې د هغه د محاصرې کولو خوب هم نشئ لیدلی او د هغه د سرتیرو نه هم خبر یاست خو سالارانو ستاسې په سترګو پټې تړلې دي او دا یې له نظر څخه پټ کړي دي ، د سلطان صلاح الدین ایوبي د استخباراتو غړي ستاسې له سینو راز وباسي او ستاسې د حرم څخه نجونې پورته کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو سالار په غصه کې وویل : ای د موصل حکمرانه ! مونږ خپل سپکاوی نور هم وزغمو په مسجد کې ناست الله الله ... کوونکی زمونږ د استاد کیدلو کوښښ کوی .

سیف الدین وویل: زه دی خطیب ته ډیر د احترام په سترګه ګورم پریږدی چې وای ورم .

عز الدین په خندا وویل : له دی وروسته به دا هم وایی چې د ده وفا داری د چا سره ده ؟

خطیب عزالدین ته وویل : زما وفاداری د الله جل جلاله او د الله د پیغمبرحضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره ده .

عزالدین وویل : تاسی ددی کوښښ کوی چې د سلطان صلاح الدین ایوبی په وړاندی سجده وکړو .

مونږ تاسی ددی لپاره راغوښتلی وی چې د قران له مخی د کامیابی او ناکامی حال را ته وښایی خو ...

خطیب په لوړاواز وویل : قران کریم په دی هکله خپل حکم صادر کړی بیا هم ستاسی په وړاندی حقیقت ښکاره کوم سجده یوازی او یوازی د الله جل جلاله په وړاندی کیږی د الله تعالی مخلص بنده ایوبی یو طوفان یو سیلاب دی چې بی دینان به د وچو پاڼو په څیر د دمشق ښځه د خان سره یوسیی

سیف الدین وویل : زما د زړه ښځه خپل مینه مه وباسه !

خطیب وویل : ته د خمکی د ډیری کوچنی برخی بادشاه یې وویرېږه د هغه ذات څخه چې د ټول جهان پادشاه دی ما سره مینه مه کوه ، زما پر مخ باندی لاړی توی کړه خو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په ښودلی نیغه لاری باندی روان شه !

ته دی بی غیرته سالارانو او حکومتی چارواکو بی لاری کړی ، ستا د خوښی لپاره تا ته بی شمیره القاب استعمالوی که په تا زوال راغی نو بیا دوی ستا د پیژندلو نه هم انکار کوی ته نه پوهیږی دا ستا د قوم او هیواد دښمنان دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته په قهر مه ګوره ای سیف الدینه ! خپل کور دوزخ مه جوړوه تاریخ نه عبرت واخله ، د غلامی ذهنیت لرونکو پادشاهانو نه ګدا یان کړی دی .

سیف الدین په قهر شو وی ویل : هغه کوم ځای کې بند کړی چې اواز یې زما غوږونو ته راونه رسیږی .

خطیب المخدوم ساتوونکو بوتلو او د عذاب ورکولو په کوټه کې یې واچولو.

د خطیب یوه لور وه چې صاعقه نومیده، میرمن یې څه وخت مخکې وفات شوی وه، یوازی دوه په دوه په کور کې اوسیدل کله چې د خطیب د بندی کیدلو اوازه خپره شوه نو د دربار څخه داسې تور پری ولګیده چې خطیب لیونی شوی دی .

د ښار خلکو خطیب ته ډیر احترام او درناوی درلوده، د ښار میرمنې او نجونې د صاعقې پوښتنې ته راتللی او دا پوښتنه یې کوله چې دا ولی ؟

صاعقی به وویل الله تعالی ښه پوهیږی !

خطیب چې کله بندی شو نو د یو پیره کوونکی څخه یې قران مجید د تلاوت لپاره وغوښتلو.

هغه ورته وویل: دلته قران مجید لوستل نشته. دا جهنم دی، دلته نوری نوری کیسی دی !

خطیب حفظ شوی سورتونه په ډیر درد او سوز سره تلاوت کول ، هغه سوره الرحمن په لوړ اواز لوستلو د سورت په پای کې یې چې دروازی ته وکتل نو یو پیره کوونکی ولاړ وو او سترګو نه یې وښکی روانی وی .

پیره کوونکی خطیب ته وویل : زه خو په دی بندیخانه کې د شپږ کالوتو راهیسی دنده سرته رسوم خو د الله تعالی د کلام اواز می د لومړی ځل لپاره واوریده چې زما زړه یې نرم کړ، ما قران نه دی لوستلی په داسی حال کې چې زما په مورنی ژبه کې لیکلی شوی دی ته څوک یې ؟

خطیب ځواب ورکړ : د موصل د جامع مسجد امام .

پیره کوونکی پوښتنه وکړه : ستاسی جرم څه دی ؟

خطیب وویل : زما جرم یوازی دا دی چې ما د پادشاه حکم و نه مانه او د الله د کتاب فرقان حمید حکم می مخکی او معتبر وبللو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېره کوونکی په عذر سره وویل : ستا څخه هیله کوم چې زما په بدن کې چې کوم زهر دی ستاسی په خوږه ژبه د قران کریم په الفاظرسره یې وتل پیل کړل نو که هغه یو ځل بیا تلاوت کړی !

خطیب بیا په ډېر سوز سره تلاوت پیل کړ نو پېره کوونکی د بندیخانی د دروازی سیخان نیولې او د سترګو څخه یې اوښکی روانی وې تر هغی چې د خطیب اواز بند شو .

پېره کوونکی وویل : که ستاسی په اواز کې داسی جادو وی نو ضرور به جنیات ستاسی معتقدین وی .

خطیب وویل : الله تعالی ښه پوهیږی .

پېره کوونکی وپوښتل قران یوازی د ایمان خاوندانو ته زیری ورکوی او که ....

خطیب وویل : هو! قران کریم په زړونو کې د ایمان شمع هم بلوی .

پیردار وویل : زما په زړه کې اور بل دی نه پوهیږم چې دا به د بدل اخیستلو اور وی او که ایمان خو زه به په هغه پوځ کې شامليږم چې یروشلم فتح کړی او زه خپل انتقام واخلم .

خطیب وویل : هغه ته بیت المقدس وایه نه یروشلم - انتقام ذاتی عمل دی او د مسلمانانو خاوره د صلیبیان نه ازادول د الله جل جلاله حکم دی - ته هغه ته ولی انتقام وایی ؟

پېره کوونکی وویل : ما د کوم بندی سره تر اوسه داسی خبری نه وی کړی څرنګه چې ته عالم یې که زه د خپل زړه غوټه خلاصه کړم نو زما روح به ډاډه شی او هغه دا چې زه د بیت المقدس اوسیدونکی یم چې په هغه خاوری باندی د صلیبیانو واکمنی ده هغوی مسلمان د ښاریو په څیر ګنی کوم ته یې چې زړه وشی وژنی یې یا په بندیخانی کې ساتی ، د بیګار رواج خو عام دی په کوم کور کې چې ځوانه نجلی وی د کورنۍ مشران یې هر شیبه ددی تصور کوی چې ضرور به د لور او خور عفت او عصمت به د صلیبیانو لخوا لوټ کیږی .... د شپږو کالو راهیسی د سلطان صلاح الدین ایوبی د راتګ لاره څارم .

(c) kitabton.com: The Digital Library



یوه ورځ صلیبی زه ونیولم او د ځان سره یې روان کړم چې د هغه سره سامان یوسم خو ما انکار وکړ نو هغه پر مخ په څپړه ووهلم وی ویل ته مسلمان یې او زما خبره نه منې ؟ نو ما هغه په سوک وواهه هغه په ځمکه باندی ولویده ما له ویښتو څخه وونیو بیا می په لغته وواهه نو د هر لوری په ما باندی خلک راټول او په وهلو یې شروع وکړه ، په دی کې پولیس راغلل او زه یې بیګار کیمپ ته بوتلم دری ورځی می هلته تیری کړی په څلورمه ورځ په پیره ولاړ پیردار نه می خنجر واخیست او هغه می په زړه وواهه مړ شو د کور په لور روان شوم چې ټول له ځان سره د بیت المقدس څخه وباسم ترڅو هغوی زما له امله په عذاب نه کړی خو افسوس کله چې کور ته ورسیدم ګورم چې دیوالونه وران شوی ، بیا د یو مسلمان ګاوندی کور ته لاړم دروازه می وټکوله هغه د ویری په حالت کې راووت ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې زما د کور غړی چیرته تللی دی هغه راته په داسی حال کې چې اوښکی یې د سترګو روانی وی وویل : ستاسی د کور غړی چې ماشومان او دوه پیغلی خویندی وی صلیبی پوځیانو له ځان سره بوتللی او کور ته یې اور واچولو.

زما په زړه چې څه تیر شول د هغی تصور تاسی نشی کولای- نو پوه شوم چې زه خپلی خویندی د صلیبیانو څخه نشم ازاد ولی او زه هم نیول کیږم چې د نیولو سره زما مرګ دی یا په بندیخانی کې د ټول عمر تکلیفونه ګالل او د کوم مسلمان په کور کې هم پناه اخیستلی نه شم ځکه زما له امله د ټولی کورنۍ غړی نیول کیږی نو د بیت المقدس څخه راوتلم په لاره کې می یو سپور صلیبی ولیده چې توره هم ورسره وه د ودریدلو اواز می پری وکړ هغه ودریده نو په خبرو خبرو کې می د پښو څخه ونیوه او له اس څخه می لاندی راوغورزاوه او په ډیر تلوار می ورڅخه توره واخیستله بیا می د هغه لاسونه اوپښی وتړلی او په اس سپور شوم او اس ته می پونده ورکړه .

زما دا په یاد نه دی چې څو شپې ورځی می سفر وکړ په دی سفر کې نه د لوږی او تندی احساس را سره وه او هر ځل به می په لوړ اواز د الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه پوښتنه کوله چې ای پروردګاره ما ته په کومه ګناه سزا راکوې که زه ګناهګار یم نو ما ته سزا راکړه نو زما خویندې او کوچنې وررور خو بې ګناه دي

د الله تعالی له لورې ما ته کوم خواب را نه کړای شو بیاهغه ته په سجده پریوتلم او وه مې غوښتل چې ای الله ما ته د زړه ارامي په برخه کړې یا زما په زړه کې چې د انتقام کوم اور بل دی هغه سوړ کړې .

بیا د موصل یو کلي ته را ورسیدلم نو مسجد ته ولاړم او د امام په وړاندې کیناستلم ورته مې وویل : زه به الله جل جلاله ځیرې پیدا کړم چې هغه ته خپل فریاد وکړم خو هغه ما ته کومه داسې طریقه هم راونښودله چې زه د الله جل جلاله سره پرې خبرې وکړم او له هغه څخه د خان لپاره روحاني سکون وغواړم .

هره شپه په خوب کې خپلې خویندې وینم چې هغوی ژاړي تر هغه چې د خوب څخه راویښ شم ، ورځ په ورځ دا احساس کوم چې زما خویندې په ما باندې لعنت وایي ...

بیا یوه ورځ ما ته وویل شول که د صلیبیانو څخه انتقام اخلې نو په پوځ کې شامل شه .

خطیب وویل : ښه لاره یې درته ښودلې ده خو ته چې په کوم پوځ کې یې هغه د بیت المقدس د ازادۍ لپاره نه بلکې د صلیبیانو په مرسته د سلطان صلاح الدین ایوبي د وژلو لپاره میدان ته راوځي .

پهره کوونکي وویل : ما د یو بل څخه هم داسې خبرې واوریدلې خو یقین مې پرې نه کولو چې زمونږ حکمران دي هم خپلې هغه خویندې او ورونه هیر کړې چې د صلیبیانو د ظلمونو لاندې دي .

خطیب وویل: هغوی دومره د ذلت په کنده کې لویدلي دي چې د صلیبیانو لخوا تښتول شوې مسلمانې نجونې هغوی ته د ډالۍ په ډول ورکول کیږي او د خپل حرم زینت ورځني جوړوي نو له دې امله سلطان صلاح الدین ایوبي د قرآن کریم او نبوي سنتو له مخې د خلکو د عزت او ابرو ساتلو لپاره زیار او کوښښ کوي څکه د هغوی دښمن دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروره ! زما جرم دا دی چې د موصل والي سيف الدين ته د قرآن کريم د پام راګرځولو کوښښ مې وکړ او دا مې ورته په ګوته کړه چې د مسلمانانو په خلاف جګړه کې به انشاء الله ضرور ماتې خوري خو هغه د بادشاهي په نشه کې مست دی د الله تعالی او د هغه د پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د هداياتو څخه سرغړونه کوی نو ددی خبرو په کولو يې د بنديخانی لاندينی پوړ د تورو تنبو تر شاه اچولی يم .

پېره کوونکی وويل : تاته به دلته ډير تکليف وی خو د هرې شپې پسی ورځ هم وی خو زه ستا هر ډول خدمت ته تيار يم .

خطيب وويل: دا دنياوی جسمانی تکليفونه هيڅ نه دی خو کوم څيز چې زه پريشانه کړی يم هغه زما يوازينی پيغله لور ده چې څو کاله وړاندی د هغی مور مړه شوه او ما بيا بل واده و نه کړ .

پيردار وويل : انشاء الله چې زه به يې حفاظت کوم .

خطيب وويل: د ټولو حفاظت کوونکی د الله تعالی ذات دی تاسی زما کور ته لاړ شی او زما لور صاعقی ته ووايه چې ثابت قدمه پاتی شی او زما په باب هيڅ فکر و نه کړی او که دلته د قرآن کريم د لوستلو اجازه وی نو زما له لور څخه زما قرآن مجيد راوړئ .

پيره کوونکی سهار د صاعقی کور ته ورغی او د هغی په سر باندی يې لاس کيښوده ورته وی ويل : ستاسی پلار خو يو ظالم واکمن ته د حقی خبری کولو په جرم بنديخانه کې دی او دا ستاسی او زمونږ ټولو لپاره د ډير افتخار او وياړ ځای دی څکه د عالم شان بايد همداسی وی .

صاعقی وويل : ايا زما د پلار په خلاصيدو کې زمونږ سره څه مرسته نه شی کولای ؟

پېره کوونکی وويل : زه د زړه له کومی ستاسی د پلار مرسته کولو ته تيار يم خو دا درته نشم ويلی چې زه څه کول غواړم اوس ما ته د خپل پلار هغه قرآن کريم راکړه په کوم کې چې هغه تلاوت کوی چې زه يې ورته ورورم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاعقه پاخیده او قران مجید یې ورته راوړ او وی ویل : ما ته چا مشوره راکړې چې د موصل والي ته ورشه او خپل پلار سره د لیدنې اوکتنې اجازه ورڅخه واخله .

پیره کوونکي وویل : د لیدنې اوکتنې همدا طریقه ده .

صاعقه د موصل والي سیف الدین ته ورغله ترڅو د خپل پلار سره د لیدلو او کتلو په هکله ورسره خبره وکړي .

سیف الدین چې د ښکلو نجونو ښکاری وو کله یې چې صاعقه ولیده نو خپل خوا ته یې د کیناستلو اشاره ورته وکړه ، بیا هغه د صاعقې د ژبې نه د کومې خبرې اوریدلو پرته وویل : زه پوهیږم چې ته ولې راغلې یې ستا د پلار جرم ډیر لوی دی .

صاعقې وویل : زما پلار کوم جرم کړی دی ؟

سیف الدین وویل : بغاوت !

صاعقې وویل : ایا د صلیبیانو په خلاف تا ته د څه ویل جرم دی ؟

سیف الدین ځواب ورکړ : زما ریاست ته چې څوک نقصان رسوی هغه لوی مجرم دی که مسلمان وی یا صلیبی ، ایا ستاسی پلار د سلطان صلاح الدین ایوبی پلوي نه دی ؟

صاعقې وویل : د سلطان صلاح الدین ایوبی ملګرتیا کوم جرم نه دی !

سیف الدین وویل : زه حیران یم چې خلک یې پرښته ګڼي خو هغه د ښځو په معامله کې ځناور دی ، هغه په خپل حرم کې بې شمیره نجونې ساتلې دی چې څو میاشتې یې له ځان سره ساتي بیا یې خپل سالارانو ته سپاری د هغه پوځ چې په کوم ځای یرغل کوی د مسلمان او صلیبي کور لوټي او نجونې له ځانونو سره بیایي او ستا په څیر ښکلې پیغلې عفت او عصمت هیڅکله خوندي نه وی زما دا مسئولیت دی چې ستا د عزت حفاظت وکړم که څه هم ستا ساتنه په خپل کور کې وی .

صاعقې وویل : زما حفاظت الله تعالی کوی خو ستا څخه هیله لرم چې ما ته ددې اجازه راکړې چې خپل پلار وګورم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیف الدین وویل : تر هغه چې قاضي ورته سزا نه وی اورولی هغه سره د لیدنی اوکتنی اجازه نشته .

صاعقی وویل : د هغه سزا به څه وی ؟

سیف الدین وویل : مرګ او هغه داسی نه چې په توره یې د تنی نه سر جدا کړای بلکی لومړی ورڅخه سترګی بیا غابونه ویستل ، د پښو او لاسونو ګوتی پری کول او وروسته ورڅخه پوستکی !

د صاعقی رنګ زیړ شو غابونه یې وچیچل اواز یې بدل شو وی ویل : که قاضي په هغه باندی د مرګ حکم وکړی ، ایا تاسی په هغه رحم نشی کولای چې په توره یې سر پری کړئ ؟

سیف الدین وویل : که ته په خپلی ځوانی رحم وکړې نو زه هم ستا په پلار باندی رحم کولای شم .

صاعقی ورته د سوال په نظر وکتل نو سیف الدین وویل : د پلار له مرګ وروسته به ته یوه عامه غریبه نجلی وی دا به غوره نه وی چې ته زما میرمن شی او پلار دی هم له عذاب څخه خلاص شی .

صاعقی وویل : که ما ته خپل پلار د ځان ساتنی تعلیم نه وای راکړی نو ستا میرمن کیدل خو څه چې یوه شپه ستاسی سره تیرول باندی به می هم ویاړ کولو خو تاسی دا سودا زما د پلار سره وکړی او ورته ووایی چې تاسی مرګ خوښوی او که ما تاسی ته سپاری خو زه په یقین سره وایم چې هغه به ووایی چې ما جلاد ته حواله کړی .

سیف الدین وویل : ایا دا ستا اخری فیصله ده .

صاعقی وویل : هو ! خو تاسی د موصل والی یاست ما په زور باندی هم خپل حرم کې ساتلی شی .

سیف الدین وویل : زه داسی هیڅکله نه کوم .

صاعقه پاځیدله روانه شوه نو سیف الدین وویل : ودریږه دا و نه وایی چې د موصل والی سیف الدین د یو نجلی غوښتنه پوره نه کړه ته نن شپه د خپل پلار سره لیدل کتل کولای شی ! زما یو تن به ستاسی کور ته درشی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به تاسی د ځان سره بندیخانی ته بوځی او څومره چې غواړی د خپل پلار سره کیناستلی شی .

صاعقی ورځخه مننه وکړه بیا د دربار څخه ووتله ، د سیف الدین تر شا چي کوم پیره دار ولاړ و هغه ته یې ورته وویل : د دومره ښکلی مرغی په پنجره کې اچول پکار دی .

پیره کوونکی په مسکا وویل : ایا زه ستاسی په اشاره باندی نه پوهیږم .

سیف الدین وویل : ته پوهیږی چې هغه چیرته له ځان سره بوځی خو هغه باید په دی پوه نشی چې تبنتول کیږی .

پیره دار وویل : دا خو زما لومړی ځل نه دی .

❁❁❁

پیره دار ماښام بندیخانی ته ورننوت او د خطیب ابن المخدوم کوټی ته مخامخ ودریدل ځلور لورو ته یې وکتل بیا یې قرآن کریم خطیب ته ورکړه او ورته وی ویل د خپلی لور هیڅ فکر مه کوی هغه په هر لحاظ خوندی ده هغی ما ته یوه خبره کړی الله تعالی دی د هغه د کولو توفیق راکړی چې د هغی هیله پوره کړای شم .

خطیب وویل: هغه کومه خبره ده

پیره کوونکی یو خوا بل خوا وکتل بیا په خپه اواز سره وویل : تیښته ... که په تا کې دومره همت وی نو زه تا سره مرسته کولای شم .

خطیب وویل: په کوم کار کې چې د الله رضا شامله وی نو د هغه لپاره همت هم ورکوی خو زه ستا په مرسته له دی ځای څخه نه وځم او دلته مرګ ته ترجیح ورکوم .

پیره دار حیران شو پوښتنه یې وکړه ایا په ما باندی دی باور نشته ؟

خطیب وویل : په تا اعتماد کوم خو ستا په مرسته که ددی ځای څخه ووځم له ما نه به وروسته تا ونیسی او ډیره سخته سزا به درکړای شی .

پیره کوونکی وویل : زه له تاسی سره ځم زما په دی دنیا کې هیڅوک نشته او په زړه کې می هغه اور بل دی کوم چې تیره شپه می تاسی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښوده نو د هغه د مړه کیدلو کوښښ کوم او ستاسی د لارښوونې په اساس د سلطان صلاح الدین ایوبی په پوځ کې شاملیږم .

خطیب وویل : په دې صورت کې ستاسې مرسته قبلوم .

کله چې پیره دار ولاړ نو خطیب په رڼا کې قرآن کریم خلاص کړ چې د صاعقې د لاس لیکلی کاغذ په کې وو " الله جل جلاله زموږ سره دی ، جنیات شته ، پیغمبر حق دی ، د پیغمبر فرمان مو واوریده ، ایمان تازه شو نو د هغه په مخ باندې د خوښې نښې څرګندې شوې بیا یې کاغذ څیرې کړ .

کوم وخت چې خطیب کاغذ څیرې کړ په هغه وخت کې د سیف الدین ساتونکي دروازه ووهله صاعقې دروازه خلاصه کړه هغه یې وپیژنده .

ساتونکي ورته وویل : زه راغلم چې بندیخانې ته لاړ شو .

صاعقې وویل : تاسې د باندې انتظار وکړئ زه حجاب راخلم او بهر راوځم .

پېره کوونکي مخکې او صاعقه ورپسې روانه وه تیاره شپه وه د څو کوڅو نه تیر شو بیا په داسې لاره روان شول چې هر لورې ته ونې او بوټي وه پدې وخت کې پېره کوونکي د شا له لورې تور کیښودلی شوه او د ودریدو ورته وویل شول یو تن د هغوی په خولو باندې پټۍ او لاسونه وتړل او بیا یو کور ته بوتلل او کوټه بند کړ .

بیا یې خوله ورله خلاصه کړه ورته یې وویل ته خو د سیف الدین خاص ساتونکی او راز دار یې نو نجونو د تښتولو په اړه له تا پوښتنه کول نه غواړو بلکې دا راته ووایه چې د سلطان صلاح الدین ایوبی په خلاف د هغه اراده څه ده د نه ویلو په صورت کې به هغه عمل درسره وکړای شي کوم چې سیف الدین یې د خپلو مخالفینو سره په بندیخانې کې کوي

ساتونکي وویل : د سیف الدین د حلب او حرن په پوځ باندې اعتماد نشته خو په ښکاره ورسره یو ځای میدان ته ځي .

سرتیری مجاهد وویل : سیف الدین خپلو سالارانو ته څه لارښوونې کوی ؟

ساتونکي وویل : هغوی ته یې وویل چې موږ به دا کوښښ کوو چې سلطان صلاح الدین ایوبی د غرونو په سیمه کې محاصر هکړو .

سرتیری مجاهد وویل : پوځ به په کومې لارې ځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکي وويل : د قرون حمات له لاري .

سرتيري مجاهد وويل : صليبيان ورسره څومره مرسته کوي .

ساتونکي وويل : صليبيانو د مرستي وعده کړي خو سيف الدين سره هم چل کوي که هم څه هم خو تنه کماندويان د موصل پوځ ته تربيت ورکوي .

❀❀❀

د حرن او حلب څخه پنځوس ميله لري د صليبيانو مرکز و چې هلته زيات کوښښونه د جاسوسي او ورانکاري په هکله کيدل، هلته چې څومره صليبي چارواکي اوسيدل هغوی ټول د سلطان صلاح الدين ايوبي په خلاف د مخامخ جنګ پر ځای ورانکاري ته لومړی والی ورکاوه او هم يې د مسلمانانو تر منځ د اختلاف پيدا کولو او په خپلو منځونو کې د جنګولو پلانونه جوړول، تش په نامه مسلمانو اميرانو ته به يې نجوني او نور د عيش او عشرت شيان استول. همدا رنګه به يې د سلا کارانو او روزونکو په نامه جاسوسان هم هلته ځای پر ځای کول .

د حرن څخه امير ګمشتګين يو صليبي سلا کار د مرستي او کومک اخيستلو لپاره د صليبيانو نژدی مرکز ته واستولو چې هلته ريمانډ او ريجنالډ دواړه موجود وه.

ريجنالډ سلطان نور الدين زنګي په جګړه کې نيولی و او هلته بندي وه چې کله هغه وفات شو نو ګمشتګين هغه د راتلوونکي مرستي په هيله او اميدخوشي کړ.

صليبي استازي چې په اصل کې جاسوس ؤ خو د سلا کار په حيث يې کار کاوه، هغه چې کله د صليبيانو مرکز ته ورسيده نو ريمانډ او ريجنالډ ته يې د حرن په هکله ټول حالات بيان کړل او دا يې ورته وويل چې د حلب څخه هغوی ته نوی پيغام راغلی چې پوځونه بايد د يوی قوماندي لاندي کار وکړي، د هغې پيغام سره دوه نجوني هم وي چې د ګمشتګين سالارانو شمس الدين او شاه بخت هغه الرستان ته واستولي او د حرن قاضي يې ووژلو، د حرن امير هغه دوه سالاران بنديان کړل، بله دا چې د ميلمستيا په دوران کې زموږ يو صليبي سلا کار ووژل شو. سبا بيا څرګنده شوه چې دوه پيره کوونکي هم مړه شوي، د حرم يوه نجلۍ او يو ساتونکي هم ورک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په راپور باندې ټولو ډېر په کرس کرس وخندل بیا ریمانډ وویل: مسلمان آمیران دومره خراب شوي چې په ښځو باندې کسان وژني. سره د دې چې ګمشتګین ډېر د یکتاتور دی بیا هم د هغه غټ سالاران شمس الدین او شاه بخت د سلطان صلاح الدین ایوبی کسان وختل او زمایقین دی چې هغوی د نجونو لپاره قاضي وژلی دی.

یو صلیبي چارواکي چې د جاسوسۍ اداري مشر وو وویل: تاسې سلطان صلاح الدین ایوبی نه پیژنئ، خو زه هغه ښه پیژنم، هغه د ښځې او شرابو په مقابل کې د ډېرې پشان دی، په همدې خاطر هغه ته څوک دوکه نشي ورکولای، هغه خپل دماغ او زړه پاک او صاف ساتلی دی نو ځکه هر پلان یې کامیاب او بریالی وي. د هغه پوخ هم د هغه پشان پوخ او کلک دی.

نور آمیران کمزوري دی هغوی د ښځو او شرابو پوسیله زموږ ملګري کیږي چې بیا د هغې په نیشه کې هر ډول کار ورځخه اخیستلایی شو. موږ د هغوی په حرمونو کې داسې نجونې ځای پر ځای کړي چې روزل شوي جاسوسانې او ورانکارې دي.

همدا رنګه د همدوی پوسیله موږ د هغوی په منځ کې اختلاف اچوو او پخپلو منځونو کې یې سره جنګوو.

ریجنالډ وویل: موږ به دا قوم او ملت په همدې شیانو تباه کوو، سلطان صلاح الدین ایوبی به خوشحاله وي چې هغه ریمانډ په شا کړ خو هغه د دې څخه ناخبره دی چې موږ په بل محاذ کې هم جنګیدلای شو، موږ د هغوی په زړونو کې ننوتي یو.

صلیبي جاسوس وویل: خپل کار نور هم باید تیز کړو ځکه چې د حرن، حلب او موصل په دربارونو کې د صلاح الدین ایوبی کسان ځای پر ځای شویدي. هغوی زموږ ټول کارونه او فعالیتونه فلجوي.

یو صلیبي چارواکي وویل: موږ د مسلمانانو د یو آمیر او چارواکي سره هم دوستي او ملګرتیا نلرو، د هر یو څخه چې کار اخیستل کیږي هماغه زموږ ملګری او دوست دی په یو هم اعتبار او باور نشته، هغوی ټول زموږ دښمنان دي او د ټولو ختمول پکار دي خو په ورو ورو باید پخپلو کې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم شي، مونږ به هغوی ته نجونی، شراب، وسله ، سپرلی ، سره او سپین زر ورکوو او داسې مرسته به ورسره کوو چې جګړه روانه وساتی خو یو هم پکې قوی او څواکمن نشی .

مونږ باید د هغوی خویونه، عادتونه، اخلاق او کلتور خراب او ګډوډ کړو ترڅو هغوی د خپل تاریخ څخه بی خبره پاتی شي او پر مونږ باندی تکیه وکړي .

مونږ باید تل هغوی ته د مرستی وعدی ورکړو ترڅو خپله کوم کار ونشي کړای او په پښو ونه دریږي، د هغوی د تباه کولو لپاره پکار دی چې د هغوی خپل وسایل ختم او تباه شی تر څو تل مونږ ته اړ او محتاج وي.

یو چارواکی وویل: مونږ به ضرور د هغوی سره د وسلی او مال مرسته کوو. خو خپل کسان پدی جنجال او لانجه کې اچول ندی پکار .

بلاخره هغوی ټولو فیصله وکړه چې لیندی، غشی، کیمیاوي آور اچوونکی مواد او پنځه سوه آسونه چې زموږ د پوځ پکار نه وی د حلب په لوری سبا باید واستول شی .

همدا رنګه هغوي دا هم وویل چې د شیخ سنان نهه کسان چې مخکی هلته استول شوی هغوی باید د هر زیات تشویق شی چې خپل کار وکړی .

❁❁❁

سلطان صلاح الدین ایوبی په خپل مرکز کې ناست وو چې انطانون او فاطمه هلته ورسیدل ، د استخباراتو د چارو مرستیال حسن بن عبدالله هغوی دواړه سلطان صلاح الدین ایوبی ته وروستل او هغوی خپله کیسه ورته وکړه خو هغه خوښ نه شو نو حکم یې وکړ چې انطانون دی بیرته تعلیمی مرکز ته لاړ شی او فاطمه دی دمشق ته .

فاطمی وویل : زه د انطانون سره واده کول غواړم !

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : ستاسی واده به په دمشق کې کیږی د جګړی میدان د شهادت لپاره دی نه د واده کولو لپاره .

انطانون وویل : ښاغلی سلطان ! تاسی زما څخه خفه یاست زه خپل ځان د دا سزا ورکوم چې ترڅو تاسی له ما څخه راضی نشی تر هغه زه واده نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم او ای فاطمی ! ته د سلطان د لارښونی سره سم دمشق ته لاړه شه هغه ښه ځای دی او انشاء الله که ژوند وو زما واده به ستاسی سره کیږی .

سلطان معظم زه یو وړاندیز او هیله لرم چې قبول کړای شی او هغه دا چې ما د سرتیرو ټولګی کي شامل کړی ما ددی روزنه هم کړی ده نو سلطان صلاح الدین ایوبی هغه سرتیرو ټولګی ته ولیږلو .

بله ورځ هغه دوه نجونی هم چي الملک الصالح ګمشتګین ته د تحفی په ډول رالیږی وی د هغوی سره د سالار شمس الدین او سالار شاه بخت دوه تنه هم راورسیدل ، هغوی د حرن حالات بیان کړی بیا یې هغوی ته وویل : تاسی دواړه دمشق ته لاړی شی .

یوی نجلی وویل : مونږ د خپل عصمت انتقام اخلو په کوم کور یا حرم کې ژوند نه تیرو .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : تاسی دمشق ته ولاړی شی تاسی هلته بندیانی نه بلکی د نورو نجونو په څیر به زمونږ مرسته کوی .

سلطان صلاح الدین ایوبی پدی وختونو کې د هر اندیښمن وه څکه چې هغه ته د هری خوا څخه احول راتللو چې د دښمن پوځونه سره یو ځای کیږي او یو ځای په ګډه حمله کوي، هغه د قاهری د کومک په امید وٌ څکه چې پرته د هغې څخه یې دفاعی جګړه هم نشوه کولای .

د الله تعالی حکمت دا وو چې دښمنان په نورو مسایلو کې بوخت او سلطان صلاح الدین ایوبی ته دومره وخت پلاس ورغی چې هغه ته د قاهری کومک راورسیږي او خپلی اړتیاوی پوره کړی .

یوه ورځ د حرن څخه د استخباراتو د اداری یو غړی راغی او سلطان صلاح الدین ایوبی ته یې د دوه تکړه سالارانو شمس الدین او شاه بخت د نیولو خبر ورکړ نو د خبر اوریدلو سره سم د هغه رنګ زیړ شو څکه هغه دا تصور کولو چې د ګمشتګین د پوځ واګی به د ددی دواړو لاس کې وی او پرته له جګړی څخه به ټول ونیولی شی او اوس ددی پوځ مشری ګمشتګین په خپله کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : حسنه ! دا دواړه ورونه بایدډیری ورځی په بند کې تیری نه کړي ، د ازادۍ کوښښ یې وکړه زه د دوه سو سرتیرو مرګ ته تیار یم خو د یو جاسوس نه ! که هلته د کسانو کمی وی نو ددی ځای څخه یې ولیږه .

حسن بن عبدالله وویل : ډیره ښه ده !

* * *

د موصل په بندیخانی کې خطیب ابن المخدوم د عادت سره سم د قران مجید تلاوت کاوه او د هغه لور صاعقه په یو کور کې د دوه مسلمانو سرتیرو سره په حفاظت کې ناسته وه او نورسرتیری د بندیخانی د دیوال تر شا ناست وو ، د زندان په دیوال پیره کوونکی ګرځیده ، کوم پیره کوونکی چې خطیب ابن المخدوم سره یې د هغه د ازادی وعده کړی وه دیوال ته راپورته او پیره دار یې په خنجر وواژه بیا یې لاندی سرتیرو ته اشاره وکړه او هغوی د رسیو په مرسته په دیوال وختل ، څلور واړه د هغه کوټی په لور روان وو چې په هغه کې خطیب ابن المخدوم بندی وو په لاره کې چې د کوم پیره کوونکو سره مخامخ شول هغه یې هم ووژل بیا یې کوټی ته ځانونه ورسول او کومه کلی چې هغوی جوړه کړې وه په هغه یې قلف خلاص کړ خطیب یې راوویستلو اوبیا بیرته په هماغه لاری باندی له بندیخانی څخه ووتل او ژمنه شوی لوری ته یې ځانونه ورسول کله چې صاعقی خپل پلار ولیدلو نو له خولی څخه یې دا کلمات ووتل : الحمدلله الحمدلله ...

سهار د لمر راختلو څخه مخکی د موصل نه څو میله لری څلور سپاره روان وه چې په یو باندی خطیب ابن المخدوم په دویم باندی صاعقه په دریم باندی د بندیخانی پیره کوونکی او په څلورم باندی د سلطان صلاح الدین ایوبی د استخبارتی اداری غړی کوم چې د سیف الدین د ساتونکې څخه یې راز اخیستی او هغه یې د خپل تګ څخه وړاندی وژلی وو

* * *

ګمشتګین چې کله دواړه سالاران شمس الدین او شاه بخت ونیول نو هغوی ته یې وویل: تاسې خو مخکی زماسلا کاران وی خو اوس د لستونی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماران درځخه جوړ شول چې زما په دربار کې تاسې د صلاح الدین ایوبی لپاره کار کوی.

شمس الدین او شاه بخت ورته وویل: مونږ د چا شخصي پلویان نه یو که تاسې د اسلام ملګرتیا کوی او د صلیبیانو سره دوستي خوشي کړی نو مونږ ستاسې ملګری یو او که تاسې د کفارو سره دوستي کوی او خپل وطن په هغوی خرڅوی نو بیا ستاسی سره ملګرتیا نشو کولای. مونږ چې د سلطان صلاح الدین ایوبی پلوی کوو، هغه مو لیدلی هم ندی خو هغه د اسلام ساتونکی او د بیت المقدس د ازادی غوښتوونکی دی، هغه د ښځو عزت ساتی او تاسې مسلماني لوڼی او خویندی پخپلو حرمونو کې ساتی سره لدی چې هغوی مظلومی وی.

ګمشتګین دواړو ورونو ته دوه ورځی وخت ورکړ چې فکر وکړي او خپل نور ملګری په ګوته کړی.

* * *

په حرن کې چې د شمس الدین او شاه بخت کوم کسان وه هغوی سمدستی په خوزښت راغلل او پخپلو کې سره کیناستل چې څه ډول خپل سالاران راخلاص کړي.

د الله تعالی مرستی او کومک د هغوی ملګرتیا وکړه او هغه دا چې د حلب څخه پیغام راغی چې امیر دی سره د خپلو چارواکو فلانی ځای ته راشی چې ضروری غونډه ده ، ګمشتګین او د هغه ټول چارواکی د حلب په لوری روان شول.

دوه کسان چې څلور آسونه ورسره وه او د مشر سالار بیرغ هم ورسره وه د زندان خولی ته راغلل او مسئول ته یې وویل: امیر ګمشتګین حکم کړی چې سمدستی دواړه سالاران شمس الدین او شاه بخت راخوشی او هغوی دی زر تر زر ستاسی په ملګرتیا ځانونه ما ته راورسوی ځکه چې پرته لدوی څخه زما په غونډه کې ګډون څه ګټه نه لری.

د زندان مسئول وویل کوم لیکلی حکم درسره شته.

راتلوونکو کسانو ورته وویل : امیر دومره بوخت وو چې لیکلو ته یې پام نشو.

(c) ketabton



د زندان مسئول کلیانی واخیستی او هغه دواړه یې راخلاص کړل خو په اخر کې ورته شک پیدا شو چې دا کوم پټ پلان نه وی نو د هغوی د خوشی کولو څخه یې انکار وکړ.

سمدستی راتلونکو کسانو هغه ونیوه او رسی یې په غاړه کې ورته واچوله او د سالارانو په کوټه کې یې واچولو.

هغوی چې کله د زندان څخه راوتل خلک پری خبر شول چې د زندان مسئول یې وژلی او اوس تښتی.

سمدستی د ټول زندان ساتونکی په هغوی پسی شول ، سالاران شمس الدین او شاه بخت خلاص شول خو راتلوونکی قوماندان په غشو ولګیده او شهید شو، شمس الدین او شاه بخت د هغه قوماندان مړی د ځان سره الرستان ته ورساوه او سلطان صلاح الدین ایوبی د هغوی سره د مینی او محبت څرګندونه وکړه او تود هر کلی یې ورته وویلو .

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګناهونو کفاره

د مارچ په میاشت ۱۱۷۵ میلادی کال په حلب کې د موصل، حرن او حلبي واکمنانو ګډ کانفراس وشو ، په هغې کې فیصله وشوه چې دری واړه پوځونه به د یوی قوماندی لاندی وي. پدی غونډه کې ګمشتګین، سیف الدین او الملک الصالح برخه اخیستی وه چې د دری واړو سره صلیبي سلا کاران هم ملګري وه. هغوی د پوځ ترتیب هم برابر کړ چې مخکې به د حرن پوځونه حمله کوي او قرون حمات ته به ننوځي، په ښی اړخ به د حلب پوځونه او تر شا به د موصل پوځونه وي چې اخری او خوابی حمله به کوي .

د موصل پوځونه په دوه برخو ویشل شوی وه چې یوه برخه یې د سیف الدین په لاس او احتیاطی برخه یې د عز الدین مسعود پلاس کې وه. سیف الدین او عزالدین پخپلو کې داسې پلان جوړ کړی وو چې که ماتی وشوه ټول پوځ به شاته پاتی شي او که بری مو پیدا کړ نو ټول پوځ به وړاندی ولاړ او ځایونه به ونیسي، احتیاطی پوځ به د ماتی په صورت کې خان موصل ته رسوی ترڅو هغه له لاسه ولاړ نشي .

د روژی میاشت هم پیل شوی وه. ایتلافی پوځونو ته اعلان وشو چې د جګړی په ورځو کې روژه نیول نشته، تاسې ټول روژه وخوری، مونږ به په صلاح الدین ایوبی باندی د غرمی څخه وروسته پداسې وخت کې حمله کوو چې هغوی تږی او وږی وي او مونږ به ورته تر او تازه وو.

په الرستان کې سلطان صلاح الدین ایوبی خپل پوځ داسې ویشلی وه چې غشی ویشتونکی په لوړو او غونډیو کې ناست وه ، سپاره د درو په آخری برخو کې ولاړ او پیاده د ټولو تر شا ځای پر ځای شوی وه .

د قرون حمات په خوله کې چې کومه دره وه سلطان صلاح الدین ایوبی هلته څینی خیمی او پوځیان ځای پری ځای کړی وه چې دښمن ته پری دوکه ورکړی څکه هغوی ته به همدا ښکاری ، هغوی ته ویل شوی وه چې خیمی به تر اخره پوری د دری په خوله کې ولاړی او آسونه به پرته د زینونو څخه تړلی شوی او کسان به یوی او بلی خواته ګرځی ترڅو دښمن بالکل نژدی

حمله نه وي کړی ترتیب به همداسې وي چې دښمن فکر وکړي مونږ مجاهدین بی خبره راګیر کړي ، د دی خیمو تر شا ټول میدان خالی و خو په دوارو لوړو غونډیو باندی غشی ویشتونکی پټ ځای پر ځای وه .

سلطان صلاح الدین ایوبی غوښتل دښمن همدی دام او لومی ته را برابر او بیا یې داسې وټکوی چې د واکمنۍ نیشه یې له دماغ څخه ووځي.

د اپریل د میاشتی په لومړنیو ورځو کې متحده پوځونه د قرون حمات په لوری وخوځیدل چې دری واړه پوځونه سره له اتحاده جلا جلا روان وه، سلطان صلاح الدین ایوبی ته خپلو څارونکو خبر ورکړ چې لښکری را روانی او نژدی را رسیدلی دی، هغه سمدستی خپل ټول سالاران راوغوښتل او هر یو ته یې خپل خپل کار وسپارلو او ټول یې په خبره ښه پوه کړل، په همدی وخت کې هغه ته د قاهری څخه کومک را ورسیده چې کسان یې کم خو سامان او وسله ور سره ډېره وه. هغه کومک یې هم د نورو سره یو ځای او هر یو ته وظیفه وسپارل شوه .

پدی مهال د حلب څخه د حسن بن عبدالله جاسوس راغی او دا حال یې راوړ چې د لښکر سره د صلیبیانو آور غورځوونکی منګي دی کوم چې ټول په اوښانو بار او د لښکر شا ته را روان دی .

سلطان صلاح الدین ایوبی اته تکړه کماندویان راوغوښتل چې ټول ځان قربانوونکی وه، هغوی ته یې وظیفه ورکړه چې تاسې ته به جاسوسان ځای په نښه کړی بیا به د جګړې په دوران کې هغه تباه کوی .

***

ګمشتګین خپل ټول پوځ راټول او بیا یې وینا ورته وکړه وی ویل : سلطان صلاح الدین ایوبی صلیبیانو او سوډانیانو ته ماتی ورکولای شي خو ستاسې سره چې کله مخامخ شي نو بیا د ګیدړ پشان ټول چلونه ورڅخه له یاده وځي، هغه مکار او دوکه ورکوونکی انسان دی، تاسې پاخه مسلمانان او پرهیزګاران یاستی ، هغه غواړي خپل لوی او پراخه سلطنت جوړ کړی او مونږ ټول خپل غلامان وګرځوی، ماته خپلو جاسوسانو خبر راکړی چې د ایوبی پوځونه د قرون حمات کې بی خبره پراته دی، دا ځل به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ژوندی نیسو او که ژوندی پلاس رانغی نو سر به یې راوړو، هغه نه پیغمبر او نه امام مهدی دی ! نه پیری او دیو دی، مونږ به دا ځل هغه او د هغه پوځ ژوندی نیسو.

ګمشتګین خپل پوځ ښه په جوش او جذبه راوست او احساسات یې راوپارول بیا خپلی پادشاهی خیمی ته ولاړ چې د ماڼۍ او قصر پشان جوړه شوی وه. هلته نهه فدایان ناست وه چې ځانونه یې د مذهبی مشرانو په څیر جوړ کړی وه. خوراک او څښاک راغلو چې شراب هم پکی وه، میلمه پالنه ښکلو او ښایسته نجونو کوله، فدایان لکه د تږوسانو پشان په خوراک او څښاک ورولویدل او د شرابو پیالۍ یې خالی کړی، وروسته یې په نجونو باندی حملی پیل کړی چې دا ډول حملی او بریدونه ګمشتګین نه خوښول خو چاره یې نه درلوده او مجبور وو.

وروسته یې فدایانو ته وویل: اوس ستاسې د رخصتیدو وخت دی دا ځلی بیا ناکام رانشی. فدایانو ته یې د سلطان صلاح الدین ایوبی د ساتوونکو جامی او لباس جوړ کړی و ترڅو پدی لباس کې هغه په ساتوونکو کې ځان شامل کړی ، ټولو نوی جامی واغوستی او کوچنی کوچنی بیرغونه یې وتړل او بیا ماښام تیاره په آسونو سپاره شول ترڅو د بدلی لاری څخه قرون حمات ته ځان ورسوی، او هلته د جګړی په وخت کې خپل اصلی کار چې د سلطان صلاح الدین ایوبی وژل وه سرته ورسوی ،ګمشتګین هغوی ته ټولی لار ښوونی وکړی.

بل لوری ته د حلب او موصل پوځ ته هم خپلو خپلو سالارانو او واکمنانو جذباتی او احساساتی وینا وی وکړی او هغوی یې دی ته تشویق کړل چې دا ځل پوره میړانه وکړی او د صلاح الدین ایوبی ملا ماته کړی.

هغوی ټولو خپلو پوځونو ته وویل: زموږ اصلی دښمن صلاح الدین ایوبی دی ، صلیبیان زموږ مرسته کوونکی دی ، هغوی غواړی مونږ د صلاح الدین ایوبی له غلامۍ څخه وژغوری، تاسې باید خپل اصلی دښمن ښه وپیژنی، هغه مصر او دمشق سره یو ځای کړیدی اوس غواړی مونږ ټول هضم کړی او یو هیواد جوړ کړی، هغه ډېر بد کاره او مکار انسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې په متحده پوځ کې د سلطان نور الدین زوی الملک الصالح، سیف الدین او ګمشتګین ولاړ دي چې ټول عمر یې په سپیڅلی جهاد کې تیر کړیدی، هغوی ټول دروغجن نشي کیدای، لوی دروغجن خپله دی. هغوی خپل پوځ ته وویل چې زموږ علماؤ فتوی ورکړې چې د جګړې په وخت کې روژه نشته.

بل خوا په الرستان کې د سلطان صلاح الدین ایوبی مجاهد پوځ ټولګی ټولګی او ډلی ډلی د غونډیو او غرونو په شا او خوا کې خپاره شوی او هر یو د خپل ښکار په امید وخت تیرولو. هغوی ټولو روژې په پابندی سره نیولی او هرې ډلې د خپل راتلوونکی په هکله پلانونه جوړول.

* * *

د سلطان نور الدین زنګی کونډې رضیع د هغه په ژوندانه کې د نجونو څخه یو پوځ جوړ کړی و چې د جګړې په میدان کې به یې زخمیان راپورته کول او ځینی وخت به یې په جګړه کې برخه هم اخیستله - هغې نجونو ته د جنګ طریقی، لارې چارې او وسلې ښودلی وې ترڅو د اړتیا په وخت کې جګړه هم وکړای شي.

سلطان صلاح الدین ایوبی د جګړې په میدان کې د ښځو موجودیت نه خوښاوه ځکه چې د ماتې په وخت کې د هغوی لپاره ډېر خطر موجود وه او دا کار هغه د ځان لپاره شرم ګاڼه چې نارینه دې ژوندي وي او میرمنی دې د دښمن سره جنګیږي.

د رضیع په پوځ کې څلور نوی نجونی هم ور زیاتی شوی ځکه فاطمه د حرن څخه، صاعقه د موصل څخه او دوه نجونی چې د حرن څخه سالار شمس الدین ویستلي وې هغه هم دمشق ته ولاړې.

د دې څلور واړو په زړونو کې د جهاد جذبه او جوش وه او هرې یوې د اسلام د دښمنانو او صلیبي داړه مارانو څخه خپل غچ او انتقام اخیستل غوښتل. هغوی ټولې هوښیارې او د احساساتو لرونکی وې.

سحر او حمیرا چې اصلاً مسلمانی نجونی وې خو صلیبیانو د کاروان څخه تښتولی او بیا یې د ورانکاری لپاره روزلی وې، هغوی خپله ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصه د دمشق د نجونو پوځ ته بیان کړې وه او هغوی یې د صلیبیانو په ظلمونو، زور زیاتي او بد اخلاقي باندې خبر کړې وه ، په ټولو نجونو کې جوش او جذبه را پیدا شوه او هر یوه قرباني ته چمتو او تیاره شوه. د هغوی شمیر د څلورو سوه څخه تر پنځه سوو پورې رسیده.

رضیع خاتون ته معلومه شوې وه چې په قرون حمات کې د سلطان صلاح الدین ایوبي سره پوځ کم دی نو ځکه هغې دا ځل فیصله وکړه چې حتماً باید نجونې هلته ولاړې شي چې د پوځ کموالي پوره کړي .

هغې نجونو ته د تیارۍ حکم وکړ او په خوا کې یې ورسره دوه سوه نور تکړه ځوانان هم تیار کړل چې د نجونو لارښونه وکړي .

د قوماندانۍ وظیفه یې حجاج ابو وقاص ته ورکړه او ټولو ته یې آسونه هم برابر کړل ځکه هغوی پیاده جګړه نشوه کولای کله چې د نجونو پوځ په حرکت راغی او د دمشق څخه وتلو نو ټول ښاریان د هغوی لیدلو ته راووتل ټولو د تکبیر نارې وهلې او د ډیرې جذبې او جوش څخه ځینو ژړل، د هغوی لپاره دا یوه جذباتي او احساساتي موقع وه ځکه چې د چا لورګانې، د چا خویندې او د چا خپل خپلوانې پدې پوځ کې وې. خپله پوځې نجونې پداسې شان او شوکت سره رواني وي چې د خلکو زړونه یې له ځان سره وړل، داسې معلومیدلې چې ګوندې هغوی به دښمن داسې تباه کړي لکه سیلاب چې خس او خاشاک لاهو کوي .

د ښار خلکو په لاره کې په هغوی باندې ګلان شیندل او دا نارې وهل کیدې : مخکې ولاړې شئ بیرته پښا رانشئ سلطان صلاح الدین ایوبي ته ووایئ چې د دمشق ټولې میرمنې درسره دي .

الله جل جلاله به تاسي ته فتح درکوي ... د اسلام دښمنان درڅخه ژوندي خلاص نشي .

د ښار ځیني خلک په آسونو او اوښانو سپاره تر ډیر لرې پورې له هغوی سره ولاړل او هغوی یې په درناوي او عزت سره رخصت کړل .

دا ورځ هغوی تر ماښام پورې سفر وکړ او چې د روژه ماتي وخت شو نو څو سپاره د هغوی مخې ته راغلل چې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کماندویان وه او لاره یې څارله، ماښام هغوی د حجاج ابو وقاص سره روژه ماتي وکړه پدی کماندویانو کې انطانون هم وه هغه د نجونو په لښکر کې فاطمه هم ولیده ، د روژه ماتی څخه وروسته کماندویان پخپل کار پسی ولاړل او نجونو تر پشمنی پوری آرام وکړ او بیا د سهار تر لمانځه رروسته لښکر د قرون حمات په لوری وخوځید .

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبی د یوی غونډی په سر د خو قوماندانو سره ولاړ وو خبری اتری یې کولی چې سپاره یې تر تظر لاندی راغلل چې څلور څلور شپږ شپږ په ترتیب یو د بل تر شا را روان وو ، هغه په قهر سره پوښتنه وکړه آیا په دی لاره باندی سرتیری ګزمه نه کوی ؟
تیار شئ !
خو تنه سپاره په منډه ورشی وګوری چې دا څوک دی ؟
سرتیری په تلوار ولاړل خو بیرته په اطمینان سره راغلل د سپرلی څخه کښته شول وی ویل : ښاغلی سلطان ! د مشق څه ښځی او سرتیری په پوځی نظم سره راغلی دی .
سلطان صلاح الدین ایوبی په حیرانی سره ووېل : د ښځو پوځ !
بیا یې ووېل : دا پوځ به د نورالدین زنګی شهید کونډی روزلی او رالیږلې وی ؟
ای زما خویندو او لورګانو ! مونږ به تر هغه ارام نه کوو ترڅو د فتحی زیری درباندی و نه کړو !
زه به دوی بیرته لیږم ! که له دوی نه یوه نجلی دښمن ته په لاس ورغله که زه مړ هم شم نو زما روح به ناقلاره وی !
هغه د غونډی څخه راکښته او د هغوی هر کلی ته ورغی نو کله چې ورسره مخامخ شو او سرتیری قوماندان حجاج وقاص د سپرلی څخه راکښته شو د درناوی څخه وروسته یې د نورالدین زنګی شهید د کونډی لیکلی پیغام چې په کې لیکلی وو : زما محترم وروه ! الله تعالی دی مرستندوی شه که زما خاوند ژوندی وایی ته به د دښمنانو په وړاندی یوازی نه وای ! زه ستا هیڅ مرسته نشم کولای خو کوم چې کیدای شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وړاندې کوم دا لښکر ما د زخميانو د پرهرونو د پټي کولو او جګړې لپاره روزلي د هغه سره وسله اودرمل دواړه دي .

زه پوهيږم چې تاسي نجونې په سنګر کې نه خوښوې خو دا فکر وکړې که هغوی بيرته راوليږې نو د دمشق د خلکو زړونه به مات شي .

اوس ددې سيمې د خلکو جذبه د ستاينې وړ ده څکه هر ځوان او بوډا سنګر ته د تللو لپاره تيار دي او ښځې هم ستا په مشرتوب کې جګړې ته ليواله دي دا لښکر د سيمې ټولو خلکو په ولولو سره رخصت کړې دي .

د پيغام په لوستلو سره يې د سترګو څخه اوښکې رواني شوې او په ژړا ژړا کې يې هغوی ته وويل : زما خويندو او ورونو ! زه ستاسې ټولو د جنګ ميدان ته په راتګ تود هرکلي وايم ! ددې قربانۍ بدله زه نشم درکولای بلکې الله جل جلاله به يې درکړې ما دا تصور هم نه کولو چې نجونې سنګر ته راشي زه ويريږم تاريخ ليکوونکي به وليکي چې ايوبي خپلې خويندې او لورګانې ميدان ته راوويستلې زه ستاسې احساسات او ولولې نه ماتوم .

تاسې ته زه وخت درکوم چې فکر وکړې که په تاسې کې کومه نجلۍ داسې وې چې په خپله خوښه نه وې راغلې نو د صف څخه دې ووځي او هغه دې هم جدا شي چې په زړه کې د يوې ذره په څير شک او ويره وې .

يوه نجلۍ هم د صف څخه بهر نشوه .

بيا سلطان صلاح الدين ايوبي وويل : زه تاسې د پوځ شاته ليږم د جګړې په وخت کې تاسې د وړاندې تګ کوښښ مه کوې دا سيمه داسې ده چې تاسې به د دښمن سره مخامخ کيږې کيدای شي په غشو وويشتلې شي يا په تورو ووهل شي او دا هم ممکن ده چې د ښمن ته په لاس ورشي .

يوه نجلۍ په لوړ اواز وويل : تاسې د تاريخ ليکنو څخه ويريږې او مونږ هم ! که مونږ بيرته وليږې نو تاريخ ليکونکي به ليکي چې خويندو او لورګانو هغه يوازې پريښودلو او د کور ناستې يې خوښ کړ په داسې وخت کې چې په هر انسان جهاد فرض دی .

يوې بلې نجلۍ وويل : الله تعالی دې په توری کې نور او قوت برکت واچوه مونږ د کورونو لپاره پيدا شوي نه يو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريمى نجلى وويل : زما ذرى مياشتى وړاندى نكاح شوى كه ته ما بيرته وليږى نو زه به خپل خاوند سره بيا ملګرى نشم .

سلطان صلاح الدين ايوبى وويل : ستا خاوند ولى رانغى ؟

نجلى وويل : هغه د واده په دريمه ورځ راغلى او چې كله راتللو نو راته يې وويل : ما ته د زړه له اخلاصه دعا وكړى چې د هغه بيرغ لاندى چې د صليبيانو څخه د لومړى قبلى د ازادلو كوښښ كوى د سربښندنى توفيق راكړى .

وروسته له هر لورى چغى شوى مونږ ته د جګړى كولو موقع راكړى مونږ به انشاء الله تاسى مايوس نه كړو .

سلطان صلاح الدين ايوبى هغوى څلور څلور شپږ شپږ په ټوليو ټوليو وويشلى او د هر ټولى مشر يې يو سرتيرى وټاكلو ، ددې څخه وروسته يې ددى هداياتو سره وليږلى چې ستاسى دنده د مړو او زخميانو راپورته كول او درمل كول دى .

سلطان صلاح الدين ايوبى هلته ته ورغى او بيا يې هغوى د لښكر شاته ځاى پر ځاى كړې، د هغوى لپاره خيمى ودرول شوى او داسې ځاى يې ورته غوره كړ چې د اړتيا په وخت كې ورڅخه كار واخيستل شي ، د نجونو عمومى قومنداني يې سالار شمس الدين ته وسپارله .

فاطمه ، منصوره ، حميرا اوسحر په يو ټولى كې سره ملګرى شوى چې يو ځاى دمشق ته راغلى وى او د ټولو يوه هيله وه : د بيت المقدس ازادى يا شهادت ! ددوى مشر اذربن عباس وټاكل شو .

سهار چې كله هغوى له خيمو راووتلى ښه موسم او هر لورى ته پاكه هوا چليدله ، مرغانو اوازونه كول او ورسره د هرى خيمى څخه د الله د لوي كتاب فرقان حميد تلاوت په خوږ او زړه راښكونكي غږ اوريدل كيده بل لورى ته سرتيرى په بدنى ورزش بوخت و .

منصورى د اذر څخه وغوښتل چې دوى هم ورسره ولاړى شى ترڅو د سيمى قدرتى ښكلى مناظر و ګورى ، ټول په پښو روان شول ، په لاره او كوم ځاى كې به چې تم كيدل د اسلام د سپيڅلى دين په سياسى ټولنيزو او نظامى مسئايلو به يې بحث كولو، د ماښام څخه وړاندى دوى خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیمو ته راستانه شول څرنګه چې ستړي شوي وي هر یوه په خپل ځای پریوتلی چې په کې د ماښام اذان وشو، هغوی روژه ماته کړه تولي د خیمې څخه یو میدان ته را ووتلې هلته مجاهدینو او نجونو په جماعت سره لمونځ وکړ له مانځه وروسته خمیې ته راغلي خوراک او څښاک ته کیناستلې چې په دې کې عمومي قوماندان راغی ، هرې خیمې ته یې سر دننه کولو او د هغوی د حال څخه یې ځان خبرولو. کله چې راغی نو اذر بن عباس څخه یې د هغه د حال پوښتنه وکړه هغه ورته وویل : زه اندیښمن یم چې دا کم پوځ به د صلیبیانو د لوی پوځ مقابله څرنګه وکړای شي .

قوماندان ورته وویل : الله جل جلاله مونږ سره ملګری او مرسته راسره کوي لکه څرنګه چې وړاندې یې کړې ده ، مونږ هغوی سره جنګ په میدان نه بلکې په هغه ځای کې کوو چې مونږ ورته کمین نیولی دی ...

د شپې چې کله منصوره د تهجد لمانځه لپاره پاڅیدله نو خبرې یې تر غوږو شوې ، د خیمې پرده یې پورته کړه ګوري چې اذر د دوه تنو سره ولاړ دی ، هغه ورته وایي اوس د پړاو څخه د وتلو کوښښ وکړه او څه چې دې واوریدل او ولیدل هغوی ته یې ووایه داسې نه چې راشي او په جال کې ونښلې .

منصوره چې هوښیاره نجلۍ وه د ملګرو د راویښیدو پرته یې خنجر راوخیسته د خیمې څخه راو وتله ، شپه ښه تیاره وه ، اذر په هغه لاره روان شو چې سرتیري مجاهدین په هغې نه وو .

یخه هوا او تیز او تند باد وو، دواړو د غرونو په لمن کې ډیره لاره وهله اذر د دمې لپاره د یو کمر څنګ ته کیناست نا څاپي د شا له لورې منصورې د زنګنونو څخه ونیولو اوپه پوره قوت یې ټیل وهلو چې سر یې د کمر سره ولیږده او پر ځمکه راپریوتلو د ځان جوړولو مخکې ورته منصوره په سینه باندې خنجر کیښوده .

اذر پوښتنه وکړه ته څوک یې ؟

منصورې وویل : مرګ !

اذر وویل : ته خو نجلۍ یې !

هو ! ته ما ښه پیژنې زه منصوره یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اذر په خندا وویل : دا څه کوی لری شه اوخنجر زما د زړه څخه لری کړه زما په پوستکی کې ننوت .

منصوری وویل : ته په کوم لوری روان وی ؟

اذر وویل : په الله جل جلاله می دی قسم وی زه په هیڅکله نجلۍ پسی نه ځم ، ستا نه ښکلی نجلی نشته ، زه ستا سره مینه کوم او تا ته به هیڅکه دوکه درنه کړم .

منصوری وویل : ته ما ښکلی ګڼی او له ماسره مینه کوی او ما هم میړنی ځوانه ګڼی ته اوس د خپل بی ایمانه کار پسی روان یې او زه خپل فرض ادا کوم که بالفرض ته زما د روح او جسم مالک وای او له زما تا څخه اولادونه هم پیدا شوی وای نو دی خنجر به ستا غړی پریکول .

اذر وویل : ته ما څه ګڼی ؟

منصوری وویل : په نامه مسلمان خو د صلیبیانو جاسوس !

اذر وویل : جاسوس پیژنی هم ؟

منصوری وویل : ته اوس ددی مکتب زده کوونکی یې ستا په خیر په زرګونو جاسوسان می لیدلی زه د استاد ابن المخدوم لکنوری لور یم .

اذر وویل : سمه ده زه ستاسره یوه ضروری خبره کوم زما له سینی څخه خنجر پورته کړه .

منصوری وویل : ستا خوله چا ګنډلی ده ووایه څه ویل غواړی .... ناڅاپه اذر په ډیر قوت سره د پورته کیدلو کوښښ وکړ چې بلاخره بریالی او په منډه شو توره یې هم پرینبودله ، منصوری هغه توره راپورته کړه او وروسی شوه او چیغی یې کړی دا د الله تعالی باغی انسان ونیسی ....

د الله جل علی شانه حکمت په دی کې وه چې د ګزمی سپرو دا پیښه ولیدله . هغوی وروسی شول له دی وړاندی منصوره وررورسیدله د توری وار یې ورباندی وکړو خو هغه ورځنی توپ کړ پرمخ ولیدلو خو سپاره یې په سر ودریدل او دواړه یې ونیول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اذر وویل : تاسی د خوراک او څښاک په خاطر دلته راغلی یاست ماسره ولاړ شی، د داسی ښکلو نجونو سره به اوسیږی او د ژوندانه هر ډول اسانتیا وی به درته په برخه شی .

سرتیرو مجاهدنیو وویل : ای ایمان پلورونکیه ! ستاسی سر له تنی څخه دلته غوڅول پکار وو خو مونږ د یو انسان د نیولو وروسته د وژلو څخه منع کړای شوی یاستو .

بیا یې منصوره پرښودله او د اذر لاسونه او سترګی یې وتړلی په اس یې سپور د پړاو په لوری یې روان کړل .

***

د سلطان صلاح الدین ایوبی د خیمی سره په لږ څنګ کې د حسن بن عبدالله خیمه وه پیره کوونکی هغوی لومړی د قوماندان مخی ته بوتلل هغه یوازي په لیدلو سره وویل : ستا څیره راته اشنا ښکاری ایا ته د ابن المخدوم سره د موصل څخه نه وی راغلی ؟

منصوری وویل : زه د ابن المخدوم لور یم ! د هغه روزنی پایله ده چې ما دوه کلیمی واوریدلی نو یوه شوم ستاسی څه اراده ده .

حسن بن عبدالله وویل : زمونږ نجونی ستا څخه ډیر میړنی او باتوری دی خو په هوښیاری کې ستا څخه کمی دی د کومی چې تا څرګندونه وکړه .

حسن بن عبدالله وویل : اذر ولټوی او تالاشی یې کړی .

سرتیری مجاهد د هغه له جامو څخه یوه پاڼه راوویستله چې په هغه باندی د قرون حمات نقشه رسم شوی وه چې په هغه کې د یوځ مورچی ، د پوځیانو شمیر او د اوښانو او اسونو تبیله او ...

بیا حسن ورته وویل : اذره ! اوس چې شک هیڅ څه پاتی نه شو نو ووایه ستا نور ملګری څوک دی ؟

اذر وویل : په رب ذوالجلال قسم زه مسلمان یم ما ته بخښنه وکړی .

هغه یې په مخ یوه څپړه ووهلو چې د هغه له امله په څمکه راپریوت . بیا یې ورته وویل:افسوس چې ته ځان ته مسلمان وایی خو جاسوسی د صلیبیانو لپاره کوی . ستا بلی خبری اوریدلو ته تیار یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اذر وویل : زه یوازی یم .

حسن بن عبدالله وویل : دی نجلی چې له تاسی سره کوم کسان په خبرو لیدلی وو هغه څوک وو او چیری دی ؟

اذر وویل : زه هغه ښه نه پیژنم هغوی په تیاره کې راغلل او بیرته به تللی وی .

حسن بن عبدالله وویل : ددی غلط څواب مو واوریدلو... بیا یې دوه تنو ته چې تر څنګ یې ولاړ وو امر وکړ: دا بوځی....

له دی خبرو وروسته یې منصوری ته مخ کړ وی ویل : ته خپلی خمیی ته ولاړه شه ارام وکړه د سهار لمانځه څخه وروسته به انشاء الله ګورو !

***

سهار د لمانځه وروسته حسن بن عبدالله سلطان صلاح الدین ایوبی ته د اذر د نیولو شوی قصه وکړه نو هغه وویل : که هره نجلی داسی میړانه ښکاره کړی انشاء الله یو ورځ به ضرور تولــه نړی د اسلام قلعه وګرځی چې په هغی په هغو باندی به د " لااله الاالله محمد رسول الله " بیرغ رپیږی .

بیا سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : ای حسنه ! ایا هغه جاسوس لیدلی شم ؟

حسن بن عبدالله وویل : اوس نه !

اذر د یوی ونی د ښاخ پوری سرښکته وتړل شو او لاندی ورته د بوسو لوږی کیدلو چې د هغه په نتیجه کې سترګی یې سری او پرله پسی توخی یې کولو تر دی چې د خبرو قوت یې هم له لاسه ورکړلو .

کله چې حسن بن عبدالله هغه ولیدلو نو یو سرتیری مجاهد ته یې ویل را راکښته یې کړی اوبه ورباندی واچوی چې په خود شی زه د اشراق لمونځ کوم راځم .

کله چې حسن بن عبدالله راغی نو اذر په ځان پوه شو اوبه یې وغوښتلی هغه ورته وویل : زه به درباندی شیدی وڅښنم خو شرط یې دا دی چې زما د پوښتنی څواب راکړی هغه څه چې درسره وشول هغه پیل وو...

اذر وویل : زما سره راغلی جاسوسان دوتنه په دی پړاو کې دی چې د یو نوم عبدالمجید او د بل عبدالحمید دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن بن عبدالله د هغوی د نیولو هدایت ورکړ دواړه سمدستي ونیول شول بیا سلطان صلاح الدین ایوبی ته وروستلی شول .

هغوی ورته وویل : د کوم ځای څخه راغلی یاست ؟

اذر وویل : مونږ دری واړه د دمشق څخه د هغه پوځ سره راغلی یو کوم چې د نورالدین زنګی شهید کونډی رالیږلی او زه د عباس زوی یم .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : زه یې ښه پیژنم هغه په دمشق کې وو کله چې د الملک الصالح پوځ د دمشق څخه وتښتیدلو نو حلب ته ولاړ خو فکر کوم ته یې د دی سیمی د کار کولو لپاره پریښودلی .

اذر وویل : نه ! دمشق زما تاتوبی دی ما نه غوښتل دا پریږدم خو ورځی وړاندی یو تن زما پلار ړاولیږلو او راته وی ویل چې د صلاح الدین ایوبی اوسنی صورت حال څخه مو مفصل خبر کړه په دی لړ کې به عبدالمجید او عبدالحمید ستا سره مرسته کوی او په دی لاره کې چې څومره مال او دولت ته اړتیا پیښدله د پوره کولو کوښښ به کوو ، زه مسلمان یم پلار می بی لاری کړی یم ددی موقع راکړئ چې ددی کفاره ادا کړم .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : الله تعالی دی ستا ګناه معاف کړی ما حسن ته سهار د لمانځه وروسته وویل زه غواړم هغه بی غیرته انسان وګورم چې د نجلی له ویری یې توره پریښودله او بیا له منډی وروسته ونیول شو ، ښه اوس راته ووایه تا دلته څه څه ولیدل ؟

اذر وویل: ما چې څه ولیدل او هغه دوه ملګرو راته وویل ما د کاغذ په مخ ولیکل .

سلطان صلاح الدین ایوبی وپوښتل : ستاسی څخه وړاندی ستاسی کوم بل ملګری ددی ځای معلومات وړی دی ؟

اذر وویل : نه !

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : ته څومره ښکلی ځوان یې ایا پوهیږی چې ته ولی یو نجلی را وپرځولی ؟

اذر وویل : هغی که زما دواړه زنګنونه د شا له لوری نه وی نیولی نو هیڅکله بریالی کیدله نه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : دا حقیقت خو منی چې را وی پرځولی؟

اذر وویل : هو !

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : کوم انسان چې خپل ضمیر او وجدان وپلوری هغه به ضرور راپرځی که تا خپل ځان خرڅ کړای ، نه وای نو لس تنو نشو راپرځولی اصلی قوت د متهو اوتورو نه بلکی د ایمان دی .

اذر وویل : ما ته یوه موقع راکړی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : ددی فیصله به د دمشق قاضی کوی ، ما تا سره دا خبری ددی لپاره وکړی چې ته مسلمان او د مسلمان زوی یی . زه پوهیږم چې د دمشق دوه دری نجونو به ستا سره د مینی او محبت څرګندونه هم کړی وی ځکه ستا څیره او جسم ددی وړ دی خو اوس به ستا په څیره لاړی توکوی .

زه دا نشم ویلی چې قاضی به تا ته څه سزا درکوی خو که د مرګ سزا وی نو څومره ورځی چې ژوندی یې د الله تعالی له دربار څخه د خپلو بد کړو ورو بخښنه غواړه .

اذر د غصی په شکل وویل : زما پلار ته به څوک سزا ورکړی دی ګناه ته خو زه هغه هڅولی یم

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : الله تعالی به هغه ونه بښی واک او دولت وختی او عارضی دی .

اذر وویل : زما پلار کوم دولت مند انسان نه وو کله چې زما دوه خویندی پیغلی شوی هغه دواړه یې چارواکو ته ورکړی او په دربار کې یې ځای پیدا کړ .

***

په همدغه ورځ یې اذر د دری تنو په ملګرتیا دمشق ته ولیږلو په لاره کې د شپې تیرولو لپاره تم شول اذر ورڅخه وغوښتل چې ترلی لاسونه ورخلاص کړی ترڅو خوراک او څښاک وکړی ، هغوی په دی خیال چې دا به چیری وتښتی ، لاسونه یې ورته خلاص کړل خپله هم یو ځای د ارام لپاره کیناستل هغه دا وخت غنیمت وګڼلو منډه یې کړه او په اس سپور شو ، شپه تپه تیاره وه ځکه هم لوړه ژوره وراندی او وروسته غونډی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکی هم په اسونو دوه په یو او یو په بل سپاره شول د تعقیب کولو کوښښ یې وکړ خو بریالی نه شول .

سهار د پړاو په لور بیرته را روان شول هلته د حسن بن عبدالله په وړاندی پداسی شکل ودریدل چې سرونه یې ټیټ اچولی و وی ویل : مونږ مجرمان یو هر ډول سزا چې راکوی د زړه له کومی یې منو !

سلطان صلاح الدین ایوبی چې کله د جاسوس د تیښتی خبر واریدلو نو د هغه رنګ زیړ شو تر ډیره وخته یې د خولی څخه غږ نه وتلو بیا یې د اسمان لور ته وکتل او وی ویل : ای ذوالجلا ل ربه ! ستا به دا خوښه وی چې زه ددی ځای څخه بیرته لاړ شم ما خو هیڅکله د چا په وړاندی توره په ځمکه نه ده ایښی او نه د میدان څخه تښتیدلی یم ... زه ستا ډیر ګناهګار بنده یم ته را ته عفوه وکړی او زما په وجه دی مظلوم قوم ته سزا مه ورکوی !

ای حسنه ! د دوی رښتیا په نظر کې ونیسه هغوی ته د غلطی سزا ورکړی داسی سزا نه چې د دښمنانو سره ملګری شی .

بیا یې قوماندانان راوغوښتل او هغوی ته یې وویل هغه جاسوس چې مونږ نیولی وو د دری سرتیرو مجاهدینو د سهوی په نتیجه کې وتښتیدلو کومه نقشه چې ورسره وه هغه خو زمونږ په لاس کې ده خو څه چې یې په سترګو لیدلی وو او ورته معلوم دی دښمن ته به یې ووایی .

اوس مونږ چې په کوم پروګرام د عمل کولو اراده لرله د هغه په رڼا کې قدم پورته کړو او که ... څنګه ؟

ټولو وویل : په هغه پلان دی عمل نه کیږی !

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : نو د پلان برابرلولپاره وخت ته اړتیا ده ښایې په دی موده کې دښمن یرغل وکړی نو ښه به دا وی چې سرتیری غلچکی یرغلونه تیز کړی .

سلطان صلاح الدین ایوبی دا لارښوونی د ډاډ په اساس ورکړی خوپه زړه کې اندیښمن وو .

څو ساعته وروسته دولس سرتیری مجاهدین د سلطان په وړاندی ودریدل هر یو ته یې په غور وکتل وی ویل : صلیبیانو چې کوم اور اچوونکی مواد

په منګیو کې رالیږلې او هغه د جګړی میدان ته راوړل شوی تاسی عبدالقهار لیدلی دی ، هغه به درته لارښونه کوی ، کله چې دښمن یرغل وکړ نو تاسی به د هغه موادو له منځه وړلو کوښښ کوی بیا یې په خندا انطانون ته وویل : ته هم له دوی سره ځی !

انطانون وویل : ښاغلی سلطان ! ما تاسی ته وړاندیز کړی وه چې زه د خپلی ګناه کفاره اداء کوم نو ځکه په دی ټولګی کې شامل شوم .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : زما خوږو دوستانو ! تاسی په کوم ، کوم ځای کې قربانی نه ده ورکړی خو نن ورځ دین او قوم ستاسی څخه د ډیری لوی قربانی غوښتنه کوی او هغه دا چې تاسی د جنګ مخه بدلولی شی که تاسی په خپل هدف کې بریالی شوی نو راتلونکی نسلونه به دا قربانی یاد ساتی ، تاسی ته دا ښه معلومه ده چې مونږ په ښکاره لږ یاستو او دښمنان دری لوی لښکری دی چې تر شا یې صلیبیان هم دی او په ډیر غرور دی لور ته راروان دی ، د دوی ماتی او د مسلمانانو کامیابی او بری ستاسی په قربانی پوری اړه لری !

د سرښندونکو قوماندان وویل : مونږ به خپل قوم انشاء الله چې مایوسه نه کړو !

سهار وختی یو سپور په منډه راغی سلطان صلاح الدین په خیمی کې ځانته ناست وو سپور خبر ورکړ چې صلیبی پوځ د یو میل په واټن کې راروان دی .

سلطان صلاح الدین د غره له سره ولیدل چې ګمشتګین مخامخ د قرون حمات په لور را راوان دی .

***

د اپریل په دولسم او د روژی د میاشتی په اتلسم متحده لښکر د سلطان صلاح الدین ایوبی په لوری حرکت وکړ، په مخکی کې د ګمشتګین پوځ، په ښی اړخ کې د حلب پوځ او تر شا یې د موصل لښکر د خوابی حملی لپاره تیاکلی شوی وه .

تر ټولو لومړی د ګمشتګین پوځ ددی تکل او هوډ سره چې سلطان صلاح الدین ژوندی ونیسی او د نورو سرونه د تنو څخه پریکړی ..... د قرون

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمات د دری په لوری یې حرکت وکړ ، د دری په خوله کې د سلطان صلاح الدین ایوبی د پوځ خیمې ولاړې وې، آسونه بې زینه تړل شوی او پوځیان په ښه اطمینان یوی او بلې خواته ګرځیدل ، لیدونکو داسې فکر کاوه چې ګوندې دوی د دښمن څخه هیڅ خبر ندی کله چې د حرن د پوځ لومړنی برخه هلته ورسیده نو مجاهدینو زر زر په آسونو زینونه کیښودل سپاره شول او غشی ویشتل یې پیل کړل خو پدی وخت کې پری د ګمشتګین لښکر حمله وکړه، هغوی په ورخطایې سره په ذره کې ورګډ شول او مخکی ولاړل ، د دری دواړو غاړو ته غشی ویشتونکی په غونډیو کې پټ تیار ناست وه، کله چې سپاره د دری څخه په پټه لاره بل اړخ ته ووتل او د ګمشتګین ټول پوځ دری ته ننوت نو یو ځل پری د غشو باران پیل شو. هغوی لکه د ترخو منهو پشان د آسونو څخه لویدل او د پښو لاندی کیدل، دوی داسې برید او حملې ته هیڅ تیار نه وه او یو دم ورسره مخامخ شول - قوماندانان او سالاران هم ورخطاء شول هغوی چې هر څومره چیغې او ناری وهلی د مرګ پدی لوبه کې د هغوی ناری چا نه اوریدلی، د دری له لوړو پری سخت د غشو باران پیل شو، د دری د آخری سر څخه پری د آور غورځونکو غونډارو ویشتل هم پیل شول چې د دی سره د سلطان صلاح الدین ایوبی ولاړو خیمو آور واخیست او په دره کې دوزخ جوړ شو، د ګمشتګین لښکر پرته د شاتګ څخه بله لاره نلرله، هغوی بیرته د دری څخه راوتل غوښتل خو د دری په خوله کې ورته هماغو تللو سپرو مجاهدینو لاره بنده کړې وه ، نه دری ته ننوتلی شول او نه شاته د راتللو لاره وه، له هر لوری پری ناری او چیغی جوړی شوی چې ستاسې خیر او ژوند پدی کې دی چې وسله وغورځوی سلطان صلاح الدین ایوبی مخکی خپلو سالارانو ته ویلی وه چې د وژلو نه ځانونه وساتی د هغو د نیولو کوښښ وکړی ، د حرن پوځیانو وسله غورځول پیل کړل د ډیر لږ کسان چې په هغې کې سالاران او قوماندان شامل وه ژوندی خلاص شول ، نور ټول ژوندی ونیول او څه ووژل شول .

ښی اړخ ته د حلب پوځ را روان وه، هغوی د حلب په محاصره کې زړه ور شوی وه نو ډیر په شان او شوکت سره یې مخ په وړاندی هڅه کوله - د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابلې ته سلطان صلاح الدين ايوبي دوه ټولګۍ پوځ اچولی وه چې هغه ډېر کم او په يوه حمله کې له منځه تللی شو. سلطان صلاح الدين ايوبي د قرون حمات د درې په سر ناستو غشو ويشتونکو ته حکم وکړ چې د حلبي پوځ مقابلې ته ځان چمتو کړي، وروسته يې د سپرو دوه ټولګۍ له ځان سره ملګرې او خپل بيرغ يې پورته کړ خپل ښی اړخ پوځ قومانده يې پخپل لاس کې واخيستله.

حلبي پوځ لکه د طوفان په شان را روان وه، سلطان صلاح الدين ايوبي د هغوی مخې ته خپل سپاره پداسې ترتيب ودرول چې مخروطي شکل يې درلوده، کله چې هغوی ښه رانژدې شول يو دم يې حمله پرې وکړه او نيغ د هغوی په صفونو ورننوتل او ډېر پوځيان يې تر پښو لاندې کړل- بيا بيرته پرې راوګرځيدل.

پدې وخت کې د سلطان صلاح الدين ايوبي پياده پوځ هم په حلبي پوځ حمله وکړه له يو لوری سپاره او له بل لوري پرې پياده راغلل او دوی په منځ کې راګير شول، سخت جنګ ونښت، سلطان صلاح الدين ايوبي پدې وخت کې خپل پياده او سپور پوځ داسې عيار کړ چې حلبي پوځ يې د قرون حمات درې ته برابر کړ چيرې چې ښه پريمانه غشي ويشتونکي ناست وه، پدې وخت کې غشي ويشتونکو هم پرې پيل وکړ.

په همدې وخت کې د څلورم لوري څخه ناڅاپي يو لښکر راښکاره شو چې شمس الدين يې مشرې کوله او په حلبي پوځ باندې راپريوتل، دومره سخته حمله يې وکړه چې دښمن يې پښاتګ ته اړ کړ ، دا د نجونو هغه پوځ وه چې د دمشق څخه رضيع خاتون را استولې وه، کله چې سالار شمس الدين د حلبي پوځ زياتوالي وليده نو د دوی څخه يې کار واخيست ځکه پدې وخت کې هغوی ښه ستړي شوي او عمومي حملې ته اړتيا وه - د دې څخه وروسته حلبي پوځ وسله غورځول پيل کړل، زيات کسان ورڅخه ژوندي ونيول شول خو سالاران او مشران يې په تيښته بريالي شول.

تر ماښام پورې د حرن او حلب پوځونه چې مخکې راغلي وه پوره او مکمل ختم شول ځکه څه مړه او زيات يې بنديان ونيول شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلان له مخې اوس د موصل د پوځ کار وو چې اخرنۍ او پریکنده حمله وکړي ځکه هغوی د همدې لپاره ساتل شوي وه. هغوی پریکړه وکړه چې لومړی باید د صلیبیانو کومکی اور غورځوونکی منګی استعمال شي او بیا پیاده او سپاره حمله وکړي خو سلطان صلاح الدین ایوبی له مخکی نه اته کماندویان د هغې کیمیاوي موادو د تباه کولو لپاره ګومارلی وه، هغوی د شپې نژدې ورغلل لومړی یې منګی مات او بیا یې آور ورواچولو چې پدې سره په ټوله دښته کې سپینه رڼا شوه او هر لوری ته د آور لمبې پورته شوی ، د کیمیاوی موادو ټوله زیرمه وسوځیده ، د دی په څنګ کې مسلمانو سرتیرو د متحده پوځ په قرارګاه او مرکز باندی قیامت راښکته کړ او داسې یې وټکول چې د هغوی حوصلی او همت یې له منځه یووړلو.

سبا سهار سلطان صلاح الدین ایوبی خپل وروستی او اخرینی پلان هم پکار واچولو، هغه د شپې له خوا خپل احتیاطی پوځ د شا له لوری په متحده پوځونو باندې راتاو کړ او د تیښتې لاره یې ورته بنده کړه، هغوی اوس نه مخکې تللی شول ځکه چې مخکی ورته قرون حمات پروت وو او نه شاته راتلای شول چې د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ ورته لاره نیولی وه.

یو دم سلطان صلاح الدین ایوبی د طوفان او سیلاب پشان حمله وکړه، د متحده پوځ مورال او نظم خو مخکې اور او سرتیرو ختم کړی وو خو وروستی حملی د هغوی هر څه برباد کړل - سیف الدین ، ګمشتګین او الملک الصالح سره د ټولو سالارانو وتښتیدل، هر څه یې په میدان کې پداسې حال کې پرینښودل چې لاس یې هم نه و ورنژدې کړی.

د سیف الدین او ګمشتګین په خیمو کې شراب ، نجونی او د ډول ډول مرغیو قفسونو پاتې وه، هغوی په ډېره ورخطائی سره میدان پرینښی وو.

دا د روژې ۱۹ ، ۵۷۰ هجري او (۱۳ اپریل ۱۱۷۵ م) کال وه ، سلطان په متحده پوځ باندې پوره بری وموند او درې واړه پوځونه یې داسې تس نس کړل چې تر ډېره وخته پورې یې بیا ځانونه نشو سمبالولی.

فاطمه د جګړې په میدان کې ګرځیده او د مړو په منځ کې یې څوک لټول!
شمس الدین ورڅخه پوښتنه وکړه چې څوک لټوې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ورته وویل : د هغه سرتیرو په ګروپ کې چې آور غورځوونکی مواد یې تباه کړل د یو مجاهد مړی لتوم .

شمس الدین ورته وویل : د سرتیرو مړی څوک نشي پیدا کولای هغه به اوس خاورې او ایرې شوي وي، فاطمې انطانون لټولو.

فاطمې په غمجنې لهجې وویل : زه پرې افتخار کوم چې هغه خپل مسئولیت پوره کړ د اسلام سپیڅلي دین په لار کې یې د شهادت جام وڅښلو خو زه به یې هم انشاء الله د پوره کولو کوښښ کوم .

د دې جګړې څخه وروسته سمدستي سلطان صلاح الدین ایوبي حکم وکړ چې د دمشق څخه راغلي نجوني دې بیرته دمشق ته ورسول شي نور هغوی ته اړتیا نشته ترڅو چې مونږ ژوندي وو زموږ لورګانو ته پکار ندي چې مونږ نور هم وشرموي، دا زموږ کار دی. سره د دې چې نجونو ډېر شور او غالمغال وکړ خو هغوی بیرته دمشق ته واستول شوې .

سلطان صلاح الدین ایوبي خیمې ته ولاړ او د ډېرې سترتیا څخه یې سترګې پټې شوې چې د خیمې څخه د باندې شور جوړ شو، د هغه سترګې وغړیدې نو د پیره کوونکي څخه یې وپوښتل : دا څه خبره ده چې دومره شور جوړ شویدی ؟

هغه ورته وویل : د دمشق څخه نهه کسان راغلي او ستاسې د ساتوونکو جامې یې اغوستې وایي چې مونږ د دمشق څخه د سلطان صلاح الدین ایوبي ساتنې ته راغلي یو اوس هغوی څوک نه راپریږدي .

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: را خوشې یې کړې چې راشي، دا نهه کسان هماغه د شیخ سنان فدایان وه چې دوه شپې مخکې ګمشتګین رخصت کړي او د بلې لارې څخه قرون حمات ته راغلي وه ، څرنګه چې هغوی خیمې ته ننوتل نو توري یې راوویستلې او په سلطان صلاح الدین ایوبي یې حمله وکړه .

د سلطان صلاح الدین ایوبي سره دوه ساتونکي هم وه خپله یې هم لویه او اوږده توره درلوده په خیمه کې جګړه پیل شوه، په لومړي وار سره سلطان صلاح الدین ایوبي دوه فدایان راوپرزول، دوه ساتوونکو د نورو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه شول ، د دی غال لمغال سره نور ساتونکی هم را ورسیدل او د هر لوری څخه د تور وارونه پیل شول چې شپږ کسان ځای پر ځای ووژل شول او دری یې ژوندی ونیول شول د تحقیق په وخت یې اقرار وکړ چې مونږ د شیخ سنان فدایان یو او ګمشتګین مونږ ته دا جامې او وسله راکړېده .

ځینو اروپایی تاریخونو لیکلی چې دا یرغل کوونکی د سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ساتونکی وه او هغوی ورڅخه ځان خلاصولو خو قاضی بهاؤ الدین شداد او مصری تاریخ لیکوونکی محمد فرید ابو حدید لیکی چې دا نهه کسان د شیخ سنان فدایان وه چې د صلیبیانو او د هغوی د ګوډاګیانو لخوا څخه د سلطان صلاح الدین ایوبی د وژلو لپاره ګومارل شوی وه، هغوی قسمونه خوړولی وه چې دا ځل به هغوی خامخا کامیابېږي .

شیخ سنان هغوی ته ویلی وه چې تاسې دا ځل د دینی او مذهبی مشرانو په جامه کې سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورشي چې مونږ روغه او سوله کول غواړو کله چې هغه یوازی او په خبرو کې بوخت شي نو تاسې ټول پری یو ځل برید وکړئ خو ګمشتګین ورته بله لاره وښودله چې تاسې د سلطان صلاح الدین ایوبی د ساتوونکو په جامه کې هلته ولاړ شی ځکه چې پدی ورځو کې له دمشق څخه هغه ته ډیره مرسته ،کومک او د خپل خوښې مجاهدین ډلی ډلی راځی تاسې به هم د یوی ډلی په شکل کې هلته ولاړ شی .



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قوم له سترګو لري

د سلطان صلاح الدين ايوبي يو نائب سالار د خوراک خوړلو څخه وروسته د يوې جګړې يادونه کوله او په هغې کې يې د يو سرتيري او پوځي د ميړانې، زړورتيا او قربانۍ کيسه پيل کړه .

بيا وروسته سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: که په تاريخ کې نوم راځي نو زما او ستا به وي ، د تاريخ ليکوونکو دا بې انصافي ده چې هغوی پرته د بادشاهانو، سالارانو او نائب سالارانو څخه بلې خواته سترګې نه اوړي ، فتحه ، بري او ناکامي د الله تعالی پلاس کې وي خو د فتحې او بري اصل شمله او کمال د سرتيرو او پوځيانو پلاس کې وي ، که چيرې زموږ کماندويان يا جاسوسان بل وطن ته ولاړ شي او هلته د دښمن سره سودا وکړي څوک پرې څه پوهيږي ؟

که زموږ قرباني ورکوونکي سرتيري په پيره، ګزمه او جنګ کې ځان وساتي نو څوک څه پرې پوهيږي ؟

تاريخ بايد زموږ د ملت او اسلامي امت د داسې کسانو يادونه حتمًا وکړي چې په يوازې ځان د ډېرو مقابله کوي. خپل ځان قربانوي، پداسې حال او داسې ځای کې قرباني ورکوي چې پرته د خپل خالق او مالک څخه بل هيڅوک هم پرې خبر نه وي که هغوی ماتې خوري نو د آفسرانو د بې غيرتۍ او د ايمان پلورونکي له لاسه به وي .

الله تعالی پدې خاطر غداران او ايمان پلورونکي پيدا کړي چې مونږ هر وخت او په هر حالت کې بيدار او متوجې اوسو او هيڅ وخت بې پروائي او غفلت ونکړو، د فتحې او بري څخه وروسته کبرجن، مغرور او غافل نشو، صليبيان غواړي زموږ په امت کې خپل ځان ته ايمان پلورونکي پيدا کړي او پدوی باندې بيا اسلامي امت تباه او برباد کړي .

هغه کسان چې خپل دين او وطن خرڅوي هغوی بيا د خپل ناموس پروا هم نه کوي څکه چې چا د خپل خالق او خپلې خاورې سره وفا ونکړه هغه بيا د هيچا سره هم وفا نکوي ، هغه داسې شي لکه چې سيلاب لاهو کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی ، مونږ باید د خپل امت د ټولو هغو غازیانو، مجاهدینو او شهیدانو تاریخ ولیکو چا چې په دښتو، ځنګلونو، غرونو، واورو او اوبو کې قربانی ورکړی، دا د راتلوونکی نسل لپاره تر ټولو غوره میراث او سبق دی، یو ملت د خپل روښانه او ځلانده تاریخ په رڼا کې خپل راتلوونکی روښانه کولای شي، هغه ملتونه غلامان کیږي چې د غلامی تاریخ ولری او هغه ملتونه هیڅکله نه غلام کیږي چې د غلامی تاریخ ونلري، په ملتونه کې وطن پلورونکی او ایمان پلورونکی هر وخت پیدا کیږي خو چې کله د ملت عام ولس بیدار وی غداران هیڅ نشی کولای، په هر ملت کې داسې کسان شته او وی به چې د پردیو لپاره کار کوي ، پردی په خپل ملت ، قوم او خلکو باندی باداران ګرځوی او د هغوی لپاره لاره برابروی خو د ملت اصلی سرمایه همدا قربانی ورکوونکی کسان دي چې بی نومه او بی نښانه قربانی ورکوی او د نوم ورکی سرتیري په نامه سره یادیږي .

تاسې به شاید پدی خبر نه وی چې زموږ د قوم ډېر داسې ځوانان شته چې د حکم څخه پرته په ډېرو لری ځایونو او د قوم د سترګو څخه ډیر لری او پټ جنګیږي، هغوی د خپل دین او خاوری لپاره قربانی ورکوی د هغوی سره د خپل ځان، خپل بدن او خپل واک هیڅ تصور هم نه وی، هغوی هر څه د نورو لپاره قربانوی ، هغوی د شمع حیثیت لری چې ځان سوځوی او نورو ته روښنائی ورکوی .

پدی بی نومه، بی نښانه او ورکو سرتیرو کې د دوه داسې غازیانو تاریخ یادونه کړی چې پرته د خپل خالق څخه هغوی هیچاته هم څرګند او معلوم نه وه چې د یو نوم اسحاق او د بل نوم عمر درویش وو.

دا دواړه د سوډان د یو سرحدی کلی اوسیدونکی مسلمانان وه چې د مصر په پوځ کې د یو ګروپ مشران شول ،کله چې د سلطان ورور تقی الدین په سوډان باندی حمله وکړه نو دوی په دښته او صحرا کې د تندی او لوږی څخه داسې حالت ته راغلل چې سوډانیانو ژوندی ونیول هغوی یې له ځانونو سره خپل مرکز او پلازمینی ته بوتلل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبي خو ځلې د هغوی د خلاصون لپاره کوښښونه وکړل خو سوډانیانو د صلیبیانو په مشوره باندې هغوی خلاص نکړل ځکه د دوی ځخه یې پخپل پوځ کې کار اخیستلو او هم یې د راتلوونکي ورانکارۍ لپاره استعمالول .

***

اسحاق چې د کومې سیمې اوسیدونکی وه هلته ډېر کلي د مسلمانانو وه چې زیات ځوانان او پوځیان یې د مصر پوځ ته ورکول، هغوی ځان سوډانیان نه بلکې مصریان بلل ځکه چې سوډان د کفارو پلاس کې او د صلیبیانو سره یې دوستي وه.

عمر درویش هم د اسحاق د سیمې ځخه وه هغه هم په مصري پوځ کې د یو ګروپ مشر وه. هغوی دواړه صلیبیانو په خپله ګټه استعمالول غوښتل.

کله چې اسحاق د سوډان پلازمینې ته ورسول شو نو په یوه ښکلي خونه کې چې هر ډول سامان پکې وُ وساتل شو، هغه ته ښه خوراک او څښاک راتللو او د هغه سره د درنو میلمنو په څیر رویه کیدله، هغه ته د شپې لپاره د ښکلا یو نمونه هم راتلله چې د هغې نوم آشي وه. هغه دومره استاذه او تجربه لرونکې نجلۍ وه چې ډبرې او کاڼي به یې هم نرمولي شول ، په لومړۍ شپه چې کله آشي اسحاق ته راغله نو غوښتل یې په هغه اثر واچوي، خو اسحاق هغې ته وویل: ستا ځخه ما ډېره بدرنګه او بد شکله ښځه تر اوسه پورې نده لیدلې !

هغې چې دا خبره واوریدله نو ډېره حیرانه شوه ځکه هغه د خپل قدر او قیمت ځخه خبره وه .

هغې په اسحاق باندې ډېر چلونه وکړل خو هغه یې ځان ته رانژدې نشو کړای بلکې اسحاق هغې ته وویل : ستا پلار ، مور ، ورور چیرې دي؟ نور خپلوان دې ځوک دي؟

دې خبرو هغه حیرانه کړه ځکه هغه لدې ځخه ناخبره ساتل شوې وه چې هغه هم پلار ، مور ، ورور ، خور او خپلوان .... لري که نه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسحاق دی خبرو آشی دی ته مجبوره کړه چې ددی پوښتنی په هکله فکر وکړی .

آشی خپلو صلیبی آفسرانو ته وویل : پدی سړی باندی خواری او کار کول هیڅ فایده نلری ، دا د زندان عذاب ځای ته وردننه کړی که هلته قانع شي ښه ده او کنه وژل یې پکار دی .

صلیبي او سوډانی چارواکو ته د هغوی جاسوسانو ویلی وه چې په سرحدی کلیوالو باندی اسحاق ډېر اثر لری او که دا مو خپل کړ نو ټوله سیمه به زموږ شی ، له یو لوری به زموږ پوځ پری قوی شي او له بل لوري به د مصر پوځ ته کسان نه ورکوی ، ځکه نو صلیبي سوډانی چارواکو د اسحاق د بیا بیا خپلولو کوښښ کاوه ، هغه ته ځو ځلی صلیبي استاذان راغلل او ډول ډول وړاندیزونه یې ورته وکړل چې ورسره ملګری شي آن تر دی چې هغه ته یې وویل که ته زموږ ملګری شي نو د خپلی سیمی ټول واک او اختیار به ستا سره وي او ته به د هغې سیمی خپلواک مشر وی خو اسحاق ورته وویل : زه د دنیا د څو ورځو خوشحالی د اخرت په تل پاتی عذاب باندی نشم بدلولای، که دلته ماته تخت راکړئ نو بیا به په اخرت کې زما ځای جهنم وی .

د دی ځخه وروسته هغه بندیخانی ته یووړل شو او پداسې کوټه کې وساتل شو چې هلته یو بل مړی له څو ورځو ځخه پروت او بوی یې کړی وو.

اسحاق چې کله هلته ورسیده نو ډېره زیاته بدبویی وه خو کله چې ده مړی ولیده چې په تن یې د مسلمانو سرتیرو مجاهدینو جامی وی وی ویل : دا ولی خاورو ته نه سپاری .

پیره کوونکی په خندا وویل : بیا ته یوازی پاتی کیږی .

اسحاق د هغه په خیره لاس تیر کړ بیا یې وویل : ستا بدن به وچ شی خو روح به دی تازه وی تا د الله تعالی په لاره کې ځان قربان کړ زما ځخه ډیر ښه یې ته ژوندی یې او ژوندی به اوسی ، هغه پیره کوونکی رښتیا وویل که ته نه وایی زه به یوازی وای بیا یې د قران مجید تلاوت پیل کړ له تلاوت ځخه وروسته د هغه په خوا کې ویده شو .

(c) kelid...com: The Digital Library



سهار بیا صلیبي چارواکي راغلی او یو ځل بیا یې ورته وویل چې که زموږ خبره ونه منې نو حالت به دې دومره خراب شي چې بیا به یې ارمان کوې او هیڅ به پلاس نه درځي .

همدا اوس درته وخت شته، اسحاق بیا داسې سخت او غابښ ماتوونکی ځواب ورکړ چې تاسې هر څومره په ما کوښښ وکړی څه پلاس نه درځي، هر عذاب چې راکوی زه ورته حاضر یم .

وروسته بیا هغه د زوږولو خونې ته بښکته کړل شو چې زیات مصري پوځیان او بندیان پکې په ډول ډول عذابونو اخته وه .

اسحاق ته یو ځل بیا وویل شول چې وګوره بیا به ارمان کوې، هغه وویل زما څخه هیڅ امید مه ساتئ زه د خپل دین او ملت سره خیانت نشم کولای. سپایانو ته حکم وشو چې هغه سرچپه ځوړند کړی او درونډ بار هم ورپسې وتړی تر هغې چې بې سده شي، کله چې د ډیرو زوږولو وروسته بې سده شو هغه یې بیا خپلی پخوانی بوی ناکې خونې ته ورسولو، نیمه شپه چې په خود شو بیا راوستل شو او داسې یو ماشین پورې یې وتړلو چې لاسونه او پښې یې سره کشکول او جلا کول - هغه ته یې لږ شانته زور ورکړ چې د لاسونو او پښو بندونه یې سره جدا کیدل، یو ځل بیا یې ورته وړاندیز وکړ خو هغه وویل هر څومره چې ماته عذاب راکوی همدا زما ځواب دی چې زه د خپل قوم سره خیانت نشم کولای، بلاخره هغه ته یې نور زور هم ورکړ چې هډوکو یې اوازونه پیل کړل ، هغه تلاوت پیل کړ، سپایانو ته امر وشو چې دې دی همداسې وی چې بې سده شي. هغه به همدی حالت کې هم تلاوت کاوه او هیڅ بې سده نشو.

دوه سپایان چې هلته ولاړ وه هغوی ورڅخه وپوښتل : ایا ته دا تکلیف نه احساسوې د هغوی خبره ومنه نو څه به وشي، ښه ژوند او ښه نعمتونه به درکوي .

اسحاق ورته وویل : زه پدې تکلیف هیڅ نه پوهیږم. سپایانو ورڅخه پوښتنه وکړه چې دلته خو د هر قوی قوی ځوانان مره کیږي او ته دا تکلیف قبلوې د دې علت څه دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسحاق ورته وویل : زه د خپل لوی خالق د مبارک کلام تلاوت کوم دا د هغه برکت دی چې زه ډاډه یم په دی امید که ما ته هر څومره عذاب تاسی راکوی او زه پری صبر کوم نو ددی ما ته بدله راکول کیږی . دوارو سپایانو هغه ته وویل که داسې وي نو مونږ ته هم دا راوښایه .

اسحاق ورته وویل: چې کله زه له زندان څخه خلاص شوم بیا راشی زه به یې درته در وښایم .

اسحاق ته چې هر څومره عذابونه ورکول کیدل هغه په پخوانی حالت کې وو او هیڅ ډول شکایت او چیغی یې نه وهلی چې پدی سره د سپایانو عقیده او باور پری نور هم قوی او پوخ شو .

صلیبی منصبدار د یو قوماندان سره راغی او اسحاق ته یې وویل : ته به په دی خوښ یې چې مونږ تا ووژنو هیڅکله نه ! ته به ژوندی وی او هره ورځ به دا عذاب وینی .

اسحاق وویل : د ټولو پای مرګ دی او د مسلمان خو داسی مړینه د ټولو نه لوړه هیله وی .

صلیبی منصبدار عذاب کوونکو ته وویل خپل عمل جاری وساتی .

سوډانی قوماندا ن او صلیبی منصبدار د هغه کوټی څخه راووتل په لار کې قوماندان صلیبی منصبدار ته وویل : د اسحاق یوه پیغله لور او میرمن ده دلته به یې راوغواړو او دده تر مخ به یې لوڅی کړو بیا به ورته ووایو که ته زمونږ شرط نه منی نو ددوی عفت او عصمت به پاتی نشی .

صلیبی منصبدار وویل : دا خو ډیر ښه وړاندیز دی د احتیاط له مخی دا کار باید تاسی وکړئ .

سوډانی قوماندان هم هغه وخت روان شو کله چې هلته ورسیدلو د اسحاق د کور پوښتنه یې وکړه هغه سړی ورته وویل تاسی دی سیمی ته د لومړی ځل لپاره راغلی یاست ؟

سوډانی قوماندان ورته وویل : هو!

هغه سړی وویل : هرکله راشئ که ما سره تم کیږی نو خوشحالیږم سهار به هلته لاړ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوډانی قوماندان وویل : د هغه کورنۍ د مشر سره می ضروری کار دی .
هغه سړی ورته وویل بنه ما پسی راروان شی زه به مو هلته ورسوم .
کله چې ورسیدل نو هلته یې خپله پیژنګلوی وکړه د اسحاق بوډا پلار ورته تود هرکلی ووایه ، د هغه وروسته په دسترخوان د خوراک او څښاک لوښی کیښودل شول سوډانی قوماندان ، لاربنود او بوډا ورته کیناستل .
سوډانی قوماندان وویل : ستاسی زوی ډیر میړنی انسان دی ، د جګړې په میدان کې تېښی شوی وو ، زمونږ کسانو هغه راوستلو او روغتون ته یې ورسولو هلته ورته درمل کیږی خو ورځ په ورځ یې حالت خرابیږی هغه له ما څخه وغوښتل چې یو ځل خپله میرمن او لور وګوری .
بوډا وویل : که تاسی د هغه دومره عزت کوی نو ولی مو دلته خان سره نه راوستولو .
سوډانی قوماندان وویل : هغه زمونږ میلمه دی اود کوربه له شان سره دا نه بنائی چې ناروغ له خپل ځای څخه وباسی .
سوډانی قوماندان وویل : ایا دا ممکن نه دی چې د هغه لور او میرمن ورسره وی او د هغه خدمت وکړی ؟
دا صحیح ده چې زمونږ او ستاسی دین سره بیل دی خو ټول سوډانیان سره یو دی او هغه د سلطان صلاح الدین د پوځ یو فرد دی چې یو باتور سپه سالار هم دی چې هیڅ وخت د شاه له لوری په چا یرغل نه کوی .
بوډا وویل : تاسی ولی هغه دښمن ګڼی او صلیبیان دوستان .
سوډانی قوماندان وویل : دا داسی پوښتنه ده چې زموږ واکمنان او لوړ پوړی چارواکی یې ځواب ویلی شی .
زه غواړم د سهار راختلو وړاندی لاړ شم ایا ستاسی لمسۍ او اینګور ته د تللو اجازه ورکوی ؟
بوډا وویل : که هغوی غواړی نو تللی شی خو زه هم درسره ځم ترڅو خپل زوی وګورم .
د پردی له شا نه اواز وشو مونږ تیار یاستو !
سوډانی قوماندان وویل : اوږد سفر دی او تاسی ددی طاقت نه لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عذاب ځای پیره کوونکی چې د خپل قوماندان او صلیبی منصبدار خبری اوریدلی وی نو ډیر خفه وه نه یې غوښتل چې د اسحاق د میرمنو بی عزتی دی وشی کله چې له دندی څخه کور ته ولاړ خپلی جامی یې بدلی کړی او توښه یې راوخیستله او په آس سپور شو او هغه لور ته روان شو کومه چې د اسحاق سیمی ته تللی وه .

سهار د لمر راختلو څخه مخکی د کلی خلکو د اسحاق میرمن او لور رخصت کړل .

سوډانی قوماندان په دی ډیر خوښ وو چې دوه مرغی یې په خپل جال کې ونیولی ، دری واړه سپاره ماښام د غرنی سیمی نه په ووتلو کې وه چې د زندان پیره کوونکی هغه غرنی سمیی ته ورسیدلو ، ځرنګه یې چې پرله پسی سفر کړی وو نو ډیر ستړی شو د یو کمر لاندی کیناست څو شیبی وروسته یې خبری تر غوږو شوی ، ورسره د سپرلو د پښو اوازونه هم پورته شول ګوری چې خپل قوماندان یې ښځو سره خبری کوی .

په اس سپور شو توره راوویستله او ځان یې هغوی ته ورسو او د رسیدلو سره سم یې قوماندان په توره داسی وواهه چې یو لاس یې ورڅخه غوځ کړ د اس څخه راولیدلو او د رحم غوښتنه یې وکړه .

د اسحاق میرمنی خپلی لور ته وویل : اس ته د کور په لور بیرته منډه وکړه غله دی ، ددی خبری په اوریدلو پیره دار د هغوی مخه ونیوله وی ویل ودریږه دلته کوم غل نشته ، غل ووژل شو ما خپل مسئولیت پوره کړ ، ما خپل فرض اداء کړل ، زه یوازی یم تاسی له ځان سره کوم ځای ته نه بیایم زه تاسی سره ځم .

دواړه مور او لور حیرانی پاتی شوی پیره دار د قوماندان اس د نجلی د اس پوری وتړلو او اسحاق د کور په لور روان شول .

د اسحاق میرمنی وویل : ته مسلمان یې ؟

پیردار وویل : زه د هغه بندیخانی پیره دار یم په کوم کې چې ستا خاوند پروت دی او مسلمان نه یم .

د اسحاق میرمنی وویل : ستاسی د همدردی لامل څه دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیره دار وویل : ما اوریدلی چې مسلمانان پیغمبر لری او زه دا فکر کوم چې ستاسی خاوند به پیغمبر وی .

د اسحاق میرمنی وویل : اسحاق پیغمبر نه دی هغه د خاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سپیڅلی دین پیرو دی خو ته ولی هغه پیغمبر ګڼی ؟

پیره دار وویل : هغه په بندیخانی کې بندی دی ، مسلمان دی او زه مسلمان نه یم او هغه ته دا معلومه نه ده چې د هغه میرمنی او لور د بی عزتی کول لپاره بیول کیږی زما په زړه کې دا احساس پیدا شو چې ستاسی عزت وساتم کوم چې زما د همت څخه لوړ دی دا د هغه سره د الله تعالی غیبی مرسته ده او داسی عمل یوازی د خاصو بندګانو سره کیږی .

سهار څلور سپاره د اسحاق د کور په مخ کې ودریدل ، نجلی دروازه وټکوله بوډا دروازه پرانیسته خو حیران پاتی شو بیا یې هغوی ته هرکلی ووایه پیره دار یې میلمستون ته ورسولو بیرته راغی د اسونو څخه یې زینونه ښکته کړل هغه یې په تبیله کې وتړل اوبه او خوراک یې ورته مخکې واچولو .

څرنګه چې خلکو دوی کلی ته په راننوتلو کې وولیدل نو د حال څخه د څان خبرلو لپاره میلمستون ته راغلل .

بوډا راغی ټولو ته یې هرکلی ووایه کیناسته پیره دار وویل : اسحاق په دی شرط پریږدی چې هغه ددی سمیی خلک په پوځ کې شامل کړی او کوم چې د جګړی ورنه دی هغوی د وفاداری ژمنه وکړی خو اسحاق وایی چې ما ووژنی خو زه دی ته تیار نه یم .

یو تن وویل : دا ځمکه د الله تعالی ده څوک چې په دی ځمکه باندی د هغه قانون نافذ کوی مونږ د هغه ملاتړ کوو .

بل تن وویل : مونږ به ستاسی په مرسته په بندیخانی یرغل وکړو او هغه به ازاد کړو .

پیره کوونکی وویل : دا ممکن نه ده خپل شمیر او قوت وګوری او بیا د هغوی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یو غریب انسان یم ما چې څه د لاسه کیدل هغه می وکړل زه به ددی انتظار کوم چې اسحاق د بندیخانی څخه راخلاص شی او ما ته هغه څه راوښایی چې وعده یې راسره کړیده .

د اسحاق پلار وویل: محترم میلمه ! له مونږ سره اوسیږه ، مونږ د ځمکی پر مخ الحمدلله په جنت کې اوسیږو دلته د اوبو چینی دی او هر لوری ته ونی او بوټی دی ځمکه دومره ښکلی کوی چې د ټولو پری ښه ګوزاره کیږی . مونږ ازاد یو دا غرونه زموږ کلا ګانی دی چې الله تعالی زمونږ لپاره پیدا کړی دی .

پیره دار وویل : زه ستاسی سره اوسیږم خو به دی شرط چې ما ته د خپل دین ښوونی راوښایی .

بوډا وویل : ولی نه ! دا زمونږ د ټولو دنده ده .

بواډ هغه د اسلام د سپیڅلی دین په دایره کې شامل کړ .

صلیبی منصبدار د قوماندان انتظار کولو خو د هغه هیڅ معلومات و نه شو ځان سره یې وویل : ښایی بی لاری شوی وی یا ... بیا یې یو بل تن راوغوښت او هغه یې هم هغه لور ته ولیږلو .

یوه شپه ورځ وروسته هغه راغی او صلیبی منصبدار په وړاندی ودریدلو وی ویل : د غرونو د لړې په پیل کې یو مړی پروت وو چې ټپوسان او کارغان پری راټول وه زما په لیدلو ټول والوتل زه چې نیږدی ورغلم یوازی د بدن په ځینو برخو یې غوښی وی ډوری یې تری خوړلی وی خو څنګ ته یې د څرمنی کمربند ، خنجر بوټان .... پراته وو خوا او شا یې د څو اسونو د پښو پلونه وو .

صلیبی منصبدار وویل : ښایې د مسلمانانو کوم ټولی په دی سیمی کې ګرځی راګرځی بیا یې د سوډان د حکمران په وړاندی یې دا مسئله کیښودله هغه وویل : په مسلمانانو باندی پوځی یرغل مه کوی هغوی ددوستی تر سیوری لاندی راولی .

که اسحاق ستاسی شرط منلو ته تیار نه وی نو بل مخور مسلمان دی کار ته چمتو کړئ او هغه نور هم وزوروئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان له تصور پورته یې ورته عذاب ورکول پیل کړل چې بې خوده شو او بیا یې په کوټې کې واچولو کله چې په خود شو نو لاس یې اوږد کړ د هغه مړي په بدن ولګیده یاد یې شو چې دا هغه مړی دی کوم چې د لومړی ورځی څخه دلته پروت دی. خو بیا یې فکر وکړ چې څرنګه په کې ساده.

اسحاق حیران شو څیری ته یې وکتل مړی نه و بلکې ژوند انسان وو هغه هم بې خوده وو ورو ورو په خود شو او سترګې یې پرانستلې نو ورځنی پوښتنه یې وکړه ته څوک یې؟

هغه وویل: عمر درویش او په مصری پوځ کې سر ګروپ وم.

عمر درویش وویل: ته څوک یې؟

اسحاق سمدستي هغه وپیژانده وی ویل: عمره! زه ستا د میدان ملګری اسحاق یم!

دواړه د یوی سیمی اوسیدونکی او د یو پوځ خلک وه خو په تیاره کې یې یو بل نه لیدل.

عمر درویش ورته وویل: اسحاقه! ستا څخه دا خلک څه غواړی؟

اسحاق وویل: دوی وایی چې ته زمونږ ملګری شه او د سیمی خلک تشویق کړه چې په سوډانی پوځ کې شامل شي خو زه د کفارو سره مرستی ته په هیڅ ډول چمتو نه یم او نه خپل دین پلورلی شم، تاسی ته دوی څه وایی؟

عمر درویش ورته وویل: زما څخه هم همدا غواړی چې زموږ سره ملګری شه مونږ تاته وظیفه سپارو هماغه کار کوه.

عمر درویش اسحاق ته وویل: یا ته د دوی خبره ومنه او له زندان څخه ځان خلاص کړه بیا به زما غم وخوری یا به زه د هغوی خبره ومنم او تا به له ځان سره خلاص کړم.

اسحاق وویل: زه خو په هیڅ صورت چمتو نه یم چي د دوی سره روغه جوړه وکړم او ترڅو چې ژوندی یم مقاومت کوم او پدی لاره کې مې مرګ قبول دی.

عمر درویش ورته وویل: خیر زه به د هغوی سره چل وکړم او بیا به ستا د خلاصیدو کوښښ هم کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسحاق ووېل: [illegible] چې خپل ایمان وپلوري او اخرت دی خراب کړي.

کله چې صلیبي چارواکې عمر درویش ته راغی او هغه یې له خونی څخه وویست نو هغه ته یې بیا ووېل چې که زموږ خبره ونه منی نو هره ورځ به دی همداسی حال وي او مرګ به دَرته نه راځي.

عمر درویش غلی شو او په خپ اواز یې ووېل: زه ستاسې خبره منم خو لدی ځایه ما وباسی چې زه ښه فکر وکړم، سمدستی هغه له زندان څخه داسې ځای ته یووړل شو چې ښکلی او هر ډول سامان پکی وو. هغه یې هماغه خونی ته یووړلو چې لومړی اسحاق پکی ساتل شوی وُ.

هغه ته ښه خوراک او څښاک ورکول کیده او د شپی ورته آشی راتلله چې مخکی اسحاق ته راغلی وه.

عمر درویش د آشی سره هماغه رویه وکړه کومه چې ورسره اسحاق کړی وه، هغه هم لکه د ډېری پشان وُ، هغه هم د آشی څخه وپوښتل: ته څوک او د چا لور یې.

هغه مخکی اسحاق اندیښمنه کړی وه او عمر درویش یو ځل بیا هغه په فکر کې واچوله.

هغې فکر وکړ او په ژور سوچ کې ډوبه شوه د کوم کار لپاره چې هغه راغلی وه او کوم جال چې هغی غوړولو هغه خپله پکې ونښته، هغی ته له ورپه یاد شول چې هغه په یو کاروان کې روانه وه چې صلیبی داړه مارانو پری حمله وکړه، مور او پلار هغه په غیږ کې ونیوله خو دواړه په وینو کې لت پت شول او دا صلیبیانو وتښتوله، بیا یې ښه خوراکونه ورکول او د شهزادګیانو په شان یې ساتله، وروسته یې له یاده ووتل چې زما پلار او مور څوک وه ؟

اسحاق او عمر درویش د هغی احساس راپیدا کړ چې هغه د مسلمان مور او پلار لور ده او د هغې په رګونو کې د مسلمانانو وینه ګرځي.

د دی څخه وروسته د هغې کرکه د صلیبیانو سره پیدا شوه ځکه چې هغه د دی د پلار او مور قاتلان او وژونکی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشي عمر درویش ته وویل : تا په ما کې ایمان رابیدار کړی اوس زه ستا مریده یم، هر څه چې ته وایې هغه به زه کوم .

صلیبي استاذانو د عمر درویش روزنه او تربیت د خپل پلان سره سم پیل کړ او هغه ته یې هغه چلونه ښودل چې په هغې سره د سیمې د خلکو عقیده خرابیدله، عمر درویش د الله تعالی د استازی په شکل کې د سیمې خلکو ته وړاندی کیده تر څو هغوی د مصر او سلطان صلاح الدین ایوبی سره مخالف کړي او د سوډان پوځ ته یې تشویق کړي .

هغه د څو ورځو روزنې او تربیت څخه وروسته خپلې سیمې ته واستول شو تر څو په خلکو کې د الله جل جلاله د استازی په شکل تبلیغات وکړي او هغوی ته معجزات وړاندی کړي .

* * *

هغه وخت چې په سوډان کې صلیبیانو عمر درویش تر روزنې او تربیې لاندې نیولی و په شام کې سلطان صلاح الدین ایوبی صلیبي ګوډاګیانو ته ماتې ورکړې او هغوی یې د خپلو سیمو په لوري پسې تښتولي وه، سلطان صلاح الدین ایوبی غوښتل حلب ونیسي ځکه چې هغه د ریمانډ د لښکر په سبب محاصره لرې کړې وه او ښار هماغسې بې محاصرې پاتې شو .

سیف الدین د خپل لښکر سره په ډېر بد حالت کې د موصل په لوري وتښتیده، ګمشتګین د حرن پر ځای حلب ته ولاړ ځکه چې د هغه پوځ ټول ختم شوی او د حلب پوځ هم ګوډ او مات د حلب په لوري په منډه وه، سلطان صلاح الدین ایوبی خپل کماندویان ورپسې کړي وه ترڅو هغوی په لاره کې دمې او راټولیدو ته پرې نږدي حلبي پوځونه تیت پرک روان وه او هر یو د حلب لوري نیولی وه .

سلطان صلاح الدین ایوبی ته د سوډان په هکله هر وخت معلومات ورکول کیده چې هلته د مسلمانانو د سیمې په خلاف نوې دسیسې جوړیږي او د هغې خلکو څخه د سوډان په پوځ کې کار اخلي، د هغې سیمې خلکو خانونه د مصر سره یو ځای ګڼل او د سوډان د کفري حکومت سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکی نه ساتل ، هغوی خپل ازاد حیثیت ساتلو او څو ځلی یې سوډانی پوځ ته ماتی هم ورکړی وه ځکه چې هغوی په غرنی سیمی کې اوسیدل .

۱ مصری حکومت د هغوی سره د وسلی کومک هم کولو ځکه چې د هغوی ډېر زیات کسان په مصری پوځ کې وه .

کله چې علی بن سفیان ته د سیمی حالات ګډوډ او اندیښمن څرګند شول نو هغه ملک العادل ته راپور ورکړ چې سوډانی حکومت غواړی د مسلمانانو په سیمه کې زموږ لپاره مشکلات پیدا کړی او په زندان کې په دوه مصری قوماندانانو کار کوی چې د سیمی خلک د هغوی پلوی کړی .

علی بن سفیان له ځان سره فیصله وکړه چې هغه باید خپله سوډان ته ولاړ شي او خپله حالات وګوری او که څه کول پکار وي هغه خپله سرته ورسوی.
د مصر څخه په غیر قانونی توګه غلی او نور شیان سوډان ته تلل ځکه چې په سوډان کې غلي کمی وی - خپله د مصر جاسوسی اداری ځینی خپل کسان د سوداګرو په توګه ګمارلی وه چې هغوی به د غلي کاروبار کولو، هغوی پدی پلمه د سوډان ټول حالات ځانته معلومول .

علی بن سفیان هم د معلومات لپاره د سوداګرو په شکل سوډان ته تللای شو.

علی بن سفیان ملک العادل ته وویل: تاسي د سوډان په هکله سلطان صلاح الدین ایوبی ته استازی او پیغام ولیږي او زه به خپله ولاړ شم داسي نه چي حالات زموږ له اختیار څخه ووځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د خپلی سیمی په لوری روان وه ترڅو د خپلو مسلمانو خلکو عقیدی خرابی او د صلیبیانو غلامان او نوکران ورڅخه جوړ کړی ، د هغه د څارنی لپاره صلیبیانو اته کسان چې د هماغی سیمی اوسیدونکی وه هم پټ ولیږل څکه چې په هغه یې باور نه کیده چې دوکه ونکړی .

د هغوی د ساتنی لپاره څو کسان سپاره لری لری روان وه چې نه هغوی څوک وپیژنی او نه آشی او عمر ته ډاکوان زیان ورسوی کله چې شپه راغله او عمر درویش خپله خیمه ولګوله نو دوه کسان د سیمی د خلکو په جامه کې راغلل او د عمر درویش څخه یې وپوښتل ته څوک یې او د څه لپاره راغلی یې ؟

عمر درویش په ډېر کمال سره هغوی ته وویل: زه خپله نه پوهیږم چې د کوم ځای یم څکه ماته د اسمان څخه پیغام راغلی دی او هغه باید خلکو ته ورسوم. چې هغوی د خپل وطن سره مینه وکړی، د هغې ساتنه او حفاظت په غاړه واخلي او د مصری فرعونیانو پلوی توب پریږدی. څکه مصر د فرعونیانو وطن دی او هر څوک چې پدی خاوره کې واکمن او پادشاه شي د هغه څخه فرعون جوړیږي.

د دی ځای هوا او اوبه داسی اثر لری چې د مسلمان څخه هم فرعون جوړ وي .

دواړه کسان ورڅخه ولاړل، په لاره کې یې یو بل ته وویل: سړی هوښیار دی او د پلان سره سم کار کوي خو باید تل تر څارنی لاندی وي داسې نه چې تیښته وکړی. دا دوه کسان جاسوسان وه او د عمر درویش د څارنی لپاره ټاکلی شوی وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طور ځرک

په دویمه ورځ عمر درویش د آشي سره د مسلمانانو د سیمې په لور روان شو او ماښام یو نژدې کلي ته ورسیدل، هلته هغوی خپله خیمه ودروله، اته کسان چې د دوی د څارنې لپاره ګمارلي شوي وه هغوی په کلي کې خپاره شول او خلک یې خبر کړل چې د کلي د باندې د الله تعالی استازی راغلی چې خلکو ته معجزې او د طور ځرک ځرګندوي د هغه سره پیریان هم ملګري دي او ساتنه یې کوي.

سبا سهار وختي د کلي خلک په منډه منډه راغلل پدوی کې هغوی هم وه چې د عمر درویش سره راغلي او څارونکي وه. هغوی په خلکو کې تبلیغات او پروپاګند کړی او هغوی یې مخکې ځینو خبرو ته چمتو کړي وه. کله چې خلک رانژدې شول آشي د خیمې څخه پداسي شان راووته لکه چې ښاپیرۍ را روانه وي هغې ډېرې ښایسته او ډولې جامې اغوستي وي، دوه مشعلونه لګیدلي وه، آشي یوه کوچنۍ قالینه د خیمې د باندې وغوړوله او بیا یې د اسمان په لوري وکتل، د دې سره جوخت عمر درویش د خیمې څخه راووت او په ډېر ناز ناز قالینې ته راغی هلته ودریده او لاسونه یې اسمان ته پورته کړل، بیا یې خلکو ته وویل: زه د الله تعالی استازی یم، د دې لپاره راغلی یم چې تاسې له بې لارې او ګمراهۍ څخه وژغورم، سوډان زموږ مور ده، د مور خدمت فرض دی، د هغې سره مینه کول فرض دي ، د هغې د ساتنې لپاره خپلې وسلې راپورته کړۍ، د سوډان بادشاه په پټه مسلمان او ستاسې په امید به دلته راځي تاسې به ورسره هر ډول مرستې کوي، مصر د فرعونیانو ځای دی، هلته چې هر یو بادشاه راشي هغه هم فرعون وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

... عمر درویش هلته بوه ...

عمر درویش وویل: هو! یو ته یې اشاره وکړه چې په هغې کیمیاوي موادو ککړه کړې اچولې وه ، یو بیا خپله عمر درویش هغې اوبه واچوي، چې کله یې په ټوټه اوبه واچلې نو بیا خپله عمر درویش هغې ته مشعل ورنژدې کړ، ټوټه یو دم سره لمبه شوه، د ټولو خلکو خولې د حیرانتیا څخه خلاصې پاتې شوې چې دې استازي خو اوبو ته اور واچولو.

بیا یو بل کس راوړاندې شو وویل : ایا تاسې د دې څخه پرته نوري معجزې هم لرې ؟

عمر درویش وی ویل: هو! که غواړې چې ویې ګورې نو ماښام په تیاره کې راشئ زه به تاسې ته د هغې روښنایي او رڼا څرک دروښایم چې موسی علیه السلام ته په طور کې ښودل شوې وه، خلک خپلو کورونو ته روان شول نو د عمر درویش څارونکي جاسوسان ورپسې شول او هغوی ته یې د درویش په هکله ډاډ ورکړ چې دا د الله جل جلاله استازي دی که د ده خبره مونږ ومنله نو زموږ ژوند او حالت به بدل شي او که د ده خبره مو ونه منله نو د الله تعالی قهر او عذاب به راباندې نازل شي .

ماښام چې کله د کلي خلک راغلل نو عمر درویش بیا په قالینه ودریده او خلکو ته یې هماغه خبرې وکړې وروسته یې خلک مخامخ غره ته متوجي کړل چې ګورئ هلته به یو نور او رڼا راښکاره شي، هغه یو مشعل راواخیست او پلاس کې یې دوه درې ځلې ښکته پورته کړ.

ټول غر تپه تیاره وو چې یو دم پکې روښنایي راښکاره او بیا ورکه شوه .

عمر درویش وویل: دا هغه روښنایي ده چې په طور کې موسی علیه السلام ته ښودل شوې وه، اوس باید تاسې زماپه خبره باور وکړې چې د خپل وطن ساتنه او حفاظت پر تاسې فرض دی .

خلک پداسې حال کې رخصت شول چې پوره باور یې راغلی وه چې دا پیغمبر دی او دا یې معجزې دي .

لږ چې وړاندې ولاړل د جومات یو امام هغوی ودرول چې دا هر څه جادو او مداري توب دی. پس له محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بل پیغمبر نه راځي. دا هسې ډرامه ده که تاسې غواړې پدې خبره ځان پوه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو راځي چې غره ته پورته شو او اصل حقیقت معلوم کړو، څرنګه چې پدی خلکو کې د صلیبیانو جاسوسان وه هغوی یو دم غالمغال پیل کړ چې دا امام دروغ وایی هغه اوبو ته آور واچولو او د طور څرک یې وښود، که ته داسې خبرې کوی نو خپله راشه اوبو ته آور واچوه او په غره کې د رڼا څرک وښایه .

څرنګه چې خلک ډېر او امام یوازې وه د ده خبره چا ونه منله او ټول ولاړل .

سبا ورځ عمر درویش د آشي سره ددې کلي څخه بلې کلي ته روان شو او هلته یې مخکې خپل کسان استولي وه چې خلک خبر کړي او د هغوی ذهنونه چمتو کړي، هلته لا مخکې احوال او پروپاګند رسیدلي و.

***

علي بن سفیان د خو کسانو سره د سوداګرو په شکل د مسلمانانو سیمې ته راورسیده او هلته یې په یو کور کې واړول، هغوی له ځان سره په اوښانو ښه پریمانه غشي، لیندې او کیمیاوي اور اچوونکي مواد راوړي وه، هغه یې ټول پټ او ځای پر ځای کړل، بیا یې د خلکو څخه د حالاتو په هکله پوښتنه وکړه.

د سیمې خلکو ورته وویل چې د سوډان حکومت د صلیبیانو په مرسته دلته غواړي خلک قانع او پخپل پوځ کې یې داخل کړي، هغوی اوس په دوه کسانو اسحاق او عمر درویش چې مخکې د سلطان صلاح الدین ایوبي قوماندانان وو په دې خاطر هڅولي چې خدمت ورته وکړي .

عمر درویش خو هغوی قانع کړي او سیمې ته رارسیدلی خو اسحاق لا بندي دی ، که دا دوه کسان هغوی د خپل ځان کړل نو کیدای شي پدی ازاده غرنۍ سیمه باندې حمله او برید وکړي او مسلمانان په زور سره پخپل پوځ کې داخل کړي چې خلک دې ته هیڅ چمتو ندي، په همدې وخت کې د جومات امام راورسیده چې بیګاه ماښام یې د عمر درویش او ملګرو ډرامه، جادوګري او مداري توب لیدلی وه، هغه ټوله کیسه علي بن سفیان ته وکړه .

علي بن سفیان هغوی ته وویل : تاسې څه تکړه کسان برابر کړي ترڅو د دې ډرامې اصلیت خلکو ته رسوا کړو، عمر درویش زه پیژنم هغه په مصري پوځ کې سر ګروپ و. که هغه په رښتیا سره د صلیبیانو ملګری شوی وی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه نیول او یا وژل پکار دي او که د ځان خلاصولو لپاره یې دا ډرام جوړه کړې وي نو بیا د هغه راخلاصول پکار دي .

سهار وختی علی بن سفیان د خپلو څو ملګرو سره د عمر درویش خیمې ته ورغی چې هلته ډېر کسان راټول شوي وه .

لومړی آشي د ښاپیریو په شان راووته ، بیا یې قالینه وغوړوله او بیا عمر درویش راووت ، هماغه پروني خبرې یې وکړې او وې ویل: ستاسې د باور لپاره زه تاسې ته معجزه څرګندوم، هغه په یوې ټوټې چې مخکې په کیمیاوي مواد ککړه شوې وه اوبه واچولې او بیا یې اور ورته ولګاوه. هغې ټوټې اور واخیست ، علی بن سفیان پوه شو چې پدې ټوټه باندې خامخا کیمیاوي مواد لګول شوي. هغه ور وړاندې شو او پوښتنه یې وکړه : ایا تاسې اوبه په اور بدلولای شې ؟

عمر درویش ځواب ورکړ هو! ایا تا ونه لیدل ؟

علی بن سفیان سمدستي د ملا څخه یوه ټوټه راخلاصه کړه او اوبه یې پرې واچولې بیا یې عمر درویش ته وویل: اوس دې ټوټې ته هم اور واچوه چې زموږ بالکل باور راشي او هم دې دا ښاپیرۍ د څه وخت لپاره همدلته زموږ په وړاندې ځان ورک کړي .

عمر درویش پدې خبره علی بن سفیان ته په غور سره وکتل چې دا غم له کومه شوه ! هغه علی بن سفیان په مصر کې لیدلی وه خو دلته هغه د سوداګر په شکل کې وه نو هغه ونه پیژندلو، عمر درویش خو هغې ټوټې ته اور نشو اچولی نو حیران ودریده .

علی بن سفیان ټولو خلکو ته اواز وکړ چې وګورئ که دا رېښتیا پیغمبر وي نو اوس دې دې ټوټې ته اور واچوي .

پدې خبره د خلکو په منځ کې پس پسک پیل شو، د عمر درویش خارونکو د هغه پلوې توب پیل کړ چې علی بن سفیان هغوی ټول وپیژندل او نورو خلکو چې د علی سره ملګري وه هغوی مخالفت پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدی وخت کې علی بن سفیان عمر درویش ته ورغلی او ورته وبی ویل : د دی په مقابل کې دی چې خومره قیمت اخیستی وی د هغی د دوه چنده درکوم خو دا ډرامه خوشی کړه .

عمر درویش ورته وویل : زه همدا مقصدلرم خو د وژونکو تر خارنی لاندي یم. که ته زماساتنه کولای شې نو زه دی ټولو کارونو ته چمتو یم.

علی بن سفیان ورته وویل: بس زه دی ساتنه کوم، بیګاه ماښام د طور غرک ته خلک راوغواړه، هر څه به زه وکړم .

علی بن سفیان په لوړ اواز خلکو ته وویل : خلکوا ما د الله تعالی د استازی سره خبره وکړه هغه به بیګاته مونږ ته د طور غرک وښایی که دا کار یې وکړ مونږ ټول به هغه ایمان راوړو او هغه چې څه وایی په هغه به عمل وکړو ټول خلک روان شول .

د عمر درویش خارونکی ورخطاء شول چې ټوله ډرامه رسوا کیدونکی معلومیږي، دا سړی ډېر خطرناک او هوښیار ښکاری خو د دی ځای اوسیدونکی هم ندی .

ماښام علی بن سفیان خپل څلور کسان مخکې غره ته پورته کړل او هلته غلی پټ شول ترڅو د ډرامې اصلی کسان ونیسی - لږ ځند وروسته دری کسان غره ته راپورته شول چې د کیمیاوي مواد منګی ورسره وه، د هغوی سره یو څراغ هم وُ. کله چې د غره لاندی عمر درویش خپله ډرامه پیل کوله، دی دری کسانو کیمیاوی مواد په یوه وچه کلک خمکه واچول او لږ لری یې څراغ هم بل کړ ترڅو د عمر درویش په اشاره هغې ته اور واچوی او خلکو ته د طور د رڼا غرک وښایي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر درویش یو مشعل را واخیست او بیا یې ښکته پورته کړ، خو په غره کې هیڅ شي هم ښکاره نشو، دویم او دریم خل یې بیا دا کار وکړ خو د طور څرک ښکاره نشو نو علی بن سفیان عمر درویش د خپلو کسانو په منځ کې راګیر کړ او د نورو شکمنو کسانو شاته یې هم کسان ودرول ترڅو هغوی یو هم څه ونشي کړای .

بیا یې خلکو ته اعلان وکړ وګوری چې د دی استازی سهارنی معجزه هم دروغ وه او اوس یې هم هیڅ ونشول ښودلای، دا مداری توب او جادو دی .

عمر درویش په همدی غالمغال کې علی بن سفیان ته وویل چې زه اشی او ستا دوه تکره کسان باید د سوډان مرکز ته ولاړ شو او هلته اسحاق راخلاص کړو څکه چې ما صلیبي چارواکو ته ویلی وه چې کله زما اسحاق ته اړتیا شوه هغه به راخلاصوی .

علی بن سفیان هغوی ته اجازه ورکړه چې زر تر زره ولاړ شي او خپله د ډرامی د رسوا کولو لپاره خلکو ته متوجی شو، هغه د عمر درویش څارونکی نیولی او کلک ترلی وه، هغه ټول خلک له ځان سره ملګری کړل او بیا یې د غره هغې برخی ته پورته کړل چیری چې د طور څرک ښودنه کیدله، هلته چې ورسیدل نو دوه کسان ترلی پراته وه، کیمیاوی مواد په خاوره اچول شوی او څراغ هم بلیده. علی بن سفیان خلکو ته وویل: وګوری، هغه څراغ کیمیاوی موادو ته نژدی کړ، هغې سمدستی اور واخیست او یوه لمبه یې وکړه وروسته لمبه ختمه شوه، همدا لمبه د طور رڼا څرک وه چې خلک یې پری غولول .

بیا علی بن سفیان د نیول شوی کسانو څخه وپوښتل چې دا څه دی، هغوی ورته وویل چې مونږ د همدی کار لپاره روزی شول یو او خلکو ته دا د معجزی په نامه ښایو او د خلکو عقیده د اسلام څخه اړوو- د کلی یو خوان د هغې خلکو تر شا راغی او په یو خرپ یې د دوارو څخه سرونه والوزول او بیا یې خلکو ته وویل : هر څوک چې د صلیبیانو لپاره کار او خدمت کوی دا یې سزا ده .

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر درویش، آشي او دوه مسلمان سرتیري د اسحاق د خلاصون لپاره د سوډان د مرکز په لوري په منډه راون وه. هغوی غوښتل مخکې لدې څخه چې کوم جاسوس هلته احوال ورسوي هغه باید اسحاق راخلاص کړي.

هغوی دوه ورځې او یوه شپه سفر وکړ او ماښام مرکز ته ورسیدل. سمدستي مشر سالار ته ورغلل چا چې اسحاق او عمر درویش د وړانکاری لپاره تیارول - هغه ته عمر درویش ټول راپور وړاندې کړ او اشي ته یې اشاره وکړه تاسې د دې څخه پوښتنه وکړی چې مونږ څومره کامیاب او بریالي یو.

آشي ورته ډېر زیات صفت او ستاینه وکړه چې عمر درویش ډېر کامیاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



آشي سالار ته دومره شراب ورکړی وه چې هغه لومړی په اوتو بوتو پیل وکړ او بیا یی هوشه شو - هغوی پنځه واړه په آسونو سپاره شول او د مرکز ځخه ووتل .

څو ساعته وروسته یو جاسوس هم راورسیدو او سالار ته راغی هغه د نشی له حالت ځخه وتلی وو نو د عمر درویش او د ډرامی د رسوا کیدو خبر یې ورکړ.

سالار خوشحاله شو چې عمر درویش تیار پلاس راغلی خو چې کله هلته ورغلل نو خپل دوه پیره کوونکی یې مړه پیدا کړل او د بل چا درک نه و هغوی پوه شول چې عمر درویش سره د اسحاق وتلی او تښتیدلی دی .

عمر درویش، اسحاق، آشي او دوه سرتیری یوه شپه او دوه ورځې وروسته خپلی سیمی ته ورسیدل او د علی بن سفیان سره یو ځای شول .

علی بن سفیان عمر درویش او اسحاق په ټوله اسلامی سیمه کې وګرځول ترڅو خلک له اصل حقیقت ځخه خبر کړي او په زندان کې چې په هغوی څه تیر شوی وه هغه خپل ولس ته ووایی، د دی په خوا کې هغوی څو کسانو ته وظیفه وسپارله چې د سوډان د پوځ په هکله معلومات خپلو خلکو ته راوړی، علی بن سفیان د مصر ځخه څه سرتیری هم راوغوښتل ترڅو د حملی په وخت کې په دښمن باندی بریدونه وکړی .

* * *

هغه وخت چې علی بن سفیان په سوډان کې د کفری ځواکونو ځخه د ځمکی لاندی جګړه وګټله، سلطان صلاح الدین ایوبی په شام کې دری واړو متحده پوځونو ته ماتی ورکړه او ټول یې د خپلو سیمو په لوری پسی اخیستی وه، هغه حلب تر نظر لاندی نیولی وه ځکه هغه ورځخه یو ځل سرتیرو ته وظیفه ورکړی وه چې په لاره کې حلبی پوځ دمی او آرام ته پرنږدی ریماند خلاص کړی او همدا حلب د صلیبي ګوډا ګیانو مرکز وه - هغه خپل او خپله د بلی لاری ځخه د حلب په لوری روان شو، حلبی پوځ په لاره کې وه چې سلطان صلاح الدین ایوبی حلب ته نږدی ورسیده او لاره یې بنده کړه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شا لخوا وریسی کماندویان او مخی ته ورته د سلطان صلاح الدین ایوبی سپاره ودریدل او هغوی یې محاصره کړل .

په حلبی پوځ باندی اوازونه وشول چې خپله وسله تسلیم کړې او پرته لدی څخه هغوی نوره چاره هم نلرله، هغوی ډېر بده ماتی خوړلی وه .

د پوځ د محاصری په سبا ذوه سپاره د سلطان صلاح الدین ایوبی په لوری را روان وه چې سپین بیرغ یې پلاس کې نیولی وه ، هغوی چې کله سلطان صلاح الدین ایوبی ته مخامخ شول نو عسکری سلامی یې وکړه او بیا یې د الملک الصالح پیغام ورکړ.

سلطان صلاح الدین ایوبی ته هغه د سولی او روغی وړاندیز کړی وه او دا یې هم لیکلی وه چې زما حکومت به تاته مالیات درکوی او ستا په خلاف به هیڅکله هم جګړه نکوی او نه به د صلیبیانو سره دوستی ساتي.

د دی روغی او سولی څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی په هغوی شرط کیښوده چې د اړتیا په وخت کې به مونږ ته خپل پوځ راکوی او د حلب د کلا څخه به زمونږ مخه څوک نه نیسی .

سلطان صلاح الدین ایوبی د دی څخه وروسته د تر کمان په سیمه کې واړول چې ډېره تکه شنه او اوبه یې هم ډېرې لرلی، هغه غوښتل دلته خپلو څارویو ته واښه او خوراک برابر کړی او هم د خپلو زخمیانو درملنه وکړي. ځکه هغه پوهیده چې نور نه صلیبیان او نه د هغوی ګوډا ګیان د حملی لپاره زړه ښه کولای شی .

په ترکمان کې څو ورځی وروسته هغه ته یو لیکلی پیغام په لاس ورغی چې د الملک الصالح مهر ورباندی لګیدلی وه، سلطان صلاح الدین ایوبی چې لیک پرانسته نو اصلی پیغام د سیف الدین په نامه وه، هغه ته الملک الصالح لیکلی وه: ستاسې لیک ماته راورسیده، تاسې دا اندیښنه ښکاره کړی وه چې ما له سلطان صلاح الدین ایوبی سره په روغه کولو غلطی کړی - اصلاً ماته هیڅ بله لاره نه وه پاتی لدی څخه چې زه روغه وکړم ځکه زماد پوځ زیاته برخه د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ له لوری محاصره وه که هغه ټول نیول شوی وایی بیا ما هیڅ هم نشول کولای، ما د دی لپاره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځ راخلاص شي او زه بیا خپل ځان برابر کړم نو ما د هغه سره سوله وکړه، تاسې بالکل بې غمه اوسی زه هیڅکله د هغه سره نه روغه کولای شم او نه دوستی، ماته د وخت او پوځ اړتیا وه او دا کار وشو.

تاسې هم خپل کار کوی او زه هم خپل کار کوم خو بیا به د سلطان صلاح الدین ایوبی ښخه غچ او انتقام اخلو.

دا پیغام خو اصلاً سیف الدین ته استول کیده خو یا په غلطۍ سره سلطان صلاح الدین ایوبی ته راغی یا دا چې پیغام راوړنکی د سلطان صلاح الدین ایوبی پلوی ؤ.

سلطان صلاح الدین ایوبی د دی پیغام په لیدلو ډیر خفه شو او څه وخت یې د هیچا سره هم خبری ونکړی خو پدی خوښ وو چې د دښمن له حالاتو ښخه پوره خبر شو تر څو دوکه ونه خوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حق د لاری مسافر

پادشاه په یوه جونګړه کې پټ شوی وو، دا پېښه د اپریل د میاشتې ۱۱۷۵ میلادي (د روژې میاشت ۵۷۰ هجري) کې شوې وه کله چې درې صلیبي ګوډاګي واکمنان د نور الدین زنګی زوی الملک الصالح، ګمشتګین او سیف الدین غازي د سلطان صلاح الدین ایوبي مقابلې ته راغلي وه، د هغوی پلویتوب (طرفداري) صلیبیانو کولو، صلیبیانو هغوی ته اوښان، آسونه، د اور اچوونکي مادې منګي او نوره وسله ورکړې وه، صلیبیانو دا اړتیا نه ګڼله چې سلطان صلاح الدین ایوبي ته دې په میدان کې ماتې ورکړې شي بلکې د هغوی اصلي مقصد دا وو چې اسلام له بېخه او په عربي خاوره باندې د صلیب واکمني راشي. هغه وخت فلسطین د صلیبیانو په واک کې وو، هغوی د مسلمانانو څو کمزوریانې پېژندلې وې، چې هغه د واکمنۍ حرص، ښځه، زر او عیش و عشرت وه.

صلیبیان د اروپا څخه پدې امید او هیله راغلي وه چې هغوی به د خپلې نوې وسلې، د پوځونو د ډېروالي او د بحري قوې پوسیله مسلمانان په لږ وخت کې ختم او بیا به په لومړي قبله او کعبه شریفه باندې واکمني تر لاسه کړي او د اسلام بنسټ او بنیاد به رنګ کړي.

دین کومه ونه نده چې هغه د ریښو سره راوویستل شي نو وچه او له منځه به لاړه شي، دین د کوم کتاب یا کتابونو نوم ندی چې هغه وسوځول شي نو دین او مذهب هم ورسره ایره او خاورې شي، مذهب د عقایدو، افکارو او نظریاتو نوم دی چې د انسان په زړه او دماغ کې ساتل کیږي او انسان د هغې پابند وي. د انسانانو په وژلو سره د هغوی نظریات او عقاید نه ختمیږي، د یو مذهب د ختمولو لاره دا ده چې د هغې په پیروانو کې عیش و عشرت او خان پالنه واچول شي له دې څخه وروسته د مذهب سره یې پخپله اړیکې سستیږي او بلاخره انسان بې پروا او ازاد ګرځي یهودیانو او صلیبیانو همدا جال او لومه مسلمانانو ته جوړه کړې وه کله چې دا جال په عربو او مصر کې خپور شو نو ډېر واکمنان او چارواکي پکې راونښتل، د اسلامي امت همدا بدبختي او بد نصیبي ده چې مسلمانان د واکمنۍ، مال

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښځي په خاطر هر څه قربانوي، د سلطان صلاح الدين ايوبي او نور الدين زنګي په وخت کې دا خواره زهر د مسلمانو واکمنانو او اميرانو په رګونو کې ننوتي وه څکه خو صليبيان په فلسطين واکمن شول . ډېر رياستونه او امارتونه داسې وه چې په هغوی عملاً د صليبيانو واکمني نه وه خو د واکمنانو په زړونو صليبيان واکمن وه. يهوديان او صليبيان د مسلمانانو په اخلاق خرابولو کې دومره کامياب او بريالي شوي وه چې د هيڅ مسلمان سالار په هکله دا خبره چا په ډاډ سره نشوه کولای چې هغه د اسلامي امت پلوي او وفادار دی. د زنګي او ايوبي لپاره دا غداران لويه ستونزه او مسئله جوړه شوي وه .

په ( ۱۱۷۵ - ۱۱۷۴ ) ميلادي کې د سلطان صلاح الدين ايوبي او بيت المقدس تر منځ مسلمان واکمنان خنډ او پرده شوي وه .

صليبيان لرې ناست سيل او ننداره يې کوله. سلطان صلاح الدين ايوبي به په ټولو ډګرونو کې صليبيانو ته پرله پسې ماتې ورکولې خو صليبيانو د هغه په وړاندې مسلمان اميران او واکمنان راپورته کړل او هغوی يې ورته مخامخ ودرول ، تر ټولو تکليف رسوونکې او ستونزمنه خبره خو لادا وه چې د سلطان غازي نور الدين زنګي زوی الملک الصالح د نورو آميرانو په لمسون د سلطان صلاح الدين ايوبي په وړاندې خنډ شو او د هغه مخه يې بنده کړې وه .

هغه پادشاه چې په يوه جونګړه کې ناست وو هغه د الملک الصالح ملګري او پلوي وو او دريم پلوي يې ګمشتګين وه. تاسې مخکې لوستي وه چې سلطان صلاح الدين ايوبي د هغوی درې واړو متحده پوځ ته داسې ماتې ورکړه چې هر څه ترې پاتې شول ان تر دې چې خپلې خيمې ، بسترې تک او پوک يې هم پريښودل او له ميدان څخه په منډه وتښتيدل ، د هغوی پوځيان چې څومره سلطان صلاح الدين ايوبي ونيول هغه يې پدې خوشې کړل چې مسلمانان دي . د سلطان صلاح الدين ايوبي دا رحم د زړه پراخوالي او په مسلمانانو زړه سوی وروسته د هغه لپاره تاواني او زيان رسوونکې وګرځيده. همدا خوشې کسان چې هلته ورسيدل يو ځل بيا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځ کې شامل شول او له سره بیا د یوی جګړی لپاره چمتو او تیار شول - دا خو د ځو ورځو وروسته خبره ده.

د جګړی له میدان ځخه د الملک الصالح، سیف الدین او ګمشتګین تښتیدل ډېر عجیب او حیرانوونکی ډارمه وه، هغوی د یو بل په غم کې نه وو، ګمشتګین د حرن د کلا مسئول وو چې د بغداد د خلافت تر لاس لاندې وه خو هغه د جګړی ځخه مخکې د خپلواکۍ اعلان کړی و، کله چې د جګړی ځخه وتښتیده نو د حرن پر ځای حلب ته ولاړ کوم ځای چې الملک الصالح خپل پایتخت او پلازمینه ګرځولی وه. هغه لدی ویری حرن ته ولاړ نشو چې سلطان صلاح الدین ایوبی به هغه ژوندی ونیسی.

سیف الدین د موصل آمیر او د پوځ سالار وو، هغه د جګړی په ټولو اصولو او کړاونو ښه پوهیده، ډیر زړور سړی وو خو له بده مرغه هغه خپل ایمان پلورلی وو کوم چې د مسلمان توره او سپر وی ، هغه هم له ځان سره ښایسته او حسینی نجونی او نخا کوونکی ډمی بیولی وی. د شرابو د منګیو ځخه برسیره د هغه سره ښایسته او ښکلی رنګا رنګ او ډولی مرغی هم وی ، هغه د ژوند دا ټول سامان ټک او پوک په میدان پریښودل او خپله وتښتیده ، په تښتیدونکو کې د هغه سره خپل یو سالار او یو قوماندان هم ملګری وه ، هغوی موصل ته تلل چې د عراق په شمال کې پروت دی خو د سلطان صلاح الدین ایوبی د کماندو مجاهدینو له ویری د هغوی لپاره تېښته هم ګرانه کړی وه. هغوی ښایی لاره نیوونکی مجاهدین لیدلی وي نو ځکه یې د موصل لاره بدله کړه او په غلطه لاره ولاړل، چې شنه هم وه، دښتی هم او غونډی غرونه هم، هغوی ته د پټیدو ځایونه پیدا کیدل، خو د موصل ځخه لرې لری وه چې شپه پری راغله ، د سپوږمۍ په رڼا کې یې څه کورونه ولیدل نو د لومړی کور دروازه یې وټکوله - یو سپین ږیری بوډا راووت، د هغه په وراندی دری اس سپاره ولاړ وه چې ډېر سانیولی او هېیدل نو بوډا وپوښتل داسی ښکاری چې د موصل سرتیري او پوځیان به وئ او راتښتیدلی یاستی؟

(c) kefayton.com The Digital Library



زه دا دوه ورځې پدې لاره سرتیرې ګورم، هغوی د اوبو څنبلو لپاره څنډېرې او نور د موصل په لوری حرکت کوی !

سیف الدین وپوښتل د دی ځای څخه موصل څومره لرې دی ؟

بوډا وویل :که ستاسې په اسونو کې ساه وی نو تر سهار مخکې رسیږی؟

سیف الدین وپوښتل: کـه ستاسې سره ځـای وي نـو مونږ دلـته شپه تیرولای شو ؟

بوډا ځواب ورکړ: ځای خو په زړه کې وي له آسونو راښکته او دننه راشی !

***

په یوه خونه کې دری واړه د یو مشعل رڼا ته کیناستل خو بوډا هغوی ته په ځیر ځیر سره کتل .

سیف الدین وویل : زمونږ د پیژندلو هڅه کوي؟

بوډا وویل: زه پوهیږم چې تاسې سرتیرې نه یاستې- ستاسې رتبې کیدای شي تر سالاری پوری وی؟

یو وویل : دا د موصل والی سیف الدین غازی !!! دی ! ، زه نائب سالار او دا ملګری قوماندان دی - تاسې څه عادی سړو ته پناه نده ورکړې، تاته به د دی انعام درکول کیږي !

سیف الدین وویل : یوه خبره په غوږ سره واوره مشره! دا هم کیدای شي چې مونږ ستا په کور کې د زیاتو ورځو لپاره پاتی شو، مونږ د ورځې باندې نشو وتلای، چاته دا څرګنده نشي چې مونږ دلته یو، که چاته څرګنده شوه چې مونږ دلته یو نو تاته به بیا سزا درکول کیږي او که دا راز دې وساتلو نو انعام به درکول کیږي، څه چې بیا غواړې هغه به پلاس درځي

بوډا وویل : ما د موصل والی ته پناه نده ورکړې ! تاسې لاره ورکه کړې او په کړاو کې اخته زما کور ته راغلی یاستې، څومره ورځې چې پاتی کیږې زه مو خدمت کوم ، که تاسې د پټ اوسیدو هیله لرې نو پټ مو ساتم، زه ستاسې سره څکه خوا خوږی لرم چې زما زوی هم ستاسې په پوځ کې دی !

نائب سالار وویل : مونږ به هغه ته لوړه رتبه ورکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا وویل :که تاسې هغه له پوځ څخه وباسئ، دا به زما لپاره ډېر لوی افتخار او انعام وي !

سیف الدین وویل : ښه! مونږ به هغه له پوځ څخه وباسو ځکه هر پلار غواړي چې زوی یې ژوندی پاتې شي .

بوډا وویل: ما د هغه د ژوند هیله هیڅ وخت نده کړې ما هغه د خپل قوم لپاره پوځ کې واچولو او الله پاک ته مې وسپارلو، زه هم سرتیري وم، تاسې لا هغه وخت پیدا هم نه وئ چې زه کله په پوځ کې وم. الله تعالی دې ستاسې پلار قطب الدین ته جنت ورکړي، زه د هغه په دوره کې سرتیري وم، مونږ د کفارو په خلاف جګړې کړې، خو تاسې زما زوی د خپلو مسلمانو ورونو په خلاف د جنګولو لپاره بیولی دی، زه د هغه د شهادت هیله من وم نه د مرګ .

سیف الدین وویل : صلاح الدین ایوبی تش په نامه مسلمان دی د هغه په مقابل کې جنګ روا بلکې فرض دی .

نائب سالار وویل :درنه مشره! تاسې پدې خبرو نه پوهیږئ، مونږ ښه پوهیږو چې څوک مسلمان او څوک کافر دی!

بوډا وویل : زما زامنو! د عبرت درس واخلئ، زما عمر پنځه اویا کاله شویدی، زما پلار د نوی کلنو په عمر کې وفات شوی وو، او د هغه پلار په پنځوس کلنی کې په شهادت رسیدلی وو. زما نیکه زما پلار ته د هغه وخت د جګړو کیسې کړې وې، زما پلار هغه کیسې زما په سینه کې واچولې، نو زه د دې دعوه کولی شم چې زه په څه پوهیږم په هغې تاسې نه پوهیږئ! د پادشاهۍ حرص چې ورور له ورور سره جنګوي هغه ضرور یوه ورځ تښتیدلی او د یو غریب په جونګړه کې داسې پټیدای هم شي ، ستاسې څخه چې مخکې څه تیر شویدي د هغوی هم پای همداسې وه. ستاسې درې لښکرې د سلطان صلاح الدین ایوبی یو لښکر په شا کړې او په کوم ډول چې په شا شوې هغه زه د دوه ورځو څخه را پدې خوا ښه ګورم، که ستاسې سره لس لښکرې هم وای نو ټول به همداسې تښتیدل، څوک چې په حق وي هغه فتح او برې حاصلوي او کله چې ماتې وخوري بیا نه تښتي بلکې د هغوی مړې د میدان څخه پورته کیږي، هغه هیڅکله هم نه پټیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیف الدین وویل: ته د صلاح الدین ایوبی پلوی او ملګری ښکاري ! مونږ باید پرتا باور او اعتماد ونکړو .

بوډا وویل : زه ستاسې پلوی یم ، زه د اسلام د سپیڅلی دین پلوی یم ، زه د خپلی تجربی په اساس تاسې ته وایم، چې تاسې د خپل ورور دښمن خپل دوښت او ملګری وبللو حال دا چې هغه ستاسې د دین ازلی دښمن دی. ستاسې د ماتی اصلی لامل همدا دی، تاسې په ما باور وکړی. که د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ دلته راغی نو زه تاسې پټ ساتم او دوکه درسره نکوم خو دا ذلیل ژوند می هم په تاسی نه لوریږی .

پدی وخت کې یوی ښایسته نجلی‌خوراک او څښاک راوړ او خونی ته راننوته، د هغې تر شا یوه بله ځوانه ښځه هم راغله د هغې پلاس کې هم د خوراک او څښاک لوښی وه، د سیف الدین سترګی او نظر په نجلی باندی خښ شو، هغوی د خوراک او څښاک لوښی کیښودل او له خونی ووتلی، سیف الدین له بوډا څخه وپوښتل چې دا دواړه څوک وی؟

بوډا وویل : دا کشره زما لور ده ، هغه مشره می د زوی میرمن ده د هغه زوی میرمن چې ستاسې سره په پوځ کې دی، ماته داسې معلومیږي چې زما انګور به کونډه شوی وی .

سیف الدین وویل : که ستا زوی په ریښتیا هم وژل شوی وي نو زه تاته بی اندازه مال او دولت درکوم ، د خپلی لور په هکله هم هیڅ فکر مه کوه، دا چې په جونګړه کې لویه شویده دا به د کوم سرتیری میرمن نه بلکې دا ما د ځان لپاره خوښه کړی .

بوډا وویل : ما نه خپل زوی پلورلی او نه خپله لور پلورم! دا په جونګړه کې لویه شوی نجلی د یو سرتیري سره ښائي - زه یو ځل بیا ستاسې څخه غوښتنه کوم چې زما څخه بی ځایه طمع مه راکوئ ! تاسې زما میلمانه یاستی زه ستاسی په وړاندی د کوربه توب هر ډول مسئولیت اداء کوم .

سیف الدین بوډا ته وویل: تاسې بی فکره ویده شئ مشره ! مونږ پرتا پوره باور لرو او پدی خوښ یو چې زمونږ په ولایت کې هم داسې صاف ویوونکی او اصولی خلک شته دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې بوډا ولاړ نو سیف الدین خپلو ملګرو ته وویل : دا ډول انسان چاته دوکه نه ورکوي، تاسې د هغه لوړ په غور سره وکتله؟ ښه ملغلره ده!
حالات چې لړ ښه شول نو دا ملغلره باید زما په لمن کې وي!
سیف الدین په خندا سره وویل او بیا یو دم رابیدار شو او نائب سالار ته یې وویل : ته د موصل معلومات وکړه، پوځ سره یو ځای کړه، د سلطان صلاح الدین ایوبی پلانونه معلوم کړه او بیا ماته خبر راکړه چې زه زر درشم او که څو ورځې نور هم پاتې شم، بیا یې قوماندان ته مخ کړ او ویې ویل : خپله ولاړ شه یا بل څوک واستوه او د حلب خلکو ته ووایه چې زه لا تر اوسه ژوندی یم ....
دواړه د خپلو کارونو پسې روان شول، سیف الدین چې په خپل قصر کې د شرابو او حسینو پیغلو په موجودیت کې ویده کیده په یو خام کور کې ویده شو.

* **

د دې ښځه د یوې ورځې مخکې پیښه ده چې یو سرتیري د جګړې د ډګر ښځه په تیښته د موصل په لوري روان وو، کله به یې آس ځغلولو، کله به یې په قلاره قلاره او کله به یې ودرولو، کله به یې د ویرې یوې او بلې خواته ورخطا کتل. هغه د عامي لارې ښځه لرې بې لارې روان وو، داسې معلومیده چې په هغه ویره راغلې او دماغ یې پخپل کنترول کې ندی،یو ځای یې آس تم کړ، راښکته شو او مخامخ قبلې ته ودریده او په لمانځه یې پیل وکړ، کله یې چې د دعا لپاره لاسونه پورته کړل نو په شیبو شیبو یې وژړل. د هغه ځای ښځه پورته نشو او هلته ناست او سر یې پخپلو لاسونو کې نیولی وو.
متحده لښکرو چې کله ماتې وخوړه او تیت پترک شول نو د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوسان هم ورسره ملګري شول - دا د سلطان صلاح الدین ایوبی د جاسوسی او استخبارتي اداري طریقه وه چې کله به دښمن ماتې وخوړه نو هغوی به خپل ځینې کسان د تښتیدونکې پوځیانو یا کلي پریښودونکو مهاجرینو په شکل د دښمن سیمې ته ننباسل ترڅو هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن نوي پلانونه، جنګي تیارۍ او نورې ارادې معلومې کړي او خپل مرکز ته یې راواستوي کله چې د دمشق څخه الملک الصالح د خپل پوځ سره د حلب په لوري تښتیده نو د هغه سره هم ځیني جاسوسان د تښتیدونکو په شکل او صورت کې ملګري شول .

سلطان صلاح الدین ایوبي نیمایي جنګ د جاسوسي پروګرامونو پواسطه سرته رسولو . هغه کسان چې د جاسوسي لپاره غوره کیدل هغه به ډېر زيات هوښیار، د ساړه مزاج خاوندان، د فیصلې ورتیا لرونکي، په خپل خان باوري او ګوریلايي روزنه لیدونکي وه .

په اپریل ( ۱۱۷۵ ) میلادي کې چې کله سلطان صلاح الدین ایوبي دري متحده لښکرو ته ماتې ورکړه نو د هغه د جاسوسي اداري مشر حسن بن عبدالله هغه کسان چې د دې کار لپاره روزلي وه هغوي یې د دښمن په لیکو کې حلب، موصل او حرن ته د دښمن څخه د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره واستول - پدوی کې ځیني د پوځیانو په جامه کې او ځیني د کلي والو په جامه کې وه. د دوی تلل ډېر ضروري وه ځکه چې دښمن کیدای شو زر تر زره بیا تیاري ونیسي او برید وکړي. سلطان صلاح الدین ایوبي چې پدې میدان کې دښمن ته څومره زيان رسولي وو د هغې څخه ورته څرګندیده چې دښمن زرنشي کولای حملې ته چمتو او تیار شي خو دا قدم یې د احتیاط له مخې پورته کړی وه .

د دښمن دری لښکرې وې چې دری دریواړه هم د یو بل سره د زړه له اخلاصه ملګرې نه وې، پدې دری واړو کې هر یو غوښتل چې سلطان صلاح الدین ایوبي ته ماتې ورکړي او د اسلامي هیواد خپلواک پادشاه او شهنشاه شي ، هغوی د یو بل سره مخالف هم وه خو سمدستي هغوی ټولو سلطان صلاح الدین ایوبي خپل ګډ دښمن بللو، نو ځکه د دې امکان وو چې هغوی خپل خپل پوځونه سره یو کړي او بیا ځوابي حمله او برید وکړي .

سلطان صلاح الدین ایوبي پدې ښه پوهیدلو چې د عیش او عشرت خوښوونکي د جګړې په میدان کې نشي تم کیدای خو صلیبي واکمنان د هغوی تر شا ولاړ او هغوی ته یې تل مرستې ورکولې او سلا کاران یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه - د مسلمانانو په منځ کې دوه دري سالاران داسې هم وه چې د قيادت ورتيا يې لرله چې په هغوی کې ډېر مهم سړی مظفر الدين بن زين الدين وه. هغه مخکې د سلطان صلاح الدين ايوبی په پوځ کې سالار پاتې شوی او د هغه په ټولو چلونو او پلانونو ښه پوهيده.

صليبي سلا کارانو او مظفرالدين سلطان صلاح الدين ايوبی ډېر بيدار، ويښ او محتاط کړی وو. هغه چې کوم شي انديښمن کړی وو هغه د ده خپل حالت او کيفيت وه ځکه چې پدی جګړو کې هغه ته کافي او پوره تاوان او زيان رسيدلی وه او د سمدستي جنګ لپاره تيار او چمتو نه وه.

د سلطان صلاح الدين ايوبی لپاره بله ستونزه دا وه چې هغه د خپل مرکز څخه ډېر لرې راغلی وو، د هغه سره سامان او وسايل وه خو د اوږد جنګ لپاره نه بس کيدل، هغه د نژدې سيمو څخه سرتيرې نيول او روزنه يې ورکوله، په هغوې کې زيات کسان له مخکې څخه په آس سپرلی، توری وهلو او غشی ويشتلو باندی پوهيدل، خو د پوځ په شکل د جنګيدنی لپاره د هغوی روزنی او تربيت ته اړتيا وه، هغوی ته روزنه او تربيت پيل شوی او د سلطان صلاح الدين ايوبی خپل پرمختګ هم روان وو ترڅو په مهمو سيمو باندی ولکه وکړی هغه ځينی برخی او سيمی پرته د مقابلی او جګړې څخه لاس ته راوړی تر دی چې داسې ځای ته ورسيده چې هر لوري ته شنه شنه واښه او ګلان وه او اوبه ښې پريمانه او ډېری وی، پوځيان او څاروي ټول ستړی او ستومانه وه، څارويو چې دومره واښه او اوبه وليدلی نو پخپل سر شول سلطان صلاح الدين ايوبی هلته د خيمو ودرولو حکم وکړ، د څارنی ګروپونه مناسبو ځايونو ته واستول شول، جاسوسان خو لا مخکې تللی وه.

سلطان صلاح الدين ايوبی ته د هر کار په هکله ويلو ته اړتيا نه وه بلکې ټول کارونه لکه د ماشين پشان پخپله سرته رسيدل ځکه چې د هر چا وظيفه او مسئوليت معلوم وو. دا ځای او سيمه د ترکمان په نامه سره مشهوره وه، د دی ځای پوره نوم حباب الترکمان ( د ترکمان کوهی ) وُ.

سلطان صلاح الدين ايوبی د مرکزی پوځ د سالارانو په کانفرانس کې ووييل : د پوځيانو نيول نور هم تيز کړی ، په ټولنيزه توګه د جنګيدلو روزنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تربیت زیات کړی ، پر تاسې الله تعالی رحم او کرم کړی چې بی عقله دښمن یې درکړیدی، که هغوی عقل او پوه لرلی نو ټول به د تیښتی څخه وروسته دلته راټول شوی وای. د پوځیانو او څارویو لپاره دا ځای د جنت څخه کم ندی، دلته به ستاسې څاروي دومره واښه وخوری چې لس ورځی پرته د خوراک څخه جنګیدلای شی !

زما دوستانو! دښمن سپک مه ګڼی د تیاری په حالت کې اوسی، طبیبانو ته ووایی چې د شپې خوب ونکړی او زخمیان زر تر زره تداوی کړی او د هغوی خدمت شپه او ورځ سرته ورسوي .

دا په یاد ولری چې زمونږ هدف او مقصد دا ندی چې خپل ورونه ووژنو، یا هغوی بی کوره او بی برخی کړو بلکې زمونږ مقصد او هدف فلسطین دی، که مونږ همداسې د یو بل سره لاس په ګریوان وو نو صلیبیان پخپل مقصد کې بریالی کیږي، تاسې خپل نظر په فلسطین باندی وساتی، په لاره کې چې هر څوک او هر څه خنډ کیږي هغه تر پښو لاندی کړی .

په همدی ځای کې سلطان صلاح الدین ایوبی ته د الملک الصالح لخوا څخه د سولې او روغې جوړې پیغام راغلی وو چې په مخکنی پاڼو کې د تړون منلی وو، د دی تړون په سبب هغه پدی ډاډه شو چې دښمن وسله غورځولی ده. هغه د دی ثابتولو لپاره چې زه ستاسې دښمن نه یم ټول د جګړې بندیان یې تر لنډو خبرو څخه وروسته ازاد کړی وه .

سلطان صلاح الدین ایوبی په الملک الصالح باندی کوم سخت شرط هم نه وو ایښی بلکې هغه غوښتل ورته ثابته کړی چې زه ستاسې دښمن نه بلکې صلیبیان زمونږ د ټولو دښمنان دی .

خو دا باور، ډاډ او اطمینان د دری څلور ورځو څخه زیات پاتی نشو څکه هغه ته د الملک الصالح داسې پیغام پلاس ورغی چې سیف الدین ته یې لیکلی وه : ما د روغې تړون د دوکی لپاره کړی تر څو هغه په مونږ باندی سمدستی حمله ونشی کړی ځکه چې مونږ اوس مقابلې او جګړې ته تیار نه یو، زه پدی پوهیږم چې د سلطان صلاح الدین ایوبی نظر په حلب باندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، د هغه پوځ هم اوس حملې ته تيار دی- تاسي هر يو خپل خپل پوځ تيار کړی، صليبي سلا کاران زما پوځ په ډېره چټکۍ سره تياروي. تاسې به زما سره پدې يوه خوله شي چې مونږ سمدستي د مقابلې وړ نه يو.

دا مخکې هم ويل شوي وه چې الملک الصالح د سلطان نور الدين زنګی زوی چې عمر يې ديارلس کاله کيده. کله چې نور الدين زنګی وفات شو نو خپل سرو ، ځتميسنو او چاپلوسنو اميرانو او درباريانو د خپلو ګټو په خاطر د هغه زوی صالح په تخت کيناوه او هغه ته يې د سلطان لقب ورکړ او بيا يې خپل لاس پوځي ورڅخه جوړ کړ. د دي سره اسلامي هيواد په تقسيمدو و و سلطان ايوبي د مصر څخه دمشق ته راغی خو پخواني اميران د الملک الصالح سره يو ځای له دمشق څخه د شپې په پټه وتښتيدل او حلب ته ولاړل او هغه ځای يې خپل مرکز او پايتخت وټاکلو.

ځينو تاريخونو ليکلي چې دا پيغام استازی په غلطی سره سلطان صلاح الدين ايوبي ته ورکړی وو خو مسلمانو تاريخ ليکوونکو لکه سراج الدين ليکلي چې دا استازی اصلاً د سلطان صلاح الدين ايوبي پلوی او د هغه د جاسوسي اداري سر ښندونکی وو. دی پيغام سلطان صلاح الدين ايوبي انديښمن کړ خو داسې نه چې سمدستي د حرکت او حملې حکم ورکړی. د دښمن پشان هغه هم د خپل پوځ حالت ښه کول غوښتل. هغه ته دا ستونزه هم وه چې هغه د خپل مرکز څخه ډېر لری او د دښمن مرکز ته نژدی پروت وو. د سامان راتللو لاره ډېره اوږده او خطری وه بله دا چې هغه په پټو سترګو د پر مختګ سره عادی نه وو. د جاسوسانو د ريښتنی راپورونو څخه پرته هغه پرمختګ نه کولو بلکې دښمن ته به يې د مخکې راتللو وخت ورکاوه. په همدی خاطر هغه حسن بن عبد الله ته وويل چې نور جاسوسان د دښمن سيمې ته واستوی چې زر تر زره معلومات لاس ته راوړی او مونږ ته يې راوليږی. هغه د دی څخه برسيره نور اړين کارونه هم وکړل. هغه خپلو سالارانو ته وويل چې دا ځلې هغه حمله نکوی بلکې دښمن ته د حملې وخت ورکوی تر څو هغوی هم د خپل مرکز څخه لری راشي، بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه يوى او بلى خوا ته ولاړ تر څو هغه ځايونه وګوري چې په کوم کې بايد له دښمن سره لاس اوګريوان شي .

* * *

د هغه سرتيرې يادونه روانه وه چې د ميدان څخه تر تيښتې وروسته د موصل په لورى روان وو. هغه د موصل يعنى د سيف الدين د پوځ څخه وو. د سيف الدين پوځ په ټولنيز شکل شاته شوى خو ځينې يې د ټوليو او ډلو په شکل هم يوى او بلى خواته تښتيدلى وه. دا سپايې د هماغه يوازې تښتيدلى کسانو څخه وو. هغه ډېر انديښمن وو، هغه په يو ځاى کې آس ودراوه، ښکته شو بيا يې لمونځ وکړ خو د دعا په وخت کې هغه په ژړا شو. هغه بيا پورته نشو، سر يې پخپلو لاسونو کې نيولى او ناست وو.

د هغه خواته يو سپور راغى او ودريده خو دى پخپل فکر کې دومره ډوب وو چې د آس ترپا يې هم وانه وريده، سپور له آس څخه ښکته او د هغه په اوږه يې لاس کيښوده ده په ورخطا يې سره پورته وکتل .

سپاره د هغه سره د کيناستو په وخت کې وويل : زه دا ويلى شم چې ته د جګړې له ميدان څخه راپښا شوى او راغلى يې داسې ولى ناست وى ! که زخمى يې نو چې زه درسره مرسته وکړم؟

سرتيرې ځواب ورکړ : زما په بدن هيڅ زخم نشته زما زړه زخمى شويدى.

دا سپور د سلطان صلاح الدين ايوبى د هغو جاسوسانو له ډلى څخه وو چې د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره د دښمن سيمى ته استول شوى وو. د هغه نوم داوُد وو، د روزنى سره سم هغه سپايې ته په غور سره کتل، ځکه دا سرتيرې بى کنترولة شويدى او دا د هغى ماتى مصيبت او اثر دى .

هغه د سرتيرې سره داسې خبرى وکړى چې د هغه د زړه براس راووت . سرتيرې وويل : سپايې توب زما کورنى وظيفه ده ! زما پلار سرتيرې وو، نيکه مى هم سپايې وو، سپايې توب زمونږ د ژوند وسيله او د روح غذا ده ، زه د الله تعالى سپايې يم، د خپل دين او خپل ملت لپاره جنګيږم ، ماته څرګنده ده چې صليبيان زمونږ د دين، وطن، عزت او ناموس

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنان دي ، او دا هم راته معلومه ده چې زمونږ لومړی قبله هغوی لاندې کړېده، ما ته خپل پلار د دوست او دښمن تاریخ او کیسې په خوله او ژبه بیان کړی دي ، زه په اسلامي جذبه او جوش پوخ ته داخل شوم، چې کله لږ وخت تیر شو نو مونږ ته وویل شول چې سلطان صلاح الدین ایوبی د صلیبیانو ملګری او دوست دی خو د هغې څخه مخکې مونږ اوریدلی وه چې سلطان صلاح الدین ایوبی د صلیبیانو سره جنګیږي او صلیبیان ورڅخه ویریږي ځکه چې هغه د مسلمانانو لومړی قبله ورڅخه ازادوی ، زمونږ د پوځ آمام هم مونږ ته د سلطان صلاح الدین ایوبی په هکله بدی بدی خبری وکړی .

مونږ خپل والي سیف الدین ډېر ښه سړی ګڼلو، یوه ورځ مونږ ته حکم وشو چې حرکت دی چې کله دی میدان ته راغلو نو جنګ پیښ شو، د جګړی په منځ کې مونږ ته معلومه شوه چې د مسلمانانو په خلاف جنګیږو ، زمونږ په وړاندی د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ دی، هغوی ناری وهلی چې د حق په خلاف مه جنګیږی ای مسلمانانو! ستاسې دښمنان صلیبیان دی مونږ نه یو! زمونږ سره ملګری شی چې لومړی قبله ازاده کړو، د عیاشو واکمنانو لپاره مه جنګیږی ، ما د هغوی بیرغونه ولیدل چې کلیمه طیبه ورباندی لیکلی شوی وه .

زما دوسته ! ما چې کله د هغوی جګړه ولیده نو پوه شوم چې د دوی سره الله تعالی ملګری دی او زمونږ سره شیطان ، مونږ ته دا نه معلومیده چې غشی له کوم ځای راځي او لمبی د کوم ځای څخه پورته کیږی ؟

یو ځای کمر سوری شوی وو، په ما باندی ویره راغله خو د مرګ او جګړی ویره نه بلکې د الله تعالی ویره وه ، زما لاسونو نوره توره نشوه پورته کولای، د آس د واګی کشکولو توان پکې نه وو نو ځکه ما خپل آس د کمر هغه سوری ته برابر کړ. زه بې زړه نه یم خو زما ټول بدن رپیدلو، د باندی توری سره ټکریدلی، د آسونو شور او غوغا وه خو ما داسې ناری اوریدلی : د روژی په میاشت کې د خپلو ورونو په خلاف جګړه مکوی، مونږ ته ویل شوی وه چې په جګړه کې روژه معاف وي، خو پدی پوه شوم چې د سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبي لښکر روژه نیولی ده. ما تر هغه وخته پورې له هغوی ځخه درې سرتیرې وژلی وه، د هغوی وینه زما په توره باندې وچه شوې وه، سرتیرې په خپله توره وینې ته خوشحالیږي خو زه د هغې ځخه ویریدم ځکه چې زما په توره د دښمن نه بلکې د خپلو مسلمانانو ورونو وینه وه.

په ما کې د هغه ځای ځخه د وتلو او جګړې کولو توان نه وو، زه هلته غلی او پټ پاتې شوم، د سلطان صلاح الدین ایوبي یو سپایې زه ولیدم او ماته یې د جګړې بلنه راکړه، هغه ماته برچه نیغه کړه خو ما ورته د آس په پښو کې خپله توره وغورځوله او ومې ویل زه ستاسې مسلمان ورور یم او جګړه نه کوم.

خونړۍ جنګ زما ځخه لرې وو او دا سپایې ګوریلایی و چې پټ سرتیرې یې لټول، هغه راوړاندې شو او زما ځخه یې وپوښتل ایا تا دا حس کړه چې زه د الله پاک د ریښتني مسلمانانو په خلاف جنګیږم؟ ما پخپله ګناه اقرار وکړ او دا مې وویل چې پرما دا کار بل چا کړیدی او هغوی زه بې لارې کړم، هغه زما ځخه برچه واخیسته او توره خو ما مخکې غورځولې وه. هغه ماته یو لوړې وښوده او بیا یې راته وویل د خپلې ګناه ښښنه د الله تعالی ځخه غواړه او پدې لوړې ووځه! شاته مه راګوره، زه د خدای تعالی په حکم ستا ښښنه کوم.

زما په سترګو کې اوښکې راغلې ځکه چې د جګړې په میدان کې ځوک د دښمن ښښنه نه کوي، ما خپل آس ته پونده ورکړه او د هغه په ښودلې لار باندې را روان شوم ، هغه خونده وره لاره وه او زه ښه لرې راووتم، د شپې په یو ځای کې ویده شوم چې د شپې هماغه سرتیرې ما ولیدل چې زما پلاس وژل شوې وه، د هغوی د بدنونو ځخه وینې ځښیدلې، هغوی زما ځخه یوې او بلې خواته راتاویدل ، د هغوی سره وسله نه وه، هغوی ماته ځه نه ویلې او چوپ وه. په ما باندې داسې ویره راغله چې زړه مې چا ودیدلو، ما د کوچنیانو پشان چیغې پیل کړې چې پدې سره زه راویښ شوم، په یخه شپه کې زما له بدن ځخه خولې روانې وې او د ویرې ځخه مړ کیدلم. ما لمونځ پیل کړ او ژړل مې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د درې خلور ورځو څخه همداسې در په در ګرځم او د شپې نشم ویده کیدلای، د ورځې هم ډاډ او اطمینان راته نه په نصیب کیږي، د شپې په خوب کې هماغه درې کسان ګورم کوم چې زما پلاس وژل شوي، او د ورځې هم هغوی ماته په سترګو سترګو کیږي. که هغه سپاره زه هلته د کمره په سورۍ کې وژلی وای نو دا به ډېره ښه وه. هغه چې پر ما رحم وکړ دا یې زما سره ډېر ظلم او تیری وکړ که زما سره توره وای نو اوس به مې ځان وختې وژلی وایی، ما د خپل پیغمبر د لارې درې مجاهدین شهیدان کړیدي!

داؤد وویل : دا د الله تعالی خوښه ده چې ته ژوندی پاتې شوی یې چې د جګړې د میدان څخه ژوندی راووتی، ستاسې سره د ځان وژنې لپاره وسله نشته، د دې څخه داسې څرګندیږي چې الله تعالی تا ته د یو نیک کار کولو توفیق درکوی تاته اوس دا وخت پلاس درغلی چې د خپلې ګناه کفاره اداء کړې.

ښتیدلی سرتیرې وویل : ته ماته ووایه چې د سلطان صلاح الدین ایوبی په هکله چې ماته څه شیان ویل شوي هغه سم دي که غلط؟

داؤد ورته وویل : غلط دي ! خبره دا ده چې سلطان صلاح الدین ایوبی صلیبیان د دې ځای څخه باسي او د الله تعالی واکمنی غواړي، سیف الدین او د هغه ملګرې د خپلې واکمنۍ په غم کې دي، هغوی د صلیبیانو سره پخه دوستي کړې او دوی ټول د صلیبیانو په مرسته او پلان سره دلته جګړې ته راغلي وه.

داؤد بیا هغه ته ټول شیان وویل او هغه یې په خبره ښه پوه کړ چې سلطان صلاح الدین ایوبی څه پلانونه او پروګرامونه لري ، د سیف الدین په هکله هغه ته وویل شول چې هغه دومره عیاش دي چې د عیاشۍ سامان او ټک پوک یې د جګړې میدان ته هم له ځان سره وړی وو.

ماته دا ووایه چې د سلطان صلاح الدین ایوبی د هغه درې مجاهدینو د وینې کفاره زه څرنګه اداء کولای شم ؟

سرتیرې د داؤد څخه وپوښتل که دا بار او پیټی زما له زړه څخه لرې نشي نو زه به په ډېر بد مرګ ومرم، که تاسې ووایې نو زه سیف الدین هم وژلی شم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوؤد وویل : دی ته هیڅ اړتیا نشته که ستا خوښه وی نو زه به هم درسره ولاړ شم؟

ما خو ستا څخه ونه پوښتل چې ته څوک یې؟ نوم دی څه دی ؟ له کومه راغلی یې؟ او چیری ځی؟

سپایې وویل : زما نوم داوؤد دی ! بیا یې د خپل مقصد د حاصلو په خاطر داسی څرګندونه وکړه چې زه موصل ته ځم ! د هغه ځای اوسیدونکی یم! د جګړی په سبب له لاری څخه چپ ځم، که ستاسې کلی په لاره کې وی نو زه هلته تا سره پاتی کیږم !

سپایې وویل : زما کلی اوس لری ندی که ته زما سره په خوښه پاتی نشی نو په زور دی پاتی کوم، تا زما زخمی روح ته ډاډ وربښلی دی، ما دومره خوږی خبری هیڅکله نه وی اوریدلی. زه خپل کور ته ځم، زه بیا د موصل لاره راوښایی . زه هیله لرم چې ماته به د خلاصون او نجات

* * *

د موصل والی سیف الدین په خام کور کې په درانه خوب ویده وو څکه چې هغه څو شپی خوب نه وو کړی، هغه دومره کلک ویده وو چې کله د کور دروازه وټکیدله نو د هغه سترګی خلاصی نشوی، شپه نیمایې تیره شوی وه. د بوډا سترګی خلاصی شوی، د هغه لور او انګور دواړه راپاخیدی، بوډا په سترې ژبه وویل : معلومیږي چې د سلطان صلاح الدین ایوبی ځغلولی کوم سالار یا قوماندان به وي په لاره کې کور ندی پکار. هغه دروازه پرانستله نو دوه سپاره ولاړ وه. سپاره دواړه له آسونو څخه ښکته شوی وه - حارث سلام وکړ نو بوډا د هغه پوری ځان سریښ کړ، هغه د محبت څرګندونه پداسې کلماتو سره وکړل : زما ګرانه زویه! زه پدی ډیر خوشحاله یم چې د بد مرګ څخه راخلاص شوی، ګنی خلکو به تل راته ویلی چې ستا زوی د اسلامی لښکر په خلاف په جګړه کې وژل شویدی . هغه د خپل زوی د ملګری داوؤد سره هم ستړمشی او روغبړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوډ څه ویل غوښتل خو بوډا په خوله لاس کېښوده بیا یې په خپ اواز وویل ستاسې پادشاه او سپه سالار سیف الدین دننه ویده دی! آسونه بل لوری ته غلي وتړی او بیا راشي .

حارث وپوښتل : دلته څرنګه راغلی دی ؟

بوډا په خپ اواز وویل : د ماتې خوړلو څخه وروسته ، دننه ولاړ شي !

آسونه یې د بل لوری څخه ننویستل، حارث او داوډ هغه خونې ته ولاړل چیرې چې د هغه میرمن او پیغله خور ناستې وې .

حارث خپل پلار ته وویل : د ده نوم داوډ دی ، د ده څخه زما غوره دوست نشی پیدا کیدلای .

بوډا د داوډ څخه وپوښتل : ایا ته هم د جګړې څخه راتښتیدلی یې؟

داوډ وویل زه سرتیرې نه یم ! زه موصل ته ځم، د جګړې په سبب له لارې څخه یوې خواته شوم، په لاره کې حارث راسره ملګرې شو نو خکه دی لورې ته راغلم .

حارث وپوښتل : ماته دا ووایه چې سیف الدین زمونږ کورته د څه لپاره راغلی دی ؟

بوډا داود او حارث ته وویل : هغه نن شپه راغلی دی او د هغه سره دوه نور کسان هم وه یو نائب سالار او بل قوماندان ، هغوی دواړه یې چیرې واستول، د هغه دا خبره زما غوږونو ته ورسیده چې پوځ سره یو ځای کړه بیا ووایه چې زه موصل ته راشم او که همدلته پاتې شم، زه هغه وخت دروازې ته نژدې وم هر څه می په خپلو غوږونو واوریدل .

داوډ له بوډا څخه وپوښتل ایا ته د هغه د خبرو څخه داسې پوهیږې چې هغه به خپل پوځ سره یو ځای کړی او په سلطان صلاح الدین ایوبی به سمدستی برید وکړی؟

اوس سمدستی خو دومره ویریدلی دی چې ما ته یې ویل څوک درڅخه خبر نشي چې زه دلته یم؟

بوډا وویل زه د خپلې تجربې په بنسټ وایم چې د هغه اراده همدا ده چې هغه به د سلطان صلاح الدین ایوبی په خلاف جنګیږي هغه خپل بل ملګری قوماندان حلب ته استولی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حارث وویل : زه به هغه اوس وژنم هغه مسلمانان د مسلمانانو په خلاف جنګولی دی ، د الله اکبر ناری وهوونکی د یو بل وینی توی کړی .... زه یې لیونی کړی یم !

هغه د غصی څخه ډک پورته شو ، په دیوال کې ځوړنده د پلار توره یې راواخیستله ، پلار هغه د شا لخوا څخه راکلک کړ ، داوُد یې مټ کلک ونیوه ، حارث همداسې زور لګولو چې پلار یې ورته وویل ، د هغه وژل څه ګران کار ندی ، هغه په درانه خوب ویده دی ، زه پدی کمزورو لاسونو هم هغه وژلی شم ، د هغه مړی چیری پټولی هم شم ، خو د هغه دوه ملګری چې تللی دی هغه مونږ نه پریږدی ، هغه به مونږ په شک کې نیسی نو ستا په ځوانه میرمن او ځوانی خور باندی به څه حالت راځي ، که مونږ هر څومره ورته ووایو چې هغه ولاړ دی بیا یې هم نه منی! ځکه هغه ورته ویلی چې ستاسی تر راتګ پوری به زه همدلته یم .

حارث خپل پلار ته وویل : د دی څخه معلومیږي چې تاسې سیف الدین ښه سړی ګڼی نو تاسې به د مسلمان جګړه د مسلمان په خلاف هم روا بولی؟

بوډا وویل : د دی یو لامل شته چې زه هغه پخپل کور کې نه وژنم ، ما هغه ته په ډاګه وویل چې زه تا ښه نه بولم ، نو هغه ماته وویل چې ته د سلطان صلاح الدین ایوبی ملګری یې ، هغه ماته دا خبره هم وکړه چې که ستا زوی وژلی شوی وی نو تاته به ډېر مال دولت درکړم ، ما ورته وویل چې زه د خپل زوی د شهادت هیله من وم نه د بد مرګ .

سیف الدین زما په نظریاتو پوه شویدی ، که مونږ هغه ووژنو او مړی یې پټ کړو نو د هغه نائب سالار به مونږ سمدستی نیسی چې تاسې د سلطان صلاح الدین ایوبی پلویان یاستی نو د موصل والی همدا تاسی وژلی دی !

حارث له داوُد څخه وپوښتل داوُد وروره ته ووایه زه څه وکړم؟ تاسې زما حالات لیدلی وو ، تاسې ویلی وه چې الله پاک تاسې د ګناه د کفاری لپاره ژوندی پریښی یاستی ، د ده څخه لویه نیکی څه کیدای شي ، چې زه هغه سر دار ووژنم چې په زرګونو مسلمانان یې پخپلو کې سره ووژل ، ته خو پوه او عالم سړی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داؤد وویل : د دې یو سړي د وژلو څخه هیڅ هم پلاس نه راځي ! د هغه نور دوستان شته چې په حلب او حرن کې دي، د هغوی ډېر سالاران دي او دري لوی لښکري دي ، یوازې د سیف الدین په وژلو هغوی ټول وسلې نه غورزوي. د وسلې غورځولو طریقه بیله وي ، د دې لاره دا ده چې دا ټول د جګړې په میدان کې داسې بې وسې شي چې ټول وسله وغورزوي او د سلطان صلاح الدین ایوبي شرایط ومني .

دا کار د سلطان صلاح الدین ایوبي څخه پرته بل څوک کولای شي؟

حارث وویل : زما په سینه کې چې کوم اور لګیدلی هغه به څرنګه سوړ شي او ما ته به الله تعالی د دري مجاهدینو وینه څرنګه وبښي؟

داؤد ډېر زیات خوشحاله وه چې هغه ته خپل مقصد سیف الدین تیار پډی کور کې پلاس ورغی، خو هغه د حارث او د هغه د پلار په هکله په اندیښنه کې وه چې هغوی ته حال ووایې او کنه ؟ هغه باید هیڅا ته هم ونه وایې چې دی د څه لپاره دلته راغلی خو د دې څخه پرته کار هم نه کیده ، بلاخره هغه فیصله وکړه چې هغوی دواړه خبر کړي ترڅو کار ورڅخه واخیستلای شي خو مخکې باید د هغوی نظر وګوري چې څومره ورسره ملګرتیا کوي .

هغه غوښتل د سیف الدین څخه ټول معلومات تر لاسه کړي او دا په هغه صورت کې کیدلای شول چې پلار او زوی دواړه ورسره مل شي.

پلار او زوی دواړه د سیف الدین مخالف او د سلطان صلاح الدین ایوبي پلویان وه.

نو داؤد د خپل هدف پوره کولو لپاره هغوی ته داسې خبره وکړه چې هغوی پوه نشي او مطلب ورڅخه لاس ته راشي .

داؤد د هغوی څخه وپوښتل که زه داسې طریقه تاسې ته وښایم چې په راتلوونکي وخت کې سیف الدین د پورته کیدو نشي نو تاسې زما سره ملګرتیا کوی ؟

د حارث پلار وویل :که ته زما د زوی پشان په احساساتو فیصلې نکوې نو زه درسره ملګری کیږم .



(c) ketabton.com: The Digital Library



حارث وویل : زه د وژلو څخه پرته په بل شي فکر نشم کولای .

داؤد دواړو ته په کتلو سره وویل : که تاسې دواړه د خپل عقل او احساساتو واګی ما ته پلاس کې راکړی نو زه به ستاسې پلاس داسی کار سرته ورسوم چې ستاسې روح پری ډاډه شي !

د حارث میرمن او خور یو لوری ته ناستې وی او خبری یې اوریدی.

داؤد هغوی دواړو ته وکتل او بیا یې وویل : ماته قران مجید راکړی ، د حارث خور پورته شوه او قران مجید یې راواخیست ، لومړی یې هغه د سترګو سره ولګولو بیا یې ښکل کړ وروسته یې داؤد ته ورکړ، داؤد هم قران مجید د سترګو سره ولګولو، ښکل یې کړ او بیا یې خلاص کړ. هغه په یو ځای ګوته کیښوده او ویی لوستلو : اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ أُوْلَئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ()إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ ( شیطان هغوی پخپل واک کې نیولی، د الله جل جلاله یاد د هغوی له ذهنونو څخه وتلی دی، دا د شیطان ډله ده او واوری چې د شیطان ډله تاوانی ده، هغه څوک چې د الله ﷻ او رسول الله ﷺ مخالفت کوي هغوی به خوار او ذلیل وي )

دا د سوره المجادله ۱۸، ۱۹ ایاتونه وه چې د قران مجید په خلاصیدلو باندی همدا راواوښتل .

داؤد وویل : دا د الله تعالی کلام دی، ما پخپله خوښه دا ندی خلاص کړی، دا کلمات خپله زما مخی ته راغلل ، دا د الله تعالی حکم دی او دا زیری هم دی .

قران مجید ټولو ته ویلی چې دا د شیطان ډله او لښکر دی ، خو زه تاسې ته د خپل پیر او استاذ سبق دربه یادوم : بیشکه الله جل جلاله فرمایلی: چې کوم کسان د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت کوي هغوی به ذلیل، سپک او خوار وي، خو هغوی به تر هغې خوار، ذلیل او سپک نشی ترڅو چې مونږ د هغوی د خواری او ذلت وسایل برابر نکړو، دا زمونږ مسئولیت دی چې هغوی خوار او ذلیل کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه قرآن مجید په دوارو لاسونو کې ونیوه او نورو ته یې وړاندې کړ او بیا یې وویل : تاسې هر یو پدې الهی کلام باندې خپل خپل ښې لاسونه کیږدئ او دا ووایې چې د راز څخه به پرده نه پورته کوی او د حق په لاره کې به خپل ځانونه قربانوی . ټولو چې دوارړه ښځې هم پکې شاملې وې په قران مجید لاس کیښوده او قسم یې وکړ. قران مجید چې په هغوی کوم اثر وکړ د هغې نښانې په څیرو کې څرګندې شوې ، په ټولو باندې چوپتیا راغله او ټولو داؤد ته په غور سره کتل .

داؤد وویل : تاسې ټولو په قران مجید لاس کیښوده او قسم مو یاد کړ، الله تعالی قران مجید ستاسې په ژبه را استولی دی، تاسې د دی مقدس کتاب په ټکی ټکی پوهیږئ، که تاسې د دی قسم څخه مخالفت وکړ نو د هغه سزا به قران مجید کې لیکلی شویده، تاسې به هم د شیطان په هغه ډله کې شمار شئ چې د هغوی په نصیب سپکاوی او خواری ده .

بوډا په حیرانوونکی اواز له داود څخه وپوښتل : ته د کوم لوی عالم مرید ښکاریږې !

داؤد وویل : زما سره کوم علم نشته ؟ زما سره عمل دی ، ما د قران مجید په رڼا کې خپل سر په لاس کې نیولی او دلته راغلی یم، دا سبق کوم عالم نه بلکې سلطان صلاح الدین ایوبی راکړی ، زه د موصل نه بلکې د دمشق اوسیدونکی یم، زه د سلطان صلاح الدین ایوبی را استول شوی استازی او جاسوس یم .

دا دی هغه راز چې د هغې د پټ ساتلو قسم تاسې کړیدی چې د دی څخه به په هیڅ صورت پرده نه پورته کوئ ماته ستاسې د ټولو د مرستی او کومک اړتیا ده ، تاسې ماته داډ راکړی چې زه څه وایم هغه به تاسې سرته رسوی .

بوډا وویل : بس مونږ قسم خوړلی دی ته خپل مقصد او مطلب څرګند کړه .

داؤد وویل : ماته د الله تعالی خوشحالی پلاس راغلی د چا له سینی څخه چې ما راز اخیستل غوښتل او بیا مې سلطان صلاح الدین ایوبی ته رسول هغه د دی چت او بام لاندی ماته پلاس راغی، ماته الله تعالی دا لاره راوښودله، زه دا معلومول غواړم چې سیف الدین او د هغه ملګری څه پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پروګرام لري، که هغوی جګړه کوي یا د هغې لپاره تیاری نیسی نو مخکې له مخکې یې ختمول ضروري دي، کیدای شي سلطان صلاح الدین ایوبی چمتو نه وي او دوی حمله وکړي نو بیا به څه کیږي ؟

حارث وویل : آیا ماته اجازه شته چې زه د زرګونو مسلمانانو قاتل ووژنم .

داؤد خواب ورکړ دا به زه درته وایم خیني وخت وژل ګټه نه رسوي، ته به هر ګام په پوره حوصله سره پورته کوی . مونږ به سیف الدین تر سترګو لاندی ساتو، لکه څرنګه چې هغه پټ شوی دی ما او حارث به هم هغه ته داسی پټیږو.

* * *

سیف الدین په خونه کې کلک ویده وو، چې لمر ښه راپورته شو نو د هغه سترګی خلاصی شوی . د حارث خور او میرمن هغه ته خوراک او څښاک کینښوده، هغه د حارث خور ته په غور سره کتل او بیا یې وویل : تاسې چې زما دومره خدمت کوی زه به د هغې دومره بدله درکړم چې ستاسې په خیال کې به هم نه راځي، زه به تا پخپل قصر کې وساتم .

نجلی په مسکا سره وویل :که مونږ تا پدی جونګړی کې وساتو نو ته نه خوشحالیږی ؟

زه خو د دښتی په یوه جونګړه کې هم تاسی سره خوشحاله یم .

سیف الدین وویل : نه ! ته باید د ګلانو په منځ کې وساتل شی .

نجلی وپوښتل : ایا ته پدی باور یې چې بیا به دی قصر په نصیب شي؟

سیف الدین وویل : دا خبره تا څرنګه وکړه؟

نجلی وویل : ستا حالت مې چې ولیده د پادشاه پټیدل په جونګړه کې دا معنا لري چې د هغه څخه حکومت تللی او پوځ ورڅخه لاس اخیستی دی .

سیف الدین وویل : پوځ زما څخه لاس ندی اخیستی! زه د لږ آرام لپاره دلته پټ شوی یم، قصر یوازی زما لپاره نه بلکې ستا لپاره هم په نصیب کیږي، ایا ته زما سره تلل خوښوی ؟

د حارث میرمن د خونی څخه وتلی وه او خور یې د سیف الدین سره نژدی کیناسته او بیا یې وویل : که زه ستا پر ځای وای نو ما به سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبی ته د ماتې ورکولو ښځه مخکې د قصر نوم په خوله هم نه یادولو، که تا زه خوښه کړی یم نو زه تاته وایم چې ستا تښتیدل او دلته پټیدل زما هیڅ ندی خوښ، خپل پوځ سره یو ځای او بیا په سلطان صلاح الدین ایوبی برید وکړه .

نجلی ډېره ساده پاده وه خو پدی سادګۍ کې یې حسن وو. د هغې په شونډو داسې مسکا وه چې هم شیطانت او هم مینه او محبت .

نجلۍ وویل : زه شهزادګۍ نه یم ! پدی ډېرو او کمرونو کې پیدا شوی او همدلته لویه شوی یم، زه د سپایې لور او د سپایې خور یم ، زه ستا سره قصر ته نه بلکې د جګړې میدان ته ځم، ایا ته زما سر د توری وهلو مقابله کوی؟ په ډېرو او کمرونو کې زما سره آسپ ځغلولی شې؟

سیف الدین وویل : ته خو یوازی ښایسته نه بلکې جګړه کوونکی هم یې؟ بیا یې د هغې په ویښتانو لاس راکش کړ او دا یې وویل داسې ښکلی ویښتان ما لومړی ځل لیدلی دی .

نجلۍ د هغه لاس په قلاره لری کړ او بیا یې وویل : ویښتان نه بلکې متی ! تاته اوس زما د ویښتانو اړتیا نشته بلکې د متو اړتیا ده! ماته ووایه چې ستا پروګرام څه دی؟

سیف الدین وویل : ستا پلار خطرناک سړی دی ! هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی ملګری دی، هغه ما شاید خوښ نکړی زه ویریږم چې هغه ماته دوکه رانه کړی .

نجلۍ په کړس کړس وخندل او بیا یې وویل : هغه بوډا سړی دی، معلومه نده چې هغه ستا سره څه ډول خبری کړی، هغه خو د شپی ښځه راپدیخوا مونږ ته ستا تعریفونه او ستاینی کولی، هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی یوازی نوم اوریدلی دی، هغه نور نه پیژنی، د هغه ځخه تاسې مه ویریږی، کمزوری سړی ستاسې څه کولای شي؟ ما امتحان کړی .

سیف الدین هغې ته خپل لاس ور اوږد کړ نو نجلۍ شاته شوه ویې ویل : زه تا له خپل بدن ځخه نه بی برخی کوم، زه به خپل ځان تاته سپارم، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت چې کله تاسې سلطان صلاح الدين ايوبي ته ماتې ورکړې، اوس تاسې په ستونزو کې راګير ياستې، زما څخه لرې اوسې، ستاسې اراده څه ده؟

سيف الدين عياش او د ښځو ښکاري وو، ښکلې او ښايسته نجونې د هغه لپاره څه نا اشنا نه وې خو هغه پدې نجلۍ کې داسې څه وليدل چې هيڅ ورته نه تسلميده، د هغه په وړاندې نجونو خپل ځانونه قربانول ، دې نجلۍ په هغه داسې وار وکړ چې د هغه غيرت يې رابيدار کړ.

سيف الدين وويل: واوره نجلۍ! ته غواړې زما نارينتوب امتحان کړې، اوس به زه ستا د بدن سره هغه وخت لاس لګوم چې، کله د سلطان صلاح الدين ايوبي توره زما پلاس کې وي او د هغه په آس باندې سپور وم، ته ژمنه وکړه چې ته به ماته راځې .

نجلۍ وويل : تاسې ما د جګړې ميدان ته له ځان سره بوځې .

سيف الدين وويل : نه داسې نشي کيداى زه به اوس پوځ تياروم ، ما يو سړى موصل ته استولى، ما هغوى ته احوال استولي چې پوځونه تيار کړي چې سمدستي په سلطان صلاح الدين ايوبي باندې حمله وکړو ترڅو هغه زمونږ د ښارونو محاصرې ته را نشي .

تر نن مابښام پورې زمونږ دواړه ملګرې راځي ، نو معلوم به شي چې په حلب او حرن کې پوځونه په څه حالت کې دي، مونږ ماتې نه منو! سمدستي به ځوابي حمله او بريد کوو .

د سيف الدين شخصيت يوازې ايمان پلورل او د ښځو ښکار کول وه ځکه نو هغه يوې ساده پاده نجلۍ دومره تر اثر لاندې راوست چې هغه ډېر مهم پوځي راز هم ورته رسوا کړ، نجلۍ د دې خبرو تر اوريدو وروسته د هغه لاسونه ښکل او بيا له خونې ووته .

* * *

د هغه سره چې کوم دوه کسان ملګرې وه يو يې موصل او بل يې حلب ته استولى دى ! د حارث خور دا خبره خپل پلار، ورور او داؤد ته وکړه ، د هغه اراده دا ده چې درې واړه لښکرې سره يو ځاى او بيا په سلطان صلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدين ايوبي باندې بريد وکړي تر څو هغه د دوی ښارونه محاصره نکړي.
کله چې يې ملګرې راشي نو څرګنده به شي چې پوځونه د جګړې دې او کنه؟
د دې نجلۍ نوم فوزي وو، دومره چالاکه او تيزه نه وه خو هوښياره او اسلامي جذبه او احساس ورسره وو.

داوُد هغې ته ويلي وه چې د سيف الدين له سينې څخه راز راوباسي. فوزي ته داوُد طريقه او چل ښودلي وو خو دا يې هم ورته ويلي وه چې هغه عياش او بدکاره انسان دی، نو د هغه د جال څخه به ځان ساتي، فوزي چې کومې خبرې د سيف الدين څخه واخيستې هغه د دې وړ وې چې بايد د هغه پسې شي.

نيمه شپه وه چې د بوډا سترګی پرانستل شوې، هغه د دروازې او آسونو آواز واوريده. نو دروازه يې خلاصه کړه ګوري چې د سيف الدين نائب سالار ولاړ دی، بوډا آس يو لوري ته بوتلو او نائب سالار د سيف الدين خونې ته ورغی، بوډا د هغه څخه د خوراک او څښاک په هکله وپوښتل خو هغه انکار وکړ نو بوډا بيرته ورڅخه راغی خو داسې سلوک يې ورسره وکړ چې د هغوی غلام وي، سيف الدين بوډا ته وويل ويده شه نو هغه د خادم پشان راووت او ولاړ، بوډا داوُد راپاڅولو او دواړه د دروازې شاته ودريدل.

ګمشتګين د الملک الصالح سره دی نائب سالار وويل : ما چې په موصل کې حالات وليدل ښه دي او مونږ کولای شو جګړه وکړو، سلطان صلاح الدين ايوبي په ترکمان کې دی، صليبي سلا کارانو ويل چې هغه د الجزيره او ديار بکر څخه نوی کسان پوځ کې ځيره کوی نو داسې معلوميږي چې هغه سمدستی د پرمختګ پلان نلري او له خيمو څخه داسې معلوميږي چې هغه ډېر وخت تير وي، هغه پدې هيله دی چې مونږ زر تر زره جګړه نشو کولای، زمونږ د موصل د پوځ دريمه برخه کسان شته او نور څه مړه شوي او څه درک نلري.

سيف الدين وپوښتل : ايا دا امکان لري چې پدی پوځ سره مونږ په سلطان صلاح الدين ايوبي حمله وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نائب سالار وویل : یوازې زمونږ پوځ د حملې لپاره بس ندی د الصالح او ګمشتګین ملګرتیا ضروري ده، زمونږ د سلا کارانو ( صلیبیانو ) هم همدا خبره خوښه ده .

سیف الدین وپوښتل : تا هغوی ته وویل چې زه دلته یم ؟

نائب سالار وویل : ما دا ځای ورته ونښوده ! ما ورته وویل چې هغه د ترکمان په شا او خوا کې ګرځي او د سلطان صلاح الدین ایوبی حالات پخپلو سترګو څاری ترڅو د راتلوونکی جګړې پلان جوړ شي، زما په فکر ستا تلل درې څلور ورځې وروسته موصل ته کیدای شي .

سیف الدین وویل : زه باید لومړی د حلب حالات معلوم کړم بل ملګری ( قوماندان ) به تر سبا ماښام پورې راورسیږي، ته پوهیږې چې ګمشتګین شیطان فطرت انسان دی، هغه باید خپلې کلا حرن ته تللی وای، په حلب کې هغه څه کوي؟ زه د موصل څخه مخکې حلب ته تلل غواړم، بیشکه چې ګمشتګین زمونږ اتحادی دی خو زه ورته دوست نشم ویلای، زه باید د الملک الصالح سالاران پدې قانع کړم چې د وخت څخه ګټه واخلو او سمدستي حمله وکړو، دا هم باید وکړو چې دری واړه لښکری سره یو شي او یو اعلی قوماندان ولري. مونږ مخکې څکه ماتې وخوړه چې لښکر مو سره جدا جدا وو، مونږ د یو بل د پلان څخه خبر هم نه وو کنه د مظفر الدین حمله نه ناکامیدله .

نائب سالار وویل: مرکزی قومانده باید ستا په غاړه وی او مونږ باید د خپلو دوستانو په هکله هم هوښیار اوسو .

سیف الدین وپوښتل : ایا صلیبیان مونږ ته کومک راکوي؟

نائب سالار وویل : هغوی خپل پوځیان نه راکوی خو اوښان، آسونه او وسله راکوی .

نائب سالار وویل : تاسې خو به دلته کوم خطر نه وی محسوس کړی؟

سیف الدین ځواب ورکړ نه ! بوډا باوری معلومیږي، د هغه لور په جال کې نښتې ده خو ډېره احساساتی ده، هغه وایی لومړی سلطان صلاح الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایوبی ته ماتی ورکړه، د هغه توره راوړه، د هغه په آس سور شه نو بیا زه ستا سره ځم.

نائب سالار په کړس کړس وخندل.

پدی وخت کې حارث، داؤد او بوډا دروازی ته غوږ نیولی او هر څه یې اوریدل. سیف الدین ته دا هیڅ ځرګنده نه وه چې پدی کور کې د بوډا او دوه میرمنو برسیره دوه مجاهد ځوانان هم شته چې هر وخت کولای شي دی ووژني.

سیف الدین پدی هیڅ خبر نه وو چې نجلی نه بلکې دی د هغه په جال کې نښتی دی.

* * *

داؤد او حارث د کور په دننه خونه او سیف الدین سره د نائب سالار په باندنی خونه کې بند پراته وه. فوزی د ورځی دری ځلور ځلی د سیف الدین خونی ته ورغله، هغې به ځان ورڅخه ساتلو نو ځکه هغه ورته پلمی لټولی، د فوزی څخه هغه وپوښتل: ستا ورور زما په پوځ کې سپایی دی، زه به هغه قوماندان وټاکم.

فوزی وویل: مونږ ته ځرګنده نده چې هغه ژوندی دی او که مړ! که هغه مړ شي نو مونږ به بی آسری اوبی سر پرسته شو.

سیف الدین وویل: پدی صورت کې به زه ستا پلار او د ورور میرمن دواړه له ځان سره موصل ته بوځم.

د فوزی پلار بوډا هم هر وخت سیف الدین ته ورتللو او عملاً یې ثابته کړه چې مونږ ستا خوا خوږي او پلویان یو.

د شپی بیا دروازه وټکیده او بوډا هغه خلاصه کړه، د باندی د سیف الدین هغه قوماندان ولاړ وو چې حلب ته یې استولی وه. هغه قوماندان د سیف الدین خونی ته ورسولو او خپله یې آس وتړلو بیا یې د میلمه څخه د خوراک او څنباک پوښتنه وکړه هغه وویل خوراک او څنباک می ندی کړی. فوزی د خبرو اوریدلو لپاره خپله خوراک او څنباک خونی ته راوړ نو قوماندان خبری بس کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیف الدین ورته وویل : دا خپله وګڼه خبرې وکړه، فوزي خوراک او څښاک د قوماندان مخې ته کېښوده او خپله د سیف الدین سره نژدې کیناسته، د حلب د پوځ جذبه د ستاینې وړ ده!

قوماندان وویل : الملک الصالح سلطان صلاح الدین ایوبی ته د سولې پیغام استولی دی.

سیف الدین په حیرانتیا سره وپوښتل : د سولې پیغام؟

قوماندان وویل : هوکې د سولې پیغام!

قوماندان وویل : خو ماته څرګنده شوه چې هغه سلطان صلاح الدین ایوبی ته دوکه ورکړې، صلیبي دوستان تر هغې پورې د لښکر اړتیاوې پوره کوي او هغوی دی ته هڅوي چې په ګډه د موصل او حرن سره په سلطان صلاح الدین ایوبی حمله وکړي مخکې لدې چې هغه برید وکړي، هغه غواړي هتله د خپل لښکر اړتیاوې پوره کړي، د الملک الصالح سالاران هم غواړي چې په سلطان صلاح الدین ایوبی سمدستي حمله او برید وشي!

ما د حلب د یو سلا کار ( صلیبي ) سره ولیدل هغه ویل چې که تاسې سمدستي حمله ونکړه نو دا به ستاسې لویه غلطي وي، په سلطان صلاح الدین ایوبی باندې حمله د ماتې لپاره نه بلکې د تیارې د مخنیوي لپاره ضروري ده، هغه باید داده پرې نښودل شي بلکې پرله پسې حملې پرې وشي او کماندویي حملې او بریدونه وي. هغه باید د ترکمان د سیمې څخه وویستل شي تر څو د هغه څاروي وږي او تږي پاتې شي.

سیف الدین وویل : دا خبره ډېره په زړه پورې ده دا ډول جګړه زما زمرې سالار مظفر الدین کولای شي، ځکه چې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی سره سالار پاتې شوی، زه کوښښ کوم چې عمومي قوماندانی ماته راکړل شي ترڅو د صحرایي ګیدړ پشان سلطان صلاح الدین ایوبی په منډو تړو کې ختم کړم.

قوماندان وویل : ما کوښښ وکړ چې د الملک الصالح سره وګورم خو نورو سالارانو هغه داسې راګیر کړی چې لیدل ورسره مشکل دی، پورتني خبرې ما د هغه سالارانو څخه معلومې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیف الدین وویل : ته باید یو ځل بیا حلب ته ولاړ شي ، صالح ته باید دا پیغام یوسی چې تا د سلطان صلاح الدین ایوبی سره په روغه کولو مونږ ته دوکه راکړه، تا د هغه حوصله لوړه کړه، هغه به اوس مونږ هیڅ یو ونه بښی، ته کوچنی یې او وډار شوی، یا دا چې سالاران دی ویریږی او سوله خوښوي .

سیف الدین قوماندان ته لوی پیغام ورکړ او بیا یې ورته وویل : ته باید د شپې په اخری برخه کې ولاړ شي چې څوک دی دلته ونه ګوري .

دا هماغه پیغام وو چې په تاریخونو کې راغلی، قوماندان تر لږ خوب وروسته بیرته پاڅیده او د خپل مقصد په لور روان شو.

* * *

څومره خبری چې فوزی اوریدلی وی هغه ټولی یې داؤد ته وکړی څکه دا د کار او مهمی خبری وی. حارث او بوډا پلار یې په درانه خوب ویده وه .

داؤد د فکر او سوچ لپاره د باندی راووت نو فوزی هم ورپسی ورغله .

فوزی داؤد ته وویل : ماته د دی ښځه لوی او غټ کار وسپاره زه هر ډول قربانی ته چمتو یم .

همدا لوی کار دی چې ته یې سرته رسوی، دا کار زما دی خو ته راسره ملګرتیا وکړه، همدا زمونږ د دین او ملت خدمت دی چې هر یو یې باید سرته ورسوو .

داؤد فوزی ته وویل : سیف الدین ډیر چالاک سړی دی داسې نه چې په خپل جال کې دی راګیر کړی .

فوزی له داؤد څخه وپوښتل : ته د کوم ځای اوسیدونکی یې ؟

داؤد وویل : مونږ وطن نلرو او د هر ځای اوسیدونکی یو - زه له کوره د قربانی لپاره راوتلی یم او چیری چې شهید شوم هماغه زمونږ وطن دی، د الله جل جلاله څمکه ددی کلمی لا اله الا الله الا محمد د رسول الله د ویونکو خاوره ده .

زه پلار ، مور او خویندو لوی کړم او بیا یې الله تعالی ته وسپارلم او په خپلو زړونو باندی یې تیږی کیښودی او ددی ښځه لاس په سر شول چې دوی به ما یو ځل بیا وګوری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوزی وویل : ستا په زړه کې به د خپل کور د تللو او هلته د پلار مور او
خویندو د لیدلو هیله وی ؟
داؤد وویل : انسان چې کله د هیلو غلام شی نو خپل مسئولیت تری هیر
شی لومړی د ځان نه وړاندی د جذباتو قربانی کول دی نو ایا ته داسی
قربانی ورکولی شی ؟
فوزی وویل : ایا ته ما د خپل ځان سره یو ځای ساتلی شی ؟
داؤد وویل : نه !
فوزی پوښتنه وکړه : ایا څو ورځی نوری تیرولی شی .... ؟
داود وویل : د خپل فرض تر ادا کولو پوری ولی نه ! خو دلته زما په پاتی
کیدولو تا ته څه ګټه ؟
فوزی وویل : د کومی ورځی چې تاسی راغلی یاست او ستاسی خبری
اورم نو زړه می غواړی چې تل له تاسی سره وایی ....
داؤد وویل : زه پداسې کار پسی راوتلی یم چې هره شیبه په هغې کې د
مرګ خطر دی .
فوزی ووېل : زه هم ستاسره هر ډول قربانی او سرښندنی ته چمتو یم
داؤد فوزی ته ووېل : زما پښو ته ځنځیرونه مه اچوه ته خپله هم ځان د
داسي خبرو څخه ازاد کړه، زمونږ په وړاندی ډېره سخته لاره ده، یو د بل
سره به لاس ورکوو او یو د بل په مرسته به وړاندی ځو خو د یو بل د لاری
خنډ کیږو به نه، ته زما سره تر اخره پوری نشی تللای او نه زه ستا لپاره
دومره ژوندی پاتی کیدایی شم
فوزی ووېل : ستاسې خبری زما د زړه خبری دی. تا چې موږ نه کومه
لاره ښودلی هغه زما د روح خبره ده- زمونږ او ستاسې مقصد او هدف یو دی
داؤد ووېل : تا رېښتیا ووېل فوزی ! چې زمونږ هدف یو دی خو دا له
یاده ونه باسی چې په لاره کې د وینی ویالی دي چې پل نلری، که ته غواړی
ما خپل کړی نو دا به د وینی لیکل وي چې کیدای شي زمونږ او ستاسې
مړی سره لری شي خو بیا به سره یو ځای کیږو، د حق د لارویانو ودونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکاح په اسمان کې کیږي او د هغوی وراګانې او جنجونه د کهکشان له لارې ځي چې د هغوی په خوشحالۍ کې ټول آسمان سینګار او ډولې کیږي .

پدې خبرو سره د فوزي په عزم او اراده کې نور هم کلک والی راغی .

دوه ورځې وروسته هغه قوماندان راغی کوم چې الملک الصالح ته یې پیغام وړی وو، د هغه ورسره لیدنه نوه شوی خو پیغام یې ورته رسولی وو.

هغه ورته وویل : لیکلې ځواب درکوم ما هغه ته پوره پته ورکړه چې په هغې به ځواب راشي .

سیف الدین ځو ورځې پیغام ته کیناسته خو هیڅ درک ونه لګیده هغه پدې ډېر اندیښمن شو.

سیف الدین نائب سالار ته وویل : زه باید خپله حلب ته ولاړ شم که د حلب پوځ او صالح د سلطان صلاح الدین ایوبی سره سوله کړې وي نو مونږ باید بیا ډېر سوچ او فکر وکړو، په ګمشتګین باندې هیڅ باور نشته ، مونږ یوازې جګړه نشو کولای، مونږ باید د صلیبیانو سره یو ځای پلان جوړ کړو .

نائب سالار وپوښتل : ایا دا کیدای شي چې الملک الصالح د سولې تړون مات کړي .

قوماندان وویل : دا امکان لرې سالاران وایې چې دا دوکه ده او که دوکه نه وي هم مونږ دا روغه نه منو او سلا کاران ( صلیبیان ) خو د سمدستې جګړې پلویان دي .

نائب سالار وویل : تاسې باید حلب ته ولاړ شی زه موصل ته ځم .

سیف الدین قوماندان ته وویل : ته باید یو ځل بیا حلب ته ولاړ شې ، الملک الصالح ته ووایه چې زه را روان یم، ته چې نن ولاړې نو زه درپسې سبا درځم، هغه ته ووایه چې په المبارک سیمه کې به سره ګورو، که هغه لیدل نه غوښتل نو بیا ماته خبر راکړه .

نائب سالار وویل : ایا ستا یوازې تلل مناسب دي ؟

سیف الدین وویل : پدې سیمو کې څه خطر نشته زه د شپې ځم ، چا ته څه معلومه دي چې دا د موصل والی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نائب سالار وويل : د سلطان صلاح الدين ايوبي په جاسوسانو هيڅ باور او اعتبار نشته د هغوی څخه زمونږ هيڅ ځای هم خوندی ندی .

سيف الدين وويل : زما تلل هلته ضروري دي خطر به په ځان قبلوو، ته نن موصل ته ولاړ شه زه به سبا شپه حلب ته روان شم . څه وخت چې دا خبرې کيدلې حارث او داؤد د دروازې په درز کې ورته غوږ اينبې وو.

هغوی د دې څخه وروسته خپلې خونې ته ولاړل، داؤد وغوښتل چې د سيف الدين پسې شي او د هغه حالات معلوم کړي خو په څه ډول او طريقې سره - پدې فکر او سوچ کې هغه ډوب وو .

داؤد حارث ته وويل : مونږ به د سيف الدين ساتوونکی شو او حلب ته به ورسره ځو، مونږ به ناڅاپي د هغه سره مخامخ شو او ورته وبه وايو چې مونږ ستا په پوځ کې يو که هغه قانع نشي او مونږ موصل ته واستوي نو بيا به څه کوو ؟ د دې خبرې چل ماته راځي ته هيڅ غم مه کوه !

په همدې شپه سيف الدين، نائب سالار او قوماندان په يوه خونه کې ناست وه، سيف الدين هغوی دواړو ته لارښوونې وکړې لومړی قوماندان او بيا نائب سالار ولاړل. سيف الدين يوازې پاتې شو او څملاسته .

ناڅاپي د سيف الدين د خونې دروازه په ګرز سره خلاصه شوه او فوزي په ډېره خوشحالۍ سره هغه ته ورننوته او په مسکا يې وويل : زما ورور راغی

سيف الدين وويل : د هغه سره يو بل ملګری هم شته .

فوزي په ډېره خوښۍ سره وويل : تا هغوی ته وويل چې زه دلته يم .

فوزي وويل : هو ! هغوی دومره خوشحاله شول چې سمدستي يې د ليدلو اجازه وغوښتله .

سيف الدين وويل : هغوی دواړه راولړه .

داؤد او حارث سيف الدين ته ورننوتل او عسکری سلامي يې وکړه، بيا

* **

د سيف الدين په اشاره د هغه سره کيناستل. هغوی پخپلو جامو او سرونو کې دوړې او ګردونه اچولي او ستړي ستومانه معلوميدل. سيف الدين ورڅخه وپوښتل چې تاسي په کوم ګروپ او ډله کې وی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حارث ځواب ورکړ ځکه چې هغه خو د ده په پوځ کې وو، داوډ غلی ناست وو ځکه چې هغه ته هیڅ معلومات نه وو.

سیف الدین ورڅخه وپوښتل : تاسې دا دومره ورځی چیری وی؟

داوډ وویل : نه شرمیږو چې ووایو زمونږ پوځ په څه توګه ماتی وخوړه کله چې مونږ په شا شو نو په یو کمر کې پټ شو او دا مو لیدل چې د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ مونږ پسی راځی او که بل لوري ته حرکت کوی، زه همداسې پټ وریسی وم، شاید تاسې ته به یاد وي چې صلیبی سلا کارانو زمونږ څه ډلی اوګروپونه روزلی وه چې یو پکې زه هم وم نو ما د هغوې روزنی په اساس د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ څارلو، که زمونږ سره اوه اته کسان وای نو ډېر زیان به مو ور رسولای وایی. چې بلاخره هغوی د ترکمان په سیمه کې واړول او خیمی یې ولګولی داسې معلومیدل چې هغوی دلته زیات وخت تیروي، زه پدی ډېر خفه شوم چې ولی زمونږ پوځ تیښته وکړه. د هغوی حالت زمونږ څخه ډېر خراب دی ، د هغوی نیمایې پوځ مړه او زخمیان دی که تاسې خپل پوځ راټول کړی او حمله وکړی نو هغوی به تر دمشق پوری وځغلوي .

سیف الدین د داود راپور ډېره په شوق او غور سره اوریدلو ځکه په هغې کې د ده ستاینه او د سلطان صلاح الدین ایوبی بدی بیان شوی وه.

مونږ غوښتل موصل ته ځان ورسوو او تاسې د دی حالاتو څخه خبر کړو خو په لاره کې د حارث کور راغی نو دی لوری ته راوګرځیدلو چې د هغوی کورنی خبره کړو خو چې کله ستاسې څخه خبر شو نو ډېر زیات خوښ شوم چې دلته نژدی راته تاسې په لاس راغلی .

داوډ وویل : مونږ ستاسې غلامان یو څه چې تاسې حکم کوی مونږ هغه پر ځای کوو.

سیف الدین وویل : ستاسې په خبرو زه ډېر خوشحاله شوم د دی زړورتیا انعام به هرومرو درکوم .

حارث وویل : مونږ ته لدی څخه زیات انعام څه دی چې ستاسې سره یو ځای ناست یو مونږ ستاسې لپاره خپل سرونه قربانوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوُد وویل: داسې معلوم شول چې ستاسې سره نور ملګری هم شته دی؟
سیف الدین وویل: هغوی دواړه ولاړل او زه هم تلل غواړم؟
داوُد وویل: تاسې چیری تلل غواړی؟
سیف الدین وویل: زه لومړی حلب ته ځم او بیا موصل ته.
داوُد وویل: تاسو خو یوازی یاستی؟ ستاسې سره خو څوک ساتوونکی هم نشته؟.
سیف الدین وویل: پدی سیمه کې څه خطر نشته یوازی ځم.
داوُد وویل: د سپین سترګی ښښنه غواړم! دا سیمه د دښمن څخه خالی مه بولی، زه چې څومره پوهیږم هغومره تاسې ته معلومات نشته، د سلطان صلاح الدین ایوبي کماندو دلته ګرځی که هغوی تاسې وپیژنی نو مونږ دواړه به بیا تر اخری عمره پوری پښېمانه وو، مونږ باید ستاسې سره ولاړ شو، زمونږ سره وسله او آسونه خپل شته دی، مونږ درسره خامخا ځو.
سیف الدین له مخکې څخه هم ویریدلی وو خو داوُد ښه وویرولو نو هغه قانع شو چې دوی دواړه له ځان سره بوځي. هغه ورته وویل: راتلوونکی شپه ځانونه تیار کړی بس ځو. بیا پدی ورځ داوُد او حارث د هغه پوره خدمت او غوړه مالی وکړه.

* * *

څه وخت چې دا دری واړه مسلمان واکمنان د سلطان صلاح الدین ایوبي په خلاف په تیاریو بوخت وه، د هغه ځای څخه لری د صلیبي قوماندانانو او واکمنانو غونډه او کانفرانس هم پیل شوی وو، هغوی د دې دری واړو لښکرو په ماتی غور کولو، دی ټولو یو یو ځل د سلطان صلاح الدین ایوبي په مقابل کې ماتی خوړلی وه او د هغه توره ورته څرګنده وه.
ریمانډ وویل: د دوی ماتی اصلاً زمونږ ماتی ده، د سلطان صلاح الدین ایوبي د پوځ شمیر زیات نه وو.
فرانسوی رینالټ وویل: زه ستا د خبری سره اتفاق نلرم! زمونږ مقصد او هدف دا ندی چې دوه مسلمانان سره وجنګوو او په هغوی کې دی زمونږ پلویان خامخا کامیاب شي، اصلاً زمونږ کار د هغوی جنګول دي او چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک پکې کامیابیږي مونږ ته یې څه دي؟ زمونږ تر ټولو خطرناک دښمن سلطان صلاح الدین ایوبی دی، مونږ غواړو د هغه سره خپل وروڼه په جګړه اخته کړو تر څو د هغه د لاری خنډ شي او هم یې ځواک او قوت ختم کړي، که هغوی ځواکمن شي او سلطان صلاح الدین ایوبی مات کړي بیا زمونږ سره هم لاس اچوی.

زه به تاسې ټولو ته د مسلمانانو د سیمو او واکمنانو پوره حال بیان کړم چې زمونږ سلا کارانو را استولی دی.

یو قوماندان وویل: د سلطان صلاح الدین ایوبی مخالف دری پوځونه ډېر ورخطا دی، زیات کسان یې له لاسه ورکړي، وسله او سامان یې ختم شوی او پوځ یې د جګړې همت هم له لاسه ورکړیدی، زمونږ سلا کارانو دا کوښښ پیل کړی چې د حلب، موصل او حرن پوځونه چې په هره توګه او صورت کې وی باید په سلطان صلاح الدین ایوبی ناخاپی برید وکړي او هغه له منځه یوسي.

اګسټس وویل: کیدای شي دا طریقه هم بریالی نشی سلطان صلاح الدین ایوبی قرار ندی ناست، د هغه جاسوسان له ټولو حالاتو څخه خبریږي، د هغه بی خبره ګیرول ممکن ندی. هغه ته د هری حملی خبر دوه ورځی مخکې ورځي، خو یو کار کیدای شي چې زمونږ سلا کاران هم د جاسوسی نظام ښه تیز او فعال کړی او هر لوری ته یې خپاره کړی تر څو د هغوی نظام ورسره فلج او بی کاره شي، د پوځ حرکت باید ډېر پټ او شا او خوا سیمی هم وځارل شي.

داسې معلومات هم شته چې سلطان صلاح الدین ایوبی د هغې سیمی څخه نوی کسان د پوځ لپاره نیسی،

یو بل قوماندان وویل: د ده باید مخه ونیول شي او دا کار یوازی په عمومی برید باندی کیدای شي، بلـه لاره دا ده چې هلته د مصر پښتان اخلاقی بی لاری زیاته شی، د خپلو خویندو او لوڼو څخه کار واخلو هغوی د صلیب لپاره هر ډول قربانۍ ورکولو ته چمتو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دی لپاره چې د سلطان صلاح الدین ایوبی حیثیت ختم شي باید د هغه په خلاف سخت تبلیغات او پروپاګند پیل شي او په هغه پوری ناوړه او خراب تورونه وتپل شي خو دا کار باید د مسلمانانو په خوله او ژبه وشي، کیدایی شي د دی لاری د هغه شخصیت ختم او بی کاره وګرځي .

اګستس وویل : کوم مسلمانان چې د واک وړی دی هغوی ته د واک امید او هیله ورکړی، کوم چې د مال وړی دی هغوی ته د مال ژمنه ورکړی . د دی کارونو سره سره د جګړی لپاره تیاری ونیسی .

یو قوماندان وویل : مونږ ته پوره وخت پلاس راغلی، د هغوی په منځ کې اوس د واکمنی حرص را بیدار شوی او د دی لپاره یې جګړی سره ګرمی کړی که مونږ پدی قوم کې خپل دوستان نه وي پیدا کړی سلطان صلاح الدین ایوبی به اوس بیت المقدس نیولای وای .

ریمانډ وویل : زه حیران یم همدا مسلمانان چې د سلطان صلاح الدین ایوبی په لښکر کې دی یو یو یې زمونږ په لسو کسانو قوی او غالب وي خو چې د نورو سره شي بیا ډېره بده ماتی خوری .

دا د عقیدی او فکر برکت دی چې مسلمانان ورته ایمان وایی !

ریناڵټ وویل : کوم سالار یا سپایې چې خپل ایمان وپلوری د هغه سره بیا د جګړی احساس هم ختم شي، هغه د ژوند پسی ګرځي، په همدی خاطر مونږ باید د مسلمانانو د زړونو څخه ایمان وباسو، د هغوی عقیده خرابه او آسونو مړه کولو ضرورت نشته، هر څه به خپله کیږي . هغوی په ښځو او نشو باندی ککړ کړو، بیا تاسې ته د ځانونو او پدی غونډه کې فیصله وشوه چې د حلب، حرن او موصل لښکری سره یو ځای او د یوی قوماندی لاندی راشي، هغوی ته مرسته ورکړل شي ، هغوی سره د یو ځای والی بیا هم باید یو له بل نه جلا جلا وساتل شي او بی اتفاقی پکی پیدا شي.

* **

د شپی لومړی برخه ختمه شوی او د حارث په کلی خوب او غفلت غلبه کړی وه. د حارث له کور څخه پدی پټه او غلی شپه کې دری سپاره ووتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يو سيف الدين بل داوُد او دريم حارث وو. د حارث او داوُد سره برچې او توري وې. د دوی د رخصتولو لپاره د حارث پلار او د هغه خور فوزي هم دروازې ته راوتلې وه، سيف الدين سترګې په فوزي خښې کړې وې خو فوزي داوُد ته خپل ټول پام ګرځولی وو. چې د دې ځخه وروسته دری واړه آسونه په تياره کې ورک شول. دری واړو ټوله شپه په سفر کې تيره کړه، کله چې سهار شو نو سيف الدين له هغوی ځخه د ېر مخکې شو او دوی دواړه ورپسې شاته لږې روان وه چې ځوک پرې شک ونکړي. حارث او داوُد پخپلو کې سره غږېدل خو اواز يې سيف الدين ته نه رسيدلو.

حارث وويل : ته ولې ماته اجازه نه راکوې ؟ همدا د وژلو ښه وخت او ښه ځای دی، هيچا ته هم معلومات نشته چې ځوک ورسره وو؟ مړی به يې چيرې پټ په خاورو کې ومنډو .

داوُد وويل : حارثه د ده په وژلو هيڅ هم نه کيږي ! که دا ووژل شي نو پوځ يې بل ځوک استعمالوي، داسې چار پکاره دی چې ټول پوځ يې بيکاره او فلج شي .

دِ غرمې ځخه مخکې هغوی ته د حلب منارونه ښکاره شول، هغوی د لارې ځخه چپ شول او د المبارک سيمې ته ولاړل چې هلته ونې، بوټي ، شنه ګياوې او اوبه زياتې وې، کله چې دوی هلته ورسيدل د هغه قوماندان په منډه راغی او ويې ويل چې الملک الصالح تيار راغلی او ستاسې په انتظار کې ناست دی ، د هغه دوه سالاران راغلل او سيف الدين ته يې هر کلی ووايه، بيا صالح هغه ته په حلب کې د شپې ميلمستيا وکړه او هلته د خبرو لپاره وخت وټاکل شو. دواړو د شپې سره وليدل او اوږد بحث يې سره وکړ، ځينې کتابونه چې د هغه وخت حالات يې ليکلي وايې چې سيف الدين الصالح ته وويل چې تاسې ماته د خپل پيغام ليکلي ځواب رانه کړ، الصالح پدې خبره ډېر خفه شو چې ما خو ډېر وخت کيږي چې ځواب در استولی دی، هغوی لټون پيل کړ چې د پيغام وړونکی پيدا کړي خو د هغه هيڅ پته ونه لګيده او نه چا پيژندلو چې پيغام چا وړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره صلیبی سلا کارانو ته ورسیده هغوی وویل چې یا خو پیغام وړونکی د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوس دی چې لیک به هغه ته رسیدلی وي یا دا چې په لاره کې نیولی شوی او له منځه تللی دی. خو د دې لپاره چې سلطان صلاح الدین ایوبی مخکې حمله ونکړی نو باید تاسې سمدستی یرغل او برید وکړی او هغه ته وخت مه ورکوی.

صلبیانو غوښتل په هره توګه چې وی باید د مسلمانانو تر منځ ټکر راشي نو فیصله یې وکړه چې سمدستی دې دری واړه لښکری په حلب کې سره یو ځای شي. بیا یې موصل او حرن ته پیغام واستاوه چې څومره لښکر تیار وي هماغه دې سمدستی حلب ته خان راورسوي. د ټول پوځ عمومي قوماندان سیف الدین وټاکل شو خو ګمشتګین پری خوښ نه وو، هغه خپل پوځ ورکړ خو په جګړه کې ورسره شریک نشو، په دوه دری ورځو کې دری واړه پوځونه په حلب کې راټول شول ، د هغوی لپاره صلیبیانو مرسته او وسایل لامخکې رارسولی وه. او د نور سامان ژمنه یې هم ورسره وکړه او بیا یې عمومی لښکر ته د حرکت حکم وکړ، د دې لپاره چې حمله ناڅاپي او پټه وشي نو لښکر د شپې وخوځیده او په ټوله لاره کې کماندو یې او جاسوسی کسان وګمارل شول چې لاره هر لوری ته وڅاری او شکمن کسان بندیان او حلب ته یې راورسوی.

سیف الدین داوُد او حارث راوغوښتل او هغوی ته یې د بر شاباسی ورکړ چې تاسې زما سره په سخت وخت کې مرسته وکړه ، د دې به وروسته انعام درکول کیږي. حارث ته یې وویل چې ستا د خور پر ما یو قرض دی زه به هغه قرض پوره کوم او بیا به درځم- هغې ماته ویلی چې د سلطان صلاح الدین ایوبی توره او آس څان سره راوله نو زه به ستا یم.

حارث وویل : مونږ به فاتح ګرځوو ایا دری واړه پوځونه ګډ او شریک ځي؟

سیف الدیـن پـه خندا وویـل : هـو! کـه ژونـدی وم نـو د دری واړو اعلی قوماندان به زه یم.

داوُد وویل : اوس به نو د سلطان صلاح الدین ایوبی د تیښتی وار وي.

(c) kitabton.com: The Digital Library



داؤد او حارث احساساتي او چاپلوسانه خبرې کولې او د سيف الدين څخه يې ټول پلان معلوم کړ. سيف الدين هغوی ته وويل چې زما کارډ راغلي تاسې خپل ګروپ ته ولاړ شئ، زه به تاسې تل يادوم.

***

درې واړه پوځونه چې اوس ترې يو لښکر جوړ شوی وو د شپې په تياره کې حرکت وکړ، حارث او داؤد د موصل په پوځ کې شامل شول، لښکر په منظم ډول مخ په وړاندې روان وو چې په لاره کې يوه داسې غرنۍ سيمه راغله چې کمرونه، ډبرې، لوړې او ژورې يې لرلې نو د لښکر ترتيب ګډ وډ او غير منظم شو، کله چې هغوی ګډ وډ شول داؤد حارث ته وويل چې همدا د تيښتې ځای دی او ځان بايد په همدې شپه کې جلا کړو تر څو ترکمان ته احوال ورسوو.

داؤد او حارث خپل آسونه په تياره کې لږ لږ اړخ ته کول تر دې چې لرې ولاړل او د خلکو له سترګو څخه پناه شول. داؤد غوښتل چې له پوځ څخه لرې ولاړ شي او بيا د ترکمان لاره ونيسي چيرې چې سلطان صلاح الدين ايوبي اړولی وه، تر ترکمان پورې دوه ورځې لاره وه. هغوی بالکل ډاډه او باوري وه چې تر هغه ځای پورې بې خطره رسيدای شي خو صليبي سلا کارانو د پروګرام د پټ پاتې کيدو لپاره شا او خوا سيمو کې خپل جاسوسان او کماندو پوځيان ځای پر ځای کړي وُه او دا يې حکم ورته کړی وو چې هر څوک شکمن په نظر درشي هغه ونيسئ او حلب ته يې بندي راولئ تر څو د لښکر حرکت رسوا نشي.

کله چې دواړه ښې لورې ته ووتل او د خلکو له نظر څخه پناه شول نو د ترکمان لاره يې ونيوله.

څرنګه چې هغوی ته معلومه نه وه چې شا او خوا سيمې جاسوسانو او کماندو پوځيانو نيولې نو په ډاډه زړه روان شول او آسونه يې په چارګام نکړل څکه چې آسونه يې په لاره کې ستړي نشي.

تر سهار پورې هغوی سفر وکړ او بيا يې وکتل چې د لښکر څخه څومره مخکې راغلي نو ايله د هغه لښکر دوړې معلوميدې - هغوی د ورځې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا کې خپل آسونه په منډه کړل چې بیا غرنۍ سیمې ته ورسیدل، هغوی د یو موړ او کوتل څخه تیریدل چې څلورو کسانو یې لاره ونیوله او هغوی ته یې د ښکته کیدو امر وکړ.

داؤد وویل: مونږ مسافر یو د څلورو څخه یو وویل مسافر ستاسې غوندی د پوځ په لباس کې نه وي، د مسافرو سره ستاسې غوندي وسله نه وي. که تاسې هر څوک یاستې زمونږ سره به حلب ته ځۍ بیا به ګورو، سمدستی تاسې ته د مخکې تللو اجازه نشته. دا هماغه کماندو پوځیان وه چې د لاری لپاره تاکلی شوی وه.

داؤد حارث ته په سترګو کې اشاره وکړه او یو دم دواړو په صلیبی پوځیانو یرغل وکړ، حارث عادی پوځی وو او په کماندو یې جګړه نه پوهیده په لومړی ځل زخمی شو، داؤد برید پیل کړ او جګړه ونښته هغوی څلور واړه کماندو یې پوځیان وه نو په ټولو چلونو پوهیدل - لږ څنډ وروسته څلور واړه ختم شول خو حارث او داؤد دومره زخمیان شوی وه چې حارث له آس وغورځیده او د مړی پشان پریوت، داؤد هم پوره زخمي وو خو په خپل آس هماغسی ناست وه، کله چې هغه خپل ملګری پداسی جال کي ولیده نو پوه شو چې مړ شوی.

داؤد سمدستی حرکت پیل کړ ځکه چې هغه سلطان صلاح الدین ایوبی ته خبر رسول غوښتل. چې لږ وړاندی ولاړ پوه شو چې تر ترکمان پوری ژوندی نشی رسیدای نو د حارث د کور لاره یې ونیوله چې د حارث پلار په ترکمان ته واستوی. په لاره کې څو ځلی پری بی هوشی راغله خو ځان یې په آس کلک کړی وو. بلاخره د حارث کورونو ته چې نژدی شو نو بی سده په آس پریوت. څرنګه چې آس بلد وو، هغه یې په شا تر خپل کوره پوری ورساوه. کله چې داؤد را په سد شو نو سرته یې د حارث خور فوزی ناسته وه، هغه چې ولیدل نو سمدستی یې د پلار پوښتنه ترینه وکړه چې هغه چیری دی؟

فوزی وویل، پلار می لری ولاړ دی، یوه دوه ورځې وروسته راځی! خو ته ولی پداسې حال یې، هغه ورته لنډه کیسه وکړه او دا یې هم ورته وویل چې حارث په لاره کې شهید شو او ما ځان دلته را ورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوؤد وویل : فوزي تا ویلي وه چې زه هر ډول قرباني ته چمتو یم اوس ستا د قرباني وخت راغلی، سمدستي باید ترکمان ته ځان ورسوی او سلطان صلاح الدین ایوبي ته خبر ورکړې چې د حلب، موصل او حرن پوځونه په لار کې را روان دي او ناڅاپي برید دربندي کوي، ځان چمتو کړه د دې خبرو څخه وروسته هغه بې هوشه شو او د شهادت جام یې وڅښه .

فوزي سمدستي د حارث میرمن له ځان سره ملګرې کړه او دواړو په آسونو باندې پښې واړولي او د ترکمان په لوري په منډه شولي خو د لارې له کړاونو څخه ناخبره وې، هغوی دواړو ځانونه داسې تاو راتاو کړل چې څوک پرې د ښځو ګمان ونکړي .

بل لوري ته درې واړو پوځونو د شپې سفر وکړ او د ورځې یې په دښته کې واړول، کله چې بیا ماښام راغی نو حرکت یې پیل کړ او د ترکمان په لوري روان شول، ترکمان لرې نه وو او په همدې شپه باید هغوی حمله کړې وایې ، هغوی د راز ساتلو لپاره دا خل پوره ترتیبات نیولي وه څکه تر اوسه پورې هغوی پټ روان وه او سلطان صلاح الدین ایوبي ورڅخه خبر نه وو. هغه فکر کاوه چې درې پوځونه سمدستي د دې وړ نه دي چې برید وکړای شي نو څکه ډاډه وو خو بیا یې هم د خارنې کسان ټاکلي وه .

فوزي او د ورور میرمن یې لکه د لیونیانو پشان مخ په ترکمان رواني وی څکه هغوی غوښتل د حارث او داوؤد پیغام سلطان صلاح الدین ایوبي ته ورسوي، کله چې هغوی ترکمان ته نږدې شولې نو ډېره سخته سیلۍ او طوفان راغی، داسې سیلۍ او طوفان چې خیمې، سامان او آسونه ورته هم نشول تم کیدلای، سیلۍ داسې شګې، خاورې دوړې بادولې چې په لاره تلل یکې امکان نه درلوده. دا داسې حال وه چې فوزي ترکمان ته رسیدلې وه، په هغه ځای کې د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځې کیمپ او قرار ګاه وه هغه یې هم خرابه کړې او خیمې یې تولې رنګې کړې وې، هیڅ شي په قرار ګاه کې نه معلومیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره چې دوه دری ګزه وړاندی شي هم نه معلومیده، فوزی او د وړور میرمن یې یو اړخ او کنج ته شول، ګوری چې هلته څو کسان پټ ناست دی او د سیلی څخه یې ځانونه پټ کړیدی .

فوزی د هغوی څخه وپوښتل چې د سلطان صلاح الدین ایوبی قرار ګاه او ځای ناستی چیری دی ؟

هغوی وویل : همدا د هغه مرکز او قرار ګاه او ځای ناستی دی خو اوس هر څه طوفان په سر اخیستی او سلطان صلاح الدین ایوبی همدلته دی .

بل لوری ته د سیف الدین لښکر هم طوفان راګېر کړی او د هغوی آسونه او اوښان هم بی کنتروله شوی او هری خواته په منډو وه، هغوی په همدی شپه غوښتل په سلطان صلاح الدین ایوبی باندی یرغل وکړی او هغوی په ناخبره حالت کې راګېر کړی خو طوفان د هغوی لښکر ټول داسې ګډ وډ کړ چې هر څه یې غیر منظم شول .

د صلیبیانو لاس پوځوغوښتل له طوفان څخه وروسته خپل پوځ منظم او برید وکړی خو شپه راغله او تیاره خوره شوه .

فوزی ځان په همدی سخت طوفان کې سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورساوه او هغه ته یې د داؤد پیغام ورکړ او ټوله کیسه یې ورته وکړه - په همدی وخت کې طوفان هم کم شو.

سلطان صلاح الدین ایوبی خپلو سالارانو ته خبر ورکړ چې سمدستي راشی چې د دی طوفان څخه بل خونړی طوفان را روان دی، هغه ټولو ته وظیفی وسپارلی چې زر تر زره خپل کسان منظم او په اړوندو برخو کې پوځیان ځای پر ځای کړی .

سیف الدین ته هیڅ معلومه نه وه چې د هغه سره نژدی څه پروګرام او پلان روان دی، څکه سلطان صلاح الدین ایوبی خپل دوه برخی پوځیان د سیف الدین د لښکر ښی او چپ لوری ته کړ او څه یې د شاله لوري هم ورڅخه راوڅرخول .

د سهار راختلو سره د سیف الدین پوځ ډېر بی نظمه او ګډ وډ شوی ود وسلی او سامان هم یوی او بلی خواته ګډ وډ پروت وو، آسونه یوی او بلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوانه تښتېدلي او تيت پترک شوي وه. لښکر زر زر منظم کړای شو چې
پدې کار باندې نيمه ورځ تيره شوه.
سيف الدين پدې ډاډه وه چې سلطان صلاح الدين ايوبي تر اوسه پورې
ندي خبر نو بايد مخامخ پوره حمله پرې وشي او خپلو سالارانو ته يې د
مخامخ بريد کولو حکم وکړ. کله چې هغوي د ترکمان شنې او سموري
سيمې ته ننوتل نو د غونډيو او لوړو ځايونو څخه پرې د غشو باران پيل او
د مخامخ څخه اور غورځونکې بمونه او منګي راتلل او د لښکر په منځ
کې پريوتل چې هر لوري ته يې اور لګاوه، ځمکه ټوله سور اور وګرځيده.
سيف الدين د حملې ودرولو حکم ورکړ ځکه د هر لوري پرې د غشو باران
پيل شوي وو. هغه خپل لښکر ته حکم وکړ چې بيرته په شا راشي تر څو
خپل تنظيم بدل کړي خو د شا لخوا پرې داسې سخته حمله وشوه چې ټول
لښکر تيت پترک او ګډ وډ شو، دا د سلطان صلاح الدين ايوبي کماندوي
حمله وه، کسان ډېر کم وه خو سپاره په منډه راغلل برچې او توري يې
وچلولې او بيا بل لوري ته ورک شول. په همدې وخت کې د سيف الدين د
لښکر په ښي او چپ اړخونو باندې همداسې ناڅاپي حملې وشوې. پدې
سره مرکزي قومانده ختمه شوه او بلې خواته شپه راغله، د شپې هم حملې
بندې نشوې او هر لوري ته د وينې تويولو بازار ګرم شو. سيف الدين نور هم
شاته ولاړ خو د شا لخوا پرې د غشو باران پيل شو. ټوله شپه ايوبي لښکر
دښمن ته د مرګ لاره ورښودله. سهار چې کله رڼا شوه سلطان صلاح الدين
ايوبي په يوه غونډۍ پورته شو نو ټول ميدان يې تر سترګو تير کړ اوس نو د
اخرې بريد او حملې وخت وو. هغه خپل استازي د احتياطي پوځ سالار ته
واستاوه چې اوس نو ستاسې وار او نوبت دی. لږ ځنډ وروسته په منډه
آسونه راغلل چې ځمکه يې لړځوله، د دې سره پلې او پياده پوځ د الله اکبر
ناري وهلې او د جګړې په ميدان لکه د زخمي زمريانو پشان راپريوتل.
د سيف الدين پوځ او لښکر د دې ورتيا نلرله چې د دې حملې مخه
ونيسي بلکه دا چې د هغوي لښکر د ټولو لورو څخه محاصره او مخامخ
سخته حمله هم راغله، ټول لښکر خپل همت له لاسه ورکړی وو خپله سيف

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدین هم زړه بایلود او حواس یې له لاسه ورکړل. د دې ځخه وروسته د هغه لښکر په وسله غورځولو پیل وکړ او تسلیم شو ، د شا لخوا هم حمله پیل شوه او دواړو اړخونو ته هم کماندو یې پوځیانو خپله حلقه او کړۍ راتنګوله چې مخالف لښکر په سخته دایره کې راګیر شو .

د سلطان صلاح الدین ایوبی مجاهدین د سیف الدین مرکز ته ورسیدل چیرې چې د شرابو منګي او جامونه موجود وه، کوم بندیان چې ونیول شول هغوی وویل چې سیف الدین د دې ځای ځخه مخکې وتلی دی. د سیف الدین پسې د هر کسان وګرځیدل خو د هغه درک معلوم نشو. هغه خپله وتښتیده خو پوځ یې په مکمل او پوره توګه سلطان صلاح الدین ایوبی ته پریښوده.

د پوره بریا او فتح ځخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی فوزی ته مبارکي او د هغې ځخه یې مننه وکړه چې ستا په لوړ همت او قربانی باندې مونږ ته الله تعالی بریالیتوب او فتح رانصیب کړه او بیا یې د حارث او داود د شهادت په هکله هغې سره غمرازی ښکاره کړه .

❖❖❖
❖❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سر ښندونکې، پیریان او ولولې

د ترکمان جګړه د سالارانو، نائب سالارانو او قوماندانو په نظر ختمه شوه ځکه چې د سیف الدین لښکر ماتې خوړلې وه، ډېره زیاته برخه یې په میدان کې مړه، زخمي او یا بندیان وه، ډېر لږ کسان ژوندي خلاص شوي وه -په میدان کې مړي، زخمیان، آسونه، توري، برچې، خیمې او نور بې حسابه سامان هر لوري ته خپور وو.

سلطان صلاح الدین ایوبي په هغه ځای باندې ولاړ وو چې کوم ځای د سیف الدین مرکز او خیمه وه، سیف الدین چې کله پوه شو چې لښکر یې ماتې خوړلې او تسلیمیږي نو په پټه له میدان څخه یو څنګ ته شو او بیا هماغسې وتښتیده، د هغه تیښته ډېره له شرم څخه ډکه وه ځکه چې هغه تر خپلې شا د حرم نجونې، سندر غاړې او نڅا کوونکې ښځې پریښې وې - د زرو او نقدي سیکو بوري همداسې ډکې پاتې وې. دا خزانه د پوځیانو میاشتنی کومک او د خلکو د اخیستلو لپاره وه. د هغه خیمه د قصر او ماڼۍ په شان وه، د هغه سره د شرابو منګې او پیالې موجودې وې ، هغه دلته هم د یو پادشاه په څیر وخت تیرا وه .

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبي د هغه خیمې ته ننوت نو سترګې یې د سیف الدین په کټ پریوتې چې توره د پاسه پرې پرته وه ځکه هغه پداسې ورخطایي سره تښتیدلی وو چې توره یې همداسې پرته پریښې وه.

سلطان صلاح الدین ایوبي توره راپورته کړه او له تیکي څخه یې راوویستله نو لکه د برښنا پشان وځلیده، سلطان صلاح الدین ایوبي هغې تورې ته په ډېرغور وکتل او بیا یې وویل : د مسلمان په توره چې کله د شرابو او ښځو سوري پریوځي هغه بیا د اوسپنې یوه ټوټه شي. د دې تورې وظیفه دا وه چې پدې سره باید فلسطین ازاد شوی وای خو صلیبیانو هغه پخپلو ګناهونو کې ډوبه کړه او د اوسپنې یوه ټوټه یې ورڅخه جوړه کړه، کومه توره چې په شرابو لمده شي هغه بیا د وینو د رنګ څخه بې برخې وي . د دې خیمې په خوا کې بله خیمه وه چې په هغې کې د حرم نجونې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندرغاړې او نڅا کوونکې میرمنې ویریدلې او هیبت وهلې ناستې وې
ځکه هغوی خپل پای او انجام ډېر بدلیدلو، هغوی ته د سلطان صلاح
الدین ایوبي حکم واورول شو چې ټولې ازادې او خلاصې دي چیرې چې
تلل غواړي هلته به په پوره خوندي توب او عزت سره ورسول شي. د هغوی
څخه پوښتنه وشوه چې تاسې ټولې څومره وې نو یوې وویلې چې مونږ ټولې
همدا یوو خو دوه نشته او هغه مسلمانې نه وې، هغه د سیف الدین سره
تښتیدلې او همدا دوه په سیف الدین هم ګرانې وې او ټول کارونه یې د
همدې دواړو په خوښه کول.

په جګړو کې عموماً د غنیمت په مال باندې ګډ وډې جوړیږي په همدې
خاطر سلطان صلاح الدین ایوبي حکم کړی وو چې د پوځ هیڅ پوځی او
سالار نشي کولای د غنیمت مال او شیانو ته ګوتې وروړي، هغه د دې کار
لپاره ځانګړی ګروپ لرلو چې د جګړې د میدان څخه ټول شیان راټول او یو
ځای ته یې راغونډ کړي. چې وروسته بیا خپله سلطان صلاح الدین ایوبي
هغه پخپل لاس سره ویشل.

د ترکمان تر جګړې وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي د غنیمت ټولو
په هکله هیڅ حکم ورنکړ بلکې د زخمیانو د علاج کولو حکم یې ورکړ او
بندیان یې هم یو لوري ته کړل.

هغه خپل ټول پوځ د جګړې په حال کې هماغسې منظم وساتلو او ټولو ته
یې حکم وکړ چې هر یو دې په خپل ځای باندې تیار او چمتو ولاړ وي تر
اوسه لا دا جګړه نده ختمه شوې.

یو سالار وپوښتل چې د دښمن سامان او نورو شیانو سره څه وکړو، جګړه
خو زمونږ په ګټه تمامه شویده.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : زه دومره زر غولیدونکی نه یم، تر
اوسه د دښمن جګړه لا نده ختمه شوې، د هغوی هغه ګروپونه چې په جګړه
کې یې برخه نه وه اخیستې او احتیاطي ولاړ وه هغوی به خامخا څه کوي،
د دې په خوا کې د صلیبیانو خطر هم شته، کیدای شي هغوی برید وکړي،
مار باندې په زخمي حالت کې هم باور ندی پکار هغه د مرګ په حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډير بد چيچل کوي. بله دا چې د سيف الدين د تکړه سالار مظفر الدين هيڅ درک نشته هغه پرته له جګړې کولو څخه ميدان نه خوشي کوي ، هغه به خامخا بريد او حمله کوي او چيرې به د وخت او حالاتو په هيله پروت وي .

***

د سلطان صلاح الدين ايوبي خبره سمه وه، مظفر الدين د زين الدين زوی چې د سيف الدين سالار وو او د سلطان صلاح الدين ايوبي سره هم سالار پاتې شوی وه. هغه د سلطان صلاح الدين ايوبي په ټولو جنګي پلانونو او چلونو باندې ښه پوهيدلو، هغه د سيف الدين د کاکا زوی وو، کله چې سلطان صلاح الدين ايوبي دمشق ته راغی نو مظفر الدين د هغه څخه جلا او سيف الدين ته ورغی هغه ډير زړور او جګړه مار سړی وو.

سلطان صلاح الدين ايوبي ته چې خپلو جاسوسانو کوم خبر راوړی وو چې پدې لښکر کې مظفر الدين هم شته خو دا څرګنده نه وه چې د هغه پوځ په کومه برخه کې دی. د څه بنديانو څخه هم د هغه په هکله معلومات وپوښتل شو هغوی دومره وويل چې هو مظفر الدين زمونږ سره په لښکر کې وو خو نور معلومات يې مونږ ته هم نشته چې چيرې دی .

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل چې کيدای شي بنديانو به دا خبره پټه کړې وی چې هغه چيرې دی، خو زه دا خبره نشم منلايی چې مظفر الدين دې پرته له جګړې څخه وتښتي، هغه زما شاګرد دی، هغه به خامخا حمله کوي، که هغه پدې ښه پوه شي چې ماتې خوړې بيا هم بريد کوي د هغه فطرت ماته څرګند دی .

مظفر الدين د ترکمان د ميدان څخه دوه ميله لرې خپلو ملګرو سالارانو ته وويل : زه پرته له جګړې څخه بيرته نه ځم .

مظفر الدين ته د سيف الدين يو سالار دا پيغام راوړ چې مونږ د سلطان صلاح الدين ايوبي لخوا څخه ماتې وخوړه او پوځ ټول تيت پترک شوی نو تاسې هم د خپل پوځ سره بيرته راشئ او د راتلوونکې جګړې لپاره خپل پوځ وساتئ، اوس ستاسې لپاره جګړه ګټه نکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو نائب سالار مظفر الدین ته وویل : مونږ ستا هر حکم منو خو اوس داسې حالات پیښ شول چې جګړه کول هیڅ ګټه نلري، ټول پوځ ماتې خوړلې او تښتیدلی دی .

زما سره چې څومره پوځ دی همدا زما لپاره بس دی، سلطان صلاح الدین ایوبی د دې ځخه په کم پوځ باندې لویو لویو لښکرو ته ماتې ورکوې، زه دا ځلې د هغه په اړخونو باندې حمله کوم او چل کولو ته وخت نه ورکوم .

نائب سالار وویل : سیف الدین د درې لښکرو سره سره ماتې وخوړه، زه بیا هم وایم چې پدې پوځ باندې حمله کول ځان وژنه ده .

مظفر الدین وویل : د جګړې په میدان کې چې څوک شراب او سندر غاړې له ځان سره ګرزوې د هغوې پای او انجام همداسې کیږي لکه چې د سیف الدین وشو !

زه هم شراب څښم خو چې کله پیدا نشي پروا مې نه وي، سلطان صلاح الدین ایوبی به ماته غدار وایې خو زه د هغه سره په هر صورت جګړه کوم، دا د دوه جګړه مارو او دوه پهلوانانو جنګ دی، زه په هر صورت هغه ته ښودل غواړم چې زه جګړه مار یم، همدا نن شپه خپل لښکر د دې ځای څخه لرې کړې ځکه چې د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوسان د ځمکې لاندې شیان هم ګوري، د خپلې قرار ګاه په شا او خوا کې د څارنې کسان وګمارې چې کلکه څارنه وکړې او شکمن کسان ونیسی .

مظفر الدین خپل کسان پر یو پټ ځای کې خوندي کړل خو د جګړې لپاره یې وخت ونه ټاکلو، هغه خپلو معاونینو ته وویل : سلطان صلاح الدین ایوبی د ګیدړ پشان چالاک او د سوي پشان تیز دی، هغه لا تر اوسه پورې د غنیمت شیان ندي ټول کړې او نه یې خپل لښکر راغونډ کړی هغه د جګړې په حالت کې دی، زه هغه ته وخت ورکوم چې داده شي او د غنیمت په ټولولو پیل وکړې، چې کله هغوی بوخت شول مونږ به پرې حمله کوو، ما خپل جاسوسان د هغوی لپاره ټاکلي چې د هر پل خبرونه راته راوړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدی خطر په خاطر سلطان صلاح الدین ایوبی خپل لښکر ته د راټولیدو حکم نه کولو.

* * *

مخکې تاسې ولوستل چې کله سیف الدین غوښتل په سلطان صلاح الدین ایوبی باندی په ناخبری کې حمله وکړی او د هغه قوت او ځواک ختم کړی خو د فوزی د پیغام په رسیدو سره سلطان صلاح الدین ایوبی سمدستی خپل د حملی پلان ترتیب او سیف الدین یې پرته لدی چې په خان پوه شي پخپل جال کې داسې راګیر کړ چې هر څه یې په میدان پریښودل او تیښته یې وکړه. سلطان صلاح الدین ایوبی پخپلو کماندو سر ښندونکو باندی د سیف الدین لښکر میده میده او تیت پترک کړ. کماندو ټولګی د څلور څلورو څخه نیولی تر دولس دولس کسانو پوری وه چې د اړتیا سره سم یې په دښمن باندی بریدونه کول. پدی کې چې کوم سر ښندونکی وه هغوی ټول هوښیار، زیرک، چالاک، د پوخ ایمان خاوندان او د قربانۍ جذبه لرونکی ځوانان وه. هر یو پخپل کار او فعالیت باندی ښه پوهیده او زیاتو لارښوونو ته یې اړتیا نلرله.

پدی ټولګیو کې یوه دولس نفری ډله د عبدالباسط تر مشری لاندی هم وه چې د هغه نهه کسان شهیدان شوی یوازی دی او دری کسان یې ژوندی پاتی وه.

عبدالباسط د خپل ټولګی سره د ترکمان په جګړه کې د سیف الدین پسې تر ډېر ځای پوری وو، د هغه دنده دا وه چې د دښمن په سامان او وسایلو باندی به حملی او بریدونه کوی، پدی جګړه کې هم هغه د دښمن په سامان او وسایلو باندی بریدونه پیل کړل. د دی ډلی سره توری، غشی، برچې او خنجرونه وه. د دښمن سامان ډېر لری پروت وو خو لاره د آسونو د ځغلولو لپاره ډېر مناسبه وه. هغوی د سامان د سوځولو لپاره اور اچوونکی کیمیاوی مواد او اور غورځوونکی غشی درلودل.

په لومړی ورځ عبدالباسط خپل آسونه او کسان د دښمن د سترګو څخه په ژورو کې پټ کړل او د شپې یې بریالی حمله وکړه. د دښمن په سامان کې غله، وچ واښه، غشی، لیندی او توری وی او دا ټول شیان د پوخ تر شا لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



را روان وه، هغوی د اور غورځوونکو غشو او کیمیاوي مادي پوسیله زیات سامان وسوځاوه. هغوی بیا د ورځې په ژورو او غونډیو کې پټ شول، دښمن هغوی ولټول خو پیدا یې نکړل. کله چې بیا ماښام شو نو هغه د سامان کاروان ولیده چې یو ځای یې واړول خو دا ځلې برید او حمله آسانه نه وه ځکه چې دښمن د هغې د ساتلو لپاره پلي او سپاره دواړه ډوله کسان ګمارلي وي.

عبدالباسط یو ځل بیا د حملې او برید فیصله وکړه ځکه چې د هغوی روزنه او تربیت همداسې شوی وو چې د دښمن سامان باید حتماً تباه او ختم شي، پدې ډلو کې چې څومره سربښندونکي وه هغوی ډېر زیات زړور، د جذبې خاوندان او خپل مسئولیت پېژندونکي وه.

عبدالباسط خپل دولس کسان ځان سره ملګري کړل، خپل آسونه یې په هماغه ځای کې پټ او خپله پیاده روان شول، د یو کنج څخه د کاروان منځ ته ننوتل، په سامان باندې یې اور اچوونکي ماده وشیندله او بیا یې اور وروااچاوه، د هغې څخه وروسته هغوی جدا جدا پټ شول او لیندۍ یې راواخیستې. کله چې اور زیات شو او هر لورې ته رڼا شوه نو هغوی د خپلو پټو مورچلونو څخه د دښمن پوځیان په غشو ویشتل خو د کاروان ساتونکي زیات وه، د هغوی نهه ملګري ژوندي ونیول شول او بیا شهیدان کړی شول عبدالباسط سره د خپلو درې کسانو ژوندي پاتې شو.

هغوی د کاروان له منځ څخه په ډېره سختۍ راووتل او په نامعلوم لورې روان شول، هغوی چې په کوم ځای کې آسونه پرېښې وه هغه ځای ورڅخه د شپې په تیاره کې غلط شو او بالکل بل لورې ته ولاړل.

د خوراک، څښاک او سامان ورڅخه هلته په آسونو تړلي پاتې شو کله چې هغوی د کاروان څخه ښه پوره لرې ولاړل نو د شګو دښتې ته ورسیدل، تر لږ سفر وروسته د هغوی پښې د شګو په واسطه درندې شو، هغوی تږي شول حال دا چې اوبه ورسره نه وې بلاخره دومره ستړي شول چې کیناستل تر څو دمه جوړه کړي چې څرنګه کیناستل سترګې یې پټې شوې او ویده شول.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې سهار د عبدالباسط سترګې خلاصې شوې ګوري چې ملګري یې په درانه خوب ویده دي، هغه یوې او بلې خواته وکتل، هر لوري ته شګې او دښته وه د آوبو هیڅ اثار تر لرې لرې نه معلومیدل. د سلطان صلاح الدین ایوبي قرار ګاه چې په ترکمان کې وه هغه دومره لرې وه چې ایله په سترګو د خط په څیر ښکاریده، عبدالباسط خپل درې واړه ملګري راویښ کړل چې هغوی هم ډېر ورخطاء شول ځکه د هغوی آسونه نه وه او ټول پلي او پیاده وه. هغوی تنده محسوله، عبدالباسط خپلو ملګرو ته وویل چې تر دوه ورځو پورې مونږ او تاسې سفر کولای شو او پدې کې چې هر څېرې ورسیدو، هغوی ترکمان ته نیغ په نیغ زر رسیدل خو په لاره کې د دښمن پوځ پروت وو نو ځکه هغوی باید د بلې لارې څخه ځان هلته ورسوي هغوی فیصله وکړه چې حتماً حرکت وکړي او د همت څخه کار واخلي.

عبدالباسط خپلو ملګرو ته وویل: مونږ غله او لاره شکوونکي نه یو، الله تعالی به لاره آسانه کړي، که مونږ پدې لاره کې مړه هم شو نو د شهادت مرګ دی، خپل رب یادوی او وړاندې ځي.

کله چې لمر ښه راپورته او ګرمي زیاته شوه نو ټوله دښته لکه د آوبو پشان ښکاریده یعنې سراب جوړ شو. هغوی په دښتو او بیابانونو کې بلد او روږدي شوي وه.

کله چې غرمه شوه. د لاندې او پاسه ګرمي وریدل پیل شول نو هغوی په جنګي ترانو پیل وکړ چې کله هغه ختمې شوې نو بیا یې په کلمه طیبه پیل وکړ او هغه ټولو په ترنم سره زمزمه کوله هغوی همداسې تر ماښام پورې روان وه خو د ټولو خولې وچې شوې، ترانې او خبرې کول بند شول ځکه چې د چا په خوله کې لاړې نه وې چې ژبه وښوروي.

کله چې لمر پریوتو نو دښته لږ سړه شوه، عبدالباسط خپل ملګري همداسې روان وساتل ځکه د شپې سفر اسانه وي. چې ښه زیات ولاړل او ستړي شول نو هلته یې واړول او د ارام په خاطر پریوتل.

د شپې په اخرې برخه کې عبدالباسط را بیدار شو، یوې او بلې خواته یې وکتل د ستورو څخه یې لاره معلومه کړه بیا یې خپل ملګري را بیدار کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی نسبت ماښام ته لږ لږ ښه وه خو خبري يو هم نشوی کولای. څرنګه چې هوا سړه وه نو هغوی بیا په سفر پیل وکړ تر څو د لمر څخه مخکې مخکې څه مسافه ولاړ شي.

عبدالباسط خپلو ملګرو ته وویل چې دا دښته دومره لویه نده نن به په خیر سره اوبو ته ورسیږو.

هغوی خپل سفر پیل کړ تر دی چې یو ځل بیا پری لمر راپورته شو او ګرمي راغله، شګی ګرمی شوی او پل په پل هغوی د تندی څخه تنګیدل. د ټولو خولی داسې وچی وی چې ژبه یې نه ښوریده، سترګی یې ننوتی او خیری یې زیږی وی. کله چې ګرمی او ستړنیا زیاته شوه نو یو ملګری باندی د تندی په سبب داسې حالت راغی چې خپله وسله او هر څه یې وغورځول ان تر دی چې خپلی څپلی یې هم پریښودی او لږ وړاندی یې په خندا پیل وکړ او د لیونتوب حالت پری راغی. لږ وړاندی بل ملګری هم راغی چې مونږ هم ورسره ملګری شو او په ګډو وډو سر شو.

عبدالباسط د خپلو دواړو ملګرو په لیدو سره ډېر اندیښمن شو او د هغه سر هم چکر وخوړ، وروسته عبدالباسط او بل روغ ملګری یې دواړه ناروغان کینول او سوری یې ورته د څادرونو پواسطه برابر کړ. بیا عبدالباسط خپلو ملګرو ته په کمزوری اواز وویل : تاسې د الله سرتیرې یاستی، تاسې د لومړی قبلی او کعبی شریفی ساتوونکی یاستی، د اسلام دښمنان ستاسې څخه ویریږي، تاسې د هغوی ملا ماته کړیده، تاسې د اورونو څخه تیریدونکی سرښندونکی یاستی، د دی دښتی، ګرمی، تنده او لمر تاسې باید بی همته نکړی، پر تاسې د الله تعالی رحمت وریږي، تاسې ته پرښتی خپل وزرونه غوړوي، ستاسې بدن که تږی دی خو روح مو روغ جوړ دی، د ایمان خاوندان په اوبو باندی نه بلکې په ایمان باندی ژوندی وی.

د دی خبرو په اوریدو سره دواړه ناروغ ملګری هم لږ شانته ښه شول او یو ځل بیا په لاره روان شول. کله چې هغوی بیا لوړو ژورو او غونډیو ته ورسیدل نو یو ځل بیا هماغه دواړه کسان په منډه شول او چیغی یې کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دی اوبه، هغه دی مرغاوایاني ... چې لږ ولاړل سر په خيرې باندي راپرېوتل او په خولو کې يې خاورې او شګې ننوتې.

عبدالباسط او بل ملګری بیا هغوی راپورته کړل خولې او مخونه وربانديي پاک کړل، عبدالباسط پدې وخت کې دعا ته لاسونه پورته کړل او د خپل رب څخه يې د عافيت او خيريت غوښتنه وکړه، پدې وخت کې د عبدالباسط ذهن هم يو ځل خراب شو او شنه باغونه ورته ښکاره شول خو زر بيرته راسمبال شو.

کله چې لږ وړاندې ولاړل د کمر تر سیوري لاندې عبدالباسط دوه آسونه او دوه نجونې وليدې، هغه خپل سرته ټکان ورکړ چې ګوندي زما دماغ هم خراب شو، بيا يې له خپل روغ ملګري وپوښتل چې ته څه د کمر د سیوري لاندې ګوري؟ هغه چې خير ځير وکتل نو وي ويل دوه آسونه او دوه نجونې زه هم ګورم. هغوی دواړو فکر وکړ چې زمونږ دماغونه هم خراب شويدي پدې دښته کې آسونه او نجونې څه کوي، عبدالباسط او ملګری يې ورو ورو ورنژدې کيدل چې کله څو قدم نژدې ورغلل نو د سیوري لاندې دوه ډېرې ښايسته نجونې ولاړې وې چې دوی پرې د پيريانو او ښاپيريو ګمان وکړ.

عبدالباسط هغوی ته په ځير ځير کتل چې دا څه دي؟

يوې نجلۍ د عبدالباسط څخه وپوښتل تاسې څوک ياستئ او دلته څه کوئ؟

عبدالباسط وويل: لومړي مونږ ته لږ شانته اوبه راکړې بيا به هر څه درته ووايو!

نجونو ورته وويل لومړی ځان راوپيژنئ بيا به هر څه وشي!

عبدالباسط مجبور شو هغه ورته وويل مونږ د سلطان صلاح الدين ايوبي کماندو سرښندونکي يو او لاره مو ورکه کړيده.

يوې نجلۍ وويل: مونږ ته خپله وسله تسليم کړئ اوبه به درکړو. پدې خبره د عبدالباسط په زړه کې سخته ويره پيدا شوه ځکه هغه د پيريانو کيسې اوريدلې وې خو لا تر اوسه پورې ورسره مخامخ شوی نه وو. هغه خپل ملګري ټول سیوري ته راوستل او هلته پرېوتل.

يوې نجلۍ وويل د آس سره مشک تړلی دی د هغې څخه اوبه څښلی شئ، عبدالباسط په ډار او ويره آس ته ولاړ او مشک يې خلاص کړ، اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې لومړۍ هغه ناروغه ملګرو ته ورکړې او بیا یې خپله وڅښلې، کله چې ټول را په خود شول نو عبدالباسط فکر وکړ چې دا خو اوبه دي او مونږ پرې رابیدار او روغ شو خیال او تصور ندی، بیا پدې پوه شو چې اصلاً دا دواړه ښاپیرۍ دي چې دلته راغلې او زمونږ سره کومک کوي .

بیا یوې نجلۍ عبدالباسط ته په ګوتو اشاره وکړه چې د آس په خورجین کې شیان دي هغه راواخله.

عبدالباسط ولاړ د آس د خورجین څخه یې کڅوړه راوویستله. ګوري چې په هغې کې وچه غوښه او خرماوې دي هغه شیان راوړل نو نجلۍ ورته اشاره وکړه چې خپلو ملګرو ته یې هم ورکړه - څلورو واړو وچه غوښه او خرماوې وخوړې، اوبه یې وڅښلې ټول روغ، جوړ او تازه شول .

بیا نجلۍ له عبدالباسط څخه وپوښتل چې تاسې چیرې ولاړ وې او څه مو کول؟

عبدالباسط ورته ټوله کیسه وکړه او بیا یې ورته وویل چې تاسې مونږ ته د ترکمان لاره برابره کړې، تاسې کولای شي چې مونږ یو دم هم هلته ورسوی . یوې نجلۍ پوښتنه ورڅخه وکړه که چیرې مونږ پیریان نه او انسانان وایی نو تاسې به زمونږ سره څه کول ؟

عبدالباسط وویل که تاسې انسانان وای نو مونږ به تاسې د خپل ایمان په شان قیمتي بللي او خپل ځای ته به مو په عزت سره رسولي وای، مونږ د ښځو د عزت ساتوونکي یو، مونږ چې هر څه کوو د الله تعالی د رضا او حکم په خاطر یې سرته رسوو.

لږ ځنډ وروسته په عبدالباسط او درې واړو ملګرو خوب راغی او ټول په درانه خوب ویده شول .

یوې نجلۍ بلې ته وکتل او بیا دواړه په خندا شوې .

***

عبدالباسط لدې څخه هیڅ خبر نه وو چې څرنګه د دوی حمله بریالی شوې ، په هماغه توګه د سلطان صلاح الدین ایوبي په حمله هم سیف الدین تښتیدلی او د لښکر زیاته برخه یې بندیان نیول شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې وویل شول چې سیف الدین تیښته وکړه خو د هغه یو سالار مظفر الدین لا هماغسې د احتیاطي قوي سره دوه درې میله لرې په لوړو ژورو کې پټ وو. د هغه سره د ټول پوځ دریمه برخه پاتې وه او هغه غوښتل په هر چل او دوکې چې کیږي باید د سلطان صلاح الدین ایوبي کامیابي په ناکامۍ بدله کړي. څرنګه چې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبي سره سالار پاتې شوی وو نو د هغه په ټولو چلونو پوهیده. هغه د خپل پوځ د پټ ساتلو او په ناڅاپي توګه د حملې کولو لپاره په خپل شا او خوا کې جاسوسان ټاکلي وه چې هر ډول مسافر او شکمن کسان ونیسي. هغه څو کسان د سلطان صلاح الدین ایوبي قرار ګاه ترکمان ته هم استولي وه چې د هغه ځای حالات راوړي .

مظفر الدین په خیمه کې ناست وو چې یو سالار او بل قوماندان هلته راننوتل، سالار وویل: سلطان صلاح الدین ایوبي لا پخپل ځای دی او هیڅ ډول بدلون یې پخپل جنګي حالت کې ندی راوستی، بیا قوماندان وویل چې زه خپله د هغوی قرار ګاه ته ولاړم، هغوی لا هماغسې په خپل حالت باندې تیار ولاړ دي .

مظفر الدین وویل: مونږ غواړو د هغوی په ښي لوري باندې حمله وکړو او بیا د هغه څخه وروسته د ټول لښکر سره لاس پلاس شو. خو دا پدې شرط چې خبره همداسې پټه وساتل شي او مونږ ناڅاپي برید وکړو.

قوماندان وویل : سلطان صلاح الدین ایوبي د مړو لپاره نژدې یو نیم زره قبرونه ویستلي دي چې کیدای شي زمونږ د حملې په وخت په دې قبرونو کې یې آسونه پریوځي نو مونږ کولای شو هغوی پدې توګه له ماتې سره مخامخ کړو- مظفر الدین پدې ډېر خوښ شو چې د جګړې له میدان څخه ورته مکمل راپور راغی .

په کوم ځای کې چې مظفر الدین اړولی وه، هلته دوه مسافر و چې یو پکې ډېر سپین ږیرې او بل ځوان وو په اوښ سامان بار کړی روان وه. هغوی چې کله غونډیو ته نژدې شول نو د مظفر الدین د کسانو لخوا څخه ودرول شول د څو پوښتنو څخه وروسته هغوی پدې باوري شول چې دواړه مسافر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او کومی خواته روان دی خو د حکم په اساس یې هغوی ته وویل چې تاسې ته تر یو وخت پورې اجازه نشته چې ولاړ شی، همدلته به په عزت سره اوسیږی. هغوی یې یوې خیمې ته بوتلل چې دوه سرتیرې پکې اوسیدل کله چې شپه راغله نو سرتیرې ویده شول. سپین ږیری او ملګری یې خان په خوب اچولی وه نو را پورته شول او د خیمې څخه ووتل. هغوی فکر کاوه چې ټول به ویده وي خو هری خواته پیره کوونکی ګرځیدل.

سپین ږیری یو پیره کوونکی ولیده نو ورپسی شو، هغه د سامان په شیانو کې خان پټ کړ خو هغوی را پیدا کړ. پدی وخت کې یې بل ملګری هم ونیول شو خو هغه د خان خلاصولو په کوښښ کې ووژل شو.

سپین ږیری هغوی راتینګ کړ او د خپل نائب سالار خیمی ته یې ورسولو، هغوی ته دا ثابته شوه چې دا جاسوس دی ګنی تیښته یې ولی ونکړ، بلاخره مظفر الدین ته بوتلل شو، هغه ورته وویل چې زه د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوسان پیژنم خو ته راته اصل خبره وکړه او زما پوښتنو ته ځواب راکړه زه د الله تعالی په کتاب فرقان حمید باندی لاس ږدم او هغه حاضر او ناظر ګنم چې زه به تا د جګړی وروسته خوشی کړم او تر هغه وخته پورې به د یو معزز میلمه په صفت ورځی شپې تیروی.

سپین ږیری وویل: زمونږ ستا په قسم اعتبار نشته، ځکه تاسی د عظیم کتاب څخه انحراف کړی دی.

مظفر الدین د تحمل سره وویل: ایا زه مسلمان نه یم!

سپین ږیری وویل: تاسی یقینا مسلمان یاست خو تاسی د قرآن نه بلکی د صلیب وفادار یاست.

مظفر الدین وویل: زه خپل توهین برداشت کولی شم په دی شرط چې ما چې څه پوښتنی وکړی د هغوی صحیح ځواب راکړی او په دی هم پوه شی چې ستا روح زما په لاس کې دی.

سپین ږیری ځواب ورکړ زما روح د الله جل جلاله په لاس کې دی ته به دی ښه پوهیږی ځکه چې ته زمونږ په پوځ کې پاتی شوی یاست او زمونږ د

(c) ketab[illegible].com: The Digital Library



پوځ هر سپاهي خپل سر قرباني کولو لپاره وړاندې کړی زه او زما ملګری دواړه د سلطان صلاح الدين ايوبی جاسوسان یو خو د دې ښځه بله خبره زمونږ ښځه مه غواړه، که زما پوستکی په ژوندانه هم راښځه وباسی نو هيڅ به راښخه وانه خلی او زه دا خبره درته کول غواړم چې ماتی هرڅه په مقدر کې ليکلی شوی ده .

مظفر الدين هغه په يوه ونه کې سرچپه راځوړند کړ.

ماښام سلطان صلاح الدين ايوبی د حسن بن عبدالله ښځه وپوښتل چې ولی هغه زمونږ دوه استولی شوی کسان تر اوسه پوری رانغلل، داسې نه چې نيول شوی وی ؟

حسن بن عبدالله ورته وویل دلته هيڅ خطر نشته چې ونيول شي.

سلطان صلاح الدين ايوبی وويل : د دې ښځه معلوميږي چې دلته نژدې څوک نيوونکی شته ګنی هغوی به اوس هرومرو راغلی وای، تاسې نور کسان واستوی خو باید په احتياط سره ولاړ شي.

د سلطان صلاح الدين ايوبی په قرار ګاه کې د سهار اذان وشو او هغه د لمانځه لپاره اودس ته راپورته شو چې یو سپور ورته په منډه راغی او له آس ښځه راښکته شو، تر سلام کولو وروسته يې وويل: زمونږ د ښی لښکر سره نژدې څارونکو د پوځ او لښکر راتللو اواز اوريدلی دی چې دی لوری ته را روان دی، سلطان صلاح الـــدين ايوبی سمدستی تيمم ووهلو او لمونځ يې اداء کړ بیا یې ټول سالاران راوغوښتل، خپله په آس باندی د ساتوونکو سره یو ځای سپور او هماغه لوری ته ولاړ. هلته په يوه لوړه غونډۍ وختلو ترڅو د لښکر راتلل وګوري. د دې سره یې زر زر خپلو ټولو سالارانو او قوماندانانو ته خبر ورکړ چې ټول تيار او جګړی ته چمتو شي چې لښکر را روان دی. د ښی اړخ پوځ قومانده يې پخپل لاس کې واخيستله او پوځ يې منظم کړ. د دښمن د لښکر په لاره کې یې سمدستی غشی ويشتونکی کينول چې په ناڅاپي توګه هغوی راګير کړی او لومړنی حمله یې نا کامه کړی .

مظفر الدين پدی نه وه خبر چې سلطان صلاح الدين ايوبی زما ښځه لا مخکې خبر شوی او ترتيبات يې نيولی دی، هغه بی غمه را روان وه، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رانژدې شول نو قرارګاه یې ونیوله او د یو ګروپ سپرو په وسیله یې د سلطان صلاح الدین ایوبي په ښي اړخ باندې د حملې کولو حکم ورکړ، سپاره په منډه راخلاص شول خو چې نژدې راورسیدل د لوړو ژورو څخه پرې د غشو باران پیل شو. ډېر کسان پکې ختم شول او نور مخکې ولاړل، د دوی مخې ته سپاره ولاړ وه، هغوی سمدستي ښي او چپ لوري ته منډې کړې او منځ یې خالي کړ، د مظفر الدین سپاره په تش ځای کې ورغلل ولاړل چې مخکې یې هغه یو نیم زر قبرونه وه چې تر اوسه لا مړي پکې نه وه خښ شوي. د سلطان صلاح الدین ایوبي سپاره د هغوی تر شا راتاو شول او حمله یې پرې وکړه تر څو هغوی قبرونو ته ورسوي، کله چې هغوی قبرونو ته ورسیدل آسونه پکې ولویدل او دا راغلې حمله کوونکي ټول همدلته مړه او زخمیان شول، د سلطان صلاح الدین ایوبي سپاره خو خبر وه چې قبرونه دي نو هلته ودریدل.

پدې وخت کې مظفر الدین بله ډله سپاره تر شا پسې را خوشې کړل نو د قبرونو نژدې جګړه پیل شوه چې پدې کې د سلطان صلاح الدین ایوبي ډېر سپاره په قبرونو کې ولویدل.

سلطان صلاح الدین ایوبي د پوځ نورو برخو ته حکم وکړ چې د مظفر الدین په لښکر حمله وکړي او جګړه پیل کړي، هغوی یو له بل سره ونښتل خو د سلطان صلاح الدین ایوبي احتیاطي پوځ لا هماغسې لرې تیار ولاړ وو. هغه چې ولیدل ټول پوځ په جګړه بوخت دی نو د خپل احتیاطي پوځ سالار ته یې حکم وکړ چې د مظفر الدین په لښکر باندې د شا لخوا حمله وکړي او قرار ګاه یې ونیسي. کله چې پلې او سپاره احتیاطي پوځ حمله وکړه نو مظفر الدین ورخطاء شو او تیښته یې وکړه خو د سیف الدین وزیر فخر الدین چې د ماتې څخه وروسته ده ته راغلی او هغه یې جګړې ته هڅولو ژوندی ونیول شو. مظفر الدین میدان خوشې کړ او تیښته یې وکړه.

دا جګړه د شوال په میاشت (۵۷۱ هجري اپریل ۱۱۷۶) کې وشوه چې فتح د سلطان صلاح الدین ایوبي په نصیب شوه او درې لښکرې په پوره او مکمل ډول تباه او برباد شوې. پدې جګړه کې سلطان صلاح الدین ایوبي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډېر زیان ورسیده او د دوه میاشتو لپاره له هر ډول پر مختګ څخه وغورځیده- هغه د دې جګړې څخه وروسته سمدستي مصر او دمشق ته احوال واستاوه چې کومک راولیږي، سلطان صلاح الدین ایوبي پدې ډېر خفه شو چې د هغه په لاره کې خپل مسلمان ورونه خنډ کیږي او د صلیبیانو دفاع کوي .

کله چې متحده لښکرو ماتې وخوړه او ټول ځواک یې ختم شو نو ګمشتګین له بلې لارې څخه کار پیل کړ، هغه د باطني ډلې مشر شیخ سنان ته ورغی ترڅو د خپلو باطني فدایانو په وسیله سلطان صلاح الدین ایوبي ووژني، پدې وخت کې باطنیان د عصیات په کلا کې اوسیدل چې دا سیمه د شام په غرونو کې پرته وه .

* * *

د باطنیانو د مضبوطې او ځواکمنې کلا او ترکمان تر منځ همدا جهنمي دښته موجوده وه چې عبدالباسط او د هغه درې ملګري پکې راګیر شوي وه.

د لمر سترګه پریوتو ته نژدې وه چې د عبدالباسط سترګې خلاصې شوې، هغه چې کله نجونې ولیدې بیا یې په زړه ویره او ډار راغی خو نجونو هغه ډاډه کړ او بیا یې ورته وویل چې خپل ملګري رابیدار کړي .

عبدالباسط هغوی ته وویل چې مونږ د ترکمان په لاره برابرې کړې بیا چې تاسې هرې خواته ځې ولاړې شې، نجونو هغه ته وویل چې ټول شریک او په ګډه خو ځکه چې تاسې لاره ورکولای شې .

عبدالباسط خپل درې واړه ملګري راویښ کړل هغوی هم ویریدلي او ډار شوي معلومیدل .

یوې نجلۍ د آس څخه مشک راخلاص کړ او په هغې کې یې څه واچول بیا یې څلور واړو ته اوبه ورکړې بلې د آس د خورجین څخه خوراکي شیان راواخستل او هغه یې څلور واړو ته ورکړل.

لږ ځنډ وروسته عبدالباسط وویل چې تاسې دا ځای جهنم بللو دا خو شین چمن او ښایسته ګلان دې سپینې اوبه او ښکلې مرغان هرې خواته ګرځي، یوې نجلۍ د بلې څخه پوښتنه وکړه چې عبدالباسط ریښتیا وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته شین چمن، ګلان، او مرغان دي، هغوی دري وارو وویل چې هو! دا ټول شیان شته.

دا د هغو حشیشو او دواء اثر وو چې نجونو په اوبو کې هغوی ته ورکړې وو.

وروسته یوی نجلۍ دوه او بلې هم دوه کسان ځانته رانژدې کړل او دوارو ته یې خپلې سترګې مخامخ کړې بیا یې په خپ اواز وویل: دا ستاسې جنت دی، د دې ګلانو رنګ ته وګورئ، څومره ښې چینې دي او څومره پاکې او صافي اوبه. د نجونو اواز لکه د جادو په شان په څلورو وارو اثر وکړ او هغوی ځمکنی جنت ته داخل شول، دواړه نجونی په آسونو سپرې شوې او عبدالباسط د خپلو ملګرو سره د هر زیات خوشحاله په شین چمن او شنو ګلانو کې روان شو چې په اصل کې هماغه ګرمې او سوځیدونکې دښته او شګې وې. هغوی غوښتل ترکمان ته ولاړ شي خو دوه نجونو په بله لاره روان کړي وه څکه هغوی د ځان او جهان څخه بې غمه روان وه.

ماښام شو او لمر پریوت نو یوی نجلۍ د بلې څخه وپوښتل تا ویل چې نن ټوله شپه سفر کوو او چیرې آرام نکوو، دوی به وکولای شي چې دومره سفر وکړي.

بلې ورته وویل سبا ماښام پورې د عصیات کلاته رسیږو، دومره حشیش مو ورکړیدي چې تر سبا ماښام پورې هغه کار ورکوی دوی تر هغې نه پوهیږي چې نشه یې نه وي لرې شوې. دا د سلطان صلاح الدین ایوبي کماندوی سربښندونکي دي چې په همدې توګه یې ونه رسوو بله چاره او لاره یې نشته.

کشرې مشرې ته وویل چې، دا ستا کمال وو کنه زه خو ورڅخه ویریدم.

مشرې وویل: ما چې کله هغوی ولیدل پوه شوم چې دا د سلطان صلاح الدین ایوبي کسان دي نو څکه ما ځان داسې وښودلو چې مونږ پیریان یو، څکه مسلمانان پیریان منې او په هغوعقیده لري که دا کار مو نه وایی کړی نو پدې جهنم کې به ما او تا هم ورسره سوځیدلی وایی. ما او تا خو د سیف الدین غوندې چالاک سړي په ګوتو نځولې او هغه مو استعمال کړیدی. داسې کسان بې لارې کول خو د هر اسانه کار دی.

کشرې نجلۍ وویل: زه پدې کار کې خپله کامیابی نه ګورم، هر څومره چې کوښښ کوم بیا هم راته دا هر څه چل او دوکه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشري ورته وویل: داسې معلومیږي چې ته به د دی انسانانو لپاره د لوبو وسیله وګرځي، خپل ځان د هغوی څخه ساته او د هغوی عقل پلاس کې اخله، مونږ د صلیب لپاره قرباني ورکوو. خپلو مشرانومونږ ته ویلي چې په مسلمانانو کې د ښه ژوند او واکمنی جذبه را ژوندی کړی بیا هغوی هر ډول کارونو ته لاس اچوی، د جګړې په میدان کې چې یو ځل سیف الدین ددی څرګندونه وکړه چې زمونږ ګټه په دی کې ده چې د سلطان صلاح الدین ایوبی سره روغه وشی نو ما په هماغه شپه د سیف الدین د دماغ څخه د سولې او روغې خبره وویستله او هغه مې جګړې ته چمتو کړ.

ما او تا په صلیب باندی قسم خوړلی چې د صلیب په خاطر به هر ډول هلې ځلې کوو.

کشري ویوښتل: دا څلور کسان باید مونږ بل لوري ته استولي وایي او ته دوی د عصیات کلا ته رسوی، دوی به هلته څه وکړی؟

مشري وویل: زما استاد ویلي وه که چیری تاسې د سلطان صلاح الدین ایوبی کوم کماندو سپایې یا جاسوس ونیولو هغه شیخ سنان ته تسلیم کړی چې هغه یې پخپل لاس تربیه کړی او د همدی خلکو پلاس هغه ووژنی .

د سلطان صلاح الدین ایوبی د وژلو لپاره څو څو ځلې قرباني ورکړل شوی، ډېر فدایان له مینځه تللي خو کامیاب شوی ندی، اوس زمونږ استاذانو دا فیصله کړی چې د هغه خپل کسان باید داسې وروزل شي چې وژلو ته چمتو شي ځکه هغوی هر څه کولای شی .

کشري ویوښتل: ایا په کومه طریقه چې سیف الدین او نور واکمنان تابع شوی په هغه طریقه سلطان صلاح الدین ایوبی نشی تابع کیدای؟

مشري ځواب ورکړ: دا طریقې ډېری ازمویل شوی خو یوی هم ګټه نده کړی ځکه چې سلطان صلاح الدین ایوبی نه د ښځو او نه د زرو سره مینه لري، د هغه په وړاندی یو لوی مقصد او هدف دی او هر څه د هماغه هدف څخه قربانوی. په هغه باندی هم مونږ او هم فدایانو خپلې ټولې لارې چارې تمامی کړی او ناکام شوی یو، ځکه اوس دا آخری چاره ده چې باید وازمویل شي، تر څو چې سلطان صلاح الدین ایوبی ژوندی وي د صلیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمنی په بیت المقدس کې نشی پاتی کیدای نو د صلیب د واکمنی لپاره د هغه وژل حتمی او ضروری دی .

د دوه نجونو او څلورو سرتیرېو کاروان مخ په عصیات روان وه عبدالباسط او د هغه ملګرو په ټوله لاره ترانی زمزمه کولی او مست روان وه، د شګو دا بیدیا او دښته ورته د جنت باغونه او چمنونه ښکاریدل او په ښه خوشحالۍ په کې روان وه هغوی په ټوله لاره په کړس کړس خندل او په سفر هیڅ نه پوهیدل .

* * *

لکه چې مخکې ویلی شوی وه یهودیانو او صلیبیانو خپلی حسینی لونی او خویندی د مسلمانانو د بې لاری لپاره استعمالولی، هغوی په کاروانونو یې له ځان سره وړلی او بیا به یې خپلو صلیبی استاذانو ته سپارلی چې د صلیب د خدمت لپاره یې وروزی، صلیبی استاذانو به هغوی ته د مسلمانانو د بې لاری کولو، غولولو او بد اخلاقی پیدا کولو ټولی لاری چاری ورښودلی .

دا دوه نجونی د همدی نجونو له جملی څخه وی چې صلیبیانو څه وخت مخکې د موصل والی سیف الدین ته په تحفه او ډالۍ کې ور استولی وی. څرنګه چې سیف الدین د سلطان صلاح الدین ایوبی سخت دښمن وو نو صلیبیانو د دی دوه نجونو په وسیله څو کاروانه سرته رسول یو دا چې هلته جاسوسی وکړی او د هغه ځای حالات ټول معلوم کړی، بله دا چې سیف الدین دی ته پری نږدی چې د سلطان صلاح الدین ایوبی سره روغه او سوله وکړی، دریم دا چې د سلطان صلاح الدین ایوبی مخالف واکمنان سره د یو والی او اتحاد پخپلو کې یو د بل مخالف کړی تر څو هغوی هم په راتلوونکې کې د صلیبیانو په خلاف یو ځای نشي، دا چاری یوازی همدی نجونو نه کولی بلکې د ډېری نجونی او نور ایمان پلورونکی کسان هم وه چې د پردی تر شا یې صلیبیانو ته خدمت کاوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې سيف الدين د مخالف لښکر عمومي قوماندان شو نو هغه له ځان سره د عيش او عشرت لپاره شراب او ډېرې نجونې ملګرې کړې چې دوه پکې همدا د تحفې صليبي نجونې هم وې، کله چې صليبي جاسوسان او نجونې پدې پوه شوې چې سيف الدين ماتې خورې نو هغوی د دې دوه نجونو د ويستلو لپاره پلان جوړ کړ ځکه چې دا د صليبيانو قيمتي او ارزښتناکه وسيله وه- سمدستي د صليبيانو ملګرې مسلمانان راغلل او دې دواړو نجونو ته يې دوه آسونه، د خوراک څښاک شيان او د خطر لپاره خنجرونه او حشيش ورکړل چې هر يو ته يې اړتيا پيدا شي هماغه به استعمالوي ، بيا يې نجونې د عصيات د کلا په لورې خوشې کړې چې ځانونه هلته ورسوي، هغوی د يوې ورځې سفر څخه وروسته هماغه دښتې ته ورسيدې چيرې چې د عبدالباسط ملګرې ورسره مخامخ شول څرنګه چې دوې پخپل عادي حال کې وې او عبدالباسط د ګرمي او تندې څخه بې حاله شوی وه نو ځکه دوې د خپل حسن او حشيشو څخه کار واخيست او هغوی څلور واړه يې پرته د څه کړاو خپل ملګرې او پخپله خوښه د ځان سره روان کړل. عبدالباسط او د هغه ملګرو همدا فکر کاوه چې دا حسينې نجونې پيريان دي او زمونږ د لاربښونې لپاره را استول شويدي .

* * *

کله چې په ترکمان کې سلطان صلاح الدين ايوبي مظفر الدين ته ماتې ورکړه نو هغه خپلو سالارانو ته وويل چې اوس جګړه ختمه شوه بايد ټول مال او سامان راټول شي. د مال څلور برخې په سربښندونکو باندې تقسيم او پنځمه برخه يې نيم د مصر او دمشق په غريبو خلکو وويشل شوه او پاتې نيمه برخه يې د نظام الملک مدرسې ته وقف کړه.

جنګي سامان او وسايل د پوځ د راتلوونکې لپاره وساتل شول. ډېر زيات بنديان نيول شوي وه چې ټول روزلي شوي پوځيان او افسران وه، سلطان صلاح الدين ايوبي هغوی ټول يو ځای ته راټول کړل او بيا يې ورته وينا وکړه ويې ويل : شکر دې ټول مسلمانان ياستې خو ستاسې د ماتې اصلي علت دا دې چې تاسې خپل واکمنان د صليبيانو د خدمت لپاره استعمالوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



، د هغوی پلانونه صلیبیان جوړوي، هغوی ته مرسته او کومک صلیبیان ورکوي، دا خو تاسې ټولو ته ځرګنده ده چې صلیبیان نه غواړي مسلمانان سره یو او بیت المقدس د هغوی له لاسه ازاد کړي ، مونږ او تاسې د اسلام د سپیڅلی دین او الله تعالی سرتیري یو هر مسلمان باید د بیت المقدس د ازادي لپاره کار وکړي نو ستاسې څخه زما هیله دا ده چې د یو مسلمان په صفت زمونږ سره یو ځای شی او د بیت المقدس په ازادی او خلاصون کې برخه واخلی او که دا کار مو و نه کړ نو په دنیا او اخرت کې به د ذلت سره مخامخ یاستو .

د سلطان صلاح الدین ایوبی خبرو په بندیانو کې جوش او ولولې راوپارولی ټولو ژمنه وکړه چې مونږ ستاسې سره په جهاد کې برخه اخلو او د بیت المقدس د ازادی لپاره ستاسې سره یو ځای کیږو.

سلطان صلاح الدین ایوبی ته تیار روزل شوي پوځیان په لاس ورغلل ، هغه د پرمختګ لپاره قاهری او دمشق ته هم احوال استولی وه او د ترکمان په جګړه کې ښه پوره جنګی سامان هم پلاس ورغلی وو.

***

د عصیات کلا د شام په پوله او سرحد د غرونو په لړی کې پرته وه چې ښه لویه او نوری کوچنی کلا وی هم ورسره تړلی وی ، پدی کلا کې د حسن بن صبا ځای ناستی شیخ سنان چې شیخ الجبل یې هم ورته ویل اوسیده، پدی کلا کې لږ شانته پوځ هم وه او دا کلاګانی صلیبیانو ورته سپارلی وی. پدی کې به صلیبیان هم راتلل او په ګډه به یې پلانونه سره جوړول.

فدایان چې د شیخ سنان مریدان او حشیش یې خوړل کرایی قاتلان وه چې هر چا به ورته څه ورکړل د هغه لپاره به یې وژل کول .

سلطان نور الدین زنګی هم د همدوی په زهرو شهید شو خو اوس د سلطان صلاح الدین ایوبی د وژلو لپاره د ګمشتګین سره معامله او سودا شوی وه .

سهار وختی د عبدالباسط کاروان د عصیات کلا ته راورسیده څکه چې هغوی په ټوله لاره کې هیڅ ځند ونکړ، د کلا دروازه د مشری نجلی په شفر

(c) kech...on.com: The Digital Library



(ځانګړی لفظ) سره خلاصه شوه، هغوی ننوتل، عبدالباسط څو کسانو ته وسپارل شو او دواړه نجونې د شیخ سنان دربار ته ورغلې .
مشرۍ نجلۍ هغه ته تولـه کیسه وکړه او د سیف الدین ماتې او نورو ځګرو حال یې ورته بیان کړ او بیا یې وویل چې څلور کسان مې ستاسې لپاره ښکار کړي او ستاسې کسانو ته سپارل شوي هم دي .
شیخ سنان د خبرو په وخت کې کشرۍ نجلۍ ته ډېر کتل ځکه چې هغه ډېره حسینه او ښایسته وه، شیخ سنان هغې ته اشاره وکړه چې د هغه سره نژدې کینې کله چې کشره نجلۍ هغه ته نژدې کیناسته نو هغه یې په ویښتانو کې لاسونه ومنډل او لوبې یې ورسره پیل کړې.
بیا یې ورته وویل: زه پوهیږم چې ته نن ډېره ستړې او ستومانه یې نن شپه به زما سره تیروې .
په کشرۍ نجلۍ باندې دا خبره سخته ولګیده چې دا بوډا څرنګه داسې خبره کوي نو هغه ورځخه وړاندې شوه، شیخ سنان هغه د مټ څخه راونیوله او ځان ته یې رانژدې کړه خو کشره نجلۍ په غصې او قهر پورته شوه او ویې ویل : زه د صلیب پالونکې یم او د هغه لپاره قرباني ورکوم نه دا چې بوډا ګان په ما لوبې وکړي !
شیخ پدې خبره ډېر په قهر شو او مشرۍ ته یې وویل دا پوهه کړه چې زه څوک یم او زما سره مخالفت کول او زما سپکاوی کول څومره سخته سزا لري .
مشرۍ وویل: تاسې بې غمه اوسئ زه به یې پوهه کړم او خپله به ستاسې څنګ ته راشي .
دواړه نجونې یوې خونې ته بوتلل شوې او هلته ویدې شوې .
عبدالباسط سره د خپلو ملګرو بلې خونې ته ورسول شو او هلته ویده شول. ډېر ناوخته د عبدالباسط سترګې خلاصې شوې، د هغه څخه نیشه الوتې وه او په خپل حال راغلی وه. هغه راپورته شو او په دروازه کې ودریده. ګوري چې هر لورې پوځیان ګرځي او پوځي کلا ده، د هغه سره شک پیدا شو چې مونږ کومې پوځي کلا ته را استول شوي یو. هغه یوې او بلې خواته وکتل خو پوښتنه کول یې هم مناسب ونه ګڼل پدې وخت کې دوه کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلل او کوټي ته را روان شول عبدالباسط سمدستي ولاړ او پخپل کټ پريوتو او سترګې يې پټې کړې ، دواړه کسان خونې ته ننوتل ګوري چې ټول ويده دي نو يو وويل: تر اوسه ويده دي لکه چې ډېر يې ورباندې ځنبلي دي؟

بل وويل همداسې يې پرېږده چې ښه خوب وکړي .

بل وويل: د دوی په هکله څه فيصله شوی؟

لومړني وويل: دوی د يو مهم کار لپاره روزل کيږي عبدالباسط ټولې خبرې واوريدې اندېښنه يې زياته شو او پدې پوه شو چې مونږ په دوکه او چل باندې نيول شوی يو. هغه په خپل خيال کې د تيښتې په هکله پلانونه جوړول .

نجونې دواړه ويدې شوې خو کشره ډېر زر راويښه شوه او کړکۍ کې کيناسته، هغې په حالاتو غور او فکر کاوه، د شيخ سنان خبرو هغه ډېره اندېښمنه کړې وه. يو ځل يې د سترګو څخه اوښکې راغلې او ويې ژړل چې پدې کې مشره هم راپورته شوه ، هغې تسلي ورکړه چې مونږ د صليب لپاره قرباني ورکوو.

کشرې وويل چې ولې زمونږ مشران د غلو په شان بريدونه او حملې کوي ولې مخامخ جګړه نکوي چې کله د نجونو څخه کار اخلي، کله د فدايانو څخه او ځينې وخت بيا د زهرو څخه هم کار اخلي. هغوی بايد د سلطان صلاح الدين ايوبي پشان دا کسان ووژني او مخامخ جګړه وکړي .

مشرې نجلۍ هغې ته وويل لکه څرنګه چې زمونږ ځوانان په خپلو ميدانونو کې جګړې کوي مونږ هم بايد پخپل ميدان کې د صليب څخه دفاع او ساتنه وکړو دا زمونږ مسئوليت دی .

مشرې کشرې ته وويل چې بايد شيخ سنان ته ورشي او هغه خوشحاله وساتي خو کشرې وويل هغه د غلو، ډاکوانو او کرايي قاتلانو مشر دی ، هغه د دې ور ندی چې زما بدن ته دې لاس رانږدې کړي خو مشرې هغه پدې قانع کړه چې پرته لدې څخه زمونږ چاره نشته د مشرانو همدا حکم دی .

پدې وخت کې دوه کسان راغلل او د دوی څخه يې د عبدالباسط او ملګرو په هکله پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشري ورته تولـه کیسه وکړه چې هغوی مونږ په څه چل او د څه لپاره راوستی دي .

کشري هغوی ته وویل چې ایا مونږ د هغوی سره لیدلای شو. هغوی ورته وویل: دا ستاسي ښکار دی بالکل ورسره لیدلای شی بلکې ستاسی دا مسئولیت دی چې هغوی پخپل جال کې راګیر کړی .

کشره نجلی د عبدالباسط خونی ته ورغله او هلته ورسره په کټ کې کیناسته. عبدالباسط خو پدی پوه شوی وو چې همدی نجونو مونږ ته دوکه راکړه او دلته یې بندیان راوستی یو او اوس راڅخه د مسلمانانو په خلاف کار اخلی. هغه ورته برګ برګ وکتل خو کشره نجلی چې اوس یې احساسات او جذبات بدل شوی وه هغی عبدالباسط ته په خوا خوږۍ سره وکتل او بیا یې ورته وویل: مونږ پیریان نه بلکې انسانان یو، که ته غواړی چې وتښتی نو پر ما باور وکړه .

عبدالباسط ورته وویل: زه چې څه کوم هغه به وکړم خو پر تاسې هیڅ باور نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجلۍ خپل مړې ولیده

عبدالباسط تر اوسه پورې د پیریانو تر اثر لاندې وو او دا کلا ورته د پیریانو او بدو روحونو کلا معلومیده ، کله چې کشرۍ نجلۍ ورته وویل په ما باور وکړه نو د هغه ویره نوره هم زیاته شوه ځکه هغه اوریدلي وه چې پیریان خلکو ته دوکه ورکوي او بیا یې وژني سره د دې چې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبي کماندو پوځي وه کوم چې د مرګ سره یې سترګې جنګولې، صلیبیانو به ویلې چې د سلطان صلاح الدین ایوبي د کماندویانو ځخه مرګ هم ویریږي .

د عبدالباسط ځخه د حشیشو نشه تللې وه او په حقیقت پوه شوی وو ځکه هغه ته همداسې روزنه ورکړل شوې وه.

هغه د کشرۍ نجلۍ ځخه چې د ده سره په کټ باندې ناسته وه وپوښتل: زه په تا څه ډول باور وکړم، ته په ما ولې دومره مهربانه یې؟ مونږ مو ولې دلته راوستي یو؟ دا کوم ځای دی؟

نجلۍ ورته وویل : که ته په ما باندې باور ونکړې نو پای به دې ډېر خرابه وي ته به حیران شي چې ته څوک یې؟

ستا لاسونه به د خپلو ورونو په وینو ککړ شي، خو ته به فکر کوې چې دا ښه کار دی، زه اوس د دې ځواب، نشم درکولای چې زه ولې پر تا مهربانه یم؟ دا ځای عصیات نومیږي، دا د فدایانو کلا ده، دلته د فدایانو او باطنیانو پیغمبر شیخ سنان اوسیږي ، ته خو فدایان پیژنې؟

عبدالباسط وویل : هو! زه فدایان ښه پیژنم، اوس پوه شوم چې ته هم فدایي یې ځکه چې د هغوی سره ستا پشان ښایسته نجونې وي .

کشرۍ نجلۍ وویل : زه د هغوی سره هیڅ اړیکې نلرم زما نوم لزا دی !

عبدالباسط وپوښتل : ستا بله ملګرې څه شوه ؟

لزا وویل : هغه همدلته ده د هغې نوم تیریسیا دی، تاسې مونږ د حشیشو په نشه کې دلته راوستلې پدې وخت کې تیریسیا راغله او په دروازه کې یې لزا ته اشاره وکړه چې د باندې راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیریسیا لزا ته ډېره په قهر شوه چې دلته څه کوی؟ ته نه پوهیږې چې مسلمانان ناپاک دي، تا د هغه سره څه کول او څه خبری دی ورسره وکړی؟
لزا وویل : زما ورسره څه نه وه خو هسی زړه می وغوښتل چې ورسره کینم.
تیریسیا وویل: ته پوهیږی چې د صلیب سره غداری د مرګ سزا لری او ته دا کار اوس کوی، دا خیانت او غداری ده، مونږ د صلیب پالوونکی یو او مسلمانان زمونږ دښمنان دي. زه پوهیږم چې ته خوانه یې او دا سړی خوان او ښایسته دی، زما هم خوښیږي خو خپل مسئولیت باید له یاده ونه باسو.
لزا تیریسیا ته وویل: زه یوازی شیخ سنان ته نه خم کنه یا به خان ووژنم او یا به می هغه وژلی وی ، ما مخکې درته ویلی وه چې زه دا بوډا شیخ نه خوښوم، باید ته د خپل خان او زما د تیښتې یا وتلو لاره برابره کړی ، زه د عبدالباسط څخه دا کار اخلم چې هغه کماندو دی او مونږ دواړه د دی ځای څخه ویستلی شی .
تیریسیا ورته وویل : بی عقلی ! عبدالباسط چې تا وباسی نو د ځان سره به دی خپل ځای ته بوځي، مونږ خو خپل مرکز تر پیولی ته نه رسوی، ولاړه شه، غسل وکړه جامی دی بدلی کړه، نن شپه مونږ او تاسې د شیخ سنان میلمانه یو، هلته ګمشتګین د حرن والی راغلی دی ، هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی لوی او غټ دښمن دی او کیدای شي زمونږ او تاسې لپاره د تللو او وتلو لاره هم برابره کړي. ته باید شیخ سنان ته داسې ښکاره کړی چې ته هغه خوښوی ترڅو کار خراب نشي، اوس باید مونږ ګمشتګین پلاس کې ونیسو ځکه هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی سخت دښمن دی .

***

عبدالباسط خپل ملګري رابیدار کړل او بیا یې ورته وویل چې مونږ او تاسې په چل او دوکه دلته راوړل شوی یو، دا د عصبیات کلا ده چې فدایان پکی اوسیږی ، د فدایانو په هکله هغوی ته پوره معلومات ورکړل شوی وو. نو څکه تول ورخطاء شول، هغوی پدی سوچ او فکر کې شول چې باید لدی ځایه وتښتي .
عبدالباسط هغوی ته وویل: زه به ګورم چې څرنګه کیدای شي د دی ځای څخه ووځو خو تاسې باید ډېر احتیاط وکړی، چې خبره درڅخه ورانه نشی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالباسط وویل: زه پدې شک کې یم چې هغوی به په مختلفو طریقو زمونږ ایمان راښخه واخلي او بیا به مو د مسلمانانو په خلاف استعمالوي

دري واړو ملګرو په کلکه وویل: مونږ هر ډول قرباني او سرښندنې ته تیار یو خو خپل ایمان خرڅولو ته په هیڅ توګه چمتو نه یو، باید مخکې له هغې یا وتښتو یا مړه شو.

ماښام یو کس مشعل راوړ او په خونه کې یې کېښوده او بیرته ولاړ. هغوی خوراک نه وه کړی نو ډیر وږي شوي وه.

شیخ سنان په خپل دربار کې ناست وو، د هغه یو لوري ته لزا او بل لوري ته یې تیریسیا ناسته وه او مخامخ ورته ګمشتګین ناست وو خوراک او څښاک یې کاوه د پادشاهي په سویه دسترخوان وو، هر ډول خوراکونه پکې وه.

ګمشتګین د عبدالباسط څخه یوه ورځ مخکې د عصیات کلا ته رارسیدلی وه، هغه غوښتل د شیخ سنان سره د سلطان صلاح الدین ایوبي د وژلو په هکله سودا وکړي ځکه هغه د خپل ځان په وړاندې غټ او اصلي خنډ سلطان صلاح الدین ایوبي بللو.

ګمشتګین غوښتل سیف الدین، الصالح او نور ټول له مخې لرې کړي او یواځې پادشاه شي، هغه د شیطان پشان ذهن او دماغ لرلو چې هر چا ته یې د شک په سترګه کتل.

خو په لومړي قدم کې یې سلطان صلاح الدین ایوبي په نښه کړی وو، هغه دا ځل غوښتل داسې کار وکړي چې د مخکنی حملو په شان ناکامي نشي ځکه فدایانو په سلطان صلاح الدین ایوبي باندې دوه دري حملې وکړې او ناکامي شوي نو دا ځل باید حمله ډیره کامیابه او بریالۍ وي.

شیخ سنان هغه ته وویل چې ما د سیف الدین او صلیبیانو په خبره باندې خپل څلور تکړه استاذ فدایان استولي چې سلطان صلاح الدین ایوبي ووژني، که دا ناکام شول نو بیا زه د هغه په خلاف هیڅ ډول کار کول نه غواړم.

ګمشتګین وویل: داسې معلومیږي چې له هغه څخه ویریدلی یې؟ د ویرې خبره نده، زما فدایان د هغه د وژلو په هڅه کې ناکام شول، په هغه باندې څو حملې وشوې هیڅ شی پرې اثر نکوي، زه دې پایلې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسیدلی یم چې د هغه په سر د الله پاک لاس دی نو مونږ ولی خپل کسان پری ووژنو.

گمشتگین وویل: دا ځلی تاسې کوښښ وکړی چې هغه ووژل شي څومره قیمت چې غواړی هغه به درکړم!

شیخ سنان ورته وویل: گمشتگین! که ته هغه ووژنی نو هیڅ پلاس نه درځی، ځکه د هغه کورنی او سالاران سره یو دی نو تاته هیڅ نه پاتی کیږي که ته غواړی واکمنی دی پراخه کړی نو سیف الدین ووژنه، هغه ته خپله هم وژلی شي، هغه ته زهر ورکولای شي او د هغه په ولایت موصل باندی خپله واکمنی هم چلولی شي.

گمشتگین ومنله چې دا کار کول پکار دي د هغه وژل باید تر غور او پلان لاندی ونیسو.

گمشتگین شیخ سنان ته وویل چې د سیف الدین په بدل کې څه غواړی؟

شیخ سنان وویل: د حرن کلا ما ته راکړه او خپله موصل ته ولاړ شه.

گمشتگین وخندل وویل: شیخ سنانه! دماغ دي پر ځای دي او کنه! د زرو اندازه ووایه، کلا نشو پریښودلی پدی سره د سیف الدین خبره بیا شاته شوه او د سلطان صلاح الدین ایوبی خبره رامخی ته شوه چې اول باید هغه ووژل شي.

شیخ سنان ورته وویل: لومړی خو کیدای شي زمونږ هغه څلور کسان کامیاب شي او خبره ختمه شي که هغه ونشی نو بیا زما سره د سلطان صلاح الدین ایوبی کماندو پوځیان شته چې دی دواړو راوستی دي هغوی به درته وسپارم - د هغوی څخه ته هم د هر چا په خلاف کار اخیستلای شي.

گمشتگین وویل: د سلطان صلاح الدین ایوبی کماندویان دومره کچه او خام ندی چې زما او ستا په خبره هغه مړ کړی او د بل مسلمان په خلاف زما په خبره عمل وکړی، هغوی ما د دښمن په نامه پیژنی.

شیخ سنان هغه ته ډاډ ورکړ چې مونږ داسې ډېر کسان تیار کړیدی، مونږ دا کسان هم درته تیار وو، ښځی، شراب او حشیش په هر انسان کې بدلون

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولی، ته سره د مسلمانی همدی شیانو اوس دی ته چمتو او برابر کړی یې چې د مسلمان وژلو ته بل خوک په بیه هڅوی .

* * *

ګمشتګین خپلی خونی ته ولاړ، تیریسیا او لزا هم پورته شوی خو شیخ سنان هغی ته وویل ته ولاړه شه او لزا به زما سره نن شپه تیره کړی. تیریسیا ولاړه او لزا یوازی پاتی شوه. شیخ سنان څو ځلی په لزا لاس راکش کړ او غوښتل یې چې مخکې ولاړ شي خو لزا ورڅخه ځان یوی او بلی خواته کولو، پدی کې دروازه خلاصه شوه او یو صلیبی آفسر راننوت، شیخ سنان هغه پیژندلو نو د هغه هر کلی یې وکړ خو هغه ته یې وویل: اوس ناوخته دی سبا به سره ګورو!

صلیبی وویل: زه دا دواړه نجونی له ځان سره بیا یم او د هغوی سره ضروری کار لرم .

شیخ سنان وویل: دا یوه درسره بوزه او دا بله به زما سره دلته شپه تیروي

صلیبی وویل: د دی وظیفه دا نده چې د خلکو سره شپې تیری کړی! شیخ سنان ډېر په غصه وویل : ته زما مخالفت کوي؟ زه د دی سیمی پادشاه یم .

صلیبی په طنز سره ورته وویل: دا کلا او دا هر څه مونږ درکړی که مونږ ستا پلوی ونکړو نو ته دلته یوه شپه هم نشی تیرولای! زه دا دوه نجونی له ځان سره بیایم !

شیخ سنان لږ نرم شو او وی ویل : اوس یې درسره بوځه خو دا به نوره زما سره پاتی کیږي، دا د دی کلا ښځه وتلی نشی!

وروسته صلیبی آفسر ولاړ او دواړه نجونی یې له ځان سره بوتلې. شیخ سنان خپل کسان راوغوښتل او ورته ویې ویل : دا سړی او دا دوه نجونی بندیان ندی خو ازاد هم ندی، پرته له اجازی ښځه نه دوی په کلا کې ګرځیدلی شي او نه له دروازی ښځه وتلی شي، هغوی تر څارنی لاندی وساتئ، که ګمشتګین هغه نوی څلور کسان له ځان سره ورل غواړی نو هر وخت یې بولای شي په هغه څه پابندی نشته. هغه څلور کسان ترڅو پوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ګمشتګین سره ځی ښه یې وساتی، ښه خوراک او څښاک ورکوی چې خفه نشي.

عبدالباسط او نورو ملګرو ته یې ښه خوراک او څښاک خونی ته وروړ، هغوی د خوراک او څښاک څخه انکار وکړ چې پدی کې حشیش دی خو هغوی دا ډاډ ورکړ چې بالکل نشته.

عبدالباسط ته هغوی ښه خوراک او څښاک ورکړ.

صلیبی آفسر د تیریسیا او لزا سره خپلی خونی ته ولاړ چې پدی کلا کې د هغوی لپاره بیلی شوی وی. صلیبیان به دلته تلل راتلل او د همدی کلا څخه یې د جاسوسی د مرکز په حیث کار اخیستلو ځکه چې دا د مسلمانانو سیمو ته نژدی پرته وه. صلیبی آفسر ته وویل شول چې ګمشتګین هم راغلی دی او د شیخ سنان سره د سلطان صلاح الدین ایوبی په سر سودا کوی.

* **

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی سیف الدین او مظفر الدین ته پوره ماتی ورکړه او هغوی دواړه ورک شول نو نیول شوی پوځیان یې د خپل پوځ سره یو ځای کړل او نوی ترتیبات یې ونیول، هغه د قاهری او دمشق څخه کومک هم راوغوښتلو.

هغه غوښتل یو اسلامی هیواد جوړ کړی چې واړه واړه ریاستونه، ولایتونه او کلا ګانی ټولی پکې شاملی وی او د ټولو یو پوځ وی. په همدی خاطر هغه د شا او خوا سیمو ټولو واکمنانو ته بلنه ورکړه چې سره یو شي او د خپل اصلی دښمن صلیبیانو په خلاف وجنګیږی.

مخکې وویل شول چې کله مظفر الدین ماتی وخوړه نو د سیف الدین وزیر فخر الدین هم ونیول شو. سلطان صلاح الدین ایوبی هغه خپلی خیمی ته راوست او په عزت سره یې د ځان سره وساتلو چې هغه شک ونکړی چې بندی دی ، کله چې فخر الدین د سلطان صلاح الدین ایوبی سلوک ، حالات او رویه ولیده نو پخپلو پخوانیو کارونو ډېر پښیمانه شو چې زه خو غلط شوی یم نو د سلطان صلاح الدین ایوبی سره یې د وفاداری او خوا خوږی اقرار او ژمنه وکړه.

د سیف الدین یو وراره عز الدین فرخ شاه د سلطان سره سالار وو.
کله چې سیف الدین ماتی وخوړه او د هغه ځانګړی پادشاهی خیمه
هماغسی ولاړه پاتی شوه نو سلطان صلاح الدین ایوبی عز الدین فرخ شاه
راوغوښت او د کاکا خیمه یې ورته وسپارله چې ته د خپل کاکا وارث یې دا
ستا کیږي. هغه ډېره قیمتی خیمه وه چې د وریښمو څخه جوړه شوی وه.
سلطان صلاح الدین ایوبی د خپل پلان سره سم چې باید یو متحد
اسلامی هیواد جوړ شی نو هغه دری کلا ګانو ته چې د حلب په شا او خوا
کې وی پیغامونه واستول .
یوه کلا د منبج په نامه بله د بوزا په نامه او دریمه د اعزاز په نامه سره.
سلطان ټولو ته یو ډول پیغامونه ولیکل او هغه یې د دری جلا جلا استازو
پوسیله د کلا ګانو امیرانو ته واستول، د منبج کلا پیغام یې د سیف الدین
د وزیر فخر الدین پلاس کوم چې نوی نوی د سلطان صلاح الدین ایوبی
سره بندی نیولی شوی وه واستاوه- کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی هغه
خپل استازی وټاکلو نو هغه ډېر حیران شو چې زه د بندی په حیث نیولی
شوی یم او اوس می د استازی په حیث استوی، نو سلطان صلاح الدین
ایوبی هغه ته وویل: مونږ او تاسې ټول مسلمانان یو ! یو د بل وروڼه دا چې
صلیبیانو سره جلا کړی یو دا د هغوی خبره ده مونږ او تاسې نه بلیدونکی یو.
د بوزا کلا ته یې پیغام د عز الدین پلاس ولیږلو چې د سیف الدین وراره
وو او د اعزاز کلا ته یې د الحمیری په نامه سالار واستاوه.
د بواز او منبج کلا وی دواړه په سوله او روغه سره تسلیم شوی، د هغوی
پوځ د اسلامی پوځ سره یو ځای شو او امیران پخپل خپل ځای پاتی شول.
خو د اعزاز امیر د الحمیری سره بد سلوک وکړ او د سلطان صلاح الدین
ایوبی پیغام یې هغه ته بیرته وروغورځولو او ویی وویل: سلطان صلاح
الدین ایوبی د اسلام په نامه ټول ځایونه نیسی .
الحمیری ورته وویل: ته غواړی د مسلمانانو تر منځ دا جګړه نوره هم
اوږده شي او ګټه یې صلیبیانو ته ورسیږی. زمونږ او تاسې اصلی دښمنان
صلیبیان دي چې په اخر کې ټول هضموی، هغوی چې مخکې دلته له

(c) Kitabton.com: The Digital Library



مسلمانانو سره څه کړي تاسې د هغې څخه ښه خبر یاستې ، هغوی په بیت المقدس کې پرته د کوم توپیر څخه کوچنیان، ښځې او نارینه ووژل، که هغوی اوس هم بر لاسی شي نو بیا ته او زه ورته یو شانته یو- خو د اعزاز امیر هغه ته وویل چې زمونږ اصلی دښمن یوازې سلطان صلاح الدین ایوبی دی او لومړی د هغه ورکول ضروري دي، دا کلا د حلب سره نژدې وه او د حلب واکمنانو هغه هڅولو چې تسلیم نشي .

د اعزاز امیر ، الحمیری ته وویل چې ولاړ شی او سلطان صلاح الدین ایوبی ته ووایی چې په زور دې کلا ونیسی زه نه تسلیمیږم .

سلطان صلاح الدین ایوبی چې کوم پیغام هغوی ته لیږلی وه هغه دا ډول و: زما ګرانه دوسته! مونږ او تاسې ټول د یو الله بندګان، د یو دین منونکی او د یو پیغمبر امتیان یو خو بیا هم تیت پترک او جلا جلا یو، د همدی اختلاف او بې اتفاقی څخه صلیبیان ګټه اخلی او مونږ پخپلو کې سره جنګوی، تر څو چې سره یو ځای او متحد نشو کافران او صلیبیان به پر مونږ ظلم، زور او زیاتی کوی، زمونږ لومړی قبله به د هغوی پلاس کې وي او د مسلمانانو د ورکولو او ختمولو پلانونه به جوړوي. زه تاسې د یوالله تعالی په نامه سره دې ته رابولم چې سره یو ځای شو او د کفر په خلاف په یو صف کې جګړه وکړو، ستاسې امارت به په خپل حال وي یوازې پوځونه به راسره ګډ او شریکوی، زه ستاسې سره دښمنی نلرم، زه یوازې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم په اساس خپل یو اسلامی او متحد هیواد جوړوم .

* * *

صلیبی آفسر او ګمشتګین د لزا او تیریسیا سره یو ځای په خونه کې ناست وه .

آفسر وویل: زه خبر شوی یم چې تا اوس د سلطان صلاح الدین ایوبی پر ځای د سیف الدین پسی پټی رابډ وهلی دی او غواړی هغه ختم کړي .

ګمشتګین وویل: هغه زمونږ هر څه تباه کړل او مونږ یې په ټوله سیمه کې وشرمولو، ما مخکې ویلی وه چې سیف الدین د دی وړ ندی چې هغه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلی قوماندان شي خو چا زما خبره وانه وریده، اوس د هغه ختمول پکار دي کنه یو خل بیا به مونږ تباه کړي .

صلیبي آفسر وویل: سیف الدین دومره مهم سړی ندی، هغه هر وخت ختمیدی شي، کله چې نور الدین زنګی مړ شو تاسې د امارت څخه ازاد واکمن شوی او که سلطان صلاح الدین ایوبی مړ شي نو د هغه لس چنده سیمه به تاسې ته پلاس درشي. کله چې هغه ووژل شي بیا مونږ تاسې ته هر ډول کومک درکوو چې سیف الدین او الصالح هم ختم کړي او په ټوله سیمه کې ستاسې واکمني شي نو لومړی د سلطان صلاح الدین ایوبی کار وکړی.

ګمشتګین وویل: اوس شیخ سنان هم د سلطان صلاح الدین ایوبی د وژلو څخه لاس په سر معلومیږي .

صلیبي وویل : د هغې لامل دا دی چې هغه خپل فدایان ور استوی او هغوی د حشیشو په نشه کې وي، کله چې حمله وکړی نو هغوی بیا هر څه بایلې ، د سلطان صلاح الدین ایوبی وژل هغه څوک کولای شي چې د هغه سره شخصي، دیني یا قومي جذبه وي او هغه خپل دښمن وبولي، فدایان خو د هغه سره دښمني نه لري، هغوی د کرایي قاتلان دي هر څوک وژني نو داسې سخت کار ته هغوی کله تیاریږي. د دی لپاره باید مونږ داسې کسان تیار کړو چې په آسانه هغه ووژلی شي .

ګمشتګین وویل: ماته شیخ سنان د سلطان صلاح الدین ایوبی څلور کماندویان راسپاری ، هغوی د سیف الدین سره پخه دښمني لري نو زه کولای شم د همدی دښمنۍ په اساس په هغوی باندی سیف الدین ووژنم.

صلیبي وویل: ولی دا کسان د سلطان صلاح الدین ایوبی په خلاف نه استعمالوۍ

ګمشتګین وویل: دا کار زه نشم کولای خو که تاسې هغوی دی ته چمتو کولای شی نو دا خو بیا ښه خبره ده.

صلیبي لزا او تیریسیا ته وکتل- لزا وویل: عبدالباسط به زه چمتو کړم او نور کسان دي هغه په غاړه واخلي خو صلیبي وویل یوازې د عبدالباسط تیارول پکار دی نور دری واړه خپله عبدالباسط تیاروی د هغوی تیاری ته اړتیا نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلیبي وویل : شیخ سنان لزا نه پرېږدي، تاسې ټول دی خبرې ته متوجه اوسی چې هغه درڅخه پاتې نه کړی خو ګمشتګین وویل: زه به دا دواړه او څلور کماندویان له ځان سره یو ځای بوځم تاسې پدې هکله هیڅ تشویش مه کوی .

* * *

عبدالباسط او د هغه دری ملګری د پخوانی خونی څخه نوی ځای ته راوستل شول چې هغه یوازی د میلمنو او معتبرو خلکو لپاره وه .

صلیبي آفسر عبدالباسط ته وویل: ته به د نورو څخه په جلا او ښه خونه کې اوسیږې ځکه چې ته د دوی سر ګروپ او قوماندان یې، عبدالباسط د دی خبری د منلو څخه انکار وکړ، هغه وویل: مونږ ټول سره یو شانته یو، زمونږ سلطان زمونږ سره یو شانته سلوک کوی .

صلیبي وویل: مونږ ستا قدر او درناوی کول غواړو ځکه ته د هغوی مشر یې.

عبدالباسط وویل: مونږ میلمانه نه یو بلکې ستاسې سره بندیان او پدی بند کې مونږ ټول یو شانته اوسیږو چې هر څه راځی په ټولو به وی .

مونږ ګناه ته مه مجبوره کوی، بالاخره د عبدالباسط خبره ومنل شوه ګمشتګین وویل: ایا تاسې زمونږ څخه د تیښتی کوښښ کوی؟

عبدالباسط ځواب ورکړ: حتماً کوښښ کوو، دا زمونږ مسئولیت دی چې د دښمن څخه یا په ژوند یا په مرګ ځان خلاص کړو، مونږ د میدان ځوانان یو، که تاسې غواړی چې زمونږ سره ښه وکړی نو مونږ ته دوکه مه راکوی، هر څه چې کوی په ښکاره راته ووایی مونږ د سیف الدین او ګمشتګین پشان ایمان پلورونکی نه یو .

ګمشتګین وویل: زه ګمشتګین یم، تاسې ماته ایمان پلوونکی وایی، حال دا چې زه ستاسې پلوی یم، د سیف الدین او الصالح څخه جدا شوی او دلته راغلی یم .

عبدالباسط وویل : نه یوازی ایمان پلورونکی بلکی غدار هم یې !

ګمشتګین د دوکی لپاره عبدالباسط ته وویل : زه اوس د هغوی ټولو څخه بی زاره یم او تاسې چې دلته ما میلمستون ته راوستی د همدی لپاره چې تاسې د سلطان صلاح الدین ایوبی کماندویان یاستی او زه اوس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پلوی توب کوم، تاسې به دلته ښه په عزت سره اوسیږي او هیڅوک درسره کار نه لري، زه تاسې د دی ځای څخه خلاصوم او خپل ځای ته مو رسوم.

عبدالباسط وویل: په هر صورت زه د خپلو ملګرو سره اوسیږم.

هغوی ته لویه او پراخه خونه ورکړل شوه چې کتهونه پکې پراته وه او ښې نرمې بسترې او بالښتونه پکې اچول شوی وه. هغوی ته یو خدمت کوونکی هم ورکړل شوی وو. هغوی د خپل خادم څخه وپوښتل پدی خونو کې څوک اوسیږي هغه وویل: دلته معتبر خلک راځي او دا میلمستون دي. کله چې هغوی پدی نرمو بسترو پریوتل نو سمدستی ویده شول.

***

صلیبی او ګمشتګین تر ډېر وخته پوری د عبدالباسط سره ناست او غږیدل تر دی چې د هغه احساسات یې راکم کړل. بیا هغه له خونې څخه ووت او غوښتل یې د خپلو ملګرو کوټې ته ولاړ شي چې په برنډه کې یې د یوی ښځی خپ اواز واوریده، هغه لزا وه، هغې عبدالباسط له مټ څخه ونیوه او خبری یې ورسره پیل کړی.

لزا وویل: اوس به ستا یقین راغلی وي چې زه پیری نه بلکې انسانه یم.

عبدالباسط وویل: زه په هیڅ نه پوهیږم چې مونږ له یو لوری بندیان یو او له بل لوري زمونږ سره د شهزادګانو پشان سلوک کیږي.

لزا وویل: دا دوه لاملونه لری لومړی خپله ګمشتګین دی چې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی سره په ظاهره د مخالفت څخه لاس اخیستی نو ځکه ستاسې عزت او قدر کوي.

دویم زه یم چې ستاسې ساتنه او حفاظت کوم.

شیخ سنان پر ما شرط اېښی چې یا به دا څلور کسان په بند کې اچوم یا به ته شپې زما سره تیروی، ما ستاسې لپاره د هغه شرط و منلو ځکه نو هغه اوس ستاسې قدر او عزت کوی.

پدی خبره عبدالباسط تر احسان لاندی راغی چې دی نجلی رېښتیا هم زمونږ سره دومره احسان کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لزا ورته وویل: که ته چیری زما مینه او محبت قبلوی نو زه بیا د هیچا پروا نه لرم.
عبدالباسط ورته وویل: زما او ستا محبت څکه نه کیږي چې ته شهزادګۍ یې او زه بندی یم، د بندی څه حیثیت وی؟
لزا ورته وویل: زه ستا دی حیثیت ته نه ګورم چې ته څوک یې زما ستا د بدن هرغړی خوښیږي او اوس زه پخپل واک کې نه یم، زما زړه نور ستا د محبت او مینی څخه ناقلاره دی او ستا څخه پرته زه ژوند نشم کولای، ایا زما محبت قبلوی او که شیخ سنان ته څواب ورکړم چې هر څه کوی. ما خو ستا په خاطر د هغه شرط منلی دی. په همدی خبرو خبرو کې هغوی د کلا بلی برخی ته ورسیدل چې هلته چمن، ګلان او شنه بوټی وه او هر لوری ته د ګلانو بوی خپور وو چې د انسان ذهن یې تر خپل اثر لاندی راوست.
کله چې هغوی دواړو خبری کولی تیریسیا او صلیبی لری په تیاره کې ولاړ وه او هغوی یې څارل.
تیریسیا صلیبی آفسر ته وویل: لزا اوس هغه تر خپل اثر لاندی راولی او هغه به نرم شی.
صلیبی وویل: لزا بی تجربی او احساساتی ده داسې نه چې کار خراب کړی او مسئله خرابه شی، د هغی داسې کارونو ته وړاندی کول پکار نه وه.
تیریسیا وویل: که څه غلطی وشوه، د هغې سمون بیا زه کوم، تاسې بی غمه اوسی.
لزا عبدالباسط ته وویل: تا له ما څخه پوښتنه کړی وه چې زه په تا باندی دومره ولی مهربانه یم تا ښایی زه خپله دښمنه شمیرلی یم خو دا در ته ویل غواړم چې دښمنی زما او ستا د بادشاهانو تر منځ ده زما او ستا تر منځ به په څه دښمنی وی؟
عبدالباسط وویل: نو دوستی په څه ده؟
لزا یو سوړ اوسیلی وکړ بیا یې لاسونه د عبدالباسط په اوږو کیښوده وی ویل: ته تیره یې ما اوریدلی چې د مسلمانانو زړه د وریښمو په څیر نرم وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین په خپل ځای کېږده خپل ځان مسلمان او ما عیسایي مه شمېره یوازې انسانان وشمېره زمونږ په سینو کې هم زړه دي او ایا ستا په زړه کې کومه هیله شته د کوم څیز سره دي محبت شته او کنه ؟

شته او ضرور شته ! ته نارینه یې په خپل زړه باندې دي وس بر دي خو په ما کې دومره همت نشته زما زړه بې واکه شوی دی او ته مې زړه ته پریوتلی یې ، مونږ ته د نشې په حالت دې کلا ته راوستلي او د شیخ سنان حکم دی چې دا څلور واړه به د بندیخانې په لاندې پوړ کې بند کړې او که ته یې هلته وړې وی نو ستا مړی به د هغه ځای څخه راویستل کیدو نو ما ته ستا په څیر د ښکلي ځوان پای ښه معلوم نه شو، نو مونږ ورته وویل دا ستاسې بندي نه بلکې زمونږ بندي دي .

شیخ سنان وویل : ښه ده خو یو شرط که ته هغه د عذاب څخه خلاصوې نو زما د ویده کیدو کوټې ته راشه .

زما په زړه کې د هغه بوډا په خلاف کرکه پیدا شوه نو ما هغه او دغه وکړه هغه وویل زما د خبرو څخه د سرغړونې انجام ډیر بد دی .

ددې خبرې د اوریدلو سره زما اراده نوره هم پخه شو د ځان سره مې وویل : د عبدالباسط په خاطر د خپل جسم ، ابرو او ځان قرباني ورکولو ته تیاره یم .

عبدالباسط وویل : ایا تا خپله عفت او عصمت قربان کړو ؟

لزا وویل : تر اوسه نه ! خو ما د هغه سره وعده وکړه چې خو شپې ورځې وروسته ستاسې غوښتنه پوره کوم .

شیخ سنان راته وویل : ستاسې په قلعه کې ازاد یاست !

عبدالباسط وویل : زه به ستا د ابرو حفاظت کوم .

لزا وویل : ایا تا زما محبت قبول کړ .

عبدالباسط په مخمور اواز وویل : ما ستا مینه قبوله کړه خو ددې پای به څه وی ؟

دا به راته وایې چې خپل دین پریږده او ما سره واده وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لزا وویل : زه داسی خبره هیڅکله نه کوم ، که تا زما د تل لپاره د ژوندانه د ملګرتیا اراده کړی وی نو زه خپل دین پرینبودلو ته تیاره یم ، زما روح تا غواړی او پرته ستا څخه زما ژوند بی مفهومه دي.

د دې خبرو څخه وروسته لزا عبدالباسط ته وویل چې خپلی خونی ته ولاړ شی داسې نه څوک یې ونیسی.

کله چې لزا خپلی خونی ته ولاړه نو تیریسیا ورڅخه وپوښتل دومره ځنډ دی ولی وکړ؟

لزا وویل: ډېره او کانی دومره زر نرمیږی ؟

تیریسیا ورته وویل: داسې نه چې خپله ورته نرمه شوی وی او زړه دی پری بایللی وي.

لزا وویل : که رښتیا ووایم داسې نارینه زما ډېر خوښیږي چې هغه چاته دوکه نه ورکوي او هر څه یې په صداقت ولاړ وي او عبدالباسط همدا صفات لري.

تریسیا ورته وویل: پام کوه چې خپل زړه پری ونه بایلی، د هغه څخه ځان لری ساته یوازی د محبت وعدی او ژمنی ورکوه او په زړه کې ځای ورنکړې.

تریسیا هغې ته نور چلونه وښودل او بیا دواړه ویدی شوی.

عبدالباسط چې کله د لزا څخه جلا شو او خپلی خونی ته ولاړ نو خوب یې وتښتیده او قلار ناست وو. هغه پدی لیدلو او نورو خبرو غور پیل کړ، هغه ته په روزنه کې ویل شوی وه چې صلیبی نجونی په څه ډول ځوانان بی لاری کوی خو عبدالباسط ته لزا داسې نه ښکاریده نو زړه یې دوه ځایه شو یو لوري ته یې د خپلو استاذانو خبری وی او بل لوری ته یې د لزا مینه او محبت قبول کړی وو.

سبا تریسیا هغه خپلی خونی ته وغوښت او ورته ویی ویل چې بیګا تاسې ولی پرته له اجازی له لزا سره د کلا بلی برخی ته ولاړ وی، زه دا نشم منلی چې یو ځوان دی زما ملګری ته دوکه ورکړی، هغه خو ساده او معصومه نجلی ده، هغه پدی خبرو څه پوهیږي او ته د هغې د کم عمر او بی تجربی توب څخه غلطه ګټه اخلی، هغه دی په ځان پسی بیخی لیونی کړی، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس پرته له ستا ځخه د بل چا نوم نه اخلي او ستا په خاطر یې د شیخ سنان شرط قبول کړی. هغه اوس دا خبرې هم کوي چې زه صلیب د عبدالباسط په خاطر غورځوم او خپل دین هم پرېږدم. داسې نه چې ته اوس هغې ته دوکه ورکړې او بیا یې په نیمه لاره کې خوشې کړې. مونږ ستا قدر او عزت کوو، تاسې د ګمشتګین میلمانه یاستې، هغه ستاسې ډېر خیال ساتي.

د تیریسیا خبرو عبدالباسط نور هم تر خپل اثر لاندې راوست او د هغوی ټولې خبرې یې زړه ته ننوتې، هغه فکر وکړ چې بس د دې نجلۍ هر څه پر ما باندې احسان دی او د هغې خیال باید زه وساتم.

* * *

صلیبي او ګمشتګین په یوه کوټه کې ناست وه، هغه وویل: زه غواړم دا څلور واړه کسان پدې دوه ورځو کې له ځان سره بوځم خو پدې شرط چې دا دواړه لزا او تیریسیا هم راسره ولاړې شي ترڅو چې کار مکمل شي.

صلیبي وویل: زه دوی دواړه له ځان سره بیا یم، مونږ نور کارونه لرو.

ګمشتګین وویل: که ته تیریسیا درسره بوځې سمه ده خو لزا باید زما سره ولاړه شي ځکه عبدالباسط پرته د هغې څخه هیڅ کار نشي کولای.

صلیبي وویل: زه زر ځم ترڅو خپلو واکمنانو ته خبر ورکړم چې د حلب، حرن او موصل واکمنان نور د کار ندي او پرته له تیښتې نور هیڅ کار نشي کولای، د سلطان صلاح الدین ایوبي لپاره بله لاره کتل پکار دي، او څه مرسته چې کیدله هغه هم باید بنده شي.

ګمشتګن وویل: داسې خبره مه کوه، ماته خو تاسې وخت زاکړې چې زه څه کوم، زه په هر صورت سلطان صلاح الدین ایوبي وژنم او بیا دمشق په یوه ورځ کې نیسم.

بلاخره فیصله پدې وشوه چې همدلته پاتې شي او عبدالباسط سره د ملګرو دې خبرې ته تیار کړي چې پخپله سلطان صلاح الدین ایوبي ووژني. لزا ته بیا وویل شول چې زر تر زره په عبدالباسط باندې کار وکړي او هغه تر خپل کنټرول لاندې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلیبی وویل: نن هغوی خوراک او څښاک ته تږول یو ځای راوغواړئ ترڅو تر اثر لاندې راشي. غرمه عبدالباسط او د هغه ملګری خوراک او څښاک ته راغلل، ټولو د هغوی دروند هر کلي وکړ او په دستر خوان باندی کیناستل چې د شیخ سنان یو سړی راغی او صلیبي ته یې وویل: ښاغلیه شیخ تاسی غواړي.

صلیبي شیخ سنان ته ورغی.

شیخ سنان صلیبي ته وویل: تا د نجلی په هکله څه فیصله وکړه، هغه ځواب ورکړ چې زه کله څم هغوی دواړه له ځان سره بوځم.

شیخ سنان ورته وویل: تر څو چې تاسې ځئ نو هغه ماته راوله.

صلیبي ځواب ورکړ: زه همدا نن راونیږم او هغوی بیا یم.

شیخ سنان په قهر وویل: ته ولاړه شه او هغه همدلته پرېږده، هغه په هیڅ ډول له کلا څخه نشي وتلایی.

صلیبي شیخ سنان ته وویل: ته غواړی چې دا کلا لوټې لوټې شي، ستا دماغ خراب ذي، دا زمونږ کلا ده او تاته مو درکړیده، زمونږ مخالفت به تاته ډېر دروند تمام شی.

صلیبي سمدستي بیرته راغی، نورو خوراک او څښاک کولو، چې کله هغه راننوت ډېر پرسیدلی او په قهر وو، هغه ټولو ته وویل: دوستانو! شیخ سنان ماته ګواښ کړیدی. که نن شپه لزا زما خونی ته رانشی نو زه تا په بند کې اچوم او هغه به د تل لپاره زما وي، هغه اوس ما بندی کوی او لزا درڅخه اخلی.

عبدالباسط وویل: ولی مونږ څه مړی درته ښکارو چې زمونږ په موجودیت کې به هغه لزا له ځان سره ساتی.

د عبدالباسط ملګرو وویل: عبدالباسط! دا ستا څه کیږي چې دومره پری ګرم شوی.

ګمشتګین وویل: دا زمونږ د ټولو مسئله ده، د دی لپاره ټول باید تیار اوسو.

ګمشتګین د شیطان پشان دماغ لرلو، هغه سمدستي پلان جوړ کړ. هغه صلیبي ته وویل: ماته شیخ سنان اجازه راکړیده چې دا څلور کسان له ځان

سره بوځم او زه همدا اوس حرکت کوم، تاسې زر زر خوراک او څښاک وکړی، ما په پلان باندی غور کړیدی، هیڅ غم مه کوی، هر څه به سم شي، هغه خپلو ساتوونکو او خدمت کوونکو ته هم خبر ورکړ چې ځانونه تیاری کړی چې حرکت وکړو .

د خوراک او څښاک څخه وروسته ټول سامان او خیمی وتړل شوی آسونه او اوښان برابر شول نو ګمشتګین شیخ سنان ته ورغی او ویی ویل: شیخ سنان! زه تلل غواړم او هغه څلور کسان هم له ځان سره بیا یم .

شیخ سنان وویل: ما د صلیبیانو په خوله په سلطان صلاح الدین ایوبی پسی څلور کسان استولی دي، د هغه کار به وکړی ته پدی څلورو کسانو سیف الدین ووژنه، تاسې نور میدانی جګړه نشی کولای پټ په پټه خپل مخالفین او دښمن وژنه او خپل کار کوه .

ګمشتګین هغه ته د دی څلور کماندویانو بدله او قیمت ورکړ او سودا یې خلاصه کړه .

شیخ سنان ګمشتګین ته وویل: ستا صلیبی دوست او د هغه ښاپیریانی چیری دي ؟

هغه ځواب ورکړ: په خپله خونه کې دي، بیا شیخ سنان وپوښتل: د کوچنی ښاپیری په هکله یې څه ویل ؟

ګمشتګین وویل: هغې ته یې وظیفه ورکړه چې نن شپه خامخا ستاسی خوا ته درشی، هغه ډېره ویریدلی معلومیده، شیخ سنان په کبر سره وویل: دلته غټ غټ واکمنان ویریږي دا خو کوچنی صلیبی افسر دی .

ګمشتګین رخصت را واخیست کاروان د باندی تیار ولاړ وو، هغه په خپل آسپ سپور شوه دوه ساتوونکی ورڅخه مخکې او دوه ورڅخه شاته پداسې ډول روان شول چې برچې یې په لاسونو کې پورته نیولی وی، د ساتوونکو د آسونو پسی عبدالباسط او د هغه ملګری او تر شا د سامان اوښان روان وه. د کلا دروازه خلاصه وه، کاروان له کلا څخه ووت او دروازه بیرته بنده شوه .

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروان د دښتې په لوري روان وو لمر مخ په لویدیځ ښکته کیدو تر دې چې ولویده او ماښام شو، تیاره هر لوري ته خپره شوه، کلا او کاروان دواړه په تیاره کې پټ شول. ماسختن شیخ سنان د خپل ساتونکي څخه وپوښتل: صلیبی هغه نجلی نده راوستې ؟

هغه ویل : نه! لږ څند وروسته یې بیا وپوښتل هغه ورته وویل نده راغلې شیخ سنان څو ځلې د هغې پوښتنه وکړه او هغه به ویل نده راغلې .

شیخ سنان خپل خاص خدمت کوونکی راوغوښت او ورته ویې ویل: ولاړ شه صلیبي ته ووایه چې هغه کشره نجلۍ له ځان سره ماته راولي .

خاص خدمت کوونکی ولاړ، د صلیبي خونې ته ننوت، هلته هیڅوک هم نه وو، د نجونو خونې ته ولاړ هلته هم څوک نه وه. یوې او بلې خونې ته ننوت هلته هم درک نه وو، د کلا دننه هر لوري ته وګرځیده، په ګلانو، چمن او نورو ځایونو کې یې لټون وکړ نه صلیبي وه او نه نجونې، بیا شیخ سنان ته راغی او ویې ویل : د هغوی هیڅ درک نشته، ټول ځایونه مې ورپسې ولټول .

شیخ سنان سمدستي خپل د پوځ قوماندان راوغوښت او هغه ته یې وویل: ټوله کلا پل په پل ولټوی او صلیبي راپیدا کړی، قوماندان سره د خپلو پوځیانو د کلا په لویشت لویشت کې وګرځیده، هیڅ داسې ځای پاتې نشو چې هغوی لټولی نه وی نه صلیبي پیدا شو او نه دواړه نجونې .

شیخ سنان د کلا د دروازې پیره کوونکي راوغوښتل چې نن پرته د ګمشتګین څخه څوک لدې کلا وتلي دي، هغوی وویل: یوازې ګمشتګین د خپلو کسانو سره وتلی بل هیڅوک هم ندی تللی او نه چاته دروازه خلاصه شوې. شیخ سنان په خپله خونه او دربار کې پرسیدلی او په غضب باندې ناست او فکر یې کاوه چې اوس څه وکړي او ولې داسې وشول ؟

د ګمشتګین کاروان همداسې د شپې روان وو تر دې چې ښه لرې او وړاندې ولاړ نو هغه خپل آسپ ودرولو او اوښ والا ته یې وویل: دوی راښکته کړی چې مړه نشي. اوښان ودرول شول او بیا خیمې ورڅخه راښکته شوې، د خیمو په منځ کې صلیبي افسر، لزا او تیریسیا پټ شوي وه چې اوس د خولو څخه ټول لانده وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجوني په اوښانو سپرې شوې او صليبي د عبدالباسط سره روان شو.
صليبي د عبدالباسط سره په لاره کې خبرې او مرکه پيل کړه هغه داسې خبرې او مرکه کوله چې د عبدالباسط له زړه څخه شک ختم او ډاډه شو.
چې کله شپه ښه پخه شوه او د کلا څخه هغوی ډېر زيات لرې شول نو ګمشتګين حکم وکړ چې همدلته کاروان واړوی او شپه تيره کړی، سمدستي خيمې راښکته او ودرول شوې، د ګمشتګين لپاره جلا خيمه ودريدله او د نورو لپاره جلا خو عبدالباسط او ملګري يې په رانه ميدان پريوتل.
عبدالباسط ته خوب نه ورتللو، هغه غوښتل لزا وګوري خو د هغې د ليدلو لپاره څه ډول پلان جوړ کړي په همدې فکر کې وو.
عبدالباسط ته د تيښتې لپاره همدا تر ټولو غوره وخت وو ځکه دښمنان ټول په درانه خوب ويده وه، آسونه ولاړ وه او وسله هم وه، که هغه غوښتلې نو د خپلو ملګرو سره په ډېره اسانتيا سره تللی شو او که غوښتل يې ټول دښمنان يې وژلی هم شول خو هغه د يوې صليبي نجلې په جال او لومه کې داسې نښتی وو چې وطن يې له ياده ووت ، هغه خپل مسئوليت هير کړی وو او يوازې د صليبي نجلې په غم او فکر کې وو، د هغه په دماغ باندې لزا سپره وه.
هغه د لزا د ليدلو لپاره پلان جوړولو چې يو سوری يې وليده، هغه له خپل ځای څخه وښويده او ورانډې ولاړ، دواړه سوری سره يو ځاي شول او سره خبرې او مرکه پيل کړه. د لزا زړه عبدالباسط ته کيناستل بيا يې پخپلو کې هغه يې د زړه له تل څخه خوښولو خو نورو هغه نه پريښوده.
کله چې خيمې ودريدلې او خلک ټول په کار لګيا وه، ګمشتګين لزا ته پټ په غوړ کې وويل: چې کله ټول ويده شو نو زما خيمې ته راشه، زما سره ډېر غوره شراب دي، ماته په خومره کمال سره د شيخ سنان څخه ژوندی راخلاصه کړي، لزا هغه ته هيڅ ځواب ورنکړ او بل لوري ته ولاړه چې بيا صليبي هغې ته وويل: الله تعالی ته له هغه بوډا څناور څخه راخلاصه کړي، کله چې تيريسيا ويده شي نو زما خيمې ته راشه چې جشن ولمانځو. پدې خبرو لزا د خپل بدن او خپل حسن څخه کرکه پيدا شوه، هغه خپلې خيمې ته ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او دواړه پریوتي، لږ ځنډ وروسته تیریسیا په درانه خوب ویده شوه خو لزا ته خوب نه ورتللو، هغه په خپو پښو له خیمي ځخه ووته او د عبدالباسط په لوري ورغلله. بیا دواړه لري ولاړل او هلته د غونډۍ څنګ ته کیناستل.
هغوی پخپلو کې خبري کولي چې ترپا یې واوریده.
عبدالباسط له لزا ځخه وپوښتل داسي معلومیږي چې آسونه را روان دي.
لزا وویل: خامخا شیخ سنان زمونږ او تاسې پسی کسان را استولی دي.
هغوی ټول باید راویښ کړو.
عبدالباسط غونډۍ ته پورته شو ګوري چې اسونه را روان دي او مشعلونه ورسره دي او رانژدې کیږي، لزا او عبدالباسط دواړه خپلو خیمو ته په منډه ولاړل او ټول یې له خوب ځخه رابیدار کړل.
عبدالباسط خپل ملګری له ځان سره واخیستل او د غونډۍ خواته پټ شول. لزا یې هم له ځان سره ملګری کړه. صلیبی، ساتوونکی او د کاروان ټولو کسانو برچي او توري راواخیستی او د مقابلی لپاره تیار شول.

* * *

د شیخ سنان فدایانو کاروان محاصره کړ خو عبدالباسط د خپلو ملګرو او لزا سره مخکې د محاصري ځخه لري وتلی وو، یو فدایی اواز وکړ: دواړه نجونی مونږ ته راکړې نور ستاسې سره کار نلرو، بیا ولاړ شی. په همدی وخت کې عبدالباسط د خپلو ملګرو سره په فدایانو د شا له لوری حمله وکړه او څلور فدایان یې له آسونو ځخه را وغورځول.
عبدالباسط په لوړ اواز وویل: په آسونو سپاره شی او مقابله وکړی، عبدالباسط او د هغه ملګری تکړه او پاخه کماندویان وه، هغوی سخته مقابله پیل کړه، فدایان شپاړس او وه لس کسان وه. په همدی توده جګړه کې ګمشتګین په خپل آس سپور شو او وتښتیده او خپله لاره یې ونیوله، ټول کاروان یې فدایانو ته پرېښوده، خه پلانونه چې یې جوړ کړی وه، هغه ټول ورځنی سره د شرابو او دوه صلیبی نجونو پاتی شول یوازی ځان یې خلاص کړ.
عبدالباسط لزا د ځان پسی سپره کړی وه، فدایانو هغه ولیده نو همدی یې راګیر کړ چې لزا ورځخه تر لاسه کړی، سخته مقابله وه، ځو ځو ځلی یې

(c) ... Digital Library



يو پر بل حملې وکړې، څرنګه چې عبدالباسط پوخ کماندو وو نو فدايانو ورسره سمه مقابله نشوه کولای، بلاخره ټول مړه او زخميان شول څکه چې عبدالباسط ملګرې هم تکړه کماندويان وه، په آخر کې يوازې عبدالباسط او لزا پاتې شول او نور ميدان غلې او چوپ شو.

عبدالباسط چې کله وليدل نو د هغه خپل ملګرې، صليبي افسر او نور ټول مړه شوي وه تيريسيا لا درکه وه.

هغه خپل آس د ستورو په لاربښونه باندې روان کړ او چې کله ښه د کاروان د ځای څخه لرې ولاړ نو آس يې ودرولو او لزا ته يې وويل: لزا! اوس چې ته يوازې پاته شوې نو ووايه چې چيرې دې ورسوم، که ته خپل کور ته ځې نو هم دې رسوم، زه د ځان پروا نلرم.

لزا وويل: نور زه چيرې ولاړه شم بس زه ستا سره ځم چې هر چيرې مې بيايې.

عبدالباسط خپل آس د ستورو په لاربښونه روان کړ او تر سهار پورې يې سفر وکړ، سهار يوې چينې ته ورسيدل، هلته دواړو او آس اوبه وڅښلې او دمه يې برابره کړه.

لزا د چينې څخه يو لورې ته ولاړه او هلته کيناسته، ګورې چې يوې او بلې خواته د انسانانو هډوکې، لاسونه، پښې او سرونه پراته دي هغه د هډوکو په منځ کې کيناسته ګوري چې د يو سر سره نژدې د ښځو ويښتان پراته دي، د غاړې د هډوکو له پاسه د زرو غاړکۍ پرته او په سينه کې يې خنجر ننوتی دی، هغې دې هډوکو ته کتل او په فکر کې ولاړه چې دا به هم زما په شان ښايسته پيغله وه، دې به هم خلکو ته دوکه ورکوله، داسې معلوميږي چې دا څو مړې د نرانو او دا يو د ښځې دی، دوی به هم پخپلو کې وران شوی وی چې اوس يې د ټولو دا حال دی، نو يوه ورځ به زه هم همداسې مړه شم او د دې هډوکو پشان به پرته ووم، ، هغې داسې فکر وکړ چې ګوندې همدا زما مړې او اسکليټ دې نو ډيره وډاره شوه او د خولې څخه يې چيغه ووته، بې سده پريوته عبدالباسط ورمنډه کړه او هغه يې ونيوله.

***

کله چې لزا په سد راغله نو عبدالباسط ورڅخه وپوښتل تا ولې چيغې کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لزا وویل: ما چې کله د سر کوپړۍ ولیده او نور هډوکي مې ولیدل نو ماته څرګنده شوه چې یوه ورځ به ته هم په همداسې حال کې وې، ومې لیدل چې یو ټپوس زما غوښې خوري، یو لیوه زما پوستکي اوباسي او وروسته بیا زما مړی د یو اسکلیټ پشان شي او ماته اواز راغې چې دا دې ستا پای او انجام.

نن چې زما پسې سیف الدین، شیخ سنان، ګمشتګین او صلیبي آفسر کوښښونه کوي دا هسې دوکه او چل دی زمونږ اصل دا دی چې ما په خپلو سترګو ولیده.

عبدالباسط لزا ته وویل: که ته څو ورځې وروسته هغه ځای ته ولاړه شې په کوم ځای کې چې پر مونږ فدایانو حمله وکړه هلته به همدا حال وګوري کوپړۍ به وي، لاسونه او پښې به وي او هرې خواته به اسکلیټونه پراته وي او د تیریسیا اسکلیټ به پداسې حال کې پروت وي چې برچه به پکې ننبتې وي.

حسن او ځواني ټول چل او دوکه ده او د څو ورځو سودا ده چې وروسته بیا هیڅ نه وي، دا ټول د ښځې په جال کې راغلي او مړه شوي، زمونږ کاروان ټول د ښځو په جال او دوکه کې له منځه ولاړ، ستا حسن او جمال د دې ټول کاروان د بربادۍ سبب شو حال دا چې تا خپل اصلیت وپیژندلو.

لزا وویل: عبدالباسطه! زه ستا لپاره دوکه او چل وم، ما تاته دوکه درکوله، ته مو د یو خطرناک کار لپاره تیارولې، ښه وشول چې پر مونږ فدایانو برید وکړ کنه ستا پای او انجام به تر ټولو بدتر او خطر ناک وو.

ګمشتګین غوښتل تا له ځان سره بوځي او هلته دې زما د حسن په جادو باندې خپل کړي او بیا دې د سلطان صلاح الدین ایوبي وژلو ته واستوي.

عبدالباسط وویل: دا هیڅ امکان نلري چې زه دې په غلطو سترګو هغه ته وګورم وژل خو لا څه کوي؟

لزا وویل: ستا پشان ډېر ځوانان مونږ بې لارې کړي او خپل کسان مو پرې وژلي دي، دا ښه شول چې زه ستا لپاره تر اخیره پورې دوکه او چل پاتې نشوم کنه اوس به هر څه ګډ وډ وای.

شیخ سنان ویل چې مونږ څلور کسان مخکې د سلطان صلاح الدین ایوبي د وژلو لپاره لیږلي که هغوی ناکام شول نو بیا د عبدالباسط څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار واخلي ځکه که دا کامیاب شو بیا کنه دوی خو به ووژل شي چې په دواړو لورو کې زمونږ گټه ده .

عبدالباسط د لزا څخه وپوښتل: ایا ته هغه څلور کسان پیژنې یا څه نښانې درته څرگندې دي کنه ؟

لزا وویل: یوازې زما په مخ کې د هغوی یادونه وشوه نور څه ندي ویل شوي خو هغوی مخکې راغلي او اوس به یې کار کړی وي.

عبدالباسط سمدستي پخپل اسپ پښه واړوله او لزا یې هم د ځان سره سپره کړه تر څو سلطان صلاح الدین ایوبي د دې لوی او غټې دسیسې څخه خبر کړي .

* * *

عبدالباسط د لزا سره په آس سپور او پدې کوښښ کې وو چې زر تر زره سلطان صلاح الدین ایوبي ته خبر ورکړي چې څلور فدایان ستاسې په لټه کې هم دوی او هم آس دواړه کسان نښول ورلای، ځکه نو په لاره غوښتل ځان ورسوي ، یو ځل لزا هغه ته عذر وکړ چې د شپې لږ آرام وکړي خو هغه ورته وویل: زما او ستا څخه د سلطان ژوند ډېر مهم دی که هغه ووژل شي نو د دې قاتل به زه وم .

* **

کله چې د اعزاز امیر سلطان صلاح الدین ایوبي ته سخت او منفي ځواب ورکړ نو هغه پرې ډېر په قهر او خفه شو. هغه سمدستي خپل جاسوسان او د خارنې گروپ اعزاز ته واستولو تر څو حالات وگوري او خپله هم هغې خوا ته ولاړ چې د محاصرې لپاره مناسب پلان جوړ کړي، هغه د اعزاز په شا او خوا میدانونو کې گرځیده تر څو د پوځ لپاره داسې ځایونه غوره کړي چې هم جگړه وشي او هم یې زیان کم وي .

په سلطان صلاح الدین ایوبي باندې د دې څخه مخکې هم څو حملې شوي وي او هغه ټولې ناکامې شوې او اوس بیا هم د دې خطر موجود وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور کسان د ځائي خلکو په جامو او لباس کې هر لورې ته ګرځیدل، هغوی سلطان تر سترګو او نظر لاندې ساتلې وه چې که چیرې موقع برابره شي نو حمله پرې وکړي - دا هماغه څلور فدایان وه چې د عصیات له کلا څخه شیخ سنان رالیږلي وه، هغوی د ورځې په لوړو ژورو ګرځیدل او د شپې به ځنګل ته تلل، هغوی څو ځلې خپل پلانونه بدل را بدل کړل ځکه چې حالات بدلیدل.

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د اعزازکلاته ورسیده او د مور چلونو د لیدلو لپاره ولاړ نو خپل ساتوونکي او آس یې پدې خاطر پریښودل چې څوک یې ونه پیژني، هغه د بل چا په آس سپور شو، یوې غونډۍ ته پورته شو، هلته ودریده، هرې خواته یې وکتل، بیا په آس سپور شو او بلې خواته ولاړ، هلته یې وکتل او بیا راښکته شو. څلور فدایانو هغه له لرې څخه څارلو چې وخت برابر شي او حمله پرې وکړي، هغه به چې هر لورې ته تللو دوی به ورپسې په پټه ورتلل، د هغه ساتونکي څو سوه ګزه ورڅخه لرې وه. حسن بن عبدالله هغه ته څو ځلې ویلې وه چې یوازې باید چیرې ولاړ نشي خو هغه به ویل کله چې زما د مرګ فیصله الله تعالی وکړي هیڅوک یې نشي ځنډولای، او که هغه فیصله نه وي کړې نو هیڅوک ما نشي وژلای، ته بالکل بې غمه اوسه زما مرګ او ژوند نه د فدایانو پلاس کې دی او نه د صلیبیانو!

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د غونډۍ څخه راښکته شو او په آس یې پښه واړوله یو فدای د لوی خنجر سره په هغه حمله وکړه خو هغه وار خطا کړ پدې وخت کې د شاله لورې بل پرې راغلی او حمله یې پرې وکړه چې هغه په خپیره باندې دومره کلک ووهلو چې مخ په خټ پریوتو، بیا دوه نور راپیدا شول او پر هغه یې حملې پیل کړې، په همدې وخت کې د سلطان صلاح الدین ایوبی ساتوونکو ولیدل چې د هغه څخه څلور کسان راتاوْ دی او هغه یې په منځ کې راګیر کړی، د سترګو په رپ کې سپاره ور ورسیدل، یو فدایي د آسونو تر پښو لاندې شو، دوه یې ووژل او د څلورم په هکله سلطان صلاح الدین ایوبی وویل چې هغه دې ژوندی ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فدايي د نيولو سره وويل چې مونږ د عصيات له كلا څخه شيخ سنان را استولي يو. هغه مونږ ته وظيفه راكړې وه چې سلطان صلاح الدين ايوبي ووژنو. دا حمله د مې په مياشت ۱۱۷۶ ذي القعده ۵۷۱ هجري كې وشوه بيا همدا فداي حسن بن عبدالله ته وسپارل شو ترڅو پوره معلومات ورڅخه واخلي هغه د فداي څخه د عصيات د كلا په هكله پوره معلومات واخيستلو.

په همدې ورځ مابنام عبدالباسط د لزا سره خپل لښكر ته راورسيده او د حسن بن عبدالله سره يې وكتل. هغه ټول حالات ورڅخه واوريدل او بيا يې سلطان صلاح الدين ايوبي ته وروست، عبدالباسط ټوله كيسه ورته وكړه او د عصيات په هكله يې هم معلومات وركړ.

سلطان صلاح الدين ايوبي حكم وكړ چې لزا ازاده كړي هر چير ته چې اوسيدل غواړي مخه يې مه نيسي. هغې د عبدالباسط سره اوسيدل خوښ كړل نو بيا يې هغه دمشق ته واستوله چې د سلطان نور الدين زنگي د كونډې تر لاس لاندې څه وخت تير كړي. دا شان ښځې به هلته اوسيدلې تر څو يې ښه څارنه وشي چې اصلاح شوي او كه څه پلان ورسره شته دي.

***

سلطان د فدايي او عبدالباسط د خبرو څخه وروسته فيصله وكړه چې د عصيات كلا نيول ضروري دي ځكه چې دا به د دوي لپاره يوه ورځ ستونزې پيدا كړي، هغه خپل سالاران راوغوښتل او ورته ويې ويل چې ځانونه تيار كړي چې سبا مابنام بايد د عصيات په لوري حركت وكړو.

هلته شيخ سنان ډېر په قهر او غصه وه ځكه چې گمشتگين ورسره چل او دوكه كړې وه، شيخ سنان چې څومره كسان د كاروان پسې استولي وه په هغوی كې دوه ژوندي راغلل او نور ټول مړه شول، هغوی د ځان سره تيريسيا هم راوستې وه، شيخ خو لزا غوښتله نو هغه يې په بند كې واچوله.

يوه ورځ د غرمې نه وروسته د عصيات د كلا پيره كوونكو ډېر لرې گرد وليده چې د كلا په لوري را نژدې كيده، لږ ځنډ وروسته د هغې څخه سپاره رابښكاره شول چې ورپسې پلي او پياده پوځ هم وو، پيره كوونكو سمدستي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سالار او شیخ سنان ته خبر ورکړ چې د کلا په لوري پوځ را روان دی،
سالار، قوماندانان او شیخ سنان په دیوالونو ودریدل چې څوک را روان دی.
لښکر رانږدې شو. شیخ سنان خپل ټول کسان په دیوالونو ودرول خو
هغوی ته یې وویل چې ترڅو حال نه وي معلوم شوی باید حمله ونکړي.
د سلطان صلاح الدین ایوبی په لښکر کې عبدالباسط هم وه کوم چې د
کلا ټول حالات ورته څرګند او معلوم وه، هغه ته د شیخ سنان د قصر او
ماڼۍ نقشه یاده وه. هغه دوه منجنیقونه ولګول او خپل لښکر یې د کلا
څخه راتاو کړ، منجنیق یوه لویه ډبره د شیخ سنان په قصر باندی وویشته
چې په دیوالونو کې درز پیدا شو، وروسته د اور اچوونکی کیمیاوی مادی
منګی کلاته وویشتل شول چې کیمیاوی ماده هر لوری ته خپره شوه- لږ
څنډ وروسته د شیخ سنان ټول قصر د اور په لمبو کې پټ شو. د آور لمبې
چې شیخ سنان او فدایانو ولیدی نو سترګی یې خلاصی شوی او سپین
بیرغ یې په کلا باندی پورته کړ جګړه بنده شو. سلطان صلاح الدین ایوبی
حکم وکړ چې شیخ سنان دی خپله د باندی راوځي، لږ څنډ وروسته شیخ
سنان د خپل سالار سره راووت او د هغه په وړاندی ودریده.

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: ای شیخ سنانه څه غواړې؟

شیخ سنان وویل: د ځان او عصیات کلا خلکو لپاره د سراو مال امن!

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: تاسی او ستاسی ملګری ددی ځای
څخه خالی لاسونه تللی شی خو د مسلمانانو په سیمی کې به ژوند نه کوی
صلیبیانو ته ورشی چې هغوی ستاسی تود هرکلی وکړی او واوری چې ددی
وروسته به ځانونو ته مسلمانان نه وایی!

یو د خوښی زیری هم درکول غواړم او هغه دا چې ستا په لارښونه څو ځله
پر ما حملی وشوی او هغه څلور کسان چې اوس اوس دی رالیږلی وه هغه
هم ووژل شول که بیا دی څه وکړل نو په مدیترانه کې دی سره د خپلو ټولو
کسانو ډبوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ سنان بیا عذر وکړ خو سلطان صلاح الدین ایوبی ورته وویل ستا همدومره لحاظ بس دی چې ژوندی پاتې شی، سمدستی خپل ټول کسان د کلا څخه همداسی وچ ککړ وباسه.

شیخ سنان تر ماښام پوری خپل ټول کسان سر ټیټی او خالی لاس د کلا څخه وویستل او د صلیبی سیمو په لوری روان شو.

سلطان صلاح الدین ایوبی کلا خپل یو سالار ته وسپارله او خپله په همدی شپه بیرته د اعزاز په لوری راوخوځیده، هغه نور صبر نشو کولای ځکه باید پر مختګ وکړی او ایمان پلورونکی د اسلامی هیواد له خاوری څخه وباسی او بیا د صلیبی داړه مارانو په خلاف ګامونه پورته کړی.

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبی خان د اعزاز کلا ته ورساوه او هغه یې محاصره کړه، یوه ورځ او ټوله شپه جګړه وشوه، د دیوال نړولو یې ځو ځلی کوښښ وکړ خو څه ونه شول. په سبا ورځ لوی منجنیق نصب شو او په دروازه یې لوئی لوئی ډبری ویشتل پیل کړل د دی په خوا کې اور اچوونکی کیمیاوی ماده هم په دروازه استعمال شوه چې هغې اور واخیست او لړ لړ سوځیدله بلاخره د دروازی لرګی وسوځیده، او د اوسپنی چوکات یې پاتی شو، چې د هغې څخه پیاده تریدلایی شول خو سپاره نشول ننوتلای.

سلطان صلاح الدین ایوبی حکم وکړ چې پیاده کلا ته ننوځی، پیاده په منډه شول او په همدی دروازه کلا ته ننوتل. د کلا په منځ او دروازه کې سخت جنګ ونښت او په همدی وخت کې دروازه هم مکمله خلاصه شوه چې وروسته وریسی سپاره هم ورغلل، له جګړی څخه وروسته کلا پوځ وسله وغورځوله او کلا تسلیم شوه.

هغه وخت چې په اعزاز کې جګړه روانه وه، سیف الدین، ګمشتګین او الملک الصالح دری واړه سره کیناستل چې د اعزاز او حلب په هکله پلان جوړ کړی خو د سیف الدین او ګمشتګین په منځ کې خبری ګرمی شوی، ګمشتګین سیف الدین ته وویل چې نور ته د ژوند حق نلری، سیف الدین بدی خبره خپل پوځ راټول کړ او د موصل په لوری وخوځیده، هلته د اعزاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلا هم تسلیم شوه - الملک الصالح چې کله د ګمشتګین سلوک او رویه ولیده نو په هغه باندي شکمن شو سمدستي يې بندي کړ او بیا يې دوه دري ورځي وروسته ووژلو. په همدي وخت کې سلطان صلاح الدین ایوبي حلب محاصره کړ.

یوه ورځ محاصره روانه وه چې سلطان صلاح الدین ایوبي ته خبر ورکړل شو چې د سلطان نور الدین زنګي لور ستاسې سره ګوري- د سلطان نور الدین زنګي لور چې پدي وخت کې لس کلنه وه، هغه په اس سپره وه دوه سالارن هم ورسره وه راغله.

سلطان صلاح الدین ایوبي هغه په غیږ کې ونیوله او ډېر يې ورته وژړل. بیا د نور الدین زنګي لور شمس النساء سلطان صلاح الدین ایوبي ته د خپل ورور الصالح پیغام وړاندي کړ چې په هغې کې يې د خپل اطاعت او تسلیمي وړاندیز کړی وو.

شمس النساء سلطان صلاح الدین ایوبي ته وویل: ماما جانه! مونږ ته د اعزاز کلا او حلب دواړه راکړه مونږ ستا سره بیا جګړه نه کوو.

سلطان صلاح الدین ایوبي سمدستي حکم وکړ چې د اعزاز څخه خپل پوځ وباسي او د حلب محاصره ختمه کړي، دا دواړه ښارونه او کلا ګانی د شمس النساء لپاره خوشي کوم.

الملک الصالح د حلب او اعزاز د آمیر په حیث پاتي شو.

الملک الصالح هغه ته دا هم لیکلي وه چې د حرن کلا هم ستاسې شوه ځکه چې ګمشتګین ووژل شو.

څو ورځي وروسته سیف الدین هم د سلطان صلاح الدین ایوبي اطاعت قبول کړ او موصل هم د اسلامي هیواد برخه وګرځیدله، د همدي تسلیمي څخه وروسته مصر او شام ټول د سلطان صلاح الدین ایوبي تر بیرغ لاندي راغلل او کورنۍ جګړه ختمه شوه خو ایمان پلورونکي لا هماغسي د پردي لاندي پخپل کار او پلانونو باندي بوخت وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپه، روح او روښنايي

د حمات څخه تر حلب پوري ټوله سيمه او علاقه ډېره ښكلي، ښايسته او شنه چې هر وخت د ليدلو وړ وي. پدې سيمه كې د يو نيم كال جنګونو په لړ كې دري لويې لويې هديرې جوړې شوې وې چې د قبرونو حساب يې نشو كيداى.

په يوه هديره كې قبرونه څه لوړ او څه ټيټ ، څه زاړه او څه نوي وه، په ځينو شګې او په ځينو خاورې پرتې وې، يو ځاى كې څو كسان ولاړ وه چې يو آمام هم ورسره وو او فاتحه يې لوسته، آمام په ژړا وو او د سترګو څخه يې اوښكې رواني وې، هغه ويل: د يو الله تعالى منوونكي، د يو دين كلمه ويوونكي او د يو رسول امتيان د نورو په اشارو سره يو د بل ويني تويوي او د كفر څخه دفاع كوي، يو د كفر په خوا كې ولاړ دى او د خپلې واكمنې او مال لپاره يې د مسلمانانو لاره ډپ كړې، د خپل قومي، ژبني او شخصي ګټو لپاره د صليبيانو پلوي او دفاع كوي، كه دوى پخپلو كې سره نه وي اړم شوي او د يو بل لاره يې نه وايي نيولې اوس به د مسلمانانو لومړى قبله بيت المقدس ازاد واى .

پدې وخت كې د آسونو ترپا واوريدل شوه، يو پوځي وويل: سلطان صلاح الدين ايوبى را روان دى!

سلطان صلاح الدين ايوبى د خپلو ساتوونكو سره هديرې ته راغى، د آس څخه راښكته شو او د امام په څنګ كې ودريده او د دعا لپاره يې لاسونه پورته كړل تر دعا وروسته يې ټولو ته لاسونه وركړل .

امام وويل: ښاغلى سلطان! تاسې زموږ شهيدان او د هغوى مړې سره يو ځاى خښ كړې حال دا چې زموږ شهيدان او د هغوى معلومات نشته !

سلطان صلاح الدين ايوبى وويل: زموږ كسان خو د حق په خاطر وجنګيدل خو په هغوى كې داسې كسان وه چې خپلو واكمنانو ورته په سترګو پټې لګولې وې او له حقيقت څخه خبر نه وه او هغوى په ښه نيت باندې دلته راغلي وه نو ځكه ما د هغوى د احترام او عزت په خاطر په يوه هديره كې سره خښ كړل زه نه غواړم د هغوى توهين او سپكاوى وشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی مسلمانان دی او د اخرت معامله یې د الله تعالی سره ده، د هغوی واکمنانو دوی په غلطه لاره د کفر د خدمت لپاره استعمال کړل.
دا دومره کسان چې پدی جګړو کې ووژل شول د دی خساب به خامخا د اخرت په ورځ اخیستل کیږي، ما ټولو واکمنانو ته خو څو ځلی پیغامونه لیږلی په هغوی مو غاړه خلاصه کړی، اوس مو چې کوم کسان بندیان نیولی وه هغوی ته مو ټول شیان څرګند کړل او هغوی راسره ملګری شول خو واکمنان یې اوس هم د صلیبی مرستو، نجونو او شرابو په نیشه کې مست دی او سره د دی ټولو ماتو یې بیا هم د دښمنی لاره نه پریښودله تر هغې چې الله پاک هغوی داسې رسوا کړل چې څوک ورسره نور پاتی نشول.
یو سالار وویل: شکر دی اوس خو کورنی جګړې او شخړې پای ته ورسیدی او نور به د لومړی قبلی لاره خلاصه شي.
سلطان وویل: شیخ سنان او صلیبیان چیری په قلاره کینی هغوی اوس بیا په مصر کې مشکلات راپیدا کړی زمونږ دوه سالاران پداسې توګه مړه شوی چې هیڅ زخم وربانده نشته چې د دی څخه معلومیږي هغوی ته فدایانو زهر ورکړی دی. له مصر څخه ماته ډېر خراب خبرونه راځی زه به یو ځل بیا هلته څم خو د صلیبیانو دا خوب به رېښتیا نکړم چې هغوی ما په مصر کې بوخت کړی او بیت المقدس راڅخه وساتی.

***

هغه وخت چې سلطان د اعزاز په هدیره کې فاتحه او دعا لوستله په همدی ورځ (۱۱۷۶) میلادی کې شیخ سنان دلبنان تریپولی ته ورسیده. پدی وخت کې د دی ځای واکمن ریمانډ وو. کله چې هغه د شیخ سنان او فدایانو د ماتې او راتللو څخه خبر شو نو د صلیبیانو مهم چارواکی یې راوغوښتل تر څو د سلطان صلاح الدین ایوبی په هکله نوی پلانونه جوړ کړی چې پدوی کې مهم سړی هرمن جرمنی وو چې د جاسوسی په کارونو کې یې پوره پوهه او مهارت درلوده.
شیخ سنان وویل: تاسې ما باید پدی ملامت نکړی چې ولی دی عصیات سلطان صلاح الدین ایوبی ته تسلیم کړ او مقابله دی ونکړه، دا تاسې ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته معلومه ده چې د سلطان صلاح الدین ایوبی سره لویو لویو لښکرو هم مقابله ونشوه کړای نو زمونږ فدایان خو د هغوی ټولو څخه کمزوري دي.

ریمانډ وویل: دا په مونږ پورې اړه لري چې مونږ د هغه سره څه کوو، تر څو چې څومره کسان هلته استولي هغه ټول ناکام شول، د دې علت دا دی چې ته بې کاره کسان د هغه د وژلو لپاره استوې، داسې معلومیږي چې زمونږ ټول مصارف او کومکونه هسې ولاړل.

شیخ سنان وویل: یوازې په سلطان صلاح الدین ایوبی څه کیږي، ما په مصر کې د هغه دوه چارواکي ووژل، په سوډان کې ستاسې درې ځواکمن مخالفین وه هغه مې ووژل، په حلب کې دوه سالاران د سلطان صلاح الدین ایوبی پلویان شوي وه هغوی مې ختم کړل او اوس په مصر کې د چارواکو پټ وژل پیل شویدي ایا دا ټول تاسې ناکام بولې؟

یو فرانسوي لوزنیان وویل: سلطان صلاح الدین ایوبی به کله وژل کیږي؟

هغه زهر چې تا سلطان نور الدین زنګي ته ورکړي وه هغه به څه وخت سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورکوې؟

شیخ سنان وویل: سلطان نور الدین زنګي د زلزلې په ورځو کې لالهانده ګرځیده او د خپل ځان څخه بې پروا وو نو ځکه مونږ هغه ته په زهر ورکولو کې کامیاب شو خو سلطان صلاح الدین ایوبی ته زهر ورکول هیڅ امکان نلري.

یو صلیبي سالار وپوښتل: ایا د سلطان صلاح الدین ایوبی خوراک برابرونکي نه اخیستل کیږي؟

شیخ سنان هرمن ته اشاره وکړه چې د دې پوښتنې ځواب به هرمن درکړي.

هرمن وویل: مونږ پدې هکله ډېر کوښښونه کړي خو هیڅ کامیاب نشو، د هغې علت دا دی چې د سلطان صلاح الدین ایوبی ټول کسان د هغه مریدان او مخلص خلک دي، هغه خپل مرګ قبلوي خو د خپل پیر او مرشد ناروغي ته هم تیار ندي. په هغوی کې څو پاخه پاخه کسان شته چې زمونږ هر پلان ناکاموي چې په هغې کې علي بن سفیان، حسن بن عبدالله، غیاث بلبیس او زاهدان شامل دي هغوی دومره تکړه دي چې د انسان باطن او روح ته ځان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلپ اګستس وويل: اصلاً مونږ بايد اسلام ختم کړو ځکه چې دا ټول د هماغه دين کار دی، که مونږ د مسلمانانو ايمان او دين خراب کړ او د هغوی عقيدې مو خرابی کړی بيا هر څه کار پری کيدای شي. څرنګه چې د پخو او مشرانو خلکو عقيده بدلون ګران دي نو مونږ بايد کوچنيان او د خام عمر کسان تر روزنی لاندې ونيسو او هغوی پخپل رنګ کې رنګ کړو.

هرمن وويل: دا کار يهوديان کوي او د دی کار پايلې لږ په ځنډ باندی راوځي، سمدستی د هغې څخه کاميابی غوښتل امکان نلري، مونږ هم تر هغوی وروسته نه يو پدی هکله مو يو پلان جوړ کړی او عملی ګامونه مو هم پورته کړی چې پايلې يې اوس لږ لږ ښکاره شويدی.

فلپ اګستس وويل: دا کار بايد پرله پسی روان وی، کيدايی شي مونږ يې په خپل ژوند کې پايلې ونه ګورو خو راتلوونکی نسل بايد هغه وګوري، که دا کار وشو نو صليب به غالب شي او مسلمانان به هسی تش په نامه پاتی شي چې ټول به زمونږ غلامان وی.

ريمانډ وويل: شيخ سنان! مونږ تاته هر ډول کومک او مرسته درکوو خو کلا درته نشو سپارلی، تاسې بايد خپلو کارونو ته په مصر کې زور ورکړی چې د سلطان صلاح الدين ايوبی پام هغې خواته واوړی، او خپله د هغه د وژلو ډېر زيات کوښښ وکړی.

شيخ سنان وويل: زه درته په څرګنده وايم چې نور د سلطان صلاح الدين ايوبی په خلاف يو ګام هم نشم پورته کولی، په هغه باندی ما خپل ډېر قيمتی کسان ضايع کړل او زما سره هغه د عصيات په کلا کې ډېر احسان کړی، ما خو ځلی په هغه باندی حملی وکړی خو سره د دی ټولو هغه زه خوشی کړم، زه د هر چا وژلو ته چمتو يم خو د سلطان صلاح الدين ايوبی د وژلو څخه ښښنه غواړم.

هرمن وويل: مونږ اوس په قاهره کې داسې حالات راپيدا کړی چې سلطان صلاح الدين ايوبی د هغې څخه بلې خواته نشی تللی، په سوډان کې مو کسان برابر کړی چې په مصر باندی وړی وړی او کماندوی حملی وکړی او مصريان تل بوخت وساتی.

پدې کانفرانس او غونډه کې چې څومره فیصلې وشوې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی دوه جاسوسانو واورېدې چې د دې غونډې خدمت کوونکی وه، پدې خدمت کوونکو کې یو وکټر نومیده چې فرانسوی وو، د هغه وظیفه د شرابو راوړل او ویشل وه او بل پکې یو ترکی وو چې راشد چنګیز نومیده خو هغه خپل ځان یونانی عیسایې معرفی کړی وو. هغوی دواړه د مهمو غونډو خدمت کوونکی وه. دوی به چې څه اورېدل هغه به یې سمدستی سلطان صلاح الدین ایوبی ته رسول، د دې غونډې ټول معلومات هغوی دواړو اخیستی وه دا دوه کسان هرمن بنه چاڼ کړی وه خو بیا هم ورڅخه تیر شول.

* * *

په قاهره کې وران کاری او وژنې زیاتې شوې وې، د مصری پوځ د یو نائب سالار معاون د کور څخه د باندې کړي پیدا شو- هغه ماښام له کوره وتلی او تر سهار پورې کورته رانغی، سهار یې مړی د باندې پیدا شو چې د ده او د دوه نورو کسانو د پښو نښانونه هلته ولیدل شول. د هغه د ملګرو، دوستانو او نورو خلکو څخه پوښتنې وشوې خو هیڅ شک په چا ونشو او نه وژونکی معلوم شو.

دوه درې ورځې وروسته د همدې رتبې یو بل پوځی آفسر مړ پیدا شو چې په خپله خونه کې پروت وو، د هغه په هکله پوره لټون او تحقیقات وشول خو هیڅ پایله یې نه درلوده، د هغه د مړي په شونډو لږ شانته ځګ پروت وو چې هغه ځګ سپی ته ورکړل شو نو د نیمې ورځې څخه وروسته هغه له منځه ولاړ، د دې څخه معلومه شوه چې دې کسانو ته زهر ورکړل شوی وه، داسې زهر چې خوند او رنګ یې نه درلوده، د ډېرو پلټونو څخه وروسته دوی دې پایلې ته ورسیدل چې دا ټول د صلیبیانو کارونه دي چې د فدایانو پوسیله سرته رسیږي. د دې دوه وژنو څخه وروسته جاسوسي اداره او نور خارونکی بیدار او متوجې شول، په سرحدې سیمو کې هم څارنه تیزه او زیاته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دویم قوماندان تر وژل کېدو وروسته په قاهره کې د خیمو ګودام وسوځول شو چې دا هم د وران کاری عمل او کړه وړه وه.

علی بن سفیان ځېل کسان زيات کړل او هر لوری ته يې خپاره کړل څو د هغه پنځه شپږ جاسوسان ونيول شول دا هغه جاسوسان وه چې نور جاسوسان به يې نيول څو هغوی ځپله په جال کې راګير شول. پدی سره د قاهری جاسوسی نظام د بې کارئ په لوری روان شو نو علی بن سفيان ځېل هغه کسان پکار واچول چې پدی فن کې استاذان وه تر څو د دوی په مرسته وران کاری پيدا کړی. هغه ځپل يو تکړه جاسوس مهدی الحسن راوغوښت او هغه يې د قاهری جنوبی برخو ته واستاوه ترڅو تولی هغه لاری او ځايونه چې جاسوسان ورڅخه کار اخلی ولټوی. د هغه سره اوښان او څاروی وه او د شپون په جامه کې هلته ولاړ. مهدی الحسن څو ورځی پرله پسی تر ماښام پوری ګرځيده څو هيڅ ډول شکمن کس يې په نظر ورنه رغی.

علی بن سفيان پدی شک کې وو چې پدی ساحو کې چيری چې د فرعونيانو د وخت کنډوالی وی کوم ګروپ او ډله وران کاران شته چې د همدی ځای څخه وران کاري کوی.

هغه مهدی الحسن ته وويل چې د شپی او ورځی وګرځی او شکمن کسان راپيدا کړی.

يوه ورځ هغه په دښته کې ګرځيده چې يو بوډا سړی يې وليده چې بوټی يې راټولول. ګوری چې د قاهری مشهور او نامتو حکيم او طبيب دی. هغه ورغی نو ځان يې ورته شپون وښوده او له هغه څخه يې پوښتنه وکړه، دلته څه کوی؟

هغه ځواب ورکړ: دوايی جوړولو لپاره بوټی راټولوم.

مهدی الحسن ورڅخه وپوښتل: تاسې د کوم شی تداوی پدی بوټو سره کوی، هغه ورته وويل چې ته کله درملتون او د معاينی ځای ته راشی نو زه به تا وګورم بيا به معلومه شی چې ته کومه ناروغی لری او کنه!

کله چې هغه ماښام درملتون ته ورغی نو حکيم يې نبض وکوت، بيا يې په سترګو کې وکتل نو حيران شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهدی الحسن پدی خبره ورخطا شو چې ولی حکیم دومره زما د سترګو په لیدلو ورخطاء شو.

حکیم وویل: څه خاص خبره نشته خو ماته څه شک پیدا شو، زه تاته لږ دواء درکوم که د دی سره ښه نشوی نو بیا به دی پوره او سم علاج پیل کړم.

هغه ته یې یوه پوړی ورکړه چې د شپې یې وخوری، هغه د خوب څخه مخکې پوړی وخوړه او سمدستی پری خوب راغی، سهار چې کله د خوب څخه رابیدار شو نو ډېر خوښ او خوشحاله وه او طبعیت یې ښه تازه وه نو ډېر خوشحاله شو چې دوایی ښه اثر کړی.

خو مهدی الحسن د حکیم په مخکنې خبره باندی اندیښمن وه نو د حکیم څخه یې پوښتنه وکړه چې تا ولی زما د سترګو د کتلو څخه وروسته تعجب وکړ او حیران شوی، پدی کې څه خبره وه.

حکیم ورته وویل چې زما دا شک دی چې په تا کوم بد روح اثر کړیدی که زما اولنۍ دوایی کار ورنکړ نو زه بیا د بد روح علاج هم کولای شم.

مهدی الحسن وپوښتل: بد روح زما سره څه کار لری؟

حکیم وویل: ته چې په کوم ځای کې ګرځی دلته د فرعونیانو کورونه او باغونه تیر شویدی، په هغې کې چې کوم بد روحونه اوسیږي کوم بو یې ستا د روح سره یو ځای شوی او هغه سره خپل وخت تیروی ځکه یې پر تا اثر ښکاری زه کولای شم تا د هغه بد روح سره مخامخ هم کړم، هغوی د ډېرو ښایسته نجونو په شکل کې کله ناکله ځانونه ښکاره کوي او په همدی شا او خوا کې اوسیږي ته چې په کوم ځای کې ګرځی دا ډېر خطر ناک ځای دی.

مهدی الحسن چې د څه شی پسی ګرځیده هغه ده ته په بل شکل کې وراندی کیده ترڅو دی پخپل جال کې راولی.

***

حکیم مهدی الحسن ته وویل: ما نن شپه هغه بد روح حاضر کړ او هغه ډېر عذر کولو چې دا زما ډېر خوښیږی یو ځل دی زما سره ملاقات وکړی زه تاته تعویذ درکوم هغه له مټ څخه وتړه او د هغه سره لیدنه وکړه، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر وخت ستا پسی ژاړي . د هغې ستا سره مینه پیدا شوی له دی امله هر وخت ژاړي .

مهدی الحسن بیا هماغه ځای ته ولاړ په کوم ځای کې چې د ده مسئولیت او وظیفه وه، یوی او بلی خواته گرځیده او خپل څاروی یې څرول د غرمی څخه وروسته هغه له لری څخه د ښځی ژړا واوریده چې کله به زیاته شوه او کله به کمه .

مهدی الحسن فکر وکړ چې کیدای شي دا د بد روح ژړا وي نو هغې لوری ته هیڅ ورنژدی نشو خو په زړه کې یې ویره پیدا شوه .

ماښام بیا حکیم ته ورغی او هغه ته یې کیسه وکړه، حکیم ورته وویل: چې هغه یو ځل ستا سره خامخا ملاقات کول غواړي ، که ته غواړې د دی اثر څخه خلاص شی نو د هغې سره وگوره، دا هم کیدای شي چې هغه ستا بالکل ملگری شی، بیا به د تل لپاره ستا شی ، هغه نوری گټی هم در رسولای شی خو یو شرط پکی دی هغه دا چې د دی بد روحونو راز به چا ته نه وایی، د قاهری دوه پوځی چارواکی په همدی خاطر بد روحونو مړه کړل چې هغوی راز رسوا کولو.

مهدی الحسن ټکان وخوړ هغه غوښتل د دی دوه کسانو د مړه کیدو خبره معلومه کړی نو د حکیم څخه یې وپوښتل چې هغوی په څه طریقه مړه شول .

حکیم وویل : د دی څخه زیات زه هم نه یم پوه، خو تاته تاکید کوم چې په هیڅ صورت د هغوی کیسه چاته ونکړی کنه بیا تاته هم زیان رسوی. بس خبره په زړه کې ساته ډیری گټی به وکړی، کیدای شي هغه تاته د فرعون د وخت کومه خزانه هم په گوته کړی چې بیا به تر اخری عمره پوری بی غمه ژوند کوی او کیدای شي د کومی سیمی پادشاه یا واکمن هم شی .

حکیم وویل : نن د ماښام څخه وروسته هماغه ځای ته ولاړ شه چیری چې ما او تا سره لیدلی وه، هلته به تا ته بد روح د یوی حسینی او ښایسته نجلی په شکل را شی بیا تاسې پخپلو کې سره خبری اتری وکړی .

مهدی الحسن د ورځی دښتی ته د وظیفی لپاره ولاړ او چې کله ماښام شو نو د حکیم ښودلی شوی لوری ته یې حرکت وکړ چې کله ښه تیاره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هغه د غونډیو منځ ته ورسیده نود ښځی ژړا یې تر غوږو شوه هغه د ژړا په لوری روان شو نو ژړا غلی شوه بیا یې د شا له لوری واوریده نو شاته را روان شو نو د یو غار او تونل خولی ته راورسیده چې یو انسان پکی ښه ځایدلو، هغه خپل اوښ همدلته پریښوده او غار ته ننوت په غار کې یې بیا ژړا واوریده خو د دی سره هلته روښنایی هم راپیدا شوه چې د دی روښنایی په منځ کې د یوی حسینی او ښایسته نجلی شکل او صورت ښکاریده خو نور بدن یې نه معلومیده. هغه ور وړاندی شو خو شکل بیرته ورک شو، مهدی الحسن په ټول غار کې یوی او بلی خواته وګرځیده خو هیڅ یې ونه لیدل نو اواز یې وکړ چې زه ستاسی د ملاقات لپاره راغلی یم، د هغه لوری اواز راغی چې ته د بلی دنیا سړی یې ستا په وعدو باور نشته، سبا بیا راشه، هغه د تونل بلی غاړی ته ووت هلته هم د غونډی په سر روښنایی ښکاریده خو داسې معلومیده لکه چا چې اور بل کړی وی او روښنایی دی لوری ته راپریوتی وي، هغه د دی ځخه وروسته د تونل ځخه راووت او پخپل اوښ راسپور شو او کورته راغی.

سهار علی بن سفیان ته ورغی هغه ورته وویل چې ستا کار له دی ځایه ختم شو او بل لوری ته ولاړ شه!

مهدي الحسن علی بن سفیان ته ووېل: زه دری ځلور ورځی نور هم پدی ځای کې کار کوم کیدای شي ماته څه پلاس راشي، بیا به زه درته ووایم چې اوس دلته اړتیا شته کنه.

وروسته حکیم ته ورغی او د هغه سره یې د نن شپی ټوله کیسه وکړه حکیم ورته وویل: نن شپه بیا حتمًا ورشه خو وسله به له ځان سره نه وړی

مهدی الحسن پخپل اوښ سپور شو او هماغه ځای ته ولاړ چیری چې یې د شپی بد روح لیدلی وو، هغه د ورځی په رڼا کې هغه غار او تونل هم ولیده، د تونل بل لوری ته ووتلو او هلته وګرځیده د شپی چې یې په کوم آور شک راغلی وه هغې لوری ته روان شو چې لږ ولاړ یو دروند اواز یې واوریده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدلته ودرېږه! یو ګام مخکې رانشې! زمونږ د دنیا په راز باندې د پوهېدو کوښښ مه کوه، هغه به یوازې تاته د شپې په نظر درشي، بېرته ولاړ شه او د شپې راشه.

مهدي الحسن بېرته راغی او تر ماښام پورې په دښته کې ګرځېده، ماښام چې کله تللو نو د حکیم د حکم خلاف یې له ځان سره لوی او اوږد خنجر د جامو لاندې پټ کړ او روان شو. کله چې غار ته ورسیده نو تونل ته داخل شو، هلته رڼا راغله او بېرته ورکه شوه. هغه ځان یو لورې ته پټ کړ چې بد روح راغی او ده ته یې اواز وکړ: بې وفایي به نکوې زه د دوه زره کلنو راهیسې ستا لاره څارم.

مهدي الحسن په تونل کې د دیوال خواته پټ ولاړ وو کله چې نجلۍ ورځخه لږ مخکې ولاړه نو هغه په زړه کې وویل زه پدې حمله کوم که بد روح وي نو هغه به پلاس رانشي او که انسان وي نو ماته به هم ښکاره شي.

نو یو دم یې په بد روح ورټوپکړل او کلکه یې راونیوله کله چې نجلۍ پوه شوه چې هغه زه وپیژندلم نو هغه ته یې په درانده اواز وویل: دا د ټوکو ځای ندی، کنه اوس به اور واخلي او لولپه به شي.

مهدي الحسن خنجر راوویست او د نجلۍ په زړه یې کېښوده او ورته ویې ویل: نور اوازونه باسې کنه خنجر دې په زړه کې ننباسم! څرنګه چې مهدي الحسن استاذ وو او د صلیبیانو او فدایانو ټول چلونه ورته معلوم وه- هغه ته د دې څخه شک پیدا شو چې حکیم ورته ویلي وه چې ته به وسله نه وړې او که وسله درسره وي نو بیا هغه بد روح مخې ته درته نه راځي، نو د مهدي الحسن سره خو خنجر وو او بیا هم ورته بد روح مخې ته راغی نو د هغه سره شک پیدا شو چې پدې کې څه مسئله شته.

ښځې په خوږ اواز وویل: ما ته ددې لپاره ځان ته نه نږدې کولې چې د فاني دنیا انسان یې او زه د دوه زرو کالونو څخه ستا لارې څارم.

مهدي الحسن وویل: ستا د انتظار شیبې پای ته ورسیدلې ته زما د ناپاکۍ دنیا ښځه یې او اوس ته د ارواحو پاکې دنیا ته نشې تللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې وویل : زه لوی خبری نه کوم زه ښځه نه بلکې ښکلې ځوانه پیغله یم زما دا کلمات په غور سره واوره زه په دی پوهیږم چې ته څوک یې او دلته د څه لپاره راغلی یې زه په تا باندی دومره مینه یم چې ستا د حاصلو کوښښ می کولو او دا طریقه می اختیار کړه .

مهدی الحسن وویل : زما سره روانه شه !

نجلی وویل : که زه ستاسی سره لاړه شم نو دواړه به د ولږې څخه مړه شوو او که ما سره لاړه شی نو د فرعونیانو خزانه به تر لاسه کړی او د څو ټکو لپاره به جاسوسی نه کوی .

مهدی الحسن وویل : زما د حاصلولو پرته دلته تاسی نور څه کوی ؟

نجلی وویل : ما سره نور ملګری دی چې خزانه راوباسی .

مهدی الحسن وویل : اوس هغوی چیری دی ؟

نجلی وویل : ما سره لاړ شه هغوی به ستاسی تود هرکلی وکړی .

مهدی الحسن چې کله هغه د متو څخه ونیوله هغی ورته ځان نږدی کړ د هغی د بدن څخه داسی خوشبوی تلله چې هغه یې خمار کړ نو هغه دا محسوس کړه چې دا د ایمان اخستلو لومړی پوړی ده .

نجلی وویل : که په رڼا کې دی ولیدم خپله دنیا به دی هیره شی .

مهدی الحسن د نجلی دی جامو څخه دری ټوټې خیری کړی په یوه یې د هغې خوله او دوه نورو یې لاسونه او پښې وتړلی او بیا بل لوری ته ووت ترخو نور حالات معلوم کړی خو هلته یو کس ناست وو چې نجلی ته یې اواز وکړ، څرنګه چې د هغې خوله بنده وه نو ځواب یې ورنکړای شو، سړی راغی او نجلی ته ورنږدی شو ګوری چې د هغې لاسونه، خوله او پښې تړلی شوی هغه په همدی حالت کې وو چې مهدی الحسن د شا له لوری په خنجر باندی وواهه او د هغه دمه یې جوړه کړه بیا وړاندی ولاړ ګوري چې هلته لویه کوټه ده او په هغې کې څو کسان سره د دوه نجونو ناست دی .

یو بل ته وایی چې ولی هغه دواړه دومره ځنډ شول .

یو وویل رابه شي څه خبره ده د کار سری یې پیدا کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل وویل: لدی سړی څخه د هر کار اخیستل کیږي څکه چې هغه یوخ او باوری جاسوس دی د هغوی ټول شیان ورته معلوم دی .

دوی همدا خبری کولی چې یو راغی او دوی ته یې وویل: ګوپل مړ پروت دی او چا په خنجر وهلی او نجلی هم لا درکه ده.

هغوی وپوښتل: سړی چیری دی؟

هغه ورته وویل: اوښ یې د تونل په خوله کې ولاړ دی خو خپله نشته.

د ډلی مشر حکم وکړ چې سمدستی ووځی او لټون وکړی چې نجلی او سړی چیری ولاړل .

هغوی یوی او بلی خواته خپاره شول چې مهدی الحسن هم هغوی ولیدل .

مهدی الحسن نجلی په اوږه کړه او له بلی لاری څخه یې سفر پیل کړ- هغه لږ څنډ وروسته د نیل غاړی ته راغی او په اوبو کې یې خان وغورځاوه، هغه پوره لامبو یاده وه نجلی هم ورسره وه ، هغه تر یو ځای پوری په اوبو کې راغی خو شپیلۍ یې وهل چې د نیل د غاړی پیره داران راخبر کړی هغوی پری راخبر شول او یوه کوچنی کښتۍ ورته راغله او دوی پکی سپاره او د قاهری په لوری وخوځیدل ، هغه غوښتل د سهار څخه مخکې مخکې باید دا ځای محاصره شي چې وران کاران ونه تښتی .

کله چې مهدی الحسن د تونل څخه ووتلو او بلی خواته ولاړ نو د نجلی ملګرو هری خواته لټون پیل کړ، لوړی ژوری هر څه یې وکتل هیڅ درک معلوم نشو خو اوښ لا هماغسی ولاړ وُ، هغوی پدی فکر کې شول چې اوښ ولاړ دی او هغوی دواړه نشته .

د ډلی مشر وویل خپل سامان سمدستی راټول کړی او حرکت وکړی څکه که نجلی قاهری ته ورسیده نو بیا زمونږ د نیولو امکان زیات دی خو د هغوی په منځ کې اختلاف پیدا شو چا ویل چې خو او چا ویل چې نه خو په همدی کې سره بوخت شول او سهار پری راغی .

کله چې مهدی الحسن د نجلی سره قاهری ته ورسیده نو سمدستی علی بن سفیان ته ورغلل، هغه یې له خوب څخه راپاخاوه او لومړی یې د حکیم د نیولو حکم وکړ، د حکیم تر نیولو وروسته یې د چتک غبرګون (عکس

(c) ketabton Digital Library



العمل ) سر ښندونکی له ځان سره واخیستل، علي بن سفیان، مهدی الحسن او نجلي ټول د فرعوني ودانیو په لوري ولاړل هغه ځای یې محاصره کړ څه کسان یې په لومړی ګام کې ونیول خو ځیني یوې او بلې خواته وتلي او پټ شوي وه هغوی هم وروسته ونیول شول د کوټي څخه ډیر زیات شیان راووتل چې په هغه کې زهر، اوږ غورځوونکي کیمیاوي مواد، نقدي روپۍ، غشي، لیندې، توري او داسې نور شیان وه .

هغوی ټول شیان را واخیستل او قاهری ته راغلل خو هیڅوک یې هم خبر نه کړل .

د حکیم کورته چې کله نیوونکي کسان ورغلل نو د هغه سره په کوټه کې یوه پیغله نجلي په کټ پرته وه او خپله حکیم د شرابو په نشه کې مست پروت وو، د هغه ټول کور تالاشي شو او ډیر زیات شیان ورڅخه راووتل په درملتون کې هم ځیني زهري مواد پیدا شول .

کله چې د هغه څخه تحقیقات او پلټنه وشوه نو اقرار یې وکړ چې د قاهری د پوځ دوه لوړ رتبه چارواکي ده خپله په زهرو وژلي دي ځکه چې دا دواړه د فدای او صلیبي پروګرامونو مخالف وه، هغوی ته ډیر دعوت ورکړل شو خو ویې نه منلو ځکه نو د هغوی د وژلو فیصله وشوه. هغه دوه نور لوړ رتبه چارواکي وښودل چې غواړي د سلطان صلاح الدین ایوبي په خلاف په پوځ کې بغاوت راپیدا کړي، هغه دا هم وویل چې د سوډان څخه به په مصر باندې حملې پیل کیږي چې دا د صلیبیانو پلان دی او پدې سره غواړي د سلطان صلاح الدین ایوبي توجه د بیت المقدس څخه واړوي .

ټول هغه چارواکي او کسان سمدستي ونیول شول چې پدې کارونو کې بې لاس درلوده .

* * *

پدې وختونو کې د قاهری والي ملک العادل د سلطان صلاح الدین ایوبي ورور وه، هغه د دې ټولو کارونو څخه خبر کړی شو او د نیول شوی ډېره درنه ده زه باید د خپل ورور سلطان صلاح الدین ایوبي سره وګورم او کسانو په هکله ورڅخه لارښووني وغوښتل شوې - هغه وویل : دا مسئله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربښوونه ورڅخه واخلم، ملک العادل د قاهرې څخه شام ته ولاړ او په حلب کې يې د هغه سره وکتل او ټوله کيسه يې ورته وکړه ، سلطان صلاح الدين ايوبي د جګړې د محاذ مسئوليت خپل ورور العادل ته وسپاره او بيا دمشق ته راغی، هلته يې خپل بل ورور د والي په حيث وټاکلو او خپله قاهرې ته راغی .

علي بن سفيان هغه ته ټول شيان وويل او په ټولو شيانو يې خبر کړ.
سلطان صلاح الدين ايوبي سهار خپل ټول پوځ ته د روزنې په ميدان کې د حاضريدو حکم وکړ، هغه ټول کسان چې تر اوسه پورې نيول شوي او نور څه د وران کارۍ سامان چې پلاس راغلي وه هغه ميدان ته راوړل شو .
صليبيان، فدايان، نجونې ، مسلمان چارواکي د حکيم سره يو ځای او هم سامان، نقدي روپۍ ميدان ته راوړل شول تر څو ټول پوځ هغوی وګوري .
ټول پوځ د دې کسانو له مخې څخه تير کړې شو ترڅو پخپلو سترګو هر څه وګوري، بيا سلطان صلاح الدين ايوبي ميدان ته راغی او خلکو ته يې وويل: که تاسې څخه کوم يو زه په دې مطمين کړم چې تاسو د اسلام د سپيڅلي دين د عظمت په خاطر زما په خلاف راپورته شوي ياست او د لومړې قبلې د ازادی اراده لرې او يرغل کوی چې يو خل بيا د اسلام تر بيرغ لاندې د ژوندانه شپې او ورځې تيرې کړې راوړاندې شي زما نه توره واخلي او زما په اس سپور شي زه د قيادت څخه لاس اخلم .
هر لورې ته چوپتيا خپره شوه .
سلطان صلاح الدين ايوبي مجرمانو ته وکتل وی ويل : د کعبې په رب قسم ! زه خپل حکومت تاسې ته سپارم .
سلطان صلاح الدين ايوبي بيا خپل پوځ ته وويل : ای د الله تعالی زمرو ! تاسې چې په خپلې خاورې کې بغاوت راپورته کوی دا د اسلام د سپيڅلي دين په خاطر نه بلکې د داسې مال او نجونې لپاره چې ستاسې په وړاندې ولاړې دی .
که زه دروغ وايم نو راشي او زما خبره غلطه ثابته کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی د خپل اس څخه کښته شو او حکیم ته یې وویل : زما په اس سپور شه .

سلطان صلاح الدین ایوبی حکیم ته وویل ته اوس وو ایه چې زه دروغ وایم.

حکیم په لوړ اواز وویل: سلطان صلاح الدین ایوبی ریښتیا وایي او د اس څخه راکوز شو .

د دې څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی پخپل لاس د حکیم سر له تنې څخه جدا کړ او نور ټول کسان یې بندیان کړل .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپله توره د پوځ مخ ته ګزار کړه او وې ویل : ای د الله د لارې سربښندونکو ! که ما انصاف نه وي کړی نو راپورته کړئ دا توره او زما سر پرې کړئ !

په لومړۍ صف کې ولاړ سالار توره راپورته کړه او په دواړو لاسونو یې سلطان صلاح الدین ایوبی ته وړاندې کړه .

وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ټول چارواکي راوغوښتل او سلا مشوره یې ور سره پیل کړه.

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: آفسوس دا دې چې زما خپل وروڼه زما لاره بند وي او مونږ نه پرېږدي چې بیت المقدس ته ولاړ شو. نن باید مونږ په بیت المقدس کې ناست وای او هغه مو ازاد کړی وای خو د ملت غداران او صلیبي وران کاران په ګډه زمونږ لاره نیسي. سلطان صلاح الدین ایوبی سمدستي د سوډان چارواکو ته لیک واستاوه چې که ستاسي له پولې اوسرحد څخه هر ډول پوځي عملیات وشول نو دا به په مصر باندې د حملې معنا ولرې او بیا به مونږ ازاد یو چې خپل انتقام او بدله واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو هدف او مقصد لارويان

کله چې سلطان صلاح الدين ايوبي په قاهره کې د طبيب پوری ترلی کسان ونيول او ټول بنديان شول نو د روزنی او تعليم په ميدان کې د هغه پخپله توره باندی حکيم ووژل شو او بيا هغه د چارواکو غونډه جوړه کړه ترڅو د راتلوونکی په هکله په پلان او پروګرام باندی خبری وکړی.

هغه لومړی د خپلو ايمان پلورونکو څخه شکايت وکړ چې همدوی زما په وړاندی خنډ شوی دی او مونږ بيت المقدس ته نه پريږدی صليبيان غواړی مونږ په خپلو سيمو کې داسې بوخت او مصروف وساتی چې يو ګام هم هغې خواته ورنشو.

يو سالار ووېل : ښاغلی سلطان! نور به انشاء الله د دښمنانو سازش کامياب نشی.

سلطان صلاح الدين ايوبي په تلوار توره له پوښه راوويستله چې وينی ورباندی وی وی ويل : دا وينه د چا ده ؟

دا وينه زما ده دا وينه ستاسی ده دا مو د هغه ورور وينه ده چې زمونږ سره يې په يو جومات کې لمونځ کولو په يو سنګر کې راسره پروت وو نو که دا وينه غداره کيږی نو د صليبيانو هره دسيسه پلان او سازش کاميابيږی.... د اسلام سپيڅلی دين هغه متحد پوځ چې فلسطين د صليبيانو څخه ازادوی په خپلو کې سره واچولو.

بيا سلطان صلاح الدين ايوبي توره او پوښ يو محافظ ته ورکړ او وی ويل : که دا وينه د کوم کافر وای نو ما به دا نه پاکوله دا د يو مسلمان غدار وينه ده نو ښه دا ده چې ددی بوی هم نه وی.

کله چې سلطان صلاح الدين ايوبي د شام څخه مصر ته روان شو نو صليبی جاسوسانو تر ډيرولی ته خبر واستاوه چې صلاح الدين ناڅاپی مصر ته ولاړ او پر ځای يې الملک العادل د هغه ورور راغلی ، دا احوال بيا عکره او يروشلم ته هم ورسيده او يو ځل بيا صليبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکي په ترېپولي کې سره يو ځاى شول او د وخت ښځه د ګټې پورته کولو لپاره په پلان جوړولو غږېدل .

ريمانډ وويل: سلطان صلاح الدين ايوبي ديروشلم د نيولو پسې راوتلى وو، مونږ د يو غشي چلولو ښخه پرته هغه بيرته مصر ته واستولو، مونږ د هغه پلاس ټول هغه واکمنان فلج او بيكاره كړل چې يو وخت د هغه قوت او خواک كيداى شول، د دې ښځه نور ښه وخت پلاس نه راځي بايد ډېر زر كار وكړو...

بل صليبي واكمن بالډون وويل: دا ښه كاميابي نده اصل برياليتوب دا دى چې د جګړې لپاره لاره برابره شوه ، مونږ بايد سمدستي خپل پوځونه ميدان ته راوباسو او سلطان صلاح الدين ايوبي ته د ځان سمبالولو وخت ورنكړو.

* * *

په قاهره كې سلطان صلاح الدين ايوبي خپلو ملګرو ته ويل: كه مونږ زر تر زره ځان برابر او سمبال نكړو نو د دې به ډېرى خطر ناكې پايلې راوځي، زر تر زره نوى كسان ونيسى، د سوډان هغه پوځيان چې اووه كاله مخكې د بغاوت په نامه له پوځ ښځه ويستل شوي وه هغه بيرته په پوځ كې شامل كړې، ځكه هغوى اوس د مصريانو برخه ګرځيدلي ده، كه صليبيان هوښيار وي نو هغوى به سمدستي په خپل ټول قوت باندې زمونږ په سيمو بريدونه پيل كړي او كه بې عقل وي نو قلار به كې سرته رسوى .

په ترېپولي كې ريناليټ وويل: زه دوه سوه پنځوس تنه په اوسپنه پټ نانتهان او پوځي سرداران سمدستي ميدان ته راوستلى شم، د دې جګړې رهبري او قيادت به زما د پوځ پلاس كې وي، زه د غلو پشان حمله نه كوم بلكې سلطان صلاح الدين ايوبي پشان مخامخ جنګيږم، سمدستي بايد مونږ خپل پوځونه سره يو ځاى كړو او پرمختګ پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، مونږ ټول دومره پوځ او لښکر لرو چې ټول عربي واکمنان راسره مقابله نشي کولای ! سلطان صلاح الدین ایوبي خو لا څه کوي !

ریمانډ وویل: په مصر کې باید مونږ خپل دوران کاري فعالیت نور تېز کړو چې سلطان صلاح الدین ایوبي د هغه ځای څخه راخلاص نه شي ځکه هغه به اوس غواړي د خپل پوځ کمی پوره کړي .

یو صلیبي قوماندان وویل: تاسې د هغه ځای خبرې کوئ، هرمن باید دلته خپل فکر ونیسي چې د دې ځای حالات هلته ولاړ نشي، په هر چا چې شک راشي باید بندي یا ووژل شي، د سلطان صلاح الدین ایوبي جاسوسان په هر ځای کې خپاره دي باید په هر صورت د هغوی مخه ونیول شي .

* * *

په قاهره کې د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځي چارواکو د نوي کسانو نیول پیل کړل، هغوی په کلو او بانډو سر شول او خلک یې جګړې ته تشویقول، همدا رنګه د ټولو جوماتونو امامانو ته د سلطان صلاح الدین ایوبي پیغامونه واستول شول چې هغوی خلک د بیت المقدس ازادۍ ته تیار او چمتو کړي، څومره زیات کسان چې کیدای شي باید پوځ ته راشي، امامانو او پوځي چارواکو دواړو خلک تشویقول او په پوځ کې داخلیدل .

د نوي کسانو د روزنې او تربیت کارونه هم پیل شول ترڅو د هغوی څخه د پوځ په حیث کار واخیستل شي .

بل لوري ته په تریپولي کې صلیبیانو هم غونډه جوړه کړې وه چې د هغوی ټول مهم چارواکي پکې راټول شوي وه.

هغوی پدې خبره سره وران وه چې جدا جدا جګړه وکړي او که یو اعلی قوماندان ولري .

رینالټ غوښتل هر پوځ جدا جدا جګړه وکړي ، یوازې یو له بل سره اړیکې ولري او د یو بل سره مرسته وکړي خو ریمانډ پدې کلک وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټول باید د یو لښکر په توګه وجنګیږي ځکه چې پدی توګه جنګ منظم او ښه پایله ورکوي .

اصلاً رینالټ غوښتل د خپل ځان انتقام واخلی مخکې مونږ ویلی وه چې یو ځلی صلیبیانو په اسکندریه باندی د اوبو او وچی له لاری برید وکړ او سلطان صلاح الدین "ایوبی" ته د هغوی جاسوسانو مخکې خبر ورکړی وو نو ځکه هغوی په اوبو او وچه دواړو باندی له مخکې څخه خپل کسان ځای پر ځای کړل.

په اوبو کې سلطان صلاح الدین ایوبی‌د هغوی ټوله بحری قوه تباه کړه او په وچه باندی سلطان نور الدین زنګی هغوی ته لاره نیولی او په غلچکې برید کې یې د هغوی لښکر دومره خراب کړ چې خپله رینالټ هم ژوندی ونیول شو. خو څه وخت وروسته چې سلطان نور الدین زنګی وفات شو او خپل سرو چارواکو د هغه کوچنی یولس کلن زوی په تخت کیناوه نو هغه د صلیبیانو سره د دوستی په خاطر رینالټ او ورسره ټول پوځ خوشی کړ.

په همدی خاطر رینالټ د خپل سپکاوی د غچ لپاره ډېر زیات پوځ او لښکر برابر کړی وو چې د هغه د نائټانو او پوځی سردارانو شمیر دوه سوه پنځوس کسانو ته رسیدلو.

هغوی دی پایلی ته ونه رسیدل چې د یو قوماندان لاس لاندی وجنګیږی او که جدا جدا نو بالډون وویل: اوس خپل پوځونه سره راټول کړی، دری څلور ورځی هر یو فکر وکړی بیا به سره کینو او پدی به هرمن د دی راز د ساتلو لپاره خپل ټول توان پکار واچوی ځکه چې که دا راز رسوا شی نو بیا زمونږ ټولی هلی ځلی بی ځایه ځی او پلان بیکاره کیږي .

هرمن وعده وکړه چې هر ډول کوښښ به کوی چې راز پټ وساتل شي خو سره د دی هم د دی غونډی او کانفرانس په منځ کې د علی بن سفیان دوه تکړه جاسوسان موجود وه چې یو یې وکټر نومیده اصلاً د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسي اوسيدونکی وه او بل يې راشد چنگيز نوميده چې د ترکيې وه، دواړو خانونه د يونان عيسايان معرفي کړي وه. دا دواړه به په مهمو غونډو کې د ميلمنو خدمت کوونکي او شراب وړاندي کوونکي وه.

دواړو د کانفرانس ټولې خبرې واوريدلې خو اصلي پلان لا پاتې وو ځکه نو هغوی د څه گام پورته کولو هڅه نکوله.

کله چې غونډه پای ته ورسيده وکټر او راشد چنگيز دواړه خپلې خونې ته راغلل نو وکټر راشد ته وويل چې خبره ډېره خطرناکه ده بايد چې قاهرې ته احوال واستوو چې خانونه چمتو کړي، نور پلان چې کله جوړ شو بيا به هغه وليږو اوس د حملې خبر ورکول کافي دي.

وکټروويل: کوم وخت چې هغوی د يرغل خبرې کولې نو ما وليدلې چې تا د شرابو پياله د ريماند مخ ته کيښوده او په غور سره دې د خبرو اوريدلو کوښښ کولو او ستا په تندي باندې د راز حاصلولو له امله د خوښۍ اثار وو خو دا مه هيروه چې هرمن هم د علي بن سفيان په پايه جاسوس پيژندونکی دی نو ډير محتاط اوسه ځکه مونږ د ددښمن په گيډه کې د ژوندانه شپې ورځې تيرو.

راشد چنگيز وويل: د هرمن لپاره مونږ پردي نه يو زمونږ په هکله هغه خپل شک لرې کړی - د هغوی په ښار کې د يو جومات امام ملگری وه او هماغه يې مشر هم وو، ټول راپورونه هغه ته راتلل او هغه به بيا يوی او بلې خواته استول.

ددې خبرو څخه وروسته راشد چنگيز د امام د کور په لورې روان شو خو په لاره کې يې د چا د پښو ترپا واوريده خو څوک يې په سترگو ونه ليده هغه امام ته ورغی او هغه ته يې د نن شپې ټولې خبرې واورولې او دا يې ورته وويل: اوس همدومره خبر بايد قاهرې ته واستول شي چې هغوی د لوی حملې څخه خبر شي نور احوال به د خبريدو سره سم انشاء الله درکړم. د خبرو څخه وروسته بيرته را روان شو چې په لاره کې يې بيا د پښو ترپا تر غوږو شوه خو په تياره کې هغه څوک ونه ليدل بيرته راغی او ويده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ورځ ورته یو ځوان راغی چې د دوی ملګری وُ ورته ویې ویل چې امام تاسې د شپې لخوا غوښتلی یاست چې کله د وظیفې څخه خلاص شوی نو هلته به راشی .

څومره کسان چې تریپولی ته راغلی وه دا ټول د ریمانډ میلمانه وه او د ټولو خدمت کوونکو مشری د وکټر او راشد چنګیز په غاړه وه نو ځکه هغوی به په مهمو میلمستیاو کې ډېر مصروف او بوخت وه .

پدی شپه بیا میلمانه زیات وه او هغوی هم شراب ورکول او هم یې د خلکو خبرو ته غوږ نیولو تر څو د پلان څخه خبر شي، پدی میلمینو کې یوه ډېره ښایسته ښځه هم ناسته وه هغې دوه ځلی راشد ته اشاره وکړه چې دی ته شراب ورکړی خو هغه به بل نوکر ته اشاره وکړه. بلاخره هغې ښځی راشد ته وویل : زه ستا د لاسه شراب څښل غواړم خو دلته نه بلکې د باندی په باغ کې .

دی ښځی ته هرمن وظیفه ورکړی وه چې د راشد چنګیز پسی شي ځکه چې هرمن غوښتل د هغه څخه نور هم ډاډه شي نو ځکه ښځی غوښتل د راشد په هکله معلومات تر لاسه کړی چې څه شک خو پکی نشته ، هغې راشد له ځان سره باغ ته بوتلو او هلته یې ورڅخه ځینی پوښتنې وکړی چې تاسې د کوم ځای اوسیدونکی یاستی ...

راشد چنګیز چې مخکې ویلی وه هماغه یې وویل: ښځی هغه ته د محبت او مینې جال وغوړاوه تر څو هغه پدی توګه معلوم کړی خو پدی شپه راشد لږ ورسره پاتی شو او بیا بیرته ورڅخه ولاړ چې خپله وظیفه سرته ورسوي .

راشد غوښتل د دی ښځی څخه کار واخلی او د پلان څه برخې ورڅخه معلومې کړی او ښځی غوښتل د ده اصلیت معلوم کړي یعنې یو بل ته غله وه .

په دویمه شپه بیا راشد چنګیز او هغه ښاسته ښځه سره په باغ کې یو ځای شول خو دا ځلی هغوی لږ وړاندی ولاړل او د جګړی خبری هم منځ ته راغلی ولې یو د بل څخه یې ځان پټولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې شپه هغې ښځې په راشد باندې په زور باندې شراب وڅښل کوم
چې صلاح الدین ایوبي خپل جاسوسان ورڅخه سخت منع کړي وه خو
دلته هیڅ چاره نه وه که دا کار یې نه وو کړی نو هغه رسوا کیده.

پدې شپه راشد چنګیز امام ته هم ور لغې او وکتل ته یې هم د دې
ښځې په هکله څه ونه ویل: وکتل باندې د تولو باور وو ځکه چې هغه
هیڅ لوری ته نه تللو یوازې پخپله کوټه کې د راشد چنګیز سره اوسیده
نو ځکه د هیڅ ډول څارنې لاندې نه وو.

***

چنګیز د ښځې سره هر وخت کتل، هغه پرې شکې شوی وه خو اصل
حقیقت ورته څرګند نه وو.

په بله شپه هغې چنګیز ته وویل: زه اصلاً د یو مسلمان لور یم او
پلار مې په صلیبیانو باندې پلورلې یم او تر اوسه پورې د دې خلکو
سره اوسیږم، خو په یو ښار کې یو مسلمان جاسوس ګیر شو چې کله
هغه ته په بند کې جزا ورکول کیده نو زه هم ورغلم، هغه جاسوس په
هیڅ صورت راز نه ویلو او دا یې ویل چې که ما ټوټه ټوټه هم کړې نو
زه راز نه وایم زه د مسلمانانو سره دوکه نشم کولای، د دې خبرو سره
زما اسلامي جذبه رابیداره شوه او هغه جاسوس زما ایمان راویښ کړ
چې هغه مې بیا د بند څخه وتښتولو.

له هغې څخه وروسته زړه مې غوښتل د اسلام لپاره څه وکړم او
ددې ظالمانو په اړه مهم معلومات مجاهدینو ته ورکړم او هغه دا چې
اوس صلیبیان په حرن، حلب او موصل باندې حمله کوي نو چې څوک
پیدا شي او دا حال قاهرې ته ورسوي.

راشد چنګیز د هغې د خبرو تر اثر لاندې راغی او هغې ته یې وویل
زه دا کار کولای شم، زه او ته به په ګډه لدې ښار څخه ولاړ شو او
قاهرې ته به احوال ورسوو، ښځه ډیره خوشحاله شوه او راشد چنګیز
هم خوشحاله شو چې ټول راز ورته څرګند شو، وروسته یې وکتل ته حال وویلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وکتېر ورته وویل چې تا د هر بد کار کړیدی، پدی ښځه څه اعتبار پکار دی چې تا وعده ورکړیده د ښځی جادو بادشاهان د تخت څخه محروم کړی او بیا خپل قوم ته وګوره د صلیبیانو لیږلی شوی نجونو په مصر کې زمونږ ورونه بغاوت ته تیار نه کړل .

راشد چنګیز ویل : زه دومره خام هم نه یم دا نجلی ما ته مظلومه ښکاری دا حقیقت دی چې هغه یو ساتل شوی ده خو شهزادګی ده، عصمت پلورنکی نه ده هغه د پاکی مینی تږی ده زما د هغې د جسم سره نه دلچسپی درلوده او نه به یې ولرم خو د هغی د محبت څواب داسی نه ورکوم چې نوره د مظلومیت احساس وکړی .

وکتېر وویل : ته هغه د زړه څخه غواړی ؟

راشد چنګیز وویل : زه ستا څخه څه نه پټوم زما هم خوښه ده .

وکتېر وویل : راشد چنګیزه! زړه ته ولیدونکی پښو ته زنځیزونه هم اچوی ، سپیڅلی فرض تر هر څه وړاندی دی د فرض او محبت تر منځ ، د نشی او هوش ترمنځ ، د ایمان او سفلی جذباتو تر منځ کوم دیوال نه وی بلکی یو نازکه کرښه وی چې د ښویدو سره له نظره پریوځي داسی نه چې په راز اخیستلو کې خپل ځان ورته بی پردی کړی .

راشد چنګیز وخندل د وکتېر په ورانه یې لاس کیښود وی ویل : زما خورږ ملګریه ! داسی به هیڅکه ونشی .

وکتېر وویل : یاد لره د شرابو اړیکی د شیطان سره دی او کوم صفات چې په شیطان کې دی هغه په شرابو کې هم دی نو زما ستا څخه دا هیله ده چې له هغه څخه ځان وساتی .

راشد چنګیز پدی شپه چې کله د دندی څخه فارغ شو نو خپلی کوټی ته راغی دریشی یې وویستله او جامی یې واغوستلی او د خپلو ملګرو د لیدلو لپاره روان شوه خو په لاره کې ورته نجلی مخ ته راغله هغی وویل : ته دومره وختی راغلی فکر کوم دا زما د مینی اثر دی ؟

راشد چنګیز وویل : ته دومره وړاندی راغلی یې .

نجلی وویل : د خپل زړه نه مجبوره یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشد چنګیز وویل : زه د یو ملګری لیدنی ته روان وم بیرته دلته راتلم .
نجلی وویل : که لیدل ضروری وی نو ولاړ شی زه ستا انتظار کوم .
راشد چنګیز هغه د مڅو څخه ونیوله وی ویل : ستا د بدن ګرم احساس او د عطرو بوی زه لیونی کړم .
راشد چنګیز فکر وکړ او له خان سره یې وویل : دا صلیبی نجلی په زړه کې د خپل هادار څخه ښایی نفرت وکړی خو دخپل قوم سره چل اودوکه نه کوی نو د شک په اساس به ورپسی شی نو تلل یې وځنډول او محبت څرګندونه یې وکړه .
نجلی د شرابو صراحی په خمکه باندی کیښوده او بیا یې پیاله ډکه کړه راشد چنګیز ته وړاندی کړه لکه څرنګه یې هغه شراب نه څښل نو وی ویل :که ته زهر هم راکړی نو څښولو ته یې تیار یم خو شراب نه څښم ؟
نجلی وویلی : ته عیسایی او له شرابو نفرت کوی ؟
راشد چنګیز وویل : څرنګه چې ستا زړه زر او دولت قبول نه کړ څکه د هغه خوښی مصنوعی ده نو په همدی ډول زما زړه شراب نه قبلوی څکه ددی نشه مصنوعی ده په ما باندی خپله نشه خپره کړه .
نجلی د هغه غیږ کې سر کیښود او وی ویل : مونږ به تر کومه د خلکو څخه پټ لیدل کتل کوو په دی لړ فکر وکړه چې زه په کوم تکلیف کې د ژوندانه شپې ورځی تیروم ! زما د بدن مالک بل څوک دی او د زړه مالک ته یې ، ستا سره مینی او د هغه سره کرکه زیاته کړه نو ددی زغمل نشم کولای راځه چې ددی ځای څخه وتښتو .
راشد چنګیز وویل : چیرته به لاړ شو؟
نجلی وویل : خمکه ډیره پراخه ده .
راشد چنګیز وویل : څوورځی نور انتظار وکړه ؟
بیا پاڅیدل اوهریو خپل ځای ته ولاړل .
راشد چنګیز وکټر ته وویل : هغه زما په جال کې ونښتله .
وکټر وویل : زما په خیال ته د هغی په جال ونښتلی او د هغی عشق ستا په زړه ولیږدلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشد چنګيز ووېل : ما خو تاسی وویلی چې هغه زما خوښه ده او نن يې راته ووېل چې راځه دواړه وتښتو خو ما ورته ووېل ځو ورځی انتظار وکړه ما اراده کړی چې د صليبيانو د پلان معلومولو وروسته به دواړه قاهری ته ځو.

وکټرووېل : ته به ورته څه وخت وايی چې ته مسلمان او د سلطان صلاح الدين ايوبی جاسوس يې.

راشد چنګيز ووېل : مصری سرحد ته به داخليدو.

د راشد چنګيز چې د صليبيانو د راز معلومولو ته څومره تلوسه وه له هغه څخه زياته د هغه نجلی سره د يوازوالی لپاره يې تلوار وه.

ريمانډ راشد چنګيز ته ما ښام ووېل چې ځو تنه واکمنان او قوماندان راځی تاسی د خوراک او څښاک انتظام وکړی هر کله چې ميلمانه راغلل نو ميز باندی خبری اتری پيل شوی چې وړانديزونه نه بلکی فيصله دی.

په دی پريکړو وشوه چې زمونږ وړاندی تګ به د حرن او حلب په لور وی.

يو صليبی چارواکی د هرمن څخه د هغه د فعاليتونو په اړه پوښتنه وکړه هغه ووېل : په کوم ځای کې چې زمونږ پوځ دی هلته زما د اداری غړی خپل فعاليتونه تيز کړی دلته د دي ډلی غړی چا راته په ګوته کړی زه غواړم د ملګرتيا په جال کې يې ونيسم.

نيمه شپه چې کله مجلس پای ته ورسيدلو نو راشد چنګيز او وکټر هم فارغ شول وکټر خپل ځای ته لاړ او راشد چنګيز د امام د ليدلو لپاره د ونو ترمنځ چې کوم لښتی و د هغه په پوله روان شو او هغه په دی فکر چې نن به نجلی نه وی خودده اټکل غلط ثابت شو هغه خو قدمه وړاندی تللی و چې د شا له لوري پری نجلی اواز وکړه بيا کوم لور ته روان يې.

راشد چنګيز ووېل : ستا مينی ليونی کړم کله چې ستا ليدنی او کتنی وخت راشی کټ می ځان ته نه پريږدی.

نجلی ووېل : ليدونکی ما شهزادګی ګڼی خو زه بد نصيبه د هغه پلار لور يم چې زما دری خويندی وی هغه دواړه د پلار بد سلوک له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله د خپلو یارانو سره لاړې زه چې پنځلس کلنی ته رسیدلی نه وم په یو سوداګر باندی یې خرڅه کړم یو کال وروسته هغه بیا د تحفې په ډول یو صلیبی پوځی منصبدار ته ورکړم چې څو میاشتنی وروسته هغه په جګړه کې مړ شو بیا یو عیسائی ما ته پناه راکړه خو هغه زما جسم د ګټی وسیله وګرځوله کوم ځای ته به چې ورتلم هغه لوی صلیبي چاروکی وو هغوی راته سره اوسپین زر راکول د هغه په نتیجه کې د ښه مانۍ خاونده شوم چې په کې د ژوندانه هر سهولت و یو ورځ زه د استخباراتو مشر خپل خوا ته وغوښتلم او راته وی ویل څرنګه چې ستا ناسته پاسته لوړ چاروکو سره ده نو مونږ سره کار کول پیل کړه ستا د خوښی دولت به در کول کیږی خو پرله پسی ته د څو ورځو لپاره د ښوونی او روزنی مرکز ته تګ راتګ وکړئ ترڅو پدی هکله لومړنی ورتیا تر لاسه کړی.

ما دا دنده قبوله کړه او یو څل یې زه بغداد ته ولیږلم چې هلته د سلطان نورالدین زنګی یو سالار د هغه خلاف راپاڅوم او ما دا کار په ښه طریقه سره وکړه.

بیا زه په عکره کې د یو بوډا سره چې د لوړ پوړی چاروکی و اوسیدلم هغه زما ډیر خیال ساتلو، یو ورځ د هغه سره بندیخانی ته لاړم هلته مي یو مسلمان جاسوس چې د دمشق څخه راغلی او نوم یې محمود و ولیده هغه ډیره ښکلی ځوانی درلوده هغه ته داسی عذابونه او کړاوونه ورکړی شوی اورکول کیدل چې زه یې بیان نشم کولای او د هغه څخه دا پوښتنه کیدله چې ستا نور ملګری چیری دی ؟هغه به وویل زه هیڅکله دا نه خوښوم چې زما په وینا دی یو مسلمان ونیول شی او بیا دی ور ته تکلیف ورسیږی، څه چې مو له لاسه کیږی وکړی ددی تولو پای مرګ دی او زه دی تیار یم.

ددی کلماتو په اوریدلو زما حالت بدل شو او له ځان سره می وویل: دا به ضرور د بند څخه خلاصوم ! همغه وو چې د خپل بادار مقام، د ښکلا دوکه او سره سپین زر می استعمال کړل او هغه می ازاد کړو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



می ورته د څو شپو ورځو تیرولو انتظام وکړ ځکه په هغه کې دومره طاقت نه چې وو په اس سپور شی او د شپې په تیار کې به چې کله می بادار د شرابو په نشه کې ویده شو زه به هلته ورتللم او خوراکی مواد او درمل می وروړل هغه به را ته د ایمان او یقین خبري کولی . او د مجاهدینو کارنامی به یې بیانولی زما فطری احساس راژوندی شو بیا هغه ددی قابل شو چې سفر وکړی ما ورته د سپرلی انتظام وکړ او د عکره د ښار څخه خپل تاتوبی ته ولاړ .

زما دا هیله ده چې د خپل قوم لپاره څه وکړم او یو ځل د سلطان صلاح الدین ایوبی دیدار هم .

زه اوس د هغه قوماندان سره دلته راغلی یم ، صلیبیان د لوی طاقت او ځواک سره په مسلمانانو یرغل کوی ....

راشد چنګیز وویل : تا چې په دومره څرګنده راز افشا کړو ته د استخباراتو غړی کیدلای نشی او که یې نو ستا روزنه نه ده شوی ، ستا د مینی او محبت د خبرو اترو په ځواب کې د یوازي زما په ځواب باندی دی پر ما اعتماد وکړه او که اوس زه تا ته دا ووایم چې ستا په نسبت د صلیب سره زه ډیر محبت لرم او زما وفاداری هم د صلیب سره ده نو ته به څه کوی ؟

پوه جاسوس په خپل مسئولیت باندی هر څه قربانوی .

نجلی وویل : زه نا پوهه نه یم تا ته حقیقت بیانوم او ته به یې منی او هغه دا چې ته عیسایی نه بلکی مسلمان یې او د مصری حکومت استخبارتی اداره غړی یې ایا دا رښتیا نه ده ؟

راشد چنګیز وویل : دا بالکل غلط ده تا زه په لوی ازمایښت کې واچولم.

نجلی وویل : څرنګه ؟

راشد چنګیز وویل : دا چې تا حکومت ته وسپارم او یا د مینی محبت په خاطر چپ شم .

نجلی وویل : د پوځ د تګ لاری ، شمیر، قیادت .... په باب پوښتنی د عام سړی کار نه دی بلکی ... د شرابو څښلو څخه انکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې مسلمان کوی ... او څو ځله د نفسي غوښتنې د پوره کولو لپاره زما بلنه او ستا انکار په هغه او دغه ....

بیا یې په غاړه کې ورته لاسونه واچول او ورته وې ویل : ته له ماڅخه ویرېږې او ستا زړه دا مني چې زه مسلمانه یم خو زه خپل زړه څرنګه تاسې ته ښکاره کړم چې مونږ د یو منزل مسافر یو .

زه به د سر په بدل کې هم ستا حفاظت کوم او دواړه به قیمتي راز د ځانونو سر وړو او که داسې و نه کړو نو حرن ، حلب ، حمات ، دمشق او بغداد به د صلیبیانو په سیلاب کې ډوب شي .

راشد چنګیز وویل : ته په رښتیا جاسوسه یې ، ما دوه نیم کاله د استاد هرمن تر سیوري لاندې تیر کړل خو هغه ونه پیژندلم زه ستا هوښیارۍ ستایم ته رښتیا وایې مونږ د یو منزل مسافر یو .

د نیمې شپې څخه وروسته دواړه پاڅیدل ، راشد چنګیز خپلې کوټې ته ولاړ او نجلې د استخباراتو د منصبدار کوټې ته !

د هرمن مرسیتال په خواړه خوب ویده وو نجلۍ د لاس څخه ونیولو په خندا یې وویل پاڅې ... پاڅې ... ښکار مې وکړ هغه مشال بل کړ او نجلۍ یې په غیږ کې ونیوله او په کټ کې کینوله او د بې حیایی اظهار وکړ بیا دواړو د صراحي څخه د شرابو پیالې ډکې کړې او څښلې بیا یې ورته وویل : څه خبر دې راوړې ؟

نجلې وویل : هغه د مسلمانانې سره سره جاسوس هم دی .

د هرمن مرسیتال وویل : دهرمن شک صحیح ثابت شو ؟

نجلې وویل : بالکل صحیح ! زما جادو او شرابو کار وکړ که نه هرمن په خیر ماهره انسان هغه نشو نیولای .

د هرمن مرسیتال وویل : مینه پاکه وي او ناپاکه غرونه میده میده کوي او دا کمزوري په هر انسان کې وي .

نجلې وویل : ما ته خوب راځي ما خپل ښکار وکړ خوړل یې ستاسې کار دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرمن مرسیتال وویل : تر اوسه ستا کار پای ته نه دی رسیدلی که د هغه نیول مقصد وی نو دومره لوبی ته څه اړتیا وه ! تاسی ته مو ولی تکلیف درکولو هغه مو یوازی د شک له مخې نیولی شو ستا اصلی کار اوس پیل کیږی او هغه دا چې د هغه ملګری پیدا کول دی طریقه دا چې ته ورته ووایی چې صلیبیانو د جګړی لپاره قیمتی سامان ، بی شمیره اور اخیستونکی ماده ذخیره کړی او هغی ته اور اچول ضروری دی او دا یوازی نه کیږی ددی لپاره سرتیرو ته ضرورت دی .

نجلی وویل : کیدای شی هغه خپل ملګری و نه ښایی .

د هرمن مرسیتال د نجلی په ویښتانو او لغړو متو باندی لاس تیرولو او ویل یې : ایا ستا دا وسله بی کاره شوی ؟

زه ستاسی دا کار چې ددی قوم لپاره دی وکړ ستاینه کوم او راپور یې هرمن ته وړاندی کوم .

***

هرمن خپل مرستیال ته وویل چې د راشد چنګیز په هکله همدومره معلومات کافی دی ځکه دا معلومه شوه چې هغه جاسوس دی اوس د هغه ښځه د نورو ملګرو او جاسوسانو معلومول پکار دی ، هغې ته یې ډېری لارښونی وکړی چې سبا باید د راشد چنګیز ښځه د ټولو کسانو معلومات واخلی چې هغوی ټول ونیول شي تر څو زمونږ راز رسوا نشی .

ښځی راشد چنګیز ته وویلی وو چې نن به زه ټول راز درته راوړم او سبا به دواړه د دی ځای ښځه ووځو، راشد چنګیز پدی ډېر خوشحاله وو چې هم به خپل اصلی راز واخلی او هم به داسی حسینه او ښایسته ښځه له ځان سره بوځی ځکه نو هغه ټوله ورځ ډېر خوشحاله معلومیده .

په همدی شپه هرمن راشد چنګیز ته لاس ورکړ او ورته وی ویل چې زمونږ پوځونه روان دي تا او وکتړهم له ځان سره ملګری کوو ځکه مونږ سره دوه دری بادشاهان هم دی .

راشد چنګیز وویل : مونږ دواړه ضرور څو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د خپلې دندې څخه فارغ شو نو د ارام کوټې ته ولاړ هلته وکټر ناست وو هغه پرته د سریزې څخه وویل : زما وروره ! زه د اخرې ځل لپاره تا ته وایم ددې ښځې او د شرابو د نشې نه ازاد فکر وکړه داسې نه چې خپل راز ورکړې !

راشد چنګیز وکټر ته وویل : زه ددې ښځې په باب هیڅ خبرې اوریدلو ته تیار نه یم ، ما د هغه مظلومې خبرې اوریدلې دې ته هغه نه پیژنې ما لیونې مه ګڼه دا زما لومړنې او اخرنې مینه ده !

د شپې راشد چنګیز باغ ته ولاړ خو وکټر ډېر ورخطاء او نا قلاره وه هغه هم ورپسې غلې او پټ ورغې ترڅو اصل حالات ځانته معلوم کړې کله چې راشد چنګیز د جاسوسې ښځې سره کیناسته نو وکټر لږ لرې د ونې لاندې پټ شو ترڅو معلومه کړې چې راشد چنګیز نور څه ګلان ریژوې ، ښځې سمدستې چنګیز ته په پیاله کې شراب واچول او خپله یې خولې ته ورنژدې کړل بیا یې لاسونه پرې واچول او خپل مینه او محبت یې پرې داسې استعمال کړ چې هغه یې تر خپل اثر لاندې راوست .

راشد چنګیز د هغې څخه وپوښتل: نن دې څه معلومات له ځان سره راوړې دې ؟

ښځې وویل: صلیبیانو د حلب او حرن په لورې د حملې فیصله کړې او ډېر زیات لښکر یې راجمع کړې ، راشد چنګیز سمدستې ښځه په غیږ کې ونیوله ځکه چې هغې ورته د کار احوال راوړې وو او وې ویل : مونږ او تاسې باید زر تر زره د دې ځای څخه ووځو.

ښځې وویل: نه وځو ځکه دلته صلیبیانو ډېر زیات سامان راجمع کړېدې ترڅو چې دا تباه نکړو زمونږ تلل بې فایدې دې ، دلته خو به ستاسې نور کسان خامخا وي ته دې خپل ټول کسان برابر کړه چې دې ځای ته اور واچوو.

راشد چنګیز ورته وویل : د ښار په ختیځ لورې کې چې کوم لوې مسجد دې هغه زمونږ مرکز او د هغه امام چې ډېر پوه او زړور انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی زمونږ باوری مشر دی زه به نن شپه هغه ته ووایم او سبا به هغوی د ماښام په لمانځه کې سره یو ځای شي .

نجلی وویل : په دی نیک کار کې به زه درسره ګډون کوم .

راشد چنګیز وویل : مرګ د وخت انتظار نه کوی که زه مړ شوم نو زما په یو ملګری وکټر باندی پوره اعتماد کولای شي .

نجلی په حیرانتیا سره وویل : وکټر هم .

راشد چنګیز وویل : ایا ته زمونږ د استاد ستاینه نه کوی چې یو عیسایی ورته جاسوسی کوی .

وکټر چې د ونی شاته پټ شوی وو اوس پدی پوه شو چې راشد چنګیز هر څه رسوا کړل پس له دی څخه د ښځې ژوندی پاتی کیدل خطرناک دی .

سمدستی یې په هغې حمله وکړه او خنجر یې د هغې په سینه کې ورخښ کړ .

راشد چنګیز چې کله خپله محبوبه په وینو کې لت پت ولیده نو په وکټر یې حمله وکړه خو وکټر هغه ته وویل: چنګیزه! زه وکټر یم او دا ښځه زمونږ او تاسې ټولو دښمنه ده او ټول پلاس ورکوی .

راشد چنګیز چې په شرابو کې حشیش هم څښلی وه د وکټر خبره یې هیڅ نه منله هغه په وکټر حملی کولی خو وکټر ښځه ورته مخی مخی ته کوله تر دی چې هغه پدی پوه شو چې پرته د راشد چنګیز د مرګ څخه د مسئله نه حل کیږي نو د چنګیز په سینه کې یې خنجر ورخښ او هغه یې په ځمکه راګذار کړ .

لږ څنډ وروسته جاسوسه ښځه او راشد چنګیز دواړه ساړه پریوتل او مړه شول ، وکټر هم زخمی شوی وو ، هغه ځان د جومات امام ته ورساوه او ټوله کیسه یې ورته وکړه او دا یې ورته وویل چې سمدستی باید قاهری ته ځوک واستوی چې د صلیبیانو پلان سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورسوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکټر امام ته وویل : اوس به هرمن او د هغوی اداره د دی تحقیقات کوي نو زه خپل ځان پلاس ورکوم او تاسې ټول بی غمه خپل کار کوی ، زه به هغوی ته وایم چې دی ښځی زما سره د بڼ د یوی ونی لاندی د مینی څرګندونه کوله چې چنګیز مونږ ولیدلو په غصه شو په هغی یې د خنجر وار وکړ چې په لومړی وار هغه مړه شوه او بیا یې په ما باندی هم حملې وکړی چې بلاخره چنګیز پکی مړ او زه پکی زخمی شوم، د دی مسئلی څخه به یوه جنایی دوسیه جوړه کړم او سیاسی اړخ به یې خپله پټ شي. تر اوسه پوری هرمن ته پرته لدی څخه بل څه پلاس ندی ورغلی ځکه یوازی چنګیز خپل ځان ښودلی دی، نور شیان خو د ښځی په زړه کې همداسې راز پاتی شو او هرمن ته ندي رسیدلی نو تاسی خپل کار کوی او زه ستاسی ټولو لپاره ځان قربانی کوم . زما هغه وخت یاد دی چې کله زمونږ په سیمه کې دصلبییانو چاړواکو زما خور ته لاس واچولو هغه ورځخه وتښتیدله نو هغوی خپل کسانو ته امر وکړ چې زما خور ونیسی ، هغوې ورپسی شول دری مسلمانو ځوانانو چې دا حالت ولیدلو نو په مخ کې ورته ودریدل هغوی پری د تورو وارونه پیل کړل خو الله تعالی له دوی سره مرسته وکړه او توری ورځخه واخیستلی او زما د خور عفت او عصمت یې وساتلو زه د صلیبیانو مشر منصبدار ته ورغلم او له هغو دوه منصبدارنو می شکایت وکړ ځرنګه چې هغه نیک خویه انسان وو زما خبره یې واوریدله زما د خور عزت او ددری مسلمانانو ځوانانو سرونه خوندی پاتی شول .

دی پیښی زه پوخ ته راوستلم زه خپل قوم ته ددی احسان بدله ورکوم ، زه خپل ځان جلاد ته سپارم او د تریپولی د مسلمانانو د ځانونو او عزت ساتنه کوم .

وکټر هماغه ودانی ته ولاړ چیری چې چاوراکی اوسیدل او د یو دروازه یې وټکوله، هغه په غصه او قهر سره راووتلو چې پدی نیمه شپه کې څه خبره ده؟

وکټر وویل: ما دوه کسان وژلی دی او ځان تسلیمولو ته راغلی یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکي ورته وويل: که مسلمان دی وژلي وي ولاړ شه خپل علاج دی وکړه او که عیسایي دی وژلي وي نو بیا ځان وژلو ته برابر کړه.

وکټر وويل : زما ملګري زما سره چې د کومې نجلۍ مینه وه هغې ته یې دام غوړولی وو خو هغه په کې ونه نښته نو هغه یې ووژله زه مجبور شوم هغه مړ کړم اوس تاسې ته راغلی یم چې څه فیصله کوئ؟

چارواکي ورته وويل: ته پوهیږې چې د ښځې وژل ښه کار ندی نور یې څه ونه ويل.

سهار چې کله هرمن خبر شو چې د دوی جاسوسه او د هغې ښکار شوی جاسوس دواړه چا وژلي نو د غصې او قهر څخه وپړسیده او د لیونیانو پشان ګرځیده چې کله خبر شو چې دا کار وکټر کړی او خپله هم زخمي دی نو په هغه یې د وهلو پیل وکړ. وکټر خو د زخمونو له لاسه کمزوری شوی وو اوس یې د دې وهلو زور نه درلوده نو بې هوشه شو او بیا بیرته په هوش رانغلو!

دویمه ورځ په همدې بې هوشۍ حالت کې جلاد ته وسپارل شو هغه ورڅخه سر له تنې جدا کړ کله چې د ده مړی کندی ته اچول کیده نو د امام استول شوی سړی د تریپولي څخه ډېر لرې تللی او د قاهرې په لورې په خپل اوښ باندې د پوره پوځي راز سره روان وو کوم چې وکټر امام ته رسولی وو.

* * *

د قاهرې په روزنیز میدان کې هر لورې ته اوښان، اسونه او انسانان ځغلیدل او سخت ټریننګ او عسکرې تمرینات پیل شوي وه، هر لورې ته حملې او بریدونه کیدل، توري چلیدې او غشي ویشتل کیدل.

سلطان صلاح الدین ایوبي د شپې حکومتي کارونه کول او د ورځې به یې د عسکرې روزنې کارونه پخپله لیدل او کنترولول.

بوه ورځ هغه په یوه کوچنې غونډۍ باندې پورته شو او د روزنې کارونه یې لیدل نو خپل ملګرې سالار ته یې وويل: اوس باید خامخا زمونږ کوم جاسوس احوال راوړې واي چې صلیبیان څه پلان او پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، هغوی خامخا باید د جګړې پروګرام ولري، که هغوی حمله ونکړه نو داسې معلومیږي چې هغوی د جګړې څخه توبه ویستلې ده ، هغوی په همدې خبرو بوخت وو چې له لرې څخه ګرد معلوم شو، لږ څنډ وروسته د ګرد څخه دوه سپاره راښکاره شول کله چې هغوی رانژدې شول یو علي بن سفیان او بل نابلد سړی وه چې سلطان صلاح الدین ایوبي کله نه وو لیدلی ، علي بن سفیان او ملګري یې سلام وکړ او بیا یې هغه معرفي کړ چې د تریپولي څخه راغلی او نوې معلومات یې راوړي دي .

نابلد سړی اصلاً د تریپولي د جومات د امام رالیږل شوی استازی وو چې هغه ورته د وکټر ورکړل شوې معلومات وویلې او قاهرې ته یې را استولی وه .

سلطان صلاح الدین ایوبي وپوښتل: څه حال دی په تریپولي کې؟

د امام استازي وویل: زمونږ ټول کسان په خیریت دي او زمونږ امام ملګري ماته احوال راکړي چې قاهرې ته یې ورسوم .

صلیبیان ښه ډیر په تریپولي کې راټول شوي او په ټولو کې رینالټ ډیرې غورې وهي چې دا ځل به زه سلطان صلاح الدین ایوبي ژوندی نیسم. هغوی دا ځلې داسې پلان جوړ کړی چې تاته به کمین نیسي او یا به دې محاصره کوي ځکه هغوی ډیر زیات لښکر د ځان سره راوستی بله دا چې هغوی ته معلومات شوي چې ستاسې سره لښکر کم دی نو تاسې به مخامخ جنګوي یا به درته کمین نیسي او غلچکي بریدونه به دربانديي کوي. د لښکرو د حرکت وخت معلوم ندی ځکه چې زمونږ دوه کسان چې د تریپولي په قصر کې یې کار کاوه هغوی وژل شویدي او د هغه څخه راز راویستل اوس ممکن ندی، استازی سلطان صلاح الدین ایوبي ته د راشد چنګیز او وکټر ټوله کیسه وکړه .

سلطان صلاح الدین ایوبي شپه او ورځ په ځان یوه کړه او پلانونه جوړول یې پیل کړل ، ټول سالاران یې پدې وګمارل چې زر تر زره کسان تیار او برابر کړي. بلاخره په اکتوبر ( ۱۱۷۷ ) میلادي کال هغه یو دم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمشق په لوري حرکت وکړ، هغه په ډېرې تيزې سره مخ په وړاندې روان وو چې حلب ته ورسيده، په حلب کې خبر شو چې صليبيانو د حرن کلا محاصره کړې، د سلطان صلاح الدين ايوبي سره زر کسه پياده او نهه زره سپاره وه نو د حرن په لور وخوځيدو او د حرن محاصره کوونکی لښکر يې خپله محاصره کړ او زيات صليبي بنديان يې ونيول، وروسته يې په رمله حمله وکړه هغه يې هم ونيوله بله کلا د لډيا په نامه وه هغه يې هم فتح کړه دا درې واړه ځايونه ورته ډېر په اسانه پلاس ورغلل.

د سلطان صلاح الدين ايوبي سره چې کوم نوي کسان راغلي وه هغوی هم تجربه نلرله او هم ورسره د نورو پشان جذبه نه وه خو چې کله هغوی درې واړه ځايونه ونيول نو داسې فکر يې وکړ چې مونږ ته نور څوک ماتې نشي راکولی. ډېر بې احتياطه شول صليبيانو دا ځل سلطان صلاح الدين ايوبي ته کمين نيولی او غوښتل يې په غلچکی بريد هغه ته ماتې ورکړي.

کله چې د سلطان صلاح الدين ايوبي پوځونو رمله ونيوله او کلا فتحه شوه، پوځيان يوې او بلې خواته خپاره شول. صليبيانو مخکې سيمه يې نيولې وه، يوازې په کلا کې يې د دوکې لپاره څه کسان کينولي وه چې سلطان صلاح الدين ايوبي پرې وغولوي او کلا ورته خوشې کړي کله چې د مسلمانانو پوځ خپور شو او فتحه وشوه يو دم له هرې خوا څخه صليبي سپاره لکه د سيلاب په شان راغلل چې ټول يې ورخطاء کړل، د سلطان صلاح الدين ايوبي پوځ ګډوډ او خپور وو هغه ته دا موقع پلاس ورنغلله چې خپل کسان راټول کړي، هر ځای کې چې څوک وه يا ووژل شول يا ونيول شول.

څه کسان چې د حملې له ځايه لږ لرې وه هغوی تيښته وکړه او نيغ د قاهرې په لورې ولاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان صلاح الدين ايوبي ښی لاس او ستر سلا کار عيسی الهکاری ژوندی صليبيانو ونيوه، سلطان صلاح الدين ايوبي د خپل يو اوبښ سره راخلاص شو او قاهری ته روان شو. پدی جګړه کې سلطان صلاح الدين ايوبي دا سهوه وکړه چې هغه په دمشق کې خپل ورور توران شاه او په حمات کې بل باتور ورور العادل ته هيڅ خبر ورنکړ او نه يې د هغوی ځخه مرسته وغوښته بلکې د لږ او بی تجربی نوی پوځ سره يې په صليبيانو بريد وکړ حال دا چې هغوی ښه په غوره دلته راغلی وه ، دا جګړه او ماتی په جمادی الاول ( ۵۷۳ هجری او ۱۱۷۷ ) ميلادی کې پيښه شوه کله چې هغه قاهری ته راغی نو سمدستی يې د نوی کسانو د نيولو حکم وکړ تر څو خپل کموالی بيا پوره کړی ځکه هغه ته دا جګړه ډېره ګرانه تمامه شوه، صليبيانو د سلطان صلاح الدين ايوبي ځخه شپيته زره ديناره تاوان واخيستلو او عيسی الهکاری يې خوشی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چې مسئولیت محبت مات کړ

رمله د بیت المقدس نه لس میله لرې شمال ته د اردن په سیمه کې پرته ده چې په ۱۹۶۷ع کال د جون په میاشت کې د اسرائیلو او عربو په جګړه کې اسرائیلو ونیوله .

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی په رمله کې ماتې وخوړه نو له هر لورې ور ته خطرونه متوجې شول ځکه ټولو دښمنانو ته وخت پیدا شو چې بیا راوېنښ شي. هغه په قاهره کې خپل فعالیت او د پوځ بیا جوړول پیل کړل .

د سلطان صلاح الدین ایوبی ورور ملک العادل په حمات کې اوسیدو هغه چې کله درمله له ماتې څخه خبر شو او ځینې ماته خوړلې ورته راورسیدلو او په دا راپو هم ورته راغی چې صلیبیانو اوس غواړي نور پرمختګ هم وکړي نو په یو لوړ ځای پورته شو ، ښي او کین لورې ته یې مشالونه په لاس دوه تنه ولاړ و هغه په ډیر لوړ اواز وویل : ای د الله جل جلاله او د هغه د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د لارې سربښندونکو مجاهدینو ! دا حقیقت قبول کړی چې مونږ ماتې وخوړل ایا تاسی به په دی حالت کې د خپلو میندو ، میرمنو او لورګانو په وړاندی ودریږی او هغو ته به وایی چې مونږ د بې دینه انسانانو له لاسه ماتې وخوړله ؟

ایا تاسی ته به خپلې میندې شیدې وبخښي چې په کورونو کې ناستی دی ، ددی خبر انتظار کوی چې زمونږ لومړی قبله د کفارو د کړغیړنو پنجو څخه ازاده شي .

ستاسی نه چې کوم یو کور ته د تلو اراده لري هغه دی له صف څخه راوځي او له دی ځای څخه دی خپل کور ته ولاړ شي !

د ملک العادل د پوځ څخه یو کس راووت او په ویریدلی اواز یې وویل : محترم سپه سالاره ! مونږ ته خپل مقصد ووایه ! تاسی ته څا ویلی چې مونږ خپلو کورونو ته ځو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه د راتښتیدلو په وخت کې ووژل شوم نو زما مړی خښ نه کړی ! پرېږدی چې ځناور، تپوسان او کارغان يې وخوري او دا زما د ټولو مجاهدینو ورونو د زړه اواز دی !

د هر باتور سرتیري د خولې څخه همدا يوغږ پورته شو هو ! هو !

بیا ملک العادل وویل : دښمن ستاسی پسی را روان دی تاسی ته ثابته ده چې د رمله فتح به د هغوی اخری فتحه وی ...

نن شپه ارام وکړی سبا شپه زه تاسی ته وایم چې څه وکړو !

ملک العادل لږ پوځ په کلا کې پریښوده او نور ټول چې پنځه شپږ زره غازیان کیدل له کلا څه وويستل او شپه په شپه يې غرونو ته ورساوه او هلته يې پټ کړل ترڅو د سلطان صلاح الدین ایوبی د رمله د ماتی غچ او انتقام ورڅخه واخلي .

څومره اوښان چې زخمیان وه هغه يې ټول حلال کړل او ټول يې خپلو مجاهدینو ته پاخه کړل ، د دی سره جوخت يې حلب او دمشق ته هم خبر واستاوه، چې مونږ ته خوراکی او جنگی سامان، آسونه او اوښان زر تر زره را واستوی چې صلیبیان پدی لوری را روان دي .

د صلیبیانو بادشاه بالډون پدی پوهیده چې صلاح الدين ايوبي اوس ماتی خوړلی نو د هغه د پوځ حوصله ختمه یا کمه شویده، پوځیان يې زیات زخمیان او مړه شویدی همداسی باید خپل پرمختګ جاری وساتو تر دی چې لوی لوی ښارونه هم د هغوی د لاس څخه وباسو، په همدی خاطر هغه د لوی لښکر سره په ډیر تلوار سره وراندی راغی او د حمات کلا يې محاصره کړه خو هغه پدی پوهیده چې دلته جگړه نشی کیدای او هغوی باید زر تر زره تسلیم شي نو د جگړی څخه يې مخکې اعلان وکړ چې دروازه خلاصه کړی او که نه کلا به داسی ورانه شی چې څوک به تصور هم نه کوی چې دلته کومه ابادی وه .

خو د دیوالونو څخه وربادی د غشو باران وشو د صلیبیانو بادشاه بالډون بیا اعلان وکړ چې په جگړه کې ستاسو خیر نشته او نه د جگړی توان لری ، د بی مقصده وینه تويولو کوښښ مه کوی څکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسی جګړه نشی کولای کلا مونږ ته وسپاری او زه ژمنه کوم چې د هیڅ بندی سره به بد سلوک نه کیږی .

د کلا د دیوال څخه دروند اواز راغی مونږ په هیڅ صورت هم نه تسلیمیږو، تاسې خپل ټول زور او قوت استعمال کړی اود کلا څخه دومره لری شی چې زمونږ غشی تاسی ته ونه رسیږی ... بیا غږ وشو چې مونږ خپله وینه بی مقصده نه تویوو حال دا چې ستاسی بی مقصده وینه تویږی .

په کلا کې دومره پوځ نه وو چې مقابله وکړای شی خو قوماندان د کلا د دروازی خلاصولو ته تیار نه و ځکه ملک العادل هغه ته وظیفه ورکړی وه چې تاسې مقاومت وکړی چې هغوی ته دا شک پیدا نشی چې دوی پوځ له کلا څخه ویستلی دي مونږ د شا لخوا پری حمله کوو. صلیبیانو بادشاه بالډون چې کله مقاومت ولیده نو حکم یې وکړ چې پوځ شاته شي او خیمی ولګوي ځکه چې اوس کلا سمدستی تسلیم نشوه هغه فکر کاوه چې د یو ساعت خبره ده ، ټول پوځ خیمی ولګولی. بالډون ته د نورو څخه لری پادشاهی خیمه ولګول شوه چې د ماڼی په شان ښکاریده او هر څه پکې برابر وه.

د هغه دا تصور هم نه وو چې د شا له لوری دی پری حمله وشی ، د ماښام وروسته یې قوماندانان خیمی ته راوغوښتل اود سبا ورځی د جګړی په هکله یې ورته لارښوونی کولی .

د صلیبیانو بادشاه بالډون دا کوښښ کاوه چې د ملک العادل پوځ ارام ونه کړی او نه ورته مرسته راورسیږی او هغه ژوندی ونیسی ځکه د سلطان صلاح الدین ایوبی ورور لوی قیمتی بندی وی او ددی په بدل کې به د هغوی هر شرط ومنی او زیات امتیازات به ورڅخه تر لاسه کړي .

بالډون د فاتح په توګه ناست وو ، د څلور انجونو څخه یوی ورته د شرابو جام په لاس نیولی بلی ورته لاس مښولو او دوه نورو ورته پښی چاپی کولی - څلور نوری مسلمانی نجونی چې صلیبی قوماندانانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمله کې نیولې وې ډیرې ښکلې او ښایښته وې خپل بادشاه بالډوین ته یې د نورو قیمتي څیزونو سره د ډالۍ په ډول وړاندې کړې او نورې بندیانې انجونې آفسرانو او پوځیانو پخپلو کې سره وویشلې.

لومړۍ مسلمانو انجونو ډېر ژړل او نا قلاره وې خو صلیبي نجونو هغوی ته تسلي ورکوله ورته ویل یې خوشحاله اوسې په خپل بخت ونازیږې چې بادشاه بالډوین ستاسې په سر باندې لاس کیښوده، کومې نجونې چې زمونږ د پوځیانو لاسونو ته ورشي د هغوی حال داسې وی چې د ځمکې او اسمان مخلوقات پرې ژاړي.

تاسې به یو ورځ نه یو ورځ د کوم مسلمان کور ته تللي د څو کالو تیرولو وروسته ستاسې حسن ختمیدلو او دا فطري عمل دی بیا ستاسې قدر او قیمت هم کمیدو بل دا چې د ژوندانه هغه سهولتونو به نه وو کوم چې دلته دي.

هو!

د ښځې هیڅ دین نه وي که هغه چا ته په نکاح ورکړای شي او یې یا څوک په زور ملګرې کړې نو تاسې ولې دداسې انسان سره په خوشحالي ژوند نه تیروی کوم چې د جګړې د میدان لوی سپه سالار او د یو هیواد پادشاه دی.

د یو د نجلې د ژبې لاندې ویل: دوی د خپلو تولنو په رڼا کې ښځه ته ګوري هغوی ته ډېر شنه باغونه وښودل شول او ژمنې ورکړل شوې، بلاخره هغوی لږ شانته غلې او چوپ شوې.

کله چې څلور واړه په یوه خیمې کې سره یو ځای شوې نو یوې او بلې ته یې وویل: ښه کار دا دی چې مونږ هغوی ته ځان باوري ښکاره کړو او د هغوی باور او اعتبار په ځان باندې راولو بیا به نو بادشاه بالډوین ووژنو، د هغوی فیصله همدا شوه چې ځان غلې ونیسی او د پادشاه د مرګ لپاره ځانونه برابر کړې یا دا چې خپله وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې بادشاه ولیدلی چې پیغلې او ښکلې دي نو د استخباراتو د اداري مشر یې راوغوښتلو ورته وې ویل : ایا نورې نجونې هم داسې ښکلې دي ؟

د استخباراتو مشروویل : هو !

د صلیبیانو بادشاه بالډون وویل : که دا وروزل شي نو ددوی څخه ښه کار اخیستلی شو خو دا او نورې قیمتي نجونې د عیاشۍ وسیله و نه ګرځوئ په مینه او محبت ددوی زړونه لاس ته راوړئ .

له دې مخکې څلور واړه په یوه خیمه کې سره ناستې وې چې یوه یې نسرین نومیده هغې خپلې ملګرې حبیبې ته وویل : مونږ ته ښایي چې لدې ځایه د تیښتې لاره ولټوو .

حبیبی وویل : که د بدلې اخیستلو کار وی نو دا تر هغه وخت ممکن نه دی چې مونږ دوی ته دا څرګنده نه کړو چې مونږ د زړه له کومې دوی وینځیتوب قبول کړی دی .

جمیلې وویل : زما پلار د صلاح الدین ایوبي په پوځ کې دی هغه به مونږ ته وویل : د کافرانو نجونې د صلیب لپاره د خپل عزت سودا کوی او زمونږ مسلمان واکمنان او چاوراکي خپل ملګري کوی ، هغوی وژنې او د پوځ محرم رازونه خپلو مشرانو ته رسوی .

نسرین وویل : ما ته هم دا معلومه ده چې صلیبي نجونې هغه کارونه کوی کوم چې زمونږ مسلمانان وررونه یې د دښمن په هیوادنو کې کوی .

حبیبی وویل : که مونږ هغوی ته ووایو چې ستاسې په دین کې داخلیږو او ددې په نتیجه کې د هغوی اعتماد تر لاسه کړو بادشاه او لوړ پوړي چارواکي ووژنو او یا د هغوی د بې لارې کولو کوښښ وکړو .

طیبی وویل : زه خپل عفت او عصمت د لوټولو وړاندې مرګ غوره بولم زه خپل لاسونه د الله تعالی دربار ته لپه کوم چې ما ته د ازادۍ لاره خلاصه کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم په یاد ولری چې سلطان صلاح الدین ایوبی خو څه چې هیڅ غیرتمند مسلمان دا نه خوښوی چې د هغه خور او لور دی ددښمن نه په داسې طریقه راز واخلی یا دی هغه ووژنی ...

په کومه ورځ چې د صلیبیانو بادشاه بالډون پوځ کلا محاصره کړه د هغه څخه دوه شپې مخکې مسلمانو انجونو داډ ورکړ چې مونږ خپل دین پرېښودلو ته تیار یو کله چې قوماندان بادشاه بالډون ته وروستلی نو دوی په غاړه قیمتی هار چې صلیب نښه په کې وه اچولی وو .

د صلیبیانو بادشاه بالډون وویل : ممکن دوی د خپلې ویرې څخه د اسلام دین پرېښودلو څرګندونه کړی وی خو د زړه څخه یې تر اوسه مسیحیت نه وی قبول کړی نو د هغو په زړونو قبضه وکړی ، د مسلمانانو اخیستل کوم مشکل کار نه دی خو په مسلمانانو باندی اعتماد کول د خطر نه خالی نه وی .

مخلص مسلمانان داسې قربانی ته ځانونه تیار وی چې زمونږ قوم یې تصور هم نشی کولای .

د صلیبیانو بادشاه بالډون وویل : اوس چې دوی زمونږ په جال کې نښتی او وتلی ورڅخه نشی خو بیا هم دوی تر څارنی لاندی ساتی چې په ما یا تاسی وار و نه کړی .

د صلیبیانو بادشاه بالډون د محاصری په شپه ډیرشراب وڅښل او د اتو وارو نجونو سره چې په یوه خیمی کې وی لاسونو اچول پیل کړل او ښه یې سره ځانونه ستړی کړل ، قوماندانانو هم شراب څښلی بې‌خوده پریوتل ځکه چې هغوی د فتحی په نشه کې وه او دا خای هم ورته په قدمونو کې پروت ښکاریده د شپې تر ډېر وخته پورې ټول لښکر ویښ وو، وروسته ټول ویده شول یوازې پیره کوونکی ولاړ وه خو هغوی هم داډه وه ځکه چې دلته هیڅ خطر موجود نه وه، د کلا څخه د باندنی پوځ د برید او حملی خو هیڅ ویره نه وه .

د نیمې شپې په وخت کې د حمات د غرونو څخه زر پلي او پیاده مجاهدین په خپو خپو ګامونو د حمات د کلا په لوري را روان وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېرو ډلو او ګروپونو ویشل شوی او هر یو ته جلا جلا وظیفه ورکړل شوی وه. چاته خیمی سوځول، چاته رسی خلاصول، چاته اوښان خلاصول او زخمی کول او چاته د پوځیانو په سینو برچی منډل سپارل شوی وه. کله چې هغوی را ورسیدل هر یو ګروپ خپل خپل کار پیل کړ، هر لوری ته یو دم شور او غوغا پیل شوه، آسونو او اوښانو یوی او بلی خواته منډی پیل کړی، په خیمو کې آورونه ولګیدل او یو قیامت غوندی جوړ شو. کله چې بالډون راویښ شو ګوري چې په قرار ګاه کې قیامت جوړ شوی ، پیاده او پلي مجاهدینو خپل کار وکړ او نور بیرته غایب شول ،په همدی وخت کې یو ځل ځمکه په لړزه شوه او څلور زره سپاره د حمات د غرونو څخه په منډه راووتل او په صلیبیانو یې داسې حمله وکړه چې هر څه یې له ځان سره تباه او برباد کړل بیا بیرته پرې راتاو شول او دویم ځلی یې پاتی شیان ختم کړل ، د کلا د نورو طرفونو صلیبی لښکر چې شور او غوغا واوریدله هغوی هم یوی او بلی خواته منډی کړی خو هیڅ نه معلومیدل، آسونه او اوښان ټول په منډه وه، پرته لدی چې ښه غور او فکر وکړی تیښته یې پیل کړه او په منډه شول .

د صلیبیانو بادشاه بالډون او قوماندانان د خوب څخه راویښ شول او د خیمی څخه په تلوار راووتل ترڅو حال معلوم کړی هر لوری تـه د الله اکبر- الله اکبر چیغی وی .

نجونو چې واریدل نو پوه شوی چې دا د مسلمانانو یرغل دی، حبیبی خپلی ملګری نسرین ته وویل: د صلیبیانو بادشاه بالډون د وژنی وخت دی !

نسیرین وویل : د تښتی وخت هم دی .

هغوی راووتلی ګوری چې څلور لوروته د صلیبیانو بادشاه بالډون محافظان ولاړ دی او څو تنو په لاسونو کې مشعلونه نیولی نو ناهیلی بیرته خیمی ته ننوتلی .

طیبی د خیمی تر شا مسلمانانو سرتیرو ته د ځان رسولو کوښښ کولو ترڅو هغوی ته ووایی چې د صلیبیانو بادشاه بالډون دلته دی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی تول په اسونو سپاره او هر یو دا کوښښ کولو چې د یرغل له ځای نه خپل پړاو ته ستون شي .

یو سپور اس خپل ودرولو او پوښتنه یې وکړه څه خبره ده ؟

طیبی وویل : زه مسلمانه یم او زما په خیر نوری مسلمانی نجونی د صلیبیانو بادشاه بالډون په ولکه کې دی چې له دی ځای څخه په څو ګامونو کې د هغه خیمه او د جګړی مرکزی هسته ده ، پدی خبری سره سرتیری هغه د ځان سره سپره کړه بیا هغه خپل قوماندان ته ورروسوله هغه ددی د خبرو په اوریدلو دوه ټولی سرتیری له ځان سره ملګری کړل او د صلیبیانو بادشاه بالډون خیمه یې محاصره کړه بیا یې پری غږ وکړ که د خیمی څخه نه راوځی نو مونږ ورته اور اچوو څلور صلیبی نجونو او دری مسلمانی نجونی او څو تنه نوکران پرته د وسلی څخه بیرون راووتل .

د بادشاه بالډون په هکله ورڅخه پوښتنه وکړای شوه خو هیچا ورته و نه ویلی شول چې چیرته تښتیدلی دی ؟

هغه د پړاو د خیمو له منځ نه خپلی خیمی ته را روان وو چې یو پوځی ور وراندی شو ورته وی ویل ستا خیمی ته مسلمانان را رسیدلی دی هغه ډیر ژر د سپرلی مخ بل لور ته کړ .

⊙⊙⊙

تر سهار پوری الملک العادل د صلیبیانو په لښکر باندی د خرپ او ترپ عملیات وکړل چې کله سهار شو پرته د مړو، زخمیانو، آسونو او اوښانو څخه نور څه نه ښکاریدل. الملک العادل د بالډون فتحه په ماتی بدله کړه او د رمله غچ او انتقام یې ډېر زر ورڅخه واخیستلو. مجاهدینو ته الله تعالی ښه پریمانه وسله، سامان، آسونه او اوښان ورکړل چې د هغوی ټولی اړتیاوی یې پوره کړی .

ملک العادل سمدستی لیکونکی راوغوښت ورته وی ویل : زر تر زره لیک ولیکه :

زما عزتمند ورور صلاح الدین ایوبی د مصر او شام سلطان ته !

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام علیکم ورحمه الله

الله تعالی دی د اسلامی امت د وقار او د سرلوړی په خاطر ډیر عمر درکړی
زه دا لیک په دی امید سره لیکم چې تاسی به په خیر سره قاهری ته
رسیدلی وی چا مونږ ته خبر راکړ چې تاسی شهید شوی خو بیا
معلومه شوه چې تاسی زخمی یاست ، زه او نور سرتیری مجاهدین
ډیر خفه وو تاسی چې د پوهی له مخی کوم استازی رالیږی وو او هغه
ستاسی د روغتیا زیری راوړ ډیر خوښ شو .

زه امید لرم چې درمله ماتی په زړه باندی بار و نه ګڼی انشاء الله
مونږ به ددی غچ ضرور اخلو او نیول شوی سیمی به بیرته ورخنی نیسو .

زه د ماتی په اسبابو باندی غور کوم په هغه کې مسئولیت د پوځ په
غاړه نه بلکی مونږ ماتی هغه ورځ وخوړله چې په خپلو کې مو توری
پورته کړی او زمونږ ورونه د بادشاهی نشی رانده کړه او کوم مال
اودولت چې ددی مظلوم امت د خیراو ښیګړی لپاره استعمال شوی
وای په کورنی جګړو کې ضایع شو زمونږ میړنی او تجربه کار پوځیان
شهیدان شول .

اوس پاملرنه دی لورته کول دی چې دښمن مو د رنګ، ژبی ، قوم په
نامه په خپلو کې ونه جنګوی .

ما او زما قوماندانانو د سرتیرو مجاهدینو مرسته د رمله د ماتی
وروسته څخه دا ثابته کړه چې هم هغه پیاده او سپاره چې تاسی راکړی
وو د دښمن خوځنده پوځ ته داسی ماتی ورکړه چې بیا به د یرغل
جرائت ونه کړای شی .

زما دا هیله ده چې ددی یرغل او بری حالات د تاریخ په پاڼو کې
ولیکل شی ترڅو راتلوونکی نسل دا و نه وایی چې د ماتی وروسته
مسلمان قوم مړ کیږی .

که تاسې دلته شتون درلودای او سهار مو د صلیبیانو حالت لیدلی
وایې نو د ماتی غم به مو هیر شوی وای خو زه په دی ډیر افسوس کوم
چې د صلیبیانو بادشاه بالډون زمونږ د لاس څخه ووتلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه اوس په داسی ځای کې ولاړ یم چې د حمات کلا راته ښکاری او مسلمانانو بیرغ چې " لا اله لا الله محمد رسول الله " پری لیکل شوی رپیږی.

که ماسره دومره پوځ نور وایی لکه چې اوس راسره دی نو ما به د صلیبیانو پسی پښنی بډوهلی وایی او هغه سیمی به می بیرته ورځخه نیولی وایی.

خو زه اوس ډاډ درکوم چې ما د سرتیرو مجاهدینو جذبه تازه کړه او هیله لرم چې تاسی په کلاره د نوی پوځ په روزنه کې مصروف اوسی زه به غلچکی یرغلونه کوم ، دښمن به ارام ته هیڅکله نه پریږدم په دی ډول زه کومه سیمه نشم نیولای خو تاسی ته د تیاری وخت په لاس درځی.

ما شمس الدوله ته هم پیغام لیږلی دی چې ماسره مرسته وکړی او الملک الصالح ته هم هیله لرم چې هغوی څه مرسته وکړی.

زمونږ له لوری اندیښمن مه اوسی الله تعالی زمونږ سره دی او د هغه څخه د مرستی غوښتونکی یو او ټول به د هغه لورته ورځو.

## الملک العادل

ملک العادل خپل پوځ په ډېرو ډلو وویشلو چې په هر یو کې څلویښت څلویښت کسان وه، هغوی ته یې وظیفه ورکړه چې هره شپه د بالډون په کیمپ او قرار ګاه باندی برید وکړی.

مجاهدینو هره شپه پرته د دمی څخه د پوځ په مختلفو برخو حملی کولی او ډېر زیان یې ورسولو، خپله به هم پکې شهیدان کیدل.

د صلیبیانو بادشاه بالډون د هغوی د مخنیوی لپاره کوچنی ګروپونه جوړ کړل خو دوی هماغه ګروپونه په لارو کې ختمول او له منځه یې وړل - د دی حملو ګټه دا شوه چې د بالډون لوی پوځ یوازی د ځان په ساتلو باندی بوخت شو او نور هیڅ پرمختګ یې ونشو کړای، د دی په خوا کې سلطان صلاح الدین ایوبی ته هم د تیاری وخت پلاس ورغی.

***

کله چې درمله څخه ماتی خوړلی پوځ د مصر په لوري روان وو نو هغوی بی ترتیبه او ډلی ډلی وه ، څوک دوه، څوک دری، څوک پنځه څوک شپږ او څوک زیات او کم په لاره کې په غرونو ، د خاورو په

(c) ke... .com: The Digital Library



هسکو غنډویو پورته کیدل او کښته کیدل بیا پراخی دښتی کې ...
کول کومو چې ددی لاری مشکلات ونشول زغملای یې هغوی په لاره کې
د تل لپاره پاتی شول .

خو ځینی هغه غازیان چې ډله به یې تر پنځوسو رسیدله د یو ځای ...
سفر له امله یې حوصله ښه وه خو څرنګه چې په دی لاره کې د اوبو
هیڅ درک نه وو نو دوی د یو بل هیڅ مرسته نه شوی کولای پرته له دی ...
چې څوک به مړ شو نو هغه به یې خښ کړ .

پدی ډلو کې صلیبیانو خپل کسان هم مصر ته واستول تر څو هلته د
سلطان صلاح الدین ایوبی لپاره ستونزی پیدا کړی او خلک د ...
څخه منع کړی .

یو پیر په لاره کې د غونډیو په منځ کې کیناست ترڅو تبتیدلی
پوځیان راشي او د هغوی سره ملګری شي. د ده سره خپل زیات کسان
یوی او بلی خوا ته وه چې مصر ته یې ورسوی هغوی د خلکو څخه ...
ګرځیدل. یوازی دوه کسان د ده سره یو ځای وه چې په خلکو کې به ...
ورته تبلیغات کول او د ده کرامات به یې بیانول چې دا د الله تعالی
دوست او ولی دی .

ځینی کرامتونه یې ورته په عملی توګه هم ښودل .

د خلوېښتو کسانو په شا او خوا کې د پوځیانو یو کوچنی کاروان
چې د غونډیو تر منځ پداسي حالت کې روان وه چې هر یو خپلی ښځی د
ځان پسی کشکولی ، هغوی ټول د لوږی او تندی څخه بی حاله وه ...
دمی لپاره هلته تم شول نو د کمر تر شاه یو انسان چې ښکلی شکل او
صورت ، ښی سپینی جامی ، لویه چپن ، په سر یې پګړی او په لاس ...
کې یې امسا وه ولیده پوځیان حیران شول او په ورو ورو یې یو بل ته
وویل : دا خامخا حضرت خضر علیه السلام دی !
یو بل وویل : د ځمکی انسان خو نه دی !

دوی ددی همت نه درلوده چې پوښتنه ورځنی وکړی چې تاسی څوک یاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دوی نور هم حیران شول چې یو او بل لوری ته یې دوه حسینی او ښکلی نجونی چې لوی جامی ، په سر یې حجابونه او په سترګو یې جالی هم اچولی وی ودریدلی.

پیرپوځیانو ته وویل: په تاسی دی د الله تعالی رحمت وی آیا مونږ ستاسی ځنګ ته درتللی شو چې ځان دروپیژم ؟

پوځیانو یو بل ته وکتل بیا یې هغه ته په ویریدلی غږ وویل : ولی نه !

بیا هغوی راغلل ددوی خوا ته کیناستل خو د پوځیانو په جامو دوړی وی.

هغه پیر وویل : زه هم د هغه ځای ځخه راغلی یم د کوم ځای ځخه چې تاسی راغلی یاست توپیر دومره دی کوم ځای ته چې تاسی ځی هغه ستاسی ټاټوبی دی او د کوم ځای ځخه چې زه راغلی یم هغه زما ټاټوبی ؤ.

یو پوځی وویل : مونږ ځرنګه دا باور وکړو چې تاسی انسانان یاست مونږ خو تاسی د اسمان مخلوق ګڼو !

پیر وویل : زه انسان یم د سپینی جامي ، لوی چپنی او پګړی تړلی پیر وویل : زه انسان یم د هغه ځای رمله اوسیدنکی اودا زما لورګانی دی ! ستاسی په څیر د هغه ځای ځخه راغلی یو او اوس دلته ستاسی په وړاندی ناست یم که نه وی راوتلی نو صلیبیانو به زما لورګانی له ځانونو سره بولی وایی.

پیر وویل د کوچنیوالی ځخه می د علم سره مینه درلوده نو د علماء او فضلاء په وړاندی به ناست وم ، یوه ورځ په یو مجلس کې د بغداد د یو نامتو عالم او پوه یادونه وشوه نو زما سره یې د لیدلو شوق پیدا شو نو اراده می وکړه - ځرنګه چې زه د یوی غریبی کورنی غړی وم نو د علم د حاصلولو لپاره د کور ځخه راووتلم ټولو ژړل او ویل یې چې دا به مړ شی سپرلی نه لری ان چې د اوبو لپاره ورسره پتک هم نشته.

سفر می کولو چې د ډیری ولږی او تندی ځخه به پر کاله شوم او کله به چې ښه شوم نو سترګی به می پرانستلی خوا ته به می خوراک او ځښاک ولیده حیران به شوم خو د حیرانتیا او ویری سره سره به می په هغه باندی شروع وکړه.

(c) k...com: The Digital Library



د خو شپو ورځو پر له پسې سفر څخه وروسته بغداد ته ورسیدلم او د جامع جومات خطیب په خدمت کې حاضر شوم .

زما په لیدو یې وویل : هرکله راشې ! داسې معلومیږي چې د لرې ځای څخه راغللی یاست ! سفر انسان روحاً او جسماً نارامه کوي خکه الله تعالی د خپل رحمت له مخې څلور رکعتي لمونځ دوه او روژې د خوړلو اسانتیا راوستې ده .

ما وویل : ای مرشده ! زه ستاسې د علم له چینې څخه خان خړوبول غواړم .

مرشد وویل : ښه ده د نورو زده کوونکو سره اوسیږه او زما او نور استاذانو د درس په حلقه کې کینه ، خو ما ورڅخه وپوښتل :

ای مرشده ! زه حیران یم چې ما ته د سفر په دوران کې خوراک او څښاک راوړل کیدلو نه پوهیږم چې دا به د کوم لوري څخه وو .

مرشد وویل : دا خو ډیره ښه ده ! کله چې الله جل جلاله د حضرت موسی علیه السلام مرسته کول غوښتل نو نیل سیند ته یې حکم وکړ چې لاره ورکړي خو کله چې فرعون او د هغه ملګري د هغه پسې سیند ته ورننوتل د څلور لورو څخه اوبو ونیول او غرق یې کړل .

حضرت ابراهیم علیه السلام یې په اور کې وساته ، د حضرت اسماعیل علیه السلام مرۍ چړې پرې نه کړای شوه او خاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې کله مدینې ته هجرت کولو نو د ثور په غار کې یې د دښمنانو څخه وساته ، مونږ هم د هغه ذات بندګان یو چې پیدا کړي یې یو ، وژني مو او بیا مو را ژوندي کوي نو کوم انسان چې وغواړي د هغه په زړه کې د علم رڼا بله شي لکه څرنګه چې ستا هیله او اراده ده نو انسانان ، پیریان او جنیات یې خدمت ته ودریږي .

نو تا ته زرق راتلل د هغه ذوالجلال ذات مهرباني وبوله .

یو پوخي ورځنې پوښتنه وکړه : ایا جنیات ستاسې غلامان دي ؟ سپیني جامو ، لوی چپنې او پګړۍ لرونکي وویل : مونږ ټول د الله تعالی غلامان یاستو! عزت او ذلت د مال او جائیداد په سبب نه بلکې د تقوی په سبب وي او هیڅوک څوک غلامان کولای نشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بغداد د لوی مسجد خطیب زما روح د علم په رڼا روښانه کړ هلته یې د یوی نجلی سره راته نکاح وتړله چې د هغی له بطن څخه دا دواړه پیدا شوی بیا یې راته وویل اوس خپل تاتوبی ته ولاړ شه خپل مسئولیت اداء کړه نو د سفر لپاره یې دوه اوښان او توښه راکړه .

رمله ته راغلم او په یوه جونګړی کې می د ژوندانه شپې ورځی تیرولی، ښو ته می خلک رابلل او د بدو څخه می منع کول خو افسوس چې واکمنان او چارواکو خبره نه اوریدله ، بدورته بد نه ښکاره کیدل ، شراب به یې څښل ، د نامحرمو ښځو سره یې ناسته پاسته کوله ...

بیا د مصر پوځ یرغل وکړ او یوازی د صلیبیانو سره نه بلکی د مسلمانانو سره یې هغه څه وکړل کوم چې بی دینه وحشی انسانانو کول کوم قیمتی څیزونه چې لاس ته ورغلل هغه یې ولوټل د ښځو عفت او عصمت خوندی پاتی نشو .

نو ما اراده وکړه چې سلطان صلاح الدین ایوبی خبر کړم چې دا پوځ داسی چاری سرته رسوی نو ددی پای به د فرعون او د هغوی د ملګرو په څیر شی....

هغه وخت سلطان صلاح الدین ایوبی د حلب سره نږدی په خپله خیمه کې وو ما دومره لوی مزل د هغه د لیدلو لپاره وکړ کله چې ورغلم نو د ساتونکو قوماندان را څخه پوښتنه وکړه چې له هغه سره ولی ګوری ؟

ما ورته وویل : زه د رمله څخه راغلی یم او یو عرض کول غواړم .

قوماندان راته وویل : ما ته ووایه کیدای شی ستاسی مشکل نور چار واکی حل کړی .

ما ورته وویل : دا زما نه بلکی د ټولو مخلصو مؤمنانو لخوا دی بل څوک یې نشی حل کولای .

قوماندان په خندا خندا وویل : دا لیونی دی ...

یو ساتوونکی وویل : دا د شیخ سنان رالیږلی سرښندونکی دی وی نیسی .

بل وویل : دا د صلیبیانو جاسوس دی .

(c) ket... .com: The Digital Library



ما دنیوني او وژني څخه د خلاصون په نیت خان لیوني څرګند کړ او
اوتي بوټي مې پیل کړي .

زه چې د ساتوونکي د قوماندان خیمې ته وروستل شوم ګورم چې د هغه
سره ښکلې نجوني ناستې او یوې ورته د شرابو د صراحي څخه جام ډکولو .

یو پوځي وویل : زمونږ څخه تر اوسه پورې یو هم د پوځ د کوم کس
سره نامحرمه ښځه نه ده لیدلې .

سپینې جامې ، لوی چپنې او پګړۍ تړلې انسان وویل : ایا تاسې د
هغه ورځې څخه په پوځ کې یاست د کومې ورځې څخه چې هغوی
دمشق ته تللي ؟

یو پوځي وویل : نه ! مونږ اوس په پوځ کې شامل شوي یاستو !

سپینې جامو، لوی چپنې او پګړۍ تړلې انسان وویل : زه د پخوانیو
پوځیانو یادونه کوم چې الله تعالی ورته سزا ورکړه تاسې نوي یاست او
ګناه مو نه ده کړې نو له دې امله بیرته ژوندي خپل کورونو ته ځې ،
هغوی چې ځانونو ته مسلمانان ویل او د مسلمانانو عزت او ابرو ته یې
په بدو سترګو کتل او مال او دولت یې لوټلو هغوی ووژل شو .

کوم چې ډیر ګناهګاران وه هغوی صلیبیانو ونیول ، بندیان یې کړل
، شپې ورځې په دوزخ کې تیروي ، هره شیبه د مړینې دعا کوي خو
دعا یې نه قبلیږي .

یو پوځي وویل : آیا زمونږ د ماتې علت همدا دی ؟

سپینې جامې ، لوی چپنې او پګړۍ تړلې انسان وویل : هو!

یو وویل : تاسې اوس چیرې ځې ؟

پیر وویل : زه د الله تعالی د قهر نه چې د صلیبیانو په صورت کې
نازل شوی تښتم ، هغوی د یو سیلاب په څیر راغلل خو مسلمانانو یې
مخه ونه نیوله .

که زه یوازې وایې نو ما به قرباني ورکړې وایې خو د پیغلو لورګانو
عفت او عصمت قرباني مې نه شوه ورکولای ، صلبیان دوه څیزونه نه
پرېږدي ښکلې نجونې او مال دولت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمر پرېوتولو وخت و چې د رمله له لوري د هغه دوه ملګري د بلې لارې څخه په اوښانو سپاره راغلل ، ددوی ترڅنګ تیریدل پیر وویل : دا که په خپل سفر همداسې روان وي نو په لاره کې به د لوږې اوتندې څخه مړه شي دوی راوګرځوی .

یو تن پاځیده ددوی مخ ته ورغی او دوی یې راوګرځول کله یې چې په پیر باندې سترګې ولګیدې نو د اوښانو څخه یې راټوپ کړل او د پیر په وړاندې یې سجدې وکړې بیا یې خلکو ته وویل : تاسې خو ډېر نیک بخته او بختور خلک یاستې چې د داسې شخصیت سره ناست یاست ، دا دومره لوی مرشد او د کرامت خاوند دی چې هیڅ جوړه یې نشته بیا یې اوبه وغوښتلې .

پیر وویل : اوبه نشته د ماښام وروسته به پیدا شي تر هغه وخته دالله جل جلاله ذکر کوی .

ماښام وروسته تپه تیاره شوه او د چوپتیا خپره شوه چې پدې کې د مرغۍ اواز واوریدل شو نو ټول حیران پاتې شول .

یو پوځي وویل : دا د مرغۍ اواز نه بلکې د بل څه اواز دی .

پیر وویل : زمونږ په حال الله تعالی رحم وکړ ، ستاسې څخه دې دوه تنه مخامخ لور ته لاړ شي بیا درته یو سپین کمر مخې ته درځي بیا کیڼ لور ته سل قدمه واخلې هلته به د ونې ترڅنګ اور بل وي د هغه په رڼا کې څو د اوبو مشکونه او د خرما لوی کڅوړې پرتې دي هغه د الله تعالی د لوري پیرزوینه وګڼې هغه راواخلې او دلته یې راوړې .

دوه تنه په اسونو سپاره شول او هلته ولاړل او هغه خوارکې مواد یې راوړل د پیر په وړاندې یې کیښودل بیا هغه لږې لږې کجورې وویشلې او مشکونه یې هغوی ته وسپارل وروسته یې ورته وویل : د اړتیا نه زیاتې اوبه مه څښې ، سفر اوږد دی بیا ټول پاڅیدل تیمم یې ووهلو او لمونځ یې وکړ بیا ویده شول .

تولو [illegible] او په زړه کې یې د هغه قدر او درناوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار څخه مخکې د پیر په مشرۍ دا کوچنی کاروان د مصر په لوري وخوځیده په لاره کې د پیر کسانو پوځیانو ته د هغه ستاینه او صفت کولو او کرامات یې ورته بیانول او دا یې ویل چې هر چا دی مرشد ته ځای ورکړ نو ټول مشکلات به یې حل شي.

څو ورځې د سفر څخه وروسته بیا د قاهرې څخه څو میله کې یو لوی کلي ته ورسیدل او په یو میدان کې د سپرلیو څخه راکښته شول او خلکو د زړه له کومې ورته هرکلي ووایه څو خوانانو اوښان او اسونه یو لور ته بوتلل او هلته یې ورته خوارک واچولو خلکو پوځیان له ځان سره څښاک انتظام وکړ.

یو پوځی وویل : دا د الله تعالی دوست او ولی دی، د ډېرو کراماتو خاونددی.

بل وویل : دا د ټولو مرشد دی.

پیر د کلي د خلکو په وړاندې وویل: دا سربښندونکي یوازې او یوازې په غشو ویشتلو او تورو چلولو پوهیږي له نور څه خبر نه دی.

د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ چې په هر میدان کې کامیابی تر لاسه کړې نو ښکلي او حسیني نجونې مال او دولت تر لاسه کوي او د هر ژبی څخه دا اوریدل کیږي چې ژوندی دی وی سلطان صلاح الدین ایوبی او د هغه میړنی پوځ.

ددې سره د هغوی په سرونو کې د فرعونیت نشه پیدا شوه چې د بی دینه خلکو پرته د مسلمانانو کورونه یې هم لوټ کړل او کومه ځوانه نجلۍ چې په سترګو ورتلله د هغوی بی عزتی یې وکړه.

یو بوډا په غصې سره وویل: آیا سلطان صلاح الدین ایوبی ړوند دی او که په سترګو ټپی دی ؟

مرشد وویل : الله جل جلاله چې د سزا ورکولو فیصله وکړي نو د پوهانو ، علماء او حکمرانانو په عقل پرده اچوي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی د فتحې په نشه کې مست دی . بنایي د الله تعالی وهل یې هیر کړی وی ، هغه عیاشو قوماندانانو محاصر کړی چې د هیڅ مظلوم فریاد ورته نه رسیږي .
کوم حکمران او چارواکی چې د مظلومانو د فریاد لپاره د انصاف دروازه بنده او غوږونه کاڼه کړی نو د الله تعالی د بخښنې څخه محروم کیږي .
سلطان صلاح الدین ایوبي چې د جګړې د میدان اتل وه په عقل یې داسې پرده واچول شوه چې هر څه یې هیر شول ، دښمن بریالی شو او هغه یوازې په یوازې مصر ته خان راورسولو .
یو بزګرو ویل : مونږ به د صلیبیانو څخه د خپلې ماتې بدل اخلو او د خپل اولاد قرباني به ورکړو !
مرشد وویل: کامیابي او ناکامي د الله تعالی په لاس کې ده که هغه د ماتې خوړلو فیصله کړې وی نو د خلکو احساسات سړه وی .
زه ددې لپاره له دومره لرې ځای څخه راغلی یم چې ددې تاتوبې هر بچې بچې د دښمنانو څخه د غچ اخیستلو فکر او غم پریږدی او د خان غم وخوری .
د سزا وخت خو نه دی تیر شوی که تاسی او خپل زامن او وروڼه په پوځ کې داخل کړی او هغوی محاذ ته ولیږی نو وه به وژل شی ...
د هرعمل لپاره یو وخت وی او هغه وخت لرې نه دی چې ناکامي په ماتې بدله شی .
دا الله تعالی یاد تل کوی او د هغوی لپاره بخښنه غواړی چې تاسې شام ته لیږلی دی .

◈ ◊ ◈

سلطان صلاح الدین ایوبي قاضي القضات،قوماندانو او مرستیالانو او چارواکو ته وویل : د ماتې اسباب ښکاره دی! که ما انتظار کړی وی او په مصر کې ناست وایی نو دښمنان به د شام په ټولو سیمو کې خواره شوی وه ، زما نه دا لویه غلطي وشوه چې نوی کسان می پوځ ته

(c) ket... .com: The Digital Library



ثیره کړل او بیا مې خپل کمی پوره کړ ، په دې باندې تاسې پوهیږئ چې ددې مسئولیت د چا په غاړه دی په دې بحث نه کوم .

د پوځ قیادت ما کړی زما پروګرام به وړاندې او وروسته شوی وی او که ما مجرم ګڼئ نو زه مجرم یم د هغه کفاره به زه اداء کړم .

کامیابی او ناکامی د هر جګړې پای وی نن موږ د هغه حالت سره مخ یو د کوم چې تاسې، ورته په ذهنی ډول تیار نه یاستی نو له دې امله ستاسې په ښیرو باندې د خفګان اثر دی .

که تاسې ماته سزا راکول غواړئ نو زه حاضر یم .

عزتمندو ورورنو ! زما غوږنو ته دا اواز رارسیږي چې زمونږ سرتیري په شام کې شراب څښي او باحیا ښځې یې بې عزته ، مال او دولت یې لوټوي ان دا چې فرعون راته ویل کیږي .

زه ددې تورونو ځواب په خوله نه ورکوم بلکې د توري په ژبه یې ورکوم ، زه په الفاظو نه په عمل ثابتول غواړم چې دا د چا ګناه ده چې ددې سزا ما ته او زما مجاهدینو ته ورکول کیږي .

په دې وخت خبر ورکړی شو چې د حمات نه استازې راغلي او غواړي تاسې سره وګوري .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: رادې شي .

کله چې استازې راغلې د سلام او درناوی څخه وروسته یې اوبه وغوښتلې نو اوبه ورکړای شوې بیا یې د الملک العادل پیغام ورکړ هغه ولوست ، په سترګو کې یې اوښکې راغلې او په خوله یې وویل: الحمد لله ،الحمدلله ...

بیا یې یو چارواکی ته د لوستلو لپاره وویل هغه په لوړ اواز ولوست ! ټولو د خوښی نه د الله اکبر الله اکبر اوازونه پورته کړل .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : دا د ګناهګارانو کارنامه وه تاسې چې دلته ناست یاست پدې نه پوهیږئ چې الملک العادل سره څومره پوځ وه ؟ او لدې هم خبر نه یاست چې د صلیبیانو سره لس چنده پوځ زیات وو چې ټول یې سپاره او په نوی وسله سمبال وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيا د الملک العادل ملګرو دا ثابته نه کړه چې ماتي په فتح بدليدای شي . ايا تاسي زما څخه ددی هيله کوی چې خپل سر ونيسم او کينم ؟ د جګړی تياری وکړی، د نوی پوځ د خيره کولو عمل تيز کړی ، لومړی قبله تاسي رابولی زه به هيڅکله انشاء الله د دښمن سره ترون و نه کړم .

د الملک العادل پيغام د ده حوصله اوچته کړه همدارنګه يې د ټولو قوماندانو او نورو حوصلې يو خل بيا تازه کړی .

* * *

په لری کلی کې خلکو پير ته جلا کور ورکړ چې هلته د خپلو دوه لورګانو سره اوسيده هغه خلکو ته وويل چې زه د راتلوونکی لاربښوونی او حالاتو په هکله دری مياشتی چله لګوم ، يوازی د خپلو څو ملګرو څخه پرته د بل چا سره ليدنه او کتنه نه کوم ،کله به چې د باندی راوتلو نو په سر يا په لاس به يې اشاره کوله .

يو ځلی د علی بن سفيان يو ملګری په دوره ووت او هری خواته وګرځيده چې کله د لمانځه وخت شو نو جومات ته راغی او هلته يې لمونځ اداء کړ، د لمانځه څخه وروسته يو کلی وال درمله د ماتی خبره پيل کړه وی وويل د دی ماتی اصلی علت د پوځيانو ګناه او ظلم دی ، په هغوی کې فرعونی صفات پيدا شويدی څکه خو داسې ورسره وشول ، بيا يې پکې د مرشد او پير خبره هم را واچوله چې داسې يو ولی الله راغلی چې د هغه سره پيريان او جنيات ملګری دی او هغه ته پرښتی خوراک او څښاک راوړی ، د خلکو ارمانونه پوره کولای شي، په غيبو پوهيږی ، د ناعلاجه ناروغانو درمل کوی ، بی اولاده انسانانو ته د اولاد زيری ورکوی او ...

جاسوس هلته ټولی خبری واوريدی ، کله چې خبری کوونکی د جومات څخه ووت نو د اِستخباراتو د اداری غړی ورپسی شو او د ښا له لوری يې په اوږه باندی ورته لاس کيښوده ورته وی ويل : څرنګه چې تاسی ددی کلی ياست او په خپلو خبرو کې مو وويل چې د رملہ په

محاذ کې د سلطان صلاح الدین ایوبی د لوری په جګړی کې شریک وی.

مرید وویل: هو ! زه د الله په ذات قسم خورم چې دا د الله دوست دی ما د جګړی د میدان او هم د سفر قهر لیدلی دی خو دی شخصیت زمونږ د زړه د دښتی نه سمسور بڼ جوړ کړو زه په هیڅ صورت بیرته پوځ ته نه ځم.

د استخباراتو غړی وویل: زه په پوځ کې منصبدار وم حلب او دمشق ته د جګړی لپاره تللی وم ما هلته ډېر ګناهونه کړیدی.

ستاسی د خبرو په اوریدلو می په زړه کې ویره پیدا شوه کیدای شي ددی سزا ما ته هم راکړی شي نو ستاسی څخه هیله لرم چې ما له پیر او مرشد سره مخامخ کړی چې د ښښنی لاره راته برابره کړی او دا لارښوونه هم راته وکړی چې په پوځ کې پاتی شم او یا ...

مرید ورته وویل: ددی یادونه چا ته ونه کړی نن سبا هغه په چله کې شپی ورځی تیروی چاسره خبری اتری نه کوی خو بیا هم زه دا کوښښ کوم چې تاسی له هغوی سره وګوری.

کله چې د مرشد کور ته ورسیدل تپه تیناره شوی وه، هغه یې په لاره کې ودرولو د اجازی غوښتلو لپاره دننه ولاړ بیا راووت ورته یې وویل: راځی هغه مخکی او دی ورپسی وو په انګړ کې رڼا وه برنډی ته ورسیدلو نجونو د کړکی نه کتل یوی وپیژانده خو پوره باور یې پری رانغی چې دا څوک دی د خولی څخه یې اه ! ووتل.

بلی نجلی وویل: ولی ؟

لومړی نجلی وویل: ما دا سړی چیری مخکی لیدلی دی.

په دی کې دواړه سړی کوټی ته ننوتل مرشد سترګی پټی کړی او په فرش ناست وو، جاسوس چې څرنګه ورغی د هغه لاس یې ښکل کړ او په تغر کیناست، په غمجنه لهجه یې وویل: زه په پوځ کې منصبدار یم او د الله جل جلاله ډیر زیات ګناهګار بنده یم ما ته د مغفرت دعا وکړی. پیر ورته په سر باندی تسبیح چې په لاس کې یې وی تیری کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی راغلی وویل : زما زړه په دې نه مطمین کېږي په ژبه را ته حکم وکړی چې څه وکړم ، که غواړې خپل یو زوی ستاسې په قدمونو کې ذبح کړم نو تیار یم او که وایې چې سلطان صلاح الدین ایوبي یا بل لوړ چارواکی ووژنم دې ته هم تیار یم اکه بریالی شوم خو ښه او که نه ستاسې د امر منته به شوې وی او روح به مې مطمین وی .

په دې کې یو بل تن راننوت او هغه ته یې په غوږ سره وکتل بیا یې وویل : ته اوس د مرشد د سوري لاندې شوې بېړه مه کوه .

د استخباراتو اداري غړي وویل : ما د حمات دکلا تر څنګ کلي نه یوه نجلۍ په داسې حال کې راوتښتوله چې ورور مې یې ووژلو که زه په پوخ کې نه وای نو زه به یې جلاد ته سپارلی وای .

مرشد د هغه له سر څخه تسبیح پورته کړی په خندا یې وویل : زه به په شپه کې د الله تعالی څخه وغواړم چې ستاسې ګناه معاف کړي ، هیله لرم چې ستاسې په هکله زما دعا قبوله شي ، ولاړ شي او سبا شپه د کلي څخه د باندې د ډنډ غاړې ته راشې کوم تن چې دلته راوستلې یې هغه به دې راولي خو ددې ناستې یادونه چا سره ونه کړې که نه پای به مو د ټولې کورنۍ سره بد شي .

جاسوس چې کله علی بن سفیان ته ولاړ نو ویې ویل : دا هماغه پخوانۍ ډرامه ده کوم چې مونږ په نورو ځایونو کې نیولې ، اصلي هدف یې د اسلامي شخصیتونو اواسلامي پوځ بد نامول او پوځ ته خلک نه پرېښودل دي .

علی بن سفیان ورته وویل : سبا ولاړ شې د پوره معلوماتو لاس ته راوړلو هڅه وکړې چې د هغه په رڼا کې قدم پورته کړو .

د استخباراتو غړي ورته وویل : زما محترم مشره ! زه په دې ویرېږم چې خلک به د هغوی په ملاتړ راپورته شي .

علی بن سفیان وویل : د خلکو د جذباتو خیال یوازې هغه واکمن چې په هغوی حکومت کول غواړي .

(c) k... .com: The Digital Library



مونږ د اسلامي امت وقار ساتنه کوو هغوی ته حقیقت په ګوته کوو مونږ یې د سلطان صلاح الدین ایوبی او بل کوم انسان غلامان نه ګرځوو او دا ورته وایو چې د اسلام د سپیڅلی دین ساتونکی تاسی هم یاستی لکه څرنګه چې هغه دی.

پرون تللی سړی علی بن سفیان ته د کور پته او ادرس ورکړ چې په فلانی کلی کې اوسیږي او دا ډول صورت او شکل لري.

سهار علی بن سفیان خپله څیره او جامې بدلې کړی او هغه کلی ته ورغی، د خلکو خبری یې واوریدلی، بیا د مرشد د کور لیدلو ته ورغی او د یوی ونی تر شا ودریدلو پدی وخت کې یوبوډا چې ږیره یې سپینه او په لاس کې یې امساء وه له کوره راووت، په پښو روان شو د کلی څخه د باندی ولاړ یو سپور راغی او خپل آس یې هغه ته ورکړ، سپین ږیری په آس سپور شو شا شا ته یې کتل ورو ورو د قاهری په لوري روان شو. علی بن سفیان هم ورپسی روان شو خو فاصله یې په منځ کې پرښوده. چې کله ښار ته رانژدی شول هغه لاره بدله کړه نو علی بن سفیان هم په هماغه لاره روان شو چې پدی سره د بوډا سړی شک پیدا شو چې زه تر څارنی لاندی یم نو اس ته یې پونده ورکړه او ښار ته ننوتلو ودریده او خنجر یې راوویست چې علی بن سفیان وویروی او د هغه څارنه خوشی کړی، مخکې لدی چې هغه څه وکړی علی بن سفیان توره راوویستله او د هغه په سینه یې کیښودله او په زغرده یې ورته وویل: ږیره دی لری کړه، ما وپیژندلی، هغه ږیره لری کړه نو هغه ځوان سړی وه چې ږیره یې هم نلرله.

علی بن سفیان ورته وویل: مونږ او تاسې خوښه سره پیژنو نو زما څخه مخکی روان شه.

هغه جعلی بوډا د فاطمی خلافت د چارواکو له ډلی څخه وه چې خو کاله مخکې یې حکومت ړنګ شوی وو. هغوی د صلیبیانو، سوډانیانو او فدایانو په ګډون د سلطان صلاح الدین په خلاف پروپاګند او تبلیغات کول او له هر ډول دسیسو څخه یې کار اخیستلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا شپه د مصری استخباراتو غړي هماغه کور ته ولاړ چې مخکې ورغلی وه. مرید ورته د ډنډ په غاړ ولاړ وو چې کله هغه ورغی نو د خان سره يې ننویستلو، دا خل يې بلی خونی ته بوتلو او دروازه یې ورپسی بنده کړه، جاسوس پوه شو چې ونیول شوم نو په فکر او سوچ کې ډوب شو.

لږ خنډ وروسته د هغه دوه نجونو څخه یوی دروازه خلاصه کړه، دننه راغله او د ښا لخوا دروازه ورپسی بنده شوه، په خندا يې وویل: ما پیژنی؟ هیره کړی خو دی نه یم؟ زما په ټاټوبی کې دی د لومی او دام څخه تیوپ کړل خو افسوس په خپل وطن کې بندی شوی

د استخباراتو غړی نجلی ته وکتل نو سترګی یې خای پر خای ودریدی خکه هغه يې وپیژندله بیا يې ورته يې وویل: ستا په خیر د ښکلی نجلی په دام کې هر څوک نښلي

د علي بن سفيان د استخباراتو د اداری غړی دری کاله مخکې د خپلی دندی په لړ کې عکری ته تللی وه او هلته يې د یو عام عیسایی په توګه د اسونو په خغاسته او مقابله کې ګډون وکړ او بریالیتوب يې تر لاسه کړ، دی مقابلی ته د چارواکو برسیره د عیسائیانو مشر پاپ چې د لوی صلیب ستاتونکي به ورته ویل کیدلو هم راغلی وو.

د علی بن سفیان سری چې خپل کمال وښودلو نو د جاسوسی اداری د کار کوونکو د سپرلۍ زده کولو استاذ وټاکل شو چې په لومړی ګام کې هغه ته د څو پوخی افسرانو لورګانی وسپارل شوی چې هغه تر روزنی لاندی ونیسی څکه دا نجونی د جاسوسی لپاره استول کیدی او باید تکړه آسپ سپری ورڅخه جوړی شی.

په هغو نجونو کې یوه دا هم وه چې اوس سري سره په خونه کې یوازی ناسته وه.

څرنګه چې هغه ښکلی او ډېر ښایسته څوان وو نو دی نجلۍ ورسره په هغه خای کې مینه او محبت پیل کړ چې بلاخره نجلۍ هغه ته

(c) ke... .com: The Digital Library



وویل : که ته ما قبلوی زه خپله دنده خوشی کوم او ستا سره خم! خرنگه چې هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوسی اداری غړی وو نو د ورسپارلی شوی مسئولیت له مخې هغه خپله وظیفه نشوه پرېښودلې

څو ورځې وروسته په عکره کې یو کس د دوی څخه ونیول شو چې هغه د عذاب ورکولو په نتیجه خپل کسان په گوته کړل چې یو دا هم په کې وو څو هغې انجلی ده ته وویل هغه نیول شوی ملگری ستاسی او نورو نومونه په گوته کړی خو زما زړه یې نه منی څکه ته عیسایی او هغه مسلمان دی او ته هیڅکله د صلیب سره خیانت کولای نشی

هغه ورته وویل : یوکال راهیسی تاسی زما شاگردان یاستی تولو ورځ مو له تاسی سره تیره وله خو تر اوسه پوری مو ونه پیژندلم او د یو مسلمان په خوله زه جاسوس شوم دا ډیره د افسوس خبره ده .

نجلی وویل : که په حقیقت کې جاسوس هم وی نو زه به ستا څخه دفاع کوم او ته ورخطاء کیږه مه خو هغه پدی خبرو کله باور کولای شو

له خپل کار څخه په فارغیدو خپلی کوټی ته راغی ، جامی یې بدلی کړی بیا بڼ ته ولاړ هلته یې څو قدمه ووهل چې کله په دی مطمین شو چې څوک یې نه څاری نو د خپل مشر کور ته ولاړ هغه یې له موضوع څخه خبر کړ هغه ورته له عکری څخه د وتلو مشوره ورکړه ، بیرته کوټی ته راغی لمونځ یې وکړ او بیا په کټ د ارام لپاره پریوت سهار یې اودس وکړ د تبیلی په لور روان شو په اس یې زین وتاړه او په اطمینان سره سپور شو او بیا د عکری څخه ووت .

نجلی نا امیده او نامراده پاتی شوه، او تر اخره پوری د خپل محبوب په غم کې وه .

کله چې قاهری ته همدا انجلی د پیر سره راغله نو پرون شپه یې دا د کړکی څخه ولیده نو شک یې پری راغی خو نن شپه یې هغه بالکل وپیژانده نو ورته یې وویل : دری کاله وروسته سره گورو ما ته وپیژندلی ، ما خو ستاسی سره د خپلی مینی څرگندونه هم کړی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش ما ته دی راز راکړی وای زه به ستاسی سره راتبنتیدلي وای او د اسلام د سپیڅلی دین په دایره کې به شامله شوی هم وم .

د استخباراتو غړی وویل : ستا په زړه کې اوس زما مینه شته ؟

نجلی وویل : ولی نه ! خو اوس مسئولیت پری غالب شوی دی ، دا ستا جرم دی چې ما ستاسی لپاره د جاسوسی دنده پریښودله خو تا زما په مینه باندی پټی کیښودلی د جاسوسی په ډنډ کې دی واچولم ، په دومره لویه موده کې زه ناپاکه شوی یم، د اسلام د سپیڅلی دین په خلاف کرکه زما روح ته رسیدلی ده .

مرشداو پیر مسلمان دی که عیسایی ؟

نجلی وویل : دا پوښتنه تا ته څه گټه رسوی ؟

د استخباراتو غړی وویل : مونږ د خپل عادت نه مجبور یو د مرگ نه وړاندی په دی خان پوهول غواړم .

نجلی وویل : هغه مسلمان دی او د مسلمانانو کمزوری خو تاسی ته معلومه ده .

پدی وخت کې پیر او مرشد هم هغی کوټی ته راغی او هلته کیناسته

مرشد وویل : که ستاسی خبری پوره شوی وی نو هیله کوم چې ووځی .

نجلی جاسوس ته په خوږو سترگو وکتل او بیرون ولاړه .

مرشد د جاسوس نه پوښتنه وکړه : ما ته یوازی دومره ووایه چې زما د اصلیت نه څوک خبر دی ؟

جاسوس ځواب ورکړ: ددی نه زه انکار نشم کولای چې دا زما دنده ده خو زه دلته په دی نیت نه یم راغلی .

د مرشد په لاس کې د څرمنی متروکه وه هغه یې پرې ډیر ووهلو .

پدی وخت کې دروازه په زور سره خلاصه شوه او نجلی راننوته او مرشد ته یې عذر وکړ چې هر څه به خپله ووایی خو هغه ته وهل مه ورکوی، مرشد بیا متروکه پورته کړه نو نجلی ور وړاندی شوه او د جاسوس مخی ته ودریدله وی ویل : دده په بدن زخم زما په زړه زخم جوړوی ، مرشد امر وکړ چې هغه له کوټی څخه وباسی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل سړي وویل : ته دده دیچ کولو کوښښ کوې ؟

نجلی په ژړا سره وویل : هیڅکله نه ! خو دومره ویل غواړم که څه، نه وایې نو د توری په یو وار سره د هغه سر له تنې جدا کړې خو زورونه مه ورکوې .

دواړو هغه له متو څخه ونیوله او خپلې کوټې ته یې بوتله او بیرته راغلل او مجاهد ته یې ډول ډول عذابونه ورکړل ترڅو چې بې خوده شو خو هغه یو ټکې هم د خولې څخه و نه ویستلو .

سهار نجلی ورته راغله هغه په خمکی باندی پروت وو ، نجلی هغه ته کیناستله خپلې جامې یې څیرې کړې او د هغه زخمونه یې پاکول او تړل یې بیا یې د سترګو څخه اوښکې روانې شوې او وې ویل : ته خپل مسئولیت پوره کوې او زه خپل فرض اداء کوم .

جاسوس چې لږ په خود شو او له ځایه پورته شو نو نجلی د متو څخه ونیولو نو هغه ورته وویل : څه ولاړه شه داسې نه چې زه خپل مسئولیت پوره نشم کړای دا عذابونه زما په نصیب دي .

په دې کې مرشد د دو تنو سره راغې وې ویل : دا نجلی خپلې کوټې کې بنده کړې څکه چې همدې خپل محبوب پلاس ورکړی کنه هغه چا ته پیژندلو ، اوس یې بیا د محبت احساس رابیدار شوی او دفاع ورڅخه کوي .

مرشد په جاسوس هر ډول زور زیاتی وکړ خو هغه یوه خبره هم ونکړه چې دوی ته ګټه ورسوی .

علي بن سفیان تر ډېر وخته پورې خپل جاسوس ته ناست وو خو چې ناوخته شو او رانغی نو شک ورسره پیدا شو چې خامخا به نیول شوی وي هغه سمدستي دوه ګروپه سربښدونکي له ځان سره واخیستل او کلي ته ولاړ هلته یې دومره په چالاکۍ سره کور کلابند کړ چې هیڅوک هم خبر نشول .

مرشد سره د خپلو ملګرو ونیول شو ، یوه نجلی په کوټه کې پرته وه چې خنجر یې په سینه کې ننوتی او بله روغه ونیول شوه ، د کلي ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک راټول کړی شول او بیا مرشد د هغوی په وړاندی حاضر شو او خپل اصلیت یې بیان کړ هغه ټولو خلکو ته وویل چې مونږ څوک یو او د څه لپاره دلته راغلی یو.

هغوی چې کوم کرامتونه ښودل د هغې په هکله یې هم خلکو ته داسی وویل : زما سره یوه ډله کسان وه چې هغوی به دا شیان پټول او ما به بیا نښانی ورکوله او هغه به خلکو را پیدا کول - هغوی ټول علی بن سفیان د خپل ځان سره بوتلل خپل ملګری یې په قاهره کې هم وروښودل چې ځینی مسلمانان هم ورسره وه .

سلطان صلاح الدین ایوبی د دی ځخه وروسته حکم وکړ چې درمله د جګړی په هکله باید ټول امامان خبر شي او د هغې علتونه ورته وویل شي، ټول مسئولیت پر ما باندی بار کړی ځو په پوځ باندی تورونه مه لګوی ځکه چې هغوی قربانی ورکړی کله چې د پوځ او عوامو تر منځ اختلاف او شک پیدا شي هماغه د امت او ملت زوال وی .

(c) ke[...].com: The Digital Library



## د روح او بد روح ټکر

حمص يو پخواني تاريخي ښار دی چې د سوريې او لبنان په پوله پروت دی، په هغه وخت کې دا سيمه او ښار غلی او چوپ وو خکه چې دلته جګړې او جنګونه نه وه شوې، لامل يې دا و چې هلته يو لوی سبند روان وه چې د هغې څخه لښکرې او پوځونه په اسانه نشول تيريدلای نو پدی خاطر هغه د جګړو له ميدان څخه لرې پاتې وو. خو صليبيانو غوښتل هلته په مسلمانانو اوسيدونکو کې ويره او ډار واچوي، کوم لړ کورونه چې د يهوديانو او عيسايانو وه هغوی به تبليغات او پروپاګند کولو چې مسلمانان په ټوله سيمه کې ناکام شوي دي او صليبيان مخ په وړاندې روان دي، هغوی غوښتل پدی توګه مسلمانان ووېروي او په راتلوونکې کې دا ښار خپل کړي او يا دا چې د مسلمانانو سره مرسته او همکاري ونکړي. پدې ښار کې چې کوم لږ يهوديان اوسيدل هغوی تجارت او سوداګرۍ کوله ، يوی او بلې خوانه به تلل نو د ځان سره به يې دروغجن خبرونه هم راوړل.

هغوی غوښتل پخپلو تبليغاتو سره مسلمانان ووېروي خو کار سرچپه شو ، د مسلمانانو جوش او جذبه راپورته شوه، هغوی په پوځي روزنې او تمريناتو پيل وکړ ان تر دې چې ځواني او پيغلې نجونې هم دې ډګر ته را وړاندې شوې او په عسکري روزنې يې پيل وکړ.

د حمص د جامع جومات خطيب هغوی ته تل دا ويل چې صليبيانو زمونږ په سيمو او لومړې قبله باندې ولکه کړې او غوارې نورې اسلامي سيمې هم ونيسي، که مونږ همداسې چوپ او غلي کيناستو نو د دی معنا دا ده چې يوه ورځ به مونږ هم له منځه ځو او صليبيان به بيا زمونږ حيا، عزت او ناموس بربادوي خو زمونږ ښځې او لاسونه به يې تړلي وي.

يهوديانو او صليبيانو د اسلام د ورکولو او ختمولو پسې ښځې او متې رابډ وهلي او په هر ډول دا کوښښ کوي چې د اسلام د سپيڅلي دين په بل ډول رنګ کې وړاندې او مسلمانان د ځانونو غلامان کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د مال ، دولت، ښځو او نورو وسایلو څخه کار اخلی، مسلمانان د بد اخلاقی په لور هڅوی ، د مسلمانانو غیرت او میړانه ختموی- د هغوی ایمانونه اخلی ، د مسلمانانو تر منځ خپل منځی جګړی پیدا کوی چې د دی ټولو هدف او مقصد په نړۍ باندی خپل مطلق حاکمیت قایمول دی .

ای د حمص خلکوا تاسې د الله تعالی سپایان او سر ښندونکی یاستی، پداسی وخت کې چې صلیبیانو په اسلامی خاورو یرغل کړیدی او د مسلمانانو عزت او ناموس خوندی ندی پر تاسې ټولو جهاد فرض دی قران مجید فرمایی چې تاسې د کفارو مقابلی ته تر خپل توان پوری تیاری ونیسی .

صلیبیان په څو جبهو او محاذونو کې جنګ کوي، هغوی په عسکری او نظامی څواک هم جنګیږي، هغوی د خلکو د بد اخلاقه کولو او بی ایمانه کولو کوښښ هم کوي ، هغوی پخپلو تبلیغاتو د اسلام او مسلمانانو سپکاوی هم کوي، هغوی د مسلمانانو په منځ کې ایمان پلورونکی هم پیدا کوی او د هغوی پوسیله مسلمانان ختموی .

د خطیب د دی خطبو په برکت په حمص کې مسلمانان راویښ او بیدار شول او په شوق سره یې جهادی تربیه او روزنی پیل کړی. هغوی د غشو ویشتل، آسونه څغلول، توری او برچی استعماول یادول پیل کړل .

خو صلیبی او یهودی پروپاګند کوونکو د مسلمانانو زړونه خفه او اندیښمن کړی وه چې ګوندی ریښتیا مسلمانان ماتی خوړلی او مخ په شا روان دي. څرنګه چې پدی ورځو کې درملی پیښه او جګړه شوی وه او مسلمانانو پکې ماتی خوړلی وه نو هغوی ډېر خوشحاله وه، سره د دی چې د حمات په کلا کې بالډون هم ماتی وخوړه خو د هغه پوځ لا په سیمه کې موجود وو.

د حمص خطیب یو ښایسته او ښکلی ځوان تبریز د احوال راوړلو لپاره دمشق ته واستولو ترڅو ریښتیا او دروغ معلوم کړی .

(c) k... .com: The Digital Library



تبریز پخپل آس سپور شو او د دمشق په لوری وخوځیده، کله چې د حمات غرونو ته ورسیده نو څه سپاره په مخه ورغلل، هغه ورځخه د حالاتو پوښتنه وکړه چې څه حال دی ؟

هغوی ورته وویل: مسلمانانو په رمله کې ماتي وخوړه خو ورورسته ملک العادل په حمات کې د صلیبیانو بادشاه بالډون ته سخته ماتې ورکړه او هغه یې لدی سیمی څخه وځغلاوه، ستاسې تګ دمشق ته ضروري ندی ځکه هغه ډېر لری دی، حمات ته ولاړ شی هلته ملک العادل او نور چارواکی شته، د هغوی سره به وګوری او خپل خان به په احوال پوه کړی .

تبریز د حمات په لوری روان شو، په لاره کې د مشر سالار ملک العادل سپرلی را روانه وه، هغه ورته اشاره وکړه نو ملک العادل ودریده او هغه یې خان ته رانژدی کړ چې څه خبره ده؟

تبریز وویل : زه د حمص څخه راغلی یم او د هغه ځای مسلمانانو د احوال لپاره را استولی یم چې حالات څرنګه دي ؟

د ملک العادل سره حسن بن عبدالله د علی بن سفیان مرستیال هم ملګری وه .

هغه تبریز له خان سره خیمی ته بوتلو او هلته یې په ټولو خبرو پوه کړ

هغه د حمص د خطیب په نامه یو پیغام هم ورکړ چې په هغې کې لیکلی شوی وه تاسې خپل کار همداسی روان وساتی خو چې څوک درڅخه پوه نشی، اصلاً حسن بن عبدالله خطیب ته څلور کماندوی استاذان ورکړی وه چې په حمص کې مجاهدین وروزی

په همدی خاطر په حمص کې د خطیب تر څارنی لاندی پوځی روزنه روانه وه چې هلته سرښندونکی وروزی او د اړتیا په وخت کې ورځخه کار واخلی ، بلکه دا چې د صلیبیانو په لښکرو باندی کماندوی حملی وکړی او هغوی په اسلامی خاورو کې قرار ناستی ته پرینږدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبریز د حسن بن عبدالله پیغام د ځان سره را واخیست او د حمص په لوری روان شو، څرنګه چې هغه یوازې وو نو غوښتل یې د کوم کاروان یا ملګرو سره یو ځای او خپل ځان کورته ورسوي .

* * *

د حمص په لوری یو کاروان روان وو چې په هغې کې یهودی سوداګر، دوه د عیسایانو کورنۍ او څه پیاده کسان وه.

تبریز د همدی کاروان سره ملګری شو ځکه چې هغوی هم حمص ته تلل .

دوه شپې په لاره کې راغلی او دریمه ورځ د غرمی څخه وروسته په اسمان کې وریخ راغله او هری خواته خپره شوه .

لږ ځند وروسته باران هم پیل وکړ، کاروان د سیند غاړی ته رسیدلی وو چې باران سخت شو. یو بوډا عیسایي اواز وکړ چې چالاکی کوی باید د سیلاب د راتللو څخه مخکې له سیند څخه بلی خواته ځان ورسوو. څه کسان په آسونو څه په اوښانو او څه پیاده روان وه .

هغوی دی ته فکر ونکړ چې کیدای شي سیلاب زر راشی ځکه باران د هماغه لوری څخه را روان وه، هغوی په سیند ورګډ شول ځکه چې د سیند اوبه لا ملا ته نه رسیدی. هغوی ټول په ډېر ډاډ اوبو ته ورګډ شول او کوښښ یې کاوه چې مخکې له سیلاب څخه تیر شي، کله چې د سیند منځ ته ورسیدل د پاسه پری سیلاب راغی او د سیلاب څپو خلک ورخطا کړل ځکه داسې کسان هم په کې وه چې په اوبو کې هیڅ بلد نه وه او څه ښځی په اوښانو سپری وی ، هغوی هم د سیلاب په منځ کې راګېری شوی. څه څاروي خو بلد وه هغوی کوښښ کاوه. تبریز چې په کومه برخه کې روان وه د هغه سره نژدی یوه ښکلی نجلۍ په اوښ سپره مخ په وړاندی روانه وه چې یو دم اوښ تور وخوړ او پښې یې وښویدی، اوښ لږ تاو راتاو او بیا چپه شو نجلۍ له اوښ څخه پریوته او سیلاب واخیستله، تبریز خپل آس هغه لوري ته کړ چې سیلاب تیز او نجلۍ یې مخکې روانه کړی وه ، هغه سمدستی له آس څخه ښکته شو او نجلۍ ته یې ځان ورساوه او هغه یې راټینګه کړه، څرنګه چې

(c) ket...com: The Digital Library



هغه اوبو اخیستی وه نو تبریز ته یې هم څو غوپې ورکړې ځکه هغې زور کاوه او دی زور تبریز ته تاوان رسولو، څرنګه چې تبریز تکړه او غښتلی ځوان وو نو هغه یې راقابو کړه او ټینګه یې راونیوله، لږ لږ د غاړې په لورې خوځیده خو سیلاب هغوی همداسې مخ په وړاندې روان کړی وه. تر یو نیم دوه میله فاصلې وهلو وروسته تبریز د نجلۍ سره د سیند غاړې ته راووت، نجلۍ بې هوشه او بې سده په خاورو او ختو ککړه وه، هغه یې پړ مخ څملوله او څو ځله یې ورته ګیډه زور کړ چې اوبه یې له خولې څه راووتې.

باران لا هماغسې روان وه. تبریز هغه په اوږه باندې راواړوله او د غونډیو ترمنځ روان شو د پناه ځای په لټه وو ، د غرپه غاړه درې څلور اوښان یې ترسترګو شول نو وې ویل : دا کوم مسافر نشي کیدای ځکه په دوی باندې زین نشته یو بل لور ته یې وکتل د یوې سمڅې په خوله کې یې دوه نجونې ولیدلې نو د هغوی لورې ته ورغی یوې ورته وویل ستاسې په جامو کې خو یو ځای هم وچ نه دی او نجلۍ هم ناروغه ښکاري باران هم دی ښه به دا وي چې زمونږ سره لاړ شې هلته اور هم بل دی.

تبریز نیغ له هغوی سره هماغه ځای ته ورغی او نجلۍ یې په ځمکه واچوله چې بې هوشه وه.

تبریز د نجونو څخه پوښتنه وکړه تاسې دلته څه کوې؟

یوې نجلۍ وویل : زمونږ کورونه دسیند هغه لورته دی ، تل مونږ خپل څاروي د څړ لپاره دې غاړې ته راولو، د هغه ځای په نسبت دلته ښه شنه ورشو ده نن هم راغلو خو تیز باران شو مونږ د نور ورځو په څیر په دې سمڅې کې پناه واخیستله.

تبریز وویل : اوس بیرته څرنګه ځې؟

یوې نجلۍ وویل : په دې موسم کې هر کال بارانونه کیږي او سیلابونه راځي بارانونه هم د ډیر وخت لپاره نه وریږي کله میده او کله په شیبو تاسې هم ولیدل چې وړاندې باران څومره تیز وه خو اوس میده میده وریږي مونږ د سیند د کومې برخې څخه چې راغلي یاستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هیله لرو چې باران ودریږي او سیلاب تم شي بیرته به پوري وخو تر
هغه وخت به اوښان هم ماړه شي .
بلی نجلي پوښتل : دا ستاسي څه کیږي ؟
تبریز وویل : دا زما د سفر ملګري ده .
باران ودریدلو او لمر په پری وتو شو نجونو څاروی له خانونو سره
روان کړل او ولاړې .
یوی نجلي وویل : که دا نجلي تاسي په دی حالت کې له سیند څخه
تیرولی شي نو زمونږ کلي ته راسره ولاړ شي مونږ به ډیر خوښ شو او
یا دا چې خپل ورونه راولیږو چې ستاسي مرسته وکړي .
تبریز وویل : زه ستاسي څخه ډیره مننه کوم که د نجلي حالت ښه
شو ښایې ستاسي په لور درشو .
د هغوی له تګ وروسته یې وچ لرګي راواخیستل او په اور باندی یې
کیښودل بیا یې خپلی جامي وویستلي او په اور باندی یې وچول پیل
کړل بیا بیرون ووتل د اوبه په لټه پسی څو قدمو کې یې د اوبو چینه
ولیدله اودس یې وکړ بیرته راغی او د ماښام لمونځ یې وکړ بیا یې
خپل لاسونه الله جل جلاله درباره ته پورته کړل او وی ویل: ته ډیر
مهربانه ذات یې مونږ ستاسي د یو نعمت شکر نشو اداء کولی ، په
خپل سپیڅلی دین اسلام باندی استقامت را نصیب کړه او ګناهونو
څخه مو خوندی وساته !
لږ څند وروسته بی هوښه نجلي رابیداره شوه یوی او بلی خواته یې
وکتل وویریدله څکه چې یو لوری ته هغه سیلاب او د هغې څپو دومره
ویرولی وه چې ګونګه شوی اوبل لوری ته خپل ملګري یې بی درکه او
دا هم یوازی د یو څوان مسلمان سره پاتی شوه چې اوس به ورسره هغه
څه سلوک کوي نو بیا یې سترګی پټی کړی .
تبریز د نجلي په سر باندی لاس کیښوده نووی ویل : ما لکه چې نه
پیژنی زه ستاسي د سفر ملګری یم .

(c) ketab.com: The Digital Library



نجلی پورته شوه کیناستله وی ویل : ته مسلمان یې په تا باندی باور نشی کیدای ما پریږده !

تبریز وویل : ولاړه شه ته خو بندی نه یې .

نجلی پورته شوه هغه تللی نه شوه څو قدمه چې ولاړه نو سر پری وګرځیدلو راوغورځیدو او د عذر په توګه یې تبریز ته وکتل .

تبریز وویل : ستاسی په نسبت ما ته خپل اس ښه ښکاریده چې د سیند په غاړه می پریښودلو او ته می د ډېیدو څخه وژغورلې .

نجلی وویل : تاسی هیڅوک منع کولای نشی ما خرڅولی هم شی زما قیمت پری زیات دی چې بی شمیره اسونو پری اخیستلی شی !

تبریز وویل : الله تعالی زه د انسان د خرڅولو نه منع کړی یم دا په ما او تاسی باندی د هغه د لوری یو امتحان دی چې ما تاسی د ډوبیدو څخه بچ کړی بیا مې سمڅی ته راوستی او ددوه نجونو په وسیله مې د اور انتظام وکړ ته له دی امله ویریږی چې په خپل لاس د جوړ کړای شوی دین پیروی کوی او ستا نظر په خپل جسم دی چې زړه راښونکی او ښکلی څیره لری خو زما نظر په روح باندی دی چې ډیر سپیڅلی دی . زه پوهیږم چې لږ وخت وروسته به ته خپله خپل جسم ما ته وړاندی کړی او وبه وایی چې ما خپل منزل ته ورسوه په خلاصو غوږو یې واوره زه خپل روح نه ناپاکه کوم .

نجلی د حیرانتیا په سترګو تبریز ته وکتل او د ځان سره وویل : دده په خبرو کې اخلاص او پاکوالې دی .

تبریز وویل : کله چې زما جامی وچی شی خپلی جامی بدلی کړه چې ناروغه نشی .

نجلی وویل : زه خپلی جامی نه بدلوم .

تبریز وویل . ته به خپل پوستکی هم وباسی او په اور به یې واچوی ته زما د مسئولیت په لاره کې خنډ نشی ګرځیدای زه دا ثابتول غواړم چې مسلمانان وحشی دی او که عیسایان او زه په دی هم پوهیږم چې ته څومره پاک لمنی یې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اوس زما د سیوری لاندی یې زه تا سره سخته خبره هم نشم کولای دا د الله تعالی د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لاربښونه ده چې په مظلومو ښځو باندی لاس مه پورته کوئ.

نجلی وویل: تا چې زه د کوم سیلاب څخه بچ کړم ایا نور هم بچ شول ؟

تبریز وویل: الله تعالی ښه پوهیږی ما ته معلومات نشته.

* * *

کاروان چې کله له سیند څخه پوری وتلو او په امن کې شو نو ټول اندیښمن وه، د نجلی په لټه کې یو خوا بله خوا خپارل شول خو پیدا یې نه شوه کړای ځکه چې نجلی تبریز د سیند له غاړی څخه سمڅی ته وړی وه نو د هغوی د سترګو څخه پناه وه نو هغوی همداسی وړاندی ولاړل، تر دی چې یو تن د ویرا اوبن اود تبریز اس راوستل نو د هغوی یقین راغی چې دواړه ډوب شوی دی.

ماښام تیاره شوه ټول خفه او اندیښمن روان شول او پدی فکر کې وه چې اوس به چارواکو ته څه ځواب وایو.

بوډا عیسایي وویل: د دومره قیمتی انسان په ضایع کولو که مونږ ته د مرګ سزا را نه کړی دا به د هغوی لویه مهربانی وی.

یهودی وویل: هغه یوازی په اوبن سپره وه بل څوک یې د ځان سره نه پریښوده که نه د ډبیدو څخه به یې ساتلی وای.

عیسایي وویل: تاسی چې هر څه ویل غواړی هغه ووایی کیدای شی زمونږ غلطی وی او دا وبخښلی شی خو په دی افسوس نه کوی چې دومره تجربه لرونکی انسان مو له لاسه ووت.

ما خپلو چاراکو ته مشوره ورکړی وه چې دداسی کار لپاره دوه نجونو ته اړتیا ده خو...

بوډا وویل: دا حقیقت دی چې د حمص مسلمانان راپاریدلی او نظامی زده کړه یې تیزه کړی ده.

یهودي وویل : مونږ به دوی پرینږدو ، د ژبې ، قوم او مذهب په نامه به دوی په خپلو کې سره وجنګوو نو په دی لړ ما ته دا دنده وسپارل شوه او نجلی یې د لور په صفت راسره ملګری کړه

صلیبی چې تجربه لرونکی تخریب کار جاسوس و وویل : مسلمانانو ځای په ځای نظامی او روحانی تربیت شروع کړی دی خو تر اوسه یې د حمص په شا او خوا کې کار نه دی پیل کړی مونږ ته په کار دی چې د دوی مخه ونیسو .

یهودي وویل : زه ستاسی خبره تائیدوم ځکه حمص زمونږ سره په پوله پروت دی که مسلمانان دلته اډه جوړه کړی نو بیا به زمونږ لپاره ډیر مشکلات پیدا شی نو ضروری ده چې د مسلمانانو په زړونو قبضه وکړو او د سلطان صلاح الدین ایوبی په خلاف یې راپاڅو .

بوډا عیسایې وویل : دا امکان نه لری ځکه زمونږ ملګرو ډیری اوازی خپری کړی خو مسلمانانو پری غوږ هم و نه ږرولو.

یهودي وویل : ما ته ویل شوی دی چې د لوی مسجد خطیب ته خلک په درنه سترګو ګوری او نظامی روزنی هم د هغه د سیوری لاندی اخیستل کیږی .

زه غوارم خطیب وګورم چې ایا هغه عالم دی او که پوځی منصبدار؟ او که نه ؟

زما ملګرو! تاسی د یهودانو یا عیسویانو د کورونو څخه دوه ښکلی نجونی پیدا کړی چې په دی مهم کار کې زمونږ سره د زړه له اخلاصه مرسته وکړی .

یو عیسایي وویل : ما تاسی ته په دمشق کې وویل چې ددی سیمی مسلمانان پاخه مؤمنان دی تر اوسه مونږ یو هم وانه اخیستلی شو .
زه به ټول عمر په دی سیند لعنت وایم چې مونږ یې د یوی ښکلی نجلی څخه بی برخی کړو .

* * *

تبریز صلیبی انجلی ته وویل : ستا نوم څه دی او د کوم ځای یې ؟

نجلی ووېل : زما نوم ویرا دی ، مور مې خو کاله وړاندې مړه شوې وه ، په اقتصادي لحاظه غریب خلک یو ، مسلمانانو په دمشق کې زمونږ ژوند تریخ کړی وه ، الله تعالی دې غریب انسان ته ښکلی لور نه ورکوي ، لوی لوی چاړواکو او شتمنو زما د تر لاسه کولو او اخیستلو کوښښ کاوه تر دې چې یو په کې زما د تښتولو هڅه وکړه چې پلار مې د پولیسو په وسیله قاضي ته ورغی زمونږ فریاد یې واورېدلو او زمونږ د مال او ابرو خوندي ساتلو انتظام یې وکړ خو خرنګه چې هلته د مسلمانانو حکومت دی نو ویرېدلو ، دا مو مناسب وګڼله چې له دمشق څخه نه راوځو په حمص کې خپلو خپلوانو څنګ ولاړ شو خو دا را ته معلومه نه ده چې پلار به مې اوس ژوندی وي او که نه .... نو ایا نه په یوې مظلومې او مجبورې نجلی باندې رحم کولای شې .

تبریز ووېل : زما جامې وچې شوې دي او ستا لمدې دي دا واخله خپلې جامې بدلې کړه زه بیرون ځم

ویرا په زړه غوټي اواز ویل : زه مجبوره یم زما سره د هغه ښاور بشان جلند مه کوه چې د ښکار وژلو څخه وړاندې له هغه سره لوبې کوي .

تبریز ووېل : نور څه مه وایه خپلې جامې بدلې کړه .

خرنګه چې د اور رڼا ډېره وه هر څه به ډاګه ښکاره کېدل نو ویرا ولیدل چې تبریز روان شو او د سمڅې څخه بیرون ودرېدلو او شا یې د هغې لور ته کړه ، نجلی د خپل ملا څخه خنجر راوویستلو ورو ورو یې قدمونه پورته کړل هغه بې خبره ولاړ او د سیند اوازنو ته یې غوږونه نیولي او د خان سره غړېده .

ویرا چې تبریز ته ورسیدله او خنجر یې پورته کړ ترڅو ګذار پرې وکړي د خولې څخه یې یو ناڅاپي توخی ووتلو نو تبریز شاته وکتل د ویرا حالت یې ولیدلو نو خان یې بچ کړ او په پښه یې په ګیډه کې ووهله چې د لاسه یې خنجر ولویدلو او خپله هم وغورځیدله .

تبریز خنجر په لاس کې واخیسته نو ویرا په ژړا لاس پورې کړ وې ویل : ما مه وژنه څه چې تاسې وایې هغه به کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبریز وویل : ستاسی په حال ډیر افسوس کوم مخکی دی خان
مظلومه او مجبوره ښودله خو اوس دی داسی عمل وکړ خان سره به
دی لږ فکر کړی وای که زه دی وژلی هم وای نو ددی ځای څخه دی
کومی آبادی یا سمی ته ځان رسولی شو؟ هیڅکله نه !
ته زما په بند کې نه یې کولای شی اوس لاړه شی !
ما خو تا ته پرته له دی نور څه نه دی ویلی چې جامی بدلی کړه زه در
څخه بیرون ووتلم ددی لپاره چې تاسی زما له لوری ډاډه شی او تا زما
د وژلو کوښښ وکړ ...
تا په دی هم فکر ونه کړو چې ما د خپلو سترګو په وړاندی د جامو
په ویستلو باندی مجبورولی شوی خو ما نه غوښتل ....
زه بیرون لاړم چې تاسی جامی بدلی کړی خو تاسی زما د وژلو اراده
وکړه الله جلا جلاله زما مرسته وکړه او بریالی نه شوی .
نو اوس بیرته ولاړه شه جامی بدلی کړه کله چې هغی جامی بدلی
کړی نو تبریز ته یې غږ وکړچې راشی هغه راغی د اور بلی غاړی ته
چپ کیناست .
ویرا خپلی جامی په اور د وچولو کوښښ پیل کړ چې کله وچې شوی
نو تبریز بیا پاڅیده د سمڅی خولی ته لاړ او ویرا په تلوار جامی بدلی
کړی بیا د سمڅی لور ته روانه شوه اوتبریز یې له لاسه ونیوه ورته
وویل : راځی .
ویرا د اور یوی غاړی ته او تبریز د اور بلی غاړی ته کیناست او
خنجر یې هغی ته وغورځولو وی ویل د لمر راختلو سره به روانیږو ویده شه .
ویرا وپوښتل : ایا ته ما ته دوکه راکوی او که ژوندی انسان نه یې یا
بی حسه یې :
تبریز وویل : زه به ستاسی د پوځ په وړاندی دا ثابته کړم چې زه
ژوندی یم زما له تا سره دښمنی نشته خو زه ستا د بادشاه دښمن یم
چې زما په هیواد یې قبضه کړی ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويرا وويل : تاسې نه پوهيږئ غلطي خبرې درته کيږي او ستاسې احساسات راپارول کيږي کوم ته چې تاسې قبله وايئ هغه په اصل کې د يهودو معبد دی چې هغه ته مونږ هيکل سليماني وايو. سلطان صلاح الدين ايوبي غوارئ خپل سلطنت تر لرې ځای پورې ورسوي او ستاسې په څير انسان ديني احساسات د راپورته کولو کوښښ کوي او وايي چې دا لومړی قبله ده.

تبريز وويل : په داسې مسئلو کې د علماؤ څخه او په خاص ډول د جامع مسجد له خطيب پرته د نور خلکو خبرو اوريدلو ته تيار نه يم ويده شه !

ويرا وويل : ما ته خوب نه راځي .

تبريز وويل : څه ويل غوارئ ؟

ويرا وويل : ستاسې د جامع مسجد خطيب، د حمص دی او که د بل کوم ځای څخه راغلی دی؟

تبريز وويل : هغه په حمص کې زيږيدلی دی نور دې شپه په خير .

نجلۍ ته د ويرې څخه خوب نه ورتللو خو بلاخره ويده شوه .

سهار چې کله يې سترګې پرانستلې او په خپل ځای کيناستله نو وې ليدل چې تبريز د سهار لمونځ کوي اوکله چې د لمانځه څخه خلاص شو نو د دعا لپاره يې لاسونه پورته کړل او دا يې وويل: ای د ټولو مخلوقاتو ربه ! په دی امانت کې د خيانت وسه مه راکوي ، زه کمزوری يم .....!

د دې دعا په اوريدو سره په نجلۍ باندې هيبت او لړزه راغله، له سترګو څخه يې اوښکې رواني شوې او ويښتان يې زيږشول ، هغه تر ډېر تاثير لاندې راغله ځکه د انساني فطرت دا خاصه ده چې د پرله پسې زيار او کوښښ سره سره هم د هغه اصليت نه بدليږي ځرنګه چې هغه د کوچنيوالې څخه په بدی او ناروا کې رالوی شوې وه نو په فطرت يې ګرد او دوړې پرتې وې ، د لومړی ځل لپاره دا احساس ورته پيدا شو چې د هغې جسم د روح څخه محروم دی او که روح وي نو د بدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو وړو په وجه مرداري کې ډوب شوی دی نو فطرت یې را ژوندی او روح یې راویښ شو.

تبریز ورته وویل: بیرون ته لاړه شه د سمڅې ښی لور ته په څو قدمونو کې د اوبو چینه ده مخ او لاسونه ووینځه بیرته راشه چې بیا روانیږو.

ویرا چینې ته روانه شوه هلته یې ځان ووینځلو څکه د سفر دوړو اود شپې په څمکه ملاستې خیره بدله کړې وه کله چې بیرته راغله او تبریز ورته حیران شو نو د خولې څخه یې ووتل: ما شاء الله ددې د بدن هر غړی د قدرت شاهکار دی ... د څو شیبو چوپتیا وروسته یې وویل: نو څه چې څو!

ویرا د هغه په اوږه لاس کیښوده وی ویل: تاسې کینئ زه ستاسې څخه څو پوښتنې کول غواړم.

تبریز وویل: څه پوښتنې کول غواړې؟

ویرا وویل: تا چې د الله تعالی سره کومې خبرې اترې کولې ایا تا هغه لیدلو؟

تبریز وویل: مونږ الله جل جلاله نشو لیدلای زه دومره پوهیږم چې هغه زما خبره اوري.

ویرا وویل: آیا ستا په دې یقین دی چې الله تعالی تا ته ددې قوت درکړ چې ما د ډبیدو څخه وژغورې.

تبریز وویل: ما ته یو متبحر عالم ویلي دي چې کله روح پاک وي نو الله تعالی په هر مشکل کې ورسره مرسته کوي که ما په دې اراده ستا د بچ کولو کوښښ کړای وې چې ته ښکلې او حسینه یې او زما خپله به شی نو دواړه به غرق شوي وای.

ویرا وویل: زما روح خو پاک نه وو نو الله جل جلاله زما مرسته ولې وکړه چې ستاسې په لاس یې د مرگ څخه وژغورلم.

تبریز وویل: زه دومره نه پوهیږم خو حمص کې علماء شته د هغوی څخه به پوښتنه وکړو.

ویرا وویل: تا زما د جسم نه ولې ځان وساتلو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبریز وویل : که ما داسې کړای وای نو ستاسې د خنجر څخه به نه وایې بچ شوی-.ته د الله تعالی امانت یې او... بیا یې څو شیبې وروسته بې اختیاره وویل : ویرا ته ډیره ښکلې یې راځه چې څو .
ویرا ورنږدې شوه او په اوږه یې ورته لاس کیښوده وی ویل :کینه !
تبریز وویل : زما خوا ته نږدې مه کینه ما په دومره سخت امتحان کې مه اچوه ما پریږده چې د الله تعالی په وړاندې سرلوړی اوسم .
ویرا په ژړا ژړا سره وویل : ستا دې په هغه ذات قسم وی چې ته یې پیدا کړی یې ما هم د هغه په وړاندې د سر لوړی وړ وګرځوه !
تبریز وویل : ته ولې ژاړې ؟
ویرا ځواب ورکړ : زه ډیره ګناهګاره یم ! الله تعالی له ما څخه ناراضه دی کله چې د اوښ څخه په سیند کې راپریوتلم بیا هم الله تعالی راته په یاد نشو ! زه په دې پوهیدلم چې هر څه دی هغه جسم دی او د خپل جسم په بچ کولو کې شوم خو چې کله زه تا د ډبیدو څخه وساتلم او دلته دې راوستم نو زما په وړاندې دا خبره وه چې ما ستا څخه خپل جسم ساتلو او د خپل جسم ساتلو په خاطر می ستاسې د وژلوکوښښ وکړ خو ناکامه شوم زه د ډوبیدو څخه هم بچ شوم ، او ستا څخه هم خو ستاسې د کړو وړ په نتیجه کې دی ته ورسیدلم چې زما د بچ کولو څواک بل دی نو تاسې ووایې چې هغه څواک څه دی ؟
تبریز وویل : د الله جل علی شانه قدرت دی .
ویرا وویل : زما ټول ژوند ګناه ده .
تبریز وویل : ما ته په سپینو تکو کې داسې ولی نه وایې چې ته یو داسې نجلی یې چې د بادشاه ، وزیرانو ، والیانو او قوماندانانو څنګ ته ورځې .
د ویرا په سترګو کې اوښکې راغلې وی ویل زه ویریږم ما خان ته نږدی کړی تبریز په خندا وویل : نه ! ما ته دومره مه رانږدې کیږه که نه بې لارې به شم .

(c) k.......com: The Digital Library



ویرا وویل : زه په دې اعتراف کوم چې ګناهګاره یم او ما ډیر خلک بې لارې کړي دي که زه تا ته دا ووایم چې راځه ما ددې مردار ډنډ څخه وباسه او د ژوند سفر را سره په ګډه پیل کړه نو ستا به څه خواب وي ؟

تبریز هغې ته وکتل ویې خندل او بیا یې وویل : راځه چې خو بیا سفر نه شو کولای .

ویرا په خپل ځان کې بدلون محسوس کړ ، پاڅیدله روانه شوه لارې ته به یې کم او تبریز ته به یې ډیر کتل .

پرون شپه یې د تبریز د وژلو او حمص ته په رسیدلو باندې فکر کولو خو اوس یې زړه غوښتل چې هغه دلته ډیر ځنډ شي نو یو ځل یې د هغه لاس ونیولو او وې ویل : په ارام څه زه نشم تللی .

تبریز وویل : نو بیا به په لاره بله شپه هم کوو .

ویرا وویل : څه رحم خو وکړه !

تبریز وویل : کوم ځای کې چې دې ښنې ودریدلې نو په شا به دې کړم ؟

* * *

د صلیبیانو بادشاه بالډون چې کله په حمات کې ماتې وخوړه او تیښته یې وکړه نو لرې ولاړ او د پوځ لپاره یې لویه قرار ګاه او مرکز جوړ کړ خو مجاهدینو پر هغوی باندې داسې حال راواخیستلو چې د ژوند پورې یې په تنګ کړل، د هغه کوچنی کوچنی ګروپونه زیات ختم شول .

د صلیبیانو بادشاه بالډون ته دا خبر هم راغی چې د حمات څخه چې کوم صلیبیان تښتیدلي وه هغوی په لارو کې مسلمانو کلیوالو مړه کړي او وسلې یې ورڅخه اخیستي چې پدې خبره بالډون ډیر په قهر شو، هغه خپل ټول کسان راټول او د مسلمانانو په کلو یې بریدونه پیل کړل ترڅو خپل غچ واخلي، هغوی پوره پوره کلي وسوځول، سړي او کوچنیان یې مړه کړل، نجونې یې له ځان سره بوتللې تر دې چې د حمص د ښار شپږ میلې ته ورسیده او هلته یې بیا مرکز او قرار ګاه ونیوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صليبيانو بادشاه بالډون غوښتل سلطان صلاح الدين ايوبي او يا ملک العادل ته ماتي ورکړي او د خپلې ماتي تور داغ ختم کړي نو نورو صليبي واکمنانو ته د کومک او مرستي لپاره ورغللو.

***

د ويرا د لټون څخه چي کله هغوی پوره ناهيلي شول نو بوډا عيسايي او ورسره ملګري يې شپې شپې مزل وکړ او سهار حمص ته ورسيدل هغه وخت د لمانځه لپاره اذان اخري کلمات په لوړ اواز ادا کولو نو مسجد ته ورغلل امام ته يې وويل : زمونږ سره په کاروان کې ددې سيمې يو تن و چې په لاره کې د سيند څخه په راپوري وتلو کې ډوب شو نو د هغه اس مونږ خان سره دلته راورسولو اوس يې تاسي ته سپارو د هغه کور ته يې ورسوی.

کله چې خلک د لمانځه لپاره راغلل نو د تبريز اس يې وپيژندلو يو کس هغه تر کوره ورسولو نو د هغه په کور کې ماتم جوړ شو.

د حمص په منځني برخې کې څو ماني وی چې په هغې کې يو شتمن يهودي ژوند کولو ، د قافله زيات غړي د هغوی کور ته ولاړ ل او د خپل سفر کيسه يې ورته وکړه ټولو بيا د ويرا په مړينه خفګان ښکاره کړ خو کوربه شتمن يهودي وويل : په دې مسئله نه حل کيږي ، دلته مسلمانان خپل نظامي روزني تيزې کړي او ددې سرپرستي د جامع جومات امام چي نه يوازې خطيب بلکه پوځي منصبدار معلوميږي کوي.

بوډا عيسايي وويل : که هغه ووژلي شي دا به ښه نه وي ؟

يهودي شتمن وويل : نه! بلکې نقصان به وی مسلمانان به په مونږ شک وکړي او د هغه په نتيجه کې به ټول ووژني.

بوډا عيسايي وويل : دلته چې کوم يهودي او عيسايي کورني دي د هغوی نجوني څه نشي کولای ؟

کوربه يهودي وويل : تاسي ښه پوهيږی چې ددې کار لپاره تربيت ضروري دی زمونږ نجوني قرباني ته تياري دي خو ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا عيسايي وويل : تاسي دا ضروري بولئ چې مسلمانان دې روحي او جسمي تربيت حاصل نه کړي ؟

کوربه يهودي وويل : هو ! خو ستاسي اراده څه ده ؟

بوډا عيسايي وويل : مسلمانان په خپلو کې د مذهب ، ژبې او قوم په نامه يو له بل سره جنګول ، دا د هر چا کار نه دی ويرا په ډيره اساني سره کولای شول خو اوس مونږ مجبور يو چې دوه نجوني ددې کار لپاره را پيدا کړو .

کوربه يهودي ووېل : وخت نشته تاسي پوهيږئ چې د رمله د جګړې څخه څومره مياشتې تيرې شوې چې په هغې کې سلطان صلاح الدين ايوبي ماتې وخوړه خو که دا حقيقت راسره قبلول کړئ چې ماتې د هغه په عزم او احساساتو باندې هيڅ اثر ونه کړ بلکې هغه نوی پوځ تيار کړ ، د مصر قاهرې څخه چې کوم خبرونه دلته رارسيږي هغه ښه نه دي سلطان صلاح الدين ايوبي سپرو ته د زينونو تړلو حکم کړی خو دا معلومه نه ده چې کوم لور ته بريدکوي او د هغه ورور الملک العادل ته له دمشق څخه مرسته رسيدلې ده ، هغه بادشاه بالډون ته داسي ماتې ورکړه چې دومره موده کې هغه ځان سمبال نشو کړای .

په دې هم ښه پوهيږئ چې د مسلمانو سرتيرو د غلچکي بريدونو څخه زمونږ د پوځ خوراک او څښاک هيڅ څه هم محفوظ نه دی که دلته هغوی هلته جوړه کړي نو بيا خو ...

په دې حالاتو کې دا طريقه ګټوره نه ده چې روزل شوې نجونې دلته راوستل شي او د مسلمانانو تر منځ دښمني پيدا کړي او د هغوی اخلاق خراب کړي .

زه خپلو چاراواکو ته حيران يم چې هغوی دلته نجونې راليږي !

بوډا عيسايي ووېل : بيا څه کول په کار دي ؟

کوربه يهودي توره پورته کړه او وې ويل د مسلمانانو سرونه د تنو څخه غوڅول او ددې څخه وراندې خپل مال او دولت له دې ځای څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پټه د ویستلو کوښښ کول زه دا هیله لرم چې صلیبي بادشاه به کومه سیمه راکړي چې هلته وواسیږو او مالي نقصان به پوره کړه .
زه چې یهود یم د هیکل سلیماني په خاطر د خپل کور تباه کولو ته تیار یم .
بوډا عیسایي وویل : د دې سیمې د تباه کولو لپاره څه پکار دي پداسې حال کې چې دا کار یوازې پوځ کولای شي .
کوربه یهودي وویل : پوځ شته د صلیبیانو بادشاه بالډون پینځه شپږ میله لرې ددې ځای څخه پړاو اچولی دی او تاسې ته معلوم دي چې پوځیانو د خپلې ماتې څخه وروسته په راګرځیدو کې د مسلمانانو ټولې سیمې له خاورو سره خاورې کړې نو حمص هم تباه کولی شي .
که ستاسې خوښه وي زه نن راونیږم او د صلیبیانو بادشاه بالډون ته وایم چې دا سیمه د دوی لپاره څومره خطرناکه ده !
بوډا عیسایي وویل : ددې سیمې د خاورو سره خاوره کیدلو مقصد دا دی چې دلته به یو مسلمان ژوندی نه پاتې کیږي او نجونې به پوځیان د ځانونو سره بیایي ...
مونږ ټول د کوربه د نظر سره موافق یو او د هغه څخه غوښتنه کوو چې هغه دې نن شپه روان شي ټول راغلو کسانو په یوه خوله وویل .
کله چې یهودي د خپل دوه تنو ملګرو سره له خپل کور څخه ووتلو نو یو تن نابلدي په اس سپور ولیدلو چې د جامع مسجد د خطیب د کور په لور روان وه او دروازه یې وټکوله ، خطیب راووتلو، هغه ته یې هرکلي ووایه او بیا یې کور ته د ځان سره ننویستلو .
د ماخستن د لمانځه څخه چې کله خلک خپلو کورونو ته ولاړل پنځه او شپږ تنه پاتې شول بیا یې د مسجد دروازه بند کړه راغي بیا خطیب وویل : زما ملګرو ! دې ملګرې د الملک العادل له لورې خبر راوړې چې سلطان صلاح الدین ایوبي په قاهرې کې په خپلو سپرلیو زینو نه اچولی دې تاسې د سرتیرو روزنکي استاذان یاست خپل کار تیز کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هم په هغوی صلیبانو چې ستاسی خوا ته یې پړاو اچولی غلچکی بریدونه وکړی چې په ارام شپې ورځی تیری نه کړی ..
او دا هدایت یې هم کړی چې صلیبیانو د مسلمانانو سیمی تباه کړی دی داسی نه چې په حمص یرغل وکړی تاسی باید پوره پام وکړی .
خطیب یو تن ته وظیفه ورکړه چې د صلیبیانو د پړاو نقشه او حالات معلوم کړی .

* * *

په حمص کې د تبریز کورته احوال رسیدلی وو چې هغه سیلاب وړی او آس یې هغوی ته وسپارلو- په کور کې ډېر زیات غم او خفګان وو او ټول ډېر اندیښمن وه چې یو دم تبریز د یوی حسینی اوښایسته نجلی سره کورته راننوت هغوی د ډېری خوشحالی څخه په ژړا شول او ټولو په غیږ کې ونیولو.
په دی وخت کې تبریز او ویرا په داسی حال کې کلی ته راننوتل چې ویرا تبریز په شاه اړولی وه ، په لاره کې اوبه وی خو خوراک یې هیڅ نه وکړی ، ویرا خو د صیلبیانو شهزادګی وه او هیڅکله یې په پښو سفر نه وکړی خپل کور ته چې ورسیدل نو دروازه یې وټکوله ورور یې دروازه خلاصه کړه ، د هغوی دا یقین نه راتللو چې تبریز به بیا ژوندی راشی خو هغه راغی ټول د ډېری خوشحالی څخه په ژړا شول ټولو په غیږ کې ونیولو او هغوی ورته خوراک او څښاک کیښوده او دوی ورته خپله قصه کوله .
ویرا تبریز ته وویل : څرنګه چې تاسی د کورنی غړی خوشحاله شول زه هم غواړم د خپلوانو څنګ ته ورشم .
تبریز وویل : ډیره ښه ده !
هغوی دواړه د هماغه یهودي کورته چې د مسلمانانو په خلاف د صلیبیانو او یهودیانو مرکز وو روان شول ، تپه تیاره وه په لاره کې ویرا ودریدله او تبریز ته ور غاړی شوه بیا یې په ژړا ژړا وویل: زمونږ مقصدونه سره جدا دی خو بیا به هم په یو موړ کې سره یو ځای کیږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما جسم او روح سره جدا وو خو ستاسی په برکت سره یو ځای شول او زه په دی هم نه پوهیدلم چې مینه او محبت څه وی ؟ هغه تاسی راکړ.

په زړه کې خو زه ستاسی یاد د ځان سره وړم فکر کوم چې ته به ما هم هیره نه کړی.

تبریز وویل : زه تا هیڅکله نشم هیرولی ما تا ته وویل چې ته تر اوسه د یو باطل دین پیروی کوی.

زه به ستا تر مرګه انتظار کوم.

تبریز په امانت کې خیانت ونه کړ او د سفر په دوران کې د ویرا د هغه سره مینه پیدا شوه او تبریز هم په زړه کې ځای ورکړ خو په لاره کې ددی څرګندونه کړی اوس یې په زړه باندی لویه تیره کیښودله او هغه یې یهودی ته وسپارله.

کله چې یې د یهودی کور ته وررسوله نو هغه په کور کې نه وُ او بوډا عیسایی ویرا د خپلی سینی سره ولګوله او تبریز ته یې د شپی تیرولو وویل خو پاتی نشو او د هغه ځای څخه د مسجد په لوری روان شو دروازی بندی وی هغه وټکوله دروازه خلاصه شوه او هغه مسجد ته ورننوت.

* * *

پدی ورځو کې د حمص یهودی سوداګر د خپلو ملګرو په مشوره باندی د صلیبیانو بادشاه بالډون ته ورغی چې په حمص باندی حمله وکړی او مسلمانان ټول له تیغه تیر کړی. کله چې هغه د صلیبیانو مرکز ته ورغی بالډون خپله موجود نه وو، سالارانو ورته وویل چې ستاسې خبره سمه ده خو مونږ پرته د هغه د اجازی څخه څه نشو کولای - تاسې احوال اخلی کله چې هغه راغی نو بیا ورته راشی هغه به درسره خپله خبره وکړی خو دومره درته داډ درکوو چې ستاسې دا کار کیږی.

* * *

په قاهره کې د سلطان صلاح الدین ایوبی څو میاشتی وشوی، هغه د جګړی لپاره ښه پوره تیاری ونیوه او بیا د دمشق په لوري را روان شو. هغه غوښتل لومړی دمشق ته ولاړ شي هلته ټول حکومتی چاری سمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او منظمې کړې او بیا په حمات کې له الملک العادل سره وګوري او په ګډه د راتلوونکي په هکله پلان جوړ کړي ، د قاهرې څخه سلطان صلاح الدين ايوبي ډېر په چټکتيا سره راووت او مخ په دمشق را روان شو خو په لاره کې ورته د شمالي شام او کوچنۍ اسيا د قار احصار د سیمې د والي عز الدين پيغام راورسيده. عز الدين د نور الدين زنګي د اميرانو له ډلې څخه وو چې هغه ته د شمالي شام او کوچنۍ اسيا د قار احصار برخو امارت سپارل شوی وه. د هغه سره په پوله او سرحد باندې د ارمنستان هيواد پروت وو چې د هغې حاکم ابن لامون وو. هغه څو ځلې عزالدين ته وويل چې راځه او د صليبيانو سره اتحاد وکړه خو هغه نه منله. بلاخره ابن لامون د صليبيانو په اشاره په پوله او سرحد باندې حملې پيل کړې تر څو هغه مجبور کړي چې اتحاد وکړي يا دا چې خپل ولايت خوشې کړي .

عز الدين سلطان صلاح الدين ايوبي ته پيغام واستولو: زما محترم مشر د مصر او شام سلطان صلاح الدين ايوبي ! پر تاسې او په ټولو مسلمانانو دې د الله تعالى رحمت وي ، زما په وفادارۍ باندې شک ونه کړې ما تل د خپل لورې په صليبيانو لاره بنده کړې ټولې سيمې او د وړاندې تګ لارې زما د ملګرو تر نظر لاندې دي ، صليبيان زما چې زما پوله د هغه د سيمې سره يوځای کيږي چې د ارمينيانو ده او درکوم چې ما سره پوځ ډير کم دی صليبيانو او ارمنيانو ما ته دوه ځله د هغوی ملګرې شم او ستاسې په خلاف وجنګيږم او د انکار په صورت کې يې د يرغل کولو ګواښ راته هم کړی دی .

که زما په ځای بل څوک وايي د خپلې ځمکې د ساتنې په خاطر به يې د هغوی دعوت قبلولو ځکه دا سيمه دومره لرې ده چې مرسته هم په وخت نه رارسيږي خو ددې سره سره د هغوی د بلنې په ځای مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی هر څه رد کړي او خپله مې په الله جل جلاله توکل کړی زه خپل ځان او مال قربانوم خو د صلیبیانو سره ملګرتیا نه کوم.

او که دا وکړم نو الله تعالی، نورالدین زنګی او نورو شهیدانو ته به څه ځواب ورکوم، د لومړي قبلې د ازادي پخاطر مې ډیره قربان ورکړې ده ... ما ته دا معلومه نه ده چې ستاسي سره کوم پروګرام دی او ددې نه خبر نه یم چې د رمله پیښي څخه وروسته تاسي په نوي تنظیمولو او نورو کارو مصروف یاست اوپه دې هم پوهیږم چې ښاغلی الملک العادل زما د مرستي کولو وړ نه دی یوازی او یوازي د خپل احوال څخه مې خبرولي که تاسي دا لازم ګڼي چې دا سیمه پریږدم او د خپل پوځ سره ستاسي څنګ ته درشم او که نه ما ته څه هدایت کوی ؟

سلطان صلاح الدین ایوبی چې کله دا پیغام ولوست هغه وخت یې خپل پوځي قوماندانان راوغوښتل ورته یې وویل تګ لاره بدله کړي اوس به د ابن لامون په سیمو یرغل کوو.

قارا حصار زما د محترم استاذ نورالدین زنګی شهید ننبه ده او د عزالدین په ژبه یې را باندي غږ وکړ زه هغه یوازي نه پریږدم تر څو د اسلام د سپیڅلي دین سره وفاداري وکړي.

یو قوماندان وویل: ښاغلی سلطان ! د حقایقو په رڼا کې مونږ ښه فیصله کولی شو.

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: حقایق دا دي چې مونږ وړاندی دمشق ته ولاړ شو او د هغه ځای د حالاتو نه ځانونه پوره خبر کړو خو هلته په تګ سره ابن لامون په تل خالد باندي حملې کوی او څرنګه چې عزالدین د هغه مخه نشي نیولای او وړاندی حلب دی تاسي ټول دي چې زمونږ سره یې کړی ده خو تړون د وسپني دیوال نه دی چې مات نه شي هغوی به ضرور د صلیبیانو سره یو ځل بیا دوستی کوی او زمونږ په خلاف به میدان ته راوځي نور حلب صلیبیانو ته نه ورکوو او عزالدین یوازی نه پریږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

صلیبي جاسوسانو د سلطان صلاح الدین ایوبی نقل او حرکت کتلو او خپلو چارواکو ته یې پرله پسې خبرونه ورکول چې د هغه په رڼا کې یې خپل پوځي پوستې او هډې مضبوطولې- کله چې د مسلمانانو مجاهدین د دمشق د لارې نه په بل لوری روان شول نوصلیبي قوماندانانو ته خبر ورسیدو هغوی وویل : سلطان صلاح الدین ایوبی خپل د خوښې په میدان کې جګړه کول غواړي .

***

یوه میاشت او څو ورځې د هغوی په حمص کې له اوسیدلو وروسته یو شپه چې په حمص باندې د بالډون له لوری حمله کیدله ویرا د تبریز کورته ورغله او د هغه د مور اوخویندو سره یې خبرې اترې پیل کړې چې تبریز راغی او هغه ته یې اشاره وکړه ، هغه پوه شو او د کور څخه ووت هغه ځای ته ولاړ کوم ځای ته چې ویرا او هغه به سره کتل لا ناست نه وو چې ویرا ور ورسیدله د هغه لاس یې ونیوه د ویرا لاس تود وو نو تبریز وویل : ناروغه خو نه یې ؟

په دې وخت کې دوه درې اوازه وشول وېرا ویرا ...

تبریز پوښتنه وکړه دا څوک دی ؟

ویرا په ویریدلې لهجه وویل : زه ستاسې د لیدلو څخه منع کړې شوی یم نو ماپسې ښایې راغلې وی راځه له دې ځایه وړاندې ځو د هغه غره په لمن کې ونې او د اوبو چینه ده هلته به کینو او په ډاډه زړه به زړه خواله وکړو .

تبریز وویل : ښه ده !

کله چې هلته دواړه ورسیدل نو د سپرلیو او د خلکو چیغې تر غوږ شوې نو تبریز وویل : ویرا دسپرلیو د پښو او د خلکو چیغه مې تر غوږو کیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویرا په خندا وویل : مونږ چې اوس چیری یو دا د یو ناو خوله ده او هلته چې کوم باد په ونو او پاڼو لګیږي د هغه اواز دی ، ستا غوږونه هسی بریږي بیا مرګ هم په نیته دی مه ویریږه زه در سره یم .
هغې نه غوښتل چې تبریز د خپل کور، کلی او وطن تباهی پخپلو سترګو وګوری او بیا خفه شي ځکه چې ویرا په هغه باندی زړه بایللی وه نو نه یې هغه پریښودلی شو او نه یې صلیب .
ویرا وویل : زما د زړه سره کینه !
دواړه کیناستل ویرا هغه په خپل غیږ کې ونیوه او د هغه په عقل یې قبضه وکړه !

* **

کله چې د صلیبیان بادشاه بالډون خپلی قرار ګاه ته راغی او یهودی سوداګر خبر شو نو هلته ورغی او د حمص په هکله یې ورسره خبره وکړه چې دلته د صلاح الدین ایوبی پوځیان راغلی ، خلک روزی او کیدای شي دا زمونږ لپاره ډېر زیات خطر شي نو بالډون ورسره پلان جوړ کړ چې په فلانی شپه به مونږ حمله کوو تاسې خپل یهودیان او عیسایان د شپې په پته وباسی چې مسلمانان خبر نشی .
کله چې بوډا عیسایی او سوداګر یهودی دا خبر نورو ملګرو ته وکړ نو ویرا وویل: زه خپل احسان کوونکی په هیڅ صورت داسی طوفان ته نشم پریښودی، هغوی ویرا ته وویل چې ته د صلیب سره خیانت کوی که هغه دی خبر کړ نو ټول مسلمانان خبریږي او دا به بیا زمونږ او تاسې لپاره تر ټولو خطرناکه معامله شي .
یو عیسایی وویل : د مار بچی ساتل د هوښیاری عمل نشی کیدای .
یهودی شتمن وویل : دلته دوه کورنی داسی شته چې زما ورسره ښی اړیکی دی او تل یې په بدو حالاتو کې ماسره مرسته کړی ده زه به هغوی نه خبروم ځکه مسلمانان به زمونږ دوستان وی خو په حقیقت کې زما او ستا د دین دښمنان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویرا په غصه وویل : زه د هغه ژوند غواړم څکه هغه زه د مرګ له خولې څخه راخلاصه کړم !

یهودي وویل : مونږ هغه ته دومره دولت ورکولو چې هغه یې تصور نشو کولای خو هغه وویل ما خپل مسئولیت پوره کړی او هغه زمونږ دښمن دی او مونږ د هغه !

ویرا په لوړ اواز وویل : زه هغه دښمن نه ګڼم ما هغه یوازې داسې انسان ولیدلو چې ما ته یې په بد سترګو ونه کتل خو په تاسې کې څوک دی چې ما ته یې نیت ښه وي ؟

زما په سترګو کې خپلو خیرو ته وګورې !

یو عیسایي وویل : ته یوازې تبریز بچ کول غواړې خو هغه به څرنګه بچ کړای شي که ته هغه ته وایې چې څه کیدونکي دي نو ټول به خبر کړي چې بیا زمونږ ژوند په خطرکې پرې وځي .

ویرا ورته وویل: زه دومره بې عقله نه یم چې د خپل محبوب لپاره ټول مسلمانان خلاص کړم تاسې خپل کار وکړی او بیا وګورې چې څه کیږي ؟

** *

د صلیبیانو بادشاه بالډون په هماغه تاکل شوې شپه کې خپل پلي او پیاده پوځ رامخکې کړ او د حمص ښار ته راغلل تر شا ورپسې سپاره راورسیدل، هغوی کلې محاصره کړ او بیا پلي پوځ کورونو او کلي ته ننوتل، د هر کسان د خوب په حالت کې ووژل شول، څوک چې راویښ شول هغوی ښه مقابله وکړه او د شهادت جامونه یې وڅښل ، کورونو ته آورونه واچول شول- ماشومان ، بوډاګان ، ښځې او نور ټول له مخې ووژل شول یوازې پیغلې او ښځې هغوی له ځان سره بوتلې .

پدې توګه د صلیبانو یو ځل بیا د خپلې ماتې غچ او انتقام د مظلومو خلکو څخه واخیست او ټول حمص یې په کنډوالو بدل کړ.

** *

سهار چې لمر راوختلو نو ویرا تبریز ته وویل : وړاندې پوځې پړاو کې زما دوه ملګرې او خپلوانې د صلیبیانو بادشاه بالډون خاصې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتګاری دی چې ډېر وخت مې نه دی لیدلی غواړم هغه وګورم هیله لرم چې ماسره ولاړ شي .
تبریز وویل : ډیره ښه ده !
ویرا د پیرداررانو د قوماندان څخه د صلیبیانو بادشاه بالډون د خیمې پوښتنه وکړه چې هغه ورسره یو تن ملګری کړ او هغه یې د بادشاه خیمې ته ورسوله د بادشاه ساتونکو د څه پوښتنو وروسته ویرا پرېښودله چې خیمه نه بلکې یوه ماڼی وه .
د صلیبیانو بادشاه بالډون د څه وخت وروسته تبریز وغوښته ورته وې وویل : دا نجلی غواړی له ځان سره دی وساتې مونږ ددی غوښتنه نشو واپس کولای نو ته دلته د ویری د احساس څخه پرته د یو معزز میلمه په صفت واوسیږه .
تبریز وویل : ما ته د تګ اجازه راکړې په کور کې به مې مور او خویندی انتظار کوی ؟
ویرا وویل : ما ځان له مه پرېږده ! زه تاسی سره دوکه نه کوم په دی حقیقت به وروسته پوه شی ؟
تبریز وویل : د ویرا غوښتنه زه هم نه ردوم خو په دی شرط چې خپل دینی مناسک ادا کړم .
ویرا وویل : ته خپل عبادت کولای شی .

***

د عز الدین استازی د سلطان صلاح الدین ایوبی خواب ورسولو او هغه د پیغام له مخې عزیز الدین ابن لامون سره وکتل او ورته وی ویل : زه تاسره دوستی کوم خو چې زما عزت تر پښو لاندی نشی .
ابن لامون وویل : مونږ هم غواړو چې ستاسی وقار اوعزت پر ځای پاتی شی .
د هغه څخه څو ورځی وروسته د قارا حصار سره نږدی سلطان صلاح الدین ایوبی خپلی خمیی ودرولی د هغه پوځ ستړی و خو په ارام یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت نه ضایع کولو او د ځان سره یې وویل کیدایځ شي زمونږ د ارام په نتیجه کې ابن لامون خپل ملګري راوبولي او بیا سخته مقابله وکړي .

نو سلطان صلاح الدین ایوبي ددي خطر له مخې د سهار څخه مخکې خپل پوځ ته د یرغل لپاره د روانیدو حکم وکړ او د استخباراتو د راپور په رڼا کې یې قدم پورته کړ ، پوځ یې په دري برخو وویشلو او د دري لورو یې په ارمني خاوره یرغل وکړ په لږ وخت کې هغوی ټولې سرحدي پوستې او کلا ګاني ختمې کړې او بیا یې په مرکزي کلا باندې حمله وروړه ، خپله هم ددې ډلې سره ملګرې وو چې د نهرالاسود له لوري د خپل وراره فرخ شاه په مشرۍ کې چې د جګړې تکړه قوماندان وه په خپل اس سپور روان وو .

نهرالاسود د ارمینیانو د هیواد سرحدي پوله وه او په هغه دکښتیو پل جوړ شوی و او ددې سیند په غاړه د هغوی مرکزي کلا مخاضته الاحزان وه چې ابن لامون په هغه کې اوسیدلو هغه وخت یې د خوب څخه سترګې پرانستې چې سر تیرو مجاهدینو د کلا دیوالونو ته زینې کیښودې او په منجنیق یې دروازه والوزوله او کلا ته ننوتل، ټول پوځ یې تسلیم کړ منډه یې کړه او ابن لامون یې ژوندی ونیوه .

د سهار له لمانځه څخه وروسته ابن لامون د سلطان صلاح الدین ایوبي په وړاندې ودرول شو بیا یې عزالدین راوغوښت ورته وی ویل دده په باب تاسې فیصله وکړې .

د عزالدین وویل : ابن لامونه تش په نامه واکمن وی او خپل نیمایي پوځ به تاسې ته سپاري ، په کال کې به .... جزیه ورکوي ، خپل پوځ ته به امر کوي چې په خپلو لاسونو به کلا ورانه کړي چې نوم او نښان یې پاتې نشي .

ابن لامون وویل : ماته ستاسې هر ډول شرط منظور دی .

یوه ورځ د صلیبیانو یو جاسوس خپل بادشاه بالډون ته خبر راوړ چې سلطان صلاح الدین ایوبي د تل خالد په لور را روان دی او په هغه ځای یرغل کوي څرنګه چې بالډون ته دا سیمه ښه معلومه وه نو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځ ته یې د مصافه غرونو په لوری د حرکت حکم وکړ او ورته وی ویل ستاسی مقابله به د مسلمانانوسره وی نو په میړانه وجنګیږی او خپل بدل واخلی .

بیا خپلی خیمی ته راغی او ویرا ته یې وویل : زماسره په دی ځای کې بی شمیره نجونی دی خو ته یوازنی نجلی یې چې زما په زړه دی قبضه کړی او ته چې زما سره په خوا کې وی نو روحانی سکون احساسوم .

ویرا په ډاګه ورته وویل : که د روحانی سکون خبره وی نوما ته ددی مسلمان سره په ملګرتیا کې په لاس راځی چې د هغه ټوله کورنۍ مونږ د خپل پوځ په لاسونه ووژله .

د صلیبیان پادشاه بالډون په خنداوویل : ستا هم روح شته ؟

ستا هم ضمیر شته ؟

د شپی لخوا د مسلمانانو واکمنان د ګناه کفاره اداء کولی شی ؟

ویرا وویل : ستاسی په وړاندی زما بدن دی خو د تبریز په وړاندی زما روح دی .

د صلیبیانو بادشاه بالډون خپل ساتوونکی ته وویل : هغه مسلمان چې ویرا ورسره ناسته پاسته کوی په پښو او غاړی کې زولنی واچوی خوراک او څښاک دومره ورکوی چې ژوندی پاتی شی او هر سهار یې زما وړاندی حاضروی او دوه دری ، دُری یې وهی بیا یې ویرا ته مخ کړ وی ویل : ده ته ستا د غلطو خبرو سزا ورکوم چې ما سره دی کړی .

دوه دری ورځی وروسته یې چې تبریز ولیدلو نو په زور زور یې د ژړل .

بیا د بالډون خوا ته ورغلله په پښو کې ورته پرې وتله او وی ویل : زه د خپلی خبری بخښنه غوارم او څه چې وایی هغه به کوم خو تبریز پرېږده .

د صلیبیانو بادشاه بالډون خپل ساتوونکی ته وویل : د تبریز زولنی پرانځی او په زخمونو باندی ورته پټی ولګوی .

بالډون څه وخت وروسته یوه شپه چې د ویرا حسن او ډېرو شرابو څښلو مست کړی و ، وویل : که زه د تبریز په څېر د سلطان صلاح الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایوبی پښنو او لاسونوته زولنې واچوم او ستا په وړاندي يې ودرم نو ته به ومنې چې زه دومره بوډا نه یم لکه څرنګه چې ته فکر کوی!

ویرا وویل : بیا به زه سلطان صلاح الدین ایوبی ته وایم چې زه خو ملکه یم او خپله توره زما په قدمونو کې کیږده!

بالډون وویل : دوه ورځی وروسته به دا ورته وښایم.

ویرا په خنداوویل : داسی زر ممکن نه دی.

د صلیبیانو بادشاه بالډون وویل : ته نه ګوری چې سلطان صلاح الدین ایوبی زما د قدمونو په وړاندی پړاو کړی دی، مونږ به د هغوی په پړاو د هر لور څخه ناڅاپی یرغل کوو او هغوی ته به ددی موقع نه ورکوو چې یو هم توره پورته کړی او ددی یرغل مشری به ستا د زلفو مین کوی که ستا خوښه وی زما سره تللی شی او هغه څه چې دی اوس وویل په عمل کې پیاده کړی!

ویرا وویل : زه ستا سره تلل غواړم.

ویرا د لمر راختلو وړاندی تبریز ته ورغله په هغه وخت کې بالډون ویده وو او تبریز په مصلی ناست وو هغی ورته وویل : ډیرو خبرو اترو وخت نه دی زه نن ستا د احسان بدله او ستا د محبت څواب درکول غواړم زه چې درنه څه وایم هغه په خلاصو غوږونو واوره او په هغه عمل وکړه له ما څخه پوښتنه هم مه کوه، زه ډیره ګناهګاره یم خپل ټاټوبی حمص ته مه ځه هغه اوس د خاورو سره خاوری شوې دی هیڅ انسان به په سترګو نه درځی یوازی د هغوی هډوکی به دی تر سترګو سترګو کیږی.

نو که غواړی خپل غېږ واخلی نو نن تیاره ماښام د پړاو څخه د غرونو په لاری د وتلو کوښښ وکړه او سلطان صلاح الدین ایوبی ته ووایه چې سبا شپه ناڅاپی د څلور لوری په تاسی یرغل کیږی او دا یرغل په دی ډول دی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ما ته مه گوره او که نه نو له دی ځای به روان نه شی ، ما خو تاته ویلی وو چې زمونږ سفر جدا جدا دی او نن له دواړه خپل خپل سفر پیل کوو .

د تبریز او ویرا د سترګو څخه اوښکی روانی او سره جداشول خپلو خیمو ته ولاړل ، ماښام چې تیاره ښه خپره شوه نو . تبریز د سلطان صلاح الدین ایوبی په لوری روان شو سهار په لمانځه ولاړ وه چې هغه وروړسیدلو او یو رکعت لمونځ یې ورسره په جماعت وکړ بیا هغه د خیمی لوری ته راروان وو چې مخ ته یې ودریدلو وی ویل : ښاغلی سلطان ! زه د صلیبیانو د پړاو څخه راغلی یم نن شپه ستاسی په پړاو برغل کیږی ددی پروګرام له مخی ...نو تاسی ورته تیار اوسی .

د صلیبیانو بادشاه بالډون د شپی په دریمه برخه کې د سلطان صلاح الدین ایوبی په پړاو یرغل وکړ ، ګوری چې په خیمو کې هیڅوک نشته حیران شو څرنګه چې مسلمانانو خپلی خیمی له وچو وښو او بوټو څخه ډکی کړی او په سر یې ورته تیل شیندلی وو او خپل پوځ یې په ټولو لوړو ځایونو کې په کمین کې کینولی وو .

اور غورځوونکی غشی راغلل او خیمو یو د م آور واخیست ټوله هوا اور ونیوله، هیڅ انسان او سپرلی ژوندی پاتی نشوه د صلیبیانو بادشاه بالډون پاتی پوځ د حملی لپاره راولیږلو هغه غشی ویشتونکو ووژل ، بیا سلطان صلاح الدین ایوبی عمومی حمله وکړه او بی شمیره پوځیان مړه او زخمیان شول او د صلیبیانو بادشاه بالډون د نیولو په حال کې وتښتیده .

سلطان صلاح الدین ایوبی الله تعالی د یوی لوی ناکامی څخه وساتلو او هم یې د رملی ماتی ورته په کامیابی سره بدله کړه. پوځ دومره خوشحاله او جذبه یې را ژوندی شوه چې د مخکنی ماتی اثرات یې له زړونو څخه ووتل

دا جګړه او د مسلمانانو فتح د اکتوبر په میاشت ۱۱۷۹ میلادی ( ۵۷۵ هجری ) کې سرته ورسیده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چې زوی مړ کیدلو

یوه ورځ میرمن رضیع ته خدمتګارۍ خبر ورکړ چې د هغې لور شمس النساء ستاسې لیدلو ته راغلې ده ، هغه حیرانه شوه ځکه شمس النساء هغه وخت له دې ځخه جدا شوې وه چې د هغې عمر اته کاله وه خو اوس د هغې عمر پنځلس کالو ته رسیدلی وه نو د سترګو څخه یې اوښکې روانې شوې او وې ویل هغه د څه لپاره راغلې ده ؟

خدمتګارۍ وویل : محترمې ! ستاسې د لیدلو لپاره او کیدائ شي د تل لپاره ستاسې خوا ته راغلې وي .

میرمن رضیع وویل : هغې ته ووایه چې ولاړه شي د خپل باغي ورور خوا ته ! زما مخ ته دې نه راځي .

خدمتګارۍ وویل : محترمې ! شمس النساء هغه وخت کوچنۍ وه چې ورور یې له خان سره روانه کړه هغه معصومه په څه پوهیدله چې هغه چیرته بیایي ؟

میرمن رضیع وویل : زه پوهیږم هغه ورور راالیږلې او زه په دې هم پوهیږم چې ولې یې راالیږلې زما زوی د الله جل جلاله او د هغه د پیغمبر له لارې نه بې لارې شویدی .

میرمن رضیع د سلطان نورالدین شهید میرمن وه کله چې هغه مړ شو نو چارواکو او ځینو پوځي قوماندانو د هغه زوی الملک الصالح چې عمر یې دولس کاله وُ په تخت باندې کینولو.

ځینو واکمنانود خود خپلواکۍ اعلان وکړ او د خلافت ځخه ازاد شول او د سلطان صلاح الدین ایوبي په خلاف په محاذ کې ودریدل په هغه وخت کې سلطان صلاح الدین ایوبي په مصر کې وه .

په باغي چارواکو باندې د صلیبیانو اغیزه وه نو له دې امله یې په عیش او عشرت کې ژوند تیرول خوښول او صلیبیانو د نجونو ، سرو او سپینو په وسیله ورځخه ایمان اخیستی وه او د هغوی په وسیله یې د مسلمانانو د نظام د ختمولو هڅې پیل کړې له دې ځخه صلاح الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایوبی خبر شو نو هغه اوه سوه سپاره د خان سره واخیستل او دمشق ته راغی خلکو تود هرکلی ورته د دمشق څخه بیرون وویلو، او د ستری محکمی لوی قاضی ورته د دمشق د دروازی کیلې ورکړه ، د الملک الصالح په پلوی څه پوځ ورسره جګړه وکړه خو سرتیرو مجاهدینو ورته ماتی ورکړه او شپی شپی .الملک الصالح ، چارواکی او دری تنه قوماندان د خپل پوځ سره له دمشق څخه حلب ته وتښتیدل او خپله خور یې هم له خان سره بوتلله هغو والیانو چې ازادی اعلان کړی وه په هغوی کې ګمشتګین د حرن او سیف الدین غازی د موصل په خاص پول د یادونی وړ دی .

الملک الصالح حلب خپل پایتخت وګرځولو د ګمشتګین او سیف الدین غازی د پوځیانو ګډ نظامی مرکز او پراو وو صلیبیانو د نورو چارواکو سره خپل کسان د مشاورینو په صفت وګمارل

د سلطان نورالدین شهید کونډی په دمشق کې هستوګنه غوره کړه او د نجونو لپاره یې د ښوونی او روزنی یو لوی مرکز جوړ کړ چې د ضرورت په وخت کې د مجاهدینو سره د بی دینو په خلاف څنګ په څنګ ودریدلی .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل د استخباراتو غړي حرن ، موصل او حلب ته ولیږل هغوی ورته دا خبر ورکړ چې ددوی په خلاف جنګی تیاری کیږی نو هغه خپل استازی ددی سیمی واکمنانو ته ددی پیغام سره واستول چې د اسلام د سپیڅلی دین د سر لوړی په خاطر سره یو شی او د د ښمنانو پلانونه د خاورو سره خاوری کړی

خو هغوی د خواب ورکولو څخه پرته د دروازی څخه استازی وشړل، ګمشتګین هغه استازی بندی کړ

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د مشق څخه روانیدو نو د سلطان نورالدین شهید کونډه په خپل اس سپره تر یو میل پوری یې ورسره ملګرتیا وکړه او د رخصیدو په وخت کې یې ورته وویل ښاغلی سلطان ! که زما زوی ستاسی د توری مخ ته راغی نو دا هیر کړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زوی دی هغه غدار دی او که د چا له لاسه ووژل شو نو هغه دفن نه کړی او ځناور ته يې واچوی .

په دی باندی يې د سترګو څخه اوښکی روانی شوی .

بيا يې د هغه لاس ونيولو او ښکل يې کړ او وی ويل : الله تعالی دی ستاسی فتح نصيب کړی !

له همدی ورځی څخه د مسلمانانو په منځ کې اخ او ډب پيل شو او دا د هغه پلان له مخی چې صليبيانو جوړ کړی وو ترڅو ددوی مادی او انسانی ځواک ختم شی او څو ځله يې د حسن بن صباح د ترهګرو په وسيله په سلطان صلاح الدين ايوبی او نورو لوړ چارواکو بريدونه وکړل خو الله تعالی هغه ناکام کړل .

مسلمانانو تر ځلورو کالو پوری په خپلو منځو کې جګړی وکړی چې ددی په پايله کې بی شميره کسان شهيدان شول او د حق د لاری مجاهد شخصيت سلطان صلاح الدين ايوبی ته په هر ميدان کې الله جل جلاله فتح ورکړله .

په وروستی جګړه کې سلطان صلاح الدين ايوبی حلب ته ورسيده او د هغوی دفاعی قلعه اعزاز يې تری ونيوله چې بيا الملک الصالح خپل خور شمس النساء د خپل استازی سره سلطان صلاح الدين ايوبی ته د صلح پيغام سره وليږله او دا ورته ويل شوی وو چې د سلطان صلاح الدين ايوبی څخه دی د اعزاز قلعه وغواړی .

کله چې هغوی هلته ورسيدل نو سلطان صلاح الدين ايوبی د شمس النساء په سر لاس کيښوده او ورته وی ويل : ما ته ستاسی هر وړانديز منظور دی .

***

په ۵۷۷ هجری قمری کال د رجب په مياشت کې شمس النساء د حلب څخه د دمشق په لوری د مور ليدلو ته ولاړه او په دروازه کې ودريدله د اجازی اخيستلو لپاره يې خادمه وليږله ، څرنګه چې هغې ځنډ وکړ نو شمس النساء پرته له اجازې کوټې ننوتله د هغې په څيره او

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامو باندی خاوری او دوړې پرتې وی اوښکاره معلومیده چې د لوی سفر څخه راغلی ده .
رضیع حیرانه شوه چې پرته د اجازې یوه نجلی د هغی له دروازی سره ودریدله نو پوښتنه یې ورځنی وکړه څوک یې ؟
د شمس النساء د سترګو څخه اوښکې روانی شوی وی ویل : زه ستا بد نصیبه لور یم .
رضیع پاڅیدله اور روانه شوه دواړه لاسونه یې خلاص کړل وی ویل : ته زما لور شمس النساء ....ته دومره لویه شوی یې ؟
بیا تم ودریده او غزیدلی لاسونه یې کښته پریوتل او د خولی خندا یې ورکه شوه ، دوه قدمه بیرته وروسته شوه بیا یې په غصه وویل : ولی راغلی یې ؟
شمس النساء په ژړا ژړا کې دواړه لاسونه خلاص کړل او وړاندی روانه شوه وی ویل : د دولس ورځو سفر ما په دری ورځو کې ووهلو او ستاسی د لیدلو لپاره راغلم .
رضیع وویل : نور یو قدم وړاندی رانشی ، زه هغه نجلی چې د صلیبیانو د سیوری لاندی لویه شوی وی نږدی نه پریږدم .
شمس النساء وویل : موري ! زما خبره واوره په ما چې کوم ګرد پروت دی هغه ته وګوره !
رضیع وویل : د هغه څخه د مسلمانو مجاهدینو د وینو بوی راځی چې زما د زوی د پوځ د لاس څخه شهیدان شوی دی .
شمس النساء ور وړاندی شوه او د مور په پښو کې پریوتله ، په ژړا ژړا یې وویل : ورور می سخت ناروغه دی هغه راته وویل: لاړه شه هغه ذ ځان سره راوله او که نه راتله نو زما لپاره ورځخه د ګناهونو بخښنه وغواړه او دا هم ورتهووایه چې خپلی شیدی راته وبخښی .
رضیع وویل : زه به هغه ته شیدی وبخښم خو هغه وینه به ورته څوک وبخښی چې د مسلمان په نوم یې د مسلمان وینه تویه کړه ؟

(c) ketab...com: The Digital Library



شمس النساء ووېل : موري ! هغه ستاسي يو زوی او د عظيم شخصيت نښه ده .

رضيع ووېل : هغه د خپل پلار عظمت د صليبيانو په پښو کې واچولو .

بيا يې په لوړ اواز ووېل : ايا ستا ته دی په هغه ذات قسم وی چې د ټولو کايناتو خالق او مالک دی اوس د هغه ترځنګ صليبيې سلاکاران نشته او په حرم کې يې صلبيې اويهودی نجونی ؟

هغه اوس ځوان شوی کله چې په اس سپور شی نو هغه هم دا محسوسوی چې په شايې يو نارينه سپور دی نو حقيقت ووايه چې زما د زوی له دربار څخه د صليب کرغيړن سيوری پورته شوی ! تا چې کوم د دولسو شپو او ورځو مزل په دری شپو کې وهلی نو زه به يې انشاء الله په يوه نيمه ورځ کې ووهم او د خپل زوی د ناروغي پوښتنه به وکړم .

شمس النساء ووېل : هغه ددی وړ نه دی چې نجونو ته وګوری د هغه د ژوند لپاره دعا وکړی .

رضيع په ژړه غونی اواز ووېل : زه د هغه لپاره د ښو او بدو دعا هم نه کوم .

شمس النساء ووېل : مور هيڅکله خپل اولاد ته ښيرا نه کوی خو د هغې د زړه اواز ذوالجلال ذات هسی هم نه پريږدی .

رضيع ووېل : د محشر په ورځ به زه د هغه بې شميره شهيدانو د ميندو ، خويندو او ميرمنو په وړاندي د خپل زوی له امله سرټيټی يم .

زه د هغه شهيدانو ارواحو ته د پيرزوتی سلامونه وړاندی کوم او الله تعالی دی مونږ ته هم د شهادت مرګ په نصيب کړی .

شمس النساء په ژړا ووېل : هغه اوس د خپلو ګناهونو بخښنه غواړی .

رضيع ووېل : دا يوه دوکه ده ! ما ته معلومه شوی چې کله سلطان صلاح الدين ايوبی حلب ونيولو او هغه د تښتيدلو توان نه درلوده نو ته يې د ځينو سيمو د غوښتنی لپاره ورليږلی او هغه د خپلی مهربانی له مخی څه سيمی تاته درکړی هغه خپله ولی نه ورتلو او خپله توره يې د هغه په وړاندی نه ايښودله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمس النساء وویل : سخت زړی کیږمه !

رضیع وویل : د هر شهید مور چې په اوسنی جګړو کې د خپل اولاد

وینا لیدو خخه بې برخه شوی نو په زړه باندی یې لویه تیګه ایښی ده .

هغه په دی باندی شرمیږی چې ووایی کوم زامن یې چې د دښمنانو د

ختمولو لپاره لیږلی وه هغوی په خپلو کې سره ووژل شول نو ته ووایه

ددی مسئولیت د چا په غاړه دی ؟ .... زما د زوی په غاړه !

شمس النساء وویل : محترمی موری ! هغه کوچنی وُ چې دښمنانو په

جال کې وننښته .

رضیع وویل : کله یې چې شعور وپېښ شو نو زما خواته به راغلی

وای ماسره به یې مشوره کړی وای چې څه وکړم ؟

لاړه شه ... لاړه شه ... که میندی د احساساتو لاندی راشی نو د الله

جل جلاله په لاره کې به څوک شهادت ته تیار شی .

شمس النساء وویل : ایا میندی خپلی لورګانی داسی رخصتوی ؟

رضیع وویل : ته زما سره اوسیږه خو په دی شرط چې د خپل ورور

نوم بیا وانخلی .

شمس النساء وویل : امکان نلری! کوم ورور چې زه لویه کړی یم د

هغه نوم به ضرور اخلم .

رضیع وویل : ته د صلیبیانو دسیوری لاندی ځوانه شوی یې دلته

نجونو ته وګوره چې د اسلام په سپیڅلی دین باندی ځانونه قربانوی .

زه چې کله د روزنی په وخت کې هغوي ږتم نو ددی څخه ویریږم چې

ما ته دا و نه وایی چې خپل اولاد ته دی وګوره !

آیا ته دا حقیقت پتولی شی چې ستا ورور د صلیبی نجونو سره چې

په حرم کې دی شراب نه څښی !

شمس النساء وویل : زه ددی څخه انکار نشم کولای .

رضیع وویل : خوراک او څښاک وکړه بیا دی خوښه چې څی او که نه !

خو که بیا دی هم د تللو اراده کړی وی ولاړه شه خو ورور ته دی

ووایه نور د الله تعالی څخه وویریږه ، خپل دښمن وپیژنه ، ما درته

(c) ketab.com: The Digital Library



شيدې وبخښلې خو ياد ولره چې د شهيدانو وينه درته هيڅوک نشي بخښلې ، کاشکې ستاسې په سينه کې د صليبيانو او يهودانو غشي لګيدلي وايي نو زه به په منډه منډه درغلې وايي او مرۍ به مې د خپلې سينې سره لګولې او دمشق ته به مې راوړې وايي او د خپل پلار تر څنګ به مې خاورو ته سپارلې وايي او په فخر سره به مې په هر ځای کې ويلې وايي چې دا زما د شهيد زوی قبر دی خو اوس به خلکو ته څه وايم .

د شمس النساء د سترګو څخه اوښکې رواني شوې ، د مور لمن يې ونيوله ښکل يې کړه او پورته شوه بيا يې وويل : طبيبانو د هغه د حالت په ليدو ويل چې دا د څو ورځو ميلمه دی ، زه د هغه خوا ته ورځم په ناروغۍ کې به يې خدمت وکړم او د خورولي حق به اداء کړم اوکه مړ شو نو خاور ته به يې وسپارم او وروسته بيا تاسې په قدمونو کې کينم .

رضيع وخندل بيا يې وپوښتل : د څه لپاره ؟

شمس النساء وويل : د الملک الصالح په بدل کې تاسې ته يو زوی درکوم چې د الله تعالى په لاره کې شهيد شي او بيا د هغه په قبر باندې ودريږې او په فخر سره ووايې چې دا زما د شهيد اولاد مزار دی زه بير ته راځم زه پټې سترګې راغلې ووم خو اوس په غړولو سترګو ځم الله تعالى مو حافظ او ناصر شه .

رضيع شمس النساء ته کتل چې له دروازې څخه ووتله بيا هغه پاڅيدله د دروازې په لور روانه شوه دروازه يې پرانستله .

رضيع بيا دروازه بنده کړه او په ژړا شوه په دې وخت کې خدمتګاره راغله ورته وې ويل : هغې څه خوراک او څښاک هم ونه کړ او ولاړه .

***

سلطان صلاح الدين ايوبي چې کله ابن لامون بې وسلې کړ او د هغه مرکزي کلا يې د پوځي بنديانو په لاس د خاورو سره برابره کړ چې پدې لښکر کې ورسره د ترون سره سم د الملک الصالح پوځيان هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملگرى وه. وروسته له دى جگړى بيا سلطان صلاح الدين ايوبي بالډون ته ماتى وركړه او هغه په ډېر بد حالت كې له ميدان ځخه وتښتيده ، ډېر كم پوځ يې خلاص شو دا د سلطان صلاح الدين ايوبي د استخباراتى ادارى كارنامه وه .

د صليبيانو د بادشاه بالډون دا دويمه ماتى وه ، له دى وړاندى هغه د سلطان صلاح الدين ايوبي د ورور الملك العادل له لاسه هم همداسى ماتى خوړلى وه اوس د پورته كيدلو وړ نه وو خو هغه په دى محاذ كې يوازني صليبي بادشاه هم نه وُ بلكى نور بى شميره بادشاهان هم وه چې په خپلو كې يو د بل دښمنان خو د ټولو دښمن صلاح الدين ايوبي وو نوله دى امله يې يو د بل سره مرستى هم كولى او د هر يو په زړه كې دا وه چې خپله ځانته سيمى ونيسى په همدى خاطر يوازي د الملك العادل او وروسته بيا د سلطان صلاح الدين ايوبي په خلاف ميدان ته راووت ، د هغه سره دوسايلو او پوځيانو كمى هم نه وه خو بيا هم د ۱۱۷۸ م كال د اكتوبر په مياشتى كې يې ماتى وخوړه .

د صليبيانو بادشاه بالډون د څه وخت له تيريدو وروسته خپل پوځ او لښكر سره بيا راټول كړ او كله چې په دى خبر شوى چې سلطان صلاح الدين ايوبي د الملك الصالح د پوځ په مرسته يرغل وكړ او ابن لامون د هغه په وړاندى خپله وسله كيښوده او قارا حصار يې ورانه كړه نو هغه ته دا انديښنه پيدا شوه كه چيرى مسلمانان سره يو ځاى شول په خپلو كې نو زمونږ خير نشته، په همدى خاطر هغه يروشلم ته ولاړ ترڅو هلته يو ځل بيا د صليبي واكمنانو كانفرانس راوغواړى او د راتلوونكى په هكله پلان جوړ كړى .

پدى كانفرانس كې د صليبيانو مهمو چارواكو گډون وكړ ترڅو ټول په يوه خوله خپل كار مخ په وړاندى بوځي .

بالډون په كانفرانس كې وويل : ايا تاسې پدى خبر ياستى چې مسلمانان بيا سره يو ځاى كيږى ؟

(c) ketab[illegible].com: The Digital Library



تاسې الملک الصالح خپل ملګری بولی. حال دا چې هغه خپل پوخ سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورکړی .

فلپس اګستس وویل: د ابن لامون ماتی زمونږ ماتی ده، که چیری تاسې په هماغه وخت کې د ابن لامون سره مرسته کړی او په سلطان صلاح الدین ایوبی مو د شا لخوا برید کړی وی نو اوس به داسی نه حالت وه.

بالډون وویل: لکه څرنګه چې تاسې ته معلومات نشته چې سلطان صلاح الدین ایوبی ولی تل خالد ته وګرځیده همدارنګه ماته هم معلومه نشوه .

ګی آف لوزینان وویل: ستاسی د جاسوسی نظام ګډوډ او فلج دی کنه دا خو لوی لښکر وو- مونږ خو د جګړی له میدان څخه ډیر لری وو.

بالډون وویل: زه په خپله غلطی اعتراف کوم چې یو مسلمان جاسوس زما سره وو او هغه ما بی ضرره انسان ګڼلو خو کله چې زه پری پوه شوم نو هغه می ونیولو او په بند کې می واچولو او بیا هغه د بندیخانی څخه وتښتدلو او سلطان صلاح الدین ایوبی یې خبر کړ…

اوس په دی فکر کول پکار دی چې د سلطان صلاح الدین ایوبی اوالملک الصالح تر منځ چې کوم تړون شوی هغه څرنګه مات کړو.

د صلیبیانو یو بادشاه وویل : تاسې ټول پوره تجربه لری او ښه پوهیږی چې مسلمانان څرنګه خپلیږي او څه ډول یو له بل سره جنګول کیږي ، اوس ولی تاسی د مسلمانانو کمزوری هیره کړی او یا سترګی پټوی ! کوم وخت چې صالح کوچنی وو مونږ د هغوي مشاورینو ، وزیرانو او قوماندانانو ته ډالۍ ورولیږلی او د خان ملګری مو کړل او د هغوی په وسیله مو هر څه کول اوس چې الملک الصالح ځوان شوی د هغه په لاس کې نیول اسان کار دی په هغه خپله پخوانی وسله استعمال کړی ، د مال او دولت سره سره ښکلی نجونی د هغه حرم ته ددی لاربښوونی سره ولیږی چې له هغه سره د پادشاهی او واکمنی نیشه هم رابیداره کړی ، پرته له ځنډه به ستاسی ملګری شي، هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی ملګری نشی کیدائ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم له ذهن څخه وباسی چې تاسي به د پوځی قوت په وسیله حلب خپل کړی څکه په دی سیمی کې د سلطان صلاح الدین ایوبی ملګری پوځ موجود دی . الملک العادل سره خپل او الملک الصالح سره خپل پوځ پرته له هغی د موصل او حرن پوځ هم دی نو هغه به د ټولو پوځونو قیادت په خپل لاس کې واخلی ، ددی په پایله کې که هغه په مونږ بریالی نه شی نو بیا به هم د هغه ځای واکمنان به مو تل له لاسه ووځی ، زمونږ دفاع کول مسئولیت دی ، مونږ خپل پوځ په مختلفو سیمو کې خپور کړی او دا به ګورو چې سلطان صلاح الدین ایوبی مخ کوم لوری ته او د هغه اراده څه ده ؟

په کانفرانس کې فیصله وشوه چې د الملک الصالح سره یو ځل بیا اړیکی ونیول شي او هغه تر خپل اثر لاندی راوستل شي .

***

په ( ۱۱۸۰ ) میلادی کې د موصل والی سیف الدین وفات او نوی والی عز الدین مسعود وټاکل شو، د سلطان صلاح الدین ایوبی ورور توران شاه هم په همدی کال وفات شو.

په ( ۱۱۸۱ ) میلادی کې بالډون د خپل پوځ کموالی پوره کړ او هغوي ته یې داسی روزنه ورکړه چې د سلطان صلاح الدین ایوبی د پوځ او چلونو مقابله وکړای شي. هغه د خپلی تیاری او چمتوالی څخه وروسته د کانفرانس د فیصلی سره سم الملک الصالح ته یو استازی د پیغام او ډالیو سره واستولو ترڅو هغه راخپل کړي او که ونه شی نو بیا به د زور څخه کار اخلی .

الملک الصالح ځوان وو او د حکومت چاری یې سمبالولی شوی خو د هغه لویه کمزوری دده مشاورین وو چې د پردی شاته د صلیبیانو ملګری وو . حقیقت دا وو چې هغه د صلاح الدین ایوبی سره د صلح تړون لاسلیک کړی وو او د واکمنی خوب یې لیدلو ، یوه ورځ هغه ته خبرورکړی شو چې د بالډون استازی راغلی دی، صلیبی استازي ته سمدستی اجازه ورکړای شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صلیبیانو بادشاه بالډون داسې یو استازی ټاکلی وو چې هم د جاسوسانو استاذ او هم په انسانی احساساتو باندی ښه پوهیده

استازي وویل: ما له خان سره څه ډالۍ راوړیدی تاسی لومړی هغه وګورئ!

الملک الصالح ته هغه ټول شیان وړاندی شول چې استازي راوړی وه. په هغې کې د ملغلرو او سرو زرو د سکو څخه ډک صندوق، دوه توري ، پنځوس ښکلی آسونه او یوه نمونی انجلۍ وه.

الملک الصالح دا ټول شیان ولیدل خو چې کله یې نجلۍ ولیده نو سترګی یې په هغې خښې شوی. د هغه د تصور څخه دا نجلۍ ډیره ښایسته وه، هغه د الملک الصالح په عقل او حواسو باندی سمدستی غالبه شوه .

وروسته استازي لیک وړاندی کړ چې په عربی ژبه داسی لیکلی شوی وو:

ښاغلی د حلب والی الملک الصالح !

ما د خپل استازي او ډالیو په ځای تاسی ته خپل پوځ هم درلیږلی شو خو زه ستاسی په خلاف د توری استعمال ته اړتیا نه ګورم ځکه تاسی زما د اولاد په څیر یاست .

مونږ ستاسی مرسته هغه وخت کړی چې تاسی ماشوم وی او سلطان صلاح الدین ایوبی ستاسی په سلطنت باندی قبضه کوله .

زه په دی افسوس کوم چې ګمشتګین او سیف الدین په دوستی کې تاسی ته دوکه درکوی که تاسی یوازي وایی نو هیڅکله به مو ماتی نه وایی خوړلی اوس مو چې ماتی وخوړه او د هغه اطاعت مو قبول کړ او د اړتیا له مخی مو هغوي ته د ابن لامون په خلاف پوځ ورکړ .

زه په دی ښه پوهیږم چې ستاسی په څیر ښاغلی او میړنی انسان خپل سپکاوی نشی زغملایی خو تاسی یوازي وی او زه خپله په اخ او ډب کې اخته وم که نه ما به ستاسی مرسته کړی وی .

اوس ستاسی لوری ته د کتلو شوم نو دا هیر نه کړی چې سلطان صلاح الدین ایوبی تاسی ته داسی خپلواکی درکړی چې په حقیقت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلامي ده ، هغوي د عزالدين مرسته او ارمينيانو ته يې ماتي ورکړه او د احسان په زنځير يې وتړلو .

ټولو کوچنيو کوچنيو واکمنانو د هغه اطاعت قبول کړ او اوس د هغه نظر پرته له تا په موصل او حرن باندې هم دی …

لږ په دې غور وکړه هغه د مصر څخه زمونږ په خلاف پوځ له ځان سره را روان کړی وُ خو هغه په تل خالد باندې يرغل وکړ او تاسې هم ورسره مرسته وکړه او د هغې څخه وروسته بيرته مصر ته ولاړ او د هغه د تګ مقصد مونږ ته خپلو جاسوسانو داسې بيان کړی چې لويه شتمني يې له ځان سره يووړه او هلته يې ذخيره کړه . هغه ستاسې پوځ ته د غنيمت له مال څخه څومره حصه ورکړه ؟

هغه د يورشلم په لوري ولې روان نه شو ؟

ايا تاسې ته چا نه دي ويلي چې د ارمينيانو څومره نجونې هغه له ځان سره بوتللې ؟

که پدې پوښتنو باندې غور وکړې نو د سلطان صلاح الدين ايوبي د نيت اصلي حقيقت به تاسې ته ښکاره شي .

زمونږ ستا سره هيڅ دوښمني نشته مونږ يوازې امن غواړو .

مونږ په دې هم پوهيږو چې سلطان صلاح الدين ايوبي مونږ له هغه سيمې بې برخې کوي او بيا په اروپا باندې يرغل کوي او خپل سلطنت پراخوي .

تاسې او نور حکمرانان د خپلې خزانې سکه بولي او که تاسې له نن څخه دفاع ونه کړه نو ستاسې نوم اونښان به ختم شي .

که زما په خبرې باندې پوه شوې نو زما استازي ته ووايه چې زه بيا خپل مشاورين درولیږم ، خپل مالي او نظامي اړيتاوې را ته په ګوته کړه ما چې کوم اسونه درلیږلي د ډالۍ په ډول دي ، زه ستاسې پوځ ته بې شميره اسونه او اوښان درليږلي شم . مونږ نوې وسله هم تر لاسه کړې هغه به هم درولیږم . تاسې سلطان صلاح الدين ايوبي سره کړې تړون مه ماتوې خو د پردې تر شا د خپل دفاع لپاره تياری وکړه مونږ په دې اړوند ستاسې سره هر ډول مرستې ته تيار يو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بریالیتوب په صورت کې مونږ تاته حرن، موصل او شا او خوا تولې سیمې سپارو او د سلطان صلاح الدین ایوبي تر وژلو وروسته به ته د مصر او شام سلطان شي.

د الملک الصالح په اعصابو باندې صلیبي نجلۍ دومره غلبه کړې وه چې د پیغام خبرې د هغه په زړه باندې مرهم لګیدلې.

هغه د استازي د خوراک، څښاک او ارام کولو لپاره داسې لارښووني ورکړې لکه چې خپله د صلیبیانو بادشاه بالډوین چې راغلی وي.

الملک الصالح ډیرې ښکلې نجوني لیدلې وې خو ددې صلیبي نجلۍ د خندا او خبرو شکل نو خلک وژل.

د شپې لخوا نجلۍ د هغه کوټې ته ورغله د هغې په لاس کې صراحي او جام و، هغې وویل: دا شراب د فرانسې دي چې یوازې د بادشاهانو لپاره تیاریږي او ستاسې لپاره زمونږ بادشاه ما ته ددې لارښووني سره راکړې چې په تاسې باندې یې په خپلو لاسونو وڅښم.

نجلۍ بیا وویل: ستاسې په حرم کې خو کومه ښکلې نجلۍ نشته آیا ددې اړتیا نه محسوسوې چې ستاسې حرم آباد شي؟

الملک الصالح وویل: زما د حرم لپاره یوازې تاسې بس یاست.

نجلۍ د شرابو ډک جام د هغه په لاس کې ورکړ او وې ویل: آیا دا صحیح ده چې سلطان صلاح الدین ایوبي چا ته په حرم کې د نجونو سره پرته له نکاح څخه د اړیکو نیولو اجازه نه ورکوي؟

الملک الصالح وویل: دا صحیح ده خو د شرابو اجازه هم نه ورکوي.

نجلۍ وویل: تاسې ته معلومات نشته د هغه یو پټ حرم دی چې په هغه کې پرته له مسلمانو نجونو څخه یهودي اوعیسایي نجوني هم شته.

الملک الصالح د فانوس په کم رنګه رڼا او د فرانسوي شرابو په نشه کې د نجلۍ د وریښمینو ویښتانو په ځنځیرونو کې وتړل شو.

سهار چې دواړه د خوب څخه راویښ شول نو الملک الصالح نجلۍ ته وویل: زما دلته خور ده له هغې څخه ځان ساته. هغه دا نه خوښوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه له نجونو سره پرته له نکاح څخه يو ځای شم ، زه به يو وخت بيا
هغې ته ووايم چې غواړم دا مسلمانه نجلۍ د خپل ژوندانه ملګرې کړم .
نجلۍ ووېل : دا ستا ګناه ده چې خور دې ازاده نه ده پرېښودلې ،
هغې ته داسې شرايط برابر کړه چې د نارينه سره ناسته پاسته وکړي ،
هغه شهزادګۍ ده او تاسې بادشاه خو افسوس چې ستاسې حيثيت تر
پښو لاندې شوی دی .
صليبي نجلۍ د هغه له خوا څخه هيڅ وخت هم نه جدا کيدله او تل
به يې په لاس کې د شرابو جام وو - د دې په خوا کې د بالډون استازی
د الملک الصالح دوه سالاران هم د ځان ملګرې کړل چې هغه يې دواړه
نجلۍ ته هم معرفي کړل تر څو يو له بل سره اړيکې ولري .
بالډون د شرابو په نشه کې مست د استازی څخه پخپل دربار کې
وپوښتل څه مو وکړل ؟
استازي ووېل : ايا کله زه ناکام شوی هم يم ؟ ما لوی مزل وکړ هلته
ورسيدم څلور شپې ورځې د يو درون‍د ميلمه په صفت هلته پاتې شوم
او اوس د لوی سفر څخه راورسيدم نو لومړی مې ستاسې ليدل
ضروري وګڼل ، زما وړاندېز تاسې ته دا دی چې بې شميره پوځ او
سپرلي د ضايع کيدو نه وساتې د مسلمانانو واکمنان او چارواکي
يوازي په زرو او ښځو باندې خپل کړه .
بالډون ووېل: يوازي ښځه نه ! که د هغې تصوير هم ورکړي خپل ځان
هيروي او ته دا ووايه چې تا څه راوړي دي ؟
استازی ووېل : هغوي ليکلي ځواب را نه کړ او راته وی ويل : د
سلطان صلاح الدين ايوبي د استخباراتو غړي او سربښندونکي هر لوري ته
ګرځي راګرځي داسې نه چې تاسې د پيغام سره ونيسي .
هغوي ووېل: تاسې ضرور پوځي مشاورين او سلاکاران راوليږې خو
د عربو سوداګرو په جامو کې .
دا هم د يادونې وړ بولم چې سلطان صلاح الدين ايوبي خپلو چارواکو
او ټول مسلمان اولس ته دا نصحيت او وعظ کوی چې د بادشاهی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب ، دولت ، او ښځه داسي څيزونه دي چې د انسان ايمان ختموي نو زه تاسي ته دا مشوره درکوم چې دا د انسان کمزوري ده او د هغه نصحيت ګټور نه دي .

❖❖❖

څو ورځي وروسته د تجارتي سامان څخه بار ډير اوښان حلب ته راغلل او د الملک الصالح د قصر سره يې نژدې واړول، په هغوي کې دري کسان د عربي سوداګرو په لباس کې د قصر دروازې ته راغلل چې د الملک الصالح سره وګوري، هغوي قصر ته ننوتل او د دربار دروازې ته ورسيدل .

د الملک الصالح د ساتوونکو مشر ابن خطيب هغوي ودرول او پوښتنه يې ورڅخه وکړه چې خيريت خو دی؟

يو سوداګر وويل: مونږ غواړو د الملک الصالح سره وګورو څه قيمتي شيان مو راوړي چې هغه يې واخلي او هم ورسره په تجارتي مسايلو خبري وکړو!

ابن خطيب ورته وويل: د تجارت خبري اتري د بادشاه سره نه کيږي اصلي مقصد راته ووايې ؟

سوداګر وويل: مونږ خپل مقصد ستاسي په وړاندي کيښوده .

ابن خطيب وويل: د يروشلم څخه راغلي ياست يا د عکره څخه ؟

يوسوداګر وويل: مونږ تاجران يو، هر ملک ته ځو راځو ، يروشلم او عکره ته هم تللي ياستو او ستاسي په مونږ څه شک دی ؟

ابن خطيب ورته وويل: زه په تاسي شک نه کوم بلکي د يقين له مخي وايم چې زه تاسي ښه پيژنم خو تاسي ما نه پيژني زه ستاسي ملګری يم ، هرمن ما ښه پيژني .

يو سوداګر په خندا سره وويل : دا چې تاسو مونږ وپيژندلو نو د کوم مقصد لپاره چې راغلي ياستو هغه دا دي .... خو دا راته ويل شوي دي چې د سلطان صلاح الدين ايوبي د استخباراتو غړي په ماڼۍ که هم شته ؟

ابن خطيب وويل: ولې به نه وي خو مونږ هر څه خارو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن خطيب الملک الصالح ته خبر ورکړ چې دري تنه سوداګر ستاسي سره ليدل غواړي .

الملک الصالح وويل : ته د ساتوونکو د ډلې نوی قوماندان يې ؟

ابن خطيب وويل: هو !

الملک الصالح وويل : زه له هر چا سره ليدل کتل نه غواړم بيا خپ ساته اوس هغوي راوليږه .

وروسته دري واړه سوداګر دربار ته ننوتل او د الملک الصالح سر بې خبری پيل کړی .

په الملک الصالح خو مخکښې استازي او وروسته ډېر کار پرې نحلي کړی وه او هغه پوره چمتو ؤ چې د سلطان صلاح الدين ايوبي په خلاف قدم پورته کړي .

په همدی شپه ابن خطيب د حلب د جومات د خطيب سره کيناسته او هغه ته يې وويل چې الملک الصالح يو ځل بيا د صليبيانو په لومه کې ونښته ، ما تاسی ته مخکی د استازي او د ډاليو خبر درکړی و اوس د سوداګرو په نامه د صليبيانو د بادشاه بالډون لخوا ددی مقصد لپاره نور استازي او سلاکاران راغلی دی چې د دواړو ترمنځ تړون لاسليک وشو .

پدی وخت کې جومات ته د الملک الصالح ځانګړې خدمت کوونکې ميرمن راغله، هغې وويل: د کومی ورځی څخه چې نوی صليبی رحلي راغلی د الملک الصالح رويه او سلوک بالکل بدل شوی. هغه د شپې او ورځی نيشه وی او ځينی وخت داسې خبری کوی لکه ماشوم .

نو تاسی بيا سلطان صلاح الدين ايوبي ته خبر ورکړی چې الملک الصالح د صليبيانو لاس ته ورغی نو اوس څه کول پکار دي ؟

ابن خطيب وويل: تر څو چې دا خبره قاهری ته ځی او بيا هغوي غور پری کوي او څه پلان جوړوی دا هفتی او مياشتی وخت نيسی نو کار به دلته خراب شوی وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


د الملک الصالح خدمت کوونکي وويل: زما نظر خو دا دی چې تر تولو لومړی بايد دا نوی صليبی نجلۍ ورکه شي او که نه د الملک الصالح دماغ به داسې خرابيږي چې کيدای شي بيا د هيڅ فيصلې اهليت هم ونلري.

ابن خطيب وويل: که دا دری نوی سوداګران چې د صليبيانو پوځی سالاران دي هم يو ځای ورسره ورک شي نو د الملک الصالح او صليبيانو تر منځ به بی باوری پيدا شي او د هغوي ترون او پلان به هم ناکام شي.

د حلب د لوی جومات امام وويل: ښه ده نجلۍ او دری سوداګران چې په هر ترتيب کيږي بايد لا درکه او يا ووژل شي.

په دريمه شپه د ۵۷۷ هجری قمری کال د رجب المرجب مياشی په اومه او اتمه شپه د قصر څخه د باندی په ميدان کې خيمی او تجيرونه ولګيدل او لوی ځای جوړ شو چې په سل ګونو ميلمانه پکی ځايدل، دا ډيره لويه ميلمستيا د هغه سوداګرو په وياړ برابره شوی وه چې صليبی سلاکاران وه او دی ته تول لوړ پوړی چاروکې هم رابلل شوی خو دا په حقيقت کې د ترون په خوشحالی کې يو پټ جشن وو.

کله چې تول ميلمانه راغلل او ګڼه ګوڼه شوه، هری خواته ميلمانه کيناستل بيا ډلی ډلی شول، خوراک او څښاک پيل شو، سندر غاړو او نڅا کوونکو د خپل فن او هنر څرګندونه کوله او هم تول بی پروا په خپلو خپلو خبرو بوخت شول، د الملک الصالح ځانګړی خدمت کوونکی ښځه صليبی نجلۍ ته ورغله او د يو سالار نوم يې ورته واخيست چې تاسې هغه غواړی، نجلۍ د نوکری سره هماغی خواته ولاړه او بيا بيرته رانغله.

ابن خطيب چې ځان د هغه دری غټو سوداګرو سره لا مخکی معرفی کړی وو چې زه ستاسې ملګری يم هغه يو سوداګر ته پټ په غوږ کې وويل چې ستاسې لپاره ډير زيات خطر دی، سمدستی بايد په فلانی لوری ځان وباسی، چې د سلطان صلاح الدين ايوبی سرتيری خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شویدی او کیدای شي ډېر زر حمله وکړي، هغه خپل دوه نور ملګري هم خبر کړل او د ابن خطیب تاکلی شوی ځای ته ولاړل، هلته ابن خطیب د دري آسونو سره ولاړ وو هغوي څلور واړه په منډه روان شول. څرنګه چې د میلمستیا په ځای کې ډېر زیات شور او ځوږ وو نو هیڅوک هم متوجی نشول چې څوک ولاړل او څوک راغلل.

ابن خطیب هغه دري سوداګریو لری کور ته بوتلل چې مخکې هلته صلیبی نجلۍ هم رسول شوی وه.

یو صلیبی وویل : زمونږ سره چې کوم ملګری راغلی وو د هغوی په هکله مو څه اقدام کړی دی او که نه ؟

ابن خطیب وویل : تاسی د رب العزت شکر اداء کړی چې د هغه ځای څخه ژوندی راووتلی نور تاسی فکر مه کوی هغوي به ستاسی سره یو ځای شی اوس تاسی ځی او زه دلته پاتی کیږم خو دا راته ووایی چې ستاسی او الملک الصالح د ترمنځ څه پریکړه وشوه چې زه بیا ګام پورته کوم .

یو صلیبی وویل : مونږ به الملک الصالح ته د پردی تر شاه نظامی سامان او سپرلی ورکوو ورسره به د هغوي د کسانو نظامی روزنه هم کوو او چې د سلطان صلاح الدین ایوبی سره یې جګړه شوه نو تر شا به یرغل هم کوو.

ابن خطیب وویل : الملک الصالح به د سلطان صلاح الدین ایوبی سره تړون ماتوی ؟

یو صلیبی وویل : اوس نه !

بل صلیبی وویل : ښه به نه وی چې روان شو؟

ابن خطیب وویل : ښه ده ! په انګړ کې ستاسی د سفر لپاره اسونه ولاړ دی او نور ملګری له تاسی څخه مخکی تللی دی نو زما پسی راځی ، څرنګه چې د باندې تیاره وه نو دوی په ورو ورو ګامونه پورته کول چې د غشو باران پیل شو او دوی دري واړه ووژل شول بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندی ته وغورځول د پاسه یې خاوري پرې ډېرې کړې چې مړي یې څوک پیدا نه کړي . .
بیا ابن خطیب هغه کوټې ته ورغی په کومه کې چې نجلۍ وه هغې ته یې وویل : راځه د خپلو ملګرو حشر دې وګوره !
نجلۍ چې کله د خپلو ملګرو حال ولیده رنګ یې زېړ شو او په ژړا یې وویل: ما له دې ځای څخه بیرته بوځې زه څه ویل غواړم .
ابن خطیب هغه کوټې ته بوتله په کومې کې چې د دې ملګري وو، نو نجلۍ وویل : ایا له ما نه تاسې ښکلې لیدلې ده .
ابن خطیب وویل : ایا تا له ما څخه وړاندې د پوخ ایمان څښتن لیدلی دی ؟
زه تاسې ته دومره وخت نه درکوم چې الملک الصالح په څېر زمونږ ایمان هم واخلې ؟
نجلۍ وویل : که تاسې ما نه خوښوې نو زه د خپل ځان په بدل کې څومره زر چې غواړې تر سهار پورې به ستاسې په وړاندې کېښودل شي او ما ته به یروشلم ته د تګ اجازه راکړې ؟
ابن خطیب توره پورته کړه او د نجلۍ سر یې پرې غوڅ کړ بیا یې خپلو ملګرو ته غږ کړاو ورته وې ویل : دا پورته کړې او خپلو ملګرو سره یې تر خاورو لاندې کړې .
نیمه شپه چې کله میلمانه رخصت شول نو الملک الصالح د خپلو درباریانو څخه پوښتنه وکړه نجلۍ او اصلي میلمانه چیرته دي؟
ټولوسرونه ټیټ نیولي وویل : مونږ د پروګرام په لومړي وخت کې ولیدل خو بیا ټول د خوراک څښاک سره د سندر غاړو په لور متوجي شو
الملک الصالح حکم وکړ چې د نجلۍ او سوداګرو پسې دې لټون وشي، هرې خواته وګرځیدل خو درک معلوم نشو .
ټوله شپه هغه په قهر او غصه وه، هغه نه پوهیده چې څه وشول خو د نجلۍ د ورکیدو په خاطر ډېر زیات خفه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار یې خپل سالاران او ابن خطیب راوغوښتل او ورته یې وویل : د بیګاه ښځه نجلۍ او سوداګر ورک دي ایا چاته معلومات شته چې هغوي چیری ولاړل ؟

ابن خطیب وویل: د خوراک او څښاک ښځه وروسته دری نارینه او یوه ښایسته نجلۍ په څلورو آسونو سپاره زما تر څنګ تیر شول لږ وړاندی چې ولاړل نو اسونه یې په منډه کړل او په تیارو کې غائب شول نور پوه نشوم چې څوک دي ځکه میلمانه ښکته پورته کیدل

د الملک الصالح زړه ته دا خبره ولویده چې نجلۍ هغوي له ځان سره تښتولی ده.

په سالارانو کې یو چې د سلطان صلاح الدین ایوبی پلوی وه وویل : هغه ښکلی نجلۍ د څو ورځو راهیسی ستاسی تر څنګ لیدل کیده ښایی په تا یې پیرزوشوی نه وی او له ځان سره یې بیولی وی .

بل سالار وویل : کیدای شی هغې کوم راز تر لاسه کړی او د ځان سره یې وړی وی

الملک الصالح سمدستی حکم وکړ چې څومره د تجارتی کاروان صلیبی کسان دي هغه دی تول ووژل شی - اوښان ، اسونه او سامانونه دی بیت المال ته تسلیم شی .

د همدی ښځه وروسته الملک الصالح لکه د لیونیانو پشان شو او اعصاب یې له لاسه ورکړل ځکه صلیبی نجلۍ هغه ته په شرابو کې حشیش هم ورکول او هغه یې ورسره عادی کړی وو.

په همدی ماښام د هغه په ګیډه کې درد پیدا شو او طبیب درمل ورکړل خو درد نور هم ورسره زیاتیده تر دی چې طبیب چاروا کو ته وویل : مرګ او ژوند د الله تعالی په لاس کې دی خو تر کومه چې زه پوهیږم هغه ته نور درمل څه ګټه نه رسوی .

د جامع جومات امام راوغوښتل شو ، د هغه تر څنګ کیناست او په قران مجید لوستلو یې پیل وکړ، پدی کې یې سترګی پرانستلې او وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل : که د الله تعالی کتاب فرقان حمید حق وی نو د هغی په برکت ما ته روغتیا نصیب کړی .

د جامع جومات خطیب وویل : زه ددی ښځه نه ویریږم چې ووایم تاسی ددی کتاب د لارښوونو ښځه سرغړونه کړی وه ، ددی برکت د هغوي لپاره دی چې ددی په حکم عمل وکړی ... له الله جل عظمته ښځه بخښنه وغواړی .

په دی وخت کې د هغه خور شمس النساء چې اوس پنځلس کلنه شوی وه د هغه د کټ تر څنګ ولاړه وه هغی ته یې وویل : خورې ! مور ته می ورشه ورته ووایه زوی دی مړی یو خل راشه هغه در ښځه د خپلو بدو کړو وړو بخښنه غواړی !!!

شمس النساء د خپل ورور په سر باندی لاس کیښوده وی ویل : ښه ده زه اوس د دمشق په لور روانیږم انشاء الله مور له ځان سره راولم په منډه د کوټې ښځه ووتله او د خپلو ساتونکو په ملګرتیا روانه شوه .

قاضی بهاوالدین شداد په خپلو یاداشتونو کې لیکلی چې د الملک الصالح په ۵۷۷ هجري قمری کال د رجب د میاشتی په ۱۳ نیټه حالت لږ ښه شو نو چاروا کی یې راوغوښتل ورته وی ویل : زه د خپل ژوندانه وروسته د سیمی واکمن تاکم هیله لرم چې تاسی ورسره مرسته وکړی .

خطیب وویل: ته باید له خپلی مور ښځه ښښنه وغواړی هغه ستا ښځه خفه ده.

شمس النساء لا د دمشق په لاره کې وه چې الملک الصالح د رجب په ۲۵ نیټه ۵۷۷ هجری کال مړ شو.

د الملک الصالح د مړینی سره سم عز الدین مسعود ته احوال واستول شو چې سمدستی راشي او د حلب حکومت سمبال کړي، هغه چې کله خبر شو نو سمدستی د حلب په لوری راوخوځیده، په لاره کې یې د سلطان صلاح الدین ایوبی د ورور ملک العادل سره ولیدل ، ملک العادل نه وو خبر چې الملک الصالح مړ شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عز الدين مسعود هغه ته خبر ورکړ نو ملک العادل ورته وويل چې اوس واک ستا پلاس کې دی بايد د دمشق او حلب تر منځ اړيکی ښی شي ځکه چې پدی اختلاف کې د صليبيانو ګټه او فايده ده. هغه ورته وويل : زما يو شرط دی چې په هغې سره اړيکی سمېږي هغه دا چې رضيع د سلطان نور الدين کنډه زما سره نکاح وکړي ترڅو د دواړو تر منځ دوستی او نيکی اړيکی ټينګی شي .

رضيع د سلطان نور الدين کنډه او د ملک الصالح مور په دمشق کې اوسيدله، هغې د سلطان نور الدين زنګی تر وفات وروسته د ښځو د روزنی او تربيت يوه ټولنه جوړه کړی وه چې په هغې کې ځوانو نجونو ته جنګی روزنه ورکول کيده او هم د زخميانو د علاج طريقی، ورښودل کيدلی ـ هغې څو سوه نجونی روزلی وی .

شمس النساء چې کله مور وليدله او بيرته د حلب په لوری روانه شوه او حلب ته ورسيده نو د ملک الصالح جنازه د کور څخه بيرون راروانه او د هديری په لوری وړل کيدله .

د عز الدين د خبری په بنسټ ملک العادل د حمات څخه سمدستی را روان شو او دمشق ته راغی، لومړی يې رضيع ته د زوی د مړينی تسلی ورکړه او بيا يې ورته د عز الدين خبره وړاندی کړه خو هغې انکار وکړ.

ملک العادل ورته وويل: پدی کې د اسلامی ملت خير دی ځکه چې که دا دواړه سيمی سره جدا جدا وی نو بيا پکی صليبيان اختلافات راپيدا کوی او يو ځل به بيا خپل منځی جګړی پيل شي تاسې د امت د خير لپاره د هغوي هيله ومنی .

رضيع وويل: که چيری پدی اسلامی امت ته خير رسيږي نو زه تياره يم خو زما اوس هيڅ خواهش نشته .

بلاخره په ۵ شوال ۵۷۷ هجری ( ۱۱ فروری ۱۱۸۲ ميلادی ) کې د رضيع او عز الدين مسعود نکاح وشوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مار او صلیبی انجلی

اسحاق ترکی د ترکیه اوسیدونکی، ښه غښتلی، قوی ځوان، ښکلی تک سپین مخ، شنی سترګی او زړه راښکوونکي څیره یې لرله. چا به چې ولیده دا فکر یې نشو کولای چې مسلمان دې که صلیبی ځکه چې څیره یې د صلیبیانو یعنی اروپایانو پشان وه، هغه ډیر زیات هوښیار او ذهین ځوان وو، کله چې د هغه عمر اتلس کاله شو نو په پوځ کې یې ځان داخل کړ خو پوځی خدمت یې د ژوند وسیله نه بلکې د الله تعالی په لاره کې د سربښندنی لپاره غوره کړی وه. هغه ریښتنی مؤمن او مجاهد وو او د صلیبیانو په ټولو پلانونو او پروګرامونو باندی ښه پوهیده نو ځکه دمشق ته راغی ترڅو د صلیبی داړه مارانو په خلاف د خپل وطن او دین څخه دفاع وکړي کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته د مصر امارت وسپارل شو نو اسحاق هم مصر ته ولاړ او هلته په پوځ کې د خپل اهلیت او لیاقت په اساس د یو ډلی قوماندان وټاکل شو.

وروسته چې کله سرتیری روزل کیدل هغه هم ورغی او په هغې کې یې ځان شامل کړ، د زیار او ډیر کوښښ په نیتجه کې بیا هم د یو ډلی مشر او قوماندان شو. څرنګه چې هغه ډیر هوښیار، زړور، میړنی او تورزن انسان وو نو ځکه هغه صلیبی سیمو ته د جاسوس او معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره واستول شو، هغه پخپله وظیفه کې دومره مخلص وو چې د سر په قربانی سره یې د خمکی د تل څخه رازونه راویستل.

اسحاق ترکی د بیروت څخه موصل ته راغی او د خپل یو دوست سره یې وکتل ترڅو د هغه ځای حالات معلوم او بیا قاهری ته ولاړ شي.

دوست یې ورته وویل چې میرمن رضیع هم دلته راغلی او هغی ویلی وه چې کله څوک قاهری تلل غواړي نو زما سره دی خامخا وګوري زه هغه ته ضروري پیغام ورکوم چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته یې ورسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسحاق ترکی د میرمن رضیع سره د موصل د قصر څخه د باندی د یوی چینی په غاړه پداسی حال کې ولیدل چې د هغې لور شمس النساء هم ورسره ملګری وه.

میرمن رضیع اسحاق ته وویل: سلطان صلاح الدین ایوبی ته لومړی زما سلام بیا او بیا ورته ووایه چې زه په یوه لویه دوکه کې پریوتم خو زه پدی خاطر صبر کوم چې حالات به د اسلام د سپیځلی دین د سر لوړی لپاره برابروم. عز الدین سره لدی چې ستا سره تړون کړی خو په هغه باندی هیڅ ډول باور پکار ندی ځکه چې د هغه دربار د ایمان پلورونکو صلیبی جاسوسانو او سلا کارانو څخه ډک دی ، د حلب نوی امیر عماد الدین خو له پخوا څخه ستاسې دښمن دی هغه هم له صلیبیانو سره لاره یو کړی او تاسې ته به دوکه درکوی - دلته صلیبیان غواړی یو ځل بیا خپل منځی جګړی پیل کړی نو تاسې چې څه ډول ضروري بولې هماغسی خپل کارونه مخ په وړاندی وړی .

اسحاق پس لدی څخه په خپل آس سپور شو او د حلب په لوري وخوځیده ترڅو د هغه ځای څخه هم معلومات واخلی او بیا قاهری ته ولاړ شي. په حلب کې هغه د یو سالار سره وکتل او بیا د قاهری په لوری وخوځیده. په حلب کې هغه ته سالار نوی تکړه آس ، د اوبو مشکونه او خوراکی شیان ورکړل تر څو په لار کې ورڅخه کار واخلي.

اسحاق ترکی د قاهری په لوری سفر پیل کړ چې کله د ابادی څخه ووت او د سینا دښتی ته ورسیده نو لاره سخته شوه ځکه هلته ټولی شګی وي او ګرمی هم زیاته وه، دا د اکتوبر میاشت (۱۱۸۲) میلادی کال وو کله چې هغه یوه ورځ سفر په دښته کې وکړ او ستړی شو نو د یو کمر سوری ته یې آس ودرولو او خپله هم سیوری ته کیناسته، څرنګه چې هغه ډېر ستړی وو سترګی یې پټی شوی .

آس یو دم وشنیده او ټوپونه یې پیل کړل، اسحاق راویښ شو ګوری چې یو مار د آسپ تر پښو لاندی پروت دی چې هغه پښی پری ایښی او زخمی کړی یې دی، اسحاق زر تر زره مار مړ کړ خو د آسپ حالت

(c) kenpuon.com: The Digital Library



خراب وو، هغه رپېدلو، څرنګه چې د دښتې ماران خطرناک وي نو آسپ یې ورخطا کړ لږ ځنډ وروسته هغه راولوېده او مړ شو.

اسحاق ترکي د آس په مرګ باندې ډېر زیات خفه شو ځکه چې هغه غوښتل ډېر زر ځان قاهرې ته ورسوي او سلطان صلاح الدین ایوبي د لوی خطر او خطرناکو پلانونو څخه وژغوري، ځکه هغه پوهېده چې سلطان صلاح الدین ایوبي تر ډېره وخته پورې ځنډ نشي کولای او د هغې د جنګي پلان څخه په بیروت کې بالډون هم خبر وو.

په هر صورت هغه خپل سامان او خوراکي شیان په غاړه واړول او مخ په قاهره د سینا په لویه او وچه دښته کې روان شو، ورځ او شپه یې سفر وکړ خو د شپې په اخري برخه کې لږ شانته ویده شو او بیا سهار روان شو پداسې حال کې چې پښې یې د ځان پسې کشکولې، بیا یې سفر پیل کړ تر غرمې پورې یې سفر وکړ خو لاره یې ورکه کړه ځکه چې هغه ټوله دښته وه د غونډیو او لوړو ژورو په منځ یوې او بلې خواته ګرځیده تر دې چې د خپل سامان شیان یې هم د کمزورتیا له امله پرېښودل- بلاخره په ډېره سختۍ له هغه غونډیو څخه ووت او بیا روان شو، څرنګه چې خوراک او څښاک ورسره ختم شوی و نو هغه ډېر زر له تندې سره مخامخ شو، هغه پدې امید سفر کولو چې ګوندې کوم کاروان یا څوک به پیدا او دی به ورسره ملګرې شي خو هیڅوک هم ورته برابر نشول ، په همدې سخت سفر کې روان وو چې له تندې یې حالت خراب او بې هوشي پرې راغله او بې سده په شګو پریووت.

***

د صلیبي ترهګرو یو لس کسیزه ډله چې قاهرې ته د وران کار یو لپاره تللې وو او هلته پخپلو کې سره په دوه نجونو باندې وران شول او د یو بل د ناکامولو کوښښ یې کاوه نو د هغه ځای د جاسوسي پروګرامونو مشر دا ګروپ ټول بیرته بیروت ته رخصت کړل او پر ځای یې نور کسان راوغوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی ګروپ کې اته نارینه او دوه نجونې موجودې وې چې یوه میرنیا او بله باربرا نومیده .

هغوي د قاهرې څخه د بیروت په لورې د اطرافي او غرنیو خلکو په جامو کې روان شول چې هم آسونه او هم اوښان ورسره وه، هغوي د ځان سره وسله، خوراکي شیان او اوبه راوړې وې او ښه بې غمه روان وه .

په لاره کې چې کله د اسحاق د لویدلو ځای ته روسیدل نو هغه یې ولیده، یوه نجلۍ او دوه نارینه ورنژدې شول چې څوک دی ؟ نارینه چې کله ولیده بې هوشه سړی پروت دي نو ملګرو ته یې وویل : همداسي یې خوشې کړې څوک به وي خو میرنیا چې ډېره هوښیاره وه هغې په غور سره ورته وکتل نو وې ویل : دا کوم مهم سړی ښکاري او ژوندی دی، کیدای شي مونږ ته ګټه راورسوي .

* * *

هغوي له ځان سره پورته کړ او خپلی خیمې ته یې یوړ، اوبه او شات یې په خوله کې وروڅڅول، هغه په بې هوشۍ کې ویل: سلطان ... قاهره ... ضروري خبر ... احتیاط ... څرنګه چې هغوي پاخه استاذان او تجربه لرونکي جاسوسان وه نو پوه شول چې د ده سره حتمًا کومه مهمه خبره شته !

اسحاق رابیدار شو یوې او بلې خواته یې وکتل ګوري چې یو ښایسته نجلۍ چې د غرنیو خلکو جامې یې اغوستې د ده تر څنګ ناسته ده ورته وې ویل : دا د اوبو او شاتو شربت وڅښه خو په یو ځل نه .

اسحق د هغې له لاسه جام واخیسته وې ویل زه پوهیږم چې په داسې حالت کې ډیر شربت څښل ښه نه دی ستاسې څخه مننه کوم !

اسحاق د نجلۍ څخه پوښتنه وکړه د کوم کاروان سره راغلی یې ؟

نجلۍ وویل : هو ! د سوداګرو کاروان سره چې په بله خیمې کې ارام کوي خو تاسې د کوم ځای څخه راغلی او چیرته ځې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسحاق وويل : زه هم د سوداګرو د کاروان سره ملګری وم ددی ځای څخه لږ وړاندې يو شپه لاره شکوونکو په مونږ يرغل وکړ هر څه يې راڅخه واخيستل او تياري راسره مرسته وکړه او د هغه ځای څخه راوتښتدم .

نجلی وويل : زه بيرون ځم اوستاسی لپاره د خوراک څه راوړم .

اسحاق په خيمی کې ناست وو چې په کې ډيوه بله وه او بيرون د سپوږمی په رڼا کې دوه دری تنه ګرځيدل راګرځيدل - لږ ځنډ وروسته نجلی راغله او د اسحاق په وړاندې يې کجوری او وريته شوی غوښه کيښودله .

نجلی پوښتنه وکړه ته قاهری ته ځې ؟

اسحاق وويل : نه ! اسکندريه ته !

انجلی په خندا وويل : سلطان صلاح الدين ايوبی خو په قاهره کې دی اسکندريه کې څه کوی ؟

اسحاق پوه او تکړه انسان وو وی ويل : زما د سلطان صلاح الدين ايوبی سره څه کار دی ؟

نجلی وويل : مونږ مسلمانان يو هغه مو سلطان دی او د هغه په هر حکم باندی ځانونه قربانوو !

نجلی د هغه په اوږه لاس کيښوده او په مينه سره يې وويل : ستاسی سپرلی ته اړتيا ده چې تاسی ورسوی ، مونږ تا سره مرسته کوو ډير زر به خپل ځای ته ورسيږی !

اسحاق وويل : ته زما په اراده پوه شوی ؟

نجلی وويل : ته دا پوښتنه له ماڅخه مه کوه خپل مسئوليت د اداء کولو کوښښ کوه !

د نجلی خبرو اترو ، کړو وړو او شکل داسی وو چې اسحاق ورته وويل : ښه ما ته د اس اړتيا ده هيله کوم چې دا راته راکړی !

نجلی پورته شوه وی ويل : ته اوس ويده شه د سهار کيدو وړاندی به له دی ځای روان شی .

د اسحاق حالت داسی وو چې د نجلی د وتلو سره سمدستی ويده شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرنیا خپلو ملګرو ته ورغله ورته وی ویل : زما شک په یقین بدل شو، هغه د سلطان صلاح الدین ایوبی د استخباراتو غړی دی او د بی هوشی په وخت یې هم شکمن کلمات د خولی څخه وتل .
د ډلی یو وویل : لوی ښکار په لاس راغلی خو له دی څخه دا معلومول پکار دی چې هغه کوم راز له ځان سره را وړی ؟
د ډلی څخه بل تن وویل : که راز یې ښکاره کړ نو دا ورڅخه پوښتنه کول پکار دی چې ملګری یې څوک دی ؟
د ډلی مشر وویل : زه د مسلمانانو جاسوسان په ښه ډول پیژنم مرګ قبلوی خو راز نه ورکوی .
نجلی په خندا وویل : هغه به په خپل خنجر زړه څیرې کړی او راز به زما په قدمونو کې کیږدی .
یو صلیبی وویل : تاسی هغه مسلمان واکمنان پیژنی چې د دولت او واکمنی نیشه ، یا هغه مسلمان چې د دولت او رتبی مینان وی بی لاری کړی دی تاسی د مسلمان مجاهد سره مخ شوی نه یاست هغه یوازې په دی پوهیږی چې د شهادت له لاری هر څه حاصلولی شم .
د ډلی د مشر خوا ته یوه نجلی ناسته وه چې تر اوسه یې څه ویلی نه وو هغی ته یې مخ کړ او د طنز په شکل یې وویل : باربرا ! ایا ته هم د مسلمان له سینی څخه راز راویستلی شی ؟
په مصر کې چې دی څه وکړل هغه به مونږ هیر کړو ،د میرنیا څخه څه زده کړه ، هغه وه چې کوم انسان مونږ عام مسافر ګڼلو هغی وپیژندلو او وی ویل : کیدای شی دا لوی ښکار شی .
یو صلیبی وویل : په قاهره کې تا صلیب ته ګټه نه بلکی زیان رسولو نو له دی امله د هغه ځای څخه ستا د وتلو پریکړه وشوه .
بل صلیبی وویل : ته به د خپلی دندی څخه ګوښه کړای شی اوس خو ته د شهزادګی په څیر د ژوندانه شپی ورځی تیروی او بیا به یو ځای کې ناسته او خپل عزت به خرڅوی .
میرنیا وویل : دا د همدی وړ ده .

(c) kitabon.com: The Digital Library



د باربرا رنګ د غصې څخه تک سور شو . میرنیا ته یې د قهر په نظر وکتل خو چپ شوه هغه هم د میرنیا په څیر ښایسته وه چې مصر ته ورسیدله نو د خپل محبوب سره چې د هغه هیواد د صلیبیانو د پټو چارو مسئول وو او ښکلي باتور ځوان وو د واده کولو وعده هم کړې وه خو چې کله هلته ورسیدله نو میرنیا د هغه محبوب سره تک راتګ پیل کړ او داسې څه یې ورته وویل چې د هغه زړه ورځنۍ تور شو او مشر یې د ځان کړ نو د باربرا په زړه کې د انتقام اور بل شو او د هغه ځای مرستیال چې مارټن نومیده ملګرتیا یې ورسره پیل کړه چې د مشر او مرستیال تر منځ هم اختلاف پیدا شو او څه به چې ورته هدایات کیدل هغه به سرته نه رسیدل نو لدې څخه مرکزي مشران خبر شول ، هغوي دا ضروري وګڼله چې دوی بیرته خپل ټاټوبی ته راشي داسې نه چې ددې په نتیجه کې ټول په اور کې وسوزیږو .

د ډلې مشر وویل : دا سړی خو تبتیدلی نشي خو بیا هم د احتیاط له مخې په مونږ لازم دي چي هغه بې خوده کړای شي .

وروسته میرنیا خیمې ته ورغله ډیوه بله وه او اسحاق په درووند خوب ویده وو، د هغې په لاس کې یو دستمال وه چې د بې هوشي په دوا باندې یې ککړ کړی وو د هغه په پوزه او خوله باندې یې کینښوده د خو شیبو وروسته یې ورځنۍ لرې کړ او د خیمې څخه راووتله ؟

د ډلې مشر وویل : په اطمینان ویده شي سهار به جاسوس ته د هغه د خوښې اس ورکړو خو د هغه اس مخ به د قاهرې په لور نه بلکې د بیروت په لور وي او زمونږ د سفر ملګرې به وي .

ټولو په دې خوښي ښکاره کوله چې د سلطان صلاح الدین ایوبي جاسوس یې نیولی دی ، شراب یې وڅښل او په سندرو ویلو یې پیل وکړ .

باربرا خپلې خیمې ته ولاړه او په خپلې بسترې پرې وتله او دا خبرې د میرنیا یې تر غوږو کیدله ، یوازې او یوازې زه د هغه له سینې څخه راز راویستلی شم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارټن د باربرا خیمې ته ورغی او تر څنګ یې کیناست ورته وې ویل پر تاسې څه شوي دي ایا ته دا احساسوي چې زمونږ مشر د میرنیا سره د زړه له کومې مینه کوي او یا ستا سره محبت کوي هیڅکله نه !
ستا په زړه باندې غم پرده اچولې او د خپلو مسئولیتونو څخه بې پروا شوي یې او د ربښتینې مینه هیله منده یې نو هغه زما په زړه کې شته دي زه به هیڅکله ستاسره بې وفایي و نه کړم !
باربرا وویل : زه د خپلو مسئولیتونو څخه بې پروا نه یم خو زما زړه د دنیا څخه موړ شوی .
دا یو حقیقت دی چې مونږ ته د لومړي ورځې څخه ددې تربیت راکړل شوي دي چې مسلمانانو ته دوکه ورکړو او د صلیب تر سیوری لاندې یې راولو او دا دوکه ورکول مو عادت ګرځیدلی دی حتی یو بل ته هم دوکه ورکوو صلیب مو په غاړه او بد کار کوو .
زمونږ مشر لومړی زه د محبت په دام کې ونیولم او څو شپې ورځې یې راسره تیرې کړې بیا میرنیا چې زما څخه هرشباره وه او خپل نفساني غوښتو د سرولو او لوړ منصب ته د رسیدلو لپاره یې په مشر قبضه وکړه او تاسې په ما باندې ، ددې په نتیجه کې ټوله ډله د مسئولیت په سرته رسولو کې ناکام شو او بیرته خپل ټاټوبی ته روان یو که ستاسې سره دوه نجونې یعنې زه او میرنیا نه وایې نو تاسې خپله دنده په ښه شان سره سرته رسوله .
د ښځې شتون د سړو تر منځ دښمني پیدا کوي اود خپل ورسپارلو شوي مسئولیت څخه یې بې پروا کوي ، مسلمانان هوښیار دي چې نجونو څخه کار نه اخلي .
مارټن وویل : له دې امله مونږ په مسلمانانو کې روزل شوي نجونې پرښودلې او د هغوي ترمنځ دښمني پیدا کول زمونږ لوی مقصد دی ترڅو د مسلمانان زوال پیل او د صلیب واکمنې ټینګه شي .

(c) kitabton.com: The Digital Library



مارتن باربرا په غیږ کې ونیوله وی ویل : څومره ښه شپه په داسی خبرو مه بی مزی کوه راځی بیرون څو قدمونه ووهو، سپوږمی څومره ښکلی ده او د پسرلی باد څومره خوشحالونکی دی !

باربرا وویل : زه ناکامه شوی او زما په زړه کې د کرکی اور بلیږی زه چیری نه ځم .

مارتن وویل : یوه ورځ به ته زما په قدمونو کې پریوځی .

باربرا په سپکه خوله وویل : زه اوس سپو ته سپارل شوی یم زه به له تا څخه هیڅکله د مرستی غوښتنه ونه کړم له دی ځایه لاړ شه !

مارتن د غصی په حالت کې د خیمی څخه ووتلو . باربرا د خیمی پرده پورته کړه او د دی انتظار یې کولو چې هغه ویده شی ترڅو د اسحاق خیمی ته ځان ورسوی کله چې هغه ویده شو نو باربرا د اسحاق ترکی خیمی ته ځان ورسولو ډیوه بله وه د هغه د راویښولو زیات کوښښ یې وکړ خو هغه ویښ نه شو دا به یې ورته ویل : پاڅیږه ! ته قاهری ته نشی رسیدلی د بیروت په بندیخانی کې به د عذابونو لاندی مړ شی !

اسحاق بی هوشه و، باربرا د ډلی د مشر او میرنیا خندا ګانی واوریدلی نو ځرنګه چې هغه روزل شوی نجلی وه نو پرته له ویری ناسته او داسی یې وویل : مونږ ټول مسلمانان یو او تاسی ته به سپرلی درکړو چې تاسی قاهری ته ورسوی .

د ډلی مشر اواز واوریدلو چې تر څنګ یې میرنیا هم ولاړه وه نو باربرا ته یې وویل : ته خپل مسئولیت اوس نشی اداء کولی هغه بی هوشه کړای شوی .

میرنیا د طنز په شکل وویل : باربرا ! دا زما ښکار دی او زه پوهیږم چې د هغه له سینی څخه ځرنګه راز راوباسم .

د ډلی د مشر او د میرنیا د طنز په خندا پوه شوه وی ویل : ما کومه غلطی نه ده کړی خپل مسئولیت اداء کوم ؟

باربرا د ډلی مشر وویل : لاړه شه ویده شه هغه نیشه کړای شوی دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډلی مشر د اسحاق په نبض لاس کیښوده میرنیا ته یې وویل :
نیشی خپل کار کړی راځه چې خپلو خیمو ته ځو !

* * *

په قاهره کې سلطان صلاح الدين ايوبي د استخباراتو مشر علی بن سفیان ته وویل : علی ! د هغه لوری څخه تر اوسه کوم خبر رانغی ! ددی مطلب دا دی چې هلته کوم بدلون نه دی راغلی خو زه په دی ډاډه نه یم .

علی بن سفیان وویل : هلته چې زمونږ کوم کسان دی ټول د اعتماد وړ او هوښیار دی او په هغوي کې یو هم اسحاق دی چې تاسی یې ښه پیژنی هغه د ځمکی سینه څیر وی او راز ورځنی تر لاسه کوی .

سلطان صلاح الدين ايوبي وویل : صلیبیان به ضرور د هغه پیښو څخه ګټه اخلی کوم چې هغه لورته شوی دی ، بالډون د خپل لوی لښکر سره د حلب او موصل سیمو په شا او خوا کې شپی ورځی تیروی .

علی بن سفیان وویل : الملک الصالح مړ شوی او د حلب واکمن عزالدین مسعود دی او هغه د صلیبیانو لاس پوڅی نه کیږی !

سلطان صلاح الدين ايوبي په حیرانی سره وویل : علی ! ایا ته عزالدین مسعود تاکلی شوی مسلمان ګنی ما هغه په دوستانو کې شمیرلی او د هغه د مرستی لپاره ما خپل پروګرام بدل کړ او په تل خالد باندی می یرغل وکړ او د ارمنینانو څخه می وسله واخیستله خو زه په خپلو مسلمانو واکمنو باندی اعتماد نشم کولای .

ای علی ! عزالدین مسعود زمونږ د صف ملګری دی خو د هغه زیات چارواکی په پټه د صلیبیانو ملګری دی .

ای علی ! تاسی ونه لیدل چې مسلمانو واکمنو د خپلو چارواکو ، مشاورینو او درباریانو د مشوری په اساس خپل قوم د هلاکت کندې ته غورځولی زه د مشوری کولو مخالف نه یم ځکه دا د الله تعالی حکم دی چې هغه پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ورکړی چې

(c) ...com: The Digital Library



د پریکړې وړاندې مشوره وکړې خو واکمن هم باید په دې پوه شي چې مشوره ورکوونکي خپل دین او خاورې ته مخلص دی او که نه !

علي بن سفیان وویل :د شهید نورالدین زنګي د کنډې محترمې رضیع سره نکاح یوازې او یوازې د ددې لپاره وشوه چې د حلب او موصل پوځ زمونږ د سپیڅلي مقصد لپاره استعمال شي .

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : ددې سره سره هم زه ورته د شک په سترګو ګورم له دې امله چې عزالدین مسعود د صلیبیانو د یرغل په وړاندې دی او د خپلو سیمو د ساتلو لپاره د پردې تر شا زمونږ په مقابله کې د هغوي د ملګریتا نه مخ هم نه اړوی .

ای علي ! زما سترګې او غوږونه ته یې ، ما د هغه ځای د حالاتو نه زر خبر کړه !

علي بن سفیان وویل : زما وړاندیز ستاسې په وړاندې دا دی چې څو ورځې نور هم انتظار وکړې .

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل : زه زیاتې ورځې انتظار نشم کولای ته پوهیږې چې ما پوځ ته د تیارې حکم ورکړی او دا د راز خبره درته کوم چې زه د حلب او موصل په لور نه ځم بلکې زما هدف بیروت دی .

د بیروت په نیولو سره د صلیبیانو مهمه لاره چې د مدیترانې او دمشق تر منځ ده د مسلمانانو لاس ته ورځي او هم د صلیبیانو مرکز او زړه به ختم شي بیا به له هغه ځایه د فلسطین په نورو برخو عملیات پیل او د بیت المقدس ازادولو ته به لاره خلاصه شي او هم به د مسلمانانو د سیمو څخه جنګ صلیبي سیمو ته ولاړ شي .

له دې وروسته دفاعي جګړې نه کوم بلکې تعرضي او برید کوونکې به وي دا چې بیروت د صلیبیانو سیاسي او نظامي مرکز دی نو زه یرغل په هغه ځای کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي ته دي ښکاره وي چې اوس او له دي وروسته به زه خپل پوځ ته د تعرضي يرغل روزنه او تربيت وركوم او دا ځكه چې په خپلو سيمو كې د جګړې كولو نه هيڅكله بيت المقدس ته نشم رسيدلى .

اى علي ! ستا مسئوليت دى چې دا معلوم كړې چې په بيروت كې د صليبيانو د پوځ شمير څومره او په څه حال كې دى او بله دا چې د عزالدين نيت معلوم كړې چې د كورنى جګړې اراده خو نه لرى ؟

علي بن سفيان وويل : په بيروت كې اسحاق دى كه هغه خپله رانشى نو حتمى به زه ځوك وليږم .

زه زياتى ورځى انتظار نشم كولاى علي ! كه تاسي ځوك وليږې او د هغه ځاى حالات معلوم كړې او بيرته راشي نو دا درې مياشي وخت نيسى زه څو ورځو كي پوځ ته د تګ حكم وركوم .

علي بن سفيان وويل : نو بيا تاسي په تيارى كې وړاندى تګ كوى ښاغلى سلطان !

سلطان صلاح الدين ايوبى وويل : زه د الله تعالى د حكم په اساس د هغه پاكې خاورې د ازادولو پخاطر ګام اخلم او د خپل ځان او كورنى د ارامى او سلامتي په خاطر په مصر كې شپې او ورځې نه تيروم .

كله چې د شهيد نورالدين زنګى كنډې رضيع د عزالدين مسعود سره نكاح وكړه نو صليبيان ډير انديښمن شول چې ددى مجاهدې ميرمنى له امله به مسلمانان سره يو شي او د دوى اثرات به له دغو سيمو څخه پورته شى ، بل لورى ته سلطان صلاح الدين ايوبى هم انديښمن وو چې كه صليبيان يرغل وكړى دده د نشتوالى په سبب به صليبيانوته كاميابى په برخه شى .

ددى حالاتو په رڼا كې يې فيصله وكړه مخكى له دى چې صليبيان حلب او موصل محاصره كړى هغه د مصر څخه بايد راروان شى او بيروت محاصره كړى .

دا له مرګ سره د لوبو كولو پريكړه وه ځكه د مسلمانانو پوځ به يې د دښمن له سيمى څخه تيرولو او په هر پل پل كې د جګړى خطر وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی خل وو چې سلطان صلاح الدین ایوبی د علی بن سفیان د اداری د غړو له لاربښونو پرته قدم پورته کړ خو اوس د حالاتو غوښتنه همدا وه او تر ټولو مهمه او د اړتیا خبرد عزالدین مسعود د نیت او هم د رضیع اثر په عزالدین مسعود وه ؟

د علی بن سفیان د اداری هر غړی په دی ښه پوهیده چې یو جاسوس د جګړی د پیل څخه وړاندی د جګړی نیمه کامیابی تر لاسه کوی او د هغه یوه غلطی هم ټول قام د هلاکت کندی ته اچوی .

د علی بن سفیان په اسحاق پوره اعتماد او هغه هم د قاهری په لور ددی خبر سره روان وو چې د صلیبیانو لښکر د بالډون په قیادت کې د بیروت څلور لور ته خپورو شوی .

* * *

د صلیبی جاسوسانو د ډلی مشر اسحاق ته وویل : مونږ مسلمانان یو او د سلطان صلاح الدین ایوبی وفادار ، ستاسی سپرلی تیاره ولاړه او د خوراک ، څښاک او نور ضروری څیزونه هم په خرجین کې اچولی شوی نو که دا راته واویی چې تاسی د کوم خبر سره قاهری ته روان یې چې په هغه کې مو تاسی سره مرسته کړی ، په خپلو ښو به بیا فخر کوو .

اسحاق وویل : الله تعالی دی سلطان صلاح الدین ایوبی د داسی وفادارو سربښندونکو نه وساتی ما خو دی نجلی ته وویل چې ما د سهار لمر راختلو څخه وړاندی ویښ کړی چې زه روانیږم خو زه دی راویښ نه کړم او اوس غرمه ده .

میرنیا وویل : ته داسی ویده وی چې د ویښیدلو زړه می و نشو کړای خو کوم اس چې زه تاسی ته د ډالۍ په ډول درکوم هغه زما د سپرلی اس او د ښه نسل څخه دی تاسی به په خپل وخت ورسوی .

میرنیا د ډلی مشر ته په سترګو کې اشار وکړ ه چې تاسی ولاړ شی هغه ولاړ نو هغی ورته وویل : زه له تاسی څخه غواړم چې ما د خپل ژوندانه ملګری جوړه کړی ځکه له کومی شیبی چې ماتاسی لیدلی یاست ما په تاسی زړه بایللی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسحاق وویل : کله چې قاهرې ته ورسیدلم بیا به د مینې او محبت خبرې اترې کوم که ربښتیا وایې نو زما مرسته وکړه چې خپل مسئولیت اداء کړم .

میرنیا وویل : دا څه دې چې تم کیدلو ته دې نه پرېږدي ماته هم ووایه ؟

اسحاق ددې خبرې سره پاڅیده د خیمې څخه ووت میرنیا ورغاړې شوه ورته وې ویل : زه تاسې داسې چیرې پرېږدم په لاره کې به د لوږې او تندې څخه مړ شې څه وخوره او وڅښه بیا روان شه او راته ووایه چې دا څه رسول غواړې ؟

میرنیا په لوړ اواز غږ کړ ، باربرا خوراک او څښاک راوړه ، هغې شیان د اسحاق ته مخ ته کیښودل بیا ورووسته شوه او د میرنیا شاته ودریدله .

باربرا کوچنی صلیب په لاس کې پټ کړی وه هغه یې اسحاق وښودلو او بیا یې د میرنیا په لوري اشاره وکړه .

دا اشاره دومره ښکاره وه چې اسحاق پوه شو چې دوی ټول صلیبیان دي خو هیڅ یې هم ونه ویل .

اسحاق د میرنیا څخه پوښتنه وکړه په دې کاروان کې څو تنه دي ؟

میرنیا وویل : دا څه پوښتنه ده ؟

اسحاق پاڅیده ؟ د خیمې څخه بهر شو وې لیدل چې په شا اخوا کې اس نه ښکاری نو میرنیا ته یې وویل : هغه سپرلي چیرته ده ؟

میرنیا وویل : ما خو خپل یو تن ملګری ته وویل چې د خیمې مخې ته یې راولي زه هغه لوري خاې ته پورته کیږم ګورم چې اس چیرته ولاړ دی ؟

میرنیا خپل مشر ته وویل : تاسې صحیح وویل دا انسان نه بلکې ډبره ده .

د صلیبیانو د ډلې مشر وویل : هغه خو شکمن شوی نه دی ؟

میرنیا وویل : نه ! خو زما د پوښتنونو ځواب نه راکوی .

د ډلې مشر وویل : ددې مطلب دا دی چې تاسې ناکامه شوی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسحاق هم هغه لور خاى ته پورته شو کوم خاى ته چې میرنیا خنلی وه وی لیدل چې د صلیبیانو د ډلی مشر او میرنیا ولاړ دی هغوي ته يې وويل : سپرلی شته او که نه ؟

د صلیبیانو د ډلی مشر په سخته لهجه وويل : ته تللی نشی ! که له مونږ څخه د عزت هیله لری نو دا ووایه چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته څه پیغام له خان سره وړي ؟

اسحاق وويل : د عزالدین مسعود او د شهید نورالدین زنګی د کنډی د واده خبر .

د صلیبیانو مشر وويل : دوه میاشتی وړاندی سلطان صلاح الدین ایوبی خبر شوی او هغه خپل پوخ د شام د جګړی لپاره روزی .

هغوي فیصله وکړه چې هغه باید کلک وتړل شي او په یو آوښ باندی بار شي، کله چې بیروت ته ورسیدلو هلته به بیا ورسره ګورو. هغوي همداسی وکړل ، اسحاق بن عثمان يې په پړو کلک وتړلو او بیا يې په اوښ سپور کړ او د بیروت په لوری وخوځیدل ، دوه ورځی او دوه شپې يې سفر وکړ خو په لاره کې څو ځلی د صلیبیانو د ډلی مشر ورته وویل : مونږ ښه پوهیږو چې ته د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوس يې ته به رښتیا وایی او زمونږ سره به خی که زړه دی غواړی او که نه څکه د دومره انسانانو سره جګړه نشی کولای .

اسحاق وويل : آیا تاسی هم رښتیا خبره کوی ؟

د صلیبیانو د ډلی مشر وويل : اسحاق ! که د شهزدګانو په څیر دی ژوند تیرول خوښ وی نو زما وړاندیز قبول کړه زمونږ سره ولاړ شه ، هغه کار چې ددوی لپاره کوی هغه زمونږ لپاره وکړه زر او ملغلری به درکړای شی د میرنیا او باربرا په څېر بی شمیره نجونی به دی خدمت کوی .

اسحاق وويل : زه د صلیبیانو لپاره کار وکوم ؟

د صلیبیانو د ډلی مشر وويل : که نه يې کوی نو په بندیخانی کې به د ژوند شپې ورځی تیروی او هلته به ډول ډول عذابونه درکول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې اسحاق پدې پوه شو چې پرته د دې کار څخه بله لاره او چاره د خلاصون نشته نو وې ویل : زه به ستاسې په ډله کې شامل شم خو تاسې به څرنګه په ما باندې اعتماد وکړی چې په خپله خوښه ستاسې لپاره خدمت وکړم .

د صليبيانو د ډلې مشر وویل : مونږ د داسې ځواک څښتنان یو چې په خپله سیمه کې څه چې په خپل کور کې هم له مونږ څخه پټیدلی نشي او ته څه فکر کوې چې ستاسې په هیواد کې چې څومره جاسوسان دي ایا هغوې ستاسې د ملک نه دي ؟

په لسو کسانو کې دوه تنه صليبيان او نور يې ستاسې ورونه دي په هغه کې یو هم مونږ ته دوکه نه راکوی څکه هغوي په دې پوهيږی چې دداسې انسانانو پای څه وی .

مونږ يوازي هغه نه وژنو بلکې لومړی ماشومان بيا يې ميرمنې او له هغه وروسته خپله او کوم چې زمونږ سره د خپلې وفادارۍ اعلان وکړی د هغه لپاره دا دنیا جنت شي او کوم چې په دې لاره کې ونیول شي او یا ووژل شي د هغه کورنۍ د ژوندانه ټول اقتصادی ستونځې مونږ پوره کوو .

اسحاق وویل : ما ته د فکر کولو وخت راکړی او دا هم راته ووايی چې تاسې به کله له دې ځایه روانيږی ؟

د ډلې مشر وویل : د نن شپې په اخر کې خو ښه فکر وکړه د انکار په صورت کې به ته له ازادۍ څخه محروم شې ؟

اسحاق وویل : په دې ښه پوهيږم .

د صليبيانو د ډلې مشر وویل : راز به هم ښکاره کوی کوم چې سلطان صلاح الدين ايوبی ته يې د رسولو اراد لری .

اسحاق وویل : هغه به هم ستاسې تر غوږو تیر کړم .

لاسونه او پښې يې ورخلاص کړل او ازاد يې پريښوده څکه چې د هغه د تيښتې امکانات بالکل ختم شول که تښتيدلای وايی هم ژوندی نشو رسيدلای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

دوه میاشتې وړاندې عزالدین مسعود د شهید نورالدین زنګي د کنډې رضیع سره واده وکړ اود هغې یوازې او یوازې مقصد دا وه چې د عزالدین مسعود او سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ یو ځای شي.
خپل منځي جګړې پای ته ورسیږي چې وړاندې بې شمیره مسلمانان په کې وژل شوي او نظامي قوت یې ضایع شوی وه کوم چې په هغه یې د صلیبیانو د پلانونو مخه نیولی شوه او د خپلو خاورو څخه یې ورستلي شول.
رضیع دا هیله درلوده چې هغه به یې خپله مشاوره کړي خو د واده په لومړۍ شپه چې د هغوي ترمنځ کومې خبرې وشوې د هغې په امیدونو یې خاورې واړولې او هغه یې له څنګ څخه پاڅیده د کوټې څخه ووت او بل ځای کې ویده شو.
سهار چې د خپلې کوټې څخه راووتله او د ماڼۍ په بڼ کې یې قدم وهلو وړاندې تلله کوم ځای چې څو نجونې ناستې وې چې یوه بوډۍ خدمتګاره ورته راغله وې ویل: له دې وروسته تاسې دې بڼ ته مه راځئ.
میرمن رضیع وویل: ولې؟
بوډۍ خدمتګارې وویل: دا د محترم امیر عزالدین مسعود حکم دی.
رضیع وویل: که زه د هغه دا امر ونه منم نو...
بوډۍ خدمتګارې وویل: ما ته د بدو کړو وړو موقع مه راکوې ستاسې څخه هیله لرم چې د امیر حکم ته غاړه کیږدئ.
په دې وخت کې یو بله خدمتګاره راغله او رضیع خوا ته ودریدله وې ویل: عزتمندې! ماسره تشریف یوسئ!
کله چې هغوي دواړه کوټې ته ورسیدل نو بوډۍ خدمتګارې وویل: ما ته ددې حکم شوی چې تل ستاسې په خوا کې اوسیږم تاسې څارنه کوم.
د میرمن رضیع رنګ تک سور شو د قهر او غصې له امله یې په بدن خولې راماتې شوې، په دې کې بوډۍ خدمتګارې وویل: زه پوهیږم تاسې چې د څه خوب لیدلی وه هغه نه پوره کیږي، هغه یوازې خوب وبولې ماخپله همرازه وګڼې، په دې ماڼۍ باندې د صلیبیانو سیورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت دی ، ستاسی زوی د هغوی په لاس کې لوبیده او اوس نوی امیر عزالدین ستاسی خاوند د صلیبیانو ملګرتیا ته لاس ورووړد کړی، د چارواکو د مشوری له مخی ځکه هغوي د صلیبیانو اخیستلی شوی کسان دی.

میرمن رضیع وویل : د سلطان صلاح الدین ایوبی په هکله ددی ماڼی د خلکو څه رایه ده؟

خدمتګاری وویل : ښه نه ده خو په ماڼی کې د سلطان صلاح الدین ایوبی د استخباراتی اداری غړی شته.

رضیع وویل : ته خو به د استخباراتو غړی نه یې ؟

خدمتګاری وویل : ولی نه !

میرمن رضیع وویل : د استخباراتو غړی خپله پیژندګلوی نه کوی .

خدمتګاری وویل : هو ! خو ستاسی ژوند مونږ ته معلوم دی چې تل مو د اسلام د سپیڅلی دین خدمت کړی او زه د مسلمانی په صفت د خپل سر په قربانۍ هم د وطن او دین خدمت کول غواړم او دا کار یو وسیله ده !

میرمن رضیع وویل : زه ستاسی د احساساتو درناوی کوم الله تعالی دی په هر وخت کې داسی ښځی پیدا کړی چې د کلمه الله د لوړتیا لپاره خپل مال او ځان قربان کړی .

محترمی ! دا یو حقیقت دی چې عزالدین مسعود ستاسی سره یوازي او یوازي ددی لپاره واده وکړ چې تاسی د هغه په بندیخانه کې شپی او ورځی تیری او د سلطان صلاح الدین ایوبی سره مو اړیکی د تل لپاره وشلیږی .

بل دا چې د دمشق خلکو د سلطان صلاح الدین ایوبی پلوی له دی امله کوله چې تاسی هلته وی اوس دوی د دمشق خلک د هغوي په خلاف پورته کوی او ددی په نتیجه کې به یو ځل بیا مسلمانان په خپل منځ کې په اخ او ډب اخته شی او صلیبیان به په ډاده زړه زمونږ په سیمو یرغل وکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


میرمن رضیع وویل : ایا دا خبر سلطان صلاح الدین ایوبی ته رسیدلی شي .

خدمتګاری وویل : زمونږ د ډلی مشر یو پوه او میړنی تن اسحاق ترکی دی ، د صلیبیانو د سیمی د لیدلو لپاره تللی ترڅو د هغوی د پلانونو څخه خان خبر کړی .

میرمن رضیع وویل : ایا زه هغه لیدلی شم ؟

خدمتګاری وویل : انشاء الله چې ضرور به ستاسی سره وګوری !

خدمتګاری چې کله میرمن رضیع د مانی د پټو رازونو څخه خبره کړه نو حیرانه شوه او د هغه خوب څخه راویښه شوه کوم چې د حلب د حکمران عزالدین سره د واده کولو په وخت کې یې لیدو .

میرمن رضیع یوه غیرتی او مجاهده میرمن وه چې د شهید نورالدین زنګی او سلطان صلاح الدین ایوبی په څېر د صلیبیانو لویه دښمنه او په اسلامی امت باندی درد منده وه .

ددی پیغله لور هم په دی مانۍ کې اوسیدله چې ورسره لیدل کتل یې تر اوسه نه وه شوی .

شمس النساء د خپل پلار شهید نورالدین زنګي د شهادت په وخت کې اته کلنه وه او ورور یې الملک الصالح یولس کلن وه چې چارواکو او نظامی منصبدارانو د لاس پوځی په صفت د اقتدار په ګدی کینولو خو سلطان صلاح الدین ایوبی په سیمه کې د امن او مسلمانانو د عزت او وقار ساتلو په خاطر د مصر څخه د میرمن رضیع د کوښښونو په نتیجه کې د دمشق چاری په خپل لاس کې ونیولی .

الملک الصالح د خپل پوځ سره حلب ته وتښتیدلو او خپله خور یې هم له خان سره بوتله ، مور یې په دمشق کې هستوګنه غوره کړه شپه او ورځ د کفارو په خلاف په جهاد بوخته وه .

شمس النساء پنځلس کلنه وه چې ورور یې د ژوندانه په اخر وخت کې د خپلی مور سره د لیدلو څرګندونه و کړه او شمس النساء یې ورپسی دمشق ته ولیږله خو هغی ورسره د لیدلو نه انکار وکړ او ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي ويل مور دی هغه وخت ستاسی لپاره مړه شوه چې تاسی د اقتدار په څوکې کيناستي او د سلطان صلاح الدين ايوبي په خلاف مو توره پورته کړه .

کله چې شمس النساء بيرته ولاړه نو هلته په رسيدلو د مانی څخه يې د ورور جنازه راوتلله ، اوس د شمس النساء مور رضيع په هغه مانی کې چې زوی يې په کې مړ شوی و د هغه د اقتدار په څوکې ناست انسان ميرمن شوه .

ميرمن رضيع د خدمتګاری څخه پوښتنه وکړه چې د هغی لور چيرته ده او د هغی سره ليدلی شی .

خدمتګاری وويل : هغه دلته ده خو تاسی د خپل خاوند څخه پوښتنه وکړی چې هغه ليدلی شی او که نه ؟

د بنديز په صورت کې به زه د هغی سره ستاسی د ليدنی او کتنی پټ انتظام وکړم .

ميرمن رضيع وويل : تا چې د کوم مجاهد يادونه وکړه آيا زما ليدنه د هغه سره کيدای شی ؟

خدمتګاري وويل : ولی نه !

ميرمن رضيع وويل : زه څرنګه يقين وکړم چې تاسی زما سره مرسته کوی او د بل په اشاره می په کنده کې نه غورځوی ؟

خدمتګاره په خنداشوه او ميرمن رضيع ته يې وويل : که زه د امير لور وايی نو په دی عمر کې به د کوم حکمران ميرمن وايی بيا به تاسی زما نه داسی پوښتنه هيڅکله نه کولای او هر دروغ به مو رښتيا ګڼل خو زما حيثيت اوس داسی دی چې رښتيا هم دورغ ګڼل ګيږی آيا تاسی ددی تجربه نه ده کړی چې رښتيا او د ايمان جذبه يوازي او يوازي د غريبانو په زړونو کې پاتی ده او راتلونکی وخت کې به دا درته ثابته شی چې تاسی چې په چا اعتبار وکړی په يوی غريبی خدمتګاری او که د حلب په حکمران چې ستاسی خاوند هم دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تو ستاسې ښځه هیله منده یم چې په ما باندې اعتبار وکړې او د الله تعالی ښځه وغواړې چې هغه زما او ستا مرسته وکړې او په خپل دین باندې مو ثابت وساتي .

خدمتګاره د کوټې ښځه ووتله او میرمن رضیع د خیالونو په دنیا کې لاهو شوه .

⦿⦿⦿

دوه درې ورځې میرمن رضیع عزالدین مسعود ونه لیدو هغې ته خو خدمتګاران لاس په نامه ولاړ وه خوراک او څښاک په خپل وخت ورته راتللو د ارام او نورو اړتیاو خیال یې هم ساتل کیدلو لکه یوه ملکه خو په دې باندې هغه خوښه نه وه ځکه د هغې هیله وه چې د خپلو مسلمانو ورونوسره د جګړې میدان ته ولاړه شي او د هغو خدمت وکړې یا د مجاهدینو د کورنیو پالنه سرته ورسوي؟

یوه ورځ عزالدین د هغې کوټې ته ورغی ورته وې ویل د ډیرو کارونو له امله رانغلم هیله لرم چې خفه نشې .

میرمن رضیع ووېل : زه ناوې نه یم او ذدې هیله هم نه لرم چې شپه ورځ له ما سره اوسې ما خپل نیمایې عمر په یوازیوالي کې تیر کړې ځکه شهید نورالدین زنګی به یا په سنګر او یا د پوځیانو په تربیت کې مصروف وو او مابه د شهیدانو د کورنۍ سرپرستي کوله او ددې تر څنګ د هغو نجونو روزنه مې کوله چې په سنګرونو کې د خپلو وروڼو سره په یوصف کې ددښمن مقابله ته ودریدلې ، زه په کوټه کې بندې نه وم لکه څرنګه چې تاسې کړم .

عزالدین مسعود ووېل: زه دا نه وایم چې شهید نورالدین زنګي خپل ځینې کارونه تاسې ته په سپارلو ښه نه دې کړې خو زه غواړم چې څوک و نه وایې چې د حلب د قسمت په جوړولو کې د یوې ښځې لاس هم وو.

میرمن رضیع ووېل : زه داسې شپې ورځې تیرول نه خوښوم ځکه زه ستاسې د حرم لپاره راغلې نه یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزالدين مسعود ووېل: رضيع ! کوم د ژوندانه شپې ورځې چې تاسې د غازي سره تېرې کړې وي د هغې خيال پرېږده که غواړې بيرون وګرځې نو د څلور اسونو ټانګه ستاسې لپاره هر وخت ولاړه ده.

ميرمن رضيع ووېل: په کومې مانۍ کې چې زه اوسېږم په هغې کې د قدم وهلو حق نه لرم نو بيرون ته تګ ؟

ستاسې په پرېکړې خو زما په څېر انسان حيران وي.

عزالدين مسعود ووېل: ما دا حکم ستاسې د سلامتۍ لپاره کړی دی، تا ته دا ښه معلومه ده چې د حلب او دمشق تر منځ څومره جګړې شوې. سلطان صلاح الدين ايوبي ستاسې زوی ته ماتې ورکړه او په اطاعت کولو يې مجبور کړ، د هغه د ملګرو په زړونو کې د انتقام اور اوس هم بل دی هغوي تاسې او سلطان صلاح الدين ايوبي خپل دښمنان ګڼي.

ميرمن رضيع ووېل: نو هغوی تاسې هم وژلی شي ځکه چې تاسې هم د سلطان صلاح الدين ايوبي ملګرې ياست.

ايا دا ستاسې مسئوليت نه دی چې هغوی مو نيولي او يا مو وژلي وايي.

عزالدين مسعود ووېل: تر اوسه پورې ددې ځای حالاتو ما ته اجازه نه راکوله زه دا کار ضرور کوم!

ميرمن رضيع ووېل: زه نه پوهيږم يو لوری ته وايې که غواړې بيرون وګرځې نو د څلور اسونو ټانګه ستاسې لپاره هر وخت ولاړه ده هر څيرته چې ځې تللی شي نو ايا دا خطر ماته يوازې په مانۍ کې دی او بيرون نشته ؟

عزالدين مسعودخواب ورکول غوښتل خو ميرمن رضيع ووېل: ما ستا سره واده ددې لپاره وکړ چې شهيد نورالدين زنګی کوم مقصد درلود او هغه تر سره نه شو نو تاسې او سلطان صلاح الدين ايوبي سره لاسونه ورکړې او هغه پوره کړې نو ددې لپاره ضروري وه چې کوم کسان ستاسې د سيوری لاندې د ژوندانه شپې او ورځې تيروې او د بې اتفاقۍ اور ته لمن وهي په بنديخانه کې واچوې يا يې ووژنې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزالدین مسعود وویل : تاسی شک کوی چې زه د سلطان صلاح الدین ایوبی ملگرتیا نه کوم ؟

میرمن رضیع وویل : دا زه په یقین سره وایم چې ستاسی د هغه ملگرتیا نه کوی ! نو ایا تاسی ما ډاډه کولای شی کوم اثرات چې صلیبیانو زما د زوی الملک الصالح په وخت کې په دی سیمه کې پریښی هغه اوس نشته !

ایا ستاسی ټول مشاورین ، قوماندانان او چارواکی د اسلام سپیڅلی دین او خپلی خاوری ته مخلص دی او که کافرانو ته ؟

عزالدین مسعود وویل : ته زما میرمن او که ....

میرمن رضیع وویل : ما چې د کومی ارادی سره ستاسی ملگرتیا غوره کړی هغه ستاسی غوږونو واوریدل او که نور اوریدل غواړی نو دا هم زما له ژبی واوره چې زه ستاسی د اولاد پیدا کولو لپاره میرمن شوی نه یم زه به په دی سیمه کې گرځم او ددی معلومولو کوښښ به کوم چې دا سیمه د کافرانو له سیوری خوندی ده او که نه وی نو د هغی لپاره موثر قدم پورته کړم .

عزالدین مسعود وویل : زه بیا هم تاسی ته وایم که د خپلو پولو څخه دی بیرون د قدم وهلو کوښښ وکړ نو سخت بندیز به درباندی ولگول شی .

میرمن رضیع وویل : زه ستاسی د حکم څخه ضرور سرغړونه کوم او له بندیز څخه دی نه ویریږم ښه دا ده چې ما ته طلاق راکړی .

عزالدین مسعود وویل : د طلاق تصور هم و نه کړی .

◆

خدمتگاری میرمن رضیع ته وویل : مونږ د پردی تر شا ستاسی ټولی خبری واوریدلی اوس چې مو عزالدین مسعود وپیژندلو نو بیا د هغه سره د هیواد په نظامی ، اجتماعی او سیاسی چارو کې خبری ونه کړی تل ورسره په خندا خبری اتری کوه ، مونږ به ستاسی اراده تر سره کود او پدی خوښه شوم چې هغه تاسی ته د بیرون وتلو اجازه درکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به ستاسی او د خپل مشر ترمنځ د لیدلو او کتلو شرایط برابر کړم

په دی وخت کې د کوټی دروازه پرانستلې شوه دوارو د دروازی لورته وکتل وی لیدل چې شمس النساء ولاړه په شونډو یې خندا خو د سترګو څخه یې اوښکی روانی وی ! میرمن رضیع پورته شوه او هغه یې په غیږ کې ونیوله او په ژړا شوه .

میرمن رضیع وویل : دومره ورخی چیری وی ؟

شمس النساء وویل : عزالدین کا کا منع کړی وم .

میرمن رضیع وویل : تا ورخنی د منع کیدلو پوښتنه ونکړه چې ولی ؟

شمس النساء وویل: هغه ما ته کوم قناعت کوونکی ځواب نه دی راکړی خو دا یې راته وویل چې د مور څنګ ته ورخه او ډیر وخت له هغی سره تیروه زه ډیر مصروف یم .

میرمن رضیع روویل : هغه تاسی ته دا ونه ویل چې د هغی ښارنه کوه چې څوک ورسره ناسته پاسته کوی ؟

شمس النساء د معصومیت په لهجه وویل: هغه څه داسی خبری وکړی خو زه پری پوه نشوم ما ورته ښه ښه کول ، هغه را ته دا هم وویل : مور دی ډیره ضدی ، وهمی او جګړه کوونکی ده .

میرمن رضیع وویل : لوری ! دا معصومیت او ماشومتوب نور پریږده ته پیغله شوی یې زه دا نه وایم چې ته نکاح وکړه د مجاهدینو د لورګانو په لاسونو باندی نکریزی نه بلکی وینی ښی ښکاری او د ژوندی قومونو لورګانی کمی ډولی ته پورته کیږی بلکی د هغوی مړي د جګړی له میدان څخه ورل کیږی ، ستا بدنصیبی دا وه چې ته خپل ورور او د هغه د سلاکارانو تر سیوری لاندی ځوانه شوی یې چې تول د الله تعالی او د هغه د رسول حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه باغیان وو .

ستا ورور صلیبیانو ته د دوستی لاس ورکړ ، هغوی ته چې ستاسی پلار شهید نورالدین زنګی د هغوي په خلاف توره پورته کړی او میدان ته ور وتلی وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د پلار شهید نورالدین زنګی پوځ ستا د ورور په مشری کې د سلطان صلاح الدین ایوبی د پوځ سره په جګړه اخته شو.

ستا ورور ته په زوی ویلو شرمیږم.

شمس النساء وویل: زما ورور خو ویل چې صلیبیان ډیر ښه خلک دي او سلطان صلاح الدین ایوبی د خپل واک لپاره د جګړې میدان ته راوتلی دی.

میرمن رضیع وویل: ستا ورور نوی خوان، د اسلام د سپیڅلی دین څخه بی خبره د نورو په سترګو یې خپل دوست او دښمن پیژانده!

د ځمکی پر مخ کوم قوم چې لااله الا الله محمد رسول الله نه وایی هغه د مسلمانانو دښمنان دي او تر ټولو زیات خطرناک صورت د هغوي سره دوستی ده.

صلیبیانو د حلب، موصل او حرن د واکمنانو سره دوستی وکړه او زمونږ قوم (مسلمانان) یې په خپلو منځو کې تقسیم کړل.

د الله بندګان او د هغه د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم امتیان په ډلو تقسیمول لویه ګناه ده څکه دا تقسیم په اصل کې هغوی په اخ او ډب اخته کول دي.

د هدایت د کتاب فرقان حمید څرګند حکم دی چې " تاسی په یو صف کې ودریږی لکه فولادی دیوال " خو کفارو د عیاشی سامانونه برابر کړل او د هغوی صف یې تیت پرک کړ.

لورې! زرو او جواهراتو، ښځی او شرابو او د دواکمنی خوب انسان د تل لپاره ویده کوی او دا د شیطانانو کار صلیبیانو وکړ.

شمس النساء وویل: مور جانی! ته رښتیا وایی ما دا په خپلو سترګو په مانی کې ولیدل.

میرمن رضیع وویل: ای لوری! اوس هم په دی مانۍ کې د شیطان واکمنی ده- عزالدین مسعود ماسره ددی لپاره نکاح وکړه چې مابندی کړی ما خو ده سره د ژوندانه ملګرتیا ددی امله خوښه کړه چې خپل منځی جګړې پای ته ورسیږی او څرنګه چې مونږ ټول یو امت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو یو امت شو خو په ډیر افسوس وایم چې ما په ژوندانه کې د لومړی ځل لپاره دوکه وخوړله او دا څه کمه دوکه نه وه زه خپل مقصد ته په رسیدلو کې د ناکامی سره مخ یم خو که ته زما سره مرسته وکړی هیله لرم چې بریالی شم .

شمس النساء وویل : مورجانی ! تاسی د لومړی ځل لپاره دوکه شوی او زه د لومړی ځل لپاره د اصل حقیقت څخه خبره شوم نو ووایی څه وکړم !

میرمن رضیع وویل : د الله تعالی کتاب قران کریم او د هغه د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم احادیث وګوری کړه اوبیا په هغی عمل وکړه انشاء الله بریالیتوب به دی په برخه شی .

شمس النساء چې کله د مور څخه جدا شوه نو د هغه په خیالاتو کې لوی بدلون راغلی وو ، مخکی بی پروا او ازاده خیاله نجلی خو اوس یوه با حیاء او د الله جل جلاله په لاری کې سربښندونکی مجاهده وه .

***

شمس النساء بله شپه د عزالدین مسعود خونی ته ورغله وی ویل : کاکا جانه ! تاسی ته چا ویلی دی چې زما مور وهمی او جګړه مار ده؟ تاسی پوهیږی چې د هغی ژوند خرنګه تیر شوی دی او د هغه دا هیله ده چې تاسی هم د شهید نورالدین زنګی او سلطان صلاح الدین ایوبی په څیر یو لوی شخصیت جوړ شی او د ځمکی پر مخ د هر انسان په ژبه ستاسی نوم وی هغه په تا درد منده او ستا خیرخواه ده .

عزالدین مسعود وویل : هغه دا فکر کوی چې زه د صلیبیانو دوست یم !

شمس النساء وویل : هغی دی لوری ته په خبرو کې اشاره وکړه خو ما د هغی وهم لری کړ چې تاسی د صلیبیانو ملګری یاست خو زه ستاسی څخه غواړم چې په هغه باندی غیرضروری بندیزونه ونه لګوی !

عزالدین مسعود وویل : ما په هغی کوم داسی بندیز نه دی لګولی کله چې غواړی د باندی تللی شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزالدین مسعود د شمس النساء خبرې رښتیا وګڼلې کله چې شمس النساء له کوټې څخه راووتله نو عامر بن عثمان ولاړ وو ، د هغه عمر دیرش کالو ته رسیدلو او ښکلې ځواني یې درلوده په توری وهلو ، غشي ویشتلو او اس سپرلۍ کې چا ورسره مقابله نشوه کولای ، هغه د الملک الصالح د ساتونکو د ډلې قوماندان او اوس د عزالدین مسعود او د لومړي ورځ څخه په ماڼۍ کې اوسیدلو ، دواړو په خپلو کې د پاکې مینې څرګندونه هم کړې وه تر دې چې د نکاح کولو ژمنه یې هم وکړې خو یو خنډ ددوی ترمنځ وُ او هغه دا چې عامر بن عثمان د هغوي د کورنۍ خدمتګار وُ .

د هغه سره روانه شوه ، د سپوږمۍ رڼا وه د ماڼۍ بڼ ته ولاړل او د یو ونې لاندې کیناستل وې ویل : نن ما خپله مور ولیدله .او د دې وروسته له هغې سره اوسیږم .

عامر وویل : ستا مور د شاهي کورنۍ میرمن ده او هغه به ستا نکاح د کوم شهزاده سره کول غواړي .

شمس النساء وویل : هغه د شاهي کورنۍ میرمن ده خو هغه په خیمه کې ژوند او شپې ورځې تیرول خوښوي .

عامر وویل : ایا زه ددې هیله کولاۍ شم چې که زما په باب خبره یاده شي هغه به یې قبوله کړي ؟

شمس النساء وویل : هغه چې زما نه څه غواړي که یې پوره کړم نو زما غوښتنه به هم انشاء الله نه رد وي .

عامر وویل : زما په خاطر به ته د هغې غوښتنه پوره کوې !

شمس النساء وویل : هغې چې ما ته کوم مقصد ښکاره کړ او هغې ته زما د مرستې اړتیا ده او په هغه لړ کې زما مرسته به تاسې کوې ددې څخه مخکې چې زه تاسې ته خپل مقصد ښکاره کړم ماسره به د کاییناتو د خالق او مالک په نامه وعده کوې چې زما راز به ساتې

عامر په خندا وویل : که زه داسې ونه کړم نو بیا ؟

(c) ketabt...com: The Digital Library



شمس النساء ووېل : ما ستا سره وعده کړې او بیاهم وایم چې زما نکاح به ستاسې سره کیږي خو ددي څخه مخکې به زه هغه څه پوره کوم چې مور مې راته وايي او ستا څخه هیله کوم چې د نکاح څخه وړاندې بیا کوم داسې ناوړه حرکت ونه کړې ځکه په دې باندې الله تعالی زمونږ دواړو څخه ناراضه کیږي .

عامر هیڅکله شمس النساء دومره کلکه نه وه لیدلې نو حیران شو وي ویل : آیا قسم کول ضروري دي ؟

شمس النساء ووېل : هو! زه خو د خپلې مور په حکم خان قربانوم ښايي تاسې مو ملګرتیا ونه کړې .

عامر ووېل : زه ستاسې په خاطر هر څه ته تیار یم .

شمس النساء ووېل : زما په خاطر نه بلکې د اسلام د سپیڅلي دین په خاطر کوم چې زما پلار او بې شیمره انسانانو پرې خپل ځانونه قربان کړي دي .

عامر ووېل : زه په خپله خبره باندې الله تعالی شاهد ګرځوم چې کومه دنده ما ته راوسپارل شي هغه به پوره کوم .

بیا يې د شمس النساء لاس ونیولو وې ویل : اوس راته ووایه چې څه وکړم ؟

شمس النساء ووېل : دا یو حقیقت دی چې سلطان صلاح الدین ایوبي یوازې د اسلام د سپیڅلي دین په خاطر سر په لاس کې نیولی نو مونږ ته په کار دي چې د هغه متې مظبوطې کړو او هغه داسې کیدای شي چې له کومو خطرونو سره مخامخ کیږي د هغه څخه يې خبر کړو څرنګه چې زما د ورور الملک الصالح سره د دوستۍ کوم تړون لاسلیک شوی و' آیا عزالدین مسعود په هغه باندې ولاړ دی او که نه ؟ ایا د حلب سیمه د صلیبیانو د اغیزو څخه پاکه ده او که نه ؟

تاسې زما څخه پدې ښه پوهیږې !

عزالدین خو ځان د سلطان صلاح الدین ایوبي دوست ګڼي خو زما د مور وینا ده چې هغه د لستوني مار دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامر بن عثمان وویل : د حلب د حکمران او ستاسی د مور د واده نه وروسته ښایی خطر پاتی نشی .

شمس النساء وویل : لوبه خو اوس پیل شوه د هغی نکاح کول په اصل کې د هغی په پښو کې ځولونی اچول وو او هغه داسی چې د دمشق خلکو ته د سمی لاری ښوونکی پاتی نشی .

عامر بن عثمان وویل : شمسی ! زه هر څه ګورم خو تر اوسه می پری غور نه دی کړی زه ستا څخه مننه کوم چې خپل مسئولیت ته دی متوجه کړم ! د یو پوځی مسئولیت یوازی دا نه دی چې د بیرون څخه د خپلو سرحداتو حفاظت وکړی بلکی په داخل کې هم ددښمن له پلانونو نه ځان خبر او بیا د هغه د مخنیوی لپاره قدم پورته کړی .

شمس النساء وویل : زه د ژوندانه د ملګری په غوره کولو ویاړ کوم.

دا زمونږ مسئولیت دی چې د صلیبیانو د ارادو څخه ځانونه خبر کړو چې آیا هغوي بیا زمونږ مسلمانان ورونه او خویندی په خپل منځی جګړو کې وژنې یا بل ګام پورته کوی او تاسی په داسی ځای کې یاست چې څه نا څه خبریږی او ګوری !

عامر بن عثمان وویل : ګرانی ! زه اوس ستاسی سره د یو مجاهد په صفت خبری‌کوم او هغه دا چې د حلب په ځینو قوماندانانو او مشاورینو باندی اعتماد نشی کیدای ، که عزالدین مخلص او له زړه دوست هم وی خو پوځ یې د مصر د پوځ سره په یو صف کې نشی ودریدلی ځکه صلیبیانو د هغه د چارواکو ایمان اخیستی دی .

د کومی ورځی څخه چې ستاسی ورور مړ شوی او عزالدین د واکمنی .په ځوکی ناست دی په یو او بل نوم د بیت المال څخه مال ویستل کیږی او که دا لړی راونه وی نو خزانه به خالی شی چې بیا به عزالدین د خپل مصارفو لپاره صلیبیانو ته لاس نیسی او دا د یو منظم پلان له مخې کیږی .

شمس النساء وویل : ددی مطلب دادی چې عزالدین مسعود یو کمزوري واکمن دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامر بن عثمان وویل : دا خو یو ښکاره حقیقت دی .
شمس النساء په مسکا وویل : عامره ! ستاسی سوداني ښاپیرۍ په څه حال کې ده !
عامر خواب ورکړ: پرون مې ولیدله وی ویل یو ځل زما کوټې ته راشه ! ته پوهیږی چې هغه ډیره ښکلې او د عزالدین د حرم مشره ده که عزالدین ته معلومه شی چې دا نجلۍ زما سره مینه کول غواړی نو هغی ته به څه و نه وایی او سزا به ما ته راکړی او که زه هغه ماېوسه کرم کیدای شی په ما باندی د لاس اچولو تور ولګوی نو الله تعالی دی راباندی خپل فضل وکړی .
شمس النساء وویل: آیا هغی ته دا معلومه نه ده چې ته زماسره مینه کوی ؟
عامر خواب ورکړ: که هغی ته دا معلومه شی نو د دواړو به اخری ورځ وی .
انوشی په اصل کې د صلیبیانو رالیږل شوی تحفه وه چې دلته راغله نو الملک الصالح خو شپې ورځی ورسره تیری کړی بیا هغه ناروغه او مړ شو کله چې عزالدین د حکومت واګی په لاس کې واخیستلی نو چارواکو ورته انوشی د حرم د زینت لپاره ورالندی کړه .
د هغه وخت د واکمنانو عادت ؤ چې خپلی میرمنی جدا او حرم (پرته له نکاح ) نجونی به یې جلا ساتلی .
صلیبیانو او یهودو د مسلمانو چارواکو د اخلاقو د خرابولو لپاره خپلی لورګانی هم رالیږلی .
انوشی یو روزل شوی نجلۍ وه چې په غونډو کې به یې شراب په نورو څښل او هم یې لوړ پوړی چارواکی چې د حلب قسمت جوړونکی وه د خپل حسن په جال کې رانیولی وو .
انوشی داسی ښایسته او نری جامی اغوستلی چې د بدن هر غړی یې د بدی دعوت ورکولو او د عزالدین په اعصابو پوره حاکمه شوی وه خرنګه چې عامر بن عثمان د عزالدین سره د سیوری په څشان ملګری ؤ او الله تعالی ورته ښه اندام او ځیره ورکړی وه نو هر وخت به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ورسره د مینې ځرګندونه کوله او عامر به په هغه او دغه ورځنې ځان خلاصول.

عامر بن عثمان ورته یوه ورځ وویل : زه یو غریب سړی یم او د حلال رزق حاصلولو لپاره دا دنده سرته رسوم که ستاسی په زړه کې زما لپاره رښتنی مینه وی نوپه ما باندې رحم وکړه له ما څخه لرې اوسه.
انوشې وویل : یو ځل ته زما لاس ونیسه بیا څوک دی چې تا ته پورته وګوری !

❋❋❋

قاضي بهاء الدین شداد چې د هغه وخت د خپلو سترګو لیدلی حال یې په خپلو یاداشتونو کې لیکلی دی وایی چې عزالدین د سلطان صلاح الدین ایوبی څخه ډیر زیات ویریدلو او هغه دا ګمان کولو چې د هغه سترګې په حلب باندې دی نو ضرور به یوه ورځ هغه نیسی نو خپل خاص مشاور میړنی قوماندان مظفرالدین ته یې خپل د زړه حال بیان کړ نو هغه ورته مشوره ورکړه چې تاسی خپل ورور عمادالدین حلب ته راوغواړې او تاسی موصل ته ولاړ شی.
همغه وُ چې یوه ورځ یو لوی کاروان د موصل په لور روان شو چې په هغه کې شمس النساء او د هغه مور میرمن رضیع هم وه په لاره کې دا کاروان د شپې لپاره تم شو خو عزالدین سره د څو تنو مشاورینو د شپې د سفر کولو کوښښ کاوه.

عزالدین مسعود عامر بن عثمان د کاروان د مشر په توګه پریښودلو او د نورو لاربښوونو سره یې ورته دا هم وویل: د حرم نجونو خیمې به زما د کورنۍ د غړو د خیمو څخه لرې ودروی.
تم ځای د غرونو په لمن کې چې هر لور ونې او شنه بوټي وُ او ځای په ځای پکې چینې چې پاکې اوبه یې لرلې او د مختلفو بې شمیره مرغیو خواږه اوازنه پکې اوریدل کیدل پروت وُ.
عامر بن عثمان د کاروان د مشر په توګه د ټولو کاروانو څار نه کوله په هغه ورځو کې سلطان صلاح الدین ایوبی په مصر کې وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



صليبيانو ډير لرې د سلطان صلاح الدين ايوبي د يرغل لپاره دفاعي تياری نيوله عامر بن عثمان بيا هم د مسئوليت له مخې دا کار کولو هغه د حرم په خيمو کې لری يوازې روان ؤ چې يو سيوری يې تر څنګ ودريدوه بيا يې ورته وويل : ما تاسې د لرې وپيژندلې او تاسې پسې راغلم .

عامر بن عثمان وويل : انوشې ! تاسې ولاړه شې ارام وکړې سهار وختې روانيږو او ما خپل کار ته پريږدې .

انوشې د اس واګې ونيول او وې ويل : د اس څخه کښته شه د کوم شخص څخه چې تاسې ويريدلې هغه د موصل په لوری روان دی .

عامر بن عثمان د اس څخه راکښته شو او يو لوری ته کيناست .

انوشې په ولولو سره وويل : عامره ! ته ما بدکاره نجلۍ شميرې او له ما څخه ډډه کوې ته په خپله خوانۍ باندې مغرور يې خو په دې حقيقت باندې دې غور نه دی کړی چې يوه ورځ به ستا بدن په وينو کې لت پت پروت وی خکه چې دا د جګړې وخت دی يو دا چې د جګړې په ميدان کې او بل دا چې په خپل ځای کې ووژلې شې او پای به دې حتما همداسې وی .

عامر بن عثمان وويل : آيا ته ما په وژلو ويروې !

انوشې ځواب ورکړ : نه ! خو زه ددې کوښښ کوم چې تاسې ته ووايم چې زما جسم د عيش څرګنده وسيله ده خو زه د جسماني خوندونو څخه بيزاره يم .

زما ښکلا او کړو وړو ته وګوره ! زه بد کوم او بدو ته نور رابولم ما ته خلک شهزادګۍ نه بلکې ښاپيرې وايي ، ستاسې واکمن او لوړ پوړی چارواکو زما په پښو کې سر ټيټ کړی او خپل ايمان يې راباندې قرخ کړی خو زه داسې تږې يم چې د پاکو اوبو څښلو کوښښ کوم ، د تسکين لپاره مې راوبللې نو تا په هغه او دغه باندې ځان خلاص کړ څه چې ما غوښتل هغه ما پيدا کړل او هغه ستا ذات وو- زه تاسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه له کومې غواړم ، دا صورت نه بلکې د سیرت اثر دی چې زما په زړه کې د نورو خلاف کرکه پیدا شوې کوم چې قومي عزت زما د لاس د شرابو په جام کې ډوبه وي .

عامر د احساساتي حالت سره سره د انوشي جذباتي خبرې اترې اوریدلې ، انوشي د عامر لاس ونیولو او وې ویل : ویریږې او که زړه دې کار پرېښودلو .

عامر وویل : زه څه ویلې نشم .

انوشي خپل غوږونه د هغه له سینې سره ولګول ، د هغې د وریښمو په څیر خواره واره ویښتو یو خاص کیفیت سره مخامخ کړ.

انوشي په خندا وویل : زړه خو دې ژوندی دی ټوپونه وهي... زه له تا هیڅ نه غواړم ؟ ! ته له ما څخه هر څه وغواړه زر، ملغلرې ، روپۍ ...

عامر وویل : زما هیڅ نه دي په کار سوډاني ښاپیرۍ !

نجلۍ وویل : ما ته انوشي ووایه ! د سوډاني ښاپیرۍ ویونکو زړونه د محبت څخه خالي دي ، ګناهګاران دي او ته تر ټولو پورته او پاک یې ، له ما څخه خزانه تر لاسه کړه خو د هغه په عوض د مینې زړه راکړه!

عامر وویل : دا نشي کیدای .

انوشي وویل : دومره احساس نه لرې چې یوه ګناهګاره نجلۍ ستاسې په وړاندې د پاکې مینې سوال کوي او د مثبت ځواب په اوریدلو هغه د ګناهونو څخه توبه وباسي او ستا د قدمونو په وړاندې سرکښته کوي .

عامر وویل : الله تعالی دې ورته توفیق ورکړي چې له ګناهونو څخه پرته له ځواب اوریدلو توبه وباسي !

انوشي وویل : داسې ښکارې چې د بل چا سره مینه کوې ؟

نو ای بدبخت انسانه ! دا فکر وکړه چې کومه نجلۍ د حکومتونو تختونه اړوي او یو ورور د بل ورور سره وینې تویولو ته اړباسي نو ستا حیثیت ورته د چنجي پشان دی .

عامر وویل : ډیر ښه ، ډیر ښه .... زه ستاسې وړ نه یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



انوشي د هغه دواړه لاسونه ونیول وی ویل : زه له تا څخه نور څه نه غواړم زما سره کینه !

عامر هیڅ و نه ویل ، پورته شو په خپل اس یې پښه واړوله او روان شو خو حالت یې د هغه مرغی په څیر وو چې په پنجره کې بند او تړپونه وهی .

◈◈◈

عامر بن عثمان ورو ورو هغې لور ته روان وه په کوم ځای کې یې چې د شمس النساء سره د لیدنی او کتنی وعده کړی وه کله چې هغه ځای ته ورسیدلو نو شمس النساء ولاړه وه ، د هغې تر څنګ د اس څخه راکښته شو وی ویل : د ځنډ معذرت غواړم .

شمس النساء وویل : راځه کینه ! کله چې نږدې کیناست نو د عطرو بوی ورڅخه پورته شو شمس النساء ورته وویل : تر اوسه چیری وی ؟

عامر بن عثمان وویل : د اسونو او اوښانو لیدلو ته ورغلی وم ؟

شمس النساء په قهر جنه لهجه وویل : خارویو د کوم وخت څخه عطر لګول پیل کړی دی ؟ داسی ولی نه وایی چې د انوشي په جال کې نښتی وم !

عامر بن عثمان وویل : تر اوسه د هغې په جال کې نښتی نه یم هغې په لاره ولیدم مجبور شم او ورسره کیناستم... د کوم عطرو بوی چې تاسی حس کړ دا د هغې وۀ او ما نه غوښتل چې ستاسی زړه خفه شي . زه ډیر ویریږم شمسی ! نه کوم امیر یم ، نه حاکم او نه سالار بلکی یو عادی منصبدار یم .

شمس النساء وویل : داسی معلومیږی چې ډیر یې اندیښمن کړی یې ؟

عامر بن عثمان ورته وویل: ډیر زیات ! نن هغې خپل زړه زما په وړاندی کیښوده تر دی یې وویل : زه بدکاره یم او د بدکاری په نتیجه کې ورور په ورور باندی وژنم خو ستاسی سره پاکه مینه کوم او د دی په بدل کې چې څه غواړی زه یې پوره کوم ! د الله تعالی په خاطر ووایه شمسی زه څه وکړم ؟

(c) kitabton.com: The Digital Library



شمس النساء وویل : د هغی سره د مینی څرګندونه کوه او هغه راز ورڅخه تر لاسه کړه د کوم لپاره چې هغه دلته راغلی ده .
عامر بن عثمان وویل : زه ددی ښځه ویریږم چې زمونږ تر منځ به اعتماد پاتی نشی .
شمس النساء وویل : زه تاسی الله تعالی ته سپارم .
ای عامره ! کله چې مونږ د حلب ښځه راونیدلو په هغه وخت کې د قاهری یو تن راغلی وو او دا یې معلومول غوښتل چې د عزالدین نیت څه دی ؟ او د صلیبیانو پلان څه دی ؟
خو مونږ صحیح ځواب ورنه کړای شو!
عامر بن عثمان وویل : د سلطان صلاح الدین ایوبی د استخباراتو غړی د ځمکی لاندی ښځه هم خبر تر لاسه کولای شی .
ایا په صلیبی سیمو کې د هغه کوم کس نشته ؟
شمس النساء ځواب ورکړ: ماته مور دا ویلی و چې د اسحاق په نامه یو سربښندونکی او هوښیار تن بیروت ته تللی دی ، صحیح خبر به هغه راوړی خو ددی لوری کوم خبر هلته نه دی رسیدلی .
ددی سیمو راز د عزالدین او عمادالدین په سینو کې پټ دی او د هغوی ښځه تر لاسه کول یوازې انوشی کولای شی .
عامر بن عثمان وویل : هغه چې کوم شی غواړی زه ورته تیار نه یم .
شمس النساء وویل : ته به دا قیمت ضرور ورکوی او دا به یوازې د اسلام د عظمت لپاره ، زمونږ په خپلو کې مینه او د زړه غوښتنی څه معنی نه لری مونږ به د هغه شهیدانو مسئولیت اداء کوو چې د اسلام د سپیڅلی دین په نامه یې خپلی پیغلی میرمنی کونډې پریښی .

▼

مخکې چې کله اسحاق ترکی بیروت ته ورسیده او هلته پدی لټه کې وو چې د بالډون دربار او یا مهمو چارواکو ته ځان ورسوی ،د چا سره چې به چې یې لیدل کتل کول نو ورته به یې ویل مونږ خو کورنی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو په سیمه کې اوسیدلو د مسلمانانو د ظلمونو څخه مو شپې ورځې ترخې تیرولې مجبور شو ستاسې څنګ ته راغلو.

په دغه ورځو کې د مسلمانانو په خلاف تیاری کیدله او نوی کسان په پوځ کې ځیره کیدل ددی لپاره میلې جوړیدلې هر ځوان به خپل مهارت او کمال ښودلو.

د بیروت په یو روزنیز او تربیتی میدان کې د آسونو او نیزو وهلو مسابقه وه چې اسحاق هم ورغی، هلته به دوه کسان په آسونو سپریدل او یو بل به یې د نیزو پوسیله له آسونو څخه راغورځولو . دا مسابقه روانه وه چې یو دم اسحاق تش لاس او پیاده میدان ته ورښکته شو او د یو سپور قوماندان د آس مخی ته ودریده ، هلته چې څومره سیال کوونکی وه هغوي ټولو په کړس کړس وخندل او چیغی یې کړې، لیونی لیونی ! هر چا فکر کاوه چې دا لیونی دی ځکه نه آس لری ، نه یې وسله شته او نه یې زغره اغوستی ده خو د دی ټولو نارو او چیغو سره سره هغه د یو نائب مخې ته ورغی او هغه د نیزی ګذار پری وکړ خو اسحاق ځان یو لوری ته کړ او د هغه نیزه یې ورڅخه ونیوله او په منډه د هغه تر شا په آسپ باندی سپور شو. خلکو چې د هغه دا زړورتیا او کمال ولیده نو ډېر حیران شول ، نائب هغه په غیږکې ونیوه او ښکل یې کړ ځکه چې د کار سړی وو.

اسحاق چیغی کړې ماته آس او وسله راکړې، د زغری څخه پرته مقابله کوم نو هغه ته یوه نیزه او یو آس ورکړل شو او د همدی نایب ( قوماندان ) سره یې مقابله پیل کړه ، نائب له یو لوری آس راپه منډه کړ او اسحاق له بل لوری ، اسحاق د نایب ګذار خطا کړ خو هغه یې په ګیډه کې داسې سخت په نیزه باندی وټومبلو چې له آس څخه وغورځیده او پښه یې د آس په رکاب کې ونښته او آس همداسی د ځان پسی کشکولو.

اسحاق د خپل آس څخه ټوپ کړاو په منډه د هغه په آس باندی سپور شو او نایب یې د ځمکی څخه راپورته کړ، دواړه د آس څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راښکته شول . څرنګه چې نایټ زغره اغوستې وه نو ډیر نه وه زخمي شوی، هغه یو ځل بیا اسحاق په غیږ کې ونیولو او پوښتنه یې ځینې وکړه چې ته څوک او د کوم ځای څخه راغلی یې ؟

اسحاق ورته وویل : د مسلمانانو د سیمې عیسایي یم او دلته راتښتیدلی یم !

مسلمانانو زه په زور باندې په پوځ کې داخلولم خو زه د هغوي څخه کرکه لرم نو ځکه مې کور خوشې کړ او بیروت ته راغلم .

نایټ هغه خپل کور ته د ځان سره روان کړ کور ته په رسیدو یې ورته د ډرانه میلمه په صفت هر کلی ووایه او د کوړنۍ د غړو سره یو ځای په دسترخوان کیناست - نایټ ورته په خپل لاس د شرابو جام ډک کړ او ورته وړاندې یې کړ خو اسحاق انکار وکړ ورته وې ویل : زما قوت خو تاسې ولیدلو ددې راز هم دادې چې زه شراب نه څښم که تاسې راسره مرسته وکړې نو خپل ټول قوت به د صلیب څخه په دفاع کې مصرف کړم .

نایټ وویل : ته اوس چیرته د کوړنۍ سره شپې ورځې تیروې ؟

اسحاق وویل : زه یوازې بیروت ته راغلی یم که سر پناه ځای مې پیدا کړ نو خپل بوډا پلار، بوډۍ مور او خویندې به راولم .

نایټ وویل : زه اوس تا په پوځ کې شاملولی نشم خو ته به زما د ساتوونکي په حیث دنده سرته رسوې .

د هر نایټ سره د څلور تنو ساتونکو اجازه وې زما سره اوس یوازې یوتن شته خو ستاسې په څیر انسان قدر راسره شته !

ستا د خوراک ، څښاک او ... ټولو انتظام به د هیواد د نظامي بودیجې څخه کیږي او په مناسب وخت کې به خپله کوړنۍ هم راولې

دا د جګړې وخت وو او د اسحاق په څیر زړور او باتور انسان ته په قدر کتل کیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د ښه استعداد او ورتیا څښتن و چې رب العالمین پرې پیرزوینه کړې وه نو د هغې شخصه یې ګټه پورته کړه او په ځوو ورځو کې د صلیبي نائټ باوري سړې وګرځیده .

اسحاق نائټ ته وویل : زما د ژوندانه یوه هیله ده او هغه دا چې د مسلمانانو لومړی قبله خو زمونږ په واک کې ده کوښښ وکړو چې حرمین (مکه او مدینه ) زمونږ شي او د اسلام نوم د ځمکې له مخې ورک شي او په ټوله نړۍ د صلیب واکمني شي .

نائټ وویل : ته خوب ګوری ! مسلمانانو ته دومره زر ماتې ورکول اسان کار ندی که مونږ د هغې خاوری په لور سترګې هم واړولې نو ټول مسلمانان به یو شي ، تر اوسه مونږ سلطان صلاح الدین ایوبي ته ماتي ورنه کړه .

اسحاق وویل : تاسي د خپلو وهمونو ښکار شوی یاست، مسلمانان په خپلو کې سره یو نه دي ، سلطان صلاح الدین ایوبي یوازې پاتي دی د حلب او موصل نوی واکمنان عزالدین او عمادالدین ستاسي ملګری دي او ستاسي د مرستي په امید ناست دي .

نائټ وویل : ته ډیر زیات هوښیار او ذهین یې مونږ داسي پلان جوړ وو چې ستاسي د هیلې سره سم وي .

اسحاق وویل : زما پدې وړاندیز باندې لږ غور وکړی او هغه دا چې لکه څرنګه چې سلطان صلاح الدین ایوبي د سرښندونکو ډله روزلې ده یو ډله همداسي ما ته راوسپاری چې زه د هغه روزنه وکړم او په خپل قیادت کې د مسلمانانو په سیمو کې د هغوی زیرمي او ذخیری له منځه یوسم .

نائټ وویل : ددې موقع به درکړای شي .

* * *

انوشي نیمه شپه د عامر بن عثمان ځای ته ورغله وی ویل : ما ته د شمس النساء سره په خبرو اترو ولیدلی آیا هغه له ما څخه ښکلې ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامر بن عثمان وویل : د هغې نوم را ته مه اخله ځان شهزادګۍ ګڼي او ما خپل نوکر .

ما تاسې هم شهزادګۍ ګڼلې او تاسې زه خپل هم سیال وګڼلم ما د ویرې د لرې کولو هڅه وکړه خو بیا هم ویرېږم که چا زه ستاسې سره ولیدلم بیا به د ژوندانه پاتې شپې ورځې په بندیخانې کې تیروم .

انوشې په عامر باندې لاس واچولو وې ویل : که تاسې ته چا په بدو سترګو پورته هم وکتل نو په یوه اشاره به په موصل کې انسانان ونه ګرځي او هر څه به خاورې شي .

ستاسې ویره په ځای ده کیدای شي زه تاسې ته دوکه درکړم څکه زما وجود دوکه ده خو ته ما د یو انسان په څیر وګڼه .

انوشې په چلونو پوهیدله خپل سریې د هغه په غیږ کې کیښودلو او د خپل لاس ګوتې یې د هغه په ګوتو کې ورکړې .

عامر د یو لوی امتحان سره مخ شوهغه ځوان او واده یې نه و کړی هغه خپل لاس ور وړاندې کړ او د هغې په وریښېمن ویښتو کې یې لاس وهل پیل کړل خو الله تعالی یې په یاد شو د هغه څخه یې وغوښتل چې په داسې وخت کې همت او توفیق ورکړي چې خپل نفساني هیله تر پښو لاندې کړي - په خبرو خبرو سهار شو او انوشې د هغه له کوټې څخه ووتله خپلې کوټې ته ولاړه او ویده شوه- عامر له څه خوراک او څښاک وروسته خپلې دندې ته ولاړ .

بیا شپه راغله انوشې د عامر کوټې ته ورغله څرنګه چې هغه د ورځې هم خوب نه وکړی نو سترګې یې د خوب څخه ډکې وې خو بیا هم د انوشې تر څنګ کیناست او په خوږو خوږو خبرو یې ورته وویل تاسې پوهیږئ چې زه مسلمان یم او مسلمان پرته له نکاح څخه د کومې نجلۍ سره یوازې ناسته پاسته نه کوي خو ددې دې ړانه الله تعالی بښنه وکړي نور ستاسې څخه هیله لرم د خپل نفساني خواهش د تسکین غوښتنه راځنې ونه کړې او د هغه وخت انتظار وکړې چې د دواړو نکاح وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انوشي وويل : تاسي چې ما په هره لاره خپلول غواړی دا په ما باندی لویه پیرزوینه ده !

عامره ! زه تاسي حیوان نه بلکې انسان ګنم او زړه مې غواړی ستاسي عبادت وکړم .

بله شپه چې کله انوشي ورغله او د عامر تر څنګ کیناستله وی ویل: ای سپیڅلی انسانه ! زما حالت داسي شوی دی چې یو ځل زه تاسي ؤنه ګورم خوب نه راځي زه به راځم او ستاسي دیدن به کوم ترڅو هغه شیبې راشي چې سره یو شو .

عامر وویل : ای انوشي ! زمونږ مسلمان واکمنان داسي کار نه خوښوی خپله چې هر څه کوی خو مونږ چې یو بل له زړه څخه غواړو هغه نه خوښوی ښایي چې ستاسي حاکمان ښه وی ، داسي نشي کیدای چې دوی راشي او داسیمه ونیسي .

انوشي ښکلي خو چالاکه او پوه نجلۍ وه د کوچنیوالي څخه یې ښه روزنه شوې وه او ډیرو کلاګانو دیوالونه یې را غورځولي وو ، د جابرو او لوړ رتبه چاروا کوڅخه یې غلامان جوړ کړی وه خو د انساني فطرت له کمزوریو او فطري غوښتنو څخه ازاده نه وه .

هر هغه انسان چې د عاداتو له لحاظه چیچوونکی ، داړونکی ، څیرونکی هم وی خو د فطرت د زنځیرونو څخه ازادیدلی نشی کوم چې الله تعالی پیدا کړی دی .

هغې د شرابو نشه لیدلې وه خو د محبت له نیشې څخه خبره نه وه او کله چې په هغې باندی خبره شوه نو عامر به د صلیبیانو په باب چې هر څه پوښتنې کولې نو انوشي به هغه ته صحیح ځواب ورکولو .

که د صلیبیانو د استخباراتو مشر خپل نموني ملغلره لیدلې وای نو یقین یې نه راتلو چې دا هغه نجلۍ ده کومې ته چې دوی سوډاني ښاپیرۍ ویله ځکه له هغې نه معصومه ماشومه جوړه شوې وه او ددې احساس یې نه کولو چې د مسلمانانو د ریښو په ځای خپلې ریښې راوباسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بیروت کې اسحاق د خپل صلیبي نائټ یوازې خاص ساتوونکی نه بلکې د هغه سره دوست او اعتمادي ملګری شوی وه .

هغه ولیدل چې د صلیبیانو بادشاه بالډون د صلیب دومره خیرخواه نه دی څومره چې د خپل خواهش او هیلو غلام دی ، هغه غوښتل په راتلونکې جګړې کې لویه کامیابي تر لاسه کړي او د مسلمانانو کومه سیمه د انعام په ډول لاندې او ازاد واکمن وګرځي .

یوه ورځ نائټ اسحاق له ځان سره روان کړ د بیروت څخه لرې ولاړل بې شمیره پوځ یې ولیدلو چې له دوې وړاندې هلته رسیدلی وه نو نائټ خپل مرستیالان راوغوښتل او په مختلفو ځایونو کې یې د خیمو لګولو لارښوونې ورته وکړې او دا یې ورته وویل : پرون د قاهرې څخه زمونږ جاسوس راغی او دا خبرې یې راوړه چې سلطان صلاح الدین ایوبي د بیروت د محاصره کولو فیصله کړې ده.

زمونږ دا خیال وُ چې هغه به ددمشق له لورې راځي د حلب ، موصل او حرن مسلمان حکمرانان به له ځان سره ملګري کوي او بیا به پر مونږ یرغل کوي خو باورې خبره دا ده چې هغه به زمونږ په زړه وار کوي او بیا به د هغه حکمرانانو چې په پرده کې زمونږ ملګرتیا کوي ورسره ګوري .

که مونږ خبر شوی نه وایي نو په ارام خوب به ویده وایي او دا زمونږ د مرګ زیری وُ .

په تاسې که داسې کسان هم شته چې دا ورته معلوم نه دی چې هغه په محاصره کې ښه تجربه لري .

او د محاصره کولو وروسته پوځ ته یوه لاره پاتې وي چې تسلیم شي بیا د هغه خوښه چې ژوندي یې پریږدي یا یې وژني .

اسحاق دداسې خبرو په اوریدو خولې شو او د ځان سره په دې اندیښمن وو چې د مسلمانانو په منځ کې هم د صلیبیانو جاسوسان شته چې دومره د راز خبر دلته راورسیدلو..

له ځان سره یې وویل : د سلطان صلاح الدین ایوبي په حلقه کې خو یو صلیبي هم نشي کیناستلی دا کار ضرور کوم مسلمان چارواکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی نو د دی نه علی بن سفیان خبرول ضروری دی چې که سلطان په بیروت د یرغل فیصله کړی وی نو په خپل پلان کې دی بدلون راولی.

نائب وویل: ددی خبر نه مونږ دا ګټه اخیستلی شو چې ستاسی د لاس لاندی پوځ او نور پوځیان چې د بیروت څلور خوا پټ شوی کله چې د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ راورسیږی د هرکلی لپاره د ښار څخه یو پوځ راووځی او دا به ورته وښايې چې په دوی باندی په بې خبری کې یرغل شوی دی او د څه مقاومت وروسته به بیرته ښار ته ننوځی کله چې د محاصری دائره تنګه شی نو بې شیمره پوځ به د ښار له لوری او د شا څخه پری یرغل وکړی چې ددی په پایله کې به ټول ووژل شی.

یو تجربه کار قوماندان وویل: آیا هغه لاره معلومه شوی چې هغوي به پری راځی.

نائب ځواب ورکړ تر اوسه خو معلومه شوی نه ده فکر کوم زمونږ د سیمی څخه به تیر نشی.

قوماندان وویل: محترما! دا خو تاسی ته معلومه ده چې بیروت د بحر په غاړه پروت دی نو هغوي خپل بحری ځواک هم استعمالولی شی.

نائب وویل: د هغوي زیات پوځ د بحر له لاری راځی مونږ د هغوي مقابله په اوبو کې نه کوو هغوي ته د ساحل په غاړه د کښته کیدو موقع ورکوو او د شا له لوری به پرې داسی حمله کوو چې کښتی خرابی نشی او نه د تیښتی لاره پیدا کړی.

زما ملګرو! تاسی پوهیږی چې داسی د راز خبری کول ښه نه دی ځکه چې زمونږ د استخباراتو غړی د مسلمانانو په سیمه کې شته همدارنګه به د هغوي جاسوسان هم زمونږ په سیمو کې وی.

یو قوماندان وویل: د مسلمانو واکمنانو نیت څه دی؟

نائب ځواب ورکړ د هغوي له لوری پر مونږ باندی د یرغل هیڅ امکان نشته، د حلب حکمران عزالدین موصل ته راغلی او د موصل حکمران عمادالدین حلب ته تللی دی او دا بدلون زمونږ په مشوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی او ددی امکان هم شته چې یو له هغوي څخه په سلطان صلاح الدین ایوبی باندی د شا له لوری یرغل وکړی .

* * *

د شپې د خوارک او څښاک څخه وروسته اسحاق نائټ ته وویل : څه وخت وروسته به تاسی په جګړه کي مصروف یاست او ما ته به د تللو اجازه نه راکوی چې خپله کورنۍ راولم ښه به دا وی چې ولاړه شم او هغوي له ځان سره راولم .

نائټ وویل : ډیره ښه ده همدا اوس لاړ شه او بیرته زر راځه .

اسحاق غوښتل زر ځان قاهری ته ورسوی خو ددی څخه وړاندی حلب او موصل ته یې تګ ضرور وه ترڅو د هغه ځای د حالاتو نه هم ځان خبر کړی .

اسحاق ښه تکړه سپور وُ او اس چې د نائټ له خوا ورکړ شوی د اعلی نسل څخه وو نو د میاشتو مزل یې په ورځو کې د کولو تجربه درلوده ، هغه مزل کولو او د الله تعالی څخه یې غوښتل چې د سلطان صلاح الدین ایوبی له حرکت څخه وړاندی قاهری ته ورسیږی .

کله چې اس د منډی څخه پاتی شو نو بیا هم تم نشو ورو ورو یې سفر ته دوام ورکړ یو ځای کې تم شو اس ته یې اوبه ورکړی او خوراک ته یې پرېښودلو بیا یې لمونځ وکړ د لږ ساعت لپاره ویده شو کله چې را ویښ شو خوراک څښاک یې وکړ بیا یې په اس پښه واړوله روان شو شپه راغله هغه یې هم په سفر تیره کړه سبا ماښام هغه ځای ته ورسیدولو چې د موصل مینارونه ښکاره کیدل لمونځ یې وکړ او د لمانخه څخه وروسته د خپلو ملګرو کورته ورغی .

* * *

عزالدین مسعود چې میرمن رضیع ته د سیل لپاره کومه تانګه ښودلی وه، مازدیګر په هغه کې میرمن رضیع ، شمس النساء ، خدمتګاره او عامر بن عثمان هغه بڼ ته چې یو لویه چینه په کې وه لاړل چې ددوه شنو غرونو په منځ کې جوړه کړی وه او دا یوازي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمران او لوړ رتبه چاروکو د کورنیو لپاره وقف شوی ټول هلته ورسیدل او کیناستل .

اسحاق چې کله د ملګری کورته ورغی وی ویل : غواړم د خوراک او څښاک وروسته قاهری ته ولاړ شم که څه خدمت وی راته ووایه .

ملګری ورته وویل : څرنګه چې زمونږ سرپرستی اوس دلته میرمن رضیع کوی ښه دا ده چې تاسی له هغی سره وګوری او هغه اوس په شاهی بڼ کې د سیل لپاره راوتلی ده .

اسحاق وویل : دا ډیره ښه موقع ده زه کوښښ کوم د هغی‌سره وګورم عامر بن عثمان د چینی په غاړه میرمن رضیع او شمس النساء ته وویل : د انوشی دوینا له مخی زما یقین دی چې د صلیبیانو پر خلاف جنګ کې به عزالدین او عماد الدین د سلطان سره هیڅ مرسته ونه کړی .

اسحاق بڼ ته ورسیدو او په خواږه اواز یې شعرونه ویل پیل کړل چې د مسلمانانو جاسوسانو تر منځ د پیژندګلوی لپاره استعمالیدل .

خدمتګاره د هرکلی لپاره مخ ته ورغله اسحاق د السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته ویلو وروسته وویل : خوری ! زه غواړم میرمن رضیع سره وګورم ! هغی ته زما پیغام ورکړه چې یو ورور ستاسی لیدل غواړی .

خدمتګاری‌وویل : وروره ! هغی تاسی په غیاب کې پیژندلی یاست راځی . کله چې دوی د چینی غاړی ته ورسیدل عامر، میرمن رضیع او شمس النساء په یو ځای کې ناست وو خبرې اترې یې کولی نو خدمتګاری د سلام کولو وروسته وویل : محترمی دا اسحاق دی ! ټول د خپلو ځایونو څخه پاڅیدل او اسحاق ته یې د کیناستو لپاره اشاره وکړه .

اسحاق وویل : زه د بیروت څخه ستاسی د لیدلو لپاره راغلم او قاهری ته روان یم .

میرمن رضیع وویل : زما محترم ورور صلاح الدین ایوبی ته به وایی چې ما د شهید نورالدین زنګی مقام عزالدین ته ورکړ او په خپلو هیلو می خاوری واړولی او فیصله می وکړه چې عزالدین به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح معنی د هغهٔ ځای نیسي او ستاسي ملګري به وی خو د نکاح کولو وروسته یې په زه بند کې واچولم او د دمشق مسلمانان هم ستاسي په لوري ګوري .

د حلب او موصل پوره حالات دا دي .... خو زه ستاسي څخه غواړم چې د بیروت په ځای موصل او حلب محاصره او دا ایمان پلورنکي حکمرانان د څوکي نه کښته او د عبرت وړ سزا ورته ورکړي او دا سیمه په خپل واک کې واخلي .

اسحاق د بڼ څخه بیرته د ملګري کور ته ولاړ هلته یې خوراک او څښاک وکړ او د حلب په لور روان شو، حلب ته په رسیدلو یې د هغه ځای ملګري سره خبري اتري وکړي بیا یې د قاهري په لور د روانیدلو تکل وکړ چې ددې سفر لپاره ورته د یو غوره اس ورکړي شو .

په هغه شپه چې اسحاق د سیل په بڼ کې د میرمن رضیع سره لیدل کتل وکړل نو انوشي د طبعیت د خرابی په پلمه عزالدین اود هغه د ملګرو غونډي ته ورنغله نو عزالدین د هغي پوښتني ته ورغی ، د هغي رنګ ژیړ شوی وه ، عزالدین خپل طبیب راوغوښت د انوشي لاس یې ونیولو بیا یې په سر باندي لاس ورته کیښوده وی ویل : د بیداري او شرابو اثر دی زه درمل ورکوم امید دی چې روغه به شي .

د هغوي له تللو څخه یې وروسته د سینګار ښکلي بکس پرانسته او د هغي څخه یې یوه ګوته راوویستله د غمی په ځای ډبی چې په هغه کې پوډر وه هغي ورته یو نظر وکتل بیا یې په صراحی کې واچول په خپله بستره کي د ارام لپاره وغزیدله نیمه شپه یې خپله خدمتګاره چې په بله کوټه کې ویده وه راپاڅوله او ورته وی ویل : عامر بن عثمان پسی لاړه شه او له ځان سره یې راوله .

خدمتګاره عامر ته ورغله ورته وی ویل : د انوشي طبیعت ښه نه دی طبیب راغلی وه څه درمل یي هم ورکړل او هغي زه ستاسي پسی راولیږلم چې راشی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامر بن عثمان راغی تر څنګ يې کيناست له پوښتني وروسته انوشي ورته وويل : نن ورځ په بڼ کې څوک و ؟

عامر بن عثمان وويل : زه خو د ميرمن رضيع او شمس النساء سره د عزالدين د لارښووني سره سم د ساتوونکي په توګه هلته څوک چې وه په هغې زما څه کار دی ؟

انوشي د قهر په لهجه وويل : ما خو د خپل زړه راز درکړ او د خپلې مينې څرګندونه مې درسره په اخلاص وکړه خو تا زه هسې خوشې نجلې وشميرلم نو ايا ته ددې ښکاره حقيقت نه انکار کوی چې ستاسې ، ميرمن رضيع ، شمس النساء او خدمتګاری تر منځ چې کوم تن ناست او څه مو ويل ما په حجاب کې د ونې ترشا ستاسی ټولې خبرې اترې واوريدلې .

که هغه مسافر ستاسې تر منځ نه وای نو مابه بل تصور کولو خو اوس ....

عامر بن عثمان په خندا خواب ورکړ زما د داسې خبرو سره څه تړاو نشته بوازې د حکمرانانو د کړو وړو څخه خوند اخلم ؟

انوشي وويل : ته ښه پوهيږې چې زه څوک يم ، زما په يوه اشاره د دې سميې خلک د هلاکت سره مخامخ کيدای شي تا ما ته دوکه راکړه او ماستاسې د مينې په نشه کې خپل مسئوليتونه شا ته واچول او تا خپل مسئوليتونه تر سره کړل بيا هم زما په زړه کې ستاسې سره مينه ده او د هغې ثبوت دادی چې اوس ته ژوندی زما تر څنګ ناست يې او کوم راز چې ما درکړی هغه دی هغه انسان ته ورکړ او هغه له خان سره قاهرې ته يوړ . ما خوهغه په بڼ کې يا لاره کې هم نيولې شو خو ستاسې په خاطر مې دا ونه کړل زه يوه ښکلې دوکه يم خو د دوکې ښکار شوم ته بريالی شوی ، ته بريالی شوی ....

عامر بن عثمان وويل : ما خپل مسئوليت سرته ورسولو ته ما بندې کولې او وژلې شې ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انوښي د سترګو څخه اوښکې رواني شوې وې ویل : تا هیڅوک بندي کولای نشي .

زه د دې ښکلي پنجرې نه ازادي غواړم ته خو شراب نه څښې چې تاسې ته يې وړاندې کړم ...

انوښي پاڅیدله د هغه صراحي څخه چې وړاندې يې پکې پوډر اچولی وه دوه جامونه ډک کړل یو يې عامر ته ورکړ او بل يې پخپل لاس کې ونیولو بیا يې وویل : ګرانه ! دا شراب نه دي بلکې زما د مینې او محبت جام دې چې خپلې شونډې ورسره ولګوی تر اوسه خو دې ماته اجازه را نه کړه چې خپلې شونډې ستاسې د شونډو سره ولګوم .

عامر بن عثمان شربت څښل پیل کړل او انوښي هم ، بیا هغې د عامر د لاسه جام واخیستلو ګذار يې کړ او د هغه په غاړه کې يې لاسونه واچول وې ویل : اوس مونږ ازاد یو ازاد یو ....

عامر بن عثمان وویل : زه دې د دروند خوب څخه راویښ کړم اوس خوب راځي .

انوښي وویل : اوس به مونږ په داسې خوب ویده شو چې پرته د الله تعالی څخه نور څوک مو راویښولی نشي ، ما په دې شربت کې هغه زهر اچولی وه کوم چې هغه نجونو ته ورکولی کیږي چې بل هیواد ته ځي او د اړتیا په وخت کې يې استعمالوي .

زه په دې نړۍ کې نور ژوند کول نه غواړم او تاسې هم ژوندی نشم پریښودلی چې بله نجلۍ ونه وایی چې له عامر سره مې مینه ده.

عامر بن عثمان په ځمکه راپریوت اوروح يې د بدن له قفس څخه ازاد شو انوښي خدمتګارې ته چې د دروازې تر څنګ ناسته وه غږ کړل هغه زر راغله انوښي ورته وې ویل : مونږ هر یو خپل مسئولیت پوره کړاو د زهرو په وسیله په ابدي خوب ویده کیږو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتګاري منده کړه او غږ يې کړل څو شيبې وروسته بې شميره خلک د هغوي په شا او خوا کې ولاړ وو او هر يو به دا پوښتنه کوله چې دوی ولې زهر وخوړل خو د هيچا سره ددې ځواب نه وو .

* * *

سلطان صلاح الدين ايوبي خپلو قوماندانو ته وويل : تاسې ته معلومه ده چې پوځ ته د تياری حکم شوی او په داسې حالت کې په پوځ باندې شپې ورځې هسې تيرول مناسب نه دي او له دې پرته نه غواړو صليبيانو ته د تياری موقع ورکړو مونږ چې کله جنګ کړی نو هغه مو په خپلو سيمو کې کړی او چې ماتې مو ورکړې هم ده نو په خپلو سيمو کې له دې وروسته به زما هر ګام تعرضي وي ، د صليبيانو پوځ په بيروت کې دی او تر اوسه د هغه ځای څخه کوم خبر هم نه دی راغلی که د بالډون پوځ نقل او حرکت کړی وي نو مونږ ضرور خبريدلو زه داسې فکر کوم چې بالډن او نور ملګری يې زمونږ مسلمان چارواکی د خپل ځانونو د پلوی کولو لپاره تياروی او يو ځل بيا مو په خپل منځی جګړو کې مصروفوی نو مونږ به انشاء الله بيروت محاصره کوو او که الله تعالی را سره مرسته وکړه نو دا لوی ښار به تر ولکې لاندې راولو.

يوی مصری تاريخ ليکوونکی محمد فريد ابو حديد ليکلی دی چې پدې غونډه کې حسام الدين لولو د بحری قواوو لوی قوماندان چې په خپل مسلک کې ښه تکړه وو ګډون درلود څرنګه چې بيروت د مديترانی په غاړه پروت وه نو له دې امله سلطان صلاح الدين ايوبی د محاصری لپاره د بحر له لاری د پوځ د ليږلو فيصله هم کړې وه .

کومو مجاهدينو چې په کښتيو کې تلل غوښتل هغوي اوس مونږ د وچې له لاری حرکت کوو او هلته په رسيدلو به يرغل کوو که ښځو ، ماشومانو ، بوډاګانو او ناروغو به لاس نه پورته کوی ، هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به پناه ورکوي او ددې کوښښ به کوي چې پوځیان ونه وژل شي بلکې ونیول شي او لوټ مار به نه کیږي تاسې ټولو ته ددې اجازه ده چې مخالفت کوونکي په هماغه ځای ووژني څومره لوړ رتبه منصبدار چې وي .

د ځمکني قواو تګ به د امن د ورځو په څیر نه بلکې د جنګ په څیر وي ، تم ځاي کې به خیمې نه ودریږي هیڅ سامان به نه پرانستل کیږي ټولو ته به کمې اوبه ورکول کیږي او ورسره څو خرما خو د څارویو د لوړې او تندې نه د ساتلو خاص انتظام به کیږي .

بیا یې د ټولو څیرو ته وکتل او په خندا یې وویل : زما دوستانو ! مونږ تر اوسه د احتیاط له مخې جګړې کړې د حرکت څخه وړاندې مخکې ، وروسته ، ښې او چپ لورته حفاظتي تدابیر نیسو ددې نتیجه دا شوه چې صلیبیانو او یهودانو د مسلمانانو سیمې لاندې کړې زمونږ ورونه د ځان ملګرې کړې او د مکې او مدینه په لور روان دي که طارق بن زیاد د بحر څخه لرې د ساحل سره ناست واي نو په اروپا کې به د مسلمانانو بیرغ نه رپیدلو، که محمد بن قاسم دومره د خطر څخه ډک سفر نه کولو نو هندوستان ته به د اسلام سپیڅلې دین نه رسیدلو .

صلیبیان د ډیرلرې ځایونو څخه زمونږ سیمو ته راغلي نو که تاسې د اسلام د سپیڅلي دین سرلوړي غواړی نو قدمونه په اور باندې کیږدي او که یوازي حکومت کول غواړی نو د مصر او شام دواړه سمیې سره یو کړې او په تخت به کیني اود خطرونو څخه د ځان ساتلو لپاره د صلیبیانو او یهودانو نه مرسته وغواړی او خپل ایمان هغوی سره ګرو کړې .

یو قوماندان پورته شو وې ویل : ښاغلي سلطان ! مونږ ستاسې لارښونو ته سترګې په لار یو .

انشاء الله دنن شپې په اخر کې چې د ۱۱۸۲ م د مې میاشت ده حرکت کوو او له تاسې پرته به بل څوک نه خبریږي .

* * *

د دښتې هغه برخه ډیره ویرونکې وه کومې کې چې د صلیبیانو کاروان روانه وه او اسحاق ترکي د هغوي سره بندي و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرنیا کوښښ کولو چي د اسحاق بن عثمان د سینی نه هغه راز راوباسی کوم چې هغه قاهری ته د ځان سره وړلو، د شپی لخوا هغه ته نږدی ورغله او د هغه د جنسی غریزی د راپارولو کوښښ یې کولو ترڅو پدی توګه هغه د تاثر لاندی راولی اوخه ووایی خو اسحاق بن عثمان هیڅ ونه ویل .

بل لوری ته باربرا داسی هیله لرله چې اسحاق بن عثمان میرنیا ته څه وه نه وایی ، د کاروان د مشر او د میرنیا د محبوب نه وروسته مارټن لوړ رتبه شخصیت وو او هغه د باربرا سره د مینی څرګندونه کوله لکه څرنګه چې د هغی زړه تپی شوی وو نو هر نارینه یې مطلب اشنا ګڼلو مارټن ته یې هیڅ ځواب نه ورکولو .

مارټن ورته وویل : ته خو زما غوښتنه نه منی بیروت ته په رسیدلو به د هغی ګناه سزا درکوم چې په قاهری کې دی کړی ده دا خبره ورته د کاروان مشر هم کړی وه نو ډیره خفه وه .

نو د باربرا وینه هغه وخت ګرمه شوه کوم وخت چې میرنیاهغی ته وویل : ته ددی اهلیت نه لری ستا په سر کې مغز نشه ولاړه شه یوازې د خلکو جنسی خواهش پوره کوه .

او زما کمال دی ولیدلو چې په دښته کې می هم یو مسلمان جاسوس ونیولو او دا زما ښکار دی ، په بیروت کې به زه په هغه انعام تر لاسه کوم نو د هغه خوا ته نوره ورنشی .

باربرا د مارټن څنګ ته ورغله وی ویل : زه ستاسی هری خبری منلو ته تیاره یم خو په دی شرط چې زما سره مرسته وکړی ترڅو د میرنیا او د هغه د مطلبی محبوب نه خپل انتقام واخلم .

مارټن ورته وویل : ډیره ښه ده .

* * *

راتلوونکی شپه د سفر له امله ټول ویده وو، مارټن خپل آسپ د اسحاق د خیمی په څنګ کې وتړلو او زین یې هم ورسره په خوا کې کیښوده ، باربرا د اسحاق بن عثمان څنګ ته ورغله له خوب څخه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوینبس کړ ورته وی ویل : له ما څخه پوښتنه مه کوه چې زما ستاسی سره څه خواخوږی ده هغه زه وم چې درته می وویل : مونږ صلیبی جاسوسان یو ، او تاسی ته دروغ ویل شوی دی چې مونږ مسلمانان یو وخت مه ضایع کوه ټول ویده دی پورته شه ، د خیمی کینې لوری ته اس ولاړ دی په هغه سپور شه قاهری ته ځان ورسوه زه خپلی خیمی ته ځم .

باربرا خیمی ته ولاړه غشی او لینده یې راواخیستل او د لاری څنګ ته کیناستله چې په کومه باندی اسحاق بن عثمان تللو.

اسحاق بن عثمان په ډیر تلوار په اس باندی زین واچولو او په کلاره روان شو څرنګه چې په شګو کې د قدمونو اواز نه پیدا کیده چې لږ وړاندی لاړ په اس باندی سپور شو چپه چپتیا وه.

باربرا په لینده کې غشی کیښودلو اود اسحاق بن عثمان سینه یې نښه کړه او هغه یې پری وویشته چې د هغه په سینه باندی ولګیدلو اسحاق بن عثمان د اس څخه راولویدلو او اشهدان لااله الا الله و اشهد ان محمد رسول الله یې وویله او د شهادت لوړ مقام یې تر لاسه کړ .

اسحاق بن عثمان چې کوم مهم او ضروری راز د ځان سره سلطان صلاح الدین ایوبی ته وړلو هغه یې په سینه کې د تل لپاره پټ پاتی شو، صلیبی نجلۍ هغه ته د مار پشان ټک ورکړ، مار هغه د آس څخه خلاص کړ خو صلیبی انجلۍ هغه له ژوند څخه .

باربرا چیغی کړی وتښتیده وتښتیده... ټول د خوب څخه راویښ شول چا توری راواخیستلی او چا غشی او لیندی په منډه هغه لور ته روان شول کوم ځای کې چې باربرا ولاړه وه یو تن هم مشال بل کړوروسته ورپسی وخوځیده .

باربرا وویل : زه له خوب څخه راویښه شوم چې اوبه وڅښم ومی لیدل چې اسحاق بن عثمان په اس باندی سپریږی ښه خبره خو دا وه غشی او لینده زما په خیمی کې وو ماراواخیستل او ورپسی روانه شوم او هغه می دوه غشی یو د بل پسی وویشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرنیا وویل : باربرا دا څرنګه اتفاق وو چې غشي او لینده ستاسي په خیمې کې وه؟

د کاروان مشر مارټن ته وویل : اس خو ستاسي دی کوم ځای مو تړلی او زین چیرته پروت وو ؟

یوتن وویل : دا اس د اسحاق بن عثمان خیمې ته نیږدې ولاړ و .

باربرا په غصه وویل : تاسي زما په ښه کار خاوری واچولی .

د کاروان مشر مارټن او باربرا ته وکتل وی ویل : زه ستاسي څخه وړاندې په استخباراتو کې وم بیروت ته له رسیدلو وړاندې دواړه ښه فکر وکړی .

* * *

څرنګه چې بالډون دوه ځلې ماتې خوړلی وه نو هغه غوښتل دا ځلی پوره تیاری ونیسي او سلطان صلاح الدین ایوبی ته داسې ماتی ورکړی چې د تل لپاره فلج او بې کاره شي نو هغه پوره تیاری ونیوله .

پدې وخت کې سیف الدین او الملک الصالح دواړه مړه شوی او پر ځای یې عز الدین او عماد الدین د حلب او موصل والیان ټاکلی شوی وه .

بالډون غوښتل یو لوری مسلمانانو ته ماتې ورکړی او بل لوری ته د حلب او موصل والیان خپل ملګری کړی که ملګری نشی نو د سلطان صلاح الدین ایوبی سره مرسته و نه کړی او یو ځل بیا خپل منځنی جګړو ته لمن ووهی.

په همدې خاطر یې د حلب او موصل دربارونو ته صلیبی وران کاری نجونې او سلا کاران ولیږل ترڅو هلته د سلطان صلاح الدین ایوبی په خلاف ټول چارواکی راوپاروی او په هر یو کې د واکمنی خیال او حرص رابیدار کړی .

د سلطان صلاح الدین ایوبی وړاندی تګ ډیر تیز وو د هغه پوځ نیمایی مزل وهلی وه او هغه سیمې ته داخل شوی کوم چې د صلیبیانو سیورې په شوی وو تر هغه ځای پوری د ټولو خیری یوشان ګرځیدلی وی او د دوړ له امله د هیڅا څیره نه پیژندل کیده ، سلطان صلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدین ایوبی او خپنی سلا کاران ددوی تر منځ روان وو او د هغه هم دغه حال وو دا د مې میاشت وه ، دښته د اوسپنې په څیر ګرمه وه او تولو مخونه پټ کړي وو او هیچا پرته له اجازه اوبه هم نشوی څښلی .
په اوښانو او اسونو وار په وار پیاده مسلمان سپریدل او په ټولو فضا کې د لااله الا الله ، لااله الا الله ..... انګازي وی .
خو د دی خبری څخه هغوی ناخبره وه چې پلان لا پخوا رسوا شوی او ایمان پلورونکو صلیبیانو ته خبر ورکړیدی.
هر کله چې پوځ هغې سیمی ته ورسیدلو چې د شګو لوړی غونډۍ وی نو سلطان صلاح الدین ایوبی په یوه غونډۍ ودریدلو مخ یې د پوځ لور ته کړ او وی ویل : قوماندان صارم ! د عملی دندی میدان ته دی خپل سربښندونکی هر لوری ته خپاره کړه چې په لاره کې خنډونه هم له منځه یوسی که حمله پری کیږي نو هم باید مقابله وکړي او له مونږ سره دی په لږ فاصله کې وی .
بالډون خپل زیات پوځ د بیروت څخه د باندی په پټو ځایونو کې ځای پر ځای کړی وه، په مدیترانه کې هم هغه خپلی کښتۍ پټی کړی وی چې مسلمانان کله په غاړه ښکته شي نو هم به د اوبو او هم به د وچی له لاری پری برید کوی او ټول بحری ځواک به ختموی .
سلطان صلاح الدین ایوبی تر ټولو وړاندی روان و ، یو لور ته د ځمکی په مخ داسی اثار ښکاره شول چې ګوندی دلته د مسافرو کوم کاروان تم شوی او یو مړی هم په نظر ورغی چې څه اندامونه یې ښکاره او څه یې په شګو کې پټ وو ، یو مجاهد ورغی وی کتل چې دو غشی یې په سینه کې لګیدلی او د مخ غوښه یې وچه شوی ده .
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : پریږدی دا به د کوم کاروان مقتول وی خو په دی خبر نه وو چې هغه یې تر ټولو باوری سړی اسحاق بن عثمان دی .

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د سلطان صلاح الدین ایوبي لښکر بیروت ته نژدې کېده نو په لاره کې مجاهدینو پټ شوي صلیبیان نیول او وژل یې، د وچې له لارې لښکر بیروت ته نژدې شو او بحري ځواک هم د بیروت په لورې راوخوځېده. امیر البحر ډېر هوښیار سالار وو. هغه خو کوچنۍ کښتۍ مخکې واستولې تر څو حالات وګوري او بیا خبرراوړي چې په ساحل کې څه حالات دي څو هغه کښتۍ بیا رانغلې. نورې کښتۍ یې واستولې چې د هغوي څخه یوازې یو کس ژوندی راخلاص شو او بېرته راغی او دا احوال یې راوړه چې زمونږ ټولې کښتۍ صلیبیانو ونیولې، دوه صلیبیان د بحري ځواک د مجاهدینو لخوا څخه ژوندي ونیول شول هغوي وویل چې د بالډون پوځ د ساحل په غاړه پروت دی او منجنیقونه یې راوړېدي چې کله ستاسي کښتۍ راشي نو په اور غورځوونکي بمونو به مو هر کلي کوي او بحري ځواک هم ځان شاته پټ کړي.

امیر البحر سمدستي دوه کسان سلطان صلاح الدین ایوبي ته واستول چې هغه مخکې خبر کړي چې بیروت محاصره نکړي او بېرته ولاړ شي څو سلطان صلاح الدین ایوبي دا وخت بیروت محاصره کړې او صلیبیانو پرې د شا لخوا حملې پیل کړې وې او محاصره کوونکي پوځ او لښکر یې د زیانونو سره مخامخ کړي وو.

سلطان صلاح الدین ایوبي پدې فکر کې وو چې ولې د شا لخوا حملې کېږي او زمونږ پوځیان له منځه ځي چې په همدې وخت کې د امیر البحر استازی ورغلل او احوال یې ورکړ چې بالډون خپل زیات پوځ د باندې په غرونو او پټو ځایونو کې ځای پر ځای کړی تاسې چې په هر ترتیب کېږي په څه چل باندې شاته ولاړ شي.

سلطان صلاح الدین ایوبي خپلو ګروپونو ته حکم وکړ چې ګام په ګام شاته ولاړ شي او کماندوي ګروپونه یې وګمارل چې د نور پوځ څخه دفاع وکړي او دښمن لرې لرې مصروف کړي خو بیا هم د زیاتو زیانونو په ګاللو سره د بیروت څخه راووتل او محاصره همداسې ناکامه پاتې شوه. په لاره کې ورته د موصل څخه خپل جاسوس د عز الدین د

(c) kitabton.com: The Digital Library



پلانونو او د صلیبیانو سره د هغه د اړیکو په هکله خبر ورکړ او هم یې ورته وویل : ددې ځای څخه مونږ تاسې ته پوره احوال او د بیروت په هکله معلومات د اسحاق ترکی پلاس درلیږلی وو، سلطان صلاح الدین ایوبی وویل چې مونږ اسحاق بالکل لیدلی ندی.

سلطان صلاح الدین ایوبی ډېر په قهر او غصه وه څکه چې لښکر یې زیات زیان لیدلی وو نو نیغ موصل ته ولاړ او هلته یې د موصل کلا محاصره کړه.

قاضی بهاو الدین په خپلو یادشتونو کې لیکلی دی چې دا لسم نومبر ۱۱۸۲ میلادی ( یوولسم رجب المرجب ۵۷۸ هجری )کال وه .

عز الدین په خپل ځان کې دا قوت نه لیده چې د هغه سره مقابله او جګړه وکړی نو سمدستی یې د بغداد خلیفه ته احوال ولیږلو چې زما او سلطان صلاح الدین ایوبی تر منځ روغه وکړي او هم یې ابن لامون د اذربایجان حاکم ته د مرستی احوال واستاوه خو هغه پری سخت شرایط کیښودل نو عز الدین د هغه د شرایطو د قبلولو څخه دا غوره وګڼله چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته تسلیم شي .

په ۱۵ دسمبر ۱۱۸۲ میلادی (په ۱۶ شعبان ۵۷۸ ) هجری باندی د عز الدین او سلطان صلاح الدین ایوبی تر منځ سوله وشوه او سلطان صلاح الدین ایوبی خپل لښکر د نصیبه سیمی ته راوست او هلته یې واړول .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپلو سالارانو ته وویل: د بیروت محاصره ایمان پلورونکو خرابه کړه، ما غوښتل جګړه د صلیبیانو سیمو ته یوسم خو هغوي غواړي بیا خپل منځی جګړی پیل شي .

* * *

* *

*

## ساره او صلیب

د بیروت د محاصرې ناکامي د سلطان صلاح الدین ایوبي دويم خلی ناکامي وه چې د رملي څخه وروسته پېښه شوه ، سره لدې چې هغه بګې نه څه بايلودل او نه يې څه ګټې لاس ته راوړل خو د هغه پلان ګکې له مخکې څخه رسوا کېدل ناکامي وه. صلیبیانو ته دا راز له ناوړي څخه ورسېدلو پداسې حال کې چې پلان د هر پټ ساتل شوی وو.

يو قوماندان چې د سلطان صلاح الدین ایوبي د مايوسۍ حالت وليدلو وی ویل : ښاغلی سلطان ! تاسي دې ته ماتي مه وايي بيروت هغه دی کوم چې وړاندې وو او بیا به هم وي ، مونږ به انشاء الله په هغه يرغل کوو.

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل : دومره لوی ښکار له لاسه ووت ما خو هغه د محاصره کولو وروسته نيولو خو خپله محاصره شوم دا ماتي نه ده نو څه ده ؟

سلطان صلاح الدين ايوبي پخپله خيمه کې پدې غور کولو چې اصلي علت څه دی ؟ دوه سالاران هم ورسره په خیمه کې ناست وه، هغه يو ته اشاره وکړه چې تاسې پدې هکله څه فکر کړېدی؟

يو قوماندان وويل: که تاسې د دې جګړې څخه وروسته نا اميده او ناهيله شي او کارونه په احساساتو کوی نو راتلوونکی به د دې څخه نور هم خراب شي، بايد ټول کارونه په سړه سينه وخیړل شي او بيا د هغې په رڼا کې پلان جوړ شي.

دويم سالار وويل : زه دا فکر کوم چې صلیبیان زمونږ ريښو ته ننوتي دی، مونږ په خپله خاوره کې ناست يو زمونږ جګړه د صلیبیانو سره ده . زمونږ مقصد د فلسطين ازادول دی خو افسوس چې د مسلمانانو په واکمنانو کې يو هم زمونږ سره نه دی ، عزالدين او عمادالدين چیرته دی ؟ ایا هغوی زمونږ سره معاهده نه وه کړی چې د اړتیا په وخت کې به مونږ سره خپل پوځ ملګری کوی ؟ د هغوي سره رویه دانبایي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي د صلبیانو په لاسونو کې لوبیږي ، باید د هغوي دا پلان ناکام او خنثی شي، هغو کسانو چې زمونږ سره ژمنی او تړونونه کړيدی او پټ د هغوي سره ناست دی، د هغوي سره باید نور مونږ خپل حساب پاک کړو یا دی یو لوری ته شي او یا بل لوری ته ، په دوه کښتیو کې کیناستل نور باید مونږ ونه زغمو ، کومو چې زمونږ سره ژمنی کړی وی باید هغه پوره کړی کنه د هغوي ختمول او له منځه وړل پکار دی تر څو به مونږ د دی خلکو د پلانونو ښکار کیږو او د بیت المقدس پر ځای به په نورو سیمو کې جګړی کوو.

سلطان صلاح الدین ایوبی پورته شو بیا یې د اسمان په لوری سترګی ونیولی سوړ اوسیلی یې د خولی څخه ووتلو نو وی ویل : زمونږ د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د امت زوال پیل شوی دی ځکه چې د بی دینه خلکو اثرات قبولوی او د هغه نتیجه دا شوه چې نن یې په خپلو سترګو ګورو .

صلیبیانو او یهودانو د مسلمانانو د غلام ګرځولو لپاره د انسانی فطرت لوی کمزوری استعمال کړه او دا کمزوری حرص دی ، په انسانانو د حکومت کولو حرص ، د پادشاهی حرص ، د واکمنی حرص ، نو کله چې حرص زړه ته ننوځی نو ایمان له زړه څخه وځی او په عقل باندی داسی پرده اچوی چې بیا د خپل دین او وطن سره مینه او د خلکو خدمت یې له یاده وځی ، صلیبیانو او یهودانو زمونږ د حکومت چارواکی همدی حالت ته رسولی دی .

سلطان صلاح الدین ایوبی څو شیبی چوپ شو بیا یې وویل : ایا تاسی دا نه محسوسوی چې دا زما ماتی نه ده چې د ښځو په څیر په خیمی کې خبری کوم ؟ پکار دا ده چې زه اوس په بیت المقدس کې وای او د الله تعالی په وړاندی په سجده پروت وی .

زه د کائیناتو د رب څخه غواړم کومو مجاهدینو چې د فلسطین د ازادی لپاره خپلی وینی ورکړی جنت فردوس او خپل دیدار ورته نصیب کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی د قومندانانو مخونو ته وکتل بیا یې د
نهر په لهجه وویل : آیا تاسی د هغه کورنیو په وړاندی وردیدلی شی
چې زما هدفونو هغوي یتیمان کړل .
ایا تاسی د هغه میرمنو په وړاندی سرپورته کولای شی چې د خپل
ژوندانه ملګری یې زمونږ سره کړی او د هغوی په وینو رنګ رنګ
بدنونه د اسونو او اوښانو د پښو لاندی میده میده شول .
ایا تاسی د خپل صف هغه سرښندونکی خوانان هیرولی شی چې د
دښمنانو په سیمو کې شهیدان شول ؟
زه د هغو میندو څخه ویریږم که ما ته ووایی چې ما ته خپل زوی
راولی او یا ما لومړی قبله ته بوخی چې د ازادی په خوښي کې هلته د
الله تعالی په وړاندی د شکر سجده وکړم نو هغه ته به زه څه وایم ؟
پدی وخت کې د کماندوئ خواکونو سالار صارم مصری هم د سلطان
صلاح الدین ایوبی خیمی ته راغی او په دروازه کې ولاړ وو د هغه
حوصله په خپل خای وه او د هغه سره هیڅ اندیښنه نه وه چې دښمن
زمونږ پلان ناکام کړ خکه هغه پدی پوهیده چې د دنیا په ژوند کې
ډیری تودی او سړی، ډیری ناکامی او بربادی راخی او دا الهی اصول
او قانون دی .
سالار صارم مصری وویل: محترم سلطان! داسی ناکامی باید زمونږ
حوصله خرابه او پیکه نه کړی ، زه تاسې ته ډاډ درکوم چې ډیر زر به دا
ناکامی په بریالیتوب بدلوم ، او د صلیبیانو دا خوشحالی به په غم
اړوم هغوي به ډیر زر پدی پوه شي چې مونږ د غیرتی مسلمانانو بچیان
یو او پدی شیانو خپل همت له لاسه نه ورکوو.
بله دا چې د شهیدانو میندی د خپلو زامنو د وینی حساب نه اخلی!
د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت شیدی د زمزم د اوبو په څیر
پاکی او سپیڅلی دی ، پدی شیدو باندی لوی شوی زامن ستاسی په
حکم نه بلکی د الله تعالی په امر د خپلو وینو قربانی وکړی نو تاسی د
هغوي د وینی مسئولیت په خپله غاړه مه اخلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غدارانو د وینو خبری وکړی زمونږ توری د غدارانو د وینی تږی دی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : صارم ! تاسی زما حوصله لوړه کړه ما ته ستاسی دی ملګرو هم وویل چې نا امیدی او جذباتی کیدلو ته اړتیا نشته .

صارم وویل : ماتی ماتی ده ! خو د تل لپاره نه ده مونږ هغه په فتح بدلولی شو او انشاء الله بدله به یې کړو .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : که خبره د جګړی د میدان وه او زما یو لاس غوڅ شوی وای نو زه نه مایوسه او نه اندیښمن کیدلم چې صلیبیانو او یهودانو د پردی تر شا داسی زهر شیندلی دی خو په دی داده یم چې عام خلک او پوخ د هغو اثراتو نه ځانونه ساتی .

یو قوماندان وویل : ښاغلی سلطان ! مونږ نه امامان او نه خطیبان یو چې خلک په ژبه پوه کړو ، د واکمنی خیال هم را سره نسته مونږ یوازي په توری وهلو او غشی چلولو باندی پوهیږو .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : اي ورونو ! دا خلک د الله تعالی د کتاب قران مجید څخه منکر دی ځکه په هغه کې په ښکاره لیکلی شوی چې یهود او نصارا خپل دوستان مه ګڼی .

صارم وویل : دا خلک په نامه مسلمانان دی د قران کریم سره د هغوي هیڅ اړیکې نشته .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : خو هغوی په ښکاره قرآن په لاس کې نیولی او د کفارو په اشارو چلیږی او خلک تل د داسی مشرانو له لاسه ماتی خوری چې په لاس کې یې قران او په زړه کې صلیب وی دا خلک چې اذان اوری چپ کیږی خو د هغوي په زړونو کې د کلیسا د زنګونه اوازونه وی ، خلک د هغوي اصلی څیره نشی لیدلی او نه د هغو د زړونو په راز پوهیږی نو له دی امله مونږ یو د بل وینی توی کړی .

یو قوماندان وویل : مونږ به انشاء الله ددی سیلاب مخه نیسو خو ستاسی څخه هیله لرو چې بیا د داسی انسانانو سره صلح و نه کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : زما دوستانو ! زه دا فکر کوم چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم امت به په خپلو منځو کې د صلیبیانو او یهودانو په لمسون په جګړو کې ختم شي .
د واکمنۍ په حرص سره ورور د ورور دښمن شوی او د فلسطین خاوره په وینو سره ده .
مسلمان واکمنان په عیش او عشرت کې بوخت دي او لومړۍ قبله د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم امت ته اوازونه کوي خو د اوریدلو څوک نه شته ، که څوک د هغې د ازادولو لپاره پورته شي نو هغوي به هم خپل مسلمان واکمنان دوکه کوي .
تاسي وویل : مونږ ددې طوفان مخه نیسو خو زمونږ د میړنیې څخه وروسته به بیا دا طوفان راپورته شي .
صارم وویل : بیا به یو نورالدین زنګی پیدا شي ، بیا به سلطان صلاح الدین ایوبی پیدا شي او د مسلمانانو میندی به مجاهدین زیږوي او د هغوی روزنه به کوي .
سلطان صلاح الدین ایوبی د طنز په لهجه وویل : دا مجاهدین به د عیاشو واکمنانو په لاس کې لوبیږي او د هغوي مشری به د بې دینه خلکو په لاس کې وي....
سلطان صلاح الدین ایوبی هر قوماندان ته په غور سره وکتل بیا یې وویل : دا خبری به ترڅو کوو د الله تعالی سرښندونکی خبری نه کوی عمل کوی ؟
سلطان صلاح الدین ایوبی خپل پوځ ته د آرام او دمی ورکولو وخت ورکړ او خپله یې د سالارانو سره پرله پسی سلا او مشوری پیل کړې تر څو راتلوونکی پلان ډیر منظم وي. هغه غوښتل تر څو پوری چې دلته وی باید پوځ ارام وکړی چې زخمیان روغ شي او څه کمی چې راغلی هغه هم پوره شي .
سلطان صلاح الدین ایوبی سالار صارم مصری ته وویل: تاسې خپل تولګی په مهمو او ضروری ځایونو کې ځای پر ځای کړی او هر لوری ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګزمې کوي داسې نه چې دښمن زمونږ د بې پروايي او غفلت څخه ګټه پورته کړي .

سالار صارم ورته ووېل: ما خپل ټول سربښندونکي په مهمو او اړينو ځايونو کې ځای پر ځای کړي خو داسې معلوميږي چې پدې سيمه کې صليبيان شته ځکه چې زمونږ په کسانو باندې ناڅاپي حملې او غلچکي بريدونه کيږي .

ددې خبرو څخه دوه درې ورځې وروسته په يو کلي کې صليبيانو په عامو خلکو باندې بريد وکړ او د هغوي څخه يې زيات شيان په زور واخيستل ، د کلي خلکو مقاومت وکړ او په همدې وخت کې د صارم مجاهدين هم ورورسيدل چې د کلي خلکو او مجاهدينو ټول صليبيان ووژل او يو يې د پلټنې لپاره ژوندی ونيوه ترڅو د هغه څخه معلومات واخلي، هغه اقرار وکړ چې دلته زمونږ زر کسه کماندويان راغلي او په مختلفو سيمو کې ځای پر ځای شويدي خو مرکز نه لرو چې ټول يو ځای واوسيږو.

* * *

د بيروت په ښار کې بالډون بيا صليبي واکمنان او خپل لوړ پوړي قوماندانان د سلا مشورې لپاره راغوښتي وه چې د دوی په درناوي کې يې لوی ميلمسيتا کړې وه ، هرلوري ته ښايسته او حسيني نجونې ګرځيدلې چې د وريښمو په نريو جامو کې د بدن هر غړی ورځنې له لرې ښکاريدلو يوی او بلې خوا د شرابو جامونه خلکو ته وړاندې کيدل او دوه درې نجونو د نڅا سره سره سندرې ويلې او محفل ګرم وه په ميلمنو کې د دوه تنو زيات درناوی او عزت کيدلو .

د دربار يو خدمتګار راغی هغوي ته يې ووېل : اعليحضرت خاص دربار ته غوښتي ياست ! دواړو د شرابو جامونه نجونو ته ورکړل او روان شول ، په ساتونکو کې يو تن د ګلبرټ جيکب په نامه هم وو چې لوړ قد او ښايښته څيره يې لرله او د هغو ځوانانو له ډلې څخه يو وه چې په داسې ميلمسيتاو کې به توره په لاس يوی او بلې خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېده او هغه دا دوه تنه د سترګو لاندې ساتل تر هغې چې دربار ته ننوتل او د هغه له سترګو غيب اودروازه بنده شوه .

د دربار يو پيره کوونکي وويل : ګلبرټ جيکب دلته څه کوي ؟ هلته لاړه شه کوم ځای چې ښاپيرې نڅا او سندرې وايي مونږ خو ددې لوی نعمت څخه بې برخې يو . ګلبرټ جيکب په ټوکه ورته وويل : دا دوه تنه مسلمانان ښکاري !

يو پيره کوونکي وويل : ستاسې په دې کې څه دلچسپي ده ؟

ګلبرټ جيکب وويل : تاسې له ما څخه پوښتنه کوي چې په هغوي کې مو کومه دلچسپي ده؟

ايا تاسې په دې نه پوهيږې چې د مسلمانانو په خلاف د خلکو په زړونو کې څومره کرکه ده ، د دوی حفاظت زمونږ په غاړه دی خو دا راته نه دې ويلی شوی چې دا مسلمانان دي او که د مسلمانانو د سيمې عيسايان .

پيره کوونکي وويل : دا مسلمانان دي د موصل څخه راغلي او د عزالدين استازی دی .

ګلبرټ جيکب وويل : د سلطان صلاح الدين ايوبي په خلاف به د مرستې اخيستلو لپاره راغلي وی خو دی استازو ته به څوک ووايي چې د سلطان صلاح الدين ايوبي پانه زيږه ده ، په رمله کې يې ماتې وخوړه و تښتيده بيا د بيروت د محاصرې لپاره راغی د هغه بحري ځواک په ساحل د قدم ايښودلو جرائت هم ونه کړ زه په دې افسوس کوم چې ولې زمونږ پوځ د هغوي پسې نشو که نه نن ورځ به هغه په بنديخانې کې وای .

يو پيره کوونکي په طنز وويل : څه دوسته ! خپل کار کوه ! که سلطان صلاح الدين ايوبي بندی شي نو د هغه سلطنت تا ته څوک نه درکوي او که بالډوين بادشاه مړ شي نو بيروت بادشاهي ستا په نوم نه ليکل کيږي .

سلطان صلاح الدين ايوبي چې کله د بيروت له محاصرې څخه په شا شو موصل ته روان شو ، عزالدين قاضي د صلح د وړانديز سره وليږلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو سلطان صلاح الدين ايوبی يې وړانديز قبول کړ خو ددی سره سره يې د پردی تر شا دوه خپل قوماندان صليبيي بادشاه بالډون ته هم ولیږل ترڅو له هغوي سره خبری اتری وکړی .

استازو ليکلی پيغام له ځان سره نه درلوده ځکه چې په لاره کې ويريدل .

استازو بالډون ته د عز الدين پيغام په ژبه وړاندی کړ او ويی ويل کله چې صلاح الدين ايوبی د بيروت ښخه په شا تللو تاسې بايد تر اخره پوری د هغه پسی شوی وایی او هغه مو ښه ټکولی وایی، تاسې پدی برخه کې ډېره غلطی وکړه چې هغه درڅخه روغ رمټ شاته ولاړ، اوس تاسې سمدستی د دمشق په لوری پرمختګ پيل کړی، تر څو چې صلاح الدين ايوبی خبريږي تاسې به هغه ښار محاصره کړی وی، کله چې صلاح الدين ايوبی په تاسې بريد او حمله کوي نو مونږ او د حلب پوځ به په هغوي غلچکی بريدونه کوو تر څو هغه په لاره کې ښه ځنډ شي او تاسې د دمشق ښار ونيسی، مونږ پدی لړ کې د کوچنی کوچنی قلعه ګانو د استعمال اجازه درکو خو په موصل ښار کې د اوسيدلو او مرکز اجازه نشو درکولای ځکه چې هغوي ته څرګنده نشی چې مونږ ستاسی سره ملګری يو مونږ هغوی ته دا ښودل غواړو چې مونږ ستاسی دوستان يو، نور مونږ هر ډول مرستی ته چمتو يو خو چې تاسې زر تر زره ګام پورته کړی .

کوم وخت چې استازو د عزالدين پيغام بالډون ته رسولو نو د هغه تر څنګ دوه پوځی مشاروين ناست وو .

بالډون وويل : درنو عزتمندو ميلمنو ! که مونږ دمشق محاصر کړو نو هغه به د شاه له لوری يرغل وکړی يا ښايی د محاصری وړاندی خبر شی لکه څرنګه چې شاهين د لری ښخه خپل ښکار وينی او بيا پورته کيږی داسی به زمونږ پشا تګ محال شی او په ميدان کې د مخامخ جګړی لپاره تيار نه يو مونږ اوس د تياری کولو په حال کې يو خو يو ځای بل ځای به غلچکی يرغلونه کو ؤ او هغوي به ارام ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریږدو ، ددې لپاره یولوی مرکز ته اړتیا شته او ورسره د خوارک ښښاک انتظام چې تاسې به یې کوئ .

د عزالدین لخوا استازو پوره اختیار درلود نو تړون یې لاسلیک کړ ، کله چې دوی له دربار څخه خپل ځای ته ولاړل نو یو مشارو بالډون ته وویل : اوس د خپلو کسانو لپاره یو مرکز ته اړتیا شته چې ورو ورو به پوځ هلته لیږو او عزالدین به د هغه ځای څخه وباسو .

او دا زمونږ د ټولو مسئولیت دی چې مسلمانان سره یو نشي او خپلو کې په اخ او ډب اخته وی چې ددی په نیتجه کې مونږ ورځنی سیمې تر لاسه کړو .

بیا یې د میلمه پالو مشر راوغوښتلو ورته وی وویل : دموصل نه چې کوم دوه تنه میلمانه راغلی د هغوي ډیر قدر او عزت وکړی .

هغوي غوښتل څو ورځی ښی مزې او چړچی وکړی او بیا موصل ته لاړشی ، نو په خپلو بدو عملونو اخته او بوخت شول .

په دویمه شپه د موصل یو استازی د ماڼی او قصر د دلالانو څخه وغوښتل چې یوه ښه ښایسته او حسینه انجلۍ ورته د شپې لپاره پیدا کړی .

د بالډون په دربار کې بی شمیره سندر غاړی او ډمی وی چې په هغوي کې یوه ډېره ښایسته او حسینه نڅا کوونکی نجلی هم وه چې ساره نومیده هغې یوازې نڅا او ګډا کوله .

ساره اصلاً د موصل وه او څو کاله مخکې کوم ضلیبی راتښتولی او بیروت ته یې راوستی وه.

ګلبرټ جیکب چې د بالډون په دربار کې ساتوونکی او باډی ګارډ وه ساره یې ډېره خوښیده .

یوه شپه ساره د پروګرام څخه وروسته خپلی کوټی ته روانه وه چې ګلبرټ جیکب ورسره مخامخ شو ساره ورته وویل : زه یوازې یم که تاسی زما سره تر خپلی کوټی پوری ملګرتیا.وکړی ډیره مهربانی به مو وی .

ګلبرټ جیکب وویل : مه ویریږه دلته تاسی څوک نه تښتوی .

ساره په خندا وویل : ما څوک نشی تښتولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساره چي گلبرټ جيکب خوښيدلو دا څه د حيرانتيا خبره نه وه ځکه هغه د ښکلي ځواني څښتن او خوږه ژبې يې درلوده .

گلبرټ جيکب د هغې سره کوټې ته ولاړ او هلته ورسره کيناست نو ساره ورته د شرابو جام وړاندې کړ ، جيکب د شراب څښلو څخه ډډه وکړه نو هغې ورته وويل : داسې معلوميږي چې تاسې مسلمان ياستې او هسې مو خپل ځان باندې عيسايي نوم ايښې او دلته د عيسايي په نامه کار کوی .

ساره ! د مسلمان نوم گلبرټ جيکب نه وی او هغوي ته داسې دنده نه وويل : ټول خلک زما د نڅا ستاينه کوی خو تاسې ؟

گلبرټ جيکب وويل : هيڅکله به زما په ژبه د خپل فن ستاينه وانه اورئ البته ستا په جسم کې د جادو اثر دی ، ښکلی جسم لرئ خدائ چې ستاسې په څيره کې کوم کشش پيدا کړی هغه د خدائ بندگان ځان ته راکاږی خو دا جسم د نڅا سره ښه نه ښکاری که دا جسم د يو نارينه په واک کې وای نو ډيره به ښه بريښيده چې په هغې يې پرده اچولی .

ساری په حيرانتيا وويل : ته څه خبره کوی ؟ عيسايان خو په خپلی ناوی باندی د تگ په وخت کې پرده نه اچوی .

گلبرټ جيکب په خندا وويل : زما په دماغ باندی مسلمانان سپاره دی زما تر اوسه نکاح نه ده شوی خو د مسلمانانو ودونه مو ليدلی دی .

ساره وويل : زه تا ته د زړه خبره کوم او ستا نه يقين رانشي چې زه د مسلمانانو رسم او رواج خوښوم او ددی وجه دا ده چې هغو پخپلی ناوی باندی پرده اچوی بيا څو شيبی څپ شوه اسويلی يې د خولی ووت وی ويل کله چې ښځه بی پردی شی نو هغه ته بيا دا څرگنده شی چې په پرده کې کوم روحانی ډاډ شته هغه ورځنی واخيستل شو .

په نڅا او سندرو ويلو کې هم کوم خوند نشته او د خپلی ښکلا په جادو کولو باندی هم خوښه نه يم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې کله يوازې د هنداري په وړاندې ودرېږم نو هلته ما ته يو بد انسان تر سترګو شي زه خپل عکس نشم کتلائی په هغه باندې پرده نشم اچولی البته زما په روح باندې توره پرده پرته ده.

ګلبرټ جيکب وويل: که ته نځا نه خوښوی نو هغه پرېږده.

ساره وويل: که ددې ځای څخه لاړه شم نو بيا به د فحاشي مرکزونو ته ځم... زه له تا د يوې خبرې پوستنه کول غواړم او هيله لرم چې حقيقت را ته ووايې او هغه دا چې ايا ته ماخوښوی او که زما سندرې او نځا ؟

ګلبرټ جيکب وويل: زه هغه ساره خوښوم چې ددې دندې نه کرکه کوی تل خفه او پريشانه وي.

ساره وويل: ته پوځ ته ولې راغلې يې تاسې بايد د يو کلي په کليسا کې د يو راهب په توګه ژوند تيرولی؟

ساري د ګلبرټ جيکب په اوږه لاس کيښوده وي ويل: زه په يقين سره وايم چې ته مسلمان يې او که ته نه وې نو ستاسې کورنۍ مسلمانه ده ، د شرابو بوی دې نه خوښيږي ، ښځه په پرده کې ليدل غواړې ، سندرې او نځا دې نه خوښيږي.

نود زړه خبره په ژبه درته کوم چې له دې امله زما خوښ يې ! ځوک چې ما ته ګوري په دې نظر را ته ګوري چې خپل جنسي اړتيا را څخې پوره کړي يوازې او يوازې ته زما د زړه درد احساسوی:

ګلبرټ جيکب وويل: هو ! دا درد ما محسوس کړی دی.

د ميلمستيا په ځای کې چې ګلبرټ جيکب کله ساره ونه ليدله نو انديښمن شو د ځان سره يې وويل: ښايې ناروغه به وي نو پوښتنه کول يې ضروري دي ! څرنګه چې د هغې هستوګن ځای د شاهي ماڼی په څنګ کې وو او د نورو بې شميره نجونو سره شپې ورځې تيرولې د هغې په لور روان شو. کله چې هلته ورسيدلو تول ويده وو نو دروازه يې پرانيستله مشال يې بل کړ ، ساره د معصومې ماشومې په څير په کټ کې پرته وه او د مديترانې يخ باد يې ويښتان ورو ورو خوزول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبرټ جیکب خپل لاس د هغې په تندي باندي کېښووده ساره
سترګې پرانستلې وې ویل : څوک یې ؟
دلته ولې راغلی یې که زما لیدل دې مقصد وو نو غوښتلې به دې
وای که چا ولیدلو نو ټول عمر به د بندیخانې د تورو تنبو تر شا د
ژوندانه شپې ورځې تیرو راځه کینه .
ساره پاڅیده او مشال یې مړ کړ، بیرته راغله او په کټ کیناستله
وې ویل : دا وخت دې څرنګه په یاده شوم .
ګلبرټ جیکب وویل : په میلمسیتا کې می ونه لیدلې نو دا ګمان
می وکړ چې ناروغه به یې نو ستاسې پوښتنې ته راغلم په بل کوم
نیت نه یم راغلی نو اوس راته ووایه ناروغه خو نه یې ؟
ساره وویل : ګرانه ! زه روغه یم خو روح می ناروغه دی !
نن ورځ چې ماته کله وویل شول چې د موصل څخه دوه تنه میلمانه
راغلي نو زما د وجود غړي سست شول او سر راباندې وګرځیدولو،
راپریوتلم خو په ډیر تکلیف مې ځان دې کټ ته راورسولو، ستا د
مسیحا لاس په ایښودو راویښه شوم .
ګلبرټ جیکب وویل : زه ستاسې څخه هم ویریږم چې ووایم د موصل
د خلکو سره ستا څه اړیکې دي ؟
ګلبرټ جیکب د ساره لاس ونیولو وې ویل : ته به راتښتولې شوې یې ؟
د ساره او ګلبرټ جیکب سترګې د کړکۍ تر څنګ په سیورې باندې
ولګیدلې نو دواړه ودریدل بیا ساره ګلبرټ جیکب ته په غوږ کې
وویل : د کټ لاندې شه او خپله په کټ پریوتله ، د کړکۍ تر شا د هغې
بوډۍ غږ شو کومه چې د شپې لخوا د نجونو د څارنې لپاره ټاکلې شوې وه !
بوډۍ وویل : ته خو ویده وې ستاسې سره چا خبرې اترې کولې .
ساري په داسې ژبه ځواب ورکړ لکه چې اوس د خوب څخه راویښه
شوې وې ویل څوک یې ؟
بوډۍ وویل : بد سترګې زه درځم او خپله پیژنګلوی درسره کوم
چې بیا ستاسې مخ هم ونه ګورم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساري ګلبرټ جيکب ته وويل : دا ډيره خبيثه ښځه ده په پټه د نجونو دلالي کوي ستاسي په تللو کې زما خير دی .
ګلبرټ جيکب د کړکۍ له لارې بهر شو نو ساري مشالونه بل کړل ، دروازه خلاصه شوه بوډۍ راننوتله ، ساره ته يې وويل : تا له چا سره خبرې اترې کولی ؟
ساره وويل : ته د خپلو غوړونه علاج وکړه .
بوډۍ هر لورته وکتل بيا يې وويل : ستاسي د کټ او کړکۍ تر منځ په خمکه باندی چې کوم دسمال پروت دی دا د نجونو نه دی ؟
ساره وويل : زه خپل عفت او عصمت نه خرڅوم او ته ما ښه پيژنی .
بوډۍ د هغی په اوږو لاس کيښوده وی ويل : زه پوهيږم چې ته يوه ډمه يې او د ډمی مقام په ټولنه کې څه وی په دی هم ته ښه پوهيږې .؟
ساره وويل : د مطلب خبره وکړه !
زه ستاسی ځخه نور څه نه غواړم پرته له دی چې زه کله تاسی ته ووايم له ماسره لاړه شه د يو انسان د زړه خوشحالو لپاره انکار ونه کړی .
ساره وويل : ډيره ښه ده !
بوډۍ د هغی په سرباندی د مينی لاس کيښوده او وی ويل : ته ډيره ښه نجلۍ يې د مشرانو خبره منی !
د صليبيانو واکمنو ته به چې کوم ميلمانه راغلل نو د هغوي هرډول خدمت به نجونو کولو خو د کومو نجونو ځخه به چې هغوي ډاډه نه شول نو د خپل نفسی غوښتنی د پوره کولو لپاره يې نوروته ښه بيه ورکوله .
د مانې د ميلمه پال د اجازې پرته يوی نجلۍ هم د نارينه سره ناسته پاسته نه شوه کولای او د سرغړاوی په صورت کې به ورته درد ناکه سزا ورکول کيدله .
سهار بيا بوډۍ د ساره کوټې ته ورغله ورته وی ويل : د شپې شوی زمنی په اساس راغلی يم ، وايم چې نن کوم دوه ميلمانه د مسلمانانو د سيمی ځخه راغلی ډير شتمن هم دی ، نن شپه بايدد هغوي ځنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشی او که انکار کوی نو د خپل ژوندانه شپی ورځی به په بندیخانې کې د تورو تنبو تر شا تیروی .

ساره وویل : که چا ولیدلم نو بیا ؟

بوډی وویل : د هغه ژبه بندول زما کار دی !

ګلبرټ جیکب د مانې څخه راووت په تنګو او تیارو کوڅو کې د مزل کولو وروسته د یو کور مخ ته ورديده پدی کې یو سړی اوسیده چې په ښار کې یې د آسونو نعلونه جوړول او نوم یې حاتم وو،دا غریب او بی کسه معلومیده او هیچا هم پری شک نه کاوه خو په بیروت کې د سلطان صلاح الدین ایوبی د ټولو غازیانو مشر وو، ګلبرټ جیکب چې دوازه وټکوله اواز راغی څوک یې ؟

ګلبرټ جیکب وویل : ستاسی دوست حسن الادریس !

دروازه پرانستل شوه اووی ویل : هرکله راشی چا خو تعقیب کړی نه یې !

ګلبرټ جیکب ځواب ورکړ: نه ! د لادینو د میلمستیا څخه اوس وزګارشوم !

د سلطان صلاح الدین ایوبی د استخباراتو غړی حسن الادریس د ګلبرټ جیکب په نوم په پوځ کې ځان څیره کړ څرنګه چې دنګه ونه او ښکلی ځوانی یې درلوده نو د مانې په خاصو کسانو کې وګمارلی شو هغه به چې څه لاس ته راوړل نو خپل مشر حاتم ته به وی ویل او هغه به مرکز ته لیږل .

حسن الادریس خپل مشر حاتم ته وویل : د موصل څخه د عزالدین دوه تنه استازی د کوم پیغام سره بالډون ته راغلی دی د میلمستیا له ځای څخه دربار ته وغوښتل شول .

حاتم وویل : ددوی تر منځ څه خبری اتری شوی .

حسن الادریس وویل : څرنګه چې خبری اتری د بندو دروازو تر شا وی ما څه معلوم نه کړای شول خو چې کله استازی د بالډون له دربار څخه راوتل نو ډیر خوښ وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاتم وویل : زه ډیر افسوس کوم چې تر اوسه مونږ کوم داسې خبر و نه لیږلی شو چې هغوی ووایي : زمونږ ورونه خپله دنده په ښه ډول سرته رسوي .

حسن الادریس وویل : مونږ خو خپله دنده په ښه شان سرته رسولې ده ، اسحاق مو په خپل وخت ولیږلو الله تعالی پوهیږي چې ولې ندی رسیدلی ؟

حاتم وویل : د بیروت په محاصره کې چې د مسلمانانو کوم مالي او ځاني زیان شوی دی د هغې د پوره کولو کوښښ باید وکړو او د هغه لپاره به دا خبر ډیر مهم وی چې د موصل واکمن او د بیروت بادشاه په منځ کې چې کوم تړون شوی هغه په څه ډول دی .

سلطان صلاح الدین ایوبي د لوی خطر سره مخ دی ځکه هغه په دی داډه دی چې د دوستانو تر منځ ناست دی خو په حقیقت کې د دوستانو په جامه کې د ښمنانو محاصره کړی نو تاسې دا لاره پیدا کړی چې له حقیقت څخه خبر شوو!

حسن الادریس وویل : د بالډون او سلاکارانو څخه خو پوښتنه نشي کیدای خو د هغه دوو تنو څخه راز اخیستل کیدائ شي .

زه د لارې پیدا کولو کوښښ کوم او که بریالی نشم نو په لار کې یې نیسم او یا د مجبورۍ له مخې یې وژنم .

حاتم وویل : که د هغوی وژل وی نو هغه دلته هم کولای شو په و... زمونږ مسئله نه حل کیږي .

حسن الادریس پورته شو وی ویل : زه کوښښ کوم زما د کامیابۍ لپاره دعا وکړی .

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبي د پړاو څخه لرې په لوړو ځایونو باندې پوستې اچولې وې چې په هغوی کې به تقریبا څلویښت تنه مجاهدین وو ، یوه ورځ ماښام دوه مجاهدین په اسونو سپاره ګزمه یې کوله چې دوه درې غشي راغلل او د هغوی په سینو ولګیدل او د شهادت جامونه یې وڅښل ، بله ورځ بیا صارم مصری یو ټولګی د سیمې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلیبیانو د پلټنی پسی ولیږولو کله چې د غر لمن ته ورسیدل نو یو مجاهد ماشوم ولیده چې په یوه کنده او یوی سمڅه کې پټ شو هغه خپل ملګری ته وویل : تاسی کوچنی ولیدلو ؟

سرښندونکی مجاهد په خندا وویل : دوسته ! کوم ګیدړ به وی .

مجاهد وویل : زما سترګی ما ته دوکه نه راکوی راځه چې هغه ځای ته ورشو کله چې هلته ورسیدل نو یوه سمڅ وه چې د خولی څخه یې د انسانانو اواز اوریدل کیدلو نو هغه مجاهد خپلو ملګرو ته چې د غر په لمن کې وو اشاره وکړه چې راپورته شی بیا یې په لوړ اواز وویل : د سمڅی څخه راوځی که نه ټول به ووژل شی .

د سمڅی څخه یوه ښځه راووتله په ژړا یې وویل : ما ووژنی خو زما کوچنیانو ته څه مه وایی .

یو مجاهد وویل : مونږ په ښځو، کوچنیانو، بوډاګانو او ناروغو باندی هیڅکله لاس نه پورته کوو .

ښځی وویل : دوه ورځی وړاندی ستاسی په څیر پوځیان زمونږ کلی ته راغلی وه ټول کورونه یې ولټول بیا یې خلک په یو ځای کې راغونډ کړل زما د خاوند سر یې په توره له تنی وواهه بیا یې وویل : زمونږ د اوسیدلو څخه څوک خبر نشی او د اسونو د خوراک انتظام وکړی او د سرغړونی په صورت کې به هر یو داسی ووژنو .

بیا یې په مونږ دوه کورونه خالی کړل او په هغه کې اوسیدل پیغلی نجونی یې د خپل خدمت لپار وګمارلی ، مونږ د شپی د هغه کلی څخه راووتلو الله تعالی پوهیږی چې هغوی به اوس وی او که نه !

د اسلام د سپڅلی دین سرښندونکو د هغه کلی په لور مخ کړ ، کله چې هلته ورسیدل نو صلیبیانو هغوی ولیدل څو ښځی او کوچنیان یې سره یو ځای کړل او توره یې د هغوی په سرونو باندی کیښودلی وی ویل : مونږ ته لاره راکړی چې په امن کې خپل ځای ته ولاړ شو او که نه نو بیا ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجاهدینو قوماندان ورته وویل : د صلیب لپاره جګړه کوونکو! ښځې او کوچنیان خوشې کړی او د میړنو په څیر مقابله وکړی .

د صلیبیانو قوماندان وویل : تاسې اوس زمونږ په مخ کې مه خندیږی .

یوه میړمن چې د صلیبیانو د تورې لاندې وه وویل : ای د حق د لارې غازیانو راوړاندې شی دوی د خپلو اسونو د پښو لاندې کړې یو هم ژوندی ... صلیبی په توره د هغې میرمنې سرغوڅ کړ ، بله نجلۍ د هغه کور په دروازه کې ولاړه وه کوم کې چې صلیبیان اوسیدل او هغې ورته خدمت کولو غږ کړل : د کورونو له دروازو مه ګوری دا بې دینه زړور نه دی ! همت وکړی مرګ په نیته وی ، ددی سره خلک څه چې لاس ته ورغلل په صلیبیانو راپریوتل په خو شیبو کې یې هغوی ووژل ، یوازې دوه تنه په اسونو سپاره او په منډه یې کړل چې مجاهدینو محاصره او ژوندی یې ونیول بیا یې هغه د استخباراتو مرستیال حسن بن عبدالله ته وسپارل هغوی د تحقیق په لړ کې وویل : مونږ تقریبا زر تنه یو ، مرکز نه لرو په تاسې باندې د غلچکې یرغلونه لپاره رالیږل شوی یو .

* * *

حسن الادریس ساری ته ورغی او وی ویل : ګرانې ! له ما څخه وروسته بوډی ستا سره څه وکړل ؟

ساره ځواب ورکړ: زه دومره ښه نجلۍ نه یم د الله تعالی لو ګناهګاره یم هغې بوډی راته وویل : د موصل میلمنو ځای ته ورشه او هغوی د نفسانی اړتیا پوره کړه ، ښه بدله به درکړی ما هغې ته ښه وکړه خو هیڅکله ورته تیاره نه یم .

د بالډون نظامی سلاکار البرتو د ایټالیا اوسیدونکی او نیک خویه دی ، پاکو نجونو ته په درنه سترګه ګوری ورځم او د بوډی د کړو وړ څخه یې خبروم که زما دا کوښښ ناکام شو نو خپل ځان وژنم .

حسن الادریس وویل : ګرانې ! ته عیسایی نه یې ځکه د نفسانی غواهش په مقابل کې د قیمت اخیستلو څخه انکار کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبرټ جیکب ساري ته وکتل او وی ویل: زما نوم حسن الادریس دی د شام اوسیدونکی یم.

ساره وخندل وی ویل که زه چا ته ووایم چې ته عیسایی نه بلکې مسلمان یې نو بیا به څه کوي؟

ګلبرټ جیکب وویل: زه به ستاسي د سترګو په وړاندې غائب شم. جاسوس خپل خان ته خرګندوي او چې کله خان ونیایي نو بیا په لاس نه ورځي ... خو ساري! زه په تا باندې ددې خبرې باور لرم چې ته د کومې مسلماني کورنی تجلی یې او دلته کیدای شی چا په زور راوستې وی.

ددې خبرې سره د ساره رنګ زیړ شو، د سترګو څخه یې اوښکې رواني شوي وی ویل: زما نوم سائره او د موصل اوسیدونکې یم. دوه کاله مخکي یو صلیبي له کور څخه راوتښتولم او د هماغه وخت څخه دلته نخا کوم خو دا کار مې د زړه څخه بد راځي خو څه وکړم. زما پلار دومره بدکار او ګنهګار دی چې زه د هغه د ګناهونو ښکار شوی یم او د هغه سزا ماته راکول کیږي. هغه خپل ایمان او غیرت پلورلی او د صلیبیانو غلام او نوکر شویدی. هغه شپه او ورځ د صلیبي نجونو او په شرابو مست وی. د هغه سره پرته له ګناه بل تصور نشته. دلته چې ما صلیبیان ولیدل هغوي د انسانیت د ټولو پولو او حدونو څخه تیر شوی او د اخلاقو ټول اصول یې تر پښو کړي، هغوي د مسلمانانو او اسلام سره د زړه څخه دښمني لري او د هغوی د ورکولو پسې کوښښ کوي او پدی کار کې د مسلمانانو څخه هم کار اخلي. په هغوي کې ایمان پلورونکي پیدا کوي او بیا د نورو د ایمان اخیستلو لپاره هغوي استعمالوي.

اوس زه پدی ځای کې ډېره زیاته تنګه یم که کومه لاره پیدا شي نو تښتم.

حسن الادریس هغې ته وویل: الله جل جلاله بخښونکی او مهربان ذات دی ته یو کار وکړه چې په هغې به دی هم ګناه وبښل شي او هم به دی روح آرام او ډاډه شي او دا کار ته تر ټولو اسانه کولای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


سایری وویل: داسې کار به کوم وي چې زما ګناه پرې وبښل شي او روح مې آرام شي ؟

حسن الادریس وویل : معلومات تر لاسه کول ... لومړی ځل او اخری ځل خو ترهغه وخت پورې دانشې کولای ترڅو په دې پوه نشې چې زه يې د کوم مقصد لپاره کوم ؟

د ابوعبیده بن جراح ، طارق بن زید ، خالدبن ولید رضی الله عنهم ، محمد بن قاسم او سلطان نورالدین زنګی مقصد څه وُ ؟

سایری وویل : دا خو د لوی شخصیتونو مقصد وو زه د هغو په مقابله کې هیڅ نه یم خو په دې پوهیږم چې د سلطان صلاح الدین ایوبی مقصد د فلسطین ازادول دی .

په دې هم پوهیږم چې صلیبی بادشاه له دې امله د مسلمانو واکمنو مرسته کوی چې یو ځل بیا د هغوی له خوا په غصب شوی خاوری باندی د مجاهدینو په لاسونود " لااله الا الله محمدرسول الله " بیرغ ونه رپیږی .

حسن الادریس وویل : د ټولو مسلمانانو مسئولیت دی چې د مجاهدینو په صف کې ودریږی او هر ډول قربانی ورکړی .

سایری وویل : زه دی قربانی ورکولو ته تیاره یم .

حسن الادریس وویل : تاسې ته چې بوډی د موصل د استازو ځای ته د ورتللو ویلی وه نو اوس به د هغوی ته ورځی .

سایری په حیرانیتا سره هغه ته وکتل وی ویل دا ته څه وایی ؟

حسن الادریس وویل : ته به دا قربانی ضرور ورکوئ ، سلطان صلاح الدین ایوبی نجونی د جاسوسی لپاره نه لیږی او هغه وایی د یو نجلی عفت او عصمت د ساتلو لپاره خپله قوی کلا دښمن ته د ورکولو لپاره تیاریم ، مونږ د ساتونکي یو خو سایری ته دلته یې او دا کار یوازي او یوازي ته کولای شی او هغه کار د ترون ټول شرایط معلومول دی .

سایری حسن الادریس ته وویل : د قصر دلالی ښځی ماته نن وویل چې ته نن شپه ځان تیاره کړه چې یو استازی ته ورشي خو ما ورسره لا هو نده کړی. زه د هغې خلکو سره د مخامخ کیدو څخه ویریږم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلبرټ جیکب ( حسن الادریس ) ورته وویل: تاسې خامخا دا کار وکړی، پدی کې ستاسې نیت پاک او مقصد مو لوړ دی، زه د خپل رب څخه هیله لرم چې تاسې به بریالي او کامیابه راشی او عزت به مو هم خوندی پاتې شي.

* * *

د بالډون د ماڼۍ او قصر دلالي ښځې چې کله ساره ولیده نو یو ځل بیا یې ورته وویل: ساری! نن شپه خامخا ځان تیار کړه کنه بیا به ارمان کوې او څه به پلاس نه درځي، ته پوهیږې چې زما سره مخالفت کول تاته څومره زیان رسولای شي، پدی خبره غور وکړه.

ساره خو لا مخکې حسن الادریس دی کار ته هڅولې وه نو هغې وویل: چې ته پری خوشحالیږی زه به ستا د ګټې او خوشحالي لپاره دا کار وکړم کنه زه خپله داسې کسب نه کوم، زما کار یوازې نڅا کول دي.

د شپې سایری خپل ځان په یو حجاب کې سر تر پښو پټ کړ، هغې نه غوښتل د موصل استازی ته ورشي څکه هغه د موصل اوسیدونکې وه خو اوس د ښځې او حسن الادریس دواړو خوښه دا وه چې هغه استازی ته خامخا ورشي او خپله یې هم د روح د داد لپاره دا کار کولو.

چې کله هغه د استازی خونې ته ورننوتله نو هغه پری رامنده کړه او دواړه لاسونه یې ورته خلاص کړل، ساری خپل حجاب لری کړ نو استازي یې وپیژانده، استازي چې ساری ته وکتل خای پر خای ودریده او سترګې یې بتې راوختې، هک پک حیران شو.

ساره پوه شوه چې هغه هم زه وپیژاندم نو هغه ته یې په قهر او غصه وویل: راوړاندی شه، اوس تا زه راغوښتې یم! زما قیمت او بیه راکړه او شپه راسره تیره کړه. استازي خای پر خای په خپل کټ کیناسته او سر یې پخپلو دواړو لاسونو کې ونیوه او ښکته یې کتل.

دا د ساره خپل پلار وو چې د موصل څخه د عز الدین په استازی توب راغلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سایرې وویل: شرمیږې نه چې پدې عمر کې هم ته د خلکو د عزت او حیا خیال نه ساتې او په شرابو مست ګرځې، ته شرم وکړه چې ستا خپله لور ستا خونې ته د بد کارې لپاره راوستل کیږي او ته بیا هم د ژوند امید او هیله لري ، تاته مرګ پکار دی !!

کله چې سایره پوه شوه چې پلار یې ډېر خفه او پښیمانه شو نو د هغه د غیرت رابیدارولو لپاره یې وویل: زر شه راپورته شه ! زما قیمت راکړه او خپل حیواني خواهش دې پوره کړه، زه دومره وخت نه لرم چې تاته انتظار وکړم .

پلار یې په ژړا شو او خپلې لور ته یې عذر پیل کړ.

سائرې ورته وویل : پدې عذر څه نه کېږي، تا په صلیبیانو خپل ایمان او وطن خرڅ کړی اوس داسې وکړه چې تاسې څه فیصله او تړون له بالډون سره کړې ، د هغې معلومات ماته راکړه زه هغه صلاح الدین ایوبي ته رسول غواړم ترڅو ستا او زما ګناهونه پرې وبښل شي .

پلار یې وویل : زه دا کار پخپله کوم او تا هم له ځان سره بیا یم خو لاره باید ته برابره کړې ځکه چې زه دلته نابلد یم .

سایرې ورته وویل: بس ته دلته اوسه مونږ ټول ترتیبات نیسو بیا به تاته احوال درکړو.

سبا ورځ حسن الادریس د سایرې د پلار سره په پټه وکتل او هغه ته یې پلان ورکړ.

استازي خپل ملګری او د بالډون کسانو ته وویل چې هغه غواړي یوازې د بیروت په ښار کې چکر ووهي نو هغوي اجازه ورکړه له ملګرې څخه یې رخصت واخیست او هغه ته یې وویل چې زه تر ماښام پورې بیرته راګرځم ، کله چې هغه د خلکو د سترګو څخه پناه شو نو حسن الادریس ورته په لاره کې په آس سپور ولاړ وو، بیا دواړه وړاندې ولاړل چې هلته سایره پټه شوې وه ، هغه خپل پلار په آس له ځان پسې سپره کړه او بیا د موصل په لورې وخوځیدل چې کله ښه وړاندې ولاړل نو آسونه یې چار ګام کړل او په یوه نیمه ورځ کې یې ځان سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبی ته ورسولو او ټول حالات یې پخپله خوله ورته بیان کړل .

سلطان صلاح الدین ایوبی سمدستي خپل سالاران او سلا کاران را وغوښتل او د راتلوونکی په هکله یې خبری پیل کړی .

تر ماښام وروسته چې د موصل استازی راستون نشو نو د هغه لټون پیل شو، بالډون ته خبر ورکړل شو چې د موصل یو استازی ورک شوی، هغه د جاسوسی اداری کسان راوغوښتل او په قهر سره یې ورته وویل : زر تر زره استازی پیدا کړی کنه پوستکی درڅخه وباسم .

ټولو کوښښ پیل کړ، وروسته ورته معلومه شوه چې د قصر نڅا کوونکی ساره هم نشته او بیا دا هم معلومه شوه چې جیکب باډی ګارډ هم بی درکه دی، هغوي هری خواته لټون وکړ نه هغوي ژوندی پیدا شول او نه یې مړی چاته پلاس ورغلل خو د بالډون او عز الدین ترون رسوا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولاړل کاروانونه د حجاز

کله چې سلطان صلاح الدين ايوبی ته د عز الدين او عماد الدين په هکله خبر ورکړل شو چې هغوي د صليبی واکمنانو سره اړيکی نيولی او ځينی ژمنی يې سره پخپلو کې کړيدی هغه هيڅ تعجب ونکړ او نه حيران شو ځکه چې دا دود او رواج ګرځيدلی وو، هر واکمن غوښتل ازاد او خپلواک واوسيږي او د هغوي د ازادۍ او خپلواکۍ لپاره صليبيانو لاری برابرولی ترڅو هغوي ښه کمزوری او بيا په يوه حمله سره ټول له منځه يوسی .

حلب او موصل په شام کې ډېر مهم او ستراتيژيکی ځايونه وه چې د هر چا لپاره يې د مرکز کار ورکولو، صليبيانو نه غوښتل دا دوه سيمی صلاح الدين ونيسی ځکه چې بيا هغه ته د فلسطين په خلاف قوی مرکزونه پلاس ورتلل ځکه يې تل د هغوي پلوی کوله او د سلطان صلاح الدين ايوبی سره يې مخالف ساتل .

سلطان صلاح الدين ايوبی بيا بيا دا وويل چې د کعبی په رب می دی قسم وی چې زه په حلب او موصل باندی قبضه نه کوم خپل پوځ ته هم ددی اجازه نه ورکوم چې د اسلامی رياستونو په سيمو کې قدم کيږدی خو زما دا هيله وه چې هغوی يو تر بله لاس ورکړی او د صليبيانو په خلاف د خلافت وفادار اوسی زه خليفه نه يم بلکی د خليفه خادم يم .

د خلافت تر سيوری لاندی په ژوندانه تيرولو کې هغوی دا ويره محسوسوله چې د بی دينو له خوا شراب او ښکلی نجونی راليږل به بندشی ، حکومت ، شان او شوکت ، عيش او عشرت به ونه کړی شی .

د ۱۱۷۳ ميلادی کال په اولنيو ورځو کې سلطان صلاح الدين ايوبی په نصيبه کې اړولی وه چې هغه ته د عز الدين او عماد الدين په هکله حسن الادريس خبر راوړ او د هغه سره د موصل د والی سلا کار او مهم سړی احتشام الدين هم ملګری وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې هغه پښېمانه او خپله راغلی وو نو سلطان صلاح الدین ایوبی د سالارانو او سلاکارانو په غونډه کې کېنولو.
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : زه هیله لرم چې زما دوست احتشام الدین په خپله ژبه ووایی چې د عزالدین او عمادالدین نیت څه وه خو ستاسی څخه هم هیله مند یم چې احتشام الدین ته ونه وایی چې هغه زمونږ په خلاف د صلیبیانو څخه پوځی مرسته غوښتی هغه د موصل د والی عزالدین چارواکی اولیږلی شوی استازی و.
یو قوماندان وویل : زه ستاسی څخه هیله کوم چې ما ته ددی اجازه راکړی چې ووایم احتشام الدین د خپل واکمن عادی خدمتګار نه بلکی د هغه پوځی سلاکار و نو هغه ته داسی مشوره ورکول او بیا داسی دندی ته غاړه ایښودل نه و پکار چې د صلیبیانو څخه د خپل مسلمانانو ورونو په خلاف مرسته وغواړی.
احتشام الدین ځواب ورکړ : ماورته مشوره نه ده ورکړی بلکی ما ته حکم کړی شوی دی او که سر غړاوی می کړای وایی نو ....
یو بل قوماندان وویل : ته به جلاد ته سپارلی شوی وی چې پدی صورت کې به دی د شهادت جام څښلی وایی خو خپل ایمانی مسئولیت به دی اداء واي خو تا د خپل مرګ له ویری د واکمن داسی امر ته غاړه کېښودله چې د خپلو خویندو او ورونو د ذلت سبب ګرځیدلو.
یو سالار وویل : د شان او شوکت خاونده !
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : د الله جل علی شانه په خاطر ما ته تاسی داسی القاب مه استعمالوی له ماڅخه بادشاه مه جوړوی ، زه د الله تعالی تر ټولو لوی ګناهګار بنده یم نو تاسی چې د خدمتګار په صفت تاکلی یم هیله مند یم چې د خدمتګار القاب را ته استعمال کړی.
زه بناغلی احتشام الدین او خپلو ټولو ملاترلو ورونو ته چې دلته ناست دی دا ویل غواړم : کوم قوماندان او سلاکار چې د خپل واکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره غلام شي چې د هغه د خوښي لپاره د هغه غلط حکم ته غاړه ږدي نو د خپل قوم د عزت قاتل به وي .
نن ورځ چې د خاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم امت د کومو ستونځو سره مخ دی یوازي او یوازي مخه یې مجاهدین نیولی شي او هغه هم په علم او توره باندي .
که بادشاه ، سلطان او واکمن د خلکو چاري په امانتداری سره سرته ونه رسوی یا د بی دینو انسانانو رسم او رواج خپرولو هڅه کوی نو د الله تعالی سپایان به هغوی خپل دښمن ګڼی لکه څرنګه چې یهود او صلیبیان دی .
بل سالار وویل : د هیواد مالک بادشاه او سلطان نه بلکې قوم دی اوددی قوم ځوانان ددوی د عزت ساتونکي دی .
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : ورونو ! مونږ ته نور نه ښائی چې ووایو دا ګناه د چا او دا خطا د چا ده ، څوک رښتیا وایی او څوک دورغ وایی ... نور د عمل کولو وخت دی .
سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : احتشام الدین به تاسی ته د حلب ، موصل اوبالدوون سره شوی تړون باندی رڼا واچوی .
احتشام الدین وویل: زه خپله ستاسي لپاره د عبرت درس یم. زما څخه پند واخلئ، هر انسان کیدای شي بی لاری شي، په تاسې کې هم داسې خلک پیدا شول چې غداران وه او خپل باور یې کمزوری کړ، د دښمن سره یې اړیکی ساتل خو تاسې خپل خیر غواړی ، هر څوک چې په عیش او عشرت اخته شي بیا هغه ګنهګاریږي، هر څوک چې د واکمنۍ خوبونه ګوری هغه بیا ایمان پلورونکی ګرځی. که تاسې ما د ښمنی وړ نه ګڼی نو په خپله توره زما سر له تنی څخه جلا کړی او که ماته وخت راکوی زه به ستاسې ټولو څخه د اسلام او ملت د سر لوړی لپاره زیات کارونه وکړم ، صلیبیان ستاسې سره تیغ په تیغ نه جنګیږي بلکې هغوي پس لدی غلچکې بریدونه کوي، هغوي په موصل او حلب کې خانته مرکزونه جوړوي او له هغه ځایه به عملیات کوي. ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره معلومات شویدي چې اوس صلیبیان د موصل په غرونو کې خانته د سامان، وسلې او خوراکي شیانو لویه ذخیره جمع کوي او په راتلوونکې کې د همدې نږدې ذخیرې څخه کار اخلي.

د پوځ لپاره نږدې ذخیره نیمایي جنګ ګټل دي او هغوي دا کار پیل کړیدی، دا اوس ستاسې کار دی چې د هغوي ذخیره پیدا او تباه کړې.

د غونډې څخه وروسته ټول رخصت شول یوازې حسن بن عبدالله او صارم مصري پاتې شول.

حسن بن عبدالله ته سلطان صلاح الدین ایوبي وویل چې تاسې باید په هر ډول چې کیږي د صلیبیانو مرکزي ذخیره پیدا کړې او هغه له منځه یوسې.

صارم مصري وویل: تباه کول او ختمول یې زمونږ کار دی خو چې ځای پیدا شي.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: هر ډول شکمن کسان او شکمن کاروان راګیر کړې او تر څو چې ښه معلومات مونه وي کړې هغه مه خوشې کوي.

صارم باید خپل کسان هرې خواته خپاره کړي.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: زه نور په هیڅ والي اوآمیر باندې باور نه کوم او ټولې کلا ګانې چې د حلب او موصل په منځ کې دي تر خپل مکمل کنترول لاندې راولم،د هغوي پوځ او وسله ټوله ورڅخه اخلم او بې وسلې کوم یې ، نور ایمان پلورونکو ته وخت نه ورکوم چې زما سره دوکه وکړي او د صلیبیانو څخه مرستې او کومکونه واخلي، ترڅو چې هغوي ته صلیبیان مرستې او کومکونه ورکوي هغوي سمې لارې ته نه راځي، ما فیصله کړې چې نور د هغوي مرستې بندې او هیچاته باید ونه رسیږي.

***

د څه وخت څخه چې په شام او شا او خوا سیمو کې جګړې پیل شوې وې له هماغې وخت څخه په لارو او دښتو کې کاروانونه خصوصاً د حاجیانو کاروانونه شکول کیدل خو هیڅ نه معلومیده چې دا کار څوک کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه اوازه دا وه چې صليبي پوځيان کاروانونه شکوي او ځينو به ويل چې دا ډاکوان او شوکماران دي .

وروسته بيا څرګنده شوه چې کوچني کاروانونه او ځانګړي کسان د شوکمارانو لخوا څخه او لوی کاروانونه د صليبي پوځيانو لخوا څخه شکول کيږي.

د دې خبری شکايت سلطان صلاح الدين ايوبی ته هم ورسيده خو د هغه سره دومره پوځ نه وو چې ټولو ځايونو ته يې ورسوي.

د بيروت په محاصره کې چې کوم بحری ځواک برخه اخيستی وه هغه پرته د جګړی څخه اسکندری ته بيرته ولاړ - د هغې ځواک مشر امير البحر حسام الدين لولو ډيره تکړه مجاهد او ميړنی انسان وه.

کله چې سلطان صلاح الدين ايوبی خبر شو چې د حاجيانو کاروانونه شکول کيږي نو هغه د خپلی بحری قوی امير البحر ته امر وکړ چې يوازي د اسکندريه څخه سری بحيری ( بحر احمر ) ته ولاړ شي او هلته چې څومره بحری ځواک دی د هغې قومانده په غاړه واخلی. په ساحل او دښتو کې چې څومره شوکماران خلک او کاروانونه شکوی هغه ټول له تيغ تير کړی تر څو بيا کاروان ونه شکوي .

امير البحر سمدستی دا سکندريی څخه سری بحيری ته راغی او د دی ځواک قومانده يې په غاړه واخيستله څو کښتی يې برابری کړی او په هغې کې يې پوځيان او آسونه سپاره کړل چې د هر ځای څخه به شکايت راغی يا به د دوی شک وربانديي پيدا شو نو هلته به يې سپاره او پلی کسان پياده کړل او شوکماران به يې ختمول .

***

په کال ۱۱۸۲ ميلادی کې امير البحر ته خبر راغی چې د مصر څخه يو لوی کاروان حج ته روان دی چې ورځ په ورځ يې شمير زياتيږي او زيات خلک ورسره ځان ګډوی. حسام الدين ټولو کاروانونو او خلکو ته خبر ورکړی وو چې د اوبو په غاړه غاړه سفر وکړی ځکه چې هلته د مسلمانانو بحری ځواک ګزمه کوله او څه خطر موجود نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حاجیانو دا کاروان د نامعلومو لاملونو له کبله د ساحل څخه لرې روان وو، یوه شپه دوی په دښته کې واړول، څرنګه چې سترې وه نو د ماخستن د لمانځه څخه وروسته ټول ویده شول تر څو چې د سهار اذان وشو، د سهار لمونځ ټولو په جماعت سره اداء کړ او بیا خپلو سپرلیو ته روان شول چې حرکت وکړي. په همدې وخت کې پرې په لوړ او جګ اواز غږ وشو: هر سړی دې پخپل ځای ودریږي او مال ته باید هیڅوک نږدې نشي.

حاجیانو سمدستي خپلې وسلې راواخستلې، یو پکې اواز وکړ چې ښځې او ماشومان منځ ته کړئ، هغوي منځ ته شول او حاجیان په یوه دایره کې د خپلو وسلو سره دفاع ته تیار شول.

د کاروان خلکو ته دا وخت پیدا نشو چې هغوي پخپلو سپرلیو سپاره شي دا چې دوی خو عام خلک وه او لاره شکوونکی د صلیبی پوځ کماندویان وه او ټول په آسونو سپاره او ښه وسله ورسره وه. مقابله پیل شوه، حاجیانو پوره مقابله او جګړه کوله خو د سپرو په مقابل کې پیاده کله جګړه کولای شي.

پدې کاروان کې د اسکندرې یوه مشهوره سندر غاړې او نڅا کوونکې نجلۍ موجوده وه چې ښایست یې جوړه او مثال نه درلوده، هغې د خپل کسب څخه توبه ویستلې او د کفارې لپاره حج ته روانه وه چې په لاره کې پرې شوکمارانو برید وکړ.

په دې کاروان کې د هغې سره هغه انسان هم و چې دواړو سره وعده کړې وه چې د حج د مناسکو تر اداء کولو وروسته به واده سره وکړي.

د هغه سره توره نه وه کوم چې په هغه دور کې د نارینه لپاره زینت بلل کیدله بلکې یو خنجر وو چې شوکمار په اس سپور وار وکړ د شا له لورې هغه پرې وار وکړ خنجر د هغه په ګیډه کې خښ شو ددې سره راوګرځیدو په توره باندې یې وواهه دواړه په ځمکه باندې راپریوتل نجلۍ ورمنډه کړه د شوکمار څخه یې لینده او غشې راواخیستل د سامانونو تر شا یې په صلیبیانو د غشو وارونه پیل کړل چې دوه ته یې په سینه وویشتل د اسونو څخه یې را وپرځول او د خپلو اسونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښو لاندې شول په دریم یې وار کولو چې غښې د اس په ورمیږ باندې ولګیده اس بې قابو شو د کاروان د اوښانو ترمنځ شو ټولو تور وخوړ یو قیامت جوړ شو اوښان د نجلۍ لورې ته راغلل هغې منډه کړه خو بریالي نه شوه او د یو اوښ تر پښو لاندې او بې خوده شوه .

مسلمانانو سخته مقابله وکړه خرنګه چې د هغوی شمیر کم وو زیات شهیدان شول پاتې کسان څه زخمیان او څه ونیول شول صلیبانو بیا د هغو په نوی اسونو او اوښانو باندې ټول سامان بار ک پړاو ته یې ورسول چې د دښتې په منځ کې د غونډیو په یوه دایره کې واق وه، هلته دوی د ځان لپاره سمڅې او غارونه جوړ کړي او پکې اوسیدل .

نائټ ولیدل چې په دې بندیانو کې له نورونجونو نه یو ډیره ښکلې نجلۍ ده نو د هغې پاتې کیدل یې مناسب ونه لیدل او هغه یې د یو ټولګې کسانو سره خپل مشر ریناالډ ته واستوله، ترڅو هغه هم پدې ډاکه کې بې برخې نشي دا سندر غاړې رعدی نومیده .

***

یو ټولګې صلیبي شوکمارانو رعدی د ځان سره خپل بادشاه ته د نائټ له خوا د ډالۍ په ډول روانه کړې وه یو تن د رعدی څخه پوښتنه وکړه : داسې معلومیږي چې د کوم لوی چارواکي یا شتمن لور یې ایا هغوی هم درسره په دې کاروان کې وه ؟

رعدی ورته وویل : تاسې ته چا نه دې وویلي چې زه سندر غاړې یم! زما پلار نشته ، ورور مې نشته ، زما مور د اسماعلیه مشهوره سندر غاړې وه .

د کوچنیوالي څخه یې دا هنر رازده کړ، کله چې زه د شپاړس کالو شوم یوه شپه یې زه د سیمې یو شمتن بوډا کور ته ولیږلم هغه شراب څښلي د خولې څخه یې بد بوی تللو، هغه زه خپل خوا ته کینولم او سپک حرکات یې پیل کړل نو هغه ته مې بدر رد وویل او د هغه ځای څخه بیرته کور ته راغلم ، مور مې د حال څخه خبر کړه هغې راته وویل : دا زمونږ د رزق وسیله ده ته مجبوره یې چې دا دنده خپله کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل : زه ناځم ، سندرې وایم ، خو د چا کور ته نه ځم .
مور را سره دا ومنله بیا په خپل کور کې ناست او لوی لوی شتمن او چارواکي به راتلل .
یوه شپه یو شهزاده چې ښه ځواني یې درلوده د نورو کسانو په ډله کې راغی د نڅا او سندرو وروسته چې ټول لاړل نو هغه زما تر څنګ کیناست لاس یې را څخه ونیولو راته وی ویل : زه دلته نور نه راځم څه چې غواړې درکوم یې نو د لوی بڼ د چنارونو ونو لاندې به زه سبا مازدیګر ستاسې انتظار کوم هیله لرم چې راشې .
د شپې چې کله پر کټ پریوتلم د هغه خیره مې تر سترګو سترګو کیدله او د هغه د بلنې د اواز مې تر غوږو انګازې کولې ځان سره مې وویل سبا ضرور ورځم .
سبا د سیل په پلمه د کور څخه ووتلم بڼ ته ورسیدلم ومې لیدل چې شهزاده ناست وو، زما په لیدلو راپاڅیدلو تود هرکلی یې وکړ راته وویلو بیا یې ویل : ما ته مخامخ کینه زه ستا دیدن کوم تر ډیر وخت یې زما خیرې ته کتل هیڅ خبرې یې نه کولې تر هغه چې د ماښام اذان وشو، خواته یوه یې کڅوړه پرته وه هغه یې راوغورځوله وی ویل : دا واخله او هیله لرم چې سبا بیا به په همدې وخت راشې .
ولاړه شه د بڼ په دروازه کې به د څلورو اسونو ټانګه ولاړ وی هغه به دې خپل ځای ته ورسوی .
ما ورته وویل : زه راځم ستاسې ترڅنګ کینم خو په دې شرط چې ته شراب ونه څښې .
شهزاد وویل : په الله تعالی قسم زه به یې بیا په ټول عمر کې ونه څښم .
کله چې کور ته ورسیدلم او د کڅوړې خوله مې پرانستله حیران شوم چې قیمتی غمې په کې وو، مور ته مې حال وویلو هغه ډیره خوښه شوه راته وی ویل : سبا ضرور لاړه شه خو په ښایسته او نوو جامو کې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه تیره شو سبا مازیګر ورغلم تر مخ یې کیناستلم هغه راته کتل بیا یې وویل : زما یو وړاندیز دی که قبول یې کړی نو احسان مند به دی یم او هغه دا چې سندری ویل او نڅا کول پرېږده !

ماورته وویل: زه چې په کوم کورکې یم هلته راته دا ممکن نه ښکاری .

شهزاده راته وویل : زه د عیاش پلار زوی یم زمونږ د کور چاپیریال هم ښه نه دی .

ما ورته وویل : تا خپل پلار او ما خپله مور د مرګ کندی ته غورځوی ! ښه به دا وی دواړه لری ددی سیمی څخه ولاړ شو او د خاوند او میرمنی په څیر د ژوندانه شپی ورځی تیری کړو .

شهزاد وویل : سپیڅلی ژوند په پاکه خاوری باندی کیږی او هغه پاکه خاوره د حجاز پرته نشی کیدلای که ستا خوښه وی نو ....

ماورته وویل : دا خو به زه د الله تعالی لوی احسان وبولم .

څو ورځی وروسته یې راته وویل : نن ماښام د حاجیانو کاروان راونیږی ! ما ورته وویل : زه هم تیاره یم کور ته څم او بیرته راځم ولاړم خپلی جامی او سره او سپین مې راواخیستل بیا بڼ ته راغلم ، شهزاده د بڼ په مخ کې د دوه اسونو سره ولاړ ؤ نو په اسونو سپاره شو ؤ او د ښار بیرون مو د کاروان انتظار وکړ کله چې کاروان راغی د هغوی سره ملګری شو .

خو الله تعالی په دی راضی نه وه چې د هغه په وړاندی زه په پاکه خاوره سجده کیږدم او زما شهزاده خو ستاسی ظالمانو له لاسه د شهادت جام وڅښلو.

صلیبی وویل : که غواړی ددین او امن دسیوری لاندی شپی ورځی تیری کړی نو زمونږ دین قبول کړه .

رعدی وویل : تاسی د دین د هدایاتو له مخی خلک وژنی ، د ښځو بی عزتی کوی ، مال لوټی او ....

صلیبی وویل : نه ! بلکی د انسان د حکم په اساس .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو صلیبي وویل : کوم ځای ته چې مونږ تا بیایو هلته نیکي وکړه ، ښایي ګناهونه دې معاف کړای شي او الله تعالی درڅخه راضي شي .
رعدي وویل : زه پوهیږم چې تاسي زه کوم ځای ته روانه کړي یم او د څه لپاره ؟
زما وجود سر تر پښو ګناه ګرځیدلی زه به هیڅ نیکي ونه کړای شم .
صلیبي وویل : ته رښتیا وایې ته به هیڅ ښه ونه کړای شي ځکه ته د ګناه څخه پیدا ، په ګناه کې لویه شوې او د یو ګناهګار انسان سره راتښتیدلې یې .
رعدي وویل : زه به د هغو بې ګناه انسانانو د وینې بدله اخلې کوم چې تاسي شهیدان کړل .
صلیبي په خندا وویل : مونږ د حکم په اساس ستاسي احترام کوو که نه داسي خبرې به ستاسي د خولې څخه نه وتلې .

***

په بندیانو کې یو مسلمان خپلو ملګرو ته وویل: زه د تیښتې کوښښ کوم تاسي راته دعا کوئ .
کله چې ډاکوان پخپلو ډاکه شوي مالونو بوخت شول نو هغه ځان غلی غلی د غونډیو شاته پټ کړ او د ساحل په لوري روان شو، دا ځای د ساحل څخه شل میله لرې وو خو هغه نابلد وو نو په یوه شپه او یوه ورځ کې د سرې بحرې غاړې ته ورسیده خو هلته بې هوښه شو ځکه چې دومره سفر هغه پیاده کړې وو. کله چې کښتۍ په اوبو کې روانه وه او ګزمه یې کوله نو هغه سړی یې ولیده، سمدستي کسان ورښکته شول ګوري چې سړی ژوندی خو بې هوښه دی، هغه یې له ځان سره په کښتۍ کې واچولو چې کله یې هغه ته خوراک او څښاک ورکړ نو راپورته شو او هغوي ته یې د کاروان د بربادۍ کیسه وکړه، هغوي سمدستي امیر البحر ته خبر ورکړ، هغه د سړي څخه پوره معلومات واخیست او بیا یې پنځه سوه مجاهدین څلور سوه پیاده او سل سپاره برابر کړل او په دښته کې روان شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر البحر پیاده کسان مخکې کړل چې خبره رسوا نشي څکه آسونه د لرې څخه اوازونه کوي. کله چې هغوي ورسیدل نو د غونډیو سرونه یې ونیول او بیا سپاره پرې ورننوتل .

صلیبي ډاکوانو د خوښۍ جشن جوړ کړی او ټولو ښه پریمانه شراب څښلي وه ډېر زیات پکې بې هوشه پراته وه، سره د دې چې د هغوي شمیر اته سوه کسانو ته رسیده خو کم پکې په حال پاتې وه. په ډېر لږ وخت کې څه مړه او نور ټول ژوندي ونیول شول ، سمڅې او غارونه تالاشي شول نو د هغه ځای څخه بې شمیره مالونه، نجونې او د دې ډلې مشر نایټ راوویستل شو .

* * *

سهار چې کله صلیبي ډاکوان او داړه ماران د نستي نه په خوډ شول نو ټول په کښتیو کې لاس تړلي پراته وو چې شمیر یې تقریبا پنځه سو ته رسیدلو.

امیر البحرحسام الدین ته یو داړه مار وویل : مونږ د صلیبي بادشاه رینالډ پوځیان یو چې د مسلمانانو د کاروانو د لوټولو لپاره ټاکلي شوی ، یو او له مونږ پرته په مختلفو سیمو کې نور ټاکلي شوي دي چې یو میاشت په یو پړاو کې تیروی او بیا نور راځي او کوم سامان چې لوټل کیږي د هغه دریمه برخه د عسکرو او پاتې بادشاه او لوړ رتبه چارواکو ته لیږل کیږي ، اوښان او اسونه سرکاري ملکیت شمیرل کیږي .

د نارینه په اړه مونږ ته دا لارښونه شوي چې یو به ژوندي نه پریښودل کیږي د نجونو په اړه لارښونه ده کومې چې ښکلې او بلوغ ته نوې رسیدلې هغه د استخباراتو اداری ته سپارل کیږي بیا د روزنې لاندې نیول کیږي د پیغلتوب سره سم د تخریب کاری لپاره د مسلمانانو سیمو ته لیږلې کیږي او کومې چې ډیرې ښکلې پیغلې وي نو مرکز ته لیږل کیږي او چارواکي یې په خپل حرم کې ساتي .

حسام الدین وویل : پدې کاروان کې چې کوچنیان وه هغه څه شول ؟

صلیبي وویل : هو! شپاړس تنه وو چې ووژل شول او یوازې یو تن ژوندي پاتې شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسام الدین وویل : بندیان مو څه کړل چې د کاروان څخه بیولی وه ؟

صلیبي وویل : په هغوی مو سامانونه بار کړل بیا مو پرې په مرکز کې ښکته کړل وروسته مو ووژل .

د مسلمانانو د شهیدانو لپاره د قبرونو ویستلو هدایت وکړای شو او امیر البحر حسام الدین په خپله هم د قبر په ایستلو کې برخه واخیستله ، له قبرونو ویستلو وروسته ټولو د هغوی د جنازې لمونځ وکړ او بیا یې هغوی خښ کړل او بندیان یې په کښتیو کې سپاره او مکې مکرمې ته واستول شول، د هغوي سره امیر البحر د مکې مکرمې والي ته لیک واستولو چې دا صلیبي پوځې داړه ماران دي او شپږ سوه حاجیان یې په شهادت رسولي ! تاسې ټول د هغوي په قصاص کې د قرباني په ځای کې ووژنئ، تر څو بل څوک بیا دا کوښښ ونکړي چې مظلوم حاجیان په شهادت ورسوی او مال یې غلا کړي .

* * *

په موصل کې یو بوډا درویش را پیدا شو چې خلکو ته به یې د غیب داسې خبرې کولې چې د هغوي به پرې باور او اعتبار راتللو، او دا به یې هم ویل چې په نژدې ورځو کې به یوه نښانی رانښکاره شي چې د هغې څخه وروسته به د موصل والي د خپل پوځ سره هر لوري ته پرمختګ پیل کړي، ټولې سیمې او علاقې به ونیسي، سلطان صلاح الدین ایوبي به پسې وځغلوی او د عز الدین څخه به لوی پادشاه او واکمن جوړ شي.

بوډا ځانته په غره کې ځای جوړ کړی او هلته اوسیدلو پداسې حال کې چې هیچا ته هم اجازه نه وه چې هلته ورشي او هغه وګوري، د هغه ملګرو به ویل هر چا چې په غره کې د هغه د لیدلو کوښښ وکړ نو د برګي په ناورغی به اخته شي .

د موصل خلکو لیدل چې د غرونو په منځ کې پیره کوونکی ولاړ دی او د هغې برخې لیدلو ته څوک نه پریږدي. هیچا ته اجازه نه ورکوي چې د هغې پولې څخه مخکې ولاړ شي په همدې برخه کې درویش اوسیده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موصل کې چې د سلطان صلاح الدین ایوبی کوم پلویان او جاسوسان اوسیدل هغوي مخکې د احتشام الدین له خولې څخه خبر شوی وه چې صلیبیان په موصل کې د سامان، وسلې او خوراکي شیانو لویه ذخیره او ډیپو جوړوي. نو هغوي په همدې لټه کې وه چې هغه ځای معلوم کړي .

سلطان صلاح الدین ایوبی د علی بن سفیان مرسیتال حسن بن عبدالله ته وظیفه ورکړې وه چې خپله یا د خپلو کسانو په وسیله دا مهم ځای معلوم کړي .

کله چې د درویش مسئله راولاړه شوه او د غرونو منځ ته د خلکو تلل منع شول نو هغوي پوه شول چې دا هماغه ذخیره او ډپو ده خو خاص ځای یې معلوموول پکار وه .

حسن بن عبدالله حسن الادریس ته وظیفه وسپارله چې دا سخت کار هغه وکړي، ځای هم معلوم کړي او که وشي نو هغه ذخیره تباه کړي .

کله چې هغه دې لور ته روانیدلو نو سلطان صلاح الدین ایوبی ورته وویل : وروره ! د تاریخ په پاڼو کې به زما نوم لیکل کیږي که ناکام شوم نو زما نوم به بد یادیږي او که فاتح شوم نو زما قبر ته به خلک راروان وي ما ته به دعاګانې کوي او په خپلو زامنو به زما نوم ږدي نو دا لویه بې انصافي ده ، د فتح تاج ستاسې په سر اېښودل پکار دي او د هغوي چې د دښمن سر په اخ او ډب دي او زما د فتح لامل شوي دي .

الله جل جلاله څخه دا پټ نه دي نو ستاسې په سرونو به الله تعالی تاج ږدي .

وروره ! که زه ماتې خورم نو دا به زما غلطي وي چې ما ستاسې د اطلاع له مخې عمل ونه کړ او که فتح مې تر لاسه کړه نو دا په حقیقت کې ستاسې فتح ده ځکه تاسې زما سترګې او تاسې زما غوږونه یاست .

دا زما لويي نه ده ځکه زما سره بې شمیره پوځ روان وي خو تاسې یوازې روان یې او کومه فتح چې لوی پوځ تر لاسه کوي هغه یوازې او یوازې تاسې کوې ولاړه شه الله تعالی دې ساتونکی او ناصر اوسه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې حسن الادریس د غریب مسافر په جامو کې په اوښ سپور شو او د نصیبه پراو ښخه وتلو لمر په پریوتلو وو .

* * *

حسن الادریس موصل ته ورسیدلو او د خپلو ملګرو سره یې ولیدل یو ورته وویل : د څو ورځو راهیسې یو درویش پیدا شوی چې خلک یې ډیر درناوی کوی او عقیده پری لری لومړی یې د ښار ښخه بیرون په یو جونګړه کې شپې ورځې تیرولی خو اوس د غرونو په منځ کې ناست دی چې هغه سیمه پوخ محاصره کړی او هیڅوک هلته نه پریږدی .

حسن الادریس وویل : زه وایم چې په کوم ځای کې دوریش شپې ورځې تیروی هلته ذخیره ده او دا عادی او کمه ذخیره نه ښکاری .

ټولو وویل : مونږ هم دې پایلې ته رسیدلی یو خو یو تر بله مو ددی څرګندونه نه وه کړی .

حسن الادریس وویل : اوس دا معلومول اړین دی چې هلته څه دی او هغه څرنګه له منځه وړلی شو .

په موصل کې د مجاهدینو مشر وویل : د صلیبیانو پوهه د ستاینی وړ ده د یو لوری خپله ذخیره ساتی او له بل لوری د درویش په وسیله د خلکو عقیدی خرابوی .

حسن الادریس وویل : د موصل د والی نظر د درویش د کړو وړ په اړه څه دی ؟

یو مجاهد وویل : یوه ورځ ما ولیدلو چې درویش د څلورو اسونو په ټانګه کې سپور مانۍ ته ننوت .

حسن الادریس زویل : نو ددی ښخه معلومیږی چې په دسیسه کې شامل یا ددی دسیسی ښکار دی .

* * *

کله چې حسن الادریس او احتشام الدین د بیروت ښخه هغوی ته د عز الدین، عماد الدین او صلیبیانو د اړیکو په هکله معلومات راوړلو نو سلطان صلاح الدین ایوبی قسم وخوړ چې نور به ایمان پلوروونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅخه واکمنی ونکړی ترڅو مې چې ټول بې وسلې کړی نه وي ، هغه خپل کماندویان په شا او خوا سیمو کې خپاره کړل او د نور پوځ سره د سنجار د کلا په لوری وخوځیده، د سنجار امیر شرف الدین وو چې د عز الدین ملګری او د صلیبیانو ګوډاګی وه ، مخکې د هر ښه انسان و خو صلیبیانو په شرابو او ښځو سره د هغه څخه ګیدړ جوړ کړ.

کله چې د سلطان صلاح الدین ایوبی لښکر کلا محاصره کړه نو پیره کوونکی ویده وه خو چې کله منجنیق آور غورځوونکی بمونه وغورځول نو هغوي رابیدار شول، آور اچونکی بمونه په کلا پریوتل او هلته يې لمبی جوړ کړی نو امیر شرف الدین راویښ شو او د کړکی څخه يې چیغې کړی دا کوم بدبخت انسان اور اچولی دی ؟

خلکو ورته وویل : کلا محاصره شویده.

امیر شرف الدین وویل: کوم بدبخت محاصره کړی ؟

هغوي وویل : سلطان صلاح الدین ایوبی او هغوی د باندی څخه اوازونه کوي چې د کلا دروازه خلاصه کړی، کنه بیا مو خیر نشته .

امیر شرف الدین وویل : دروازه خلاصه کړی زه خپله ورځم!

شرف الدین ورغی او د هر عذر يې وکړ چې زه هر ډول شرایطو ته تیار یم خو کلا راڅخه مه اخله .

سلطان صلاح الدین ایوبی ورته وویل : سمدستی کلا ته ولاړ شه پرته د پوځ او وسلې څخه نور ټول خپل شیان تر سهار پوری د کلا څخه وباسه !

ستا غوندی بی غیرته خلکو ته د مسلمانانو کلا ګانی سپارل لیونتوب دي ځه موصل ته ولاړ شه هلته دی ملګری عز الدین شته ، بلاخره هغه مجبور شو او کلا يې خالی کړه پوځ او وسله يې ورڅخه ستنه کړه بیا يې دا کلا تقی الدین ته وسپارله .

سلطان صلاح الدین ایوبی شپه په همدی سنجار کلا کې وکړه او سهار بیا د آور د کلا په لوری وخوځیده چې اوس ورته اسیده وایی دا د دجلې د سیند په غاړه مشهوره کلا وه، هغه يې هم محاصره کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې خلکو جنګ وکړ خو آمیر یې وسله وغورځوله، د هغوی څخه هم پوخ او کلا واخیستل شوه او د کلا نوی آمیر نور الدین وټاکل شو.

* * *

د صلیبیانو د پټې ذخیرې قوماندان د سیل لپاره د باندې راوتلی وو چې سترګې یې په حسن الادریس ولګېدلې نو ځان ته یې راوغوښت ورته وی ویل چیرې روان یې؟

حسن الادریس ورته وویل: زه د مزدورۍ پسې له کوره راوتلی یم بیروت ته ځم.

قوماندان ورته وویل: ولې یې په موصل او حلب کې نه کوې؟

حسن الادریس وویل: تاسې مسلمانان به د عیسایانو سره ښه رویه کوی خو زمونږ د سیمې خلک ښه رویه نه کوی.

قوماندان وویل: ته عیسایې یې؟

حسن الادریس وویل: هو!

قوماندان وویل: ته له دې وروسته زمونږ سره په لاندې پوسته کې اوسیږه خو بیا چا ته ونه وایې چې زه عیسایی یم.

یو صلیبی هغه د ځان سره خیمې ته روان کړ کله چې خیمې ته ننوتل نو ګوري چې قالینه غوړېدلې، توشکې خوری او بالښتونه په منظم ډول ایښودل شوی وو، دوه تنه ناست او په مخ کې یې وچه میوه پرته وه راپاځیدل او هغه ته یې هرکلی ووایه بیا کیناستل یو وویل: کاش کومه سندرې غاړې وایی او ددې نوی راغلی ملګرې په خوشحالي کې یې راته څه ویلی وایی.

حسن الادریس وویل: که په نږدې سیمې کې د مسلمانانو کلی وی زه کومه نجلی راتښتوم په داسې ترتیب چې څوک رانه خبر هم نشی خو ما ته اس او توره راکړې.

یو صلیبی وویل: ډیر احتیاط به کوی مسلمانان په خپل ناموس او عزت ځانونه وژنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن الادریس په آس سپور روان شو ګوری چې شپږ تنه په هغه لاره روان دی کومه چې د بیرت په لور وه ، دوی سره یوه نجلۍ هم وه هغه وریسی شو چې کله نږدې ورغی ورته وی ویل : چیری مو ارده ده لاره خو به مو غلطه کړی نه وی ؟

یو صلیبی ځواب ورکړ : نه ! مونږ د صلیب پیروان او دا د بادشاه د حرم نجلۍ ده !

رعدی وویل : ما ته دی الله تعالی وړاندی مرګ راکړی چې .زه ستاسی د بادشاه د حرم نجلۍ شم .

یو صلیبی وویل : دا دویم ځل دی چې ته د پولی او حد څخه وځی خپل ژوند دی خوښ نه دی ؟

رعدی وویل : نه ! مسلمانه هیڅکله داسی ژوند نه خوښوی .

حسن الادریس په صلیبی د توری وار وکړ او له اس څخه یې راوغورځولو رعدی هم په تلوار د اس څخه راکښته شوه د صلیبی یې څخه توره واخیستله او په بل یې وار وکړ او په څو شیبو کې هغوی ووژل شول .

حسن الادریس وویل : خوری ! ته څوک یې ؟

رعدی وویل : زه یوه بد نصیبه نجلۍ یم چې دا می د ... ژوندانه قصه ده وروره ! ما له ځان سره داسی ځای ته بوځه چې یوازی د خپل رب عبادت وکړم .

حسن الادریس وویل : خوری ! دا وخت په تا باندی د عبادت ترڅنګ د کفر سره په توره جهاد کول هم لازم دی لکه څرنګه چې دی اوس وکړ .

رعدی وویل : ښه په سترګو !

حسن الادریس رعدی ته وویل : زه د ذخیری معلومول غواړم په دی لړ کې به ته زما مرسته کوی ، د صلیبی پوځیانو د مشر سره د مینی څرګندونه وکړه ترڅو هلته ورسیږو!

حسن الادریس چې کله خیمی ته ورغی نو د رعدی په څیر ښکلی نجلۍ ورسره وه هغوی حیران شول رعدی ورته وویل : شپږ مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه د کور څخه راوتښتولم او په لاره کې دا پرښته راغله او زه یې ورځنۍ خلاصه کړم بیرته کور ته د بدنامۍ له امله تللی نشم نو له ده سره راغلم .

حسن الادریس قوماندان ته وویل : دا ډیره ښکلې او زه یو غریب انسان یم مناسب دا دی چې ستاسې د ژوند ملګرې شي ؟

د پوستی مشر صلیبي چې کله د حسن الادریس قرباني ولیده ډیر خوښ شو، رعدی یې خپله کړه ځکه چې د هغې مثال نه وو .

رعدی د پوستی مشر صلیبي ته نرمی او غوړې خبرې وکړې او هغه ته یې وویل : زه یو ځل هغه درویش او دا غرونه ګورم چې څومره ښکلي او ښایسته دي .

د پوستی مشر صلیبي رعدی او حسن الادریس دواړه له ځان سره بوتلل ، هغه ته یې درویش هم وښودلو چې عادی انسان او هلته په خیمه کې پروت وو او هغه لویه ذخیره هم چې هلته په لویه سمڅه او غار کې وه ، پدی غار کې دومره سامان ایښودل شوی وو چې د کلونو کلونو لپاره بس وه، پوره پوره کاروانونه پکې خالي شوی وه.

رعدی او حسن الادریس چې کله بیرته خپلې خیمې ته راغلل د ماښام تیاره خپره شوی وه ، یو صلیبي ورته خوراک او څښاک کیښودلو بیا د ارام کولو لپاره په خپلو بسترو پریوتل کله چې پوه شو چې د پوستی مشر صلیبي کلک ویده شو نو هغوی ورته په مرۍ خنجر راکش کړ او په څو شیبو کې مړ شو بیا د غار په لور روان شول ، پیره کوونکي کسان یې یو ، یو ووژل او بیا رعدی په غار کې چاودیدونکو شیانو ته آور واچولو چې خپله یې پکې هم د بدن څه غړی وسوځیدل ، حسن الادریس هغه په شا کړه او په منډه له هغه ځای څخه راووت ، لږ خنډ وروسته یوه هیبت ناکه چاودنه وشوه چې د ټول موصل ښار یې ولړځاوه .

د صلیبیانو ټوله ذخیره او ډپو له خاورو سره برابر شوه او حسن الادریس یو تاریخي کار سرته ورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درویش او د هغوي ټول صلیبی ملګری پدی چاودنه کې لولپه شول او د الله جل جلاله نښانی هماغسی په خپل ځای پاتی شوه .

اور او چاودونو د موصل ښاریان راویښ کړی وو خو حسن الادریس هلته نشو تللی ځکه د ښار دروازه بنده وه او د ښار په ځای یې د نصیبه لور ته مخ کړه او له سیمی ووت ، څرنګه چې رعدی سخته سوځیدلی وه خپله نشوه تللی نو حسن الادریس په شاه کړی وه څه مزل یې چې وکړ نو تم شو، رعدی په خندا ورته وویل : حسن ورورره ! اور زه پاکه کړم اور زه پاکه کړم ... اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمد رسول الله ...

حسن الادریس وویل : رعدی ... رعدی! خو هغی ځواب ورنه کړ او روح یې د حجار د کاروان د شهیدانو سره ملګری شو .

حسن الادریس هغې ته پخپل خنجر باندی کنده وکنستله او بیا یې هلته خښه کړه او خپله د سلطان صلاح الدین ایوبی مرکز نصیبه ته ولاړ.

* * *

په موصل کې د صلیبیانو د ذخیری د تباه کیدو څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی د تل خالد په لوری حرکت وکړ چې د هغه ځای واکمن سوکمان ارمنی وو. پدی وخت کې هغه د موصل د امیر سره د خبرو لپاره هر زم ته تللی وُو تر څو د عز الدین سره مرسته او کومک وکړی خو سلطان د تل خالد په لوری ولاړ کوم چې ازاد حکومت او چې د ارمنیانو په لاس کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درويش

صليبيانو چې د مسلمانانو د کلا گانو د تباه کولو او بربادولو لپاره خومره کيمياوي او آور غورخوونکي مواد، وسله، خيمې او خوراکې شيان د موصل په غرونو کې ډپو او ذخيره کړی وه هغه يوی داسې نجلۍ والوزول چې نوی يې توبه ويستلې او د خپلو گناهونو د کفاري لپاره يې دا قرباني ورکړه، پدی سره د موصل او صليبيانو تر منځ بې باوری هم پيدا شوه او کوم ترون چې هغوي پخپلو کې سره کړی وو هغه هم دړی وړې شو.

د حسن الادريس کارنامه او د ساري قرباني هم د يادولو وړ وه ځکه چې هغې خپل پلار چې د پوځی ترون لپاره راغلی وو د تول راز سره يو ځای سلطان صلاح الدين ايوبی ته راووست او د هغه مرستندوی وگرځيده.

کوم لومړی درويش چې په موصل کې پيدا شوی وو هغه د رعدی د قربانی په پايله کې پخپل بل شوی آور کې لولپه شو او پخپل لاس جوړ کړی جهنم کې وسوځيده، هغه ډرامه چې د خلکو د بې لاری کولو لپاره جوړه شوی وه خپل لوبغاړی پکې بې لاری او توته توته شول. هغوي غوښتل د درويش د ډرامې پوسيله په خلکو کې غير اسلامی او خيالی شيان رابيدار کړي او مسلمانان د خپل دين او ايمان څخه رګرځوي، د هغوي توجه د قران مجيد او نبوی احاديثو څخه واړوي او غلطو شيانو ته يې پام وکړی.

د ويره ونکی څخه وروسته د موصل خلک پدی فکر کې وه چې کيدای شي دا به د درويش قهر او غضب وي، يا دا چې دا به د هغه کرامت وي.

د چاودنې په دويمه ورځ د موصل په کوڅو کې يو بل درويش راپيدا شو چې شنه چپن يې اغوستې وه، د سر وينښتان يې لوی او سپين وه، ږيره يې هم اوږده وه، د هغه په خيره باندی د بوډاتوب گونځی وي، په يو لاس کې يې قران مجيد او په بل لاس کې يې لوی امساء نيولی وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالکل د هماغه مخکنی درویش پشان وو او پرله پسی یې دا ناری وهلی: هغه پخپل جهنم کې وسوځیده .
خلکو په لاره کې راګیر کړ خکه هغوي د هر ویریدلی وه نو هغه ورته وویل: درویش تاسی ته بیا بیا ویل چې د موصل والی عزالدین به د خپل پوځ سره هر لوری ته پرمختګ پیل کړي بریالیتوب به یې په برخه شي هغه لوی دروغجن وه نو ځکه لولپه شو.
د کائیناتو د رب څخه وویریږی، دا کتاب ومنی چې زما پلاس کې دی دا د الله تعالی کلام دی، څه چې پدی کتاب کې دي هغه رینښتنی دي، ټولی اشاری دلته شته، دا اشاری په پام کې ونیسی ، هغې درویش د غیبو په باب خبری کولی ، وګوری د هغه پای او انجام څه شو، هغه دی اوس هم د هغه ځای څخه اور او دودونه پورته کیږي .
درویش په کوڅو او لارو کې ګرځیده او همدا ناری یې وهلی، هغه د ماسپښین لمونځ په یو جومات کې، د ماذیگر په بل جومات کې او د ماښام لمونځ یې په دریم جومات کې ادا کړ او په هر ځای کې یې خلکو ته همدا وعظ کولو چې خپله توجه او پام قران مجید ته واړوي .
هغه د موصل ټول ښار او کوڅې وکتلی او ټول خلک یې د لومړنی درویش په بد انجام باندی خبر کړل. بیا د ماښام تر لمانځه وروسته د خلکو څخه رخصت شو او د غر په لوری وخوځیده ، د موصل په قصر کې د دی درویش د وژلو لپاره یو کس وګمارل شو او هغه د ده پسی شو.
د هغه سره خنجر وو چې په هغې سره باید درویش ووژنی ، درویش چې کله شاته وکتل نو یو سوری ورپسی وو هغه اواز پری وکړ څوک یې، هغه ورک شو بیا چې هغه روان شو نو سیوری ورپسی وو. تر دی چې هغه سیوری ورته رانژدی شو او خنجر یې پخپل لاس کې پورته کړ ترڅو درویش پری ووهی، درویش یو دم راتاو شو او په امساء ک د هغه لاس داسی کلک ووهلو چې شل او مات شو، بیا یې په ګیډه کې سخته لغته ورکړه او پر مخ یې وغورځاوه، په شا ورته کیناستلو او د خولی څخه یې شپیلی وکړ چې سمدستی دوه ځوانان راپیدا شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي څارونکی له ځان سره خپلی خیمی ته بوتللو تر پلټنی او تحقیق وروسته معلومه شوه چې په دربار کې د احمد بن عمرو په نامه چې د عز الدین وزیر وو دی کس ته څو دیناره منلی وه.

هغوي دا هڅه کوونکی وواژه او د هغه مړی یې د یو لیک سره د احمدبن عمرو د کور مخی ته واچولو.

سبا چې کله هغه د خپل کور څخه راووت نو د خپل ګمارل شوی سړی مړی یې سره د لیک ولیده نو هغه سمدستی عز الدین ته ورغی او لیک یې ورکړ او مړی یې هم له ځان سره دربار ته ننویستلو.

په لیک کې عز الدین او احمد بن عمرو ته لیکلی شوی وه چې ترڅو تاسې د صلیبیانو سره دوستی لری او د مسلمانانو په خلاف پلانونه جوړوي تر هغې به راځخه په قلاره خوب ونکړی ، ستاسې ټول پلانونه به خنثی کیږي، تاسې د صلیبیانو لپاره لویه ډپو او ذخیره جوړه کړی وه چې هغه مو درته تباه کړه ، احتشام الدین تاسې بیروت ته استولی وو خو مونږ هغه د ټولو رازونو سره راوویست او خپل ملګری مو کړ، ترڅو تاسې سمی لاری ته برابر نشی همداسی به در په در ګرځی .

* * *

د تل خالد ارمنی واکمن او د موصل واکمن عز الدین پخپلو کې سره ژمنه ایښی وه چې په هر زم کې سره وګوري او پخپلو کې سره پوځی تړون وکړي. عز الدین خپل وزیر ابن عمرو ته وویل چې زه دوه ورځی وروسته هر زم ته ځم او هلته د تل خالد د واکمن سره پوځی تړون کوم بیا به نو د صلاح الدین ایوبی په خلاف عملی ګامونه پورته کوم .

دا خبره چې کله هغوي کوله نو د دربار نوکری هغه واوریده، لږ څنله وروسته هغه میرمن رضیع ته ورغله چې پلان داسې جوړ شویدی .

میرمن رضیع سمدستی یو مجاهد چې فهد نومیده او همده ځای درویش کړئ وو وظیفه ورکړه چې صلاح الدین ایوبی ته احوال ورسوي چې عز الدین او د تل خالد واکمن په هر زم کې سره دوه ورځی وروسته ګوري، فهد په خپل اوښ سپور شو او د تل خالد په لوري وخوځیده تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو سلطان صلاح الدین ایوبی ته د دې دوارو مشرانو په هکله خبر ورکړي چې هغوي سره په هر زم کې ګوري .

تل خالد د ارمنیانو هیواد وو چې د مسلمانانو په شمالي برخو کې پرون وه، عز الدین غوښتل د هغه ځخه کومک وغواړي ځکه چې صلیبیانو هغه ته د دوستی په نامه څو ځلی دوکه ورکړه. داسې مرسته صلیبیانو ورسره نکوله چې هغه کامیاب شی بلکې هغوي یوازې جګړه تودوله.

پدې خبرو عز الدین پوه شو چې نور د هغوي څخه څه نه کیږي نو ځکه یې ارمنیانو ته لاس ور اوږد کړ.

کله چې فهد سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورسیده نو هغوي تل خالد ته نژدې رسیدلی او د محاصرې کار یې پیل کاوه چې د نوی پلان څخه خبر شو نو خپل پوځ ته یې د تل خالد په لوري حرکت ورکړ او خپله د مجاهدینو د یوې ډلی سره د هر زم په لورې وخوځیده ترڅو هلته دوارو مشرانو ته د عبرت سبق ورکړي .

په هر زم کې ارمنی واکمن او عز الدین سره کیناستل او په خپل منځی اړیکو یې خبرې پیل کړې ، عز الدین وویل : مونږ ته صلیبیان دوکه راکوي او د مرستی په نامه مو غولوی او خپل مطلب تر لاسه کوي، ما سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورمخامخ کوي خو خپله هیڅ نه ور وړاندې کیږي، هغوي سره د دومره لوی پوځی ځواک له سلطان صلاح الدین ایوبی څخه ویره لری .

څو ځلی ما هغوي ته وویل : زه به د سلطان صلاح الدین ایوبی سره مخامخ جګړه پیل کړم تاسې پری د شا لخوا برید وکړی خو هغوي دا خبره ونه منله ، اوس زه تاسې ته راغلی یم که تاسې زمونږ سره کومک ونکړی نو ډیر زر به سلطان صلاح الدین ایوبی دا ټول ریاستونه او امارتونه ختم کړي او په ټولو به یوازې حکومت کوي چې مونږ ته د منلو وړندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارمني واکمن ورته ووېل: زه خپله په صليبيانو باندې باور نلرم هغوي غواړي په مختلفو پلمو سره موږ ټول خپل تابع کړي او که سلطان صلاح الدين ايوبي نه وي نو بيا خو موږ ته يوه ورځ هم نه ګوري

بلاخره د دواړو تر منځ پدې سره پريکړه وشوه چې عز الدين به د سلطان صلاح الدين ايوبي سره مخامخ جګړه پيل کوي او بيا به د شا لخوا د ارمني پوځونو پوسيله بريد پرې کيږي تر څو د سيمې څخه په ماتې او ناکامي سره وشړل شي .

عز الدين سمدستي د جګړې په پلان غور پيل کړ، دوی دا پلان جوړولو چې د قرار ګاه په شا او خوا کې د آسونو غوبل جوړ شو.

ارمني واکمن خپل ساتوونکي راوغوښتل چې دا کوم بې آدبه او بدبختان دي چې خپل آسونه يې خوشې کړي او موږ خبرو اترو ته نه پريږدي ؟ هغوي فکر کاوه چې خپلو پوځيانو يې آسونه خوشې کړي خبر نه وه چې د سلطان صلاح الدين ايوبي کماندويانو په قرار ګاه باندې بريد کړی او د هغوي څاروی يې خوشې کړي.

په همدې وخت کې يو ځل بيا هغوي راتاو شول او اور غورځوونکې غشې يې په خيمو باندې وويشتل چې پدې سره خيمو اور واخيست. د دې غشو سره نيزې او برچې هم استعمال شوی او په قرار ګاه کې قيامت جوړ شو.

څو ځلې هغوي راغلل تباهي يې جوړه کړه او بيا بيرته ورک شول، عز الدين په همدې بد حالت کې په يو آسپ سپور او يوازې د موصل په لوري وتښتيده، خپل نور کسان يې شاته همداسې بې آسرې پريښودل.

ارمني واکمن تيښته ونکړه او هلته پاتې شو کله چې سهار شو نو قرار ګاه کې هر لوری ته مړي او زخميان پراته وه، اوښان او آسونه يوې او بلې خواته ګرځيدل .

کله چې د شپې کماندويانو دويمه حمله وکړه نو دا چيغې او نارې يې هم وکړې چې عز الدين او ارمني واکمن دې مخې ته راوځي، هغوي دې سلطان صلاح الدين ايوبي ته تسليم شي او کنه موږ به يو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی نه پریږدي - د سلطان صلاح الدین ایوبی پلان دا وو چې هغوي وډار کړي او دی ته یې مجبور کړي چې ورسره اتحاد وکړي تر څو دوی په ګډه د صلیبیانو په خلاف وجنګیږي. د هغه سره د دوی د نیولو او وژلو کومه اراده نه وه.

سبا د غرمی څخه مخکې دوه سپاره قرار ګاه ته راغلل او د سلطان صلاح الدین ایوبی پیغام یې راوړ، هغه ورته لیکلی وه چې ستاسې ریاست تل خالد زمونږ تر محاصرې لاندې دی. کیدای شي ستاسې د ورتګ څخه مخکې هغه زمونږ لښکری ونیسی نو که زمونږ سره تړون کوي خو بیرته به درته ریاست خوشې کړو او که مقاومت کوي نو نه به ته وی او نه به مو ریاست.

ارمنی واکمن هغه استازی په عزت سره رخصت کړل او هغوي ته یې وویل چې د ماښام څخه مخکې به زما وزیر تاسې ته درشي او هلته به درسره خبری وکړي.

د ارمنی واکمن وزیر بکتمور نومیده چې ډېر هوښیار انسان وه، واکمن خپل وزیر ته وویل : زما نظر خو دا دی چې مونږ د سلطان صلاح الدین ایوبی سره څه دښمنی نلرو نو ولې ځان پدې شخړو او جنجالونو کې اچوو، مونږ باید بالکل بی پری او بی طرفه پاتی شو کنه سمدستی مونږ ته خطر متوجې دی.

وزیر بکتمورو وویل : د تل خالد واکمنه ! زه ستاسی نظر تائیدم.

وزیر بکتمور سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورغی خبری او اتری یې یې وکړی چې د هغه په نتیجه کې سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ټول شرایط پری ومنل بیا یې د تل خالد محاصره ختمه کړه او د حلب په لوری وخوځیده ځکه چې د ده لوی مخالف او د صلیبیانو ګوډاګی عماد الدین اوس هلته واکمن وو.

عز الدین چې کله د موصل څخه هر زم ته راتللو نو میرمن رضیع ته یې ویلی وه چې زه یو ځای ته سفر لرم که هلته زما کار وشو نو سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدين ايوبي ته ماتي ورکوم خو که ما بيا ماتي وخوړه نو ته به زما او سلطان صلاح الدين ايوبي تر منځ روغه او جوړه کوي.
ميرمن رضيع ورته وويل: زه ستا هر حکم منلو ته چمتو يم.

* * *

د شام او عراق شمالي سيمه د ياربکر يا عميده په نامه سره يادېده چې خلک يې عربان وه، د هغه ځاى اوسيدونکي د سلطان صلاح الدين ايوبي پلويان او د هغه سره په پوځ کې ډېر زيات کسان داخل شوي وه خو واکمن او واکمن يې د صليبيانو ګوډاګي او غلام وو. هغه نه غوښتل چې د دي ځاى اوسيدونکي دي د سلطان صلاح الدين ايوبي سره په پوځ کې پاتي شي او د خلکو مخنيوى يې کولو نو صلاح الدين د هغه د بې وسلې کولو پلان جوړ کړ ځکه هغه دا ځلې تصميم نيولى وه چې پدې ټوله سيمه کې بايد يو واکمن هم داسې پاتي نشي چې د صليبيانو ملګرى او دوست وي او د فلسطين په فتح کې زمونږ شاته مشکلات راپيدا کړي، په همدې خاطر سلطان صلاح الدين ايوبي دياربکر د آمير د بې وسلې کولو پلان ونيوه او خپل لښکر ته يې د هغې سيمې په لوري حرکت ورکړ، دا حرکت دومره تيز وه چې څو خلک خبريدل هغه کلا محاصره کړې وه.
د دياربکر امير چل وکړ او په خلکو کې يې اعلان وکړ چې صليبي لښکر کلا محاصره کړې او ټول خلک دي مقابلې ته ځانونه چمتو کړي

خلکو او پوځ ټول په ډېر جوش او جذبې سره د کلا دفاع ته ودريدل.
اته ورځې سخت جنګ وشو ځکه هغوي صليبيانو ته هيڅکله نه تسليمدل.
په اتمه ورځ په کلا کې د سلطان صلاح الدين ايوبي پلويانو خلک پدې پوه کړل چې د باندې صليبيان نه بلکې د مسلمانانو لښکر دى نو خلک راټول شول او د خپل ګوډاګي امير له اجازې څخه پرته يې د کلا دروازې خلاصې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدين ايوبی د خپل لښکر سره فاتحانه کلا ته داخل شو او واکمن ته يې پرته د پوخ او وسلې څخه د وتلو اجازه ورکړه، دا کلا هم د سلطان صلاح الدين ايوبی تر کنترول لاندې راغله او نوی امير يې د نور الدين په نامه ورته وټاکلو بيا يې پوخ ته د حلب په لور حرکت وکړ.

دا فتح د مي په مياشت۱۱۸۲ ميلادی ( محرم الحرام ۵۷۹ هجری) کې وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نه زه ستا او نه مصر ستا دی

د فتح او کامیابۍ په لاس ته راوړلو هر انسان خوشحالیږي، کله چې فتح وشي د خلکو څېرې روښې او په خوله یې خندا وي، جشنونه لمانځل کیږي او د خوشحالۍ غونډې جوړیږي، میلمستیا ګانې وي او هر لورې ته بیرغونه رپیږي په مصر او شام کې هم چې کله به فتوحات وشول نو مسلمانانو به ډېرې خوشحالۍ کولې او جشن به یې لمانځلو خو د ۱۱۸۳ میلادي کال ټول فتوحات بې مزې او پیکه وه، په هیڅ برې او کامیابۍ باندې نه خوشحالي وشوه او نه پرې جشن ولمانځل شو، بلکې د هر برې څخه وروسته څېرې ورسره بې خونده او پیکه کېدلې. پدې کال سلطان صلاح الدین ایوبي ډېرې کلا ګانې او امارتونه ختم کړل او ټول یې د یو مرکز تابع وګرځول او د ارمنستان ځواکمن مشر یې پخپلو سختو شرایطو سولې کولو ته اړ کړ خو سره د دې هم سلطان صلاح الدین ایوبي خفه، اندیښمن او پیکه معلومیده.

هغه ته به چې د کوم ځای څخه د دښمن د ماتې خبر راغی نو د هغه سر به ښکته شو او د خفګان اثار به پکې ښکاره شول .

یوه ورځ سلطان صلاح الدین ایوبي ته خلک د مبارکۍ لپاره راغلل، خو د هغه سترګې سرې او د اوښکو څخه ډکې وې. هغه خپلو سالارانو او مبارکي ویوونکو ته وویل: تاسې پدې نه پوهیږي چې مونږ د خپلو کورونو څخه د صلیبیانو د مقابلې لپاره راوتلي وو تر څو هغوي د خپلې پاکې خاورې څخه وباسو خو تاسې ګورې چې دا څو کاله مونږ پخپله خاوره کې د خپلو مسلمانو وروڼو لخوا څخه راګیر یو، هغوي مونږ وړاندې نه پرېږدي، هغوي زمونږ د پښو زولنې ګرځیدلي، هغه وینې چې د بیت المقدس او فلسطین د ازادۍ لپاره باید توی شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رايي هغه دلته نوي شوي. هغه جنگي ځواک چې بايد صليبي دار ماران يې شړلي واى هغه دلته ختم شو.
نو دښمن پر موږ ځکه بريالي شو چې زموږ ځواک يې راختم کړ. دا بريالیتوبونه زموږ نه بلکې د صليبيانو دي چې د هغوي دښمنان ورځ په ورځ کمزوري کيږي. کله چې موږ ټول کمزوري شو هغوي به بيا په يو بريد باندې هر څه خپل کړي او ملامتي به هم پر موږ باندې وي ځکه چې موږ هغوي ته لاره اسانه کړه. د ملت او عوامو ځواک مو ختم کړ.
يو سالار وويل: نو بيا ولې پدې فتوحاتو صليبيان پخپلو ښارونو کې ننوتې او وراندې نه راځي؟ هغوي ولې پر موږ بريدنه کوي؟ د دې څخه معلوميږي چې هغوي پدې فتوحاتو ويريدلي دي!
سلطان صلاح الدين ايوبي ورته وويل: د هغوي حملې او بريد ته څه اړتيا ده چې ته خپله داسې کار کوې چې هغه ته لاره برابره وي نو هغه خو ناپوه ندي چې خپل قوت درباندې مصرفوي. هغه ته هر څه وړيا پلاس ورځي. د هغوي د دفاع جګړه بل څوک کوي چې هغه يې هم د دين دښمن بولي. هر لوري ته چې زيان اوړي گټه يې هغوي ته رسيږي نو ځکه هغوي بې غمه ناست او ايمان پلورونکي د هغوي دفاع کوي. هغوي ورته سپر او ډال شويدي. د هغوي د بدو عملونو څخه دوى دفاع کوي او دوى ورته دلايل برابروي او د هغوي په حق کې فتواگاني ورکوي.
هغوي مسلمانان مخې ته کوي او خپله تر شا کيږي ځکه د هغوي د دوارو په مره کيدو کې گټه ده. هغوي يوازې لږ شانته مرسته ورکوي او يا کوم سلا کار يا استاذ پکې له منځه ځي نور تلفات خو زموږ خپلو خلکو ته اوړي. پدې کې زموږ خپل ايمان او وطن پلورونکي گرم دي چې هغوي دومره نه پوهيږي چې يهوديان او صليبيان هم کله د مسلمانانو دوستان کيداى شي؟ هغوي په يو ځاى کې د مسلمان غولولو لپاره د هغه سره دوستي کوي خو په هماغه وخت کې په بل مسلمان باندې د ځناورو په شان حمله کوي. کورونه يې ورانوي او هر څه يې سوځوي. د ميرمنو. لورگانو او خويندو عفت او عصمت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوټوي که هغوي د اسلام او مسلمانانو سره دوستي، مينه او محبت درلوده نو بايد د هغوي پاليسي يو شانته وايي، هغوي د دوستۍ او دښمنۍ لپاره دوه معيارونه لري چې د هر چا سره د خپلو ګټو په خاطر چلند کوي .

يوسلاکار وويل : دښمن زمونږ د پوځ په هکله دا مشهوره کړې چې سلطان صلاح الدين ايوبي خپل پوځ ته د لوټ او نجونو د تر لاسه کولو اجازه ورکړې ده .

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل : دښمن په زمونږ خلاف دا بې‌بنياده خبرې له دې امله مشهورې کړې چې د مسلمانانو په زړونو کې د اسلامي پوځ خلاف کرکه پيدا شي او مونږ سره مرسته ونه کړې ، دا تاسې ته معلومه شوه چې کوم ښار محاصره کوو د هغه ځای خلک سره ددې چې مسلمانان دي زمونږ په خلاف جنګيږي .

زما دوستانو په دې پوه شي ! قوم پرته له پوځ څخه او پوځ پرته د قوم د مرستې څخه د دښمن له لورې ماتيږي.

الله تعالى په خپل کتاب فرقان حميد کې د مظبوط ديوال جوړول حکم يوازې قوم يا پوځ ته نه دی کړی بلکې کلک ديوال د قوم او پوځ څخه جوړيږي .

ددې ديوال د سورې کولو ړنګولو طريقه دا ده چې پوځ نااهله، غله ، شوکمار ، د ښځو د عزت او ابر لوټونکی وبلل شي .

صارم مصري وويل : کله چې د دياربکر خلک پوه شول چې محاصره کوونکي مونږ يو نو د واکمن د مخالفت سره سره زمونږ هرکلي ته راووتل .

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل : په دياربکر کې د ټولو جوماتونو امامان زمونږ ملګري وه هغوی په خپلو خطبو کې خلکو ته د لمانځه ، روژې ، زکات ، حج سره سره د ايمان پلورونکو حاکمانو او اميرانو په هکله له ويرې پرته هر څه ويلي .

او دا هم چې کله يو مسلمان د بل مسلمان وينه تويوی نو عرش معلی خوځيږي او الله تعالى په هغه سيمه باندې خپل قهر نازلوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته به ښه معلوم وي چې په دياربکر کې صليبي جاسوسانو د صوفيانو ، عالمانو او سپين روبو په جامو کې عقيدوي ترهګرۍ او وران کاري تخريب کارۍ کوله خو مونږ د الله تعالى د کتاب قران کريم او نبي کريم ﷺ د هداياتو په وسيله خلک پوه کړل.

يو سالار وويل : نو څه کول اړين دي ؟

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل : زما ملګرو! دښمن ښه وپيژنئ ستاسي دښمنان هوښياران دي ، نوي سلاح لري او حساسي سيمي يي تر لاس لاندې دي ، هغوی د طبعي زيرمو څخه ګټې اخلي .

زمونږ د قوم او پوخ تر منځ ذکرکي پيدا کولو کوښښ کوي .

زمونږ ورونه او خويندې د مذهب ، قوم ، ژبي ، رنګ او سيمي په نامه سره جنګوي .

زمونږ د ورونو او خويندو په يو بل باندې د اعتماد کولو جذبه ختموي .

زمونږ طبعي زيرمي په يو نوم او بل نوم باندې لوټوي .

* * *

سلطان صلاح الدين ايوبي د دياربکره تر نيولو وروسته د فرات د سيند په غاړه خيمي ولګولي او هلته يې قرارګاه جوړه کړه ترڅو زخمي سپايان هم روغ او د سامان کموالي هم پوره شي.

هغه صارم مصري ته وظيفه ورکړ چې شا او خوا ټولي لاري او سيمي تر خپلي څارنې لاندې ونيسي .

يو ځل سلطان صلاح الدين ايوبي د خپلو سالارانو سره د چکر لپاره ووتلو، ګوري چې په يوه هديره کې يو ځوک د قبر سرته ولاړ او دعا کوي ، سلطان صلاح الدين ايوبي هلته ورنژدي شو- هغه سړي سلام وکړ او بيا يې سلطان صلاح الدين ايوبي ته وويل : زه د دې نژدې کلي امام يم او هر وخت په هديرو ګرځم چيري چې د شهيدانو قبر وي هلته دعا کوم ځکه چې د شهيدانو وينه خاوره له ځان سره پاکوي او هغې ته تقدس وربښي جهاد تر ايمان وروسته غوره او افضل عبادت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی هلته په دوه قبرونو باندی تختی او لوحی ولیدی چې په یو لیکل شوی وه :

عمر المملوک شهادت دی الله قبول کړه !

نصر المملوک

په بله لوحه لیکلی شوی وه

زما شهادت دی الله قبول کړی!

نصر المملوک

سلطان هغې لوحو ته په غور سره وکتل بیا یې وویل: دا دواړه لوحی یو چا لیکلی دي !

صارم مصری ورته وویل: دا زمونږ ملګری دي چې شهیدان شویدی .

څو ورځی مخکې د فرات په سیند کې یوه کښتی را روانه وه چې د صلیبیانو سامان پکې بار وه. ما د هغې د نیولو لپاره اته کسان ورولیږل، په هغې کښتی کې شل کسان سپاره وه، کله چې دوی ورنږدی شول نو یو د بل کښتی ته ور پورته شول او سخته جګړه پیل شوه. بلاخره هغوی ورڅخه کښتی ونیوله او زمونږ دوه کسان خای پر ځای شهیدان شول چې یو پکې عمر وه نصر ډیر سخت زخمی وو، هغه په یوه لوحه ولیکل عمر شهادت دی الله قبول کړه، بیا یې هغه لوحه د عمر په قبر باندی ودروله ، وروسته هغه هم زیات په تکلیف شو نو په خپله وینه یې بله لوحه ولیکله چې الله تعالی دی زما شهادت قبول کړي.

د دی څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی خپلی خیمی ته ولاړ چې کیناسته نو د قاهری څخه ورته استازی راورسیده .

سلطان صلاح الدین ایوبی ورته سمدستی وویل: پیغام د خوشحالی دی او که د خفګان .

استازی وویل: زه څه نشم ویلای .

سلطان صلاح الدین ایوبی لیک خلاص کړ چې دارنګه په لیکلی شوی وه : محترم او د قدر وړ سلطان! زمونږ یو نائب سالار حبیب القدوس د پنځلس ورځو څخه راهیسی بی درکه دی، هر څومره چې مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلټنې او تحقیقات وکړل د هغه څه درک څرګند نشو . داسې معلومېږي
چې یا صلیبي داره مارانو تښتولی او یا دا چې خپله ورغلی دی

که چیرې خپله ورغلی وي او مونږ ته پلاس راغی نو مونږ ستا څخه
اجازه اخلو چې د هغه سره څه معامله وکړو . ستا نائب امیر وایي چې
زه پرته د سلطان صلاح الدین ایوبي له اجازې څخه د داسې سړي په
خلاف څه نشم ویلای ځکه چې حبیب القدوس په سلطان صلاح الدین
ایوبي باندې ډېر ګران دی . زمونږ پلټنو هم ښودلې ده چې هغه بې
باوره او خام سړی ندی خو بیا هم پدې کې ستاسې اجازه پکار ده

علي بن سفیان

سلطان پیغام ولوست او سمدستي یې کاتب راوغوښت او ځواب یې
ولیکلو: په علي بن سفیان دې سلام وي ! د اسلام د سپیڅلي دین په
هکله د هیڅا مرتبه او رتبه په نظر کې مه ساتې خو تحقیق باید مکمل
او پوره وي . د حبیب القدوس په هکله له چالاکۍ څخه کار واخلئ
ځکه چې څومره په تا باور لرم په هغه یې هم لرم خو که ریښتیا غدار
وختلو نو هیڅ خاطر او لحاظ یې مه کوئ .

ای علي ! که ته د حق په لاره روان وې نو الله جلت عظمت به دې
مرسته کوي .

مونږ ټول ګناهکاران یو د الله تعالی څخه تل د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړو پاک یوازې او یوازې د الله تعالی ذات دی .

صلاح الدین یوسف

حبیب القدوس پخپل لښکر او پوځ کې دومره منلی شخصیت وو چې
خپل پنځه زره کسان یې ټول مریدان وه . هغه دومره تکړه او باتور سړی
وه چې یوازې د خپل پنځه زره لښکر په وسیله یې د دښمن لویو لویو
لښکرو ته ماتې ورکوله . د جګړې په ټولو چلونو او اصولو پوهیدلو او
خپل اړوند پوځ یې هم همداسې روزلی وه . د هغه روزنه تر ټولو سخته
وه خو سره د دې ټولو سختیو هغه په خپل پوځ کې داسې منلی وو چې
هیچا یې خبره ځمکې ته نه غورځوله . کله چې سلطان صلاح الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایوبي د شام په لوري حرکت کولو نو هغه ورته وویل: د مصر څخه بالکل بې غمه اوسه، که راپاتندي برید وشي هم یې زه دفع کولای شم او که دننه څوک بغاوت او وران کاري کوي هم یې زه کنټرولولای شم. تاسې هیڅ فکر مه کوئ. هغه د ټولو اسلامي اصولو تابع او هیڅ ډول شک پکې موجود نه وو.

څو ځلې صلیبیانو هغه ته په مختلفو پلمو خواني تجویزونه وړاندې کړي، مال او دولت هر څه خو هغه د صلیبیانو او غدارانو څخه ډېره زیاته کرکه لرله. بلاخره په قاهره کې د صلیبي جاسوسانو او د هغوي د ګوډاګیانو لخوا څخه دا سلا مشوره وشوه چې باید په مصر کې پوځي کودتا او بغاوت وشي ترڅو سلطان صلاح الدین ایوبي مجبور شي او د بیت المقدس څخه لاس واخلي. هغوي ټول پدې سره یو خوله وه چې حبیب القدوس دا کودتا او بغاوت کولای او کامیابولی شي ځکه د هغه سره پنځه زره کسان دي او ټول د هغه په اشارو سره ځان قربانوي . هغه باید تر خپل اثر او کنټرول لاندې او بیا تري کار واخیستل شي.

* * *

ماښام تیاره دوه کسان حبیب القدوس ته راغلل چې زمونږ د کلي جومات رنګ شویدی او بیا د هغې د ښست ډېره کیښودل او چنده راټول دي، نور کسان هم راغلي که تاسې زمونږ سره ولاړ شی نو امید دی چې خلک به د زړه له اخلاصه پکې برخه واخلي. څرنګه چې حبیب القدوس دیني او مذهبي سړی وو نو سمدستي ورسره روان شو، په لاره کې څلور نور کسان هم راپیدا شول لږ چې وړاندې ولاړل نو هغوي د حبیب القدوس لاسونه او پښې وتړل او حشیش یې پرې وځښل بیا یې هغه په اوښ بار کړ او د فرعونیانو زړو کنډوالو ته یې ورساوه چیری چې صلیبي داړه مارانو مرکز نیولی وو.

پدې مرکز کې څو باطني فدایان اوسیدل او حبیب القدوس هم دوی راتښتولی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فدايانو او صليبيانو هغه ته پرله پسې حشيش ورکول ترڅو چې هغه تر خپل کنترول لاندې راولي .
دوه هفتې وروسته هغه دې درجې ته راغلی چې د دوی په خبره پوه شي نو په سترګو او غوږونو کې يې ورته دا خبرې د هيپونو تيزم په وسيله القاء کولې چې مصر زمونږ دی، مصر بل څوک نيولی . سلطان صلاح الدين ايوبي په مصر قبضه کړې زه به خپل وطن له هغه څخه ازادوم هغه به وژنم .
هغه ته دوه ښايسته نجونې ټاکل شوې وې چې هغه تر خپل اثر لاندې راولي ، يو ځل يوه ورته راغله او په هغه يې لاس واچولو او خپل مخ يې ور وړاندې کړ څو شيبې وروسته ورڅخه پاڅيده او ورته ويې ويل: ترڅو چې سلطان صلاح الدين ايوبي ژوندی وي او په مصر د هغه پادشاهي وي تر هغې پورې نه زه ستا يم او نه مصر ستا دی .
حبيب القدوس د حشيشو او شرابو تر اثر لاندې هغه نجلۍ راکش کړه او هغې ته يې وويل : ته هم زما يې او مصر هم زما دی ، زه به سلطان صلاح الدين ايوبي وژنم او د مصر پادشاه کيږم .
د دې څخه وروسته صليبيانو په هغه باندې حشيش بند کړل ترڅو هغه په خپله خوښه او پرته له نيشې څخه تر خپل اثر لاندې راولي.
د يوې شپې ورځې وروسته د هغه نيشه ولاړه ، يوې او بلې خواته يې وکتل ګوري چې ځای بدل دی او هغه ښکلې اوښايسته باغونه نه ښکاری چې مخکې به دې پکې ګرځيده، د هغه د خيال څخه هر څه تللي وه - هغه اوس فکر او سوچ کولای شو. پدې وخت کې ورته د صليبي داره مارانو مشر ورغی چې ځان يې مسلمان معرفي کاوه او په روانه مصري ژبه يې خبرې کولې .
هغه د حبيب القدوس سره ډېره ښه رويه پيل کړه خو حبيب القدوس پرې پوه شو چې دا صليبي دی او زه همده راتښتولی يم ځکه د تيښتې په لومړنيو ساعتونو کې هغه روغ وو او هغه حالت يې په ياد پاتې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب القدوس په زړه کې فیصله وکړه چې اوس د چل څخه کار اخیستل پکار دي ځکه چې هغه بندي دی ترڅو چې تیښتی ته لاره برابریږي باید په هر څه باندی هو وکړي .

صلیبی مشر ورته د مصر حالات بیان کړل او بیا یې ورته وویل چې سلطان صلاح الدین ایوبی ډېر ښه سړی دی خو هغه د دی سیمی ندی بلکې د کردستان څخه راغلی او دلته حکومت کوی ، مونږ به د هغه حکومت ومنو خو که هغه مړ شي نو بیا به یو بل فرعون پیدا شي چې د هغه څخه به مصر ازادول ګران وي نو همدا اوس ښه وخت دی چې دلته د ازاد مصر په نامه حرکت پیل شی او سلطان صلاح الدین ایوبی ته خواب ورکړل شی چې نور مصر د مصریانو دی او تاسې دی خواته نور مه راځی .

ستاسې اړوند پوځ دا کار کولای شی او که اړتیا پیښه شي نو د سوډان پوځ او هم د ګاونډیانو څخه مرسته اخیستلای شی .

د نوی او ازاد مصر د پادشا یې او امارت سره د پوځ د اعلی قوماندانی څوکی به ستا وی .

حبیب القدوس ومنله چې همداسی پکار ده مونږ به ترڅو د نورو غلامی کوو ستاسې خلک چې زما سره مرسته وکړی همدا بس ده خو که ګاونډیان مونږ ته مرسته راکوی نو څه خو به خامخا راڅخه غواړي هغوي ته به څه بدل ورکوو؟

صلیبی مشر وویل: ګاونډیان پرته د دی څخه بل څه غواړي چې لوی دښمن سلطان صلاح الدین ایوبی د دی ځای څخه بی برخی شي کوم پوځ او لښکر چې د مصر څخه هغه ته ورځی د هغی څخه خلاص شي او همدا د ګاونډیانو هیله او امید دی ، هغه ورته د صلیبیانو نوم نه اخیستلو ځکه چې حبیب القدوس د هغوي په هکله ډېر حساس وو.

صلیبی مشر ورته ځینی هغه چارواکی هم معرفی کړل چې په مصر کې یې وظیفی لرلی ځکه هغه اوس په حبیب القدوس باندی پوره باوری وو او هم پدی پوهیده چې هغه اوس زمونږ تر کنترول لاندی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب القدوس صلیبی ته وویل: زما یوه اړتیا پوره کړی زه بیا د هماغی څخه د پاځون په کولو کې کار اخلم، زه دلته یوازي یم نو ماته مې خپله میرمن زهرا راوغواړی هغه به زما سره وی او د هماغی څخه بیا د اړیکو په نیولو کې هم کار اخلم.

صلیبی دا خبره ومنله او خپلو کسانو ته یې وظیفه ورکړه چې د هغه میرمن د قاهری څخه راوتښتوی.

څو فدایان قاهری ته ولاړل چې یوه پکی ښځه وه، ښځی د خان څخه سوالګره جوړه کړه او د زهرا په لاره کې ودریدله هغې ته یې د خپل خاوند پلاس لیکلی لیک ورکړ او دا یې ورته وویل چې ستا او ستا د خاوند ژوند او مرګ زمونږ په لاس کې دی، پخپله خوښه پرته د نورو د خبرولو څخه را سره ولاړه شه.

زهرا د خپل خاوند د ژوند په خاطر د هغوي سره وعده کیښودله او د شپې په تیاره کې ورسره ولاړه.

کله چې هغه حبیب القدوس ته ورسیده نو د شپې هغه ورته ټوله کیسه وکړه او دا یې ورته وویل چې زه صلیبیانو نیولی یم او زما څخه غواړي چې په قاهره کې د خپل پوځ په وسیله پاځون وکړم، اوس ستا پوری اړه لری چې څه ډول کولای شي د تیښتی لاره برابره کړی.

زهرا ډیره هوښیاره وه، هغې د صلیبی نجونو سره ملګرتیا جوړه کړه او څو ورځی وروسته د هغوي سره د غرونو له منځ څخه د چکر لپاره ووتله تر څو لاره ووینی. د دی کنډوالو څخه یوه پټه لاره د نیل دریاب ته راوتلی وه چې د هغه ځای څخه بیا په کښتی کې مخ په قاهره تللی وه.

زهرا څو ځلی په هماغه لاره د نیل غاړی ته راغله او لاره یې ښه په ذهن کې پخه کړه.

صلیبی مشر او حبیب القدوس د پاځون پلان جوړ کړ چې وروسته د هغې د عملی کولو په خاطر د سوډان او مصر څخه دوه کسان نور هم راغلل چې کله د ټولو موافقه راغله او پلان مکمل شو نو هغوي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنډوالو کې یو محفل جوړ کړ چې هر لوري ته شراب بادیدل او نڅا کوونکو نڅا کوله .

زهرا په شرابو کې ښه پریمانه حشیش ګډ کړل او خلکو ته یې وړاندې کړل ترڅو نیشه او ویده شي او بیا دې او خاوند یې وتښتي. هغې دومره شراب او حشیش ورکړل چې تر سبا ماښام پورې څوک رابیدار نشي .

کله چې فدایان او صلیبیان ټول نیشه او بې هوشه شول نو زهرا وسله او غشي راواخیستل او دواړو ځانونه په وسله سمبال کړل .

حبیب القدوس توره په لاس کې ونیوله او زهرا برچه ، دواړه په خپ خپ ګامونو وړاندې تلل تر څو کوم څارونکې هغوي راګیر نه کړي، دواړه هغه ځای ته ورسیدل چې د نیل په غاړه کوچنۍ کښتۍ ولاړه وه. دواړه پکې سپاره شول او په اوبو بهیر کې یې خوشې کړه ځرنګه چې کښتۍ د اوبو سره سمه اوموافقه روانه وه نو زور یې نه غوښتلو. هغوي د نیمې شپې څخه وروسته د نیل په دریاب کې داسې یو ځای ته ورسیدل چې په غاړه یې د مصر امنیتي پوسته وه .

حبیب القدوس هغوي ته ناري کړې نو د پوستې کسان ورپسې راغلل او هغوي دواړه یې خپلې پوستې ته ورسول، دا پوسته د همده د پوځ پورې تړلې وه. نو هغوي وپیژانده او ډېر ورته خوشحاله شول .

حبیب القدوس د پوستې قوماندان ته د تښتولو کیسه وکړه بیا یې وویل : یا د وچې او یا د نیل له لارې باید سمدستي په کنډوالو برید وشي او هغه ټول کسان ګیر شي چې په وران کارۍ کې برخه لري ، شل کسان سپاره او خپله حبیب القدوس په آسونو سپاره شول او د کنډوالو په لوري ولاړل .

غرمه هلته ورسیدل. ټول کسان څه بې هوشه او څه لږ بیدار ونیول شول او په آسونو لاس تړلې پوستې او بیا قاهرې‌ته راوستل شول .

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمه شپه وه چې نوکر د علي بن سفیان دروازه وټکوله او هغه ته یې وویل چې د مصر نائب امیر تاسې سمدستي بللی یاست .
علي بن سفیان سمدستي در الامارت ته ولاړ ګوري چې حبیب القدوس هم ناست دی. هغه ډیر حیران شو، حبیب القدوس هغوي ته ټول هغه چاړواکي په ګوته کړل چې صلیبي ورته ښودلي وه، په هماغه شپه ټول کسان ونیول شول او بیا سمدستي سلطان صلاح الدین ایوبي ته لیک او استازی واستول شو او ټوله کیسه یې ورته ولیکله .
پدې وخت کې سلطان حلب تر محاصرې لاندې نیولی وو چې د قاهرې څخه ورته لیک راورسیده، سلطان صلاح الدین ایوبي لیک د استازي څخه واخیسته او په لوستلو یې پیل وکړ ورو ورو یې په تندي د خوښي اثار ښکاره شول .
څرنګه چې سلطان صلاح الدین ایوبي دا ځل فیصله کړې وه چې هیڅ امارت به نه پریږدي نو ځکه هغه د حلب د نیولو قصد کړی وو.
دوه ورځې وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي په حلب باندې یرغل وکړ، منجنیقونو په دروازه او دیوالونو دکانو او ډبرو ویشتل پیل کړل ، دروازې ماتې او اور یې واخیست ، عماد الدین د حلب آمیر پدې پوه شو چې دا ځلې خلک زما سره مرسته نه کوي نو خپل خاص استازی حسام الدین یې سلطان صلاح الدین ایوبي ته د روغې لپاره واستاوه چې هغه ته په موصل کې لږ شانته ځمکه ورکړي او حلب ورڅخه تسلیم کړي، سلطان صلاح الدین ایوبي دا خبره ومنله .
د حلب خلک چې د دې څخه خبر شول نو خپل آمیر ته ورغلل هغه ورته وویل: هو ! زما او سلطان صلاح الدین ایوبي تر منځ فیصله شوې زه نور حلب هغه ته سپارم او زه ورڅخه ځم.
خلکو هم خپل دوه استازي عز الدین جردوک النوري او زین الدین وټاکل او سلطان صلاح الدین ایوبي ته ورغلل ترڅو حلب ورته تسلیم کړي، سلطان صلاح الدین ایوبي هغوي ډېر ونازول او ډېرې ډالۍ یې ورکړې او بیا په ګډه د حلب ښار ته ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږ ورځې وروسته د سلطان صلاح الدین ایوبي ورور تاج الملوک چې په همدې جګړه کې زخمي شوی وو په شهادت ورسیده.
دا فتح په ۱۱ جون ۱۱۸۳ میلادي کې وشوه.
د حلب د فتحې او کامیابۍ څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي خپل پوځ ته د څو میاشتو لپاره رخصت ورکړ ځکه چې هغوی ډېر زیات وخت پرله پسې جنګیدلي وه. هغه غوښتل خپل پوځ ته دمه ورکړي او بیا د فلسطین په لوري خپل پرمختګ پیل کړي د پوځ د رخصیتدو څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي په اداري او لوړ کارونو کې بوخت شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلطان صلاح الدین ایوبی قسم کړی وو

په ۱۱۸۷ میلادی کال د مارچ په میاشت کې سلطان صلاح الدین ایوبی په دمشق کې د خپلو سالارانو، سلا کارانو او ملکی اداری چارواکو غونډه راغوښتی وه ترڅو د یوې مهمې مسئلې په هکله سره خبرې اترې وکړي، پدې غونډه کې د سلطان صلاح الدین ایوبی څیره ډېر روښانه او خوشحاله ښکاریده ځکه هغه د خپل ژوند د اصلی هدف د پوره کولو پریکړه او فیصله له ځان سره کړې وه - هغه په کال ۱۱۸۳ میلادی کې خپل ټول هغه مخالفین سرکوب کړل چې د بیت المقدس او فلسطین په لاره کې خنډ او د صلیبیانو څخه یې دفاع کوله. هغه د سوډان د پولې څخه نیولی تر ارمنستان پورې ټولې سیمې داسې سره وتړلې چې د یو مرکز تابع وي او د ټولو پوځ تر یوې قوماندې لاندې جنګیده ، هغه د موصل او حلب دوه خواکمن حکومتونه خپل تابع کړي او په هغوي کې چې کوم تکړه سالاران وو هغه یې له ځان سره ملګری کړل. ټولو کسانو د هغه د څیرې څخه دا معلومه کړه چې هغه مهمه او اخری فیصله کوی او هر یو د هغې حکم او آمر ته سترګې په لاره وه.

سلطان صلاح الدین ایوبی ټولو ته په یو نظر وکتل او بیا یې د خوشحالی څخه په ډکه خوله وویل : زما دوستانو! زما ملګرو! تاسې به ټول دا خبره زما سره بدرګه کړی چې مونږ اوس د بیت المقدس په لوري پرمختګ کولو ته چمتو یو، نن چې مونږ او تاسې پخپلو کې کوم بحث کوو دا زمونږ تاریخ ګرځی، دا کلمات او خبرې د تاریخ برخه ګرځی چې بیا به راتلوونکی نسل ته پاتې کیږي او هغوي به د همدې تاریخ په رڼا کې زمونږ په هکله فیصله کوي. پدې هم غور وکړه چې مونږ به له نړۍ څخه ځو او تاریخ به نوی نسل ته پریږدو، اوس باید مونږ فیصله وکړو چې ایا راتلوونکی نسل ته ځان شرموو او که ویاړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افتخار کړو، خو مونږ ټولو ژمنه کړې چې جنګیږو به، مره کیږو به خو بیرته پښا به نه راځو. زه تاسې ته ښه باغونه نه درښایم خو دا په یاد ولرئ چې که د صلیبیانو سره هر څومره پوځ او وسله وي مونږ د الله تعالی په توکل سره د هغې په لسمه برخه مجاهدینو او وسله باندې هغوي ته ماتې ورکولای شو ځکه چې جګړه په کسانو او وسله باندې نه کیږي بلکې د جګړې د ګټلو لپاره ایمان، جذبه، احساس او عقل پکار دی، که دا صفات په مونږ کې وي نو بیا د هغوي د زیاتوالي او کموالي پروا مکوی ، مونږ په تیرو جګړو کې دا ثابته کړیده چې په ډېر کم پوځ سره مو د هغوي لوی لوی لښکرې له ماتې او رسوا یې سره مخامخ کړیدی او دا ځل به هم هغوي د اخري ځل لپاره مات کړو.

سالار صارم مصری ووېل : په مونږ کې یو هم داسې نشته چې هغه خپل پوځ د هغوي سره پرتله کړې بلکه مونږ پدې پوهیدل غواړو چې مونږ په کومه لاره بیت المقدس ته رسیدلای شو ځکه احتیاط هم پکار دی .

سلطان صلاح الدین ایوبی ووېل: ما ټول پلان او نقشه ستاسې په مرسته او ستاسې د مشورو سره سمه تیاره کړیده، زمونږ اصلی ځای او میدان حطین دی، تاسې ټول د هغه ځای په نظامی اهمیت باندې پوهیږي، په جګړه کې داسې ځای او میدان غوره کول پکار وی چې دښمن ته پکې زیان او خپل ځان ته پکې ګټه وي او دا صفت د حطین په میدان کې موجود دی، پدې شرط چې راز وساتل شي، حرکت مو تیز وي او تر دښمن مخکې هلته ورسیږو . هلته لوړې ژورې دي، د اوبو چینې او لوی د اوبو تالاب دي چې هغه باید ټول مونږ ونیسو.

په لوړو کې خپل کسان کینوو او بله دا چې هغوي پداسې دښته او صحرا کې راګیر کړو چې ګرمی هغوي په تنګ کړي، هغه د اوسپنې زغرې چې دوی د خپل ځان د ساتنې لپاره اغوستې هغه ورته جهنم وګرځی او خپله پدې آور کې وسوځي، مونږ باید د خپل ټول هیواد اضافي پوځونه همدې ځای ته راټول کړو او دښمن ته غانښ ماتوونکې ماتې ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې باید خپل کسان بیدار کړي چې زمونږ راز رسوا نشي او د دښمن جاسوسان داسې تنګ او ګیر وساتي چې هیڅ ونشي کړای.

دا په یاد وساتي چې د دی پوخ یوه برخه به زما سره وي او زه هغه کرک ته له ځان سره بیایم، څلور کاله کیږي چې ما قسم کړی خو هغه قسم می ندی پوره کړی.

***

په ۱۱۸۴ - ۱۱۸۳ میلادی کال د مصر د حاجیانو یو کاروان د حج څخه بیرته راتللو او خپلو کورنو ته روان وه چې په لاره کې د کرک د واکمن شهزاده رجنالډ ( ارناط ) لخوا څخه چور او لوټ شو، په هغې کې یوه پیغله او ښایسته انجلۍ هم وه چې کلثوم نومیده، هغه هم صلیبی داړ مارانو له ځان سره وتښتوله نو ورته وی ویل: د کعبې رب ته دې اواز وکړه چې تا خلاصه کړي.

بیا یې د کاروان بندیانو ته مخ کړ په خندا خندا یې وویل: تاسی د هغه یتیم ... محمد[ صلی الله علیه وسلم ] امتیان ځانونه بولی ؟

کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی د دی څخه خبر شو نو قسم یې یاد کړ چې د دی خبیث څخه به خپل لا غچ او انتقام اخلی.

زمونږ د قوم او ملت لورګانی چې دوی بی عزته کړي دا زما لوڼی او خویندی دی زه به د دی ټولو انتقام د بی حیا صلیبیانو څخه داسی اخلم چې بیا به خپل ځوځات ته نصیحت کوی چې مسلمانانو ته په بد سترګه مه ګوری.

صلیبیان پدی دوره کې د هیڅ اخلاقی اصل تابع نه وه بلکې د اخلاقو ټول اصول یې تر پښو لاندی کړی وه.

اوس څلور کاله وروسته حالات او شرایط دی ته برابر شول چې هغه خپل غچ او انتقام واخلی نو ځکه یې خپلو سالارانو ته وویل چې زه به پخپل لاس د هغوي څخه انتقام اخلم.

سلطان صلاح الدین ایوبی د صلیبی داړه مارانو د ماتی لپاره دوه دری مهم شیان په نظر کې نیولی وه چې یو پکې د حطین میدان وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم پكې د اوبو ذخيرې او لوږې غونډې وې او دريم دا چې هغه د جګړې لپاره د جولاى مياشت غوره كړې وه كومه چې ډېره ګرمه او سوځوونكې وه.

هغه غوښتل پدې ګرمه مياشت كې هغوي په ګرمه دښته كې په تنده او لوږه سره ميدان ته راكش كړې چې خپلې وسپنيزې زغرې ورته تنور وګرځي

سلطان به عمومًا د جګړې او حملې لپاره د جمعې مباركه ورځ غوره كوله تر څو عام مسلمانان ورته په جوماتونو كې د زړه له اخلاصه دعا ګانې وكړي.

سلطان صلاح الدين ايوبى خپل پوځ، اوښان او آسونه هم داسې روزلي وه چې تر ډېر وخته پورې يې د لوږې، تندې، ګرمۍ او يخنۍ مقابله كولاى شوه كنه د حطين ميدان خو د دوى لپاره هم ګراونه پيدا كول خو د خپل مشق او تمرين او د ايمان په جذبه سره په دښمن باندې برلاسى او غالب وه.

* **

په ناصره (بيت المقدس)كې ټول صليبي واكمنان راټول شوى وه تر څو د مسلمانانو خصوصًا د سلطان صلاح الدين ايوبى د وركولو لپاره اخرينى پلان جوړ كړي. هغوي پدې پوهيدل چې اوس خو مسلمانان سره يو موټى شول، نور هغوي سره نشو جنګولاى او بايد خپله عملي ګامونه پورته كړو نو څكه ټول سره په ناصره كې راټول شول.

د عيسايانو صليب اعظم يا صليب الصلبوت هم د عكا څخه ناصرى ته راوړل شو او د هغې سره لوى پادرى چې د صليب اعظم د ساتوونكى په نامه ياديده هم راغى ، دا صليب يې د دى لپاره راوړى وه چې ټول پدى باندې قسم وخورى او د جګړې څخه تيښته ونه كړى، پدى غونډه كې ګايي ، ريمند ، ګيند ماسټر ګېراډ، ماونټ فيرټ، همفرى آف توران ، المارك او شهزاده ارناط برخه اخيستى وه - د دوى سره دوه نيم سوه نائټان هم موجود وه چې هر يو په جګړه كې مډالونه اخيستي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې غونډې او کانفرانس عنوان او موضوع وه: صلاح الدين ايوبی د تل لپاره ختم کړئ.

تر ټولو لومړی د صليب اعظم ساتوونکی د عکا لوی پادري وويل: د صليب ساتوونکو! دا هغه صليب دی چې تاسې ټولو مخکې په هغې لاسونه ايښي وه چې مونږ به جګړه کوو او شاته به نه راځو.

دا مونږ ناصري ته پدې خاطر راوړيدي چې تاسې ته خپل قسم درپه ياد شي، تاسې بايد يو خونړي جنګ ته تيار شئ، او دا جګړه پر تاسې ده. تاسې ټول ميړنی او جګړه مار خلک ياستی زه د جګړې په کار نه پوهيږم. زه ستاسې دينی لارښود يم، زه تاسې ته وايم چې: صلاح الدين ايوبی ختم کړئ او په عربی نړۍ باندې د صليب حکومت او واکمنۍ راولئ يروشلم خو زمونږ دی تاسې بايد مکې او مدينی ته سترګې واړوی چې په هغې هم د صليب حکومت راشي. هغه بايد د مسلمانانو څخه پاک شي او د صليب عبادت ځائ وګرځی.

ستاسې به په ياد وي چې څو کاله مخکې تاسې مدينی ته دری ميله نژدې شوي وی خو مسلمانانو مقاومت وکړ او تاسې بيرته راغلی اوس همت وکړی او هغه دواړه ځايونه د خپلو آسونو تر قدمونو لاندې پايمال کړی.

صلاح الدين غواړی ستاسې څخه بيت المقدس ونيسی تاسې په مکه باندې حمله وکړی تر څو د دی دين زړه او مرکز ختم شي که داسې ونه کړې نو راتلوونکی نسل ته به ډېر کړاونه پاتی شي او بيا به پر تاسې لعنتونه وايی.

مونږ خو د مسلمانانو لپاره ډېرې طريقې راويستلې وی، څو کاله مو هغوي سره پخپلو کې وجنګول، د هغوي لوی او غټ سالاران مو په فدايانو ووژل، هغوي مو بد اخلاقه او عياشان کړل خو دا ټول شيان ناکام شول.

مونږ پدی طريقو سره وکولای شول چې سلطان صلاح الدين ايوبی ترڅو کلونو پورې له يروشلم څخه لرې وساتو، خو اوس هغه ټول ځايونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر خپل کنترول لاندې راوستلی او د هغوی پوځونه اوس د ده تر لاس لاندې زموږ په خلاف جنګیږي موږ په هغه باندې د فدایانو په وسیله هم څو حملې وکړې خو یوه هم کامیابه نشوه.
زما په نظر اوس یوازې نظامي او پوځي لاره پاتې ده.
تاسې داسې لاره غوره کړی چې صلاح الدین ایوبي په منځ کې راګیر شي او د خپل ټول پوځ سره له منځه ولاړ شي. زموږ جاسوسانو خبر را کړی چې: صلاح الدین ایوبي د یروشلم په لوري حرکت کوونکی دی.
تاسې خپل پوځونه داسې ترتیب کړی چې هغه په منځ کې راګیر شي او داسې غابښ ماتوونکې ځواب ورکړی چې بیا یو مسلمانان هم صلیبي ته په بدو سترګو ونه ګوري، اوس باید تاسې ټول دا حقیقت ومنی چې جلا جلا نشی کولای هغه ته ماتې ورکړی نو ستاسې یووالی او اتحاد ضروری دی او دا لوی صلیب مو د دې لپاره راوړی چې یو ځل بیا په هغې ټول لاسونه کیږدي او دا قسمونه یاد کړی چې ټول به یو ځای جنګیږو، خپل شخصي ګټې به قربانوو، او د صلیب د واکمنی لپاره به جنګیږو.
ټول پورته شول او په صلیب اعظم یې لاس کېښوده بیا لوی پادري د قسم کلمات ویل او هغوی تکرارول.

* * *

سبا سهار هغوی ډېر ناوخته رابیدار شول ځکه کله چې لوی پادري هغوی رخصت کړل نو ټول په شرابو لکه د ځارویو پشان ورپریوتل او بیا هر یو د ځان سره نجونې د خپلو نفسي خواهشاتو د پوره کولو لپاره خیمو ته رواني کړې.
د شهزاده ارناط له خیمې څخه یوه ښایسته او ښکلې نجلۍ ووته چې د هغې جوړه او مثال هیڅ نه وو، هغې ته ارناط شهزادګۍ لیلی ویلی، د هغې خیره، ونه او سترګې زړه راښکوونکې وي.
کله چې هغه له خیمې څخه راووتله نو بودۍ نوکرې ورمنډه کړه هغې ورته وویل: زما لپاره زر تر زر سبا ناری تیار کړه زه چکر ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارناط په درانه خوب ویده وو، هلته یوازې پادریان سهار وختي راپيدار شول او تر عبادت وروسته بيرته ويده شول ، شهزادګۍ ليلي تر سبا ناري تياريدو پورې خپل ځان برابر کړ، بيا د دوه آسونو بګۍ راغله کومه چې : ارناط سره له کرک څخه راغلی وه.

بګۍ وان ليندو او غشي هم له ځان سره واخيستل چې د ليلي د چکر په وخت کې ښکار پرې وکړي، بګۍ وان وويل : محترمې ! دلته خو هوسۍ سوئ او زرکي ډيرې دي .

ليلي وويل : ته ما غشي وشتونکي ګڼې ؟

بګۍ وان چې سيبل نوميده او ښکلی ځوان وه وويل : جګړې ته خو نه يې روانه که غشي خطا شو څه فرق کوي .

ليلي وويل : ښه راکړه !

څرنګه چې د مارچ او اپريل مياشتې وې او د پسرلي وخت وو نو دا سيمې ډېر ښکلي او ښايسته ښکاريدې .

ليلي او سيبل په بګۍ کې ښه وړاندې ولاړل او د شنو ونو او بوټو په منځ کې ښکته شول .

شهزادګۍ ليلي د سيبل څخه وپوښتل دلته د مسلمانانو سيمه د کوم ځای څخه پيل کيږي ؟

سيبل ورته وويل: هغه مخامخ چې ښکاري دا د ګليلي لوی ډنډ دی، د دې جهيل په غاړه د حطين مشهور کلي دی او د دې څخه لاندې لوري ته طبريه ده. د حطين څخه د مسلمانانو سيمه او خاوره پيل کيږي.

شهزادګۍ وپوښتل: دې برخو ته کومه لاره ورغلې ده؟

سيبل وويل : دمشق ته هم ددې ځايه لاره تللې ده، هغه مخامخ چې ښکاري همدا لاره ورغلې او نژدې ده څکه حطين د دې ځای څخه لس، پولس ميله لرې دي .

سيبل ورته په خمکه خطونه وويستل او هغه يې پوه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دواړه په ګاډي کې سپاره شول چې نژدې یو ځنګل راغی او هلته ښکته شول، لیلی یو لوری ته ولاړه او هلته یې په مرغیو باندې ځو غشي وویشتل چې ټول غلط ولاړل هغې سترګې پڅولې.

سیبل لږ وړاندې یوې ونې ته ولاړ وو چې شهزادګۍ پرې د غشي وار وکړ خو خطا شو، بل وار یې پرې کاوه چې هغه ورمنډه کړه او لینده یې ورڅخه واخیسته او ورته په قهر شو وې ویل : زه خو د چا داسې غلام نه یم چې په ما دې ننبې پخوی که داسې وی نو زه نور د ارناط سره ګاډي وانې نه کوم .

پدې وخت کې شهزادګۍ په ژړا شوه او دې ژړا په سیبل باندې اثر وکړ هغه ورته وویل: وار هم تا وکړ او اوس ژاړې هم ته!

شهزادګۍ لیلی ورته وویل : ژاړم پدې چې دلته مې زړه تنګ دی او ارناط می ډېر زیات بد راځي او کرکه می ورڅخه کیږي، خو څه وکړم ستا غوندې بې احساسه خلک دي .

سیبل د دې خبرو تر اثر لاندې راغی او هغې ته یې وویل: زه ستا په خاطر هر ډول قربانۍ ته چمتو یم ته حکم وکړه چې زه یې پوره کړم .

سیبل مخکې شکې شوی وو چې شهزادګۍ عیسایي نده بلکې د کوم کاروان څخه راتښتول شویده، هغې چې کله د مسلمانانو د سیمی او دمشق د لاري پوښتنه کوله هغه پرې پوه شو.

سیبل هغې ته وویل: زه اوس پوه شوم چې ته مسلمانه یې او د کوم کاروان څخه راتښتول شوی یې .

شهزادګۍ ورته وویل: ته په صلیب قسم وکړه چې چاته به حل نه وایې نو زه به درته ټوله کیسه وکړم .

سیبل خپل د غاړې صلیب په لاس کې راواخیست او لرې یې وغورځاوه او ویې ویل: مسلمان په صلیب باندې قسم نه خوري، زه هم ستا پشان مسلمان یم خو دلته د مزدورۍ په خاطر راغلی یم.

شهزادګۍ پدې خبره ډېره خوشحاله شوه چې مسلمان په لاس ورغی نو هغه ته یې کیسه وکړه چې زما اصلي نوم کلثوم دی او د بیت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریف د حج څخه چې کله د خپل کور په لوري روانه ووم نو د ارناط پوځیانو زمونږ کاروان لوټ کړ او زه یې د ځان سره وساتلم، ما مخکې د تیښتې ډېر کوښښ وکړ خو ونشو اوس زه غواړم حتماً وتښتم او بګۍ مې د همدې لپاره د ځان سره راوستی ده او ته مې چې مړ کولی د همدې لپاره چې ته ماته عیسایي ښکاریدی خو اوس زر کوه چې وتښتو او سلطان صلاح الدین ایوبی ته یو ضروري خبر ورکړو.

بېګا شپه صلیبي واکمنانو فیصله کړیده چې سلطان صلاح الدین ایوبی رامنځ ته کړی او بیا ټول ورڅخه راتاو شي. هغوي بېګا تر ناوخته پوری سلا مشوری کولی.

سیبل هغې ته وویل : زه هم مسلمان یم او د دمشق د سیمی اوسیدونکی یم زما نوم بکربن محمد دی.

بیا یې وویل: اوس سمدستي زما او ستا تیښته ښه نده ځکه چې هغوي بیا خپل پلان او نقشه بدلوی، ښه دا ده چې بیرته ولاړ شو کله چې د هغوي پلان مکمل او پوره شو بیا به په پټه لدی ځای څخه ووځو.

کلثوم پدی خبره ډیره خفه شوه ځکه چې هغې د تیښتې تصمیم نیولی وو او بل دا چې اوس بله چاره هم نه وه. هغې هم غوښتل له صلیبي داړه مارانو څخه خپل انتقام او غچ واخلي.

شهزادګۍ کلثوم په داسی حال کې چې اوښکې یې د سترګو څخه روانی وی وویل : ای پروردګاره ! زه د ارناط د زړه د خوشحالي لپاره نه ځم بلکې زه د بې شمیره مظلومو خویند د عفت او عصمت د ساتلو او خپلو ورونو د غلامي څخه د ازادي لپاره ورځم نو دغه ناسته د عذاب ور ونه ګرځوی.

هغوي دواړه په بګۍ کې سپاره شول او بیرته د خپلو خیمو په لوري ولاړل. پدی وخت کې ارناط راویښ شوی وو. هغه یوه نقشه مخ ته ایښی وه او هغه یې کتله چې شهزادګۍ لیلی ورغلله او په خوا کې ورسره کیناستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارناط ورته وویل: شهزادګۍ ! ډېر زر به د یو لوی هیواد او مملکت ملکه شي.

لیلی ډېره زیاته خوشحاله شوه او ارناط ته یې وویل : دا به څرنګه او کله کیږي ؟

ارناط ورته وویل: صلاح الدین ایوبی دی لوری ته را روان دی، هغه چې کله ښه راوړاندی شي نو مونږ پری راتاویږو او سره له لښکر به یې ختم کړو، کلثوم د ارناط په اوږو لاس واچولو او په ټوکو ټوکو یې ورڅخه ځینی پوښتنی وکړی هغه ورته هم مفصل ځوابونه ورکړل .

دوه ورځې وروسته ټول صلیبی واکمنان خپلو خپلو سیمو ته ولاړل او د راتلوونکی جګړی لپاره یې تیاری پیل کړ ځکه چې هغوي فیصله کړی وه چې سلطان صلاح الدین ایوبی دا ځل بالکل ختم کړی او ټول په اخلاص د یو بیرغ لاندی وجنګیږي .

بکر بن محمد د شهزادګۍ کلثوم معلومات په کرک کې خپلو ملګرو ته ورکړل او هغوي سمدستی هغه حسن بن عبدالله ته ولیږل ، هغه ټول معلومات سلطان صلاح الدین ایوبی ته وړاندی کړل چې د ارناط له دربار څخه د بکر بن محمد او شهزادګۍ کلثوم په نامه دوه کسانو مونږ ته د صلیبیانو پلان او نقشه را استولی ده .

هغوي ته معلومات رسیدلی دی چې سلطان صلاح الدین ایوبی غواړي په بیت المقدس باندی حمله وکړي نو ځکه هغوي په ناصره کې دری ورځې غونډه او مهمی فیصلی وکړی هغوي د ارمنستان واکمن ته هم بلنه ورکړی چې پدی جګړه کې ورسره شریک شی .

صلیبیانو چې کوم لښکر برابر کړ: د هغې شمیر دوه سوه پنځوس نائټان ، اته دیرش زره پلی پوځ ، د دی څخه برسیره د ارمنستان پوځ هم وو.

تاریخ لیکوونکی وایی چې پدی جګړه کې صلیبیانو د پنځوس زرو څخه تر شپته زره پوری لښکر برابر کړی وو چې زیات پکی زغره لرونکی وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مارچ په میاشت ( ۱۱۸۷ ) میلادی کال سلطان صلاح الدین ایوبی د دمشق څخه د خپل لښکر سره د فلسطین او بیت المقدس د ازادی په خاطر روان شو، خپل لښکر یې دری برخی کړ چې یوه برخه یې له خان سره او دویمه برخه یې خپل زوی ملک الافضل غیاث الدین ایوبی او مظفر الدین ته ورکړه او دریمه برخه یې خپل ورور ملک العادل او خپل وراره تقی الدین عمر ته وسپارله، دوه ډلی لښکر یې د حطین په لوري وخوځاوه چې هلته په نژدی سیمو کې واړوي او خپله د کرک په لوري ولاړ.

د مارچ په ۱۵ یې د کرک د کلا سره په خوا کې واړول خو کلا یې محاصره نه کړه. پدی ورځو کې د حج کاروانونه راتلل نو ځکه سلطان صلاح الدین ایوبی هلته واړول چې هغوي په امنیت سره تیر شی لږ وخت وروسته د مصر کاروان راورسیده.

سلطان صلاح الدین ایوبی هغوي ته په دی دښته کې میلمستیا وکړه او بیا یې رخصت کړل، وروسته د شام څخه کاروان راغی هغې ته یې هم میلمستیا ورکړه او هغه یې هم رخصت کړل.

ارناط پدی ټولو ورځو کې پدی ویریده چې څه وخت به کلا محاصره کوی او جګړه به پیل کیږي خو سلطان صلاح الدین ایوبی داسی ونه کړل.

شهزادګۍ کلثوم او بکر بن محمد دواړو خپل کار کاوه، هغوي دا پلان جوړ کړی وو که چیری کلا محاصره شوه نو باید یوه دروازه خلاصه کړی چې هم خپله ورڅخه ووځی او هم د مسلمانانو پوځ ته لاره برابره شي. خو د دی وخت پیدا نشو ځکه چې کله د حاجیانو کاروانونه ولاړل نو سلطان صلاح الدین ایوبی د خپل لښکر خیمی ټولی کړی او بیرته یې حرکت وکړ.

ارناط او د کرک خلک پدی پوه نشول چې اصل کیسه څه وه ولی هغوي راغلل او ولی بیرته همداسی بی جګړی ولاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۷ می ( ۱۱۸۷ ) میلادي کې سلطان صلاح الدين ایوبي د خپل لښکر سره ایشتر په سیمه کې واړول او ټولو لښکرو ته یې احوال واستاوه چې همدې ځای ته راټول شي .

کله چې ټول پوځونه راټول شول نو سلطان خپلو سالارانو او سلا کارانو ته خپلې اخرينۍ لارښوونې وکړې او وېې وويل: زما دوستانو او ملګرو! الله جل جلاله دې ستاسې مرستندوی شي، د خپلو زړونو څخه د کور او اولادونو مينه او محبت وباسئ ، او په هغې کې د لومړنۍ قبلې او الله تعالی مبارک نوم ولیکئ، مونږ ته الله پاک دا نيک بختي په نصيب کړه چې د لومړنۍ قبلې د ازادولو توان يې راکړ. مونږ به د خپلو لونړو او خویندو انتقام او غچ د صلیبي داړه مارانو څخه حتمًا اخلو.

حقيقت دا دی چې زمونږ پوځ کم دی او د صليبيانو اوه مشران او واکمنان سره يو ځای ميدان ته راوتلي دي چې صليب اعظم او لوی پادري هم ورسره دی. هغوي خپلې سیمې او مرکز ته نژدې او مونږ ورڅخه لرې راغلي يو، هغوي ته هر څه رسيږي خو مونږ ته دا شيان په شک کې دي. مونږ به په دوه محاذونو کې جنګيږو يو له دښمن سره او بل د مشکلاتو او کړاونو سره .

سلطان صلاح الدين ايوبي نقشه وغوړوله او ټولو ته يې مهم ځايونه په ګوته کړل ، دا ځای ډېر خطر ناک وو ځکه چې هلته اوبه نه وې او لوړې ژوري ډېرې وې .

سلطان صلاح الدين ايوبي خپلو سالارانو ته وويل: مونږ به په ټولو لوړو باندې خپل غشي ويشتونکي ځای پر ځای کوو، دلته چې څومره د اوبو ذخيرې دي هغه به پخپل لاس کې نيسو، خينې ګروپونه به د لارې د بندولو لپاره استول کيږي، د صليبيانو چې څومره پوځونه شا او خوا پراته دي په هغې به کماندويان پرله پسې بريدونه کوي تر څو هر يو پخپل خپل ځای کې بوخت شي او د بل سره مرسته ونشي کړای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت مو داسې ټاکلی دی چې ښه پوره ګرمي وې تر څو هغوې ته خپلې اوسپنيزې زغرې تنور وګرځي او په خپل اور کې وسوځي ، هغوې به د تندې له لاسه هم ورخطا شي .

پدې میدان کې به مونږ ته دا اساني وې چې اوبه به زمونږ په واک کې وې بله دا چې زمونږ کسان ټول سپک دي نو پر هغوې باندې ګرمي دومره اثر نکوي ، د حطین د میدان په خوا کې د طبریه یاد ګلیلی جهیل پروت وو.

سلطان صلاح الدين ايوبی د دې جهيل او صليبي لښکرو تر منځ هم خپل لښکر ځای پر ځای کولو.

سلطان صلاح الدين ايوبی د خپل ځان لپاره د ګليلي جهيل په خوا کې په يوه غونډۍ ځای وټاکلو ترڅو د هغه ځای څخه د جګړې ټول ميدان وڅاري. په نورو جګړو کې سلطان صلاح الدين ايوبی کماندويي حملې او بريدونه کول نو صليبيانو دا خل د هغې د مخنيوي لپاره ترتيبات نيولي وه.

سلطان صلاح الدين ايوبی خپل زوی او مظفر الدين واستول تر څو د صليبيانو په شا او خوا پوستو او پوځونو باندې بريدونه وکړي او هغوي بل لور ته متوجې کړي، سلطان صلاح الدين ايوبی خپل نور کماندويي لښکر ته هماغه پخواني د خرپ او ترپ جګړه وسپارله تر څو ټولې لارې تر کنټرول لاندې راولي .

صليبي پوځ څه په کلا ګانو کې او څه د کلا څخه د باندې وو.

صليبيانو په صفوريه کې واړول او د هغې څخه مخکې نه راتلل د صفوريه او طبريه په منځ کې د حطين ميدان وو چې سلطان صلاح الدين ايوبی د جګړې لپاره ټاکلی وه ، کله چې سلطان صلاح الدين ايوبی پوه شو چې هغوي د صفوريه څخه نه راخوځيږي نو خپل پوځ يې ور وړاندې کړ او بيا يې د خپل ځان سره سپک پوځ واخيست او په طبريه يې حمله وکړه، هغه يې تباه او برباد کړه ، کله چې ريمنډ ته معلومه شوه نو هغه خپل پوځ را وړاندې کړ او مخ په وړاندې راروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو هغوي د طبریه د ساتلو لپاره روان شول چې په ټوله لاره کې ورته شا او خوا د سلطان کماندوپوځ ګزمې کولې او هغوي یې ډارول.
د صفوریه څخه تر طبریه پورې لاره لږه وه خو په لاره کې به کله جنګ او تیښته راتلله څکه نو هغوي یوه مکمله ورځ تیره کړه او شپه ورباندې راغله دا د جولای دریم ۱۱۸۷ میلادي کال وه.
تر دې ځای پورې د صلیبیانو آسونه او پوځیان ښه ستړي او تږي شوي وه، هغوي خپل مورال له لاسه ورکړی او یو بل ته یې وصیت کولو چې که ته ژوندی پاتې شوې نو داسې به کوې.
د سلطان صلاح الدین ایوبي پوځ ځینې په عبادت کې مشغول او ځینې د جهاد په تاوده سنګر کې ویښ پراته وه.
په څلورم جولای سلطان صلاح الدین ایوبي د حطین په میدان کې د خپل پلان سره سم جګړه پیل کړه.
تر ټولو لومړی د سلطان صلاح الدین ایوبي خپل تر لاس لاندې پوځ قلب یا منځنۍ برخې حمله وکړه، څرنګه چې ځای تنګ او لوړې غونډۍ ټولې غنۍ ویشتونکو نیولې وې نو په هغوي باندې د هرې خوا څخه قیامت راغی اوله بل لوري ټول له تندې څخه په تنګ وه او مخامخ ورته اوبه ښکاریدې.
تندې او هم ګرمۍ د هغوي مورال او بدن دواړه کمزوري کړي وه، کله چې د صلیبیانو حالت ډیرخراب شو نو مرسته یې راوبلله او ځوابي حمله یې وکړه چې دا د هغوي اخري برید ثابت شو. په کوم ځای باندې چې د هغوي کومکي پوځ حمله وکړه د هغې قومانده د اسلامي امت د ویاړلي ځوان او سر ښندونکي مجاهدتقي الدین عمر په لاس کې وه، هغه د سترګو په رپ کې خپل پوځ د نیمې دایرې په شکل کړ چې منځ یې شاته ولاړ او څنډې یې پراخې شوې، کله چې صلیبیان د دایرې منځ ته راننوتل نو هغه د دایرې دواړه څنډې پرې رابندې کړې او مکمل یې په حلقه او محاصره کې راوستل چې بیا یو هم پکې ژوندی پاتې نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې څخه وروسته صليبيانو دفاعي جګړه پيل کړه، ريمنډ چې په صليب اعظم باندې يې قسم کړی وه د ميدان څخه تيښته وکړه او خلاص شو. نور پوځ او واکمنان په منځ کې راګير شول.

د حطين په ميدان کې صليب اعظم ولاړ وه چې لوی پادری هم ورسره وه ، په همدې ورځ لوی پادری په جګړه کې ووژل شو او صليب اعظم د مجاهدينو لاس ته ورغی.

د يروشلم پادشاه ګايي د خپلو څو درباريانو سره تيښته کوله خو په لاره کې مجاهدينو هغوي ژوندی ونيول.

تر ماښام پورې د جګړې فيصله وشوه، څه صليبيان چې مړه شوی وه هغه مړه او ژونديو وسله وغورځوله.

پرته د ريمنډ څخه نور ټول واکمنان ژوندي ونيول شول چې پدې ټولو کې مهم سړی شهزاده ارناط وه کوم چې سلطان صلاح الدين ايوبي قسم خوړلی وو چې د هغه څخه به زه خپله غچ اخلم کله چې جګړه پای ته ورسيدله او صليبيان رب العالمين وشرمول او ټول ژوندي ونيول شول نو هر مسلمان څو څو صليبيان پر پړو وتړل او خپل مرکز او قرار ګاه ته يې راوستل.

سلطان صلاح الدين ايوبي ټول پادشاهان او واکمنان خپلی خيمی ته راوستل ، هغه ورته شربت وړاندې کړ خو ارناط ته يې ورنه کړ، ارناط ته بل صليبي مشر جيفری شربت ورکړ خو سلطان صلاح الدين ايوبي ورته وويل : ما تاته شربت ندی درکړی.

مسلمانانو به چې چاته پداسې حالت کې شربت ورکړ نو معنا يې دا وه چې هغه نه وژنی.

د شربت څښلو څخه وروسته سلطان صلاح الدين ايوبي ارناط ته وويل : تاسې زمونږ حاجيان د ډېر شهيدان کړی او تر ټولو بې آدبه خبرې دې کړې چې زمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم دې سپک ياد کړی که اوس هم ته ايمان راوړې نو زه دې خوشې کوم خو هغه د ايمان راوړلو څخه انکار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی سره سلطان صلاح الدین ایوبی خپل قسم پوره کړ او خپلی جلالي توري پواسطه يې د هغه خ سر ووهلو بیا يې ټول د بندیانو په خیمو کې واچول - کله چې کرک ته د سلطان صلاح الدین ایوبی جاسوسانو خبر ورساوه چې ارناط وژل شوی نو شهزادګۍ کلثوم د بکر بن محمد سره په پادشاهی بګی کې کیناسته او د مسلمانانو د قرار ګاه په لوری روانه شوه ، په لاره کې هغوي ته معلومات وشو چې صلیبیانو ماتی خوړلی ده او ټول د صلیبیانو مشران نیول شویدی .

شهزادګۍ کلثوم او بکر دواړه د حطین میدان ته ولاړل هغوي خپل ځان حسن بن عبد الله ته معرفی کړ چې بیا هغه دوی سلطان صلاح الدین ایوبی ته وروستل هغه بکر بن محمد ته غاړه ورکړه او د کلثوم په سر يې لاس کیښوده او د هغوي د اسلام د سپيڅلی دین په لاره کې قربانی وستایله او دواړ ته يې په دنیا او اخرت کې د الله تعالی له درباره د کامیابی غوښتنه وکړه .

او دی ته يې متوجه کړل چې د نورو د خلاصون لپاره ګناه کولو ښه عمل نه دی د هر انسان کامیابی په دی کې ده چې د الله جل جلاله او د هغه د پیغمبر په هدایاتو د زړه له کومی عمل وکړی .

د حطین فتح د اسلام په تاریخ کې یوه ډېره لویه او تاریخی فتحه وه ځکه چې پدی سره د بیت المقدس د ازادی لاره خلاصه شوه او په لږ وخت کې د هغې د فتح امکانات برابر شول .

سلطان صلاح الدین ایوبی همدا سیمه خپل مرکز وټاکلو او د دی ځای څخه يې راتلوونکی جګړی پیل کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صلیبي کښت چې چا ریبلی ؤ

د حطین بریالیتوب او فتحه څه عادي فتحه او بری نه ؤ بلکې په هغې سره د صلیبیانو مورال ښکته او د مسلمانانو مورال لوړ شو، پدی جګړه کې پنځه واکمنان ژوندي ونیول شول چې یو یې سلطان صلاح الدین ایوبی پخپل لاس و وژلو څکه چې هغه د ده دوژلو قسم خوړلی ؤ.

د حطین فتح داسې وه لکه سیلاب چې شګی، خاوري، خس او خاشاک له ځان سره لاهو کړی، په نیول شویو کسانو کې دوه ډېر مهم واکمان وه چې یو ې دیروشلم بادشاه ګایی اف لوزینان او بل ګرینډ ماسټر ګراډ.

کماندوئ جګړه لا هماغسې روانه وه څکه چې صلیبیان د جګړی د میدان څخه د تیښتی په حال کې وه، یو یو مجاهد شل، شل، دیرش دیرش صلیبیان په پړو تړلی را روان کړی وه.

د روم د بحیری په غاړه د اسرائیل په شمال کې عکره یا عکه یو مشهور ښار ؤ، ددی د شهرت لامل دا ؤ چې هلته د صلیب اعظم ساتوونکی پادری اوسیدلو او صلیب هم ددی ښار په لوی کلیسا کې پروت وه، ددی په هکله د عیسائیانو دا عقیده وه چې حضرت عیسی علیه السلام په دی مصلوب او اعدام کړای شوی دی او دی ته به یې صلیب الصلبوت ویلی، د نړۍ د هر ګوټ څخه به سرښندونکی عیسایان راتلل او په هغه به یې لاس کیښودلو او ویل به یې چې زه خپل هر څه د صلیب د سرلوړی لپاره قربانوم.

د دی ژمنی څخه وروسته به هر عیسایی ته د لرګی یو کوچنی صلیب په غاړه کې اچول کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره صلیبي پوځیان چې د حطین په میدان کې ووژل شول تر کیلو مترو، کیلو مترو پورې پراته وه چې په همغه شمیر صلیبونه هم هر لورې ته خپاره شوي وه .

د ختځ لوی او انقلابی شاعر علامه محمد اقبال رحمه الله علیه دی ته صلیبی کښت او فصل ویلی دی .

د حطین په میدان کې په لومړی ورځ چې څه مړه شول هغه مړه شول، زخمیان هم د تندی څخه له منځه ولاړل ځکه څوک نه وو چې هغوی ته اوبه ورکړی پاتی په پرهارونو پټی ولګولی .

یو امریکانی تاریخ لیکوونکی انتونی ویست لیکلی چې پدی جګړه کې د مړو شمیر د دیرش زره څخه زیات وه، مړی تېپوسانو، ګیدړو او لیوانو وخوړل ، دا د صلیبونو کښت او فصل سلطان صلاح الدین ایوبی ریبلی وو.

پدی جګړه کې د صلیب اعظم محافظ او ساتوونکی لوی پادری هم مړ او صلیب اعظم د سلطان صلاح الدین ایوبی د خیمی څخه د باندی پروت وو.

عکا یا عکری د صلیبیانو لپاره دومره اهمیت درلوده لکه د مسلمانانو لپاره چې مکه مکرمه او مدینه منوره قدر او اهمیت لري.

صلیبیانو غوښتل چې سلطان صلاح الدین ایوبی سره د ټول پوځ ووژنی کړي چې خپل دینی ځایونه یې هم په خطر کې ولویدل. د صلیب اعظم له لاسه ورکول صلیبیان ډېر خفه او ورخطاء کړی وُ، هغوي اوس پدی وپوهیدل چې زمونږ ماتی حتمی ده .

په پنځم جولای سلطان صلاح الدین ایوبی خپل ټول سالاران او نائب سالاران راوغوښتل ترڅو د راتلوونکی په هکله ورسره سلا مشوره وکړی، هغه تصمیم نیولی وُ چې نور تر هغې آرام ونکړی چې تر څو یې بیت المقدس نه وی ازاد کړی، هغه پریکړه کړی وه چې پاتی صلیبی ځواکونه په دوه برخو وویشی چې یو یې شمال او بل یې جنوب ته پاتی شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبی خپلو سالارانو ته د عکره د اهمیت په هکله پوره معلومات ورکړ او ویې ویل: دا د هغې هڅې بدله او انتقام دی چې هغوي د حرمینو د نیولو لپاره کړې و.

هغه خپلو سالارانو ته وویل: مونږ به د دې ځای ( حطین ) څخه نیغ عکری ته ځو او هغه به نیسو بیا به په نورو ساحلی سیمو یرغل کوو او هغه به تر خپل کنترول لاندې راولو ځکه چې د عکره په نیولو د صلیبیانو مورال کمزوری کیږي او د ساحلی ښارونو په نیولو سره هغوي ته د نورو ځایونو څخه هیڅ کومک او مرسته نشی راتلای.

سلطان صلاح الدین ایوبی په نقشه ګوته کیښوده چې دا حطین دی او بیا یې د هغه ځای څخه ګوته نیغه عکا ته ورسوله چې مونږ به پدې لاره ځو او صلیبی ځواکونه به دوه برخې کوو چې یوه برخه شمال ته او بله برخه جنوب ته پاتې شي او یو د بل سره هیڅ مرسته ونشی کړای.

په شمالی ښارونو کې بیروت، صور ( ټایر ) او عسقلان وه - اوس صور په لبنان او عسقلان د اسرائیلی حکومت برخه ده، همدا رنګه د حیفا ښار هم اوس په شمالی اسرائیلو کې واقع دی.

سلطان صلاح الدین ایوبی خپلو سالارانو ته وویل چې دا جګړه د حق او باطل تر منځ ده ځکه چې صلیبیان د یو ناحق او باطل دین پیروان دي کوم چې د علم او عقل سره هیڅ اړخ نه لګوي حال دا چې اسلام یو سپیڅلی حقیقی دین دی چې د علم او عقل سره یې کلکه رابطه ده.

اسلام یو الهی دین دی حال دا چې عیسایت د خلکو لخوا څخه جوړ شویدی چې ټول وهمیات او خرافات دي نو ستاسې جګړه د داسې خلکو سره ده چې د باطل پیروان دی او د هغوي ورکول د مسلمان مسئولیت او ظیفه ده.

که نن ورځ فلسطین ( اوسنی اسرائیل ) او لبنان په نقشه کې وګوری د ګلیلي په غاړه حطین او د هغې ته مخامخ د بحر په غاړه د عکره ساحلی ښار پروت دی جنوب ته یې یروشلم (بیت المقدس ) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عکره د حطين ښخه پنځه ويشت ميله لرى د مديترانى په ساحل کې پرته ده او د حطين ښخه بيت المقدس اويا ميله لرى پروت دى.

په عکره کې چې څومره مسلمانان اوسيدل د هغوي زيات لا مخکې بنديان وه خو چې کله په څلورم جولاى د حطين فتح وشوه نو ټول د کار مسلمانان يې له کورونو ښخه راوويستل ، د بيگار په کمپونو کې يې بنديان کړل، په هغوي يې داسې ظلمونه او زور او زياتى کولو چې تاريخ د هغې مثال نشي وړاندى کولاى، هر مسلمان د مړى پشان ښکاريده، په ډيره عادى خبره وهل ، ټکول، زور زياتى او وژل د صليبيانو ورځنى کار وو.

سلطان صلاح الدين ايوبى خپلو سالارانو ته وويل چې د عکا دفاع سخته او کلکه ده ځکه چې د هغې ځاى مسلمانان زمونږ سره هيڅ نشى کولاى او ټول بنديان دي. تاسې به عکا نه محاصره کوى بلکې په هغې به يرغل کوى او له منځه به يې وړى .

د شپږم او اووم جولاى په شپه سلطان صلاح الدين ايوبى لښکرى عکا ته ورسيدى، او کلا يې محاصره کړه په ديوال باندى غشى ويشتونکى ولاړ وُ. د باندى ښخه پرى منجنيقونو ډبرى ورول پيل کړل، دروازى او ديوال په لويو او غټو ډبرو ويشتل کيده او آور غورځوونکى مواد هم کلا ته ورتلل.

په همدى وخت کې په بند کې مسلمانانو د تيښتى او خلاصون کوښښ وکړ خو زيات پکى شهيدان شول او کاميابې يې په برخه نه شوه .

د کلا د ديوال په يوه برخه کې درز پيدا شو چې سلطان صلاح الدين ايوبى حکم وکړ ټول غشى ويشتونکى کې دى همدلته راټول شي او په ديوال ولاړ کسان دى سر پورته کولو ته نه پريږدي، کله چې د هغوي سرونه ښکته شول ديوال سورى کوونکى غازيان په منډه ورغلل او په ديوال کې يې دومره سورى وکړ چې دوه کسان پکى ننوتلى شول .

د سورى کيدو سره سم مجاهدين کلا ته ننوتل او خونړى جگړه پيل شوه، کله چې عام خلک خبر شول چې سلطان صلاح الدين ايوبى

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکر کلا ته راننوت نو په منډه شول هغوي د خان لپاره دروازې خلاصې کړې چې پدې پرانیستو دروازو مسلمان لښکر لکه د سیلاب پشان کلاته ننوت .

تر ټولو لومړی سلطان صلاح الدین ایوبی حکم وکړ چې مسلمان بندیان دې خلاص شي او د هغوي د خلاصون لپاره یې خپل غازیان واستول.

پدې وخت کې پیره کوونکې تښتیدلي وه او بندیان د دروازې په ماتولو بوخت وه چې اسلامي غازیانو ورته دروازه خلاصه کړه کله چې مجاهدینو خپل بندیان ولیدل نو د سترګو څخه یې اوښکې روانې شوې ځکه چې د هغوي حال د کتلو وړ نه و.

په اتم جولای عکا فتح شوه. سلطان صلاح الدین ایوبی دلته دوه ورځې تیرې کړې او هلته یې خپل نماینده وټاکلو.

حضرت عیسی علیه السلام خپلو پیروانو ته د محبت او مینې درس ورکړی وو خو صلیبیانو د مینې او محبت پر ځای خلکو ته وینې او مرګ په تحفه کې ورکړ.

د شپې چې کله سلطان صلاح الدین ایوبی د خوراک او څښاک څخه وزګار شو نو هغه ته خبر ورکړل شو چې یو ډیر مهم صلیبي نیول شویدی، هغه وویل څوک دی ؟ ځواب ورکړل شو چې هرمن جرمنی د علی بن سفیان پشان د کمال خاوند او د استخباراتي اداری مشر.

هرمن جرمني په فلسطین کې د مسلمانانو په خلاف دومره ورانکاری کړې وه چې زیاتو مسلمانانو پیژانده، کله چې عکا ونیول شوه هغه د خپلو ورانکارو نجونو سره د تیښتې په حال کې وه چې د یو مسلمان جاسوس پرې سترګې ولګیدې، هغه د قبایلي او اطرافي خلکو جامې اغوستې وې او نجونو ته یې هم هماغه ډول جامې کړې وې .

جاسوس یو قوماندان ته وویل چې دا هرمن دی او ورسره نجونې هم شکمنې ښکاري .

هرمن نیغ سلطان صلاح الدین ایوبی ته وروستل شو خو سلطان صلاح الدین ایوبی ورسره د دښمن په شان نه بلکې د یو میلمه په حیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلوک وکړ، هغه ته یې سمدستي شربت ورکړ معنا دا چې د هغه سر په امن کې دی .

هرمن وویل: که تاسی زما د خبرو اترو پرته د وژلو حکم صادر کړی وای نو دا به ښه وای ؟

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : زه ستاسی په څیر پوه او میړنی انسان ته د قدر په سترګو ګورم .

هرمن وویل: آیا تاسی ما نه ددی پوښتنه کول غواړی چې په کومو کومو سیمو کې زمونږ څومره پوخ پروت دی ؟

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : هیڅکله نه ! دا زما څخه پوښتنه وکړه چې تاسی ته ووایم څکه ستاسی په زړه کې زمونږ مجاهدین ناست دی .

په حطین کې ستاسی پوخ بی شمیره وژ خو بریالیتوب مو په برخه نشو .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : تاسی ولی د مسلمانانو په منځ کې بد اخلاقی، بی اتفاقی او د څوکۍ مینه او محبت خپرولو او پدی توګه تا زمونږ ملت او خلک څو کاله پرله پسی وجنګول ؟

هرمن وویل: دا زمونږ مسئولیت دی، مونږ په صلیب باندی قسم خوړلی چې په هر ترتیب کیږي مونږ به مسلمانانو ته زیان رسوو، د هغوي آبرو، عزت، ناموس، حیا او ایمان به اخلو او په مقابل کې به عیاشی، فحاشی او وطن خرڅول ور زده کوو.

که نن تاسې دا خلک منع کړی نو سبا زمونږ کسان پدی باندی کامیابیږي. مونږ او تاسې به نه وو خو تاریخ به دا په یاد ولري چې په راتلوونکی کې به د مسلمانانو واکمنان، مشران، او سرداران زمونږ روزل شوی او ګمارل شوی کسان وي، د حکومت ټول کارونه به هغوي ته سپارل کیږي، هغوي به په ښکاره د نورو پشان مسلمانان وي خو په باطن کې به زمونږ ملګري او مرسته کوونکی وي .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : میلمه ! دا راته ووایه چې د خپل پوخ کره وره نور څرنګه ښه کولای او د هغوی وقار پورته کولای شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرمن وویل: محترم سلطان ! زه ستاسی د فراست او هوښیاری ستاینه کوم !

ستاسی د استخباراتو نظام ډیر ښه دی د علی بن سفیان ، حسن بن عبدالله او بلبیس په خیر خلکو په شتون کې تاسی هیڅکله نه ناکامیږی .

خو زه تاسی ته دومره وایم چې دا ستاسی تر ژوند پوری دی - مونږ چې کوم تخم شیندلی هغه نه ضایع کیږی دا چې تاسی د کلکی عقیدی څښتن یاستی نو لادینه عناصرو مخه مو نیولی ده خو ستاسی مشاورینو ، قوماندانو او ... په زړونو کي د حکومت ، دولت ، ارام ژوند نشه پیدا کړی .

سلطان محترم ! دا جنګ چې اوس یې مونږ او تاسی کوو دا زما او ستا نه بلکی دا د کلیسا او جومات جنګ دی چې زمونږ وروسته به هم روان وی .

مونږ له دی وروسته په میدان کې ستاسی په مقابل کې توره نه پورته کوو بلکی د مسلمانانو په دماغونو به کار کوو .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : هو ! دا یو حقیقت دی ، د قوم هر فرد ته پکار دی چې خپل دین او خپل وطن سره وفاداری وکړی ، هغه قوم ژوندی وی کوم چې د خپل دین او ټولنی د ارزښتونه ساتنه کوی .

زه تاسی د یو دروند بندی په توګه دمشق ته لیږم .

هرمن وویل : کومی نجونی چې ماسره ملګری وی د هغوی په باب راته څه ویلی شی ؟

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : زه نجونی په بند کې نه ساتم اود وژلو اراده هم نه لرم .

هرمن وویل : دا ډیری ښکلی نجونی دی یو نظر یې وګوری تاسی ته خو خپل دین اجازه درکوی چې وینځی یې کړی او بیا ورسره نکاح وکړی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : دا صحیح ده خو زه په خپل کور کې د مار بچی نه پالم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرمن وویل : ددوی خو هیڅ ګناه نشته مونږ دوی ته د کوچنیوالی څخه داسی تربیت ورکړی دی .

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل : نو له همدی امله ددوی د وژلو هم حکم نشم ورکولای .

زه ستاسی په لړی فکر کولو باندی افرین وایم او هغه دا چې تاسی خواږه زهر زما قوم ته ورکوی خو زه هم ستاسی په څیر فکر کوم ، هغوی ته ووایه چې د مسلمانانو سیمو څخه د نورو عیسایانو سره ولاړی شی او که بیا په دی د سیمو کې ولیدلی شوی نو سرونه به یې له تنوڅخه پریکړی شی .

کله چې هغوي له ښار څخه وتلی نو یو قوماندان چې په یو جومات کې یې مخکې د دوه مسلمانو ښځو لوڅ او لغړ مړی لیدلی وه او خپل حواس یې د ډېر خفګان او غم څخه له لاسه ورکړی وه د دی نجونو د ساتوونکو څخه یې وپوښتل چې دا څوک دی ؟

هغوي ورته وویل: دا هغه ورانکاري نجونی دی چې هرمن وربانددی د مسلمانانو څخه ایمان اخیستلو او اوس ازادی شوی .

قوماندان چې د خپلو مسلمانو میرمنو مړی لیدلی وه یو دم احساساتی شو او توره یې راوویستله په یو خرپ یې د دری ورانکارو نجونو سرونه قلم کړل، نوری ورڅخه یوی او بلی خواته شوی خو بیا یې هم دوه نوری راپیدا کړی او سرونه یې ورڅخه قلم کړل، هغه خپلو مسلمانانو ورونو ته وویل : تاسې دومره بی غیرته یاستی چې هغوي زمونږ خویندی او میندی بی عزته کوی او بیا یې وژنی او تاسې یې اوس خوشی کوی .

سلطان صلاح الدین ایوبی په عکره کې د غنیمت مال پخپلو مجاهدینو وویشلو او د پنځمی برخی څخه یې بندیانو او نورو غریبو مسلمانانو ته هم مالونه ورکړل .

په همدی وخت کې حسن بن عبدالله سلطان ته خبر راوړ چې ریماند مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدين ايوبي وپوښتل چې زخمي شوی وو؟ هغه خواب ورکړ! زخمي نه وو خو تريپولي ته درسيدو په سبا يې مړی په خپله کوټه کې پيدا شو.

ځينو تاريخونو ليکلي چې هغه خپله ځان وژلی وو. ځيني وايي چې د هغه سره په همدې ماښام شيخ سنان کتلی وه چې سبا د هغه مړی پيدا شو.

د حطين د جګړې څخه څو ورځې مخکې د صليبيانو زرور او جنګيالي پادشاه بالډون هم مړ شوی وو، چې د هغه څخه وروسته ګايي ديروشلم پادشاه او واکمن وټاکل شو.

* * *

سلطان صلاح الدين ايوبي خپلو پوځيانو او غازيانو ته دا روزنه او تربيت ورکړی وو چې هغوي بايد پخپل ځان کې ديني جذبه، احساس او ولولې راپيدا کړي او تر څو چې ديني جذبه او احساس ژوندي وي اسلامي امت به بريالی او کامياب وي هرکله چې د مسلمانانو احساس مړ شو نو ټول امت به غلام وګرځي.

سلطان صلاح الدين ايوبي خپلو سالارانو او قومانداناتو ته ويلي وه چې تل هغوي بايد د صليبيانو زور، زياتي او بد اخلاقي خلکو ته په ډاګه او څرګنده توګه وښيې ترڅو هغوي پوه شي چې ايا صليبيان زمونږ دوستان دي او که دښمنان! څرنګه چې د سلطان صلاح الدين ايوبي لښکر د صليبيانو زور، زياتي او بد اخلاقي پخپلو سترګو ليدلې وه نو ځکه يې په هغوي لکه د زمريانو پشان حملې کولې.

* * *

د هرمن په روزل شويو نجونو کې دوه ساحل ته ولاړې او هلته يوې او بلې خواته د اطرافي ښځو په جامو کې ګرځيدې چې د شپږ کښتيو د قوماندان سترګې پرې ولګيدې، هغه ورڅخه وپوښتل تاسې دلته څه کوئ، هغوي ورته وويل: مونږ د دښتو اوسيدونکو يو او د جګړو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب له خپلو کورونو څخه بې کوره شوي یو. عیسایان مونږ مسلمانان بولي خو مسلمانان مونږ عیسایان.

مونږ د دواړو له لاسه هلته نشو اوسیدای، قوماندان چې هغوي ته وکتل نو زړه یې پرې وخوړیده او هغوي دواړه یې له ځان سره بوتلې خو د دې څخه ناخبره وه چې دا څوک دي؟

د سلطان صلاح الدین ایوبي د بحري ځواکونو (رئیس البحرین) د دو بحرونو سري بحري او روم بحري مشر عبدالمحسن وو، د هغه مرستیال امیر البحر حسام الدین لولواو هر شپږو لوی کښتیو به یو قوماندان درلوده چې یو هم الفارس بیدرین و. دده مرکزي قرار ګاه اسکندریه وه.

د بحري ځواکونو عمومي قوماندان عبدالمحسن د روم په بحیره کې د ځار کولو لپاره چې د اوبو له لارې ورسره څوک مرسته ونه کړي الفارس بیدرین ټاکلی وو.

یوه ورځ د مرکزي قرار ګاه څخه ورته حکم شو چې د څه هدایاتو اخیستلو لپاره د صلاح الدین ایوبي په خدمت کې حاضر شي.

قوماندان الفارس بیدرین د سلطان صلاح الدین ایوبي په وړاندې ودریدلو هغه ورته وویل: الفارس! زه تاسې ښه پیژنم تا دوه جګړې کړې چې په هغوی کې دې ښه میړانه ښکاره کړې ده اوس ما د بیت المقدس د نیولو اراده کړې ده نو د لوی جګړې امکان شته ځکه صلیبیانو چې کومه ماتې وخوړه او په څه ډول له میدان څخه وتښتیدل دا څه عادي پیښه نه ده د هغوی څلور واکمنان زما سره بندیان دي، ما ته علي بن سفیان خبر راکړی چې د انګلستان بادشاه رچرډ او د جرمني بادشاه فریډرک د فلسطین په خاوري باندې د صلیب دواکمنی ساتل غواړي او ددې لپاره تیاري کوي نو د هغه وړاندې د شمال څخه تر جنوب پوري ټول ساحلي غاړې نیول ضروري دي په دې ساحل باندې بیروت، صور (ټایر) او عسقلان لوی لوی ښارونه پراته دي نو ستاسې کښتۍ به د ساحل په غاړه هر وخت موجودې وي زه چې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ته څم تاسی خبروم که څه ته مو اړتیا وی نو له دی پړاو څخه یې پوره کولی شی .

الفارس بیدرین وویل : سلطان محترم ! زموږ سره هرڅه شته یوازی دا دعا راته وکړه چې د اسلام په سپیڅلی دین باندی ثابت قدم پاتی شم او د شهادت مرګ مو په نصیب شی .

په ۲۰ جولای ۱۱۸۷ عیسوی کال سلطان صلاح الدین ایوبی د عکا څخه د ساحل له لاری مخ په وړاندی روان شو . لاره ورته مخکې مجاهدینو پاکه کړی وه ، او کلاګانی یې هم نیولی وی . هغوی بیروت ته ورسیدل او هغه یې محاصره کړ . هلته هم سلطان صلاح الدین ایوبی لوی قربانی ورکړه او بیروت یې ونیوه .

په ۲۹ جولای بیروت سلطان صلاح الدین ایوبی فتح او هغه یې پخپل حکومت کې شامل کړ . د هغې څخه وروسته د صور یا ټایر په لوري ولاړ خو جاسوسانو ورته راپور ورکړ چې هلته حالات مناسب ندی .

یوه ورځ الفارس بیدرین د خپلی کښتی سره د بحر ساحل ته ولاړ او د ځمکنی خواکونه د یو قوماندان دلیدلو لپاره . د کښتی څخه ښکته شو او د هغه پړاو ته ورغی . نجونی د کښتی په غاړه کتارو باندی لاسونه اینبی ولاړی وی ، د ساحل ننداره یې کوله چې دوه کوچنی کښتی راغلی ، هغوی تازه موسمی میوی او نور شیان خرڅول . پدی پلورونکو کې یو د پاخه عمر خاوند چې شلیدلی جامی یې په تن وی وویل : ای شهزادګې څه واخلی ؟

څرنګه چې دوی هم د استخباراتو غړی وو یو تر بله یې سره وپیژندل نو یو پوځی ته یې وویل : دا سړی د خپلی ټوکری سره راپورته کړی چې څه ورځنی واخلو .

هغه ورته وویل : زه په دی حیران یم چې تاسی په کښتی کې ونتم ؟

یوی نجلی وویل : کله چې هرمن او موږ د تیښتی په حال کې ونیول شو نو ډیر سره او سپین راسره وو ، قوماندان ته مو د خپلی ازادی په بدل کې وړاندی کړل خو هغه یو مخلص مسلمان وو هغه قبول نه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ يې د سره او سپینو سره د سلطان صلاح الدين ايوبی مخ ته بوتلو نو هغه وويل پرته له ځنډه دي دوې د مسلمانانو د سيمی څخه وځی او د بيا ليدلو په صورت کې به ووژل شي : مونږ کوښښ کولو چې خپل کوم پوځی پړاوته ځانونه ورسوو چې د ساحل په غاړه الفارس بيدرين د زړه سوی له مخی سپری کړو خو اوس د هغه زړه زمونږ په لاس کې دی .

که مناسبه موقع په لاس راغله نو د تښتی کوښښ به کوو او که تاسی مو لارښونه وکړی نو دلته به څه وکړو ؟

د صليبيانو پوځی جاسوس اينډريو ورته وويل : ساحل باندی د راکښته کيدلو کوښښ ونه کړی تر بيروت پوری ټولی سيمی د مسلمانانو په لاسونو کې دی يوازي صور(ټاير) پاتی دی چې هلته تاسی پناه اخيستلی شي خو هلته اوس رسيدل ممکن نه دی .

انجلی وويل : تاسی اوس څه اراده لری ؟

اينډريو وويل : په صليب باندی د قسم کولو وروسته زه دا کوښښ کوم چې دا شپږ واړه کښتی له مينځه يوسم .

نجلی وويل : زمونږ کښتی چيرته ولاړی دی .

اينډريو وويل : د صور(ټاتر) تر څنګ ولاړ دی که ذوی هغه لوری ته مخه کړه نو زه به د سيوری په څير ورپسی ووم او هغوی به خبرو وم تاسې همدلته اوسيږی ځکه تاسې زما سره پوره کومک کولای شي .

بيا نجونو د ټوکری څخه څه واخيستل او روپی يې ورکړی .

سلطان صلاح الدين ايوبی خپل پوځ د بيت المقدس لپاره خوندی ساتلو ترڅو لومړی هغه فتح کړي.

په ۲ سپتمبر ۱۱۸۷ ميلادی کال سلطان صلاح الدين ايوبی د عسقلان مشهور ساحلی ښار محاصره کړ، په لومړی ورځ منجنيقونه او مچانونه ښه وچليدل او په دروازو د ډبرو بمبار وشو، په دويمه ورځ د عسقلان خلک وويريدل او ښار يې تسليم کړ.

پدی ښار باندی صليبيانو په ۱۹ ستمبر ۱۱۵۳ ميلادی کال ولکه کړی وه چې څلور ديرش کاله وروسته بيرته ازاد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عسقلان ښځه بیت المقدس څلوېښت میله لرې وې، د سلطان صلاح الدین ایوبی څه ملګرې مخکې لا د بیت المقدس شا او خواته رسیدلې او ځینې پوستې یې تباه کړې وې نو صلیبیان ټول بیت المقدس ته ور ټولیدل.

سلطان صلاح الدین ایوبی خپلو ټولو پوځونو ته حکم وکړ چې عسقلان ته راټول شي ترڅو د هغه ځای ښځه په بیت المقدس باندې برید وکړې.

د سلطان صلاح الدین ایوبی د فتوحاتو خبر بغداد، قاهرې، دمشق، حلب او موصل ته هم رسیدلې وه چې د هغه ځای ښځه ډېر علماء، مشایخ، مجاهدین او دعا کوونکې را روان شول.

د سلطان صلاح الدین ایوبی پوځ د ډېرو فتوحاتو په برکت داسې زړور شوی وه چې د هیڅ شي پروا یې نلرله، هغوي د ډېر وخت ښځه په جګړو اخته وه خو د ستړتیا هیڅ احساس ورسره نه وو.

عسقلان ته د تللو نه څلور پنځه ورځې مخکې هغه ته د حلب ښځه یو ډېره مهمه میلمنه راغله چې هغه د سلطان نور الدین زنګی کنډه رضیع وه، د هغې سره دوه سوه روزل شوی مسلمانی مجاهدی نجونې وې چې هم یې د زخمیانو خدمت کولای شو او هم یې د جګړې په ډګر کې د غازیانو سره مرسته کولای شوه ځکه هغوي پوره په جنګی پوهه سمبال وې.

د رضیع سره د هغې لور شمس النساء هم وه چې اوس د زیات عمر خاونده وه او سلطان صلاح الدین ایوبی هغه ونه پیژندله هغه ور وړاندې شوه او د سلطان لاسونه یې ښکل کړل.

رضیع وویل: تاسې دا ونه پیژندله! زما لور شمس النساء ده تاسې په کوچنیوالې کې لیدلې وه.

ددې خبرې سره هغه په غیږ کې ونیوله او ښکی یې د سترګو ښځه روانې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضيع سلطان صلاح الدين ايوبی ته هغه ممبر راوړی وه چې سلطان نور الدين زنګی د بيت المقدس لپاره جوړ کړی و خو د هغه سره ژوند وفا ونکړه .

رضيع سلطان ته وويل : دا ممبر مې پدی خاطر درته راوړ چې زما د خاوند د زړه ارمان ستا په لاس پوره کيږي او دا ارمان د هر مسلمان په زړه کې شته چې بيت المقدس ازاد شی .

سلطان صلاح الدين ايوبی او هلته ولاړ ټول پدی خبره په ژړا شول ځکه چې هغه هم پدی ارمان وو چې بيت المقدس ازاد شي او دا ښکلی ممبر هلته کيښودل شي ، هغه وويل: الله تعالی دی وکړی چې ستاسې ارمان زما پلاس پوره شی .

د نورو هيوادونو او ښارونو څخه چې کوم علماء کرام او مشايخ راغلی وو هغوي غازيانو ته د بيت المقدس د اهميت په هکله وعظونه کول او د صليبيانو زور ، زياتی او بد اخلاقی يې ورته بيانولی، هغوي غازيانو ته وويل: بيت المقدس د رسول الله صلی الله عليه وسلم د معراج د سفر لومړنی ځای دی، دلته د مسلمانانو مسجد دی، مونږ ته ټول انبياء کرام محبوب او ګران دي او مونږ د ټولو قدر دومره ساتو لکه چې د خپل پيغمبر ساتو، نو مونږ تر ټولو زيات د دی ښار حقدار يو ځکه چې د هغه اصلی عزت او درناوی يوازي مسلمانان ساتلی شي ، نور خلک پکی خامخا د يو لوري بی عزتی او بی آدبی کوي که يهوديان يې ونيسی نو د عيسايانو او د مسلمانانو د مقدسو ځايونو بی آدبی کوي، که عيسايان يې ونيسی نو د يهوديانو او د مسلمانانو د مقدسو ځايونو بی آدبی کوي، خو مسلمانان ټول مقدس ځايونه مقدس ګڼی او د هغې احترام او درناوی د زړه له کومی او د ايمان د غوښتنی په اساس کوي ځکه د دی مقدساتو آدب، درناوی او عزت کول د ايمان او تقوی برخه ده او بی آدبی کول يې کفر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عسقلان کې سلطان صلاح الدين ايوبی خپل پوځونه برابرول او د خپلو جاسوسانو راپورنه يې اوريدل او د هغې په رڼا کې يې د بيت المقدس د ازادی د جګړی پلان او نقشه جوړوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایوبي د مسجد اقصی په درشل کې

دوه نجوني چې د الفارس بیدرین په کښتۍ کې وې دواړه ډېرې خوشحاله او مسکۍ کېدونکې وې، د سمندر په یوازي توب کې هغوي دواړو الفارس ته نوی ژوند او خوښي وربښلې وه. خو دواړه لوری یو بل ته راز او معما ګرځېدلی وه ځکه الفارس بیدرین هغوي د اطرافي او دښتي نجونو په نامه راوستې وې چې کورونه یې وران شوي او دوی بې آسرې پاتې دي خو اوس هغوي داسې نجونې وختلې چې د شتمنو کورنیو او ښاري خلکو لوڼې ښکارېدې خو هغوي پدې اقرار نه کولو یو ځل الفارس بیدرین ورته وپوښتل: تاسې ویلې چې مونږ کوچیان یو او په دښتو کې اوسیدلو خو زه ګورم ستاسې خوی او عادت د شتمنو او مالدارو کورنیو په شان دی! انجونو ورته وویل: مونږ په شتمنو کورونو کې نوکرې او خدمت کړیدی ځکه مو له هغوي څخه دا هر څه زده کړي.

نجونو ته هم الفارس بیدرون یو راز ګڼندی وو ځکه هغوي چې هرڅومره چلونه پرې وکړل یوه د راز خبره یې هم ورڅخه وانه وریدله او کله به چې هغوي ورڅخه یو څه وپوښتل د پلمې څخه پرته به یې هغوي ته ویل: تاسې زما په هکله هره پوښتنه کولای شی خو پدې هکله تاسې ته هیڅ اړتیا نشته او نه زه چاته څه ویلای شم.

بله دا چې الفارس بیدرون هغې دواړو ته هیڅ په بد نظر نه کتل چې دا هم د هغوي لپاره یو مشکل وو، هغوي خو صلیبیانو همداسې روزلې وې چې باید په مسلمانانو کې بد اخلاقي پیدا کړي خو دوی ونشول کړای هغه ګناه ته راکش کړي.

الفارس بیدرون ورته په ډاګه وویل: ما ستاسې سره وعده کړې چې زه تاسې دواړه مصر ته بیا یم او بیا هلته انشاء الله واده درسره کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې ځخه مخکې زه ستاسې سره هيڅ ډول جنسي اړيکي نشم نيولای.که دا خبره ستاسې خوښه وي ښه ده کنه هر چيرې چې تلل غواړې هلته مو رسوم.

نجونو نه غوښتل هغه خفه کړي نو سمدستي يې د مينې او محبت خبرې پيل کړې او دا يې وويل چې ستا ځخه مونږ په هيڅ توګه نشو جلا کيدای .

د شپږ نورو کښتيو مرستيالانو ته هم دا معلومه شوې وه چې الفارس بيدرون دوه نجونې د ښتي ځخه راوستي او پناه يې ورکړيده خو هغوي دې ښه پيژانده چې څه ډول انسان دی نو هيچا هم پرې شک ونه کړ ځکه چې هغه هيڅ بد کاره سړی نه وو، بلکه دا چې هغه دومره وظيفه پيژندونکی سړی وو چې يوه دقيقه يې هم له خپل مسئوليت ځخه بې پروايي او غفلت نکولو او نه يې بل چاته دا وخت ورکاوه .

هغه ته دا مسئوليت سپارل شوی وو چې په صور کې صليبي بحري ځواک ته مرسته او کومک رانشي د هغه کښتۍ د صور په شا او خوا کې ګرځيدې او څارنه يې کوله. د صليبيانو ټوله بحري قوه په صور کې ولاړه وه او دې ته سترګې په لاره وه چې څه وخت موقع برابره شي او په مصري بحري ځواک باندې برید وکړي. دواړو لورو خپل جاسوسان د کب نيوونکو او يا نورو سودا خرڅوونکو په شکل کې يو بل ته استول. يو صليبي جاسوس د يو غريب سودا خرڅوونکي په شکل د الفارس کښتۍ ته راغلی او د دوه نجونو سره يې ليدلي هم وه او هغوي ته يې تاکيد کړی وو چې د قوماندان ځخه مهم راز واخلي .

* * *

د حطين تر فتحې وروسته د شا او خوا سيمو ځخه تښتيدلي پوځيان او عام عيسايان بيت المقدس ته تلل او هلته ځای پر ځای کيدل. هغوي پر مسلمانانو زور او زياتي پيل کړ، هلته نژدې شو زره مسلمانان بنديان وه چې تر سخت فشار او تيرې لاندې وه، صليبيانو د مجاهدينو او غازيانو انتقام د مظلومو بنديانو ځخه اخيستلو، کله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغوي چیرې ماتې یا تکول وخوړل نو په بندیانو به یې ظلم او زیاتی کاوه . د ځینو بندیانو څخه یې د څارویو پشان د بار وړلو کار اخیسته، نجونې به یې د بد اخلاقي لپاره استعمالولې ، هر ډول تیری یې پرې کاوه او دا کار یې ثواب بللو، ان تر دې چې یوه ورځ یو صلیبي آفسر یو مسلمان حلال کړ او بیا یې د هغه غوښه وخوړله نورو ته یې وویل چې غوښه یې ډېر خوندوره ده. هغوی هم ورسره د خوراک په خوړلو پیل وکړ د دې څخه وروسته هغوي هر وخت دا کار کاوه چې یوه دوه مسلمانان به یې رانیول او هغه به یې قصابي کول او غوښه به یې خوړله .

په لومړني صلیبي جنګ کې دوی په منسیا او اکزرو ګورو کې ډېر ماشومان کباب کړل او وېې خوړل. یو ځل بیا صلیبیانو خپل پخوانی تاریخ را ژوندی کړ او د مسلمانانو په خوړلو یې پیل وکړ.

د مسلمانانو مقدس ځایونه او جوماتونه یې د بدکارۍ لپاره استعمالول. هلته یې حیوانات او آسونه تړل، د جوماتونو څخه یې ټول قیمتي او ارزښناک شیان لوټ کړل .

اوس سلطان صلاح الدین ایوبي د مدیترانې په غاړه د عسقلان په ساحلي ښار کې د هغه زمرې پشان پروت وو چې پخپل ښکار باندې حمله کوونکې وي. د احساساتو او ولولو په لحاظ هغه بالکل حملې او برید ته تیار وو خو هغه ټول جنګي حقایق او ځمکنی واقعیتونه په نظر کې نیول او هیڅ وخت یې جذباتي او احساساتي حملې نه کولې، هغه ته څرګنده وه چې د بیت المقدس په شا او خوا باندې فصیلونه او دیوالونه راتاو دي، د دې څخه برسیره د هغې په لارو کې هم پوستې او امنیتي خواکونه وجود لري چې بیت المقدس ته څوک ناڅاپي داخل نشي .

مجاهدینو زیاتې امنیتي پوستې ختمې کړې وې خو یو څه لا پاتې هم وې. صلیبیانو ته په بیت المقدس کې د سلطان صلاح الدین ایوبي ټول حالات خپلو جاسوسانو راوړل خو د هغوي مورال دومره کمزوری شوی وو چې د حملې او برید زړه یې نشو کولای ځکه سلطان صلاح الدین ایوبي د حطین د جګړې څخه وروسته د هغوي ډېر مهم ښارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه عکا، حيفا ، بيروت او عسقلان نيولي وه او کوچنې پوستې او کوچنې کلا ګانې خو بې حسابه له منځه تللي وې .

سلطانې کماندويانو په صليبې ګزمو او پوستو باندې حملې کولې څه به چې مړه شول نور به يې ژوندي نيول، وسلې، سامانونه او خوراکې شيان دومره زيات نيول شوي وه چې د کلونو کلونو جګړو لپاره بس وه، هر څه بې حسابه مسلمانانو ته پلاس ورغلل .

د بيت المقدس پادشاه ګايې د حطين په جګړه کې ژوندې نيول شوي وو او اوس په دمشق کې بندي وو نو د بيت المقدس ښار مشر نه درلوده او ټول کار د پوځي او عسکري جنرالانو پلاس کې وه ، هغوي خپله دفاع ډيره قوي کړې وه، هلته نژدې شپيته زره پوځ موجود وو خکه چې څه يې خپل او نور ورته د شا او خوا سيمو څخه راغلي وه، هر ځای به چې جګړه وشوه نو تښيدونکو به ځان بيت المقدس ته رسولو. کوم کسان چې راتښتيدل هغوي به داسې کيسې کولې چې د نورو زړونه يې هم کمزوري کول .

يوه پوسته چې د بيت المقدس د دفاع لپاره اچول شوي وه او دپوځيانو شمير يې نژدې سلو کسانو ته رسيدلو، يوه شپه يو دم څو پرله پسې چاودنې وشوې او بيا خيمو آور واخيست، پوځيان يوې او بلې خواته وتښتيدل، څرنګه چې هلته رڼا او روښنائي شوه نو د شا او خوا څخه پرې د غشو باران پيل شو او د دې سره پرې اواز وشو چې خپلې وسلې تسليم کړې نو ژوندي به پاتې شې ستاسې پوسته محاصره ده او مقاومت پرته له مرګ څخه بل څه ګټه نه لري .

صليبې پوځيان سمدستي سلامې شول او خپلې وسلې يې غازيانو ته وسپارلې ، هغوي نيول شوي پوځيان، وسلې او آسونه شاته واستول او خپله مخکې ولاړل، د سلطان صلاح الدين ايوبي کماندويان به په ځنګلو، دښتو، غونډيو، لوړو او ژورو کې پټ پراته وه او چې کله به صليبې داره ماران پرې برابر شول نو هغه به يې له منځه وړل. مسلمانانو چې د صليبيانو زور زياتې پخپلو سترګو وليدلو نو هر يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجسم دهشت او د الله تعالی قهر وګرځیده بیا یې د بیت المقدس زیاتی لاري وتړلی او هیڅوک د هغوي د اجازې څخه پرته یوی او بلی خواته نشو تلایی.

* * *

سلطان صلاح الدین ایوبی په عسقلان کې د خپلو سالارانو، نائب سالارانو او سلا کارانو اخرینۍ غونډه جوړه کړ ترڅو د بیت المقدس د فتحی په هکله سره خبری اتری او سلا مشوره وکړي ، هغوي دی غونډی ته الفارس بیدرون هم راوغوښت ځکه چې هغه د بحری خواک د مهمی برخی مسئول وو. هغه ته استازی واستول شو چې زر تر زره ځان ښار ته را ورسوی چې سلطان صلاح الدین ایوبی ستاسې سره ضروري مشوره او خبری لری.

کله چې دواړه نجونی د هغه د تللو څخه خبری شوی نو وی پوښتل: تاسې سلطان صلاح الدین ایوبی غوښتی یاستی د څه لپاره ځی؟

الفارس بیدرون ورته وویل: تاسې ته ما څو ځلی ویلی وه چې زما د حکومتی کارونو په هکله به زما څخه پوښتنه نکوی.

هغوي وخندل او خبره یې په ټوکه واخیستله نو بیا یې وپوښتل بیرته کله راځی ؟

الفارس بیدرون ورته وویل : کیدای شي دوه شپې وروسته راشم.

دا دوه نجونی یوه روزی نومیده او بله فلوری خو دوی خپل نومونه الفارس بیدرون ته بدل ښودلی وه ځکه چې د اطرافی نجونو نومونه بل شانته وه .

روزی فلوری ته وویل : د الفارس بیدرون څخه نور څه نه کیږي، ښه خبره دا ده چې د دی ځای څخه ولاړ شو. کله چې ایندریو راغی نو هغه ته به ووایو چې مونږ لدی ځای څخه وباسی، دلته هیڅ کار نه کیږي، هغه هیڅ خبره هم نه کوي ؟

فلوري وویل: دومره زر بیا تنګه شوی، اینډریو مونږ ته ویلی وه چې ستاسې دلته اوسیدل ضروري دي، بلکه دا چې مونږ تلل لدی ځای ځخه څه اسان کارندی، کیدای شي دری واړه ونیول شو.

روزی وویل: نو بیا څه کول پکار دي.

فلوری وویل: ولی ما او تا ته انیډریو نه وه ویلی چې که د الفارس بیدرون څخه کار نه کیږي نور آفسران خو هم شته د هغوي سره اړیکی ونیسی، پخپلو کې یې سره واچوی او دښمنی پکې پیدا کړی یو پر بل یې بد ګمانه کړی.

بیا فلوری او روزی سره سلا مشوره وکړه چې د الفارس بیدرون نائب روف کردی دی د هغه سره اړیکی نیول پکار دي، هغه هم ځوان دی، دواړو فیصله وکړه چې فلوری به دا کار پر مخ بیا یې.

روزی د روف کردی په خوا کې تیره شوه نو هغه ورته وخندل او بیا یې خبری سره پیل کړی روزی ورته وویل: زه چې کله ستا سره ودریږم نو فلوری ډیره خفه کیږي، هغه راته وایی چې زما په ملګری قبضه مه کوه، کله چې مصر ته ورسیدلو نو زه د هغه سره ځم دلته د خپل مینی څرګندونه نشم کولای ځکه زه در څخه همداسی تیره شوم کنه هسی تیریدل خو بی آدبی ده، روزی د فلوری په هکله روف کردی ته داسې خبری وکړی چې محبت یې ورسره پیدا شو، هغه فکر کاوه چې نجلی ورسره مینه کوي.

روف کردی هم د الفارس بیدرون پشان هغوي مظلومی او د دښتی نجونی ګڼلی او د هغوي سره مرسته ورته د ثواب کار ښکاریده. خو پدی هغه کله پوهیده چې هغوي روزل شوی ورانکاری، صلیبی لړمان او ماران دي چې خپل او پردی دواړه چیچي.

د روزی د تللو څخه وروسته فلوری هغه لوری ته را روانه شوه نو روف کردی ورته وخندل او بیا یې خبری ورسره پیل کړی، فلوری ځان داسې ونیوه کله چې ډیره با حیا او پاکه پیغله وي او هیڅ وخت یې نارینه په سترګو هم نه وي لیدلی، هغې مخ یو لوری ته وراړوه او بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ناز او نزاکت سره خبرې پیل کړې، هغې غوښتل خان داسې واچوي چې ګوندې زه هیڅ خبره نه یم، روزي او دې خو سره له مخکې خبره پخه کړې وه چې روف کردې به د الفارس بیدرون پر ځای د راز اخیستلو لپاره استعمالوي.

فلورې هغه ته خپل محبت داسې ښکاره کړ چې هغه پرته لده څخه ژوند نشي کولای، بلکه خبره یې دا وکړه چې الفارس بیدرون زما نه خوښیږي خو هغه زه د دې څخه منع کړې یم چې د روف کرد سره وګورم، زه چې تاته نه راتلم علت یې دا وه چې ما ته الفارس بیدرون ویلي وه چې روف کرد ته به نژدې کیږې هم نه، هغه زما دېر بد راځي او زما ورسره نه لګیږي.

فلورې د روف کردې په زړه کې د خپلې مینې او محبت جذبه را پیدا کړه او د الفارس بیدرون سره یې دښمنې هم را بیداره کړه.

روف کردې به خان سره وویل چې الفارس بیدرون په ما څه نه پیرزو کیږي؟

د ځوانانو دا یوه لویه کمزوري وي چې کله پداسې مسایلو کې راګیر شي نو بیا دښمني هم کوي، ځیني نجوني همدا عادت لري چې دوه طرفه لوبه چلوي، دواړو ته دوکه ورکوي او دواړه یو د بل دښمنان ګرځوي، تاسې به په مخکنی داستانونو کې لوستې وي چې یوې نجلی دوه ورونه سره جنګولي او یو یې د بل وژلو ته تیار کړي وه، فلورې هم د هماغه شیطاني صفت څخه کار واخیست او د روف کرد په زړه کې یې خپل محبت او د الفارس بیدرون دښمني پیدا کړه.

* **

کله چې سالاران، نائب سالاران، سلا کاران او نور پوځي افسران عسقلان ته ورسیدل نو سلطان صلاح الدین ایوبي هغوي ټولو ته نقشه کینښودله او ټول یې پرې پوه کړل چې زمونږ د پرمختګ دا لاره ده، په هغه ځایونه کې چې دښمن وه هغه یې نښاني کړي وه، سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: که دا پوستي زمونږ څه نشي کولای خو مونږ باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ټول قوت او خواک بیت المقدس ته وساتو، کله چې هغه ولیول شو دا پوستې بیا خپله ختمیږي. مونږ به د دې پوستو څخه لاره بل لورې ته کړو، خکه هغوي زمونږ پسې راتلای نشي لور دی ناست وي.

یو سالار وویل: که هغه پوستې وی نو بیا خو هغوي بیت المقدس ته خبر ورکوی او مونږ هلته په ناخبری کې حمله نشو کولای؟

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: اوس ناڅاپي او ناخبری هیڅ معنا نلري، هغوي ټول پدی پوهیږي چې اوس زمونږ هدف او مقصد بیت المقدس دی او هلته روان یو.

هغوي خپله دفاع پوره نیولی ده، هغوي د خپل پوځ څخه برسیره د نورو خایونو پوځونه هم له ځان سره ساتلی دی، د دې څخه پرته هغوي اروپا (جرمنی، برطانیه او فرانسی) ته هم خواب استولی چې مرسته او کومک ورته راولیږي.

داسي معلومه شویده چې نائتهان به د کلا څخه د باندی راوځی او حملی به کوي او دا لړۍ به تر ډیره پوری روانه وي، اوس په بیت المقدس کې تمرینونه او مشقونه روان دی او هغوي بالکل دی ته تیار دی چې ستاسې سره مقابله او جګړه وکړی، هغوي پدی دومره وخت کې ښه پوره تیاری نیولی چې تر ډېر وخته پوری محاصره زغملی شي.

هلته د ټول پوځ شمیر شپیته زرو ته رسیږي بله دا چې هلته مسلمانان ټول بندیان دي زمونږ سره څوک مرسته او کومک هم نشی کولای حال دا چې د صلیبی پوځ سره خپل خلک کومک او مرسته کوي، هغوي یو ډول نوی لیندی راوړی چې غشی تر لرې ځای پوری ویشتلی شي او د صلیب پشان شکل لري.

سلطان صلاح الدین ایوبی وویل: دا اخری غونډه ده د چا سره چې هر ډول پوښتنه، اعتراض یا وړاندیز وي هغه دی همدا اوس ووایی بیا معلوم ندی چې مونږ او تاسې سره ژوندی ګورو او کنه!

زما دوستانو! مونږ او تاسې ته اوس وخت او شرایط داسې برابر شویدی چې باید د هغې څخه پوره ګټه واخلو، بیا داسې شرایط نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابربېږي، او که مونږ د دې شرایطو ښه کار وانخست نو بیا به هیڅکله هم بیت المقدس ازاد نشي.

الله تعالی زمونږ لپاره د بیت المقدس دروازه خلاصه کړې نو سمدستي ورښه ننوځي.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: ما د حطین د جګړې ښه مخکې تاسې ته ویلې وه چې صلیبیان نه یوازې دا چې زمونږ سره په وسلو جګړه کوي بلکې هغوي ډېرې لارې چارې برابرې کړې چې زمونږ پوځ، آفسران او چارواکي پرې بې لارې کولای او فلجولای شي، هغوي د شرابو او ښایسته نجونو ښه کار اخلي او پدې توګه په مونږ کې ایمان پلورونکي او وطن پلورونکي پیدا کوي.

تاسې ولیدل چې مونږ څومره وخت د ایمان پلورونکو سره په شخړو کې تیر کړ او څومره زیانونه مو ولیدل، څومره چارواکي زمونږ پخپل لاس ووژل شول حال دا چې ټول د هغوي دوکې او چلونه وه.

اوس یو ځل بیا وایم چې د دې دوکې او چل ښه ځان خبر کړې او پدې پوه شې چې هغوي په څه چلونو خلک بې لارې کوي. هغوي نجونې په مختلفو شکلونو او ډولو خلکو ته وراستوي او بیا د هماغوی په واسطه زمونږ ټول پلانونه رسوا کوي.

ګرانو دوستانو! د امیر المؤمنین عمرفاروق رضی الله عنه د خلافت په وخت کې عمرو بن العاص د خپل ملګرو په قرباني بیت القدس ازاد کړ، خلیفه د بې شمیره صحابه کرامو سره بیت المقدس ته ننوت چې په هغوی کې حضرت بلال رضی الله عنه هم وو ټولو د اقصی په جومات کې لمونځ وکړ ددې لمانځه لپاره امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه بلال رضی الله عنه ته وویل : د سیمې هر څه ستا د اذان اوریدلو پسې تږې دي نو دا سعادت به ستا په برخه کیږي پورته شه او په خپل خوږ او لوړ اواز د ازادی اعلان وکړه هغه د رسول اکرم ﷺ د رحلت وروسته بیا چپ شوی وو کله چې دا کلمات الله اکبر-الله اکبر- الله اکبر -الله اکبر، اشهد ان لا اله لا الله - اشهد ان لا اله لا الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



، اشهد ان محمد درسول الله - اشهد ان محمد رسول الله ، حی الصلوه
حی الصلوه ، حی الفلاح - حی الفلاح ، الله اکبر-الله اکبر، لا اله لا الله
- وویل نو د ټولو د سترګو څخه اوښکې روانې شوې .

اوس مسلمانان پداسې حالت کې شپې ورځې تیروي چې د بیانولو وړ ندي
په هغوي داسې زور، زیاتی او ظلمونه کیږي چې انسانیت ورڅخه شرمیږي
د صلیبیانو خوی او عادت همداسې دی چې چیرې بر لاسې شي بیا
د هیچا د عزت، ناموس او حیثیت پروا نه ساتی او په هر ډول بد
اخلاقی لاس پورې کوي، بد اخلاقی او بې حیایي د هغوي د فطرت
برخه ده، هر ځای ته چې د هغوي پښې رسیږي هلته ورسره بې حیایي،
فحاشي او بد اخلاقی پیدا کیږي. هغوي په همدې شیانو سره خلک د
غیرت او خپل تاریخ څخه بې خبره ساتی او خواږه زهر ورکوي ترڅو
چې خپل ایمان او خپل وطن د هغوي په قدمونو کې کیږدي.

د مسجد اقصی لپاره زمونږ ورور سلطان نور الدین زنګی شل کاله
مخکې ښکلی ممبر جوړ کړی د هغه میرمن رضیع او دوسوو نجونو
مونږ ته حواله کړ مونږ باید هغه په خپل ځای باندې کیږدو دا یو امانت
دی چې مونږ ته راسپارل شویدی .

* * *

کله چې غونډه پای ته ورسیده نو سلطان صلاح الدین ایوبی الفارس
بیدرون راووغوښت او ورڅخه یې وپوښتل چې د سمندر څه حال دی؟
الفارس بیدرون ځواب ورکړ: هلته حالات هم زمونږ په ګټه دي. ټول
ازاد سمندر زمونږ په ولکه کې دی، د هغوي کښتی ټولې په صور کې
راجمع شویدی او هیڅ ډول فعالیت نلري خو تیارې او چمتو ولاړې
دی، هغوي یو ډول نلونه پیدا کړی چې تر لرې اندازې پورې آور
غورځوي او د دښمن کښتی سوځولی شي .

سلطان صلاح الدین ایوبی ورته وویل: ویره او ډارمه کوی، ستاسې
سره هم آور غورځونکی غشی شته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفارس بيدرون ورته وويل: په مونږ کې هيڅوک هم د ويرې احساس نلري، زمونږ کسان د دښمن کشتيو ته ورځي په هغې کې سوري کوي او په اوبو کې يې ډبوي، خيني په غشو ولي او خيني ورځخه ژوندي راولي، مونږ د خپل مرکز اسکندريه سره اړيکې لرو او تل زمونږ کښتۍ په اوبو کې يوې او بلې خواته ځارنه کوي.
سلطان صلاح الدين ايوبي ورته لارښونه وکړه چې خپلې کښتۍ لرې لرې ساتې. داسې نه چې د دښمن په محاصره کې راشي.د ورځې له مخې هيڅ يو مجاهد ته اجازه مه ورکوی چې غلچکې يرغل لپاره اوبو ته له کښتۍ کښته شي او هم بايد خپل ځان تل هوښيار وساتې. بله دا چې کيداى شي د دښمن جاسوسان تاسې ته د کب نيوونکو يا نورو خلکو په شکل راشي او ستاسې ځخه احوال او معلومات تر لاسه کړي.
کله چې الفارس بيدرون د سلطان صلاح الدين ايوبي ځخه رخصت شو نو د شپې اخرى وخت وو هغه د لمانځه لپاره ځنډ شو. هغه نژدې يو اواز واوريده.
الفارس بيدرون چې وکتل گوري چې حسن بن عبد الله دی هغه وويل: الفارس! مبارک دی شه په يو ځل دی دوه وادونه کړيدی او بيا دی دواړه پداسې جنگی حالت کې له خپل ځان سره راوستی، لکه چې هغوي هم له ځان سره مړې کوی.
الفارس بيدرون وويل: نه ! هغوي سره ما نکاح نده کړی، هغه بی آسرې او غريبی نجونی دی، کورونه يې تباه شوی او ما ورته پناه ورکړيده.
حسن بن عبد الله وويل: دا عجيبه خبره ده چې ټول کورونه تباه شوی او صليبيانو دا دوه پيغلی نجونی همداسی ژوندی پريښی او بيا تاته پلاس درغلی دي؟ تاسې کيداى شي د وچی د خلکو د عادتونو ځخه ناخبره شوی ياستی؟
الفارس بيدرون وخندل او بيا يې وويل : حسن وروره! تاسې پدی جاسوسی کولو کې اوس دی درجی ته ورسيدی چې مرغی هم درته جاسوسه ښکاری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن بن عبد الله وويل: داسې نده خو پدې زما شک دی چې څرنګه نور ټول تباه کیدل او دوی بیا ژوندي پاتې کیدلی او تر ساحل پورې در رسیدلی، تاسې هغوي ته توجه وکړه. داسې نه چې راز درڅخه واخلي او یا مو کښتۍ له منځه یوسي کیدای شي هغوي هماغه د صلیبي نجونو له ډلې څخه وي چې هرمن سره نیول شوي وې، هغوي هم په اطرافي جامو کې وي. ښه خبره دا ده چې هغوي د صور ساحل ته ورسوی او هلته یې خوشې کړې.

الفارس بیدرون وویل: که هغوي مسلماني نجوني وې او بیا یې زه صورته یو سم او هلته یې صلیبیانو ته خوشې کړم نو دا به څومره ظلم او زیاتی وي.

حسن ورته وویل: بیا داسې وکړه چې زه به څوک درولیږم، هغه به د دوی معلومات وکړي که خطري وې نو خپل مرکز ته یې راولي او که خطري نه وي بیا دې درسره وي.

حسن خپل یو خاص سړی د الفارس بیدرون څخه مخکې کښتۍ ته واستولو او روؤف کردي ته یې ولیکل چې دا زما خاص سړی دی او ده ته وظیفه وسپاره چې د نجونو څارنه وکړي، الفارس بیدرون درڅخه په هیڅ صورت خبر نه شي.

روؤف کردي چې نوی نوی د فلورۍ سره اشنا شوی وه، هغه پدې خبره خفه شو خو د حسن بن عبدالله خبره یې کله رد کولای شوه، نوی سړي ته یې ځای ورکړ خو فلورۍ ته یې وویل چې دا سړی ستاسې پسې راغلی دی احتیاط کوئ. د استخبارتو غړي د نجونو څارنه پیل کړه، هغه ته دا ثابته شوه چې دا نجوني اطرافي ندي بلکې صلیبیانې دي او د ورانکارۍ لپاره یې دلته ځان پټ کړیدی، بله دا چې هغه اینډریو هم څو ځلې ولیده چې دوی ته د سودا په نامه راتللو او بیا به یې پټې خبرې سره کولې.

هغه روؤف کردي ته وویل: دا دوه نجوني صلیبي ورانکارې دي او باید د تحقیقاتو لپاره مرکز ته ورسول شي، روف کردي چې د فلورۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینی او محبت په جال کې راګیر شوی وو دا خبره یې پټه نشوه کړای.
هغه روزي او فلوري خبرې کړي چې دا ستاسې ورل غواړې.
څرنګه چې نجوني روزل شوی وی نو هغوی د شپې په څه پلمه هغه څارونکی له ځان سره د کښتۍ خنډې ته بوتلو او هلته یې په خبرو خبرو کې رسۍ په غاړه کې ورته واچوله او بیا یې سمندر ته ورتیله کړ.
روف کردي په خبره خبر وو خو الفارس بیدرون د ده د راتګ او تګ څخه هیڅ خبر هم نشو، څکه هغه پخپلو کارونو کې دومره مصروف وو چې هیڅ وخت یې هم نشو پیدا کولای.

***

مخکې مو وویل چې په بیت المقدس کې صلیبي جنرالان د سلطان صلاح الدین ایوبي د راتللو په هیله پراته وه او هغوی عسکری تمرینونه هم سرته رسول، کله چې هغوی پوه شول چې اوس د سلطان صلاح الدین ایوبي د حملې او برید وخت رانژدې شوی نو خپل عمومي کانفرانس یې جوړ کړ چې په هغې کې ټول لوړ پوړي عسکري چارواکي شریک شول.
ستر جنرال او د پوځونو سر لښکر وویل: مونږ د سلطان صلاح الدین ایوبي لاره نه نیسو، سره د دې چې د هغه پوځ کم دی خو سامان ورسره بېه پریمانه دی، هغوی ته له هرې خوا څخه مرسته او کومک راتلای شي، پریږدئ چې بیت المقدس محاصره کړي، زمونږ سره د اوږدې مودې سامان شته، که خوراکي مواد کم شول نو د مسلمانانو څخه به کار اخلو، هغوی به وږي کړو نو مونږ ته به هر څه پاتې شي، زه ډېر امید نائتانو ته لرم چې هغوی به د باندې وځي او په مسلمانانو به حملې کوي، زه تاسې ټولو ته ډاډ در کوم چې دا محاصره به ناکامېږي.
بل جنرال وویل: ایا تاسې د خپل پوځ روحیه او مورال کتلی دی چې څه ډول دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کسان چې د حطين او نور ځايونو څخه راتښتيدلي هغوي په پوځ کې داسې ويره او هيبت راپيدا کړی چې د خلکو زړه يې ويستلې دی، په دوی باندې د سلطان صلاح الدين ايوبی د پوځ ويره او ډار غالب شويدی.

د پوځ سر لښکر ووېل: مونږ د دې لپاره ترتيبات نيولي دی، پادريان هر وخت د هغوي په منځ کې موجود وي او هغوي ته ديروشلم او مسلمانانو په هکله وعظونه کوي، هغوي پوځيان په جوش او احساساتو راولي تاسې پدې هکله هيڅ انديښنه مکوی ، مونږ ټول بايد دا جګړه ديني وګڼو او داسې جذبه په ځان کې پيدا کړو لکه څرنګه چې د سلطان صلاح الدين ايوبی په پوځ کې ده .

که مونږ له پخوا څخه همدا لاره نيولې وايی نو اوس به نه سلطان صلاح الدين ايوبی وايی او نه به د هغه لښکر خو مونږ خپل هر څه په نورو لارو چارو خراب او ضايع کړل، مونږ هغې ته هيله لرله چې څه به وکړی او خپله هسی ناست وو بايد لومړی مونږ همدی پوځی لاری ته توجه کړی وايی.

پدی غونډه کې ديروشلم بطريق اعظم هر کوليس هم موجود وو هغه ووېل: تاسې ولې دا خبره کوی چې زمونږ نوری لاری چاری ناکامی شويدی، ايا دا څو کاله چې تاسې هغوي پخپل منځ کې سره وجنګول دا د چا کمال او کار وو، د هغوي دومره زور او ځواک چې ختم شو دا د چا برکت وو، د هغوي تکړه چارواکی چا ووژل، که هغوي پدی لارو چارو نه وايی سمبال شوی اوس به لا وختی ټول فلسطين د هغوي په واک کې وو. هغوي څومره ځواک درلوده خو مونږ په همدی لارو چارو هغوي تر دی وخته پوری وځنډول او يروشلم مو ورڅخه خوندی ساتلی وو. تاسې اوس د خپل خطر ناک دښمن سلطان صلاح الدين ايوبی د ماتی په هکله غور او فکر وکړی ځکه هغه همدی لوری ته را روان دی.

په شلم سپتمبر ۱۱۸۷ ميلادی د يکشنبی په ورځ سلطان صلاح الدين ايوبی د خپل قهر مان لښکر سره بيت المقدس ته را ورسيده، هغه دومره تيز راغلی وو چې کله فصيل ته رانژدی شو نو يوازي څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان پیره کوونکی په دیوالونو باندی ولاړه وو چې وروسته هغوي خبر شول نو فصیل ته راپورته شول، د کلا دننه د کلیسا زنګونه وکړنګیدل او پرله پسی همداسې کړنګیدل ، صلیبی پوځیانو لیندی په لاسونو کې نیولی او په فصیل باندی ودریدل .

سلطان صلاح الدین ایوبی خپل پوځ او لښکر د کلا شا او خواته واچولو او خیمی ودریدل پیل شول هغه پخپل آس سپور شو او د دیوالونو د کتلو لپاره روان شو تر څو وګوري چې کومه برخه کمزوری ده. سلطان خپل پوځ د کلا لویدیځ لوری ته ځای پر ځای کړ ځکه هلته کمرونه او ډبری وی نور زیات پوځ هم همدی لویدیځ لوری ته واړول ځکه چې هلته دوه قوی برجونه وه چې یو د داوؤد برج او بل د ټنکر د برج په نامه سره یادیده .

د داوؤد د برج مخکی ته لوی او غټ منجنیق ودرول شو چې پدی وخت کې باب داوؤد خلاص شو او نائټان ورڅخه سپاره راووتل، هغوي د باد پشان راغلل او د منجنیق لګوونکی غازیان یې څه شهیدان او څه زخمیان کړل او په منډه بیرته کلا ته ننوتل، زخمیان سمدستی نجونو پورته کړل او د ونو لاندی یې ورته ځای جوړ کړی وه هلته یې تر تداوی او علاج لاندی ونیول. کله به چې زخمیانو خپلی مسلمانی خویندی ولیدی چې د دوی تداوی او علاج کوي نو د هغوي غیرت او احساسات به را وپاریدل او بیا به یې د جګړی کولو لپاره خپله اراده ښودله .

اسد الاسد چې د ددی وخت پیښنی لیکونکی دی د هغه پاڼو څخه چې تر اوسه نه دی چاپ شوی او لوی کتابخانی په ارشیف کې پرتی دی د هغوی په حواله لیکلی دی چې پوځی په جنګ کې زخمی کیږی او هغو رغتون ته وړل کیږی چې دا کار نارینه پوځیان کوی او په دی اړه هیڅ ډول ستنیا نه کوی خو د بیت المقدس په محاصره کې نجونو ټپیان پورته کول ، هغه یې ځایونه ته رسول کوم ځای کې به چې طبیبان وه او د هغوی سره به یې په مرهم او پټی کې هم مرسته کوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې به په میدان کې تړې پروت وو په هغوی به يې اوبه څښلی ددی دندی په ترڅ کی څو نجونو د شهادت جامونه وڅښل .

د منجنیق د نصبولو لپاره نور کسان ور وړاندی شول، د هغوي د ساتنی لپاره غشی ویشتونکو په برج باندی باران جوړ کړ تر دی چې هغه نصب شو او ډبری ویشتل پیل شول .

منجنیق لوی ډبری او آور غورځوونکی غونډاری ویشتل چې بیا دروازه خلاصه شوه او نایتهان ورځخه راووتل خو دا ځل مسلمانانو پری له دري لورو حمله وکړه او په لاره کې يې راګېر کړل، څرنګه چې نائتهان په اوسپنو کې غرق وه نو تورو او غشو پری کار نکولو، مسلمانو سپرو د هغوي آسونه په نښه کول او کله به چې آس رانسکور شو نو هغوي به نائټ راګیر کړ. په دی ترتیب سره هغوي دا ځل ډېر نائتهان مړه او زخمیان کړل، کوم چې روغ پاتی شول هغوي بیرته کلا ته ننوتل. د دی ځخه وروسته هر وخت همدا لوبه روانه وه چې هغوي راوتل او دوی ورسره د باندی مقابله کوله چې پدی کې د دواړو لورو زړورتیا او میړانه ښه معلومیده ، په نورو لورو کې هم منجنیقونه نصب شول هغوي هم کاڼی او آور غورځوونکی غونډاری ویشتل، دیوالونه او دروازی هم تر بمبار لاندی وی خو د دواړه لورو زور سره برابر او یو شانته وو. د کلا دننه چې کوم پخوانی کسان وه د هغوي مورال ښه وو خو کوم چې د نورو سیمو ځخه راتښتیدلی وه هغوي په زړه خوړلی وه چې دا ښار به هم نیول کیږي ځکه هغوي ته د اسلامی غازیانو جوش او جذبه معلومه وه او خپله يې په ډېره بی شرمانه توګه ماتی خوړلی وه. هغوي په خلکو کې داسې ویره او ډار اچولی وو چې د تولو زړونو يې ویستلی وه .

د کلیسا زنګونه پرله پسی کړنګیدل، هر لوری ته چیغی او ناری وی. د سلطان صلاح الدین ایوبی هغه جاسوسان او پلویان چې د عیسایی پناه اخیستوونکی په توګه راغلی وه هغوي تر ټولو ډیره واویلا کوله ، ترټولو زیاته زړه ماتوونکی خبره چې ټولو عیسایانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منله او هغې يې په زړه کې شک پيدا کړی وه هغه د صليب اعظم مسلمانانو ته پلاس ورتلل وه او د دی مطلب هغوي داسې اخيستلو چې د الله جل جلاله زوی حضرت عيسی مسيح د هغوي څخه خفه شويدی اوس به هغوي يوازې پريږدي نو ځکه د ټولو په زړونو کې يو ډول شک او ويره موجوده وه. همدا رنګه عيسايان خپلو هغو کړو وړو او ظلمونو هم ورخطاء کړی وه چې هغوي په فلسطين کې د مسلمانانو سره کړی وه، هغوي خو داسې يو کار هم نه وو کړی چې د انسانيت په چوکاټ کې دی راشي- د هغوي به چې کله په زړه کې وګرځيدل چې مونږ له مسلمانانو سره څه کړی نو بدن به يې په لړزه شو، ويښتان به يې ودريدل او ويره به ورسره پيدا شوه چې مونږ خو د ځناور څخه هم بدتر سلوک کړيدی اوس به د هغې بدله راڅخه اخيستل کيږي. هغوي خپل بد عمل ډارول.

پادريان په کوڅو او لارو کې ګرځيدل، هغوی انجيلونه په لاس کې اخيستی او خلکو ته يې وعظونه کول خو هيچا هم پرې باور نکولو بلکې ټول ويری او ډار اخيستی وه، هغوی فکر کاوه چې مونږ خو د مسلمانانو سره داسې څه کړی چې اوس د هغې تصور هم راته ګران دی.

په بيت المقدس کې چې کوم مسلمانان بنديان وه هغوی تلاوت او دعا ګانی کولی، په کورونو کې ښځو لاسونه پورته کړی وه او ځينو خلکو په خپلو بامونو باندی اذانونه هم کول او د تکبير ناری به يې وهلی خو صليبيانو هغوی نه منع کول ځکه چې هغوی پدی ويريدل چې مخکی مو څه کړی د هغې به راسره حساب کيږي او اوس خو معلومه نده چې مونږ به څو ورځی پاتی وو.

د کوڅو په منځ کې مسلمانو ځوانانو او هلکانو چيغی او ناری وهلی: امام مهدی راغلی ! زموږ خلاصوونکی راغلی! د ښار په ديوالونو به راځي! د ښار په دروازو به راځی!

د کلا دننه د حق او باطل، د کليسا د زنګونو او اذانونو تر منځ ټکر روان وو او د باندی د تورو، غشو، برچو او نيزو ټکر پيل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان صلاح الدین ایوبی دیوال نړونکی هر ځل د دیوال په لوري تلل خو له هغې لوری وربانده‌ی د باران پشان غشي ورول کيدل چې هغوی خپل کار نشو تر سره کولای، ناڅاپه همداسې راوتل او تر جګړې او مرګ ژوبلې وروسته بیرته کلا ته ننوتل .

د محاصری په ځلورمه شپه سلطان صلاح الدین ایوبی د جنګ په ټولو حالاتو غور وکړ، هغه ته د سامان کموالی کومه ستونزه نه ښکاریده خو پدې ځلورو ورځو کې هغوی ډېر تکړه او میړنی کسان له لاسه ورکړل ځکه چې ناڅاپه د صلیبیانو تر ټولو ډېر تکړه کسان وه او دا ځلور ورځې د هغوی سره مقابله روانه وه .

سلطان صلاح الدین ایوبی ته معلومات وشو چې پدی توګه جګړه کول به دوی ته درنه تمامه شي نو هغه فیصله وکړه چې خپل لوری بدل کړی ، د شمال په دیوال کې یو ځای کمزوری وو چې د ډبرو د بمبار په پای کې ړنګیدلای شو نو هغه د محاصری په پنځمه ورځ خپل پوځ او منجنیقونه د لویدیځ څخه لرې کړل او د شمال په لوري روان شول ، د کلا په دیوال چې کله صلیبیانو د مسلمانانو تلل ولیدل نو چیغې او نارې جوړې شوې او په ټوله کلا کې خوښي خپره شوه ځکه چې د هغوی یقین راغی چې مسلمانانو محاصره ختمه کړه او بیت المقدس نشي نیولای ، په کلا کې چې کوم صلیبیان وه هغوی بیا د مسلمانانو په زورولو پیل وکړ ځکه چې د هغوی اوبه له ستونی تیری شوی او فکر یې وکړ چې سلطان صلاح الدین ایوبی ماتې وخوړه او مسلمانان باید وزورول شي .

مسلمانان هم په کلا کې ډېر خفه شول چې څرنګه هغوی داسې زر محاصره پورته کړه او مونږ یې همداسې بې آسرې پرېښودو.

سلطان صلاح الدین ایوبی عادت درلوده چې اخري او پریکنده جګړه به یې د جمعې په مبارکه ورځ باندې کوله. هغه د لویدیځ له لوري شمال ته د پنجشنبه په ورځ ولاړ او هلته یې د شپې لوی منجنیقونه نصب کړل او خپل ټول پوځ یې د تیاری په حالت کې کړ چې سبا به عمومي حمله وی ، په ۲۵ ستمبر د جمعې په مبارکه ورځ سهار وختي صلیبیانو ولیدل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدین ایوبي لښکر د کلا په شمالي برخه د ژیړونو د غر له پاسه ولاړ او حملې ته تیار دی .

یو دم په دیوال ، دروازو او ښار باندي د کاڼو ، ډبرو او اور غورځوونکو غونډارو باران پیل شو چې د لورو ورځو څخه زیات او سخت وو. په کلا کې اوازه خپره شوه چې مسلمانانو ته لوی پوځ رارسیدلی او ښار به د یوې یا دوه ورځو میلمه وي .

پدې اوازه باندي په ښار کې ډېره ویره، دهشت او اندېښنه خپره شوه او تر پخوا دا خلک نور هم ورخطا، شول. مسلمانانو یو ځل بیا اذانونه پیل کړل . عیسایانو داسې چیغې او فریادونه پیل کړل چې پادریان یې هم ورخطا کړل، هغوی د انجیل کتابونه په لاسونو کې نیولي هرې خواته په ژړا ژړا ګرځیدل او دعا ګانې یې کولې .

یو دم شمالي دروازه خلاصه شوه او ناڅاپه په منډه راووتل خو دا ځل قومانده سلطان صلاح الدین ایوبي پخپل لاس کې واخیسته. سپرو له دری لورو څخه په هغوی یرغل وکړ او د پښو لاندي یې کړل یو نایټ هم منجنق ته ونه رسیده. د دې څخه وروسته هغوی دوه نورې حملې هم وکړې خو له دروازې څخه ډېر لرې ولاړ نشول .

په همدې وخت کې سلطان صلاح الدین ایوبي دیوال سوري کوونکي او ړنګوونکي کسان وګمارل چې د شمال په برخه کې دیوال سوری کړي. هغوی ته یې لوی لوی د لرګیو ډالونه پلاس کې ورکړل چې د سر څخه تر پښو پورې پکې شاته پټیدل همدا رنګه یې غښتې ویشتونکي وګمارل چې هغوی د دیوال پر سر ولاړ صلیبیان ښکته کړي ترڅو دیوال سوري کوونکي خپل ځای ته ورسیږي او کار پیل کړي .

د شمالي دروازې دواړه لورو ته برجونه او په منځ کې یې برنډه او د هلیز وو. دیوال ړنګوونکي هغې برجونو او برنډې ته ورسیدل او لاندي یې ورڅخه کار پیل کړ هغوی د دروازې او برجو لاندي دیرش ګزه اوږده او د برنډې په اندازه پلن تونل جوړ کړ چې د پاسه یې پرې لوی او غټ لرګي واچول. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تونل یې له لرګیو او ونو څخه ډک کړ بیا یې تیل پرې وپاشل او اور یې ورته ولګاوه .

د تونل وهونکي غازیان بیرته راغلل، په سوري کې اور ولګیده، هلته سلطان صلاح الدین ایوبي‌خپل غازیان د حملې لپاره تیار کړل. چې یو دم چاودنه وشوه، دواړه برجونه او برنډه ړنګه شوه . په همدې وخت کې د شمالي دیوال کمزوري برخه هم ونړیده او هلته هم لاره پیدا شوه .

د سلطان صلاح الدین ایوبي غازیانو یو دم د سور یو اوړنګ شویو خایونو څخه حمله وکړه او کلا ته یې د ننوتلو کوښښ پیل کړ، خو د کلا د داخل څخه دومره سپاره راغلل چې دوی یې بیرته راپښا کړل او په دواړو ړنګ شویو خایونو کې سخته جګړه پیل شوه .

د ښار صلیبیان پدې پوه شول چې اوس نو زموږ اخري وخت دی هغوی غونډه جوړه کړه .

یوځی افسرانو وویل چې باید مونږ ټول یو دم د کلا دروازې خلاصې کړو او یو ځلې برید وکړو، هسې خو هم ټول دلته وژل کیږو نو ولې د باندې جګړه ونکړو.

بطریق اعظم هر کولیس وویل : پدې سره به زموږ زیان ډیر زیات وشي او په کلا کې به ښځې او کوچنیان پاتې شي چې بیا به هغوی مسلمانان یوي او بلې خواته راکاږي ، بلاخره فیصله وشوه چې بالیان دې سلطان صلاح الدین ایوبي ته د روغې جوړې او سولې لپاره ورشي .

سخت جنګ روان وو چې په ړنګ شوي دیوال باندې سپین بیرغ او څو کسان راښکاره شول .

سلطان صلاح الدین ایوبي‌حکم وکړ چې غشي بند کړې چې د سولې پلاوی راشي .

د سولې استازي او پلاوي د سلطان صلاح الدین ایوبي‌خیمې ته ورسول شول او هلته لا هماغسې سخت جنګ روان وو. څرنګه چې ښار لا نه وو نیول شوی نو سلطان صلاح الدین ایوبي غوڅه خبره نشوه کولای خو دا یې ورته وویل: زه اوس صلحه نکوم، ما د بیت المقدس د نیولو پریکړه کړیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پرته د هغې د نیولو څخه په بله خبره نه راضي کیږم، اوس به په یوه دوه ورځو کې انشاء الله ښار زموږ وي.

بالیان پوه شو چې هغه خبره نه مني نو وي ویل: ښه ده مونږ به په ښار کې چې څومره مسلمانان اوسیږي هغه به مخکې له مخکې ووژنو بیا تاسې راشي چې زموږ سره هر څه کوي.

سلطان صلاح الدین ایوبی پدې خبره ډېر خفه شو چې دا څه وایي، هغه ته د بندیانو وژل کیدل سخت ښکاریدل نو په خبره کې ټکني شو چې پدې وخت کې یو سالار راغی او د هغه په غوږ کې یې خبره وکړه چې ښار ته زموږ ځواکونه ننوتي او په برجونو زموږ بیرغ رپول شوي.

هغه بالیان ته وویل: ولاړ شی بیت المقدس زموږ دی او مونږ د هغې واک په لاس کې لرو، تاسې ټول زمابندیان یاستی، ستا ټول پوځ او جنرالان زمابندیان دي، ځی ولاړ شی وګوره چې څه حال دی، مسلمانان اوس ستاسې بندیان ندي.

بالیان ورخطا د باندی ووت ګوری چې په برجونو اسلامی بیرغ رپیږي او د صلیب درک نشته، هغوی ډېر زیات ورخطا شول.

سلطان صلاح الدین ایوبی چې کله بیت المقدس ته د فاتح په توګه ننوت نو د کورونو څخه مسلمانان راووتل، ښځو د هغه په لاره کې خپل پړونی خپاره کړل خو ساتوونکو هغه بیرته راټول کړل او هغوی ته یې په سرونو واچول، مسلمانانو د ډېری خوشحالی څخه ژړل او چیغی ناري یې وهلې، ځینې په سجده پریوتل ډېر جذباتي او احساساتي حالت وو د ټولو د سترګو څخه اوښکي رواني وي.

سلطان صلاح الدین ایوبی هر کلي کوونکو ته لاسونه ښورول خو په خوله یې څه نه ویل ځکه چې د هغه ستوني له ژړا څخه بند وو.

عیسایان په کورونو کې ننوتي او پټ ناست وه، هغوی چې کوم ظلمونه او ناروا وي د مسلمانانو سره کړي وی هغه یې په سترګو کې ګرځیدی چې اوس به زمونږ سره هماغسې عمل کوي، هغوی ښځې او نجوني پټې کړي او ځینو ته یې د نرانو جامې واغوستي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان صلاح الدين ايوبي پوځ په ټول ښار کې خپور شو او د ټول ښار امنيت يې ونيوه، هغوی ته حکم شوی وو چې هيڅوک دې تر بل حکم پورې په هيڅ باندې لاس نه پورته کوي ، دا د دې لپاره چې څوک په چا باندې د انتقام په خاطر حمله ونکړي ..

سلطان صلاح الدين ايوبي تر ټولو لومړی مسجد اقصی ته ولاړ او هلته په دهليز کې په سجده پريوت او دومره يې وژړل چې دهليز يې په اوښکو لوند شو، کله چې د سجدې څخه راپورته شو نو وی ليدل چې مسجد ټول خراب او ناپاک شويدی ، ټول قيمتی شيان ورڅخه لوټ شوی ان تر دې چې د فرش څخه مرمر هم وړل شوی وه، هلته صليبيانو خپل آسونه تړل او د بدکاری لپاره يې استعمالول.

***.

سلطان صلاح الدين ايوبي تر ټولو د مخه د عيسايي بنديانو او ماتې خوړونکو په هکله فيصله کول غوښتل ترڅو د هغوی لپاره لاره خلاصه شي خکه تر دې وخته پورې هغوی ته اجازه نه وه چې د باندې وځي .

پرته د پوځيانو څخه د نورو ټولو په هکله پريکړه وشوه چې هغوی د فديې په مقابل کې خوشې شي. هر لوی نارينه بايد لس اشرفۍ، ښځې پنځه اشرفۍ او کوچنيان يوه يوه اشرفۍ ورکړي او ځان خلاص کړي - تر ټولو لومړی باليان د ځان سره لس زره کسان خلاص کړل او له بيت المقدس څخه ووت .

وروسته نورو خلکو پيل وکړ. د وتلو لپاره څلوېښت ورځې ټاکلې شوې وې. کله چې څلوېښت ورځې پوره شوې نو ملک العادل د پاتې کسانو څخه زر کسان غريبان غوره کړل او د سلطان صلاح الدين ايوبي په اجازه يې ازاد کړل وروسته بيا سلطان صلاح الدين ايوبي پاتې کسانو ته اجازه ورکړه چې پرته د فديه ورکولو څخه ولاړ شي .

د بيت المقدس څخه ټول بهرنی صليبيان وشړل شول يوازې د شام او بيت المقدس عيسايانو ته اجازه وه چې که غواړي پاتې دې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بطریق اعظم هر کولیس د ټولو کلیساګانو مالونه سره یو ځای کړل په یوازې ځان یې هر څه یوړل .

د عیسایانو د خوشې کیدو په دوران کې سلطان صلاح الدین ایوبی د مسجد اقصی د بیا رغونې کار هم پیل کړ، ټول قیمتي سامانونه یې ورته بیا برابر کړل ، د مرمر نوې ډبرې یې هلته ولګولې، او د ناوې پشان یې جوړ کړ، خپله سلطان صلاح الدین ایوبی د بیا رغونې په کار کې برخه اخیستله او خپله یې کار کاوه .

سلطان صلاح الدین ایوبی د نور الدین زنګي جوړ کړې ممبر په خپل ځای نصب کړ.

پدې وخت کې هغه ته د اسلامي نړۍ له هر ګوټ څخه پلاوي، استازي او وفدونه د مبارکۍ لپاره راتلل او هغه ټولو ته تحفې او ډالۍ ورکولې .

سلطان صلاح الدین ایوبی ارام و نه کړ بلکې ددې اراد یې وکړه چې د ټول شام او فلسطین څخه صلیبیان وباسي نو هغه د صور په لوري د خپل مشر زوی الملک الافضل سره وخوځیده ترڅو د صلیبیانو لوی مرکز صور هم له منځه یوسي .

څرنګه چې د صور ښار د سمندر په غاړه پروت وو نو د هغې د نیولو لپاره د وچې او بحر دواړه ځواکونه پکار وه، کله چې هغه د بیت المقدس څخه وتلو نو الفارس بیدرون ته یې خبر ورکړ چې خپل ځواکونه تیار کړي او شا او خوا ګزمې هم برابرې کړي چې مونږ په فلانی تاریخ باندې په صور برید کوو.

څرنګه چې بیت المقدس فتح شوی وو او مسلمانان ټول خوشحاله وه، الفارس بیدرون غوښتل چې سمندري ځواکونه هم جشن ولمانځي او په خوشحالۍ کې برخه واخلي، هغه خپلو قوماندانو او روف کردي ته خبر ورکړ چې د صور د جګړې څخه مخکې باید مونږ د خوښۍ یو محفل جوړ کړو او دا به انشاء الله سبا نه بل سبا د شپې له مخې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



روف کړدي چې د فلورې تر اثر لاندې راغلي وو هغه ته يې د جشن په هکله وويل ، روزي او فلورې دواړه ډېرې خوښې شوې چې مونږ هم ستاسې په خوشحالي کې برخه اخلو.

په همدې ورځ اینډر يو راغي، هغوی ورته وويل چې صبا نه بل سبا د شپې جشن دی او ټولې کنښتې يو ځای ته راټولېږي.

اینډر يو هغې دواړو ته وويل چې د خوښي په شپه به زما کنښتې دلته راشي تاسې دواړه پکې راسپرې شي او لدې خايه څخه ووځی .

د خوښي شپه وه ټول ښه خوشحاله وه، هر ډول خوراکونه تيار وو، ټولو پدې خوشحالي کې ترانې او نور شيان ويل خو ټول د خپل ځان څخه غافله وه چې د دوی په څنګ کې دوه ماراني اوسيږي .

د نيمې شپې په وخت کې چې جشن ښه ګرم وو يوه کوچنۍ کنښتۍ راغله او دواړه نجونې ورښکته شوې ، هغوی په خوښي کې دومره بوخت او غرق وه چې د هيچا پام هم نشو چې څوک راغلل او څوک ولاړل ټول د لږ څنګه څخه وروسته اور غورځوونکي غونډاري راغلل او په يو کنښتۍ ونښتل بيا په نورو هم راغلل، پنځه کنښتۍ وسوځيدې يوازې د الفارس بيدرون کنښتۍ پاتې شوه .

ډېر کسان پکې شهيدان شول.

الفارس بيدرون په اوبو کې يوه کوچنۍ کنښتۍ وليده چې د صور په لورې روانه وه، هغه سمدستي خپله کوچنۍ کنښتۍ اوبو ته ښکته کړه او د هغې کنښتۍ پسې ولاړل، ګوري چې دوه نارينه او دوه ښځې پکې ناستې دي، چې کله دوی پرې اواز وکړ چې ودريږي هغوی تم نه شول نو دوی پرې د غشو ګذارونه پيل کړل چې بلاخره په غشو کې ټول کسان مړه شول خو يوه ښځه ژوندۍ ونيول شوه، هغه روزي وه هغې د تحقيق په دوران کې اقرار وکړ چې دا ټول زمونږ د زيار په پايله کې وشول .

سلطان صلاح الدين ايوبي چې کله خبر شو نو هغه الفارس بيدرون راوغوښت ځکه هغه د صور محاصره د ده په داده کوله او د ده پنځه واړه کنښتۍ له منځه تللي وې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفارس بیدرون ورته خرگنده خبره وکړه چې مونږ جشن جوړ کړی وو او ټولی کښتی سره یو ځای وی ځکه داسې پیښه وشوه .

سلطان صلاح الدین ایوبی د سالارانو غونډه جوړه کړه او سلا مشوره پیل شوه ټولو په یو خوله وویل چې د ډېرو جګړو په سبب زموږ کسان ستړی شویدی داسی نه چې فتوحات زموږ په ناکامی سره بدل شي ښه خبره ده چې څه وخت لپاره آرام وکړو .

سلطان صلاح الدین ایوبی حکم وکړ چې هر پوځی دی د دری میاشتو لپاره خپلو کورونو ته لاړ شی .

خپله عکاته ته ولاړ او هلته د مارچ تر میاشتی ۱۱۸۸ کال پوری پاتی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې چې په مسجد اقصی کې توې شوې

د بیت المقدس نیول د ټولي عیساني نړۍ لپاره د زلزلي پشان وه څکه چې د دی ځای د نیولو لپاره هغوی څو لکه کسان قرباني ورکړی وه چې ځینو تاریخونو د هغې شمیر لس لکه ښودلی دی، د دومره زیاتو زیانونو تر ګاللو وروسته هغوی بیت المقدس ونیوه او د سل کلونو څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی ورڅخه ازاد کړ نو هغوی ته دا خبره د منلو او زغم وړ نه وه .

سلطان صلاح الدین ایوبی غوښتل چې د بیت المقدس څخه وروسته نور مهم ساحلی ښارونه هم ونیسی ترڅو پدی توګه د بیت المقدس کلکه دفاع وکړای شي .

صلیبیانو په هغو سیمو کې چې د دوی تر کنترول لاندی وي په مسلمانانو ظلم، زرر او زیاتی پیل کړ او خپل پخوانی عادت یې بیا راژوندی کړ، سلطان صلاح الدین ایوبی په خپلو ازاد شویو سیمو کې خپل پوځ خصوصاً کماندویان خپاره کړل چې هغوی په لوړو، ژورو، کندو، ځنګلونو او غرونو کې اوسیدل او د دښمن لپاره لکه د اسماني تندر په شان وه، هغوی په جسماني لحاظ سترې وه خو د خپل روحاني او باطني قوت په اساس جنګیدل. د هغوی هیڅ څارونکی نه وو خو بیا هم په هر ډول حالاتو کې هغوی هر ډول قربانیو ته تیار وه، هغوی نه کفن درلود نه قبر، نه یې جنازه کیدله او نه خواخوږي ، هر څه یې د الله تعالی سره وه او د هماغه په خاطر جنګیدل .

یو مشهور عیسایی تاریخ لیکوونکي د دی کماندویانو په هکله دا رنګه لیکي: دا بی دینان زموږ د نائټانو پشان د اوسپنی درندی جامی نه اغوندی خو سره د هغې هم زموږ نائټان یې پوزی ته راوستی دی، د هغوی آسونه په ټوله نړۍ کې تر ټولو تیز دی ، کله به چې د هغوی پسی څارنه او تعقیب ختم شو نو بیا به راوګرځیدل او حمله به یې کوله ، د دی کماندویانو مثال د هغه مچانو پشان وه چې سرې نه خوشې کوی، که هغوی شړې نو درڅخه لری کیږي خو چې لږ غلی شوی بیا درباندی حمله کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به چې د هغوی د لرې کولو کوښښ سست شو هغوی به بیا حمله کوله هغوی به د غرونو څخه د باران په شان په ډلو او ګروپونو راتلل زموږ ناتنان به یې ګام په ګام زوروول چې پدې سبب هغوی زموږ د پوځونو حرکت ډېر سستولو.

* * *

کله چې بیت المقدس فتح شو او سلطان صلاح الدین ایوبی په عکا کې واړول نو یوه غریبه ښځه او یوه ملکه ورته راغله نو هغه ورسره داسې رویه وکړه چې تاریخ هغه پخپله سینه کې ساتلې دی .

د حطین په جګړه کې د صلیبیانو څو پادشاهان او واکمنان ونیول شول خو یو پکې ژوندی وتښتیده چې بیا پخپل کور کې د هغه مړی پیدا شو هغه ریمنډ نومیده .

د حطین په جګړه کې د هغه میرمن سبیلا په طبریه کې وه . کله چې سلطان صلاح الدین ایوبی په طبریه حمله وکړه نو سبیلا ورته هغه کلا خوشې کړه او سلطان صلاح الدین ایوبی هغه له خان سره بندی نکړه او ازاده یې پرېښودله، وروسته د هغې خاوند ریمنډ وتښتیده او مړ شو.

دیروشلم پادشاه هم پدې جګړه کې ژوندی ونیول شو او په دمشق کې بندی وه - ملکه سبیلا د ګای د خلاصون لپاره عکا ته راغله ترڅو د صلاح الدین ایوبی څخه د هغه د خلاصون غوښتنه وکړي .

کله چې ملکه سبیلا صلاح الدین ایوبی ته راغله نو هغه یې هر کلی وکړ او هغه یې په ښه درناوی سره کینوله، هغه د خپل خاوند د مرګ څخه وروسته د تر یپولي ملکه او واکمنه وه، هغې سلطان صلاح الدین ایوبی ته وویل: دا په زرګونو عیسایان چې مره کیږي او بې کوره کیږي ایا د دې ذمه واري او مسئولیت ستا په غاړه ندی ؟

صلاح الدین ایوبی ځواب ورکړ: دا په لکونو مسلمانان چې د صلیبي جګړو په دوران کې وژل شوي ، بې کوره شوي ، ښځې یې بې پته شوي د دې مسئولیت د چا په غاړه دی ؟

ته د همدې شکایت رسولو لپاره دلته راغلې یې او که بل وراندیز هم لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبیلا وویل: نه! زه یو وړاندیز او غوښتنه لرم! هغه د ګایي خوشې کیدل دي، هغه ستا سره بندي دی، تاته دا نه ښایي چې د یو هیواد او مملکت پادشاه بندي کړې.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: هغه پادشاه نه بلکې غاصب دی، هغه د مسلمانانو په خاوره قبضه کړې، مونږ داسې خلکو ته پادشاه نشو ویلای، ټول صلیبیان چې دلته راغلي دا غاصبان دي، دوی په زرګونو مسلمانان او د دې سیمې خلک بې ګناه وژلي او د حطین په جګړه کې خو دوی په صلیب اعظم باندې قسم خوړلی وو چې مونږ سلطان صلاح الدین ایوبي وژنو او بیا به مکه او مدینه منوره هم نیسو او هلته به د صلیب حکمراني جوړه وو، اوس هغه صلیب چیرې دی په کوم چې دوی ټولو لاسونه ایښي وو او قسم یې خوړلی وه.

که تاسې ریښتني واکمنان وایي نو تا باید یوازې د ګایي نه بلکې د ټولو بندیانو د خلاصون وړاندیز کړی وایی ترڅو ټول خلاص شي.

ای سبیلا! زه ستا په خوله ټولو صلیبي غاصبانو ته پیغام ورکوم چې زمونږ د مقدسې خاورې څخه ووځي او دا سیمه خپلو خلکو ته خوشې کړي کنه بیا به د توری په زور ویستل کیږي، تاسې زمونږ د خاورې د نیولو په خاطر ډېر ظلمونه کړي، مونږ مو پخپلو کې سره اچولي یو، په شرابو ، ښځو او پیسو مو زمونږ خپل خلک اخیستي او له هغوی څخه مو ایمان پلورونکي او وطن پلورونکي جوړ کړیدي، د فدایانو په وسیله مو پر ما باندې څو ځلې حملې کړي خو ټولې ناکامې شویدي، ستاسې په لاس چې څه کیدل هغه مو ټول وکړل خو حقیقي او یوّ الله تعالی تاسې اوس دې مرحلې ته راوسولي چې ټول واکمنان مو بندیان دي ، دا ستاسې د ظلمونو ، زور او زیاتي پایله ده.

ملکه سبیلا وویل: محترما! زه د دې بحثونو لپاره نه یم راغلې! زه یوازې د ګایي د خلاصون لپاره راغلې یم، هغه باید خوشې شي ځکه چې هغه پادشاه دی او د پادشاه بندي کیدل د بل پادشاه سره ښه نه ښکاري.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: زه پدې شرط ګائي خوشې کوم چې دا لیکلی ضمانت راکړې چې زه به بیا د مسلمانانو په خلاف هیڅ وخت جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکوم، سره د دې چې زه د صلیبیانو په طبعیت پوهیږم چې هغوی د هیڅ ژمنې او تړون پابندي نکوي او څه یې چې خپله ګټه وي هماغه کوي خو بیا هم د هغه څخه ژمنه او تعهد اخیستل ضروري دي، ترڅو په راتلوونکي کې بیا هغه خپله ملامته او پړ وي.

بلاخره پریکړه په همدې سره وشوه . ګائي د دمشق څخه راوستل او په ژمن لیک باندې ورڅخه لاس لیک واخیستل شو، ګایي بیا سلطان صلاح الدین ایوبي ته سلام وکړ او ویې ویل : سلطان صلاح الدین ایوبي تاسې عظیم شخصیت یاستی !

خو څو میاشتې وروسته همدا ګایي د نورو عیسایانو سره د عکا پوځي کلا محاصره کړه او تر دوه کلنو پورې د سلطان صلاح الدین ایوبي سره وجنګیده او بیا د یروشلم د پادشاه په نامه په عکا کې اوسیده.

بله پیښه چې قاضي بهاو الدین شداد بیان کړې کوم چې په ټولو جګړو کې د سلطان صلاح الدین ایوبي سره مشاور او سلا کار وه هغه وایي: د عکا په صلیبي چاوڼۍ ټورون کې چې کوم عیسایان اوسیدل په هغوی به مسلمانانو حملې کولې او کله کله به یې ورڅخه ځلک هم ژوندي راتښتول.

یو ځلې یو چا د صلیبي چاوڼۍ څخه د یوې ښځې لور وتښتوله ، ښځې د هغې څخه وروسته ډېرې چیغې او نارې وهلې بیا پادشاه ګایي ته ورغله خو هغه ورسره مرسته ونه کړه بیا ورته یو قوماندان وویل: ځه سلطان صلاح الدین ایوبي ته ورشه هغه به یې درته پیدا کړي.

په ډېره خواریو یې ځان سلطان صلاح الدین ایوبي ته راورساوه، هغه چیرې روان وو او په خپل اس سپور وو چې ساتوونکي ورته وویل : یوه غریبه صلیبي میرمن راغلې او ژاړي وایي چې د سلطان صلاح الدین ایوبي سره مې ضروري کار دی.

سلطان صلاح الدین ایوبي وویل: سمدستي یې راولې، کله چې ښځه راغله نو د هغه د آس په پښو کې ولویده او خپل تندې یې په خاورو سولولو او ژړل یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان صلاح الدين ايوبي هغې ته وويل: ته خپله خبره وکړه چې څه مصيبت درته رسيدلی دی.

هغې ورته وويل : زما لور ورکه شويده کيدای شي ستاسی کسانو راوستی وي، هغه ماشومه ده او زما زړه ورپسی چاوديږی.

پدې خبره د سلطان صلاح الدين ايوبي په سترګو کې اوښکی راغلی، بيا يې حکم وکړ چې سمدستی دی د هغې لټون پيل شي، لږ څنډ وروسته د هغې درک پيدا شو او نجلۍ راوستل شوه، کله چې هغه يې مور وليده نو د خپلی سينی پوری يې ونيوله او ډېر يې ورته وژړل، سلطان صلاح الدين ايوبي هغې ته يو آس هم ورکړ او بيا يې مور او لور دواړه رخصت کړل.

***

کله چې بيت المقدس فتح شو او صليب اعظم د مسلمانانو لاس ته ورغی او په حطين کې د هغوی پنځه واکمنان بنديان او د هغې څخه مخکې بالډون بيا ورپسی ريمنډ پخپل مرګ باندی مړه شول نو دا ټول داسې پيښې وی چې يو په بل پسی په لږ وخت کې وشوی، د دی په خوا کې کله چې د بيت المقدس څخه ټول بهرنی صليبيان وشړل او هغوی خپلو خپلو سيمو هيوادونو ته ولاړل او هلته ورڅخه خلک خبر شول او تر ټولو لوی خبره دا وه چې په اسيا کې د پاپ اعظم نمائنده بطريق اعظم سره د خپل ټول مال او دولت روغ جوړ له بيت المقدس څخه ووتلو او صورته ولاړ.

په صور کې د هغه وخت حاکم کانرډ وو چې نژدی يولک پوځ او ښه بحری ځواک يې درلوده، بطريق اعظم په صور کې پاتی شو ترڅو د مسلمانانو په خلاف هغوی راوپاروي، هغه له ځانه داسې کيسی او ترانی جوړی کړی چې هيڅ عيسايي تاريخ د هغې تائيد او تصديق نکوي چې ګوندی د ده دا خبری ريښتيا وي خو هغه د مسلمانانو او د اسلام د بد نامولو کوښښ کاوه. هغه کانرډ ته وويل چې په اوسنی وخت کې پرته له تا څخه بل څوک د صليب ساتوونکی نشته او همدا ته د صليب اعظم ساتونکې يې.

کانرډ ډېر ځان غوښتوونکی سړی وو هغه دا چانس د ځان لپاره غنيمت وګڼه غوښتل يې ټول تيت پرک صليبيان په ځان راټول او بيا د مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلاف ګام واخلی نو په ټوله اروپا کې به یې نوم پیدا شي چې کانرډ یو قهرمان صلیبي پادشاه دی.

د بطریق اعظم لور جولیا نومیده چې په ټوله عیسایي نړۍ کې د هغې د ښایست او ښکلا انګازه خپره شوی وه، د خپل پلار سره یو ځای صورته ولاړه، هلته د کانرډ سترګی پری ولګیدی نو هغه د دی کوښښ پیل کړ چې بطریق اعظم او جولیا د لاسه کړی، بطریق خو د اسلام د دښمنی لپاره له خپلی لور او هر څه څخه تیر وو خو جولیا د پلار پشان نه وه، هغی ځان خرخول نه غوښتل نو د کانرډ غوښتنه یې رد کړه چې پدی سره د کانرډ او جولیا تر منځ شخړه پیښه شوه او کانرډ جولیا ته د بی عزتی په خاطر لا س ورواچاوه خو جولیا ورڅخه خلاصه شوه، هغې خپل پلار ته د کانرډ د لاس اچولو کیسه وکړه نو پلار او لور دواړه د صور څخه پټ ووتل او ایټالیا ته ولاړل هلته یې پاپ ته د هغی پیښی نه چې راغلی وو ونه وویل بلکی د مسلمانانو په باب یې پاپ ته ډیر بدرد وویل او هغه یې دی ته وهڅولو چې د اسلامی نړۍ په خلاف اروپایی ځواکونه وخوځوی او یو ځل بیا بیت المقدس ونیسی.

پاپ د بطریق سره موافقه وکړه او هغه ته یې وظیفه ورکړه چې د اروپا په ټولو مشرانو، سردارانو او پادشاهانو وګرځی او هغوی دی ته وهڅوي چې خپل پوځونه د مسلمانانو په خلاف استعمال کړی.

بطریق د پاپ څخه لیکونه واخیستل او جرمنی ته ولاړد جرمنی امپراطور فریدریک یې پدی قانع کړ چې د مسلمانانو په خلاف ګام پورته کړي، بیا فرانسی ته ولاړ هلته یې د فرانسی پادشاه فلپ اګستس قانع کړ چې خپله قوه د مسلمانانو د مقابلی لپاره میدان ته راوباسی او وروسته بطریق برتانیا ته ولاړ او د هغه ځای پادشاه رچرد چې په شیردل باندی مشهور وو وهڅولو چې د مسلمانانو په مقابل کې جګړی ته راوړاندی شي.

بطریق پدی کامیاب شو چې د اروپا دری ستر ځواکونه جرمنی، فرانسه او برتانیا جګړی ته چمتو کړی، تر ټولو لومړی د جرمنی ځواکونو د فریدریک باربو سا په مشری حرکت وکړ چې نژدی یو لک کسان ورسره وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کې د غازیانو لخوا پرې سختې حملې وشوې او کله چې عربي خاوري ته ننوتلو په لاره کې مړ شو چې د هغه پر ځای یې زوی ډیوک مشر شو، د هغه سره چې څه کسان وه هغه په لارو کې د غازیانو لخوا څخه سخت وټکول شول چې بلاخره د جرمنی د ټول لښکر څخه پنځه زره کسان عکا ته ژوندي ورسیدل نور ټول په لاره کې تباه او برباد شول، کله چې د جرمني امپراطور فریدریک د اسیا په لوری راخوځیدلو نو مخکې یې یو لیک سلطان صلاح الدین ایوبی‌ته راواستاوه چې زما د رسیدو څخه مخکې مخکې بیت المقدس او فلسطین خوشی کړه کنه ....

سلطان صلاح الدین ایوبی په ځواب کې ورته ولیکل: د اسیا خاوره ډېره پراخه ده او ستاسې لپاره لویه هدیره پکې جوړیدای شي مونږ هر وخت ستاسې هر کلی ته چمتو یو.

فریدریک چې څومره کبر کړی وو په هماغه اندازه تباه او برباد شو او بیت المقدس یې په سترګو هم و نه لیده.

وروسته د فرانسي پادشاه فلپ آګستس د خپلو ځواکونو سره راوخوځیده چې شمیر یې نژدې شپیته زره ته رسیده، هغه د اوبو له لارې د فلسطین په لوري راوخوځیده او عکا ته راغی .

د هغه تر شا د برتانیا پادشاه رچرد شیردل را روان شو چې د هغه سره هم د فرانسي په اندازه ځواک موجود وو خو په ټوله اروپا کې یوازې رچرډ [illegible] جګړه کې ډېر نوم درلوده .

رچرد په لاره کې د قبرص په ټاپو کې پاتې شو ځکه چې د هغه خور جین هلته واده وه چې یو کال مخکې کونډه شوې وه.

رچرد په قبرص حمله وکړه او هغه یې تر خپل کنټرول لاندې راوست د پادشاه لور ګل سوسن یې هم د ځان سره راوتښتوله او بیا د فلسطین په لوري راوخوځیده، ځینې تاریخونه لیکي چې په لاره کې پرې طوفان راغی او ځینې کښتۍ یې ډوبې شوې .

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې کایی دیروشلم پادشاه سلطان صلاح الدین ایوبی پدی شرط خوشی کړ چې د مسلمانانو په خلاف به جګړه نه کوي نو هغه ترپیولې ته ولاړ، هلته پادریانو مجبور کړ چې د قسم کفاره ورکړی او یو ځل بیا جګړی ته راوړاندی شي ځکه هغوی ورته ویل چې د مسلمانانو په خلاف جګړه کول زموږ وظیفه او دا قسم او ژمنه کول د مسلمانانو سره هیڅ معنا نلری .

کایی هم د هغوی خبره ومنله او بیا میدان ته را وړاندی شو، د اروپا څخه پرله پسی صلیبیان راتلل او څه چې هلته په ښارونو کې موجود وه ځینی د کانړو او ځینی د کایی په شا او خوا راټولیدل. بلاخره کایی د خپلو پوځونو سره د عکا ساحلی ښار ته راغی او هلته یې واړول .

وروسته وریسی د صور مشر کانرډ هم راغی او دواړو په ګډه د عکا کلا محاصره کړه چې وروسته یې شمیر ورځ په ورځ زیاتیده .

سختی جګړی روانی وی ، د عکا په کلا کې لس زره مسلمانان پراته وه چې د دی ټولو صلیبي لښکرو مقابله یې کوله ، سلطان صلاح الدین ایوبی هم خپل پوځونه د عکا څخه لری په غرونو کې ځای پر ځای کړل او هلته یې قرار ګاه او مرکز ونیوه چې د جګړی لپاره به لاندی میدان ته راښکته کیدل هغوی د شا لخوا څخه صلیبیان محاصره کړل، چې کله به صلیبیانو د عکا په کلا برید وکړ نو د شا لخوا به پری د سلطان صلاح الدین ایوبی لښکرو حمله او برید کاوه .

وروسته فلپ د فرانسی امپراطور هم راغی هغه جګړه توده کړه او عمومی قومانده یې پلاس کې واخیستله خو هر څومره زور یې چې وواهه کلا یې ونشوه نیولای ، د کلا غازیانو داسې مقاومت وکړ چې د نړۍ ټول تاریخونه د هغې ستاینه کوي .

د عکا د کلا محاصره په ۱۳ اګست ۱۱۸۹میلادی کې پیل شوی وه او رچرډ عکا ته په جون ۱۱۹۱میلادی کې راورسیده. یعنی نژدی دوه کاله د محاصری پوره شوی وه. هر وخت به د عکا په شا او خوا کې د پوځونو شمیر نژدی دری لکو ته رسیده چې د اروپا د مختلفو هیوادونو څخه راغلی وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عکا کې د فرانسي او برتانيا تر منځ په قوماندې باندې اختلاف موجود وو، فلپ غوښتل عکا او بيت المقدس د ده تر قوماندې لاندې ونيول شي او په ټوله نړۍ کې يې نوم ووځي خو رچرډ چې د شيردل لقب يې ګټلی وه هغه غوښتل چې دا نوم د ده او قوماندې بايد دده په لاس کې وي .

کله چې رچرډ راورسيده نو فلپ په کلا باندې خپلې حملې تيزې کړې ځکه چې تر اوسه پورې د ټولو لښکرو ستر سالار همغه وه، صليبيانو هم د کلا د غازيانو لخوا او هم د سلطان صلاح الدين ايوبي د لښکرو لخوا ډېر زيانونه او تلفات وليدل خو کلا يې ونشوه نيولای چې بلاخره رچرډ قوماندې په غاړه واخيستله پدې وخت کې د کلا په غازيانو کې پنځه زره کسان ژوندي پاتې وه او نور شهيدان شوی وه.

په کلا کې خوراکي مواد او وسله هم ختمه وه او ديوالونه د دوه کاله بمباري په مقابل کې کمزوري کرځيدلی وه، کله چې رچرډ قوماندې په لاس کې واخيسته هغه فکر کاوه چې دا د يوې ورځې مسئله ده او زر بايد ختمه شي خو د کلا غازيانو سره د ټولو مشکلاتو داسې مقاوت وکړ چې د رچرډ ريکارډ يې هم مات کړ، ځرنګه چې محاصره ډېر اوږده او په کلا کې نور هر څه ختم شول نو د کلا خلکو د رچرډ څخه په پټه د فلپ سره اړيکې ونيولې ځکه چې هلته د دوی تر منځ اختلاف وو نو فلپ د هغوی سره په لاندې شرايطو تړون وکړ چې وروسته کلا هغوی ته تسليم شوه .

شرايط دا وه : څلور لکه ديناره تاوان به سلطان ورکوي، صليب اعظم به سپاري او ټول صليبي بنديان به خوشې کوي .

کله چې کلا د تړون په نتيجه کې تسليم شوه او مسلمانان ورڅخه راووتل نو رچرډ دا تسليم شوی مسلمانان پرته د څو کسانو څخه ټول په رانه ميدان کې په لرګيو او ونو پسې وتړل او بيا يې ټول په شهادت ورسول ، ټولو عيسايي تاريخونو د رچرډ پدې زياتې او ظلم باندې لعنت ويلی او هغه يې د انسانيت خلاف جنګي جرم ګڼلی خو رچرډ د پوځيانو انتقام د مظلومو بنديانو څخه واخيست او ۲۷۰۰ مسلمانان يې شهيدان کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی وخت کې د بیت المقدس یا یروشلم د پادشاه د ټاکلو خبره پیدا شوه چې کله هغه ونیول شي نو څوک به پادشاه وي ځکه چې هغه ځای پادشاه نه درلوده سره د دې چې ګایي پخوا وو خو هغه چې بندي شو نو دا څوکۍ خالي شوه.

فلپ غوښتل کانرډ پادشاه شي ځکه چې د هغه قوت زیات او د جګړې سرې هم وو خو رچرډ ویل چې د یروشلم پادشاه شته دی او ګایي ژوندی دی همدا پادشاه دی .

بلاخره پدې باندې اختلاف زیات شو. څرنګه چې د رچرډ پله درنه وه نو هغه خپله خبره په نورو ومنله، پدې سره فلپ او کانرډ خفه شول او هغوی د عکا څخه روان شول.

فلپ فرانسی ته ولاړ او کانرډ صورته خولې لږ پوځونه یې رچرډ ته پرېښودل .

رچرډ د عکا تر نیولو وروسته یافا ( جافا ) ونیوله او بیا د عسقلان په لوری وخوځیده خو په لاره کې د دارسوف په میدان کې ورسره سلطان صلاح الدین ایوبی لښکرو داسې جګړه وکړه چې د هغوی دماغ یې ځای ته راوست .

سلطان صلاح الدین ایوبی د عسقلان ښار وران کړ ترڅو رچرډ ته څه پلاس ورنشي. رچرډ چې کله هلته ولاړ نو کنډوالې پلاس ورغلی، هغه بیرته عکا او جافا ته راغی او د هغه ځای څخه یې د بیت المقدس نیولو ته ملا وتړله .

هغه خپل لښکر د بیت المقدس په لوری راوخوځاوه چې کله بیت المانو ته راورسیدل بارانونه ډېر زیات پیل شول نو سلطان صلاح الدین ایوبی هلته د اوبو ټولې ذخیرې خرابې او زهر جنې کړې ، د رچرډ په لښکر کې هم اختلاف پیدا شو .

سلطان صلاح الدین ایوبی یوه شپه مسجد اقصی ته پټ ولاړ او هلته د نور الدین زنګی د محراب سره په عبادت بوخت شو تر سهار پورې یې عبادت او دعا زاري وکړې او د خپل لوی رب څخه یې د مرستی او کومک غوښتنه وکړه او ډېر زیات یې وژړل، چې همدا دعا الله تعالی ته منظوره شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ورځ سلطان صلاح الدین ایوبی ته خبر ورغی چې د رچرډ لښکر بیرته د عکا په لوری روان دي او حرکت کوي نو د سلطان صلاح الدین ایوبی کماندویان ورپسې شول او تر عکا پورې یې حملې پرې کولې.
دوه ورځې وروسته سلطان صلاح الدین ایوبی په عکا حمله وکړه او د څو ساعتونو په موده کې یې د عکا ښار او کلا ونیوله خو د رچرډ لښکر ډېر زیات وه هغه بیرته عکا ونیوله.
سلطان صلاح الدین ایوبی بیا د بلې لارې څخه جافا ته ولاړ او هغه یې ورڅخه ونیوله .
رچرډ پدې پوه شو چې دلته جګړه کول ګران دي نو د سولې خبرې پیل شوې، پدې وخت کې رچرډ ته احوال راغی چې ورور دې جان په خزانه قبضه کړې او غواړي تا بالکل د پادشاهۍ څخه محروم کړي .
رچرډ په دوه جالو کې پریوت یو لوری ته بیت المقدس او بل لوري ته د برتانیا تخت وه ، هغه سمدستي د سلطان صلاح الدین ایوبی سره روغه وکړه. چې څومره ښارونه مونږ نیولي هغه زموږ او چې څومره ستاسې سره دي هغه ستاسې، دا تړون به لس کاله وی او بیت المقدس ته به عیسایان د زیارت لپاره بې د سلې راتلای شي .
د دې څخه وروسته رچرډ پرته لدې چې بیت المقدس ته د زیارت لپار[ه] ولاړ شي د برتانیا په لوری وخوځیده هلته په رسیدو بندي شو او بیا په بند[ي] کې وروسته ووژل شو.
د رچرډ او سلطان صلاح الدین ایوبی تر منځ تړون په دریم سپتمبر ۱۱۹۲ میلادي کې سرته ورسیده.
کله چې تړون وشو نو رچرډ وویل : د تړون د وخت تر ختمیدو وروسته به زه بیا راځم او بیت المقدس به ازادوم خو تر کال ۱۹۶۷ پورې بیا بیت المقدس هماغسې ازاد پاتې شو تر دې چې غاصبو یهودیانو د مسلمانانو بې اتفاقي په پای کې ونیوه او تر اوسه یې پلاس کې دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شمع مړه شوه

د دریم صلیبی جنګ په دوران کې سلطان صلاح الدین ایوبی څو ځلې سخت ناروغ شو خو الله تعالی به بیا روغتیا او صحت ورکړ، چې کله د رچړډ سره روغه او سوله وشوه نو سلطان صلاح الدین ایوبی په ټول پوځ کې اعلان وکړ چې هر څوک اوس غواړي د بیت الله شریف زیارت او حج وکړي هغوی دې خپل نومونه ثبت کړي ترڅو هغوی ټول په حکومتی مصرف واستول شی.

سلطان صلاح الدین ایوبی خپله غوښتل چې حج ته ولاړ شي خو د هغه سره دومره مال نه وو چې پرې ولاړ شي، حکومتي چارواکو هغه ته وړاندیز وکړ چې تاسې هم د نورو مسلمانانو په شان د حکومت په مصرف باندې ولاړ شئ خو هغه قبوله نکړه چې بیت المال زما شخصي مال ندی زه د دې حقدار نه یم.

تاریخ لیکی چې کله سلطان صلاح الدین ایوبی وفات کیده نو د هغې شخصي مال ۴۷ درهمه سپین زر او یوه ټوټه د سرو زرو او کور یې هم نه درلوده.

سلطان صلاح الدین ایوبی د بیت المقدس فاتح په څلورم نومبر ۱۱۹۲ میلادي کال د بیت المقدس څخه دمشق ته ورسیده.

قاضی بهاو الدین شداد خپله کیسه دا ډول بیانوی: د سلطان صلاح الدین ایوبی‌کوچنیان او میرمن په دمشق کې وه چې کله هغه راغی نو ټوله کورنی ورته ډېر خوشحاله شوه، د دمشق خلک د خپل فاتح سلطان صلاح الدین ایوبی هر کلی ته په ډلو ډلو راتلل.

سلطان صلاح الدین ایوبی چې کله د خلکو شوق ولیده نو په پنځم نومبر د پنجشنبی په ورځ یې عام دربار جوړ کړ چې هم ورسره ټول خلک لیدل او ملاقات وکړي او هم خپل شکایتونه هغه ته وړاندې کړي.

پدې ورځ د ملت ټول خلک، نارینه، ښځې، لویان، کوچنیان، غریب، شتمن او چارواکي ټول راغلل او د سلطان صلاح الدین ایوبی سره یې لیدنه او کتنه وشوه - شاعرانو د سلطان صلاح الدین ایوبی په شان کې شعرونه او نظمونه وړاندې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې سلطان صلاح الدین ایوبی د ځوانۍ څخه نیولی تر دی وخته پورې نه د ورځې آرام او قلاری لیدلی وه او نه د شپې، زیات وخت په شپو شپو هغه ویښ او بیدار وه. د هغه وجود او بدن هم ډېر کمزوری شوی او دماغ یې هم نور ستړی وو. هغه غوښتل څه وخت په دمشق کې تیر کړی او بیا مصر ته ولاړ شي خو په دمشق کې داسې مصروفیات ورته پیدا شول چې د هغې څخه وزګار نشو، هغه د خپلې ستړتیا د لرې کولو لپاره په دمشق کې د هوسیو ښکار پیل کړ ترڅو یې پام غلط شي او ذهنی ستړتیا یې ختمه شی.

قاضی بهاو الدین وایی: زه هغه وخت په بیت المقدس کې وزیر وم چې د سلطان صلاح الدین ایوبی‌لیک راغی او دمشق ته یې راوغوښتم، پدې وخت کې سخت بارانونه پیل شول چې لارې یې ټولې خرابی کړې زه نو لس ورځې وروسته د بیت المقدس څخه روان شوم او اتلس ورځې وروسته دمشق ته ورسیدم کله چې د ملاقات خونې ته ولاړم هلته ډېر چارواکی ناست وه او د لیدلو انتظار یې کاوه.

دروازه وان سلطان صلاح الدین ایوبی ته خبر ورکړ چې قاضی بهاو الدین راغلی نو هغه سمدستی زه وغوښتم، کله یې چې زه ولیدم نو غیږه یې خلاصه کړه او تود هر کلی یې راته ووایه ما د هغه په وجود کې پوره اطمینان او ډاډ ولیده خو په سترګو کې یې اوښکی وي. راتلوونکی ورځ یې بیا زه وغوښتم او زه د هغه خاصی کوټې ته ورغلم، هغه له ما څخه وپوښتل د انتظار په کوټه کې څوک ناست دی، ما وویل ستاسې زوی ملک الافضل او نور چارواکی.... هغه جمال الدین خپل سکرتر ته وویل چې هغوی ته زمالخوا عذر وکړه چې زه نن د چا سره نشم لیدلای بیا یې زماسره ډېرې خبرې وکړې او زه هم ورڅخه رخصت شوم.

بله ورځ یې بیا راوغوښتم خو هغه په باغچه کې ناست وه، زماڅخه یې وپوښتل چې حاجیان کله راځی ما ورته وویل: لاره ډېره خرابه او چکړی دي الله تعالی ښه پوهیږی، هغه یو چارواکی راوغوښت چې د حاجیانو لاره پاکه او وچه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو فرنگی استازی راغی هغه یې هم خپلی باغچې ته راوغوښت .
په سبا ورځ حاجیان را ورسیدل نو سلطان صلاح الدین ایوبی په خپل آسپ سپور شو زه هم ورپسی په خپل آسپ سپور شوم او د حاجیانو هر کلی ته ورغلو ، په لاره کې د سلطان صلاح الدین ایوبی زوی ملک الافضل هم راغی او راسره ملگری شو، کله چې عام خلک خبر شول چې سلطان صلاح الدین ایوبی د باندی راوتلی دی نو یو دم خلکو کارونه پریښودل او لاری ته راووتل دومره زیات خلک راغلی وه چې سلطان صلاح الدین ایوبی یې په منځ کې راگیر کړ هر یو غوښتل چې هغه له نژدی څخه وگوري او یا لاس ور کړي .
ملک الافضل ماته وویل: سلطان صلاح الدین ایوبی خو نه خپل جنگی لباس اغوستی او نه ورسره ساتوونکی شته داسې نه چې څه پیښه وشي.
زه سلطان صلاح الدین ایوبی ته ورنږدی شوم چې ستاسې مخصوص لباس خو نشته نو بیا وړاندی تلل پکار ندی .
سلطان صلاح الدین ایوبی په مسکا راته وویل : بهاو الدینه ! ایا جلیل القدر صحابی حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه په بدن د پرهارنو څه حساب وو بیا هم هغه به بستر مړ شو .
ای بهاو الدینه ! د گور شپه نه په کور کیږی او کومی جامی چې ما وړاندی د جگړو په سنگرونو کې اغوستلی یوازی او یوازی د پوځی نظم او دسپلین په خاطر وی .
د جمعی په ماښام سلطان صلاح الدین ایوبی تبی ونیوه او سبا یې تبه نوره هم زیاته شوه دا ۲۱ فروری ۱۱۹۳ میلادی کال وه .
د دی څخه وروسته پرله پسی د سلطان صلاح الدین ایوبی حالت خرابیدلو، د هغه طبیب هم چیری تللی وو او څلورو نورو طبیبانو د هغه علاج کولو خو ورځ په ورځ یې روغتیا یې حالت خرابیده تر دی چې د خوراک او څښاک څخه هم ولویده .
کله چې عام خلک د سلطان صلاح الدین ایوبی د ناروغی څخه خبر شول نو ډېر زیات اندیښمن شول او هر لوری ته دعا گانی پیل شوی ؛ ټول خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ورخطاء وه ځکه چې سلطان صلاح الدین ایوبی د ټولې صلیبی نړۍ سره د جګړې میدان ته راوتلی وو .

کله چې د سلطان صلاح الدین ایوبی حالت خراب شو نو چارواکی په رضوان محل کې راغونډ شول تر څو د نوی مشر په باب مشوره وکړی ټولو د سلطان صلاح الدین ایوبی زوی الملک الافضل په مشری باندی اتفاق راغی نو ژمن پانه یې برابره کړه چې د هغه الفاظ دا وه : ددی شیبی څخه " لا اله اله الله محمد رسول " د کلمی د سرلوړی په خاطر د الملک النصر صلاح الدین ایوبی به وفادار یو تر کومه چې هغه ژوندی وی د خپل ځان او مال څخه به تیریږو او دده هر حکم چې د الله تعالی د کتاب قران کریم او د هغه د پیغمبرخاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو سره مطابق وی په سر سترګو یې منو او له هغه وروسته د هغه د زوی الافضل او که د پورتنی ژمنیڅخه می سرغړونه وکړه نو الله تعالی په دی ګواه نیسم چې په ما باندی دی ښځی طلاقی وی او ټولو مسلمانانو ته ددی اختیار دی چې ما د شخصی او سرکاری نوکرانو څخه محروم کړی او ما باندی به لازم وی چې پښې لوڅې پیاده حج ته لاړ شم .

تر ټولو لومړی د دمشق والی سعدالدین بیا نصرالدین د سهیون والی لاسلیک وکړو بیا وروسته نورو چار واکو .

۳ مارچ ۱۱۹۳میلادی کال (د ۵۸۹ هجری قمری کال د صفر میاشتی ۲۶ د سلطان صلاح الدین ایوبی د ناروغی یولسمه ورځ وه .

پدی ورځ الملک الافضل ، قاضی الفضل او ابوالمعالی محمدمحی الدی[ن] چې د ابن ذکی په نامه شهرت لری او د قانون او سائنس د مشهور پوهانو څخه دی ، کله چې یروشلم فتح شو نو د مسجد اقصی د لومړی جمعی د خطبی لپاره یې هغه غوره د کېږ خوا ته ناست وو مابنام الملک الافضل وویل : که مونږ دریواړه دلته ناست وو او خلک د هغه د پوښتنی له لپاره بیرون انتظار کوی نو هغوی به بل څه فکر وکړی نو ښه به دا وی چې امام ابو جعفر راوغوښتل شی او مونږ به څو راځو امام ابو جعفر راغی او د هغه سرته کیناست او د قران کریم تلاوت یې پیل کړ کله چې ما د سورت حج

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ایتونه : يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنْبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ() ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَى وَأَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ()وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ

[ ای خلکو ! که دمرګ نه وروسته د ژوندانه په باب ستاسې څه شک وي نو تاسې ته دي څرګنده وي چې مونږ تاسې له خاورې نه پیداکړي ئي ، بیا له نطفې نه ، بیا دوینې له ټوټې نه ، بیا دغوښې له بوټی نه چې شکل لرونکې هم وي اوبې شکله هم، (دامونږ ددې له پاره ښیو ) ترڅو چې تاسې ته حقیقت څرګند کړو ، مونږ چې کومه (نطفه ) وغواړو تریوې ټاکلې مودې پورې یې په رحمونو کې تم ساتو، بیاتاسې دیوماشوم په بڼه راباسو ( بیا ستاسې روزنه پالنه کوو ) ترڅو چې تاسې خپلې بشپړې ځوانی ته ورسیږئ - اوله تاسې نه څوک دمخه بیرته غوښتل کیږې اوڅوک دډیر ناکاره عمر خواته ګرځول کیږي ترڅو چې په هرڅه باندې له پوهیدو وروسته بیا په هیڅ ونه پوهیږي ، اوته وینې چې زمکه وچه کلکه پرته ده ،بیا چې په کوم ځای کې مونږ پرهغې باران وروو په ناڅاپي ډول وخوځیده ډډه شوه او هر راز ښایسته ښیرازه نباتات یې راښنه کول ، دا هرڅه له دې امله دي چې همدغه الله حق دی اوهغه مړي ژوندي کوي او هغه په هرڅه قادر دی ، اود ( ددې خبرې دلیل دی ) چې دقیامت ساعت راتلونکی دی ، په هغه کې دڅه شک ګنجایش نشته ، اوالله جل جلاله به ارو مرو هغه خلک راپاڅوي چې په قبرنوکې دي ] .

نو سلطان صلاح الدین ایوبی ډیر ورو ورو ویل : دا رښیتا دی دا رښتیا دی نو د سهار اذان پیل شو ما د قران کریم تلاوت بند کړ د اذان د ختمیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سم یې خپل روح حقیقي خالق ته تسلیم کړ او د فانی نړۍ څخه یې سترګی پټی کړی .

د خلفای راشدینو د مړینې څخه وروسته په اسلامی امت کي دا پیښه تر ټولو درنه وه، ځکه چې مسلمانانو ته چې سلطان صلاح الدین ایوبی څومره عزت او وقار وورښنلو هغه د قدر وړ وو.

په ښار کې ټول خلک په ژړا وه او هر لوری ته د خفګان وریځی خپری شوی وی. هیڅوک داسې نه وو چې هغه دی نه ژړل، هر څوک پخپل سر په ژړا وه .

قاضی الفضل ووایی : ما ته خلکو وویل چې سلطان صلاح الدین ایوبی ته غسل او کفن ورکړی ما انکار وکړ ځکه چې زما زړه دومره کلک نه وو چې د صلاح الدین ایوبی مړی ووینم، د جنازی لمونځ قاضی محی الدین ابن زکی ورکړ د جنازی د وړلو په وخت کې ښځو داسې چیغی وهلی چې د انسان زړه یې زخمی کولو .

د خلکو شمیر هیڅ نه معلومیده، په لمانځه کې هم خلکو ژړل او سلګی یې وهلی .

سلطان صلاح الدین ایوبی بیا د خپل کور په باغچه کې خاورو ته وسپارل شو، ما په قبر باندی دعا او فاتحه ولوستله نوکله چې خلک کورونو ته روان شول داسې معلومیدل لکه مړی چې روان وي .

بهاوالدین ابن شداد لیکلی ما دا یاداشتونو د خلیفه په اجازه د قلم لاندی راوستلی او الملک النصر ابوظفر یوسف بن نجم الدین ایوب سلطان صلاح الدین باندی می پای ته رسولی دی الله تعالی دی پری ورحمیږی .

زما یوازنی مقصد ددی یاداشتونو نه دا و چې کومو شخصیتونو چې ځمکی پر مخ باندی ښه کارونه کړی د ادم علیه السلام ځوځات ورځنی خبر شی او هغه د خپل ژوندانه د لاری مشعل کړی .

په دی هکله دا ضروری بولم چې ووایم د هغه انسان چې دا خواهش وو چې فلسطین د صلیبیانو څخه ازاد کړی د هغه دا هیله پوره شوه خو بله هیله یې دا وه چې د فلسطین فتح کولو وروسته د حج فریضه ادا کړی خو دا هیله یې پوره نه شوه ددی علت ناروغتیا نه ، بلکی د مصر، شام او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسطين د خاورې واکمن چې کوم کفن ورکړی شو، هغه هم قاضي بهاالدين شداد او قاضي الفضل بن ذکي ورته اخيستی وه .

سبحانک اللهم وبحمدک اشهدان لا اله الا انت استغفرک او اتوب اليک

د دې کتاب له مطالعې څخه ! په ډاګه جوته شوه چې ۱) م

۱ـ الکفر ملة واحدة (یعنې کفار ټول یو ملت دی)

۲ـ کفار ټول یو له بل سره دوستان دي

۳ـ هغه هم له کفارو څخه

۴ـ په او مسیحي او د مسلمانانو

تاریخ کې د مسلمانانو ...

ورسته د ...

و د ...

د ... صلاح الدين الوطن دلیله

د ...

ستاسې د ... د ... او په ...

په ... صفت ... او ...

... او ... !!!!

په ... الانتصار !

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**